# د پادشاه میلینډا

# پوښتنې

## له پالي څخه انګلیسي ته ژباړه :

## رایس ډیویس

پښتو ژباړه : رحمت آریا

۲۰۱۵ ز

آکسفورډ

چاپ : کلیرډان پرس ۱۸۹۰ز

(ټول حقوق خوندي دي)

# د ختيځ سپيڅلي کتابونه

دا کتاب بېلابېلو ختيځپوهانو ژباړلی

او

ايف مکس مولر

تصحيح کړی دی

دري پينځوسم ټوک

XXXV

آکسفورډ

چاپ : کليرډان پرس

۱۸۹۰

(ټول حقوق خوندي دي)

# د ختيځ سپيڅلي کتابونه

# The

# SARCRED BOOKS OF TH EAST

ډالۍ :

د افغانستان د ادب ځلاند ستوري فاضل استاد اروابناد علامه رشاد بابا او د بابا مینه والو ته

## د ژباړونکي يادونه:

د مينندر يا ميليندا پوښتني چي د ميليندا پنـو په نامـهٔ پـېـژندل شوی کتاب دی د لرغوني آريانا او د هندوستان د شمال په پراخي لمن کي د بودايي ادب يو له ډېـرو لرغونو کتابونو څخه دی چي نيږدې دوه زره او ده سوه کاله مخکي د مرکي په بڼي د شهنشاه مينندر او بودايي عالم ناگه سينا تر منځ د ديني وراشي په چوکاټ کي د مرکي په ډول ليکل شوی دی. له تأريخي اړخه دا کتاب د تأريخي لاسوندونو لکه د مينندر د ايکيو يا مسکوکاتو، يوناني سرچينو، د ستر ابو د جغرافيي د کتاب او د يو شمـېـر نورو لرغونو سرچينو له مخي او هم د تأريخي او عقيدتي رواياتو له مخي زموږ د گران هـېـواد افغانستان يوه برخه ده او د فرهنگي – ديني باړونو له اړخه ښايي زښت ډېـر لرغونی کتاب اوسي چي د هـېـواد د ځېڅاند تأريخ په ترڅ کي ژوندی پاتې شوی دی چي نـهٔ يوازې لوستنه ئـې اړينه ده بلکه د تأريخ د ډگر څـېـړونکو او ژب – پوهانو ته د يوې سرچيني په توگه يو ارزښتناکه اثر دی.

دا کتاب د مرکي په بڼي د بودايي دين د تشريع يوه پراخه برخه په ځان کي رانغاړي. ددې کتاب په ژباړې کي زما موخه د بودايي دين د اصولو او قواعدو شرحه نـهٔ بلکه د دوه وو فاضلو استادانو د هڅوني او غوښتني له مخي وه چي هغوی به په خپل وار د همدغـهٔ کتاب په ترڅ کي خپله کتنه په وار وړاندې کړي. دا دواړه فاضل دوستان هر يو پروفيسر ډاکتر عبدالخالق رشيد او استاد محمد معصوم هوتک صاحب دي چي که ددوی هڅوني او معلومات نـهٔ وای نو ښايي دا ژباړه به هـېـڅکله نـهٔ وای شوې. زه له دغو دواړو خوږو، نامتو او فاضلو دوستانو څخه چي هر يو ئـې د هـېـواد په تأريخ او فرهنگ کي بې سارې هلې ځلې کړي له دې لارې د زړهٔ له تله مننډوی يم.

دا چي ولې دا کتاب پښتو ته وژباړل سو دليل ئـې د هغـهٔ باور له مخي دی چي ښايي دا کتاب په هماغه مهال په لرغوني پښـتـو ليکل شوی وي. ددې کتاب د انگريزي متن ژباړونکی ښاغلی رايس ديويدز په خپلي اوږدې سريـزې کي ورته په څرگنده نغوته نـهٔ کوي. ښاغلي رايس ديويدز دا کتاب د نامتو ختيځ پـېـژندونکي او سانسکريت پوهٔ ښاغلي مکس مولر له نظره تـېـر کړی دی. مکس مولر په هند پـېـژندني کي په خپله يو ريفرنس دی. ښاغلی رايس ديويدز وايي چي دهٔ دا کتاب د سيمهالي متن له مخي ژباړلی دی او سيمهالي متن د پالي متن له مخي ژباړل شوی دی. د پالي د متن ژباړونکی ښاغلی بوداگهوسه نومـېـږي چي په غالب گومان دا کتاب ئـې په دويمي زېـږدېـزې پـېـړۍ کي ژباړلی دی. دا چي بودا گهوسه دا متن له کومي ژبې څخه پالي ته ژباړلی دی څرگنده نه ده، يوازې د انگـېـرني او گومان له مخي ويل کـېـږي چي ښايي د هندي کورنۍ په کومي ژبې ليکل شوی وي په ځانگړې توگي د پراکريتي ژبې په کومي څانگي. يو شمـېـر وايي چي دا مرکه په سانسکريت ليکل شوې وه او سانسکريت نسخه ئـې ورکه شوې ده. زما پوښتنه دا ده چي که دا نسخه لومړی په سانسکريت ليکل شوې وه نو پالي ته ئـې د ژباړې اړتيا څه وه؛ ځکه سانسکريت د پالی ځايناستی شوی دی. هو که داسي يې ويلي وای چي د پالي د نسخي له مخي سانسکريت ته ژباړل شوې ښايي يو څه منطق به په کښي نغښتی وای. کره باور دا دی چي بودا گهوسه پالي متن ژباړلی دی، په خپله بودا گهوسه هم دې خبرې ته کومه نغوته نـهٔ کوي چي له کومي ژبې څخه. ښاغلی ديويدز په خپلي سريزې کي دا خبره په لنډيز يادوي. نو د همدې انگـېـرني او هيلي له مخي ول چي که دا کتاب د هغـهٔ مهال په لرغوني پښتو ليکل شوی وي زه به ئـې ژباړه د پښتانـهٔ ادب پوهانو ته وړاندې کړم او ددوی پام به ورته راواړوم چي که وکولی شي د بودا گهوسه پالي متن پيدا او د ژب پـېـژندني له اړخه ورباندې رونبا واچوي. که زموږ پوهانو دا خبره په زباد ورسوله چي دا کتاب په رښتيا په لرغوني پښتو ليکل شوی دی نو دا به د پښتو ادب تر ټولو لرغونی اثر وي چي د دوه زره او دوه سوه کالو په تـېـرېـدلو موږ اوس ورباندې خبرېـږو. په همدې سپـېـڅلي هـېـلي دا کتاب د پښتانـهٔ ادب پوهانو او مينه والو ته په درنښت ډالۍ کوم.

مننذر یا میننذر د سوتر د لقب په لرلو ځان شهنشاه یا مهاراج بولي. سوتر د ژغورونکي یا ناجي په معنی ده. له همدې کبله ده چې دی د مهاراج میننذر سوتر په نامهٔ یاد شوی دی یعنی ناجی شهنشاه میننذر. دا القاب د میننذر د ایکیو یا مسکوکاتو پر مخ لیدل کېږي. په یو شمېر ایکیو کې میننذرو هم لیکل شوی دی. د میننذر ایکی پر خپل یوهٔ مخ یوناني الفبا لري او پر بل مخ ئې لیکنه په خروشتي الفبا ده. ایکی پېژندونکي ئې د واکمنۍ موده له ۱۶۵ تر ۱۳۰ م. ز کال پورې اټکلوي. پوهاند ولسن بیل نظر لري. دوی وایي چې میننذر د ایندو- یوناني سلطنت یو ستر شهنشاه وو، سترابو وایي چې" میننذر د یوناني سلطنت لمنه د لومړي ځل لپاره له باکتریا یا بلخه نیولې د ګنګا تر سیند پورې پراخه کړه او دومره قومونه ئې تر خپل سلطنتي غمي لاندې را ایل کړل چې سترالکسندر نهٔ ول کړي." میننذر له بودایي عالم ناګه سینا سره د همدغهٔ کتاب د مرکې په لړ کې وایي چې :" الاسندې ته نېږدې په کاریسي کې زېږېدلی یم." ناګه سینا بیا ورڅخه پوښتنه کوي چې کاریسي له ساګلې څومره لېرې ده؟" میننذر په ځواب کې واێي ورښيي چې زموږ په معاصر مقیاس نهٔ سوه او پینځوس کیلومتره کېږي. دلته له الاساندې څخه موخه الکسندریه ده او ښايي هماغه د قفقاز الکسندریه وي چې زموږ معاصر بګرام دی. او له کاریسي څخه موخه کاپیسا ده. او له ساګلې څخه موخه په معاصر پنجاب کې سیالکوټ دی چې د میننذر دریمه پلازمینه وه. د ښاغلو لوستونکو پام دې ټکي ته را اړوم چې موږ د هېواد په څو برخو کې د الاسای په نامهٔ د څو ځایونو نومونه لرو چې ما د همدې کتاب په لړ کې په یوهٔ لمن لیک کې ورته د طول البلد او عرض البلد په شمار نغوته کړې ده. لومړۍ پلازمینه ئې باید بګرام وي، دویمه ئې پېښور او دریمه ئې سیالکوټ. د میننذر د سلطنت لمنه په لویدیز کې د کابل له سینده نیولې په ختیځ کې د راوي تر سیند پورې او په شمال کې له سواته نیولې تر اراکوزیا او هتومند یا هلمند پورې غځېدله. ورپسې ئې راجستان تر پاټلي پوترا یا پټنې پورې وغځوله. په دې توګې د میننذر تر سلطنتي غمي لاندې باکتریا یا بلخ، معاصره پښتونخواه، پاکستانی پنجاب، هندی پنجاب، هریانه، هیماشل پرَدیش او د جمو سیمې راتللې. سترابو وایي چې دوه ګریګو باکتریک سلاطین میننذر او دیمیتریس هغه سترواکان ول چې د باکتریا د سلطنت لمنه ئې تر هندوستانه وغځوله. په ۱۸۴۱ز کال کې پوهاند اچ اچ ولسن د لرغوني آریانا کتاب چاپ کړ. ما دا کتاب پښتو ته ژباړلی دی. دلته به بې ځایه نهٔ وي چې د پوهاند ولسن کره کتنه د میننذر په ایکیو باندې لوستونکو ته وړاندې کړم .

# مننذر

# ۱۲۶ م. ز

اوس یو ځل بیا له تأریخه ( تأریخي سرچینو – ژ) مرسته غواړو.

سترابو وایي چې مننذر یو له هغو باکتري شاهانو څخه وو چې سوبو او بریاوو ئې په ټولېز ډول د باکتري پاچاهۍ د لمنې ختیځ خواته غځېدله. مننذر له [ هیپانیس ] [1] څخه واوښت او ان د [ آیسامُس][2] تر سیند پورې پرمخ لاړ[3] : د آیسامس د سیند په اړوند مو مخکې وویل چې دا د جمنا سیند دی ، هیپانیس د ستلج سیند دی. په تأریخي شننو کې دا هم ویل شوي چې که د پټلین[4] بشپړه سوبه د

[1] Hypanis
[2] Isamus

[3] **Εἴγε καὶ τὸν Ὕπανιν διέβη πρὸς ἕω, καὶ μέχρι τοῦ Ἰσάμου προσῆλθε. Book xi. 11. 1.**

[4] Pattalene

منندر په لاس نه وي شوې، مگر نيول ئې په منندر پورې تړل شوي دي ؛ دا خبره د [ پريپلس ] [1] له سرچينې سره هم بشپړه همغږي لري ، ځکه پريپلس وايي چې ان د لومړۍ عيسوي پېړۍ له پای وروسته هم د منندر او اپلاداتس دراکم/درهم د [ گوزيرات[2] ] په سمندري غاړې، په [ بَری گازې[3] ] يا [ بروخ[4] ] کې د چلند وړ وې.

آريان وايي چې منندر د باکتريا پاچا وو، او پلوتارک ئې هم د باکتريا پاچا بولي. آريان او پلوتارک دواړه له کره کتنې پرته منندر ته د باکتريا د پاچا لقب ورکوي ، خو شک لېدل کېږي چې منندر دې کله هم پر باکتريا پاچاهي چلولې وي. باير له والنز[5] وروسته وايي چې منندر يا د ئوتايدمس ورور يا ئې نږدې خپلوان او د هغه ځای نيوونکی وو[6] : باير دا هم وايي چې منندر د باکتريا او هندوستان پاچا وو؛ باير د خپلې انگېرنې پر بنسټ د [تروگ پمپه ئې – د لومړۍ زېږدېزې پېړۍ د رومي تأريخ ليکونکي –ژ[7] ] تراگس پامپي يس][8] د کتاب د لومړي څپرکي له مخې په اخځ چې د کتاب لنډيز دی، په هند کې د منندر له سوبو يادَونه کوي مگر تروگ پمپه ئې يوازې د منندر له سوبو يادونه کوي نه د منندر له پاچاهۍ. په دې توگه يوازينۍ سرچينه چې د هندوستان پر بوې برخې باندې د منندر د واکمنۍ خبره کوي د پريپلس[9] ليکوال دی.

خو د منندر د ابکيو شننه او ارزونه موږ د دې باور او منطق منلو ته نږدې کوي چې منندر هېڅکله پر باکتريا پاچاهي نه ده کړې؛ خو دومره ويلای شو چې د منندر پاچاهي د پاروپاميزان د غرونو له پراخې لمنې نيولې تر سمندر پورې غځېدله. دا چې منندر د اندس په ختېځو څنډو کې تر کومه ځايه او ان د اندس تر دلتا پورې واک چلولی تر يوې کچې تر شک لاندې ده ، ځکه په دغو شاو خواوو کې د منندر ابکۍ نه دي موندل شوې ؛ د منندر ابکۍ په ټولېز ډول په کابل، د هزاره غرونو په شاوخوا او بگرام کې په پرېمانه شمېر موندل کېږي ، د منندر ابکۍ په پنجاب کې هم موندل شوې دي ، خو داسې برېښي چې پنجاب ته د منندر ابکۍ د سوداگرۍ له لارې راوړل شوې وي. په زړه پورې دا ده چې ډگروال تاډ د منندر او اپلادتس ابکۍ د جمنا په شاوخواوو کې موندلې دي ، خو پوښتنه دا ده چې ولې د موندل شوېو ابکيو د سېمو په ډېرو نورو نږدې گاونډيو ځايونو کې داسې نورې ابکۍ د کيندنو پر مهال نه دي موندل شوې. د منندر د ابکيو د موندنې بنسټېزه ډډه د

[1] Periplus
[2] Guzerat

[3] Barygaza
[4] Baroach
[5] Valens
[6] Bayer, p. 74.
[7] Indiæ quoque addiæ res gestæ per Apollodorum (Apollodotum) et Menandrum reges.
[8] Trogus Pompeius
[9] Periplus

کابل شاوخوا سېمې دي او داسې برېښي چې کابل، د مندر د اپکیو د خپرېدا منځټکي وو له دې کبله، د ټولو احتمالاتو په منلو ویلای شو چې کابل د مندر د پاچاهۍ ستره او بنسټېزه پلازمېنه وه.

دا چې وایو مندر هېڅکله د باکتریا پاچا نه وو لامل ئې دا دی چې په باکتریا کې د مندر د سپینو زرو، مسو هېڅ ډول اپکی یا کوم تترادراکم نه دی موندل شوی چې پر مخونو ئې لیکنې یوازې په یوې ژبې لیکل شوې وي. د مندر تر ټولو لویه اپکۍ چې موندل شوې یو دیدراکم[1] دی، سره له دې چې دا اپکی په ښکلي ورهنې جوړه شوې ، مګر د ضربېدلو د ځرنګوالي له اړخه د هیلیکلز د تترادراکم په پرتله په دویمه ډېټه کچه اپکی دي : دا اپکۍ د آریایي او یوناني لیکدودونو دواړه توري لري. د مندر د سپینو زرو کوشنۍ اپکی بې شمېره دي ، او د مسو اپکۍ ئې هم پرېمانه موندل کېږي، یو شمېر ئې کم پیدا دي ؛ د اپکیو پرېمانتیا او د شمېرې ډېروالی موږ دغه پایلنېوي ته نېږدي کوي چې مندر نه یوازې تر اوږدې مودې پورې پاچاهي کړې بلکه یوه ښېرازه پاچاهي ئې هم تېره کړې ده. د اپکیو پرمخ د مندر د پورتریت او د پوځي جامو له مخې ښکاري چې نوموړی یو فعال او نوښتګر هڅانده پوځي واکمن وو، د مندر په پوریټونو کې د تندي لپاره د سلطنتي ریتاړه لرل د هغه د واکمنۍ د سولې د پړاو ښکاروندیي کوي، له بله اړخه د نورو اپکیو پرمخ د پوځي اوسپنېزې خولۍ لرل یا د دفاعي زغره والو جامو اغوستل نه یوازې د مندر د دفاعي دریز استازیتوب کوي بلکه د هغه د برېدګر درېز انځور هم موږ ته په لاس کې راکوي او یا په نورو اپکیو کې په جګړه کې د شلګرو « نیزو» غورځول په خپل وار د هغه د جګړه پالي واکمني انځور موږ ته راښيي. له دې کبله د مندر اپکی په خپله موږ ته د هغه د واکمنۍ د تأریخ د شرحې او ځرنګوالي په اړوند په ځېر یو شمېر توکي په لاس راکوي او د لږ شک په پرېښودلو موږ ته وایي چې د هندي پاروپامیزان ټولواک، مندر، هغه پاچا وو چې پر خپلو ګاونډویو ولایاتو ئې هم د واکمنۍ او سوبې غمې خپور کړی وو. د پرمختګ په حال کې سایتیانو[2] / ساکانو هم په شمال کې د مندر د پرمختګ خوند او کړس څکلی وو؛ د اشکاني شاهانو پر وړاندې د ساکانو جګړې، د مندر د ورانکارو شخړو او جګړو له کبله له خنډونو سره مخامخ شوې وې : دا په دې معنی ده چې مندر نه یوازې خپله توره د خپلو هېوادوالو پر وړاندې بلکه د نورو هندي شاهانو پر وړاندې هم را اېستلې وه ؛ د یوناني واکمنۍ ګډو وډو ټوټو ښایي د مندر د پاچاهۍ تر مهال پورې شتون درلود او کېدای شي یو ځل بیا د مندر د واکمنۍ تر سیوري لاندې سره راټولې او لا یو موټی شوې وي.

موږ داسې دلایل او لاسوندونه په لاس کې نه لرو چې پر بنسټ ئې مندر د ئوتایدمس د ورور په توګه ومنو، د مندر د اپکیو ځانګړتیا او انځوربڼه موږ ته داسې دوه اړخېزه انګېرنه په لاس راکوي

[1] Didrachm

[2] Scythians

چې له مخې ئـې مننډر هم له ئوتايدمس او هم ئـې له ئوکره تايډس او هـېـلـيکلز وروسته د پاچا په توګه ومنو. ډېري مخکې ياد شوي شاهان د يوې يا بلې کورنۍ خپلوان انګيرل شوي خو دا چې مننډر د کومو دوه وو بـنـسـټـېـزو يونان - باکتري شاهي کورنـېـو غړی وو ، روښانه نه ده او نه ئـې په اېـکـيـو کې د القابو له مخې څوک په ډاډمنه توګه انګـېـرنه کولای شي. لومړنی لقب چې مننډر غوره کړی د [ سوتر[1]] لقب دی ، چې دېميتريَـــس ته هم [ د سوريې د سوتر[2] ] لقب ورکړل شوی وو ؛ مننډر هم کـېـدای شي دا لقب د يوې بـېـلـګې په توګه د هماغه له مخې اخـېـسـتـی وي، له دې کبله هغه انګيروني / فرضي نـېـټـه چې د مننډر د واکمنۍ د پـېـل د نـېـټـې په اړوند ويل شوې که لږ څه له ريښتيا سره اړخ ولګوي نو مننډر له ديميتريَـــس وروسته ټولواکي اخـېـسـتـې ده. له بلې خوا په هندوستان کې د مننډر پراخ پرمختګونه او برياوې نه شي کـېـدای له ميتريډايس مخکې تر سره شوي وي، دا ځانګړتيا ده چې د مننډر د ټولواکۍ د پـېـل نـېـټـه له ۱۳۷ م. ز. کال دېخوا راولي ؛ دا شونيوالی هم بايد په پام کې ولرو چې تر مننډر مخکې کوشنيو کم زرو شاهي کورنيو بـېـلابـېـلـې شاهي واکمنۍ رامنځته کړې وي چې ټولې ئـې د مننډر له پلوه را وپرځول شوې، له دې کبله دغه پـېـښې او پرمختګونه د مننډر د واکمنۍ د پـېـل نـېـټـې ته له ۱۲۶ م. ز. کال مخکې اجازه نه ورکوي. د مننډر د اېـکـيـو په منځ کې ډېـر زبده اساطيري انځور د منروا پرامکس[3] انځوردی ، دا انځور د تسالي ، مقدوني او سلوکي پاچاهانو د اېـکـيـو پر مخ ښکاري چې په ټوليز ډول په خورا بې ساري ورهښې او مهارت ضرب شوی دی. د مننډر يو شمـېـر نورې اېکۍ هم پورتنيو ښښو نښانو ته ورته نغوتې لري ، مننډر د کونګ / بوم او ډال د انځورونو په ښودلو چې د منروا پرامکس د پـېـژندنې او ځانګړتيا نښې دي غوښتې دغې الهې ته خپله پاليالي څرګنده کړې. د مننډر يوه کوشنۍ اېکۍ چې په پرېمانه شمـېـره موندل کـېـږي پر خپل يوه مخ د فيل د ککرې انځور لري او پر بل مخ ئـې د هرکوليس ګرز دی، ددغو او همدا شان د منروا د ښښو له ښودلو څخه موخه څه ده؟ که په دغو ښښو کې کومه موخه پرته وي نو شک نه شته چې مننډر د همدغو ښښو له لارې يا له ئوتايدمس او يا له ديميتريَـــس سره تړل کـېـږي. خو په بل اړخ کې د مننډر د يو شمـېـر اېـکـيـو پرمخ د بريا د وزر لرونکي سمبول شتون دی چې ديادم[4] [ديهيم] يا د تندي لپاره سلطنتي نـېـم تاج ډالۍ کوي، دا د دې څرګندويه ده چې له ده وروسته دده له کورنۍ څخه بل پاچا راځي او دا په خپل وار په دې معنی ده چې مننډر د نوې سلطنتي کورنۍ بنسټ اېښودونکی دی. د مننډر د اېـکـيـو پرمخ د نورو اساطيري انځورونو او ښښو د راوړنګ يا کاپې کولو سرچينه په زغرده روښانه نه ده ؛ لکه دولفين د نر ګوزن ککره او عرابه : د مننډر د اېکيو ښه د يوناني اېـکـيـو په پرتله خورا زيات رومي خوند او رنګ لري خو د عادي څلور ځنډېزې بڼې په لرلو خپل ځان هم له يوناني او هم له رومي سبک څخه بـېـلوي. د مننډر يوه يو ګړې اېکۍ موندل شوې چې پر مخ ئـې د ΔΙΚΑΙΟΣ

---

[1] Soter
[2] Soter of Syria
[3] Minerva Promachos
[4] diadem

لیکنه لوستل کیږي د اپکی شا ته د پړانگ انځور دی ؛ د اپکی پر مخ لقب او د اپکی ښه دواړه، منندر، له هیلیکلز او اگه تکلز سره نیږدي کوي، خو د دواړو نښو له مخي یوازي دومره ویلای شو چي منندر له دواړو شاهانو ډېر وروسته راغلی دی.

پلوتارک په منندر پوري یوه کبسه تړلي چي له یوې هندي کیسي سره کټ مټ ورته والی لري، خوا دا کیسه په بل چا پوري اړه لري نه په منندر پورې. وایي چي منندر د خپلي پاچاهۍ په لړ کي د دینپالني له اړخه پر خپلو وگړو خورا زیات گران وو، د هغه د مړینې پرمهال د بېلابېلو ښارونو استازي د منندر په پوځي چونۍ کي راټول شول، استازو د هغه د مړي د ایرو پر سر له یو بل سره شخړې او ناندرۍ پیل کړې، په پای کي ټول په دې سلا شول چي د هغه د مړي ایره دي د ښارونو د شاهانو تر منځ وویشي او هر ښار دي د هغه په یاد د هغه د ایرو پر سر یو یو یادگاري ځلی جوړ کړي. که مو په یاد وي موږ د کتاب په لومړیو برخو کي وویل چي دا کیسه په گاتما یا سکیا سینها یا بودا پورې اړه لري او د هغه د ژوند لیک په ټولو دودېزو بودایي کتابونو کي همدا کیسه ویل شوې او دا کیسه لا تر اوسه په ټولو بودایي هېوادونو کي د بودایي وگړو په دودېزو باوَرونو او خټو کي نغښتې ده. د روایاتو پر بنسټ کله چي بودا مړ شو، اتو ښارونو د بودا د جسد له سوځولو وروسته د هغه د جسد د ایرو پر سر له یو بل سره سیالي او شخړې کولي، هر ښار غوښتل چي د بودا ایرې خپل ښار ته یوسي ، په پای کي د بودا له ارزښته ډکي ایرې د ښارونو تر منځ وویشل شوې او هر ښار د خپلي رسېدلي برخي پر سر یوه یوه ستره ټوپه جوړه کړه. هماغسي چي مخکي مو وویل په باکتریا کي دداسي بودایي یادگاري ځلیو د شتون تأریخ له دوېمي زېږدېزي پېړۍ وروسته پېلېږي ، دا کیسه هرو مرو د هغو کسانو له خولي نورو ته په غلطه لېږدېدلي چي د کیسي له رښتوني اړخه ئي خبرتیا نه درلودله ، او یا ئي د بودا له کیسي په اخځ همداسي یوه کیسه د منندر له مړینې وروسته په هغه پسي په ناسمه توگه جوړه کړې ده.[1]

انگریزي متن په خپله یو شمېر تخنیکي ستونزي درلودلې. ما تر خپلي وسعي هڅه کړې ده چي دقیقه ژباړه وړاندې کړم. زه هېڅکله په خپل کار کي له نېمگړتیاو څخه انکار نـهٔ کوم. گران لوستونکي دې د پېرزوینې له مخې زما نېمگړتیا په پام کي نـهٔ نیسي.

**یوه بله یادونـه :**

میلینډا د میلینډا پنـهـا او میلینډا پنـهو په نامـهٔ هم یاد شوی دی. استاد محمد معصوم هوتک صاحب د یوې ټیلفوني مرکي په ترڅ کي د علامه ع. ش. رشاد بابا هغه هلي ځلي را یادې کړې چي د میلینډا پنـها د کتاب کاپي ئـي له چاپانـه کابل ته راوړه او په کورني کتابتون کي ورسره وه. یو شمېـر اروپایي ختیځپوهانو دا نوم د میلینډا پنهو Milinda Pańho په ډول هم لیکلی دی او په پالي کي د میلینډا پنه Milinda Pańa په نامـهٔ ثبت شوی اثر دی. پنهه Pańha یو پالي وییکی دی چي سانسکریت معادل ئـي پرَجا PrajJA یا प्रज्ञा دی او معنی ئـي پوښتنـه ده او یو شمېـر اروپایانو هم په خپله همدا پالي نوم

يعنی ميليندا پنهو ثبت کړی دی. همدغه لغت ته ورته همغږی لغت د پوهې يا Knowledge ده چې په پالي کې ورته ńâna او پنا pańńâ وايي او سانسکريت معادل ئــې پرزنـــۀ prazna يا प्रश्न ده. د بوديزم د فلسفي يوه نامتو او مهمه اصطلاح د دوکها Dokkhâ يعنی رنځ، فشار او کړاو گالنــه ده. دوکها په پالي او سانسکريت کې يو شان ويل شوې ده :दु او ख .. په افغانستان کې په لوی کندهار کې د دوکها اړول شوې بڼه د دوک په ډول کارول کېږي چې معنی ئــې رنځ او کړاو دی. لکه چې وايي د زړه دوک دې درولوېږي. د پښتو تشريحي قاموس د لومړي ټوک په ۵۴۶ پاڼې کې د پونېدل مصدر ئــې په ځو معناگانو تشريح کړی لکه : په ميخ د خاوري پښې ټکول، ډوبدل، تشبدل، منځ خالي کېدل، او نور. په همدې اړوند مې له نامتو څېړونکي استاد محمد معصوم هوتک صاحب څخه پوښتنــه وکړه. هغوی راته يوه په زړه پورې خبره وکړه چې په کندهاری پښتو لهجې کې د پنا او پونېدلو تر منځ يوه نسبتاً مشابه معنی سته چې همدا د (پونېدلو) مصدر تقريباً د پوښتنې په معنی کارَول کېږي او معنی ئــې (په عذابول او په تنگول) ده. يو ماشوم چې له موره ډېــرې پوښتنې وکړي نو مور په ځواب کې ورته وايي " زويه بس ده، ودې پونولم، دا څونــه پوښتنې دي چې ته ئــې کوې". له دې داسې ښکاري چې د پنا او پنو کلمات له پښتو سره نـېږدې والی لري.

وروستۍ يادونه : د ښاغلو ډاکتر صاحب خالق رشيد او استاد محمد معصوم هوتک صاحب د وړانديزونو پر بنسټ مې د انگريزي متن د پای څه د باندې شپيتــۀ پاڼې د پښتو د ژباړې له کتاب څخه لــېــرې کړلې. دا پاڼې د انگريزي متن ژباړونکي ښاغلي ډيويډ رايس د فيلالوژيکو پرتلو لپاره راوړې وې او د اوس مهال لپاره مور. اړينه ونــۀ بلله چې د پښتو په متن کې ئــې راوړو، په دې سره مو د کتاب د زښت پريوالي مخه ونيوله. همدا شان گران لوستونکي به په يو شمــېر لمن ليکونو کې د (ليکوال) نوم وگوري. دلته موخه د بوداگهوسه چې د پالي د متن ژباړونکی دی نه ده بلکه موخه د انگريزي د متن ژباړونکي ښاغلي ډيويډ رايس ده چې دۀ په انگريزي ژباړې کې په لمن ليکونو کې راوړي دي.

رحمت آريا

کانادا

۲۰۱۵ز کال د مي د مياشتي ۲۴



# پر ملیندا پښو باندې یوڅوټکي

« ټول انسانان دسزا پرمهال ریږدي ، ټول انسانان له مرګه ویره لري ... »   ملیندا پنو

**مخکنی یادونــه :**

یوکال دمخه  (۱۳۹۳ غبرګولي ) مې تکل وکړ، چې په دغې اوږدې رخصتی کې دوې ژباړې باید بشپړې کړم چې یو یې دغه اثر (ملیندا پنو) وو او بل هم د (امیرحبیب الله خان شهید)  د ۱۹۰۷ کال د سفر راپور (سفر نامه) چې ددهٔ نامتو میلمه پال سرهنری میک ماهن، هغه چا چې کلونـه کلونـه یې د بــېــلابــېــلو واکمنانو په شپو ورځو کې د افغانستان په اړه کار کړی او آن چې د دیورند د پلاوي غړی هم وو او د فارس او سیستان د پولې په برخه کې هم ددهٔ کاروایی زموږ په تأریخ کې یادیږي. هوډ همداسي وو چې دغه دواړه اثره باید د ګرانو لوستونکو په واک کې ورکړل شي.  په همدغـهٔ سوچ او نیت کې مې له ګران آریا صاحب سره خبره وشوه، په زړهٔ کې مې راتــېــره شوه چې که آریاصاحب چې په دغه برخه کې با صلاحیته لیکوال او په پوره امانت داری نامتو دی او د ژباړې په تــېــره بیا د داسې کلاسیکو متونو په برخه کې تجربه او شهکاري ژباړې ئـې زموږ په مخکې دي دا خبره شریکه کړم دا به تر ټولو ښـهٔ او پرځای کاروي ، چې په دې توګه به مو د خپلو تــېــرو لیکوالو، په تــېــره بیا استاد رشاد په کړنو یو څه ور زیات کړي وي. آ ریا صاحب لکه چې له آره یو مینـه ناک او په فرهنګ مین څوک دی، له یادوني سره سمه خپله همغږي او لیوالتیا راته  په ډاګه کړه او په دغه کار یې چې ساده کار نـهٔ وو، پیل وکړ. او اوس داده هغه تأریخي ژباړه په خیرسره بشپړه شوه، چې زه یې ترهرڅه دمخه  مبارکي ورته وایم او دغه لوی

کار چي علامه رشاد نـېږدې نيمه پـېـړۍ د مخه په خپلو معتبرو څـېـړنو کې اشاره ورته کړې وه د ګران آريا په همت او رحمت سره زموږ په واک کې ده او پوره باور دی چي افغانان به د خپلو منسوخو باورونو او وياړونو په هينداره کې د حقيقت پلټني يوۀ بل سپيڅلي بهير ته د پوهانو په وينا په دغـۀ لومړني پښتو اثر سره وننوزي، هغه چي له نن څخه زرګونـه کاله مخکې ويل شوي او ترموږ پورې رارســېـدلی دی. راځئ ګرانو دوستانو آريا صاحب ته دعا وکړو څکه چي ددۀ د دغه کار او زياراو درنې ژباړې په برکت به موږ وکولی شو د نويو څـېـړنو او ګرويږنو پر لور په دغـۀ ترڅ کې يو نوي ګام اوچت کړو.

## بوديزم ، افغانستان او افغانان

له جاپانه نيولي بيا تر سواته، له تبت ، نيپال او بنارسه بيا تر باميانو، باګرام، کاپيسا او کندهاره پورې په دغه پراخه او سمسوره سيمه کې يومهال د انسانانو يوه خورا پراخه لړۍ د نړۍ په يوۀ خورا منل شوي باور (بوديزم) باندې باوري وه چي يو شــمـــېـر يې تر اوسه هم دي او يو شــمــېـر لکه موږ بيا هم دغه رڼايي او حقيقت په سپيڅلي اسلام کې تر هغه ځلانده او بسيا وليد او له هغوی را بــېـل شوو چي اوس زموږ د پلرونو او نيکونو دغه ګروهه زموږ لپاره د بشری تأريخ يو پانه ده چي لولو يې او يوازې په لوستو يې خپل تــېـرته ګورو او پرې وياړو .

بوديزم د يوۀ ځوان **ساکايی**[1] شهزاده ګوتم يا سيدارتها له خوا د يوۀ باور او مذهب په توګه رامنځ ته شو، دی په يوه بډايه او واکمنه کورنی کې زېـږېـدلی او لوی شوی، پلار يې (سدهوون ) د دغې نامتو او سرکښې قبلې مشراو واکمن وو، شهزاده ته يې په تنکی ځوانی کې وادۀ وکړ، شهزادګي، واکمني، کورنی، ميرمن او نوی زېـږېـدلی ماشوم ټول يې پرېښودل او دعبادت په خاطر په (۲۹) کلنی کې پر ځنګلونو ورننوت، د خپلو دوو استادانو له لارښوونې وروسته يې دومره عبادت وکړ چي يوازې د تن هډوکي ورپاتې شول. ځان يې ترک دنيا کړ او په (۳۵) کلنی يې يوه بودي يا ( رڼا ) وليدله چي د هغې په ليدو سره دۀ هم د يوۀ بشپړ بودا (عارف ) په توګه د خپل دين تبليغ له پنځو تنورا پيل کړ، چي وروسته يې ژر شمـېـر مخ په زياتيدو شو، تر خپل اصلي نامـۀ، پرخپل روحانی لقب (بودا ) يا رڼايي باندې ياد او نامتو

[1] - که موږ د خپلوکورنيو او بهرنيو پوهانو دا خبره ومنو چي ساکايان پښتانـۀ ول او يا داچي د پښتنو يوه څانګه وه ، دوی د مرکزې ايشيا پرلار پرلرغوني آريانا، کشمير، تبت، نيپال او هندوستان باندې واکمنی کړې او د دغې سيمې په تاريخ کې ديوۀ سرکښ قام په توګه د خپل وخت له مهمو او قاهرو قومونو لکه همخامنشيانو او نورو سره جنګيدلي او خونړی تأريخ ترې پاتې دی. پرهمدی لامل بيا داهم ويلای شو چې ځوان بودا هم د همداسې يوۀ واکمن قوم شهزاده وو چي دغه خونړی تأريخ يې په مخ کې وو خو له هغه يې خپله لاره بيله او د جګړن تأريخ لړۍ يې په پوۀ تلپاتې روحانيت او عدم تشدد باندې پای ته ورسوله.

شو. پيروانو يې په خپلو **ديسي (سيمه ييزو) ژبو**[1] باندې د هغـۀ تبليغات ترخلکو پورې رسول. سره له دې چې بوديزم په هندوستان کې دومره زيات ونـۀ منل شو ځکه چې دلته د نورو اديانو په تـېـره د ويدايي روحانيت اغـېـز خورا پياوړی وو، خو له هنده پرختيز او لويديز کې دغې ګروهې دومره پلويان وموندل چې ان تراوسه پورې دغه مذهب په نړۍ په تـېـره په آسيا کې د مليونو پيروانو له خوا نمانځل کـېـږي، د خپلو عالي موخو له امله د پوره درناوي وړ دی او يو شمـېـر لارښونې او معنوي ارزښتونه يې په نورو ګروهو او باورونو کې هم په کټ مټ ډول د نمانځنې وړ دي. بودا تر اتيا کلنې پورې د خپل بوديزم د خورولو او تبليغ لپاره کارکړي پر اتيا کلنی په کاشي (اوسني بنارس او ګورکهپور) کې په (۴۸۶ – ۴۸۷ ق م) کې له نړۍ سترګې پټې کړې او بوديزم يې د بشريت د لارښوونې او نيکمرغۍ پر لامل نړۍ ته د سولې، آرامۍ او نـۀ ځورونې پرلامل د خپل لوی ميراث په توګه ور ډالۍ کړ.

پوهان وايي چې «د بودا تعليمات ډېـرساده خو په پياوړې توګه عمل کـېـدونکي ول» مانا دا چې دلته د ژوند پر پېچليو روحی او معنوي مسائلو باندې ډېـر ټينګار نـۀ کـېـدۀ ځکه دوی فکر کاوۀ چې پيچلي مسائل او د هغو بيان، د ژوند د ترقی او هوسايی له بهيرسره مرسته نـۀ شي کولی. دوی په دې باور ول چې په نړۍ کې هر څه عارضی دي، هرڅه نـېـمګړي دي، انسان او ستونزې سره تړلي او د هغه وجود په خپل ذات کې يوه ګناه ده. دوی يوازې په دې لټه کې ول چې درد او رنځ، خواشيني او مجبوريت ته د پای ټکی په ګوته کړي، ځکه بوديزم په دې باور دی چې انسان له مرګه وروسته د بل ژوند پر لور ور روان دی، که په دغـۀ ژوند کې ستونزې او دردونـه له منځه يو نـۀ سي، په بل ژوند کې به يې هم همدغه حال وي. له داسې حالت څخه د ژغورنې پرلامل يې دا لاندې سپارښتنې درلودې :

«راسخه عقيده، پاک تصورات، رښتيا ويل ، نيک عمل، پاک رِزق، ښه هڅه ، وړ مراقبه[2] »

لکه چې په دغه اړه له مولانا څخه په مثنوي معنوي کې هم يو جالب انځور لولو [3]:

---

[1]- د بوديزم په خپرېـدو کې يولامل دا وو چې د دغۀ مذهب تعليمات به په هرځای کې د هغـۀ ځای د خلکو په ژبو هغوی ته ويل کـېـدل، سره له دی چې پالي ژبه د دوی مذهبي ژبه وه او د بوديزم زياتره تعليمات اومتون په دغه ژبه کې دي خو بيا يې هم پرهغوی چې پالي ژبې نه ول، دغه ژبه نـۀ تحميل کـېـدله ، بلکې په هرځای کې سيمه يزې ژبې د سيمه يزو ( ملايانو) له خوا کارول کـېـدلې.

[2]- ( قديم هندوستان کی تاريخ ص ۱۳۰)

[3]- ( مثنوی معنوی چا پ نيکلسن ص 316)

تاعذاب آخـرت اینـجا کـــشند گر برند وعاقل وسـاحر وَشنـد
نیک کردند وبجای خویش بـود سـهلـتر بـاشـد زآتـش رنـج دود
حد ندارد وصف رنـج آن جهان سهــل باشـد رنـج دنیا پـیش آن
ای خنک آنکو جهادی می کـند بـربدن زجری ودادی می کنـد
تاز رنج آن جـــهانی وا رَهَـد برخود این رنج عبادت می نــهد
من همی گفتم که یارب آن عذاب هم درین عالم بران برمـن شتـاب

په عین حال، بودا د خپلو تعلیماتو په ترڅ کې د دریو څیزونو ‹فکر ، قول او عمل› پرسپيڅلتیا باندې ډېـر زیات ټینګار کوي، ځکه دوی وایي چې دا درې څیزه هغه څه دي چې انسان په ټولنیز ژوند کې له هغو سره هره لحظه لاس او ګریوان وي، دغه درې څیزه د انساني ژوند له بهیرسره که له یوې خوا اړین دي له بلې خوا د هغـهٔ د پیاوړتیا په برخه کې هم مرسته کوي، دوی دا هم وایي چې دغه درې توکي په هغـهٔ شرط د پاملرنې او پیاوړتیا کچې ته رسـېـږي چې دا لاندې حکمونـه ورسره په پام کې ونیول شي لکه : « د نورو پرمال باندې دعوه نـهٔ کول، د چا ژوند نـهٔ اخیستل، د نشه یی توکونو نـهٔ کارول، دروغ نـهٔ ویل، زنا نـهٔ کول، د نڅا په محفلو کې ګډون نـهٔ کول، له مالشي شیانو لکه عطر او ګلانو ډډه کول، ناوخته ډوډۍ نـهٔ خوړل، پرآرام ځای باندې نـهٔ بیدېـدل، له چا څخه پیسې نـهٔ غوښتل او نـهٔ ورکول[1]»

او دا ټول هغه څه دي چې بودیزم یې د خپلو پیروانو لپاره په یوهٔ وخت، یوهٔ ډول او یوهٔ شان سره پر نراو ښځه، پر واړهٔ او زاړهٔ، پر امیر او غریب باندې لازم او د تطبیق وړ بولي.

بودیزم له بودا وروسته له بدلونو سره مخامخ شو، په بـېـلابـېـلو وختو کې یو لړ بدلونو په کې رامنځ ته شول او ان چې په بـېـلابـېـلو سیمو کې یې په تعلیماتو کې هم کله مثبت او کله منفی بدلون تر سترګو کـېـږي. په عمومی لحاظ پوهان په دغه اړه دا هم وایي چې د ‹ویشالي › له ټولون وروسته د بودایي تعلیماتو لمنه له هندوستانه مخ په لویدیز په خوریدو شوه، مانا دا چې ددغـهٔ مذهب د خوریدو خبره، تر ګندهارا او ترهغـهٔ را دیخوا تر نا ګارا ‹ننګرهار› پورې خبره را ورسـېـده او د بودیزم د ‹مهایانا› څانګه دلته مخ په پیاوړتیا شوه. تر اوومې میلادي پورې خبره ان تر بلیکا ( بلخ ) پورې ورســېـده؛ د بلیکا نوم هم سانسکریتی او پالي ریښه لري چې د ‹ګل› په مانا دی، هغه ګل چې د بودا خوښـېـدهٔ؛ په افغانستان

[1]- ‹قدیم هندوستان ۱۳۱ مخ ›

کې تر بلخ پورې د بوديزم د خوريدو او رسېدو په اړه يو ليکوال[1] د چينی زاير هيون تسنګ د ليدني پراساس وايي چې :

Balkh or Bhalikaa became an important centre of Buddhism since then and with the passage of time its importance grew so much that it was called "*Little Raajag.rha*" by the people when Hiuen-tsang visited his place during 7th century A.D. Hiuen-tsang mentions the name vihaara called "*Nava-vihaara*" which was located outside the town. The name "*Nava-vihaara*" itself suggests the existence of an old vihaara in Balkh which was no more when Hieun-tsang came there. We may presume, the old vihaara was probably none other than the Bhallika-vihaara which crumbled in course of time for being built of perishable material and after that a new vihaara was erected outside the town and hence called "*Nava-vihaara*".

همدغه ليکوال د خپلې همدغې مقالې په ترڅ کې پښتونخوا، سوات ننګرهار ته هم اشاره کړې او ليکلي يې دی چې :

The Mahaasaa"mghikas and so also the Sarvaastivaadins established their centres side by side in both the regions of this country, in Nagarahaara and so also in Swat valley. The head-quarters of the country was also called by the same name Nagara of Nagarahaara (or Nagaravihaara) or Udyaanapura. Nagar or Nagarahaara is a derivative from the term Nagaravihaara which I have discussed elsewhere. But there is no doubt that Nagarahara was one of the most famous Buddhist places in Afghanistan from the very early days.[2]

د **اشوکا**[3] او کنشکا په واکمنيو کې بوديزم په افغانستان کې د يوۀ پياوړي او منل شوي باور په توګه خپل ځای ومونډ، دغه باور د افغانستان خورا مهمو سيمو لکه کاپيسا، بليکا، باميکا او کندهار ته ورسېد چې هلته يې په درنښت سره د زرګونو لارښونکو او ملايانو له خوا تبليغ ، تدريس او د نمانځني بهير روان وو، له کندهاره بيا تر بنارسه دغه پراخه سيمه په روحاني لحاظ د بوديزم په ولکه کې وه او پر دغې

---

[1] - C.S. Upasak)

[2] -( C. S. Upasak http://www.buddhismtoday.com/english/philosophy/maha/031-Sarvaastivada.htm)

[3] - اشوکا د بودايي دين په پراختيا کې د زړۀ له کومي ونډه ترسره کړه، زوی يې مهيندر او لور يې سنګ مترا ددغۀ دين د (بهکشو) ګانو په توګه خپل مذهب ته ځانونه ونډه کړل او د دغۀ دين د اشاعت په برخه کې د دوی ونډه ډېرلوړه ده ... اشوکا د خپل سلطنت لمنۀ تر هندوکش پورې وغزوله، او د يوناني پاتې شونو څلور ولايتونه (سترپ واکي= ستروواکی = سترتوب واکي ) چې په هغو کې « ايريا (هرات) اراکوشيا (قندهار) ګډ روشيا (بلوچستان) پروپني (وادی کابل ) راتلل ونيول، د اشوکا پرواکمني کې د افغانستان د جنوبی سيمو او نورو داخلېدو دا وښوده چې شهبازګړه (ضلع پشاور) مانسهرا ( ضلع هزاره ) او نورې غرنی سيمې د هغۀ تر فرمان لاندې وې، د يوان چوانګ (هيون تسنګ) شهادت تاييدوي، يوان چوانګ په کافرستان ( کپنيشا) او جلال آباد کې د اشوکا د ستوپو يادون کړې دی. (رما شنکرترپاتهی ، قديم هندوستان کي تاريخ ص ۲۰۰ )

اوړدې سیمې یې د دغو خلکو له پخوانیو ادیانو سره د تفاهم، سولې او جوړجاړی په فضاکی چلند کړی دی، تر کومه ځایه چې ښکاري بودیزم له زردشتي تعلیماتو اغېـزمن باور وو او له نوموړي مذهب څخه یې د هندي مذاهبو برعکس د خپلو تعلیماتو د خپرېدلو په پیل کې د پاملرنې وړ ګټه پورته کړې ده: « زردشتي مذهب په لویدیز او ختیز دواړو کې پرمذهبو باندې ژور اثر درلود، د هغـهٔ په تعلیماتو کې یوه عقیده ده چې (ژغورونکي/نجات دهنده) ورته وایي او پرشر او تیاري باندې د خیر او رڼا برلاسی ښیي. د هند د شمال مغرب د فاتحانو د فتحو په ترڅ کې د بودیزم او زردشتیت ترمنځ اړیکی ټینګی شوې، د همدغو اړیکو خبره وه چې په پای کې یې بودیزم د یوې راسخې اعتقادي فرقې یو ښېړ ټوک شو[1]»

په دغـهٔ اړه دا ټکی هم شته چې بودا د زردشت له ( کردار نیک ، پندار نیک اوګفتار نیک) څخه زیات اغـېـزمن دی .د بودیزم په اړه موږ د یوهٔ آسماني مذهب په توګه باوري نـهٔ یو، خو یو څه چې باید په دغه اړه په پام کې ونیسو، دادې چې دغه مذهب هسې چې له زردشتي دین څخه په زده کړه او خپله روحاني بشپړتیا کې دریغه نـهٔ ده کړې همداسې د دوی د تعلیماتو اغـېـز په را وروسته ستر مذهب عیسویت باندې هم د پوهانو له خوا په نښه شوی دی، هندي پوه ای .ال . باشم په دې بریالی شوی چې په دغه اړه په خپل اثر کې ډېـرجزئیات را برسیره کړي، هغه یو ځای لیکی : « د دوی په اړه دا خبره ثابته نـهٔ ده چې ګواکې دوی به په مافوق الفطرتي لارو چارو سره ناروغان جوړول، په دغـهٔ لړ کې د مها بود په اړوند یوه دردونکې قصه مشهوره ده ځکه چې ددغې واقعې او په انجیل کې د حضرت مسیح څخه د صادرو شویو معجزو ترمنځ یو د حیرانتیا وړ مطابقت ترسترګو کـېـږي. یوه میرمن د خپل زوی د مړینې پرلامل ډېـره غمجنـهٔ شوه، ویل کـېـږی چې مهاتما بودا په هغه شاوخوا کې وو، د هلک جسد یې په دې هیله چې هغه را ژوندی کړي هغـهٔ ته راووړ، هغـهٔ ترهر څه دمخه هغې میرمنې ته وویل چې دا باید ښار ته ولاړه شي او هلته له یوه داسې کوره د سرسو (شړشمو ) یو موټی راوړي چې په هغه کورکې مړي نـهٔ وي شوي، هغه ولاړه، کور په کوروګرزیدله، خو داسې یوکور یې ونـهٔ موند، له هغه وروسته د مرګ په وړاندې د لاچارۍ پر حقیقت باندې پوه شوه او یوه راهبه ترې جوړه شوه »[2]

د افغانستان پر لور د بودیزم را تګ تراوسه پورې د بـېـلابـېـلو عواملو ترسیوري لاندې څـېـړل شوي او کـېـدی شي په دغه اړه د څـېـړنو په ترڅ کې نورڅه هم نورخلک ولیکي، زما باور دادی چې

---

[1] - (ای . ال . باشم ، هندوستان کا شاندار ماضی ص ۳۷۹ ).

[2]- ( شاندارماضی ۳۶۰ مخ)

بودیزم پرهغه سیمه باندې چې هلته را منځ ته شو، د خپلې ودې لپاره وړه فضا او شرایط نــۀ شواى ترلاسه کولاى، موږ ته معلومه ده چې په هندوستان کې آریایانو د ویدایی دین او باور په برخه کې تر دغــۀ مهاله چې بودیزم رامنځ ته کــېــدۀ ډېــر کار کړى وو او د خپلې پیاوړتیا لوړې پوړۍ ته په روحانی لحاظ رســېــدلی وو، ټول هندوستان که نــۀ وو خو تر نیمایی زیات یې پرخپلو باورونو باندې د زړۀ له کومې باورمن وو، ترهغو پورې چې بودیزم په سیمه کې پیاوړی سیاسي ملاتړ نــۀ درلود، پردوی باندې د دوی د روحاني فعالیت کړۍ خورا راتنګه وه ځکه چې د هندي لرغونو باورونو پیروان کله هم په خپل چاپیریال کې بودیزم ته د ودې پلویان نــۀ ول او نــۀ یې دلته مخه ورکوله، برعکس د دوی سخت مخنیوی یې هم کاوۀ، په دغــۀ ترڅ کې پر ویدایی باورونو برسیره نور دینونــه هم په بــېــلابــېــلو بنو په هند کې را څرګند شول چې څرګند یی جن مت یا جنیزم دی چې له بودیزم سره په یوۀ وخت کې په یوڅه توپیر سره رامنځ ته او د بودیزم په وړاندې یې د مقاومت جدی او سخته لاره ونیوله. د جن د مذهب ستېه له هندوایزم سره تړلې وه، همدا وه چې له هنده دباندې نــۀ خور شو او نــۀ هم چا په دقیقه توګه له هنده دباندې وپــېــژاند. د همدغو هندي پیاوړو روحانی تمایلاتو بهیر وو چې بودیزم ته په هغه کچه لکه څنګه چې د دوی هیله وه د پراختیا او پیاوړتیا پرلامل نــۀ چا لاره ورکړه او نــۀ هم دلته شرایط ورته برابرول . ځکه یې مخه د هندوستان پرشمال لویدیز (افغانستان)، چین او هغې خوا ته د جاپان پر لورشوه چې په راوروسته کې یې په نوموړو هــېــوادو کې ډېــرپیاوړي مرکزونــه رامنځ ته او زیات پیروان یې وموندل.

دویم ټکی چې د بودیزم له پراختیا سره یې د افغانستان او مرکزي آسیا په لور مرسته وکړه، د مقدوني سکندر (۳۲۳ م مړ) سوبې او لښکرکشۍ وې. واکمن یونانیان او د هندوستان په شمال کې د هغو نفوذ تر دوو نیمو پــېــړیــو زیات روان وو. په دغې اوږدې مودې کې د دوی یو زیات شــمــېــر ان د واکمنانانو په ګډون بودیزم ته ور واوښتل او له بودیزم څخه د دفاع په سنګر کې ودرېــدل. د دوی د مادي او معنوي نفوذ له برکته بودیزم په باکتریا ( افغانستان ) کې په یوۀ ستر او برلاسي دین واوښت، په تــېــره بیا پرهغه مهال چې لومړی په دغه سیمه کې د یونان – باختري تمدن د یوۀ لوی مرکز په توګه را څرګند شو او دویم پرهغــۀ مهال چې په سیستان کې د ساکي پښتنو له خوا یوه پراخه او د پاملرنې وړ پیاوړې واکمني رامنځ ته شوه، د دوي یوې برخې له هندوستان څخه دلته د یوۀ تأریخي مهاجرت په ترڅ کې ځانونــه راورسول؛ همدا وه چې د بودیزم ډېــرمهم تعلیمات او آثار یي د بودا د کشکول په ګډون دلته له ځان سره راو لــېــږدول. د ساکایانو لویه ځانګړنــه داوه چې دوی که په هندوستان کې واکمن ول او که له هندوستانه دباندې، دوی هلته او دلته د سیمه ییز مذهب، ژبې او کلتوري ارزښتونو په پام کې نیول له یاده نــۀ ایستل،

همدا ده چې اوسني پاتې شوني (پښتانــۀ) يې هم په هند، پاکستان او ان افغانستان کې د نورو د ژبو او کلتورونو نوميالي شول خو د خپلې ژبې پښتو لپاره يې اوس هم ملا ماته ده او تراوسه چې پوره په يوۀ هـېــواد افغانستان کې په اکثريت سره ژوند کوي او له اوږدې مودې پر واک دي، ژبه يې لرغوني پښتو سره له دې چې رسمي ژبه ده خو د دوی د بې پروايي له امله په دغـۀ هـېـواد کې د لومړي ځای خاونده نـۀ شوه ، ساکايانو هم په خپل وخت کې د دوی هرې ځانګې په هرځای کې د هغو خلکو ژبې او مذهبي تمايل د ځان کړی چې ورسره اوســېــدلي، په مالوه او مهاراشتر کې ددوی لويه واکمني وه چې واکمن يې ( چشتنه) يا په نګه پښتو څښتن (د پاچهی دوره د ۱۳۰ ع شاوخوا) وو، ددۀ دواکمنی لمنه له مالوې تر پنجابه پورې وه، ددۀ زوی رود ورمن، سره له دې چې د هندوستان له لويو واکمنانانو څخه وو، په علمي او فرهنګی لحاظ يې هم ځانګړې کارنامې او يادګارونــه له ځانه پريښي دي چې کتيبې او ليکنې يې تراوسه په مالوه، بنګال او سند کې کشف شوې دي. همداسې د ساکايانو يو بل ښاخ د کابل پر وادی باندې واکمن وو، دوی ددغې سيمې د ځانګړنو په پام کې نيولو سره د ځان لپاره « فارسي القاب لکه شاهی، شاهنشاهي غوره کړل، دوی هغه څوک ول چې د غزنويانو تر مهال پورې پر دغې سيمې باندې واکمن ول، او البيرونی د هندوشاهانو په نامــۀ ياد کړي، دوی د ساکا شاهی او کوشان شاهی ځای ناستي ول[1] ...» دوی دومره پياوړي ول چې دوی ته يې د هندوستان د دروازې ساتونکي او د هندوکش ګوربتان ويل، مانا دا چې دوی نــۀ يوازې له دغې سيمې (افغانستان) څخه دفاع کوله بلکی د هندوستان ساتندوی هم ول[2] او ددغو ميرنيو واکمنانانو زامنو ( افغانانو) ته بيا علامه اقبال هم د پښتونخوا پولادي ديوال د هندوستان د دفاع لپاره يوازيني ډاډمن تکيه ځای وبالــۀ او په خپلو شعرونو کې يې همدغه ټکی په خپل عصر کې يوځل بيا تکرار کړ.

**خيبر ازمردان حق بيگانـہ نيست**     **دردل او صد هزار افسانـہ است**

**جاده کم ديدم ازوپـــيـچيده تــر**     **يا وه گردد درخم وپيچش نـــظر**

**سبزه داماں كهسارش مــــجوى**     **زضميرش برنيايد رنـــگ وبوى**

**سرزمينى كبک از شا هين مزاج**     **آهـــوى اوگيرد ازشيران خراج**

**در فضايش جره بازان تيز چنگ**     **لـــرزه برتن ازنـهيب شان پلنگ**

---

[1] -(B.S. Upadhyaya FEEDERS OF INDIAN CULTURE , P69)

[2]- همدغه اثر ۶۹ مخ .

بودیزم د مهایانا په بڼه  له پنجابه بیا تر کندهاره د لوی افغانستان د دغو خلکو منلی مذهب شو، ترټولو لوی او د پاملرنې وړ مرکزونـه یې، ننګرهار (هډه) کاپیسا (باګرام) بلیکا (بلخ) بامیکا (بامیان)، اراکوزیا (کندهار) او غزني (سردارتپه ) وو چې ددغو بودایي مرکزونو یادونه په مستنده او تأریخی توګه د چیني سیلانیانو، اسلامي مؤرخینو او هندي لیکنو له مخې هرچا ته څرګنده ده[1] . د بودیست پوهانو په اند مهایانا له اصلي بودیزم څخه یو ډول انحراف یا په اوسنۍ نومَونه پرهغه مهال په بودیزم کې یو بدعت وو ، چې د بـېـلابـېـلو عواملو له مخې سرې ورته متوجه کـېـدی شي، لکه سیمه یزې او کلتوري ځانګړنې، سیاسي برلاسی او سیمه یز شوونیزم دا ټول هغه څه دي چې د بودیزم اصلي بڼې ته یې له هندوستانه دباندې بله بڼه ورکړه ، او که نه :

« هینایانا چې له شکه پرته د بودایي تعلیماتو اصلي بڼه وه [2]» هغې ته د مهایانا بڼه ورکړه، او  ورو ورو یې پراصلي بودیزم باندې هغه څه ور زیات شول چې له هغه آرام او سوله ییز بودا څخه یې زمری، نـهٔ ماتیدونکی او زوال نـهٔ منونکی لاربنود او پیشوا جوړ کړ. بودیزم له بت پرستی سره هیڅ رابطه نـهٔ درلوده، او د اصولو له مخې یې له بت نمانځنې څخه ځان لرې ساتـهٔ، خو دغو مهایانا بودیست پلویانو په خپل ذوق او بودایي اصولو خلاف دا هرڅه پر بودا ورواچول؛ دوی په خپلو عبادتځایونو کې بودا د زمري په بڼه، بودا د سترقوت په بڼه ځای پرځای اومعرفی کړ، په افغانستان او یو شـمـېـرنورو سیمو کې بودا ته د زمري ډول بت ځیره جوړه شوه، همدا ده چې تر دغې اتمې  پـېـړۍ پورې موږ چغو وهو چې :

زه یم زمري پردي نړۍ له ما اتل نشته ... پرهندو سند و پرتخار و پرکابل نشته
ـ له ما اتل نشته

... یا داچې
( ماشیراستیم، شیر، شیربچه همی ماند بدو)

---

[1]ـ ځکه نو زه هم نـهٔ غواړم په دغه باره کې د هربودایی مرکز په اهمیت او کاروایيو باندې تردی زیاتې خبرې وکړم، په دغو مرکزونو کې تر دې وروستیو کالو پورې د نړۍ د لرغون پېژندونکو خـېـړنې ترسره شوې او هغه بودایي میراثونه چې له دغو سیمو ترلاسه شوي اوس هم زموږ په واک کې دي. خو یوشمـېـر نور یې له بده مرغه د تـېـرو دوو لسیزو بدمرغو جنګونو کې له دوو زرو کالو وروسته  له منځه یووړل شوي چې دغه چلند ته موږ د انسانی میراث  او تاریخ په پاڼوکې له یوې بدمرغې غمیزې پرته بله نوم نـهٔ شو کارولی.

[2] - William Edward Soothill  A DICTIONARY OF CHINESE  BUDDHIST TERMS , indian 2005 p 83.

په هرډول، دا باید ومنو چې موږ، چینایانو، جاپانیانو او نورو ملتونو پر بودیزم باندې دغه بدعت وروتاپـــهٔ، داسې بدعت چې پیل یې له افغانستان څخه وو. هندي مؤرخ او دعلیګړ پوهنتون استاد محمد حبیب د خپل کتاب (محمود غزنوي ) په پاڼو کې په دغه اړه یوه لیکنـه لري چې دلته یې له موضوع سره اړونده را نقلوو :

« اندکی قبل از میلاد خانوادهٔ ترک شاهی (کوشان) ترکان اسکاتین که بدست برهانسگین به راهنمایی کنشکا بزرگترین پادشاه این خانواده اکثرمناطق هند شمالی، افغانستان، ترکستان وماوراالنــهر را تحت حکمروايي خود آورد و داخل قلمرو کوشانیان شامل ساختند. این ترکان بزودی با تمدن هند باتحلیلی برخورد کردند که نتیجـهٔ آن مثبت نبود، بودیزم نـه تنــها برآنــها اثرنگذاشت بلکه درخود بودیزم آئین بت پرستی معمول گردید. آمیزش واقعیت گرایی وکیش گرایی منحیث یک آمیزش بیهوده به عنوان بودیزم مهایانا معروف گشت، دراین فلسفه چنین وانمود شد که درهرناحیه ومنطقه یک خدای جداگانه وجود دارد. واین شیوه بحیث اصول مذهبي مردم درعصرکوشانیان قبول شد. پیشاور پایتخت کنشکا بحیث مرکزتحلیل وباعث از بین رفتن این عقیدهٔ جدید گردید که قرنــها بعد مسلمانان درک کردند که این قبـیـلـه (Sakya Sinha) های چادرنشین وصحرا نشین افغانستان، بودا را بحیث شیر پرستش می کردند. بعد از سقوط حکومت کوشانیان تا حمله سارانیک برافغانستان درقرن هشتم این دوره درتاریکی قرارگرفت؛ البیرونی می گوید که: خانواده ترک شاهی شامل (۶۰) حکمروا وشاهان بودند که آخرین شان لاګاتورمن (LAGATURMAN) بود که بدست وزیر برهمنی کولر (KALLUR) معزول گشت و کولر اولین پادشاه خانوادهٔ هندوشاهی بود که در زمان سبکتگین بحیث فرمانروای پنجاب گماشته شد. شجرهٔ این شاهان که بر ابریشم نوشته شده بود در قلعـهٔ ناګرکوت (NAGAR KUT) محفوظ بود، البیرونی می گوید که من نتوانستم آنرا ببینم[1] . »

په هرډول، داخبره باید له یاده ونـهٔ باسو چې موږ په بودیزم کې لاس وهلی دی، بودیزم په افغانستان کې خپله ځانګړې بنه درلودله، دا چې د بامیانو بودیست اوســپـدونکو (غالبآ وردګانو) ځانته د بامیانو شیران ویل، لامل یې همدغه ټکی وو، چې دوی له بودا څخه زمری او د پیاوړتیا لوی روحاني سمبول جوړکړی وو، داسې چې په هره سیمه او هره دره کې یې د هغې درې او خلکو له روحي او رواني ځانګړتیاوو سره سم روحاني شته والی او دریځ د ځان کړ. همدا ده چې دغه اغـېـزې یې په اسلامي دور کې هم

---

[1]- محمد حبیب ، محمود غزنوی (دري ژباړونکی عبدالخالق رشید) ناچاپ ،

ترسترګو کېدي او ان نن هم چې موږ د خپل باور په برخه کې د هغه په زده کړو کې له پوره جديت او دقت څخه کار نـهٔ اخلو لامل يې دادی چې اسلامي اصول، تعليمات او آسماني ارشادات مو له دود او دستور سره ګډ کړي او د اسلام اصلي ګوهر مو په هغهٔ شان لکه چې لازمه وه نـهٔ عملي کړ او نـهٔ مو د هغـهٔ د معنوي قدسيت خيال وساتـهٔ. د اسلامي پوهانو د اقوالو مطابق هغه اسلام چې په قرآن کريم او احاديثو کې تشريح شوي وو او هغه اسلام چې موږ ته را ورسـېـد له يوه بله ګرد سره په توپير کې وو، همدا ده چې مرحوم مولانا آزاد په ډاګه دا خبره کړي چې :« خو کوم اسلام چې هندوستان ته راغي، دغه اسلام بيا له هغـهٔ اسلامه توپير درلود. ددغـهٔ اسلام لــېـږدونکی غيرعرب ول، ځکه د هغـهٔ حقيقي روح ترې ورکه شوه. د اسلامي دور نبښي نښاني تراوسه پورې د هند له کلتور، موسيقي، هنر، معمارۍ او ژبو سره په تړاوکې پاتې شوې دي. د ډهلي او لکنـهو لوی کلتوري مرکزونه د څه استازيتوب کوي؟ د يادو ښويو اسلامي ارزښتونو اصلی روح تر پښو لاندې او تـېـري پرې شوي دی. که چـېـري مسلمانان تر اوسه هم په خپلواک هندوستان کې د عقيدې او باور له پلوه د غلامۍ احساس کوي، په دغـهٔ حال کې زه يوازې د دوی ايمان او زړونو ته دعا کوم. که چـېـري يو سړي له ژونده ستړی کـېـږي، هغه کولای شي ځان تجديد نظرکړي، خو که يو سړی بيا د عصبيت لاره نيسې، په دغه حال کې بيا دا امکان نـهٔ لري چې هغه دې زړور وبلل شي. ځکه نو باور دی چې په داسې دريځ سره به مسلمانان د يوې کومونتي په توګه ډېـرکمزوري وي، دوی له خدايه نـهٔ ډارېږي او تول ډار يې له خلکودی. دغه ټکی دا خبره په ډاګه کوي چې ولی دوي په خپل موجوديت کې ځان د خپل خيالي ايجاد له خطرسره مل کوي[1]

... »

## د مناندر او ملېندا پښو د واک او څواک جغرافيه

د باختري ـ يوناني دور په اړه چې کومه خبره د تأريخ ليکونکو په وړاندې ډېـره مهمه انګـېـرل شوې هغه دا ده چې ګريکو باختري تأريخي دور خپل هر اړخيز اغـېـز پرهغو سيمو چې دغه ښپه وربانديې راغلي پرېښی دی، يوازې له ايرانيانو پرته چې په ښه سترګه نـهٔ ورته ګوري نور ټول ملتونه د خپلو تأريخو په ترڅ کې دغه دور له نړيوال تمدن سره د دوی د تړون او د هغه په پراختيا کې د پاملرنې وړ او زرين دور بولي، هندي مؤرخين سره له دې چې په خپل تأريخ کې دغـهٔ زرين دور ته د (ايندو- يوناني) دورې نومَونـه کاروي، دوی په دغـهٔ ټکي هم اعتراف کوي چې د يوناني تمدن آره ځانګه يونان -

---

[1] - (د مولانا آزادمرکه، د پاکستان ترجوړېدو يوکال دمخه ، زما ژباره، افغان – جرمن آنلاين)

باختري ده چې د واک او ځواک مرکز يې اوسنی افغانستان وو چې نوری سيمې يې په اړوندو او فتحه کړيو سيمو کې راتلې، د مناندر په اړه لکه چې د آريا صاحب په مقدمه کې هم اشاره ورته شوې مؤرخين په دې خبره يوه خولــهٔ دي چې دهٔ تر مقدوني سکندر هم زياتې سوبې وکړې او دلته يې د يوهٔ پياوړي يوناني باختري واکمن په توگه يوه خورا بسيا، په مادي او معنوي لحاظ خوندي واکمني جوړه کړه، د يونان - باختري کورنی د نفوذ ساحه، د آمو، خراسان، متهرا او پټنې (بيهار) تر پولو پورې خوره وه ، په دغې واکمني کې د مؤرخينو د ليکنو پربنسټ « دفارس يا پارت په صوبه کې دوې علاقې يعني خراسان او د کسپين جنوب لويديزې سيمې راتلې، چې هغوی يوناني تهذيب ونــهٔ مانــهٔ »[1]

ددغــهٔ ليکوال د څــېړنې پربنسټ زموږ لپاره اوس خبره لږ نوره هم روښانــه شوه او هغه دا چې او سني ايرانيان او پخواني فارسيان په رښتيا هم د يونان - باختري واکمنانانو د هرډول سياسی او فرهنگي نفوذ پرضد ول، يونانيانو ونــهٔ غوښتل چې له فارسيانو، د هغوی له فرهنگ او ژبې سره په تماس او تړاو کې شي، ځکه نو دوی په دغه دوره کې د يوې ځانگړې ژبې او ليک دود په لټه کې شول چې ددغې تگلارې په ترڅ کې يې په رښتيا هم د فارسيانو له ژبې پرته د سيمه ييزو ژبو لپاره د ودې او ځانگړي هويت لاره برابره شوه، يونان - باختري سيکې په دغه برخه کې له موږ سره څرگند لاسوندونه دي چې زياته برخه يې د مناندر پرواکمنۍ پورې اړه لري. دغه سيکې په دوو ليکدودونو يوناني او خروشتي کې زموږ په واک کې دي، خروشتی ليک دود په خپله له ښي خوا کينې ته ليکل کــېدهٔ او يوناني يې برعکس. مناندر په باکتريا (افغانستان) کې زېــږېــدلي، دلته لوی شوی او دلته واکمنۍ ته رســېدلی دی، ځکه نو دا له شکه وتلې خبره ده چې دی د دغې سيمې پر محلي ژبه باندې چې هغه د اوسنۍ پښتومور ده په سمه توگه پوهيدهٔ، د فارسي او پهلوي خبره خو دلته په هيڅ ډول نــهٔ طرحه کــېږي، واکمنــه ژبه يوناني وه چې هغې هم خپل حد او خپله رسمي ساحه درلوده، د هندوکش له جنوبه بيا ترتاکسيلا او پنجاب پورې د ژبپوهنــېزو او نورو علمي ـ تأريخي څــېړنو له مخې له پښتو پرته بلې کومې ژبې دومره نفوذ او نفوس پر دغه سيمه باندې په تــېره بيا پر دغه مهال لارهٔ چې يو دولت او يو واکمن بايد هغه خامخا د مکالمې په لامل وکاروي، موږ له يونان- باختري واکمنانانو څخه منندوی يو چې دوی پر دغه سيمه باندې د يوهٔ روښانــه تمدن نښې پريښې دي، دا چې دلته په سيمه ييزه توگه په خپله پښتنو په دغه برخه کې ولی کار نــهٔ دی کړی، په دغه اړه کټ مټ پوښتنه په اسلامی دوره کې چې اوس په کې يو، زموږ په مخ کې ده، که هلته پښتون په يوناني کې علم کاوهٔ او افلاطوني فکر يې په پښتونخوا کې خپراوهٔ، دا يو بهير وو چې هم هغه

---

[1]- ( قديم هندوستان کی تاريخ ۲۳۴مخ )

مهال او هم اوس پر دغـۀ قوم او د دوی پر ژبه د هغوی د فرهنگي وروسته پاتې کـېـدو په ترڅ کې روان دی، موږ ته پته ده چې په اسلامي دوره کې دوی عربي ته څومره کار وکړ او راته پته ده چې ترهغه راوروسته يې فارسي ته څومره کار او خدمت وکړ، دا هم د هغـۀ اوږدۀ بهير لړۍ ده چې پښتنو تل هغه ته اوړې ورکړې وې او تل يې په شعوري او غيرشعوري توگه منلي دي، هغه مهال چې د هندوستان واکمني زموږ په لاس کې وه، زموږ واکمنانانو بهلول لودي، سکندر لودي، شيرشاه سوري او د هغو کورنيو چې دوی ټولو پښتو ويله بيا هم دربار يې په فارسي چليدۀ ان هغو روحانيونو چې په پښتو به نـۀ پوهـېـدل، هغوی به د پښتنو شاهانو له زغم څخه ناوړه گټه پورته کوله، لکه چې يومهال د سلطان بهلول لودي په مخ کې يوۀ جاهل ملا وويل : « سبحان الله عجب قومی پيدا شدند، نمی دانم پيشرو دجال درايشان باشد زبان ايشان اينست که مادر را «مور» گويند و برادر را « ارور - ورور» می گويند و ديه را «شور» می گويند و سپاه را « تور» می گويند.» خو بهلول لودي ورته موسکی شو او په مؤدبانـه ژبه يې ورته ويې ويل :« ملا قادن! بس کن که ما همه بندگان خدايم[1]. »

دا يوه عامه ستونزه وه چې د تأريخ په اوږدو کې پښتنو ته ور دغاړې شوې ده، د هندوستان د اردو ژبې نوموتي شاعران او ليکوال د هندوستان پښتانـۀ دي، په پاکستان کې نوميالي پښتانـۀ همدا اوس اردو ليکنې کوې، په افغانستان کې د فارسي نوميالي ليکوال او شاعران پښتانـۀ ول چې لړۍ همدا اوس هم روانـه ده، ځکه نو دا به هم د يوۀ فکت په توگه سره منو چې پښتنو په يونان- باختري فرهنگ او د هغـۀ په پراختيا او معرفۍ کې ډېـره مهمه دنده ترسره کړې ده، دا چې په دغه برخه کې موږ څه په واک کې لرو او يايی نـۀ لرو، دا بايد وڅـېـړو او دا بايد په ياد ولرو چې که نن موږ ملېندا پښو په واک کې لرو، کـېـدی شي سبا او بله ورځ د نويو څـېـړنو په ترڅ کې په دغه برخه کې په داسي نورو شتمنيو باندې هم ور واوړو چې هغه زموږ د فرهنگ او فکر په يوۀ پړاو کې په فکري او معنوي لحاظ لکه (ملېندا پښو) ځانگړې اهميت لري. مناندر بوديست پيروی واکمن وو، هغـۀ له ناگه سينا سره خپلې پيچلې فلسفي او روحاني پوښتنې طرح کړې چې په هغوکې د بويزم په اړه د يونان- باختري واکمن پوښتنو ته جالب او د پاملرنې وړ ځوابو نـۀ دي ويل شوي. مرکه په ساگله (اوسني سيالکوټ) کې ترسره شوې ده. چې د باختري واکمنۍ د گندهارا له مهمو ښارونو څخه وو. د يونان- باختري واکمنۍ په جغرافيه کې د مرکزي او جنوبی افغانستان مهم ښارونه او سيمې راځي چې تراوسه پورې په تأريخي او جغرافيايي لحاظ ځانگړې اهميت لري، تر اوسه پورې په مرکزي او جنوبي افغانستان - پښتونخوا کې ددې دورې ډېـر رازونه لاهم نا سپړلي پاتې دي،

---

[1] - (خليق احمد نظامي، سلاطين دهلي کې مذهبي رجحانات دهلی ۱۹۸۱ ص ۴۴۳ ، د تأريخ داودي او مشتاقي په حواله).

تراوسه هم لا چا پردغه سیمه باندې د بودايي دورې اثرات په دقیقه توګه نــهٔ څــېــړلي او نــهٔ را سپړلي دي ځکه خوله دي سره سره هم ددغې دورې په اړه تأریخي حقایق د نامتو لیکوالو او څــېــړونکو له نظره پريوې خوا نــهٔ دي پاتې :

“ The recent publication of the Mir Zakah treasure confirms the rule of Menander in Ghazni and adjoining areas of the Kabul valley in the north (there are 521 coins of Menander in that treasure). The discovery of an A□ic Te□adrachm of Menander sets speculation at rest; he must have ruled over the Kabul region. In the north he occupied Hazara and the Swat valley.”[1]

موږ د مناندر د ژوند او واکمنۍ په څنګ کې د هغــهٔ د سیکو په اړه اوس په هرڅه پوهــېــږو، موږ په دې هم سترګې نــهٔ شو پټولی چې په دومره لویه واکمني کې چې له آمو تر ګنګا پورې خوره وه، د هغې پلازمینــه هم په جنوبی باختریا (افغانستان) کې وه، څنګه ویلای شو چې دوی یوازې ځان په سیاسي او پوځي مسایلو باندې بوخت وساتــهٔ؟ نــه، دوی په نورو برخو کې هم ډېــرې زیاتې هڅې کړې دي، دغې باختري یونانۍ واکمنۍ د خپل ژوند په وروستیو پــېــړېــو کې ځان ورو ورو له خپلې پخوانۍ یوناني لړۍ څخه پر سیمه ییزو فرهنګی او اداري اړیکو باندې بسیا و ساتــهٔ، همدا ول چې د دوی د واکمنۍ په دوره کې افغانان او تر یوهٔ حده هندیان له خپل کلچر او فرهنګ څخه پردې پاتې نــهٔ شول، دوی ان د یوناني ژبې هم ډېــره پروا ونــهٔ کړه او نــهٔ یې د هغې ډېــرخیال وساتــهٔ، مانا دا چې یوناني ژبې کله هم د ځایی خلکو د ژبي ځای نــهٔ په زور او نــهٔ په رضاء ونیو، خو اغــېــز او اثرات یې ول او یوشــمــېــر خلک او د علومو د برخې اړوندان پرې پوهــېــدل. په زیات شــمــېــر علمي برخو کې چې هغو د یوناني علومو پر بنسټ وده کوله، موږ له یوناني ژبې څخه په هغو ځانګړو برخو کې یو شــمــېــر ویي پورکړي دي، نن سبا چې موږ هرڅه له انګریزي څخه اخلو پر هغــهٔ مهال هم کټ مټ تګلاره ترسره شوې ده، د سیکو وهلو نوي میتود له یونانیانو سره په باکتریا او هند کې رامنځ ته شو، ځکه موږ په دغه برخه کې ډېــرڅه او ډېــرې تجربې له دوی څخه واخیستل، د دینار «دیناریس» او « درم یا درهم » ویی موږ له یوناني « درکم» څخه پرهمدغــهٔ مهال اخیستي دی. هندوانو ته هم له همدغــهٔ مهاله وروسته ور میراث شوی دی، په نجوم او هیئت او جغرافیایی څــېــړنو کې هم موږ د یوناني ژبې زیات کلمات په خپلو ژبو راخپل کړي دي چې دا ټول د نوموړو برخو د پوهانو له خوا د اړوندو څــېــړنو د بداېتوب او یا هم د اړتیا پرلامل

[1] - ( Bhikkhu Pesala , Dabete of King Milinda , P 213)

اخیستل شوي او دود شوي دي، د هندوستان او افغانستان په لرغونو نجومي څېړنو کې یو روښانه نوم او یو لوی پوه چې کله هم د هېرېدو نه دی هغه ورا مهیر[1] **Varāhamihira** دی . د سانسکریت ژبې او هندي نجوم څېړونکي دغه هندي لیکوال د ګندهارا او بکتریا اوسېدونکی بولي، دغه نامتو عالم یو زیات شمېر یوناني ویي د خپلې پوهې (نجوم) اړوند له یوناني ژبې څخه را اخیستي او خپل آثار یې په یاده برخه کې ورباندې بشپړ کړي دي. د دغه آثار هم لکه د نامتو (ویي کرنا) یا ګرامر لیکونکي پاني ني د لیکنو په شان زموږ لپاره، زموږ له ژبې پښتو سره د اړیکو له امله د ډېر اهمیت وړ دي. نور ساکایی واکمنان او پوهان لکه د ښتنه زوی د مرکزي هندوستان (اجین) سترپ (ستر یا مشر) رودرمن چي لوی ادیب تېرشوی، دغه هم هندوستان ته د موزیک، ادبیاتو، منطق او ګرامر په برخه کې د پاملرنې وړ آثار ور ډالۍ کړي دي .

په داسي یوه چاپیریال او داسي یوه فرهنګی او کلتوري ماحول کې چې په باختریا یا افغانستان کې روان وو، ان هندي توکمو واکمنانو لکه چندرګپت هم یو په یو ونه شوای کولی چې له دغه فرهنګي حالت څخه ځان په آسانۍ سره لرې وساتلی شي، یونان - باختري فرهنګي اړیکو پرهغوی هم اغېزه وکړه، دغه هندي واکمن چې د باختریا یوناني واکمن (سلوکوس ) لور ځانته وادهٔ کړه، د یوناني فرهنګ پر لورهم

---

[1] - د ورا مهیر په اړه چې کوم معلومات په ویکیپیدیا کي راغلي په هغو کې یې ددهٔ استوګنځي Kapitthaka لیکلی دی، چې دغه سیمه هم هندی لیکوالو ته یوه نامعلومه او د هند وستان له اوسنی جغرافیی د باندې سیمه ده، یو شمېر لیکوالو دی ساکایی آرین بللی دی، یوهندی پوه په دغه اړه لیکي چې :

“ Varaha Mihira , who in Gupta time composed the first scientific compendium on astronomy , the panchasiddantika ( incoprporting with it the three Greek Siddhantas of Romaka , Paulisa and Surya, and naming Yavanacharya as one of the authorities on the science of astronomy, perhaps was himself a Saka who bore a Persian name , if name could ever be the indicator of nationality… It lay with these foreign Sakas to give India in A.D. 150 her first classical Sanskrit style in prose” (B.S. Upadhyaya FEEDERS OF INDIAN CULTURE , P67)

ددې خبرې مانا دا ده چې ساکایانو په علمي او ادبی برخو کې ډېرخه هندوستان او سیمي ته ورکړي دي. خو ساکایی آرین ورا مهیر د نجوم په برخه کې له هغو اساساتو څخه چې هغه یوناني وو کار اخیستی دی، دی په یونانی باختری کلتوري حوزه پورې اړه لري ، د نجوم په باره کې یې یو نامتو اثر (پنځهٔ سیدانتیکا) یا (پنځه ترونونه یا تګلارې) نومېږي لیکلي چې له بده مرغه اوس ورک شوی دی، خو البیرونی دغه اثر لیدلی، له هغهٔ یې معلومات ترلاسه کړي او د هغهٔ یادونه یې هم کړې ده . ما ته دی هم لکه پاني ني غوندې په باختري افغاني کورنۍ پورې اړوند څوک ښکاري، ددهٔ استوګنځي (کاپیتکا) له هغو جغرافیایی نومونو سره نژدیوالی ښیي لکه کابورا ، پکتیکا ، بلیکا او کاپیسا او نور چې یوڅه څېړنو ته اړتیا لري . مانا دا چې د ویکیپیدیا معلومات ددهٔ په اړه سم نهٔ دي ، ځکه چې دی هندو نهٔ وو بلکي په هندوستان کي اوسېدلی او روزل شوی دی . د رامکا نوم دهٔ له روم او رومی څېړنو سره په اړیکه کې راوړی دي . کېدی شي د غزني رامک هم له همداسي یو مرکز سره په تړاو کې نومول شوی نوم وي.

خپل تمایل څرګند کړ، چې د دغو تمایلاتو اغېزه د هند او باختر پر ادبي بهیرونو باندې هم خپله اغېزه وښندله، د همدغو اړیکو ترسیوري لاندې یوناني ډرامې د هندي ډرامې په بشپړتیا او پیاوړتیا کې ښه ګټه وکړه، هندیان د همدغو ښو فرهنګي اړیکو له مخې « په باختریا کې له یوناني ډرامې سره آشنا شول او دغـهٔ کارهغه مهال د پیاوړتیا لوری د ځان کړ چې بودایي دین خپل نفوذ هرې خواته غزولی وو. کومې ډرامې چې په اونتي (اجین) دربار کې رامنځ ته شوې وې، هغه له دې امله وې چې د هند اړیکي د باختر له واکمنانانو سره ډېر دوستانه وو . له بله پلوه په سانسکریت کې د (یون کا) پرده هم له یون سره اړیکي لري او یون په سانسکریت کې یونانیانو ته ویل کېږي که څه په راورسته کې نور قومونه هم په دغه نامه یاد شول[1] ... »

## د ملیندا پنهو په باره کې

دغه اثر د یوې مرکې بڼه لري، چې د مهایانا د تعلیماتو پربنسټ د یونان- باختري واکمن مناندر او ناګه سینا ترمنځ د ژوند، معنویت، طبعیت او انساني اړیکو په اړه تر سره شوې او لیکل شوی دی. په هندوستان، نیپال ، تبت او نورو بودیست پیروو هېوادو کې دغه اثر د بودایانو لپاره د بودیزم د تعلیماتو په برخه کې د یوهٔ لرغوني اثر او مأخذ په توګه د پاملرنې وړدی. لوستي او روحاني بودایان ورسره بلد دي، په نیپال کې مې د یوهٔ لرغوني بودایي مندر له مشر ملا ( د ملا ویې هم د زیاتو پوهانو په اند له بودایي باوره زموږ پرخوا راغلی او تراوسه کلک دود ویی دی) څخه په دغه اړه پوښتنه وکړه، هغـهٔ راته وویل چې «هو موږ ورسره بلد یو، خو عام خلک هغه نـهٔ پېژني اوبحثونه یې هم یوازې د ډېرو لوستو مونکیانو لپاره د ویلو او کارولو وړ دي، ځکه چې هغه زموږ د هینایانو والو بودایانو له خوا نـهٔ دی لیکل شوی، هغه په کندهار (ګندهارا یې مرادوه) لیکل شوی، د هغـهٔ ځای د بودایانو په تېره هغوی چې په کشمېر، افغانستان او کاشغراو بامیانو کې اوسېدل په منځ کې ډېرنامتو دی» له هغـهٔ می وپوښتل چې دا کتاب لرئ او یا یې په خپل تعلیمی سیستم کې لولئ ، دهٔ وویل چې « د هندوستان په ځینو ځایوکی لکه ورانسي، درمساله او لداخ کې یې نسخې شته، خو دا چې په کومه ژبه دي، زه هم زیات معلومات نـهٔ لرم نیکـهٔ مې لوی مونک وو، دغه عبادتځای هم موږ ته د هغـهٔ میراث دی، هغه پرې پوهیدهٔ ما هم له هغـهٔ په دغه برخه کې اوریدلي دي.»

---

[1]- ( وکرم اروشی ، په اردو ژبه مقدمه ۱۵ مخ ).

کله چې موږ بوديزم ته ان د بودا په عصرکې کتنه کوو، هلته دا يو دود تل برلاسی وو او موږ وينو چې په خپله بودا هم د خپل دين د دود او پراختيا پرلامل له يو شـمــېـر نامتو کسانو سره مرکې ترسره کړې دي. په دغه اړه د بودا يوشـمــېـر مرکې ډېـرې مشهورې دي چې يوه يې هم له يوې نامتو بودستې ميرمنې چې له بودا سره يې د هغــهٔ د تعليماتو په پراختيا کې ډېـره مرسته کړې ثبت ده. د هغې ميرمنې نوم ( ويزه خوا [1] -VISAKHA) دی، دا ډېـره درنـه ميرمن بلل شوې، د بودايي زده کونکو او پلويانو خدمتونـه به يې کول او له نيکو کارونو يې ځان نــهٔ سپماوهٔ. ددې په باب ويل شوي : « يوه ورځ بودا له خپلو زده کونکو سره د غرمنۍ په لامل د ويزه خوا ميلمانــهٔ شول، د ډوډۍ له خوړلو وروسته د غه ميرمن د استاد په څنگ کې ودرېـده اوخپله خبره يې دا سې پيل کړه :

« زما مولا، زه آته هيلې لرم، او له حضرت څخه د هغو د عملي کــېـدو غوښتونکې يم.

بودا : د کاملانو شته والی په دومره کچه دی چې هر حاجت روا کوي.

ويزه خوا : زما مولا زما هيلې او غوښتـنې روا دي، د سرزنش وړ نــهٔ دي.

بودا : که داسې وي، نو خپلې غوښتـنې ووايه.

ويزه خوا : زما مولا، غواړم چې ټول عمر د راهبانو لپاره باراني کالي تيارکړم، د هغوی لپاره چې دلته راځي خواړهٔ برابرکړم، هغه راهبان چې له دغې لارې تــېـرېږي هغوی ته ډوډۍ ورکړم، د ناروغو ورونو لپاره خواړهٔ پاخه کړم، د هغوی لپاره چې د ناروغانو څارنـه کوي ډوډۍ تياره کړم، د ناروغانو لپاره درمل برابرکړم، د وريجو ورځنۍ برخه پرې ووېشم او د ښځو راهبو لپاره د حمام کالي جوړکړم »

بودا : ويزه خوا، هدف دې څه دی، ياني غواړې په دغو اتو هيلو د بودا بشپړ وجود ته ورنــېـږدې شې؟

ويزه خوا خپلې دغه غوښتنې يوه يوه داسې څرگندې کړې :

زما مولا، کوم راهب چې له بهره راځي، هغه په لارو او کوڅو کې ناولده وي، که وغواړې د صدقو لپاره حرکت وکړي، ستړيا د هغــهٔ خنډ کــېـږي، او که دغه راهب له خوړو چې زه يې برابروم کار

---

[1]- دافغانستان اوسنی پکتيکا ولايت د بوديزم د تعليمات له لويو مرکزونو څخه بلل شوی، کتواد يا کتواز په خپله ددغو تعليماتو مرکزاو سانسکريت نوم دی، دلته يوزيات شــمــېـر ځايونـه اوس هم په هم هغو لرغونو نومونو او ځانگړتياوو سره پاتې او يادېـږي لـېـږي نــهٔ ده چې اوسنی (وازې خوا) ولسوالي به هم ددغې نوميالي ميرمنې له نامــهٔ او ښوکړو سره د تړاو په لامل په کټ مټ نامــهٔ سره ياده شوې وي.

واخلي نو بيا كولى شي چې په پوښتنه پوښتنه د صدقو ترلاسه كولو په لامل هڅه او حركت وكړي. زما مولا زما موخه همدا ده چې زه غواړم د نويو راغلو راهبانو لپاره خدمت وكړم او د هغو په خدمت كې واوسم، خو زما مولا دا بس نــهٔ دي، كه يوراهب چې ستړى ستومانــه وي او وغواړي د ځان لپاره خواړهٔ برابركړي، هغه له كاروانـه وروسته پاتــېږي او په سختې منزل ته رســېږي، خوكه ما هغه ته خواړهٔ برابر كړي وي، هغه له كاروانه وروسته نــهٔ پاتى كــېږي او په سوكالى سره خپله لاره وهي. زما مولا دا ده زما هيله، له همدې امله غواړم ټول عمر د مسافرو راهبانو لپاره خواړهٔ تياركړم، زما مولا آيا دا به سمه وې چې زموږ راهبې ميرمني د (سراواتی) په سيند كې هلته چې بدلمني او رندۍ لامبې دهغو په شان لوڅې ولامبي. رندۍ مقدسې خويندې مسخره كوي او هغوى ته وايي چې « كوم فكر درولوېد چې د ځوانۍ په ځوښ كې دې د تقوا ژوند غوره كړ، سمه نــهٔ وه چې د ژوند دغه پړاو دې په مستيو او هوسو سره تــېركړى واى او د زړښت دوره دى پرهيزگارۍ او سپېڅلي ژوند ته ونډه كړې واى؟ په دې توگه به دې خپل حال او راتلونكي ژوند درک كړى واى » زما مولا، زموږ ديني خويندې د رنډيو په دغو خبرو باندې خواشينې كــېږي، د ښځو لپاره بربنډتوب شرم دی، له همدې امله زماغوښتنه دا ده چې ټول عمر د ميرمنو لپاره د حمام او لامبو جامې جوړې او برابرې كړم.

بودا : ويزې خوا ، ډېــره ښه خبره دې وكړه، څه چې دې غوښتــهٔ دي ، لوړ او عالي دي، پايله دا چې له دغو اتو هيلو سره دی د كامل وجود مطلب دا دی چې غواړې ووايي له تا سره يوه خولــهٔ يم،
له هغــهٔ وروسته مقدسې هستۍ (بودا ) ويزه خوا په دغو وَينو باندې وستايله :

دغه ميرمن چې د مقدس او كامل وجود (بودا) شاگرده ده، په خپله د اخلاقي فضائيلو سرچينــهٔ ده، پرته له دې چې آسماني پاداش او تقدير ته سترگې پرلاره وي، احسان او نيكي كوي، د خلكو رنځونــه كموي، له نيكى پرته د نورڅه فكرنــهٔ لري، ښِناک او خوراک د سخاوت پربنسټ د اړينو په منځ كې ويشي، خپله ونډه له خپلو نيكو كړو او د ژوند له نــېكمرغو ترلاسه كوي، په نرۍ خو سرلوړې نوراني لارې د وياړ او پرتم گام ږدي. دغه ميرمن په داسې حال كې چې له رنځه فارغه، په خوښيو او نــېكمرغيو پټه ده، په هغو لوړو كې، د آسمانو په نــېكمرغه اقليم كې د اوږدې زمانې لپاره د خپلو كارونــو اجرترلاسه كوي[1] »

بودا په خپله د ملیندا په شان يوهٔ پاچا سره هم مركه او خبرې اترې كړې دي، جالبه خو دا ده چې دغه مركې او بحثونه په بوديزم كې ان له پيله دود ول، په هند كې يوشــمــېــر پوهان دا خبره كوي چې دا

---

[1]- ( هرمان الدنبرگ (المانى ختيزپوه، فروغ خاور ، تهران ۱۳۳۰ ص ۱۶۰)

رنګه تمايلات په هندي مسلمانو صوفيانو کې هم ليدل کېږي، په چشتيه، قادريه، نقشبنديه، سهروردیه او په سلګونو نورو کې د ددغو طريقو د پيرانو او روحانيونو کټ مټ خبرې او کله هم مرکې چې زياتره يې د دوی په (ملفوظاتو) کې ثبت دي همداسې بڼه لري. او داسې انګېري چې دا پيل له بودا را پديخوا ترسترګو کېږي. يو پاچا چې (آجاتاساتو -AJATASATTOU) نومېږدۀ له بودا پوښتي چې :

« هغوی چې کورنی ژوند ترک کوي او مخ يې پر مذهبي ژوند کېږي په هغۀ کې به څه خوند وي؟

بودا د هغۀ په ځواب کې د پادشاهۍ د غلام او خدمتګار حالت تشريح کوي چې زيړې جامې اغوندي، د راهبانو کړۍ ته ورځي، هلته د نېک کردار او رفتار له امله د درناوي خاوند کېږي، او نورڅوک بيا په ژوند کې پر هغۀ د ملامتۍ بوج نۀ وراچوي، په دغه اړه بودا پاچا ته وايي : آيا تۀ غواړې چې دغه غلام بيرته ستاغلام شي، ترتا دمخه دی بايد له خوبه پورته شي، له تا وروسته بايد ويدۀ شي، ستا فرمان بايد يو سي، ستا های هوی بايد وخاري، ستا د خبرو اورېدو په خاطر بايد ستا سترګو ته وګوري.

پاچا : نه زما مولا او زما استاده، زه به هغۀ ته په درناوي سرټيټوم، د هرڅه له څښاک او خوراکه رانيولي د هغو ټولو تا بيا ورته کوم، څومره ښۀ چې دی يې وړ دی هغه ورته کوم او له هغه دفاع کوم[1]. »

دويم ټکی چې د ملیندا پنو په اړه په بودايي ادبياتو کې د پاملرنې وړ دی، هغه ددغۀ اثر ادبي ارزښت دي، دغه شهکاري اثر په ادبي لحاظ د زيات شمېر لوستونکو او پوهانو له خوا ډېر لوړ ارزول شوي دی، او هغه ځانګړنې چې ددغۀ مهال په بودايي ادب کې ترسترګو کېږي په دغۀ اثر کې هم په هر اړخيزه توګه په پام کې نيول شوې دي. ځکه دا هرچا ته څرګنده ده چې په بودايي ادب کې يو لړ نامي ادبي شهکارونه رامنځ ته شوي، په دغۀ ترڅ کې يوشمېر نامي شاعرانو سرونه راپورته کړي چې شعرونه يې په هراړخيزه توګه د ښکلا او ادبي نزاکتو له مخې بې ساري دي لکه (دهاماپادا - DHAMMAPADA) ددغۀ پالي اثر په اړه ويل شوي چې که هرڅوک غواړي د بوديزم پر حقيقت او وړتيا باندې پوه شي، بايد چې غه شعرونه ولولي، ځکه چې په هغو کې خپله بوديزم په خورا لوړ تخيل او تمثيل سره انځور شوی دی لکه د يو څوبيتونو دغه ژباړه :

---

[1]- همدغه اثر (۱۴۵) مخ .

« لکه چي تو پان کمزورۍ ونې را نسکوروي، همداسي هغوی چي په خوښیو کې ډوب دي، اوخپل نفس نــهٔ شي مهارولی، په خپلو خوړو کې انډول نــهٔ شي ساتلی او په خپلو کړو کې لټ اوبی زړه وي.» او یا هم برعکس دا چي :

« لکه چي توپان نــهٔ شي کولی درانــهٔ ډبرین غرونه په خپله غــېــږه کې راتاو کړي، همداسي مارا (د مرګ استازی) نــهٔ شی کولی، هغوی چي مراقبه کوي، ځان په سپیڅلتیا کې ساتي، پر خپل نفس واکمن وي، په خوړو کې انډول په پام کې نیسي او د خپل باور په لاره کې ټکور کړهٔ ورهٔ ترسره کوي. »

او یاهم :

« د چا چي خوب سترګو ته لاره نــهٔ مومي، د هغوی لپاره شپه اوږده وي، د ستړي لپاره لاره اوږده وي، د هغوی لپاره چي د حقیقت په باره کې په څه کړو ځان نــهٔ خواروي، د هغوی په وړاندې د نویو زېــږېــدنو او نوښتونو لاره بنده ده. »

ملیندا پنیو هم د خپل جوړښت له مخې په بودیزم کې په هغو آثارو کې راځي چي ځانګړی ادبي ارزښت لري، سره له دی چي دغه اثر کوم ادبي اثر نــهٔ دی، خو په سکښت او جوړښت کې ځانګړي ادبي ارزښتونــه له ځانه سره لری، بیان یې ځانګړی دی او فلسفي مسائـل یې په پوره ادبي مهارت سره تشریح اوڅرګند کړي دي، په دی اړه هندي لیکوال په دي باور دي چي:

« په دغه ډله کې یو هم د ملیندا پوښتني دي چي مباحث یې د باختري ـ یوناني واکمن او بهکشو ناګه سین ترمنځ پــېــښ شوي دي، دغه مباحث په دومره ادبي او فلسفي او هنرمندانــه ډول لیکل شوي چي زیاتو خلکو دا خبره کړې چي ددغــهٔ اثر مُصَنِف له افلاطوني فلسفي څخه خبرو [1]... » کله چي موږ د ملیندا پنو اوسني پښتو ژباړه لولو، دغه ادبي او هنري ځانګړتیاوې په دغــهٔ اثر کې له ورایه ښکاري چي له شک پرته موږ ته په ادبي او هنري لحاظ د بودایي دورې د فکري او ادبي بهیرځانګړی اهمیت رالــېــږدوي .

## ملیندا پنیو په کومه ژبه لیکل شوی ، په پالی که پښتو؟

د چیني بودستي ترمونو په دکشنرۍ کې د پالي ژبې په اړه لولو :

---

[1] - (An Advance History of India , 1967, P 85)

Pali, considered by “southern”Buddhists to be the languge of Magadha, i.e. Magadi Parkrit, spoken by Sakyamuni: their Tripitaka is written in it. It is closely allied to Sanskrit, but phonetically decayed and grammatically degenerate. *(A DICTIONARY OF CHINESE BUDDHIST TERMS , P148)*

ځيني پوهان د پالي ژبې تړاو له (پال) سره هم ښيي مانا دا چې دوی وايي « د پال لفظ په هندي ژبه کې ډېرپخواني لفظ دی، چې مانا يې ګوند او ټولنـﮥ ده، په سانسکريت کې هم (پال) هغه ديوال ته وايی چې د سرپناه په لامل ئـې جوړوي، هندوان پرباغچې او تالاب باندې ديوال ته هم پال وايي[1] ».

د پالي ژبې په اړه ډېرې خبرې شته ان چې يو شمېر لا دا هم وايي چې دا ژبه نـﮥ ده بلکې يو لړمتنونه ول چې په دغـﮥ نامـﮥ سره يادېدل، او دا هم ورزياتوي چې «پالي د ژبې په توګه په پخوانيو ليکنو کې نـﮥ ترسترګو کېږي، کومه ژبه چې ترپالي پخوا تدوين شوې ژبه وه، هغه د (Magadhanam Nirutti) په نامـﮥ ياديدله چې د مګد د خلکو ژبه وه، دغه ژبه د بوديزم په لومړيو کې هم د ليکنې او هم د وَينې ژبه وه چې وروسته د اشوکا په زمانه کې يې بدلون وموند او په بله بڼه کاريدله... »

خو خبره بيا هم هغه ده لکه چې زيات شمېر پوهان وايي مګدي او پالي يوه ژبه وه چې د بودايي متنونو او تعليماتو لپاره کارېدله. پالي ژبه په خپله له منځه تللې ژبه ده چې ترسانسکريت هم دمخه له منځه لاړه، او لامل يې هم دا وو چې دغه ژبه يوازې د بودايي باور د تبليغ او ترويج لپاره کارول کېدله، هغه هم د شمالي هندوستان او نيپال په شاوخوا کې چې له دغې ساحې دباندې يې نـﮥ نفوذ وو اونـﮥ ويل کېده، همدا ده چې کله کله يې خپل هويت هم له لاسه ورکړی، چا مګدي بللې چې د نفوذ ساحه او جغرافيا يې د اوسني بيهار، نيپال او کشمېر له پولې وړاندې نـﮥ تله. په علمي لحاظ هم د ژبو د پايښت او پاتيدنګ پرلامل د هغوی د نفوذ اونفوس مسئله ډېره مهمه ده، هغه ژبې چې د ژبو د تأريخ په اوږدو کې په مذهبي لامل کاريدلې دي، هغه ژبې دي چې د سياسي برلاسي په ترڅ کې د يوې ډلې د سياسي اغراضو پرلامل کارېږي، دهغو ژبو په اندول چې پرهغو باندې خلک په عام او ورځني ژوند کې خبرې کوي زياتې نـﮥ پاتې کېږي او ژر له منځه ځي، په لرغونو آرياني ژبو کې اوستا په کټ مټ دريځ کې راغله، د مذهب لپاره کارېده ځکه نو د پښتو او پارتی يا دري په اندول ژرله منځه لاړه. سانسکريت هم په عين برخليک واوښتت، پالي هم داسې شوه چې د پراختيا لمنه يې له بودستي تعليماتو سره تړلې وه، عربي هم په غيرعربي هېوادو او د هند په نيمه وچه کې په همدغـﮥ لامل د خپل نفوذ

---

[1] - (مولانا عبدالشکور، تأريخ ميوچهتری ( اردو ) دهلی ، ۱۹۷۴ ، ۲۵۰ مخ ).

پرپای باندې و درېدله. ان چې په ځنګ کې یې فارسي او دري او پښتو هم د خپلو سیاسي اغراضو په لامل له هندوستانه ګډه شوې. ځکه نو دا د یوۀ علمي تحلیل پایله ده چې د پورتنیو دوو عواملو (سیاسي او مذهبي) پربنسټ د نړۍ زیاتې ژبې له منځه تللي دي. پالي ژبه همداسې وه چې په یوه متروکه ژبه وواښتله او ډېر ژر له منځه لاړه، یوځه چې ددغې ژبې په اړه باید وواېو هغه دا دي چې د پالي ژبې د له منځه تلو یو لامل د هغې شفاهي یا وَیني بڼه وه، که موږ پالي قانون چې د بودیزم له لومړنیو او مهمو آثارو څخه بلل کېږي په پام کې ونیسو، هغه هم ډېره موده په شفاهي توګه ویل کېدله او تبلیغیدله، ملایانو او روحانیونو د هغۀ تقدس په همدې کې لیدۀ چې باید هرڅوک هغه په یاد کړي، د دوی په اند د هغۀ بر او برکت هم په دغۀ رمزکې وو. دغه اوسنی قانون هم د بودا له مرګه ډېر وروسته راټول شوی او تدوین شوی دی.

پالي شفاهي ادب په ټو له آسیا کې دومره پیاوړی دی چې ان له سانسکریت او نورو ژبو سره د خپل ستراهمیت له مخې د پرتلې وړ نۀ دی، پالي ژبه پیاوړې شفاهي زیرمه لري، شفاهي ادب او شعرونه یې که څه هم زیاتره د بودیستی تعلیماتو تومنه له ځان سره لري خو ډېربنکلي او په هنری لحاظ د ځانګړو وړتیاوو لرونکي دي. په ټوله آسیا کې په دغه برخه کې له پښتو ژبې پرته بله سیاله ژبه نۀ لري، د پالي او پښتو له ګډو ځانګړنو څخه یوه همدا ده چې ویونکو یې د لیک لوست پرځای هرڅه په وَیني او شفاهي توګه سمبال کړي دي. بودیزم په یونان – باختري دوره کې خپله لوړتیا وساتله، دا چې د اشوکا په عصرکې وپنځول شو، دغه اوږده دوره د بودایي تعلیماتو د شفاهي زده کړې او خپرونې لپاره ډېره مهمه او د پاملرنې وړ دوره وه، ځکه نو موږ له دغه ټکي څخه انکار نۀ شو کولی چې پښتو او پالي د بودیزم په پراختیا او د وړتیا په پېژندنه کې د پاملرنې وړ دنده ترسره کړې ده، پښتو په ټوله پښتو نخوا کې او پالي بیا په هندوستان کې. موږ د ګندهارا تر پلازمینې (تاکسیلا) پر شمال د پالي ژبې اثرات ډېرلږ وینو، ځکه چې دغې خواته پښتو ترهرات او سیستان پورې په فعاله توګه د بودیزم په چوپړکې وه. دا چې د بودیستي تعلیماتو په باره کې ډېرڅه نۀ دي لیکل شوي، د هغۀ لامل همدا دی چې دغو تعلیماتو ته تر زیاتې اندازې په شفاهي بڼه کارشوی دی. د بودیزم د خورېدو له لویو ځانګړنو څخه دا وه چې دغه روحانیت په هره سیمه او هېواد کې خپله سیمه ییزه بڼه او ځانګړتیا درلوده، په هره سیمه کې یې ځان د هغو خلکو له اند و ژوند سره پټلیز کړ او په هره سیمه او هېواد کې یې د هغۀ هېواد پرخلکو باندې ځان د هغوي په ژبو او کلتوري ارزښتونو کې وځلاوۀ، ځکه زموږ لپاره دا کومه د شک وړ خبره نۀ ده چې د بودیزم ډېرتعلیمات او له هغې ډلي (ملیندا پڼو) هم په پښتو ژبه د دوی لپاره ایجاد او د دوی په واک

کې ورکړ شوی دی، دا ډول بېلګی موږ نوري هم لرو، بودیزم  په افغانستان کې له چینایي هغهٔ سره توپیر درلود، له هندي  بویزم سره یو شان نهٔ، ځکه خو لیکوال اوس په دی هم باوري دي چې د ملینډا پښو اوسنی نسخه له چینایي نسخې سره هم د پاملرنې وړ توپیرلري، دوی وایي چې چینایي نسخه یې دومره اوږده او تفصیلي نهٔ ده لکه دغه ژباره چې اوس زموږ په واک کې ده.  بله دا چې بودیزم په باختریا (افغانستان) کې زیات په شفاهي بڼه تبلیغ او ترویج  شوی دی، او دا لړۍ ان تر کوشانیانو پورې همداسې را رسېدلې ده، کنشکا په خپل وخت کې  په خپله پلازمینه  (پوروشا پورا)  اوسني پېښور کې د بودایانو لویه شورا راوبلله چې یو  هدف یې بیا هم د واحد بودیستي سیستم تنظیمول وو. کنشکا خپله که له یوې خوا بودیزم ته د زړهٔ له کومې پراختیا ورکړه ، په عین وخت کې یې ونهٔ شو کولی د یونان- باختري تمدن له اغېزو ځان پریوهٔ کړي، همدا ول چې د یوناني تمدن په پام کې نیولوسره یې خپلو  هلوځلو ته په ګندهار، کابل، کاپیسا او ترهندوکش ورهغه خوا  ترختن او مرکزي آسیا پورې دوام ورکړ. بودیزم په دغه دوره کې نورهم وځلید او هراړخیز نفوذ یې په ټوله پښتونخوا سیستان، اراکوزیا،او غزني پورې خپورشو، ننګرهار هډه، د غزني سردار تپه، بامیان، کتواز، وازیخوا، ارګون، ګردیز، لوګر، کابل، کاپیسا په هراړخیزه توګه د بودیزم په لویو تعلیمي اوتربیتي مرکزونو باندې واوښتل چې د اغېزو لړۍ یې ان تر اسلامي دورې پورې پرهمهغو بنسټونو باندې راوغزیدله. پښتانهٔ روښانیان لومړي مسلمان روحاني لاربښونکي ول چې دوی اسلامي تعلیمات په منظمه توګه پرپښتو ژبه زموږ په واک کې راکړل، تر دوې دمخه چې دلته هرڅه روان ول، هغو هم یوازې شفاهي بڼه درلوده، چې دا خبره له موږ سره د پښتو پر اصالت باندې په بودایي دوره کې شهادت ورکوي او دا  هغه احتمالي حقیقت دی چې موږهم  کولی شو ووایو (ملینډا پښو) د ناګه سینا او باختري واکمن منادر (ملیندا) ترمنځ  په  شفاهي  توګه په زړه پښتو کې ترسره شوې مذهبي او فلسفي خبرې دي، هغه خبرې چې موږ ته د هندي او نورو پوهانو له خوا ویل شوي او  د  هغوی د یوهٔ تلپاتې تحقیق په توګه  تر موږ پورې را رسېدلې دي .چې دلته یوه لنډه کتنه ورته کوو:

## ملینډا پښو او د زړې پښتو خبره

دا یوه اوږده کیسه ده، خو دا باید داسې تعبیرنهٔ شي چې ګواکي دا کیسه هغوی چې په پښتو خوږه ژبه باندې خبرې کوي جوړه کړې ده، زه په دغه اړه یوازې پرهغو نظریاتو باندې خبرې کوم، هغه چې پر افغانانو باندې اړه نهٔ لري او نهٔ باید د افغانانو میړنتون سترګې دښمنان داسې وانګېري چې ګواکي دا هم زموږ خبره ده او طرحه ده. کوم څه چې دلته موږ خبرې وربانډې کوو، دا هغه طرحه او نظریه ده چې

زياتره د هندي سرچينو له خوا وړاندې شوې چې موږ يې هم په علمي جرئت سره د يوهٔ علمي تحقيق او عملي نظر په توګه يادونه او ستاينه کوو.

هندي پوهان پر دغهٔ ټکي باندې يوه خولهٔ دي چې مليندا پنو، سره له دې چې د بوديزم له مهمو آثارو څخه دی چې د بوديزم د تعليماتو پراصلي ژبه (پالي) نهٔ دی ليکل شوې بلکې په يوه بله آريايي ژبه باندې ليکل شوي دي. لومړني هندي ليکوال چې دغه نظر يې ملاتړ او څه نورهم روښانهٔ کړ او ويې ويل چې دغه پوښتنې په اصل کې په زړه پښتو باندې ليکل شوي دي هغه رنجيت سيتارام پنډت[1] دي. پنډت د کشمېر د ډېر زاړهٔ تأريخ راج ترنګني د انګريزي ژباړې په پای ليک کې چې ډېر مفصل او عالمانه تحقيق دی، د لومړی ځل لپاره موږ ته دا راپه ګوته کړه چې :

" Strabo tell us that Menander " conquered more than Alexander" and among his conquest were included Ayodhya, Pataliputra and Saurastran, Menander appears in Indian tradition as King Milinda who become a convert to Buddhism. His dialogue with the celebrated Buddhist Philosopher Nagasena is know as the Milinda –*Panho* or *Qsuestions of Milinda*. The *Milinda Panho* was originally written in old Pushto of which no copy is now extant: it is however, Preserved in Pali in Ceylon, Burma and Siam and the earliest extant Pali copy of the 4th century A.C. was discovered in a Buddhist Shrine in Japan. (Rajtarangani , English ,Appendix I P 745 )

رنجيت سيتا رام ټولو هغو هندي او غيرهندي پوهانو ته چې په دغه برخه کې يې يوازې ويلی وو چې دا اثر پرته له پالي پر يوه بله باختري ژبه باندې ليکل شوي دا دقيقه کړه چې دغه ژبه (پښتو) ده او دا خبره ترکومه ځايه چې ښکاري دهٔ د خپلو تجربو، څېړنو او تأريخي حقايقو په رڼا کې چې پر دغه سيمه له

---

[1] - پنډت رنجيت سيتارام پنډت د کشمېري پنډتانو له کهوله دي، د خپل مهال له نامتو ليکوالو اوسانسکريت پوهانو څخه وو، دی په سانسکريت ژبه پوهېدهٔ او ددغې ژبې د نامتو ليکوالو لکه کاليداس د آثارو په اړه يې څېړنې کړې دي، ددهٔ له شهکاري علمی اوتحقيقي کارو څخه يوهم د کشمېرد لرغوني تأريخ (راجا ترنګني - RAJTARANGANI) ژباړه وه چې په انګريزي ژبه يې په کال ۱۹۳۵کې ترسره کړه، دغه تأريخي اثر چې د کشمېر د تأريخ په نامهٔ يادشوی، خو دا په حقيقت کې د ټولې لرغونې ګنداهارا تأريخ دی چې د هغهٔ پېر او زمان ټول کړهٔ وړهٔ، تأريخ، جغرافيه او نور په کې ياد شوي دي. رنجيت سيتارام پنډت د خپل وخت ډېرنامتو څوک په دې وو چې دهٔ د هندوستان د لومړي صدراعظم جواهرلال نهرو له خور جيا لکشمې پنډت سره وادهٔ وکړ، جيا دهندوستان د معاصري د ډيپلوماسۍ په تأريخ کې يوه پېژندل شوې ميرمن وه چې د هندوستان د آزادۍ په غورځنګ کې يې هم له خپل ورور سره څنګ پر څنګ مبارزه وکړه، له خپلواکۍ وروسته، لويه ډيپلوماتيکه څېره وه چې په زيات شمېر هېوادو کې او ملګروملتو کې د هندوستان د استازې او سفيرې په توګه پاتې شوېده. د رنجيت سيتا رام پنډت پرژباړل شوي راج ترنګني باندې جواهرلال نهرو مقدمه ليکلې ده. دغه کتاب د حجم په لحاظ دومره لوی نهٔ دی، خو نوموړي پنډت دومره حواشي او تحقيقات وربانديې ليکلي چې د پاڼو شمېر نژدې (۹۰۰) پاڼو ته رسېږي. پنډت په ۱۹۴۴ کال له نړۍ سترګې پټې کړې دي.

پښتو پرته د بلې ژبې ويونکي نــه ول او نــه يې تردوی زيات نفوس اونفوذ درلود، ځکه يې په دغه برخه کې پښتو ورزياته کړه، لکه نورو لويديزو پوهانو ته چې د پښتو ژبې جغرافيا، او ګرامري جوړښت نــه وو ورمعلوم او يا دا چې دۀ ته د پښتو اوپښتنو پر ژبه، تأريخ او شته والي باندې سترګې پټول او ناخبري ګران ول، نو د خپلو څــېړنو پايله يې پر (زړه پښتو) باندې ودروله. چې تراوسه پورې خبره په همدغه نظريه باندې ولاړه ده.

لومړني ليکوال چې ويې ويل مليندا پنو له پالي پرته په يوه بله زړه ژبه ليکل شوی، هغه فرانسوی ختيزپوه (سلوين ليوي - Sylvain levi) دی ،چې پنډت هم له نوموړي الهام اخيستی او ليکي چې :

" M. Sylvain Levi tell us that there are two Chinese works written between the 5th and 7th centuries on the *Dialogue of Milinda* which although they purport to be translations are not, however, translations of the Pali text, but are probably derived from a recession which is older than Pali.[1]

د پنډت دا خبره موږ ته دا را په ګوته کوي چې (ليوي) د پنډت په اندول ډېــر په جزئياتو باندې نــه پوهيدۀ، او دا ستونزه د پښتنو په اړه تل وه، د هند يوۀ نامتوسانسکريت پوه يو مهال دا خبره کړې وه چې « موږ نــه پوهـېـږو چې دغه د (ليکل) لغت چې په ويدايي سانسکريت کې نــه وو، د پاني ني د دوران سانسکريت ته له کومې دروازې يو په يو راننوتی دی » ما په دغه اړه د سانسکريت پوهانو ته هم په ډيلي او هم په بنارس کې پردغــۀ ټکي ګوته کيښوده او دوی ټولو ته مې په ډاګه دا خبره وکړه چې دا کومه معما نــه ده په کومه دروازه چې دغه نامتو ليکوال (B.S. Upadhyaya) نــه پوهـېـږي هغه له پښتو پرته بله ژبه نــه ده ځکه چې يو خو پاني ني چې خپله همدغه ليکوال هغه يوسفزي پښتون بولي په خپله په دغه ژبه (پښتو) باندې پوهيدۀ. دويم دا چې دغه ويی همدا اوس په پښتو کې ژوندی ويی دی ځکه نو دلته د ابهام پوښتنــه له سره طرحه کــېــدی نــه شي، او دريم دا چې ددغــه ويي له ستې څخه ښايسته نور ويي لکه ليکوال، ليک، ليکوالي، ليکنــه، ليکونکی او نورهم جوړېــږي اوهم ويل کــېــږي، دوی له ماسره دا خبره ومنله. خو دا چې پنډت دا خبره روښانــه کړه لامل يې دا دی چې پنډت دلته لوی شوی، هغه هم په دې باوري دی چې دلته تر سانسکريت بله زړه ژبه چې ان سانسکريت ته يې هم لغتونه ورغلي او پاڼي نی اسپه زي (يوسفزي) يې د ګرامر ليکوال دی له پښتو ژبې پرته بله ژبه نــه ده، پښتو لومړۍ ژبه ده چې سانسکريت

[1] -(Rajtarangani , English ,Appendix I P 745 )

ژبې ته یې (لیکل) ، (لیکانی) (لیک) لغتونـه ورکړي دي[1]، همداسې په ابنت ادهیای کې هم داسې ویی شته چې پښتو تراوسه پورې ساتلي اوعلامه رشاد کلونـه مخکې هغه په نښه کړي دي .

دویم لیکوال چې د سانسکریت او بودیزم په باره کې یې لوړې زده کړې د وراناسی (بنارس) له پوهنتون څخه پیل کړې هغه د سیرلانکا بودیست لیکوال (هامالاواسادهاتیسا Dr. Hammalawa Saddhatissa دی چې دهٔ هم د فرانسوي (لیوي) نظر تائـید کړی او دا خبره دهٔ هم کړي چې :

Milinda, a Bactarian king who ruled the northeast of India, met a learned monk called Nāgasena and the king put a number of questions on the philosophy, psychology and ethics of Buddhism. I presume this debate was conducted in the Bactarian Greek language but was later tanslated into Pali and Sanskrit.

په افغانستان او پښتونخوا کې چې په دغه اړه کومې لیکنې شوې د هغو ټولو سرچینه د سیتارام پنډت نظریه ده، چې په ځانګړو وختو کې د بـېـلابـېـلو لیکوالو له خوا پرمقالې لیکل شوي خو په یوه مقاله کې هم پراصلی متن باندې چا تماس نـهٔ دی نیولی، علامه رشاد په دغه برخه کې ډېـره تلوسه درلوده، او زیاته هڅه یې داوه چې دغه موضوع او دغه فرضیه باید د هندي او نورو نړیوالو لیکوالو له خوا وڅارل شي، دا چې د اروابښاد پنډت خبره به موږ خپل سرمنزل ته ورسوي او که نـه، دا بیا دعلمي څـېـړنو پر لړۍ پورې اړه لري، زموږ عصر خو پرته له دې هم په پټوسترګو د علمي ویاړونو خپلولو عصر نـهٔ دی، خو دا یوه خبره ده چې موږ د محترم آریا پردغې ژباړې باندې یوګام بل هم وړاندې ولاړو، نـېـژدې نـیـمه پېړۍ موږ ملیندا ملیندا چیغې وهلې، خو یوه ورځ هم چا ونـهٔ ویل چې ملیندا یعنی څوک؟ ملیندا پڼو یعني څه؟ د هغو ژباړې چـېـرې دي؟ په ژباړو کې یې څه دي؟ یوازې دومره پوهـېـدو چې د بودیزم په باره کې یو ښـهٔ کتاب دی، خو دا چې موږ هم یو وخت د بودیزم سرسپارلي پیروان وو او په ننۍ نومَونه بدعتونـه مو په کې کول، نو دا له احتماله لـېـرې خبره نـهٔ ده چې پنډت سیتارام په دغـهٔ رمز پوهـېـدلی او دا یې منلي چې پښتنو پر دغه لټه باندې له خپلې دغې **پښتو** سره بودیزم هم منلی وو او هم یې په همدغې **پښتو** د هغه لمانځنـه کوله ځکه نو دا باید ومنو چې دوی به دغه متبرکه نسخه په خپله پښتو لیکلې هم وي

[1] - په دغه اړه ترهرڅه د مخه په لنډه توګه باید په دغه لیکنه بسنـه وکړو یومهم نوم (لیکانی) پښتو سانسکریت ته د پاني نې له رامنځ ته کـېـدو وروسته ورکړی دی او تر دغه دور دمخه په ټوله سانسکریت ژبه کې ددغه ویې پته نـهٔ لګیږي. لکه چې یو هندي سانسکریت پوه لیکي :
" The words for pen, lekhani and kalama (introduced from the Greek, kalamus, by the Arabs) were unknown in Sanskrit yet. "(B.S. Upadhyaya FEEDERS OF INDIAN CULTURE , P37)

او پرهغې به يې بيا همدغه **پښتو نوم (ملينداپنو)** چې وينګ او ما نا يې هم ترټولو همزولو هندي ژبو پښتوته نژدې دی پرايښې دی.

## په ملينداپنو کې زموږ يو شـمـــبـرخبرې

پښتو متل دی چې وايي، که باد نـهٔ وي بوټي نـهٔ ښوري، په نړۍ کې هر علمي او ادبي اثر د يوې انساني هڅې او هيلې ځانګړنـه او نښه له ځان سره لري، ځکه چې د انسان په واسطه د انسان لپاره د يوې تجربې په توګه ليکل کـېـږي او پاتې کـېـږي. ملينداپنو هم داسې يوه لويه هڅه ده چې په يوهٔ ځانګړي چاپيريال کې د انساني اړتيا په توګه رامنځ ته شوی دی. هيڅوک نـهٔ وايي چې دغه اثر په سريلانکا، برما او يا هم په چين او جاپان کې ليکل شوی او له هغه ځايه ترموږ پورې را رســېـدلی دی، بلکې ټول په دغه باره کې پر دی يوه خولـهٔ دي چې دغه اثر په باکتريا (افغانستان) کې ددغې سيمې د نامتو واکمن مناندر په زمانـه کې د بوديزم د اصولو پربنسټ ليکل شوی او تر موږ پورې را رســېـدلی دی. په دغـهٔ اثر کې د دغـهٔ ماحول او دغې سيمې يو لړځانګړنې که موږ وغواړو او که نـهٔ په ډاګه شوې، چې يو شـمـــبـر ته ئــې پوهانو اشارې کړې او يو شـمـــبـر يې د هغوی له توان او پوهې دباندې خبره وه، خو نور نسلونه بايد پرهغو باندې فکر وکړي، زموږ شرقيانو لويه ستونزه له پخوا تر اوسه دا ده چې خپل ځان مو په خپله نـهٔ انځور کړی، نـهٔ مو ارزولی او نـهٔ مو پـېـژندلی دی، برعکس موږ د ځان په باره کې ټل نورو ته غوږ نيولی، هغوی چې هرڅه زموږ په باره کې ويلي له هغه وروسته بيا موږ په ځان پوه شوي يو او د ځان په باره کې موفکر کړي دی، که راورټي نـهٔ وای، که درون نـهٔ وای، کـېـدای شول چې موږ به د خپلو نامتو کلاسيکانو له کارونو او شعرونو نـهٔ وای خبر، که حافظ ، مولانا او نور د لويديز نوميالیو په درنښت سره نـهٔ وای ياد کړي، کـېـدای شو له موږ يې دا اوسني آثار يا په سيند کې لاهو شوی وای او هم مو ترخاورو لاندې کړي وای، غربيانو د تأريخ په اوږدو کې د خپلو آثارو د ساتنې لپاره موزيمونـه جوړکړي څو هغه و ساتي او کار ترې واخلي، او موږ ببا په دی خاطر چې ګناهکار نـهٔ شو، يا يې ترخاورو لاندې کوو او يا يې د سيندونو پر روانو اوبو ورسپارو ...

راځئ دغه ملينداپنو شهکار ته هم له همدغې زاويې وګورو، په دغـهٔ اثر کې که د بوديزم په باره کې هم ديخوا ځينې ټکي شته چې زموږ له اند و ژوند، کلتور او تأريخ سره هم تړلي دي چې زه يې د ګرانو لوستونکو په وړاندې يوازې يو څو ته لنډه او سرسري اشاره کوم :

**الف :**

د دغــهٔ اثر په یوهٔ بحث کې د مناندر د زېــږېــدو د ځای په اړه چې ناګه سینا ته یې په ډاګه کړی راغلي دي : «الاساندی ته نــیــژدې په کارپسي کې زېــږېــدلی یم» مخکې تر دې چې موږ د دغې سیمې د استوګنې په توګه په دغه باره کې څه ولیکو، د ملیندا پنهو د مقدمې لیکوال په خپله دا خبره لیکلې چې دا به کاپیسا وي. خو موږ دا خبره لږ نوره هم روښانــه کوو چې په کاپیسا کې اوس هم یوه دره شته چې هغه د (الساي) په نامــهٔ یادېــږي، که چــېــرې د الساي واټن له ساګلي (سیالکوټ) تر دغــهٔ ځایه په پام کې ونیسو په یو څه توپیرسره لکه چې آریا صاحب هم اشاره ورته کړې (۱۱۲۰) کیلومتره کــېــږي. او دا هغه ځای دی چې په دغه سیمه کې یونیان تل ځای پرځای ول، او ان چې په اوسنی کاپیسا او کوهستان کې تراوسه پورې یو شــمــېــرنومونــه لکه الاساي،استالیف، استیګرتا (استرغچ) او نور یو ناني جوړه لري. سره له دې چې یو شــمــېــر پوهانو په خپلو علمي څــېــړنو کې دلته د الکساندریې خبره هم کړې او هم یې منلې ده خو ما چې په نــهرو پوهنتون کې د یوناني ژبې له څانګې سره نژدې اړیکې درلودل او له دغې لارې مې له یو زیات شــمــېــر یوناني پوهانو سره (د هندوکش په جنوب) په کوهستان کې د الکساندریې په اړه بحثونــه کړي دوی ټولو دا خبره کړې چې مقدوني سکندر د هندوکش په جنوب کې تم شو، خو د الکساندریو په لست کې د لته په یوناني سرچینو کې د کومې الکساندریې یادونــه نــهٔ ده راغلې، د هندوکش په شمال کې یې یادونه شوې، خو په جنوب کې نــهٔ. د الاساي خبره سیرلانکایي پوه هم منلې او په خپله څــېــړنــه کې یې داسې اشاره ورته کړې ده . لکه چې لیکي :

(…. and that Milinda’s birthplace on the island of Alasanda is 200 yojanas away. There are many cities founded by Alexander during his conquests, several of which might have been the birthplace of Menander. The city founded at Charikar has been suggested by A.K. Narain, but it is rather less than 200 yojanas (1,400 miles) at the usual reckoning. Could it perhaps be the Alexandra located at Leninabad…” (Debats of milinda - forward)

مانا دا چې د دغــهٔ اثر د مقدمې پر لیکوال برسیره دوو نورو پوهانو هم دا منلې چې د مناندر د زېــږېــدو ځای همهغه الاساي او شاو خوا ده چې تر اوسه پورې په دغــهٔ نامــهٔ سره یادېــږي. بله جالبه خبره چې په ملیندا پنهو کې د مناندر په اړه په ډېــرصراحت سره راغلې هغه دا ده چې مناندر په خپلو خبرو او خپل بحث کې دا په ډاګه کوي چې ګواکې دی هندوستانی نــهٔ دی، زه دا نــهٔ وایم چې دی باید افغان وي خو دا باید ووایو چې په افغاني یوناني نسل پورې اړه لري، چې دا لړی په باختریا کې د مقدوني سکندر د سوبو له پای ته رســېــدو سره سمه په پرله پسې توګه پیل شوې ده. د دهٔ دا خبره په ډاګه زموږ په مخ کې ده لکه چې وایي :

“ All India is an empty thing, it is like chaff. There is no one who is capable of debating with me and dispelling my doubts “

**ب :**

په ملیندا پنو کې دیوتا داتا، دیو او دیب په هغه مانا لکه چې په هندوایزم، جینزم او نورو هندو ادیانو کې یاد شوې نـــهٔ دی یاد شوي، په دغـــهٔ اثر او نورو بودایي متنونو کې، (دیوتا داتا) هغه ځواک دی چې د بودا پرمخالف دریخ کې درېــدلی او د هغــهٔ د ایدیی ضد ځواک په نښه شوی دی. په پښتني ټولنه او عامیانــه کیسو کې تراوسه پورې دیو د منفی ځواک نښه دی، په داسې حال کې چې دیوتا په هندویزم او نورو هندو آرو مذهبو کې د څښتن اوخدای په مانا سره راغلي دی. د بدرئ جمالي او په سلګونو نورو شفاهي کیسو کې چې کوم دیوان او د هغو کار روایی موږ اورو او لولو او یا یی په ولسي کچې تر اوسه په شفاهی توګه له یوهٔ نسله تربله لـــېـږدوو، په دغو ټولو کې موږ دیو ته کله هم د یوهٔ مقدس موجود په توګه نـــهٔ کتلي، نـــهٔ ستایل شوی دی او نـــهٔ یې زموږ په فکر کې ځای نیولی دی، برعکس په پښتني ټولنه او ذهنیت کې د تیارې، جبر، او زور زیاتي نښه ګڼل شوی دی، او په زیاتره کیسو کې یې رول او ونډه د کیسې د منفي کرکتر په توګه تل په ډاګه له بري سره مل نـــهٔ دی. په کومو شفاهي کیسو کې چې دیوان انځور شوي او راوړل شوي دي، د هغوی نومونه لکه ترابان دیو، تور دیو او نور د وحشت او نفرت څرګندونه کوي. د پښتني ټولنې دغه تعبیر او دغه ذهنیت چې له بودیزم سره په هر ډول تړاو تعبیرېــدای شي د ملیندا له دغو وَینو او اشارو سره په تمامه مانا په یوهٔ ځانګړي مطابقت کې تراوسه پورې ژوندی دی .

**ج :**

په متن کې یو آشنا نوم پیټکه (Pitaka) هم زموږ تر سترګو کــېــږي دا بودايي مقدسو لیکنو ته ویل کــېـږي چې زموږ له (ملاتیپو، طیفو) سره د جوړښت له پلوه اندوالتیا لرلی شي، د بودایي تعلیماتو په قاموسونو کې دا دواړه نومونه (مولا او پیچه ) خپلې ځانګړې ماناوې لري، د (Mula) مانا بنسټ او بنیاد راغلی او (Pecha) بیا د نړۍ، دنیا او عالم په مانا راغلی دی، چې تر زیاتې اندازې خپله مانا له هغـهٔ مفهوم او نوم سره چې موږ یې د ملاتیپي په اړه لرو یو رنګې ښودلی شي. د ملاتیپو بـــېـــلابـــېـــل ډولونــــه اوس هم زموږ او د آسیایي هـېـوادو په موزیمو کې شته، په اسلامي دوره کې هم زیاتره لیکنې د ملاتیپي په بڼه کــېــدې، خو په بودایي تعلیماتو کې د مقدسو لیکنو په برخه کې دغه شان لیکنــه زیاته معموله ده، زیاتر بودایي مقدس متنونــه اوس زموږ د ملا تیپو په بڼه لیکل کــېــږي. ما دم ګړئ د دغـهٔ نوم لپاره عربی مانا او تعبیر ونـــهٔ موند کــېــدای شي هلته یې هم مانا سره ورته وي، ملاتیپي په عربي، فارسي او پښتو کې په ډېــرښکلي خط لیکل کــېــدې، ان چې په زیاترو برخو کې به هغه د لیک مشق په

لامل هم کارېدي، د چاپ او نشر له بهیرسره د ملاتیپو ځای نورو چاپي آثارو ونیو. زما په نظر دا چې پښتانـهٔ او پښتو ژبه له دغه نامـهٔ سره آشنا ده، کـېـدی شي په دغه اړه ددغـهٔ بودایي نوم اغـېـزه د ملینداپنهو په لوستلو کې هم له یو څه لغوي ادلون بدلون سره له پامه ونـهٔ غورځوو .

**د :**

په متن کې یوهٔ ځای ته دا اشاره شوې چې ناګه سینا د سوداګرو له کاروان سره یو ځای تر پټنې (دهند د بیهار ایالت اوسني پلازمینـې) پورې رســېـدلی دی، پټنـه اوس هم د بودایي دین له خورا مهمو مرکزونو څخه دی، له دغه ښاره لږ پر جنوب په دیرش کیلومترۍ کې (بودګیا) د بودایانو مقدس ځای پروت دي، چې د بـېــلابــېــلو مناسبتونو له امله زیات شـمــېـر بودایان له چین، جنوبی آسیا او نورو هـېــوادو څخه دلته د یولړ مذهبي مراسمو په لامل راځی؛ پټنـه، ویشالي، بنارس، تاکسیلا، پیښور، کا پیسا، بامیان، اراکوزیا، غزني دا ټول ښارونـه د تأریخ په بـېــلابـېــلو وختو کې د بودیزم روښانـه یادګارونـه اوس هم په خپلو زړونو کې لري، بودګیا یو لوی بودایي مرکز دی، د بودا لویه مجسمه اوس هم دلته دنګه ولاړه ده. وایي چې د فضلت ونه هم دلته وه، هغه چې بودا به تر هغې لاندې کیناست. ددغې ونې نښې نښانې اوس هم شته، دا چې څومره به دا خبره دقیقه وي، زه په دغه اړه څه نـهٔ شم ویلی. خو څه چې زموږ لپاره مهم دي هغه دا دي چې دغـهٔ ښار ته د بودیزم زیات ارادتمندان راتلل. ناګه سینا هم دلته راغلی او په ملیندا پنهو کې یې یادونه د پاملرنې وړده. د هند او افغانستان ترمنځ د کاروانو تأریخ ډېـرلرغونی دی، په دغو کاروانو کې د افغانستان د تأریخ زیاتره نومیالي هندوستان ته د زده کړو په لامل تللي او مل شوي دي. البیرونی هم ددغو کاروانو ملتیا کړې چې پایله یې ددهٔ مهمې څـېـړنې او علمي آثارشول. دغه لړۍ په معاصرو پـېـړېـو کې هم له خپل اهمیته را ټیټه نـهٔ شوه، د مولانا ابواکلام آزاد نامتو اثر ترجمان القرآن اثر هم یوهٔ داسې افغان عالم ته اهداء شوی چې هغه له کندهاره تر رانچي پورې یوازې له مولانا څخه د یو څو پوښتنو پرلامل رســېـدلی دی[1].

مانا دا چې ناګه سینا هم له ګندهارا څخه د پټنې مقدس ښار ته تللی دی چې دغه لړۍ تراوسه پورې هم لا پای ته نـهٔ ده رســېـدلې، تراوسه هم له افغانستان څخه د هندوستان دیني مدرسو لکه دیوبند او نورو ته د افغاني ځوانانو لړۍ روانـه ده او لا هم د ناګه سینا په پلو باندې د زده کړې پرهیله ځانونـه د (ملا) کـېـدو پرلامل په دغه مقدسه هڅه پسې پلونـه اخلي .

---

1- ( وګورئ په افغان – جرمن آنلاین او ټول افغان ویب پانو کې د مولانا آزاد تأریخی مرکه ، زما ژباړه).

**۵ :**

په ختيزو ټولنيزو او پوهنيزو مرکزونو کې ستور- پوهنه له ډېر پخوا څخه يو مهم او پېژندل شوي علم دی، چې د تأريخ په هره دوره کې زيات شمېر پوهان پر دغـهٔ علم باندې بوخت شوي او په دغه برخه کې يې د پاملرنې وړ آثار او څېړنې تراوسه پورې له موږ سره پاتې دي، لکه چې د همدغـهٔ بحث په ترڅ کې موهم اشاره ورته وکړه، د ګندهارا يو نامتو پوه ورا مهير وو چې د ستور- پوهنې په برخه کې يې څو کتابونه ليکلي او نظريات يې په دغه برخه کې د راوروسته پوهانو لپاره سرمشق او سرچينې شوي دي. سره له دې چې يو شمېر آثار يې له منځه تللي دي، خو يو زيات شمېر يې چې د هند او لرغوني افغانستان په علمي وياړونو کې راځي اوس شته، د غزني نوميالی پوه ابو ريحان البيروني هم د دهٔ نظريات لوستي او له هغو پوره اغېزمن شوی دی. لويديز او ختيز پوهان په دې باوري دي چې د ستور- پوهنې په برخه کې يوناني نظريات او هلې ځلې تر هندي او چينايي هغو مهمې او په علمي وړتياوو برابرې وې، ځکه نو هندي او ګندهاري پوهان له يونانيانو اغېزمن او د هغوی د استرونوميکو پرنسيپونو څارونکي ول، ملیندا پېنو هم موږ ته په دغه برخه کې دا خبره کوي چې ملیندا واکمن په خپله تل په خپل دربار کې په سلګونو ستور- پېژندونکي د حقايقو د کشف په لامل ساتلي ول اود هغوی په مرسته يې غوښتل چې د جهان پرحقيقت باندې او هيئت باندې ځان او نور پوه کړي، دوی د بېلابېلو ستورو او نورو جغرافيايي معلوماتو د برابرولو دنده درلوده، او غوښتل يې چې له دغې لارې هم د يوهٔ با خبره او پر پوهه مين واکمن په توګه ځان د يوهٔ رښتيني تمدن استازی وښيي. د آريا صاحب د ژباړې په (۹۳) او نورو مخونو کې په دغه اړه ځانګړي معلومات راغلي چې لوستونکي او د اړوندې پوهې پلويانو او څېړونکو ته دا تأريخي حقيقت په ګوته کوي چې د مناندر د واکمنۍ په اوږدو او لنډو کې د ستور- پوهنې د علم لپاره په پراخه کچه کار روان وو او ان چې د همدغو باکترياييي پوهانو په واسطه د هندو دربار (هندوستان) لور ته د پوهې دغه يوناني باختري ميراث په بېلابېلو وختو کې لېږدول شوی دی.

**و:**

ملیندا پېنو له يوې خوا موږ ته ژوند په رنګارنګۍ او يووالي کې را ښيي او له بلې خوا يې را ته انځوروي، ژوند او د هغـهٔ ډول په دغـهٔ اثر کې د ژوند له حقايقو سره په هر اړخيزه توګه په بشپړ انډول سره اوډل شوی دی، دلته ژوند او د هغـهٔ د بيانولو لاره چاره په يوهٔ ځانګړي هنري ډول سره وينو، پرهغـهٔ مهال چې دغه اثرليکل کېدهٔ، موږ هغه مهال هرڅه د تخيل او افساني په اتکل له يوې خوا بيانول او له بلې

خوا مو ارزول. ډېـر لږ څوک موږ د تأريخ په دغـۀ پړاو کې لکه چې ملیندا او د هغـۀ مخاطب ناګه سینا په کې ژوند کوي وینو چې دوی به حقایقو ته باد نـۀ وي ورکړی او هغه به یې له خرافاتو څخه بـېـل ستایلی او تعبیر کړی وي. زه خو په دي باوریم چې ملیندا پنو د ژوند او حقیقت یو بشپړ درس دی، پاچا او زاهد دواړو په ډېـره ښه توګه دغـۀ ټکي ته په پوره واک او ځواک سره اوږې ورکړي چې دغه درس د انسانیت او ټولنې په مخکې کې کـېـږدي او هغوي په دې وپوهوي چې د حقیقت درک په حقیقي نیت سره کـېـدی شي، په دغـۀ اثر کې هم پاچا او د روحاني نړۍ استازي عقیده د « دوو موازي خطونو» له لیده ګوري، هغه دوه موازي خطونه چې نا پایه دي او نـۀ هم قطع کـېـدونکي دي ... دواړه په تدریجي تکامل باندې باوري څوک دي چې ددغـۀ بهیر په ترڅ کې دوی کولی شي د ژوند کاروان د « نیمه او نا معلوم سرمنزل » پر لور د خپل وخت او خپل توان په کچه لارښونه کړي، دوی پر هغـۀ مهال د ژوند او انسان پر ناتواني او مجبوریت باندې پو هـېـدل او په دې باوري ول لکه چې اقبال په شلمه پیړۍ کې موږ ته ترغوږ را تـېـره کړه چې :

هنوز اندر جهان آدم غلام است نظامش خام وکارش ناتمام است

ملیندا پنو زرګونـه کاله دمخه دغه ټکي د خپلو پاڼو په ترڅ کې موږ ته ژوند تشریح کړل، موږ ته یې ژوند تعریف کړ، او د هغـۀ په غـېـږ کې یې انسان موږ ته په هغـۀ شان لکه څنګه چې وو را وښود، دوی پر هغـۀ مهال په دی باوري ول لکه چې رحمان بابا وایي :

په دنیا کې بدي نشته که بدي نـۀ وي له تا

اویاداچې :

هغه زړۀ به له توپانه په امان وي چې کښتۍ غوندې د خلکو بار بردارشي

د ملیندا پنو د درسونو اساسي ټکي پر «ما» او «تا» باندې ولاړ دی، تـۀ یې چې باید د خپل ځان هینداره شي او زه یم چې باید ځانته د ستونزو پرغرونو باندې خپله لاره ومومم او بیا یې نورو ته ور وښیم او نور یې باید نورو ته. ځکه نو ملیندا او ناګه سینا هم په ملیندا پنو کې د خپل بحث په یوه برخه کې په دغه ټکي سره یوه خوله دي چې :

« دا اوسنی کړاو باید له منځه یو وړل شي، څو نور کړاو رامنځ ته نـۀ شي او دا هغه څه دي چې موږ یې په هڅه کې یو »

ملیندا پنو سره له دې چې د ژوند ډېـر پیچلي مسائـل د بحث د موضوع لپاره په ګوته کوي، خو کوم لاملونه او دلایل چې د دغــهٔ اثر په ترڅ کې د دغو پیچلو مسائـلو په اړه کارول شوي، هغه ډېــر ساده او خورا طبعیی بڼه لري، دوی فلسفي مسائـل په فلسفي پیچلي منطق او پیچلیو دلایلو سره نــهٔ تشریح کوي، زه چې کله دغه اثر لولم او د ډېـرو درنو موضوعاتو په اړه یا د مناندراو یا هم د ناګه سینا دلایلو ته ګورم، ما ته خپله پښتني ټولنــه ترسترګو کــېږي، که څه هم بحث اوږدېږي خو چاره نشته، زه ګرانو لوستونکو ته دوه کټ مټ ساده مثالونــه چې کــېـدی شي د خندا وړ به هم وي دلته په ډېــره لنډه توګه له خپلي افغاني ټولنې را اخلم: « وایی چې یوهٔ ملاوعظ کاوهٔ چې اخرت مو په مخ کې دی، د ایمان خبره مهمه ده، ستونزې دي ، باید چې د هغو پر وړاندې د عبادت توښه له ځان سره ولرو، د بــېــلګی په توګه پل صراط په پام کې ونیسئ چې ستنې یې د سپڼ په اندازه تنګې دي، تر ویښتــهٔ هم نری دي او د چاړې ترتیغ هم تــېــرې دي، پرهغه تــېــریدل یوازې پرعبادت سره شوني دي او بس، وایي چې دغه درونډ بحث کوچیانو هم واورېـد، یوهٔ یې بل ته مخامخ ور واړاوهٔ او ورته ویي ویل چې زموږ او تاسي لپاره چې په هیڅ هم نــهٔ پوهــېـږو خبره ډېــره ګرانــه ده، دا به څنګه کــېـږي؟ ملګري یې په سړه سینــهٔ ځواب ورکړ، فکر مه ورته کوه، چې داسې ده بیا به په هغه لاره نــهٔ ځو د ګومل په لاره به ولاړشو ... »

دویمه بــېــلګه :

« لاروي د اوښانو له خاونده پوښته وکړه، چې اوښان لرې؟ هغــهٔ په حیرانی ورته وکتل او ددهٔ د دغــهٔ بی ارتباطه سوال یې هیڅ پروا ونــهٔ کړه او نــهٔ یې څه ورته وویل، لاروی روان شو، د اوښانو خاوند ته پوښتنه پیدا شوه چې د غــهٔ لاروي ولي داسې پوښتنــه وکړه، په همدې فکر کې شو، پرلاروي یې غږ وکړ، چې ودرېږه، ورنــېــژدي شو او ورته ویي ویل چې : زه دوه ډوله اوښان لرم، یو ډول هغه دي چې درانــهٔ بارونــه او اوږدهٔ مزلونــه وهي، او بل ډول هغه دي چې یوازې پچې کوي او د درنو بارو نــهٔ دي ... ستا کوم یو مطلب دی؟ لاروي ورته په خندا شو، او ورته ویې ویل چې بس زما همدغه ځواب په کار وو »

دا چې موږ اوس په یو ویشتمې پــېـړۍ کې ژوند کوو او د ژوند د حقایقو داسې یو رنګي له ملیندا پنو سره لرو، نو داهم د ویلو وړ ده چې دا شونتیا سړی نــهٔ شي ردولای چې په ملیندا پنو کې زموږ د اند او ژوند یوه برخه پرهغــهٔ مهال چې لیک او لوست زیات نــهٔ وو په خپله غــېږ کې نــهٔ وای را اخیستې.

**ز :**

پښتانــهٔ اوس هم په خپل ورځني ژوند کې یوه نومَونــه چي هغه د نړۍ څلور برخې ویشنــه ده یادوي، مانا دا چې تر اوسه پورې د دوی نړۍ په پنځو او شپږو وچو باندې نــهٔ ده ویشل شوې، دغه ټکي په ملیندا کې هم راغلي دي : « نورو څلورو خورا لویو وچو ته چي جهان په کې ویشل شوی لاړشئ » . پښتانــهٔ هم په عامیانــه کچه د «څلور ډانگه دنیا» او څلورکنجه دنیا عبارت او وَینــه تر اوسه هم په خپلې ورځنۍ محاورې کې کاروي، زه په دغې جغرافیايي ویشنــې نــهٔ پوهــېــږم چې له کومه وخته به د نړۍ په باره کې ویل شوې وي خو غالباً چې مراد به دغه اوسني نړۍ وي، هغه چې د ملیندا پنو ترعصره په پنځو او شپږو وچو نــهٔ وه ویشل شوې. او یا به لا هم انسانان په دې نــهٔ پوهــېــدل چې نړۍ گرده ده، کــېــدی شو دوی به نړې ته د خپل څادر او دسمال د اوږدوالي او لنډوالي په کچه او یا داسې جوړښت په سترگه کتل چې هغه به څلور ضلعي (مربع او یا مستطیل) غونډې وو؟ په پښتني ژوند کې دغه نومَونــه په بــېــلابــېــلو ډولو سره ویله کــېــږي لکه : «دنیا څو ډانگه ده ؟» او یا «په څلور ډانگه دنیا کې به مې پیدا نــهٔ کړې» او داسې نور.

**ح :**

د ملیندا پنو په پانو کې د پونده ژوند څــېــره هم په هراړخیزه توگه ترسترگو کــېــږي، دا د ټولنیزژوند یو جالب پړاو دی چې په هرلحاظ خپله رنگارنگي لري، ناگه سینا په خپلو استدلالونو کې دغه ټکي ټل یادوي او داسې څرگندوي چي د ژوند دغه برخه د نورو هغو په انډول ډېــره مهمه او برلاسې برخه ده، په یوه برخه کې لولو: «داسې وانگــېــړئ چي یو سړی راځي او له یوهٔ شپانــهٔ څخه یو لوښي شیدي غواړي، سړی د شیدو بیه ورکوي، شپانــهٔ ته یې ورسپاري او ورته وایي : زه به د دغو شیدو لپاره سبا راشم، خو په سبا یې شیدې په مستو بدلــېــږي. کله چې سړی راځي او خپلې شیدې غواړي نو داسې وانگــېــړئ چي شپون دغه سړي ته د شیدو پرځای مستې ورکوي، او سړی ورته وایي، ما له تاسوڅخه مستې نــهٔ وې اخیستی ما ته زمالو ښي په شیدو را ډک کړه، خو شپون په ځواب کې وایي: په دي کې زما گناه څه ده؟ ستا شیدې په مستو بدلې شوې، دلته د دوي شخړه رامنځ ته کــېــږي او ای پاچا دوی ستا حضور ته راځي اوس نو تاسې د چا په گټه پرېــکړه کوئ ؟

- د شپانــهٔ په گټې .

- مگرولې.

- هرڅه چې دا سړی وایي، ودې وایې ځکه مستې له هم هغو شیدو مشتق شوي چې دهٔ پیرودلې وې»

د پونده او کوچیانی ژوند، د هغوی تولیدات لکه شیدې، کوچ، مستې، چکه، او نور په پراخه توګه په بحثو کې راغلي دي او داسې څرګندوي چې په ټولنيز ژوند کې دغه برخه خورا برجسته او د پاملرنې وړ ده، په باکتريا افغانستان کې يوشمېر اوسېدونکي تراوسه پورې د ژوند دغه ډول ته دوام ورکوي، کوچیان او پونده اوس هم په هماهغه لومړنی بڼه دلته روان دي او دلته اوس هم د دوی کاروانونه د افغانستان له پولو پرهغه خوا د موسم له بدلون سره سم له يوه ځايه بل ځای ته د سفر په حال کې دي، تر اوسه هم دوی په زرګونو مېږې او پسونه ساتي او د کال په اوږدو کې يې له يوه ځايه بل ته له ځانو سره لېږدوي.

## او د ملیندا پنیو دغه پښتو ژباړه

د ملیندا پنیو (د ملیندا سرګنګسکې) پوښتنې، او د هغو دغه تأريخي ژباړه يو داسې مهم او جالب اثر دی چې له خپرېدو سره سم به ئې يوزيات شمېر پوهان پرځان باندې بوخت کړي، ځکه دا يو داسې اثر دی چې له روحاني اړخه نيولې بيا تر تأريخي، رواني، جغرافيايي، ژبني، او کلتوري هغو پورې اوږدې خبرې او ارزښتونه په کې را نغښتل شوي دي. تر ټولو مهمه دا چې : باور دی چې د دغـه اثر په ژباړې سره به په دغه برخه کې د يو شمېر هغو پوهانو هڅې نورې هم ګړندی شي چې خېړنې کوي او په دغه برخه کې په لويديز او ختيز په تېره په هغو هېوادو کې چې تر اوسه هم بوديزم د يوۀ باور په توګه منې، علمي او اکاډميکي مؤسسې يې په څېړنو او ګرويږنو باندې بوختې دي. په نيپال، سريلانکا او برما کې چې ددغـۀ اثر په اړه زياتې څېړنې رواني دي، کېدی شی په دغه برخه کې د پنډت د نظريې پربنسټ د نوي علمي تحقيق لپاره هم لاره پرانستل شي. او کېدی شي په دغـۀ ترڅ کې د بحث د يوې بلې لړۍ په ترڅ کې نوي نوي نظريات ترلاسه کړو او هم کېدی شي هغوی ته چې په دغه برخه کې څېړنو ته ليوال وي يو نوی نظر ورپه ګوته کړو، ځکه موږ په دغه برخه کې د پنډت د دغې نظريې اړوند له نوموړو بودايي پيروو پوهانو څخه ډېرڅه نـۀ دي او ريدلي.

د آرياصاحب دغه ژباړه له هغې معتبرې ژباړې څخه ترسره شوې چې دم ګړی د نړۍ په ټولو علمي ټولنو او اکاډميکو مرکزونو کې د يوې منلې ژباړې په توګه منل شوې ده. آريا صاحب په خپله مقدمه کې دغه ټکی ويلی دی چې نـۀ رايس ديويدس او نـۀ هم مکس مولر په خپلو څېړنو کې د پښتو ژبې خبره ياده کړې، زه په دغه باره کې په دې اند يم چې دغه دواړه نامتو ليکوال خو څه کوې چې زيات هندي ليکوال تر اوسه په دې نـۀ پوهېږي چې پښتو د يوې لرغونې ژبې په توګې په دغې اوسنۍ جغرافيايي سيمې

کې له خورا لرغونو زمانو دلته ویل کېدله او ددغې سیمې د پاملرنې وړ اوسېدونکو (پکتو یسو) ورباندې خبرې کړې دي او یا یې اوس پرې کوي.

دا بله خبره ده چې دوی په پښتو نهٔ پوهېدل ځکه په دغه برخه کې په دغهٔ راز باندې پوه نهٔ شول، که پوه شوي هم وي دوی د خپل نظر د تائید په لامل په دغې ژبې کې له جوړښتونو څخه خبر نهٔ ول او نهٔ یې خپله دومره خواری کړي چې هغه یې زده کړې وای او بیا یې څه ورباندې لیکلي وای. بله تر ټولو مهمه خبره دا ده چې موږ هم په دې اعتراف کوو چې موږ خپله هم په دغه باره کې لکه مکس مولر او رایس دیویډس غوندې ړاندهٔ کانهٔ وو او نهٔ پوهېدو چې د ملیندا پنهو په نامهٔ هم داسې کوم اثر شته چې د هغهٔ په باره کې مو فکر کړی وای، کور دې د سیتا رام پنډت ودان وي چې په دغه اړه یې دا نظر ورکړ او ټول یې دغهٔ ټکي ته په خپل علمي انقلاب سره متوجه کړل چې د ملیندا پنهو اصله نسخه چې زړه پښتو وه ورکه ده، کوم څه چې موږ اوس په واک کې لرو هغه ټولي د ژباړې ژباړې دي ځکه نو د زیاترو پوهانو انتقادونه هم په دغه اړه راپورته شول چې ددغهٔ اثر په (اوسني انګریزي او سنهالي او ان پالي) په جوړښت کې نیمګړتیاوې شته چې د هغو په لامل باید دغه ژباړې له اصلی نسخې سره پرتله شي. خو له بده مرغه چې ددغې ستونزې د حل لپاره باید د اصلي نسخې تر پیدا کېدو نورهم انتظار وباسو، د پالي ژبې په یوهٔ معتبر اثر کې هم پورتنۍ ستونزه یاده شوې چې :

«ملیندا پنهو – د ملیندا (Milinda) او ناګه سینا (Nagasena) ترمنځ خبرې اترې. باور پر دې دی چې دغه خبرې اترې له ویلو وروسته تألیف او را ټولې شوې دي. ځکه یې زیاتره مؤثقي نهٔ ښکاري. له ژباړو یې یوه په سنهالي ژبه کې شته چې د (Saddharmodasya) په نامهٔ یادېږي چې په اتلسمه پېړۍ کې د یوهٔ بودايي راهب چې (Sumangla) نومیدهٔ ترسره شوې ده[1].»

خو د راج ترنګني د انګریزي ژباړې مقدمه لیکونکي دا خبره په ډاګه کړه چې اصلي خبرې اترې په زړه پښتو کې وې، ځکه نو موږ او هرڅوک چې په دغه برخه کې څېړنې کوي په دې پوهېږي چې د اثر پالي، سنهالي، جاپاني او ان چینایي ژباړې یې له یوې بلې سره هم په ډېرو برخو کې توپیرلري، دغه ټکی د انګریزي ژباړې لیکوال هم د دغې ژباړې په (۲۳۳) مخ کې یاد کړې دی.

---

[1] - *Malalasekera, Dictionary of Pali names vol-2 G.p (637)*

د آریا صاحب په دغه ژباړه کې موږ له ډېــرو داسې لغتونو او نومونو سره مخامخ کــېږو چې هغه دم ګړئ په پښتو ژبه او د لوی افغانستان په جغرافیا پورې اړه لري ، آریا صاحب دغو مهمو لغتونو ته شرح لیکلې او په دقت سره یې تشریح له بودایي دور سره په تړاو کې کړې ده. آریا صاحب په دغــهٔ ترڅ کې په یوشــمــېــرستونزو ځکه بریالی شوې چې دهٔ یو لړمهم نړیوال آثار چې زیاتره یې په لرغوني افغانستان پورې اړه لري ژباړلي دي نو ځکه یې د معتبرو مأخذونو په پام کې نیولو سره د ملیندا پښو په اړه هم څرګندوني د پاملرنې او ژور دقت وړ دي. په هغو ځا یو نو کې چې د سانسکریت او پالي د وینګ اړتیا رامنځ ته شوې، په هغو ځایونو کې یې له دیوناګري لیک دود څخه هم کاراخیستی چې دا هڅه یې له هغو پښتو پوهانو سره چې په هندي او سانسکریت باندې پو هــېــږي لاښه مرسته کولی شي.

او په پای کې یوځل بیا د دغــهٔ مهم علمي کار له امله محترم آریاصاحب او ټولو هغوی ته چې د دغــهٔ اثر په ارزښت باندې پوهــېــږي د زړهٔ له کومي مبارکي وایم. او له پاک الله څخه د هغې ورځې په هیله څو موږ په دې وتوانــېــږو چې ددغــهٔ مهم فلسفي اثر هغه پښتو متن چې دغه اوسنی ژباړې له هغې څخه ترسره شوي دي د نړئ په یوه برخه کې تر لاسه او د خپل نومیالي استاد اروابناد علامه رشاد روح هم پرې خوشاله کړو.

خدای لوی دی !

پروفیسور عبدالخالق رشید (پی اچ ډي)

د کابل پوهنتون استاد

د ۲۰۱۵ کال د جون ۲۵

په انګلیسي ژبې لیکل شوې دا مقاله ډاکټر صاحب رشید په هندوستان کې یوۀ علمي کنفرانس ته اورولې وه

# میلندا پنېو : د بودیزم ستر شهکار چې په لرغوني پښتو لیکل شوی دی

بودیزم په افغانستان کې یو له هغو موضوعاتو څخه دی چې د نړۍ ډېــرو پوهانو پرې لیکنې کړي دي. اکثریت دغه پوهان په دې باور دي چې بودیزم افغانستان ته د هندوستان د ستر بودایي پاچا آشوکا له پلوه راوړل شوی دی؛ آشوکا افغانستان، منځنۍ آسیا او د پرسیا (معاصر ایران) یو شمـــېـر برخې ونیولې، آشوکا په دغو سیمو کې د بودیزم خپرولو ته لـــېـــوالتیا درلودله.

ددې تر څنګ زما په باور په دې باب په ختیځې آریانا (معاصر افغانستان او د پاکستان شمال ـ لویدیځ – پښتونخوا) کې د بودایي پوهانو او نثر لیکونکو هڅې تر ټولو مهم فکتور دی. دغه سیمه په ډېرو پخوا وختونو کې د نامتو علماوو، د بشریت د پوهې د بــېــلابــېــلو څانګو او ادیانو کور او ځاله وه. د بودیزم له دین او نظریې مخکې د باکتریا پلازمــېــنه، بلخ یا بلیکا، د زرتشتي باور او نظریې د زیږون زانګو وه چې له همدغــۀ ځایه معاصر ایران او منځنۍ آسیا کې خپور شو. دغه افغانــي – بلخي عقیده لا تر اوسه په هندوستان او هم په ایران کې ډېر پیروان لري.

بودیزم کله په افغانستان کې د زرتشتي دین ځای نیولی دی؟ دې پوښتنې ته د ځواب موندلو لپاره موږ کولی شو د منثورو بودایي متنونو د لیکوالانو، سیمه ییزو روحانیونو او د علماوو پر هڅو ډېره ولګوو.کله چې د افغانستان شمال ته بودیزم راغی نو یوې لارې چې بودیزم ته لاره پرانیستله هغه د (۴۱۳ او ۳۴۴ م. ز) کلونو تر منځ د تورخارستان لاره وه چې د کشمیر د نامتو تأریخ، راج ترنګیني لیکوال کلهانا ئـې د توخارا په نامـــۀ یادوي. کلهانا وایي :

«د موریا ستروا‌کی د ایران د هخامنشي د ستروا‌کی د ایراني پړاو ډېــري رسوم او اداري مصطلحات جذب او واخیستل او دې لړۍ په هندوستان کې د څو پــېــړېــو په اوږدو کې دوام وکړ. خو له دې سره سره چې په هندي ساتراپیو کې د ایران ژبه برلاسې وه کرار کرار ورکه او له منځه لاړه. په وروسته پــېــړېــو کې کله چې یونانیانو، پارتیانو او ساکانو په خپل وار د هندوستان په شمال لویــدیځ کې خپلې واکمنۍ خپرې کړې نو یو ځل بیا د ایران د ژبې او دین د اغیزو له لارې، ایراني (آریایي) اغیزو خپل ځای وموند.» (۱) (۷۳۰)

او موږ ټول پوهېږو چې د بودیزم په خپرولو کې د ساکانو واکمنۍ مهمه ونډه لوبولې ده. لاسوندونه څرګندوي چې ساکان د افغانستان د پښتنو او د هندوستان د شمال لویدیځو برخو د اوسېدونکو نیکونه دي، دوی هماغه ساکان دي چې د پارتانو د هخامنشي د سترواکۍ په پوله کې ئې د ساکستان- سیستان دولت جوړ کړ.

ساکان له دوه وو اړخونو د بودیزم منلو او خپرولو ته لېواله ول- لومړی دا چې ستر شهزادګی بودا په خپله د ساکانو د قوم له جرړې څخه وو؛ دویم دا چې یو شمېر ساکي پوهانو په بودیزم ایمان درلود او ددې نظریې په سوله پالو اصولو ئې باور درلود. او هم همدوی ول چې د بودیزم لمن ئې د چین د لویدیځ او د آسیا تر سویل پورې وغځوله. کلهانا وایي :

«دوه نیمې پېړۍ وروسته کله چې چینایي زایر هیوان څانګ[1] (کوچ/کوش[2]) ته ورسېد نو همدا ښار لا تر دې دمه هم د (سم-سکرته[3]) د زده کړو مرکز وو. د هندوستان د کوچان الفبا[4] ومنل شوه او هنیانه پال[5] موکسه ګوپتا[6] په دې مرکز کې د حقوقو مشر ډاکټر وو. د کوچا[7] پاچا چې په خټه د توخار له سلطنتي کورنۍ څخه وو، سووانا دیوا[8] نومېدهٔ چې یو سربښندویه بودایي وو، د پلار نوم ئې سووارنه پوسپا[9] وو. بودیزم د تورکانو په لوړې پاړکي /طبقې په منځ کې خپور شو او د ۵۸۰ ز کال په شاو خوا کې ددوی خان (توپو[10]) د افغان مانک جیناګوپتا[11] په لاس بودیزدم ته را واوښت او ددهٔ ځای نیوونکی تونګ[12] چې، یګبو[13] وو، د هیون څانګ د لیدلو پر مهال یو بودایي وو. په حقیقت کې منځنۍ آسیا ته ددغهٔ چینایي عالم له سفر څلور کاله مخکې پَربها کـَرَمترا[14] له خپلو لسو تنو یارانو سره د خان مانۍ ته ورغلی وو او له خان سره ئې لیدلي ول او له همدغهٔ ځایه ئې په ۶۲۶ ز کال کې د بودایي تبلیغ مأموریت پر غاړه واخیست او تر چین پورې ئې ورساوهٔ. سم – سکرته هم د ختن[15] په سیمې کې د مذهبي او ادبي ژبې په توګې خپله ونډه ولوبوله، خـُتن په خپله یو نامتو بودایي هېـواد وو.» (۲) (۷۳۱).

---

[1] - Hiuan-Tsang

[2] - Kuch

[3] - Samskrata

[4] - Kuchan alphabet

[5] - Hinayanist

[6] - Moksagupta

[7] - kucha

[8] - Suvana Deva

[9] - Suvarna Puspa

[10] - T o-po

[11] - Afghan monk Jinagupta

[12] - Tung

[13] - Yagbu یګبو : د تورکانو د سلطنتی کورنیو په منځ کې د یوهٔ لوړ مقام نوم دی چې تقریباً د نائب السلطنـة معادل راځي - ژباړونکی

[14] - Prabhakaramtra

[15] - Khotan

د سم سکړته ویی یو پښتو ویی دی چې له (سم) او (سکړه) یعنی (زدکړې) څخه جوړ شوی او له (سم زده کړیال) سره د خبرو کولو په معنی ده؛ دا ژبه معاصرې پښتو او توخاري ژبو ته ډېــره ورته وه او افغان فیلالوژست پوهاند عبدالحی حبیبي ئــې د معاصرې دري ـ فارسي ژبې مور بولي.

هغه ټکی چې باید هــېــر نــهٔ شي د بودایي دین په چوپړ کې د پښتو د ژبې ونډه ده. افغان مانکانو د بودیزم د خپرولو په لاره کې او د هغــهٔ د فلسفې په تشریح کې تر خپلې شونې وسعې ښې هڅې کړي دي. په عین وخت کې په دې هکله د بودایانو دویمه شوری ډېــره مهمه وه چې په دې باب داسې لولو :

« بودیزم په افغانستان کې په حقیقت کې د یوهٔ دین په توګې یوازې د بودایانو د دویمې شورى له تدویر وروسته چې په ویشالي[1] کې جوړه شوه خپور شو، دا شوری د بودا له «مهاپري نیروانا[2]» (د بودا له مړینې) یوه پــېــړۍ وروسته د «مها سمګهیکا[3]» د مانکانو له پلوه چې د لومړي تیراودا یا پالي تیراودا[4] له فکري مکتب څخه جلا شوي ول، جوړه شوه او دا فکري خوځښت ددې هــېــواد د ختیځ وروستۍ څنډې اودیانې[5] ته راورســېــد. دوی دلته خپل پیاوړي مرکزونه جوړ کړل. ویل کــېــږي چې ددې فکري مکتب یوه بله ډله په هندوستان کې پاتې او په مهاتورا[6] کې استوګنه شوه، خو د دواړو ډلو تر منځ اړیکي د څو پــېــړېــو لپاره ټینګې پاتې شوې او دا خبره د لومړۍ زېــږدېــزې پــېــړۍ د هغو ډبر لیکې له مخې جوته شوې چې په اودیانې کې موندل شوي دي؛ دا ډبر لیکې څرګندوي چې افغانستان، د بودیزم په ټول تأریخ کې د وروستۍ تیراودا یا د سانسکریت د تیرداودا د بودایي فکري مکتبونو ستر مرکز وو او تر لسمې زېــږدېــزې پــېــړۍ پورې چې د بودیزم ټغر د ټولیدلو پــېــړۍ وه د یوهٔ پیاوړي مرکز په توګې پاتې وو. شک نــهٔ شته چې اودیانه د بودیزم د مهاسمګهیکا د فکري مکتب لرغونی لومړنی مرکز وو چې د خپل د پیدایښت له هماغو لومړیو څخه ئــې د (سروا ستیودا[7]) د ستر فکري مکتب په توګې پرمختګ وکړ[8].»

---

[1] - Veshali

[2] - Mahaaparinirvana : په بودیزم کې د سانسکریت ویی پري نیروانا چې په پالي کې پري نیبهانا ویل کــېــږي په عام ډول له مرګ وروسته نیروانا ته ویل کــېــږي، یعنی له مړینې وروسته د یو چا بدن د ژوندانــهٔ د کړاونو د کړۍ له بشپړولو وروسته نیروانا ته ځي. په بودایي ادبیاتو کې د شکیاموني بودا د پري نیروانا په هکله ډېر څه ویل شوي دي یو له هغو څخه د پالي د ادب مها پري نیبهانا سوتا ده او بله ئــې مهایانه مهاپري نیروانا سوتا ده. له دې څخه موخه ستره مړینه یا د بودا مرګ دی. ـ ژباړونکی

[3] - Mahaasaamghika : دا سانسکریت ویی د سترې سنګها په معنی ده چې د بودا له مړینې وروسته له لومړنیو فکري مکتبونو څخه وو او ډېري پوهان په دې باور دي چې مهاسمګهیکا د بودیزم د مهایانې د پرانیستلو لپاره لومړنی فکري مکتب وو. ـ ژباړونکی

[4] - Early Theravaada or Paali-Theravaada

[5] - Udyaana or Uddiyaana

[6] - Mathuraa : مهاتورا د هندوستان د شمال په اوتر پرَدیش کې د یوهٔ ښارګوټي نوم دی. ـ ژباړونکی

[7] - Sarvaastivaada : دا سانسکریت ویی له لغوي اړخه د «ټولو موجوداتو د هستی» د تیوري په معنی ده چې د تیراودا بودیزم له لومړنیو فکري مکتبونو څخه وو. ـ ژباړونکی

[8] - (*C. S. Upasak Role of Sarvaastivaada in Afghanistan*)

په سم – سکړته کې ډېـري وييکي د سانسکريت دي او زه ډاډه يم چې په خپله د سانسکريت نوم هم له نومړي پښتــو ويي سره ژور تړاو لري. د سانسکريت ستر ګرامر پوه پانيني[1] په خپل ستر اثر «اشتاديا[2]» کې د پښتو د لغاتو ډېـره شمـېـره راوړې ده او دا خبره د ډېــرېــو هندي پوهانو لپاره د هغوی د پلټنو په لړ کې د تعجب وړ ګرځي.

يو له دغو سرچينو څخه چې د بوديزم په فلسفي پورې اړه لري د (ميليندا پوښتنې[3]) دي، دا اثر له بودايي نظريي او اصولو سره د پــښتــنـو نــېــږدې اړيکي شرحه کوي، کينت ريکسروث[4] وايي :

«دا د تأريخي پړاونو په منځ کې يو جذاب پړاو دی او دا ځکه ځورونکی دی چې موږ ئــي په هکله لږ پوهــېــږو او په هغــهٔ څه چې پوهــېــږو ډېــر فوق العاده دي.

موږ پوهــېــږو چې د يوروپيديس[5] تياتيري ننداري په هغو دنګو سلطنتي ماڼيو کې ننداری ته وړاندې کــېــدلې چې د هندوکش له لوړو څوکو به ئــي د منځنی آسيا دښتي ښکارېــدلې. موږ په دې هم پوهــېــږو چې ددوی په مسکوکاتو کې هيرکوليس او ويشنو[6]، بکــَــس او شيوا[7] سره مغالطه شوي دي. موږ پوهــېــږو چې بوديزم په خپله په اصل کې يوه آته ايستي مذهبي فلسفه وه چې د مديتراني په مرموز ډوله دين واوښت.

د مهاياناوو په منځ کې يوه ئــي د ميليندا پوښتنې دي، دا پوښتنې يو محاوِر لري چې جسور ميننډر دی، بربرانو ميينډر له باکتريا څخه وايست خو خپله سوبه ئــي د لويديځ هندوستان پر يوې د پام وړ برخې باندې خپره کړه. د سمندر پر غاړو ان تر سويل، تر بمبيي پورې دلته او هلته د قبرونو د ډبرو پر مخونو يوناني نومونه ليدل کــېــږي. په دوی کې د يو شمــېــر مقابرو د مړيو ارواح ګاني بودا او بوداسفانو[8] ته ډالۍ شوي دي، د يو شمــېــر نورو مقابرو ارواحي هندي رب النوعو او د يو شمــېــر نورو د خپلې خاورې خدايګوټو ته چې ټاټوبی ئــي نيمه نړۍ له مقبرې څخه لــېــري دی ډالۍ شوي دي.[9]»

---

[1] - Panini

[2] - Ashtadhyah

[3] - THE QUESTIONS OF MILINDA

[4] - KENNETH REXROTH

[5] - Euripides : د لرغوني يونان يو ستر شاعر او د تياتر ننداره (نمايشنامه) ليکونکی وو چې له ۴۸۰ م. ز تر ۴۰۶ م. ز پورې ئــي ژوند کړی دی. ـ ژباړونکی

[6] - Hercules and Vishnu

[7] - Bacchus and Shiva

[8] - Bodhisattvas : د سانسکريت ويی په چينايي کې بوداسف تلفظ کــېــږي چې عربي هم بوداسف ليکلی دی. په هينانه بوديزم کې دوی ارهټ بولي. هينانه وايي کله چې يو څوک د بيدارۍ پړاو ته ورسـېـږي نو يو په يو نيروانا ته ځي چې نور له نړۍ سره سرو کار نــهٔ لري خو مهايانه بوديزم وايي هغو کسانو چې حق او رښتيا موندلي ده دوی بايد د حق تر څنګ ودرېـږي او نورو ته لارښوونه وکړي تر څو نور کسان هم د حق لارې ته راوکاږي. نو همدا کسان په مهايانه بوديزم کې بودهسيتوا يا بوداسف بلل کــېــږي. ـ ژباړونکی

[9] - KENNETH REXROTH 1964 P. 1

موږ دا حقیت هېڅکله نــهٔ شو هېرولی کله چي یونانیان افغانستان ته راغلل او بیا هندوستان ته ننوتل، دوی دغي نیمه لویي وچي ته د ژوندانــهٔ یو شمېـر مهم ارزښتونه ډالی کړل، د بېلګي په توګي دوی دي سیمي ته هیلینیستي هنر او ادبیات ډالی کړل، دوی له ځانه سره د ګندهارا د مدنیت هنري مکتب ته راووړ یعنی له افغانستان څخه ئـي د هندوستان شمال د ګنګا او جمنا د دَرو تر منیځ سیمو ته راولېږداوهٔ. دوی، ادبیات او هنر دواړه په ځانګړو لارو او بڼو راوپنځول.

دوی د سیمه ییز هنر او د علم او فلسفي په بېلابېلو څانګو کي مرسته وکړه او هغـو ته ئـي وَده ورکړه. په زړهٔ پوري لا دا ده چي د میلینډا پوښتني په لرغوني پښـتـو لیکل شوي دي؛ د راج ترنګیني[1] ژباړونکی رنجیت سیتارام پنډت[2] موږ ته لیکي چي :

«د ګندهارا او د پنجاب د اینډو- یوناني سلطنتي کورنیو د سلاطینو په منځ کي تر ټولو نامتو سلاطین ئـي اپولاداتس او میننډر[3] دي، (میننډر هغه سلطان دی چي د الکسندر په پرتلي ئـي ډېـر قومونه فتح کړل)، او ددهٔ د سوبو په منځ کي آیودها، پټالي پوترا او سوراسترا[4] راتلل. په هندي ادب او روایاتو کي د میننډر نوم د سلطان میلینډا په ډول څرګند شوی چي بودایي دین ته اوښتی وو. له نامتو بودایي فیلسوف ناګه سینا[5] سره د میننډر مرکه د میلینډا پنهو یا د میلینډا د پوښتنو[6] په نامــهٔ یادېږي. میلینډا پنهو په اصل کي په لومړیو کي په پښتو لیکل شوی وو چي اوس ئـي کومه کاپي په لاس کي نــهٔ شته؛ خو دا خبره په سایلون، برما او سیام کي د پالي متونونو او د خلورمي زېږدېزي پېړی په موجوده کاپی کي چي په جاپان کي په یوهٔ بودایي معبد کي موندل شوي وه، ساتل شوي ده.[7]»

لاندي د میلینډا د پوښتنو یو شمېـر بېلګي وړاندي کوم :

نړی څکه په څټ ځي چي په ګناه ککړ شیان په کي تر سره کېږي. نو ګرانه د همدې دلیل لپاره خلک مي ګوتناستی بولي. صاحبه! ولي تاسو د نورو په شان ویښتان نــهٔ لرئ؟

ګوتناستی د لوړي نړی په ژوندانه د شپاړلو بندیزونو د منښت او پېـژندني په پار د سر ویښتان او ږیـره خریي. او دا شپاړلس موانعي کومي دي؟ ۱ دا چي سینګار او ښکلا ونــهٔ کړئ، دا چي د ځانګړي راښکون لپاره جامي په تن نــهٔ کړئ، ځلانده شیان ونــهٔ وهي، د ګلونو امیلونه په غاړه نــهٔ کړئ، غوړ او د ښکلي بوی شیان ونــهٔ وهئ، د هریړي تخمونه، رنګونه، ریتاړه (فیتي) وانــهٔ غوندئ، ږمنځ ونــهٔ کړئ، نایي را ونــهٔ غواړئ، د ځنو ولونه ښکاره نــهٔ کړئ او د خطرناکو

---

[1] - River of Kings- Rajatarangini The Saga of the kings of Kashmir

[2] - Ranjit Sitaram Pandit

[3] - Appollodotus and Menander

[4] - Ayodhya, Pataliputra and Saurastra

[5] - Nagasena

[6] - Milinda –Panho or Questions of Milinda

[7] - Rajatarangini appendix 1’, P 745

او مضرو حشراتو شونتیا. کله چي ددوی ویښتان پر ځمکه لوېـږي نو ویښتان ویرجن کـېـږي او ځورېـږي، هو هغوی کله ناکله ساندې وهي، ژاړي او خپل ټټرونه وهي او یا په بې پروایيی په بې حالی کې لوېـږي، او کله چي څوک په دغو او دوی وته ورته موانعو کې را ایسار شي نو انسانان د حکمت او یا زده کړې هغه برخې هـېـروي چي تنکی او له ژور فکره ډکې دي.

صاحبه! ولې ستاسو جامې د نورو انسانانو په شان نـــهٔ دي؟

ګرانه هلکه! په هغـــهٔ شان چي د دې نړی خلک ښکلي جامې اغوندي له پینځو غوښتـنو او هیلو، بـېـلـېـدونکي نـهٔ دي.۲ خو هغوی چي ژېـــړې (بودایي –ژ) جامې اغوندي له هغو ګواښونو او خطراتو نـــهٔ خبرېـږي چي په ښکلو جامو کې ورته پېټ او په ګونډو ناست دي. د همدې دلیل لپاره زما جامې د نورو په شان نـــهٔ دي.

څښتنه! آیا تاسو پوهـېـږئ چي رښتونی علم او معرفت څه دی؟

هو ګرانه، زه په رښتوني علم او معرفت پوهـېـږم؛ او په نړی کې په تر ټولو ښه سرود (منترا) باندې هم پوهـېـږم.[1]
(را زده کولی ئـــې سئ - ژ)
هو کولی ئـې سم.
نو را زده ئـــې کړئ.
همدا اوس ئـې سم وخت نـــهٔ دی؛ مور. کلي ته د صدقاتو د راټولو لپاره راغلي یو.

۲۴ـ بیا نو ځوان ناګه سینا د ښاغلي روهنا له لاسه هغه کاسه واخیستله چي له ځان سره ئـې ګرځوله او هغه ئـې کور ته بوت او بیا ئـــې په خپلو لاسونو ورته تنکي او کلک خواړه برابر کړل او همغومره ئـې ورکړل چي ددهٔ اړتیا وه. او کله چي و ئـې لیدل چي خپله ډوډی ئـې خلاصه کړه او لاس ئـې له کاسي څخه لـېـرې کړ نو ورته وئـې ویل : صاحبه! اوس نو هماغه سرود را زده کوئ؟

ګرانه هلکه! هر کله چي تا ځان له موانعو څخه خلاص کړ او پر ځان دې ومنل او د خپل مور او پلار په رضائـیت دې د ګوتډناستو خلکو جامې په تن کړې نو هغه مهال به ئـې در زده کړم.

۲۵ ـ بیا نو ځوان [۱۲] ناګه سینا خپل مور او پلار ته ورغی او وئـې ویل : دغه ګوتډناستی وایي چي په نړی کې تر ټولو ښـــهٔ سرود باندې پوهـېـږي، خو دی دا سرود تر هغو چا ته نـــهٔ ور زده کوي چي لومړی دین ته د یوهٔ نوي شاګرد په توګه داخل نـــهٔ شي. زه غواړم چي دین ته داخل شم او هماغه سرود زده کړم. او مور او پلار خپل رضائـیت ورڅرګند کړ؛ ان مور او پلار خو ئـــې لا دا هیله هم وښودله چي که په دې لارې کې له نړی د رحلت په بیعي ورته تمامه هم شي نو دا سرود دې زده کړي؛ هغوی ګومان کاوهٔ چي زوی به ئـې سرود زده کړي او بـېـرته به خپل مور او پلار ته راشي. (۱) ورپسي

[1] - p. 20

ښاغلي روهنا[1]، ناګه سينا[2] له ځان سره د وتنيا ګوتې ځي[3] ته، ويګمبا وتهو[4] ته بوت، شپه ئــې هلته تــېــره کړه او بيا ئــې د غرۀ محفوظي ډډې[5] ته بوت او د بې شمــېــرو ارهتانو[6] د ډلې په منځ کې ځوان ناګه سينا دين ته د يوۀ شاګرد په توګنې ومنل شو[7].

۲۶ ـ او بيا نو دين ته له منل کــېــدلو وروسته، ښاغلي ناګه سينا، ښاغلي روهنا ته وويل : ما خو اوس ستاسو جامې ومنلې او په ځان مې کړې؛ اوس نو هماغه سرود راوښيــيه.

ورپسې ښاغلي ناګه سينا له ځان سره سوچ وکړ : « دۀ ته لومړی څه شی ور زده کړم، ايا مباحثات (سوتنتا[8]) ور وښييم يا د دين ژورې خبرې (ابهديما[9])؟» نو کله چې روهنا وليدل چې ناګه سينا ډېــر پوه او ذکي دی نو پوه سو چې دی به په ډېــرې آساني ابهديما کې مهارت تر لاسه کړي نو له همدې کبله ئــې د ابهديما لومړی درس ورکړ.

او ښاغلي ناګه سينا به د ابهديما له اورېــدلو وروسته هغه يوازې يو ځل تکرار کړه او په دې سره ئــې ټوله ابهديما له ياده کړه – لکه : دهما سنګاني[10] او د ښو، بدو، د بې تفاوتيو د خصايصو ستر ستر څپرکي او د څپرکيو په منځ کې دوه ګوني او درې ګوني فرعي څپرکي (۱)- ويبهانګه[11] چې اتلس څپرکي لري چې پيل ئــې د موجوداتو د جوړونکو عناصرو له کتابه کــېــږي ـ دهاتو کتها[12] له خپلو څوارلسو کتابونو سره چې له معاوضې او نــۀ معاوضه کــېــدونکو څخه پيلــېــږي- پُګه له پڼاتي[13] چې د بــېــلابــېــلو جوړونکو عناصر د توپير شپــږ څپرکي، د بــېــلابــېــلو حواسو توپير او کومې ځانګړتياوې په ځان کې نغښتې لري او نور (۲)- کتها وتهو[14] چې يو ـ زر څانګې او زمور پر مخالفينو تر پينځو سو ټکي لري [15] - يماکه[16]

---

[1] - Rohana

[2] - Nagasena

[3] - Vattaniya hermitage

[4] - Vigamba Vatthu

[5] - Guarded Slope

[6] - Arahats

[7] - p. 21

[8] - Discourses (Suttanta)

[9] - Abhidhamma

[10] - Dhamma Sa<u>n</u>ga*n*i

[11] - Vibha<u>n</u>ga

[12] - Dhâtu Kathâ

[13] - Puggala. Pa*ññ*atti

[14] - Kathâ Vatthu

[15] - p. 22

[16] - Yamaka

چې د مبادیو، جوړونکو عناصرو او نورو بشپړونکي مسایل لري- او پټهانه[1] چې پر علتونو او دلایلو باندې لکه د نظریاتو دلایل او نورو ټولو باندې څلورویشت څپرکي لري. [۱۳] صاحبه! بیا تکرار ته ئــې اړتیا نــهٔ شته. تاسو ئــې بیا مطرح کولو ته نــهٔ لرئ. همدا زما لپاره کافي ده چې بیا ئــې په خپله تکرار کړم.

بیا نو ناګه سینا د ارهټانو بې شمــېرې ډلې ته ورغی او ورته ئــې وویل : « پرته له دې چې ابهدیما پیټکه[2] رالنډه کړم، غواړم هغه د ښو، بدو او د بې تفاوتو خصایو تر درو څپرکیو لاندې بیا راسمبال کړم.» او هغوی ورته اجازه ورکړه چې لاړ شي. او ښاغلي ناګه سینا د اوو میاشتو په اوږدو کې د بشپړې ابهدیما اووهٔ واړه کتابونه له یاده کړل. په دې سره ځمکه په بړچ بړچ و ښورېـدله، خدایګوټو وربانديې ستاینې او لورینې ولورولې، د برهما خدایګوټو ورته لاسونه وپړقول او له آسمانه وربانديې د جنت د صندل د لرګیو د دوړو خواړهٔ بویونه او د مندارَوا[3] ګلونه راوورېـدل! او بیا نو د ارهټانو بې شمــېرې ډلې هماغلته په محفوظې غرنی ډډې کې ښاغلی ناګه سینا چې لا شل کلن وو د دین په لوړ مقام کې دین ته ومانـــهٔ.

۲۸- په سبا ئــې وروسته له دې چې د دین بشپړ غړیتوب ته منل شوی وو، ښاغلي ناګه سینا پر ځان (بودایي) جامې راتاو کړې او خپل د صدقاتو کجکول ئــې راواخیست او له خپل استاد سره کلي ته چې د صدقاتو د راټولو لپاره د استاد وار وو لاړ. او بیا ئــې په ذهن کې دا خبره راتاو شوه :« دا څنګه تشتپاني او بې مغزه استاد مې دی چې د بودا ټولې خبرې ئــې یوې خواته کښــېښودلې او لومړی ئــې ما ته ابهدیما راوښودله!».
پای

ستاسو له زغم او حوصلې څخه مننه

---

[1] - Pa*tth*âna

[2] - Abhidhamma Pi*t*aka

[3] - Mandârava

# د ملندا پنهو پر پښتو ژباړې یو څو خبري

محمدمعصوم هوتک

آشاوا ــ انټاریو ــ کاناډا

۳۰ مي ۲۰۱۵ع

ځیني لیکوال اوڅېړونکي په وړو وړو کاروځان مصروف ساتي خو ځیني بیا له لویو اومهموکارو پرته بل څه کولای نه سي. ښاغلي رحمت آریا په دا دوهمه ډله کي دئ او په دې ورځوکي ئي راته د یوه مهم کتاب پښتو ژباړه د کتلوله پاره راولېږله. داکتاب ئي له انګرېزي څخه ژباړلی دئ اوخورا مبسوط لمنلیکونه ئي پرزیات کړي دي. کتاب د میناندر پاچا (۱۴۰ ــ ۱۱۰ ق م) اویوه بودایي عالم ناګاسینا ترمنځ یو دیالوګ دئ چي د پوښتنو اوجوابونو په بڼه ترتیب سوی دئ. دا کتاب د بودایي دین په باب یوخورامهم کتاب دئ او زموږافغانانو له پاره ئي اهمیت په دې کي دئ چي میناندر پر پنجاب او کابل پاچهي کړې ده او سکي ئي پر نورو ځایو سربېره د افغانستان د "میرزکي" په چینه کي هم موندل سوي دي. د کتاب دغه حاضره انګرېزي ترجمه له سینهالي څخه راژباړله سوې ده اوسینهالي متن ئي له پالي متن څخه ترتیب سوی دئ. د پالي متن په باب ئي داسي ویل سوي دي چي ګویا ددې کتاب اصلي متن په لرغوني پښتو لیکل سوی وو. ترکمه ځایه چي ماته معلومه ده، ددغه حکم لیکنی شکل وار د واره د عبدالحلیم اثر په پښتو ادب نومي کتاب کي د پښاورد محمدیونس خان" د پښتنوتاریخ" د یوه روایت په استناد راغلی دئ. د (پښتوادب) په نامه دغه کتاب په ۱۳۷۰ هـ ق = ۱۳۲۹ش = ۱۹۵۰ع کال چاپ سوی دئ. د پښتو ادب ترچاپ اته دېرش کاله وروسته په دې باب د کابل پوهنتون د استاد پوهاند میرحسین شاه یوه لیکنه د مقالوپه (پښتوڅېړني) نومي مجموعي (د۱۳۶۷ش چاپ) په ۳۹ ــ ۴۳مخونو کي (د۱۵۰ق م د پښتو د یوه زاړه کتاب په لټه کي) ترسرلیک لاندي خپره سوه. ددغي لیکني په۴۰ ــ ۴۱ مخونو کي راغلي دي " ...د پاچا (مناندر) له معروفو بحثونو څخه چی له بودایی حکیم ناګاسینا سره کړی د (ملنده پنه) په نامه یادیږی او د بودایی مذهب دډیرو مهمو کتابونو څخه شمیرل کیږی. ددغه کتاب اصلی متن په پخوانی پښتو ژبه برابرشوی و چی له بده مرغه اصلی متن اوس په لاس کی نسته، اما ترجمی په پالی ژبه په سیلون، برما او سیام کی ساتلی کیږی. ددی پښتو کتاب د پالی ترجمی قدیمترینه نسخه چی په څلورم میلادی قرن کی خطاطی سوی د جاپان له یوبودایی معبدوڅخه لاس ته راغلی ده."

دغه روایت ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل (په هندکي د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه) نومي اثرپه (۵ مخ) کي هم را اخیستی او د عبدالحلیم اثر یادوني ئي ددغه حکم د پیاوړتیا په نیامت ورسره راوړي دي.

داسي ښکاري چي دا خبري ټولي اټکلونه دي اود یقین بدلولو مزله ته ئي د اوسپني څپلی په پښو کول او د سیف الملوک خواری پر ځان منل په کار دي. د همدغو اټکلونو اغېزه وه چي زموږ مشرانو د ملندا پنهو له پالي متن سره دلچسپي موندلې وه او زما خوا خوږي استاد اروابښاد علامه پوهاند اکاډمیسن عبدالشکوررشاد (۱۳۰۰ ــ ۱۳۸۳ ش) تل د دغه متن د ترلاسه کولو تلاښ کاوه. دوی ته دونده (دومره) قدر پته لګېدلې وه چي ددغه متن یوه نسخه د جاپان په کم (کوم) کتابتون کي سته. علامه مرحوم چي په ۱۳۶۴ش = ۱۹۸۵ع کال د هندوستان له لاري جاپان ته د علاج له پاره له کابله رهي کېدلئ، د

کابل په هوايي ډګر کي ئې د خدای په امانی پر وخت ما (هوتک) ته د نورو خبرو پر څنګ دا خبره هم وکړه چي "که مي موقع ومونده، د مليندا پنهو د ترلاسه کولو تلاش به وکړم". اروابناد علامه رشاد چي ترعلاج وروسته کابل ته بيرته تشريف راووړ او زه ئې سمدستي کتني ته کورته ورغلم، په کورکي ئې د خپل سفرد نور بيان په ترڅ راته وويل چي "مليندا پنهومي هم راوړی دئ". بيا ئې نو ددغه کتاب د تلاش ټوله کيسه راته وکړه اوپه ترڅ کي ئې راته وويل چي د کتاب ترموندلو وروسته ئې د افغانستان د علومو اکاډيمی د هغه وخت رئيس سليمان لايق ته ليک ورلـيږلی وو او په هغه کي ددغه کتاب د يوې کاپی په موندلوکي د افغانستان ددولت مرسته غوښتي وه. سليمان لايق په جواب کي ورته کښلي وه چي "...ګرانه استاده! ترهرڅه دمخه د خپلې روغتيا غم وخوره، د انقلابی دولت امکانات په اوسنيوشرايطوکی محدود دی او زه تشويش لرم چی موږ به له خپلوعالمانو سره د مرستی پوره مجال پيدانکړو...."[1] علامه استاد وروسته راته وويل چي دوی د خپل مشر زوی ډاکټر خالد رشاد په همت ددغه کتاب کاپي په شخصي لګښت برابره کړه او افغانستان ته ئې ورسره راوړه. دا کاپي اوس په علامه رشاد کتابتون (کندهار) کي پرته ده. د کتابتون پرله پسي نمبرئې (۳۳۶۷۳) دئ. ددغي نسخي د څوپانو له سرسري کتني څخه ما دا لنډ معلومات راغونډکړي دي :

دا کتاب د مليند اپنهو پالي متن دئ چي په لاتيني تورو ليکل سوی او د (Pali Text Society) له پاره دانګلستان د( Luzak & Company LTD) کمپنی له خوا په ۱۹۶۲ع کال چاپ سوی دئ. د متن ترتيبوونکی ئې (V.Trenckner) نومـيږي اوترينکنر دغه متن د۱۸۸۰ ع کال په جون کي دډنمارک په پايتخت کوپنهاګن کي تهيه کړی وو. ددغه کتاب د وقايې د اول مخ پرسرباندي (Pali Text Society) او ترهغه رالاندي په نسبتاً غورس (bold) تورو (THE MILINDAPANHO) ليکل سوی دئ. ترهغه رالاندي بيا ليکل سوي دي :

BEING DIALOGUE BETWEEN KING MILINDA AND THE BUDDHIST SAGE NAGASENA

ورپسي ئې کښلي دي چي دا پالي متن د (وي. ترنکنر) له خوا ايډيټ سوی دئ اوعمومي انډيکس ئې اوس د (C.J.Raylands,M.A.) له خوا ور سره مل سوی دئ او د انډيکس برخه او ګاتونه (GATHAS) ئې ( Mrs. Rhys Davids,D.Litt.,M.A.) پرزيات کړي دي.

ترينکنر(۱۸۲۴ ـ ۱۸۹۱ع) څوک وو؟

دده بشپړنوم (Carl Wilhelm Trenckner) وو خوده هروخت خپل نوم (V.Trenckner) ليکلی دئ. د زيږېدلواو لومړنی زدکړي ځای ئې د ډنمارک پايتخت کوپنهاګن وو. پلار ئې په خټه جرمنی وو اوپـېشه ئې نانوايي وه. ده په اول سرکي د کلاسيکي فيلالوجی مطالعې ته پاملرنه وکړه خو پرڅنګ ئې د پارسي اوعربي ژبو زدکړه په داسي وخت پيل کړه چي داروپا په ژونديوژبو (جرمني،ا نګريزي، فرانسوي، هسپانوي، ايټالوي اوروسي) کي يوه لاهم سمه زده نه وه. ترينکنر د بنګالي، هندي ، سينهالي او برمايي ژبو مطالعه هم کړې وه، خو زياته پاملرنه ئې د پالي ژبي خوا ته وګرځـېدله او ډېر ژر د پالي ژبي په لويو عالمانو کي وګڼل سو. ده د عربي او پارسي ليک د مرغلروپه شان ښکلی کيښ. ما (هوتک) ئې د عربي ليک ځيني نموني ليدلي دي چي په رشتياسره ښکلی ليک وو.

[1] ددغه ليک بشپړمتن دملنداپنهوپرهغه نسخه باندي سريښ سوی دئ چي په کندهارکي د علامه رشادپه کتابتون کي خوندي ده. (م .هوتک)

د ملیندا پنهو په باب ددغه خپاره سوي ذهنیت اغـېـزه به وه چي کله ښاغلي رحمت آریا راته ددغه کتاب د انګرېزي ژباړي د ترلاسه کـېـدو خبره د تیلفون له لاري وکړه، سمدستي مي د هغه د پښتو ژباړلو سپاربښتنه ورته وکړه. په دې سپاربښتنه کي مي د مطلب ټکی دا وو چي ګوندي له دغه متن څخه داسي کرښپلونه وموندل سي چي ددغه احتمالي اثر په اثبات یا رد کي کارځني واخیستل سي. که دا مطلب پکښي ترسره نه سو، پښتو خوبې له هغه هم د هرراز لرغونو او اوسنیو کتابو ژباړلو ته محتاجه ده. دا ژباړه به هم د پښتوآثارو پر کوټه یوه درنه اضافه سي. ښاغلي آریا دغه ستومانوونکي کار ته اوږه ورکړه او دادئ له مغزنو لمنلیکونوسره ئې لوستونکوته وړاندي کړ. زه په داسي حال کي چي ده ته ددغه مهم اثر د ژباړلو مبارکي وایم، خوپرځنګ ئې ددې خبري یادونه هم پرځان لازمه بولم چي هغه هیله او امید چي ددغه دیالوګ په ژباړلو کي زموږسره وو، تر سره نه سو. دا دیالوګ د هغي غوټي په خلاصولو کي مرسته نه سي کولای چي ګویا د ملیندا پنهو اصل په پښتولیکل سوی وو. لکه مخکي چي موهم وویل، دا دیالوګ د بودایي دین شرحه اوبیان دئ چي د بودیزم په څـېـړنه کي ډېر په درد خوري. ما چي ددغي دیالوګ یوه بله انګرېزي ترجمه (The Debate of King Milinda) چي د بهیکهو پیسلا (Bhikkhu Pesla) له خوا په انګلستان کي په ۲۰۰۰ ع کال خپره سوې ده،[1] سرسري وکتله، د هغي په ۸ مخ کي ډاکټر هامالا واساداهاتیسا[2] (Dr. Hammalawa Saddhatissa) د خپل بیان په ترڅ کي وایي:

" ملیندپنها یو پالي کتاب دئ چي په اوله ق م پـېـړۍ کي لیکل سوی دئ. باکتري پاچا ملیندا چي د هندوستان پرشمال ختیځ ئې واکمني چلوله، د ناګاسیناپه نامه له یوه عالم راهب (monk) سره مخامخ سو او له هغه څخه ئې د بودیزم دفلسفي، روحیاتو او اخلاقو په باب پوښتني وکړې. زه حدس وهم چي دا مرکه په یوه باکتري یوناني (Bactrian Greek) ژبه وه او وروسته په پالي اوسانسکریټ ژبوژباړل سوې وه."

ددغي یادوني له مخي زه (هوتک) هم د ښاغلي آریا صاحب د یادوني په تعقیب د ژبپوهانو پاملرنه د ملیندا پنهو پالي متن ته را اړوم چي ګوندي ددغه متن د احتمالي پښتو اصل کم (کوم) څرک په لاس راکړي.

---

[1] ملینداپنهو په انګرېزي ژبه یو وار په ۱۸۹۰ع کي اوبله پلا په ۱۹۶۹ ع کي خپره سوې ده. (م . هوتک)

[2] ډاکټر هامالاواسادهاتیسا (۱۹۱۴ ـ ۱۹۹۰ع) اصلاً د سریلانکا یو راهب وو چي د لندن په ایدنبورګ کي ئې تحصیل کړی وو. په هندي، اردو او پنجابي ژبو پوهـېـدئ او د مرګ پروخت د (Pali Text Society) ټولني د مشر مرستیال وو.

# د تقریظ پر ځای

پوهنوال محمد رسول باوري
د کابل پوهنتون د لرغونپوهنې څانګې استاد

د پادشاه ملینډا پوښتنې، د هغـهٔ کتاب نوم دی چې ښاغلي رحمت آریا د انګلیسي ژبې پښتو ته ژباړلی دی. دا کتاب د یو شمـېـر هغو نامتو لرغونو زیرمو او شتمنیو شمـېـرل کـېـږي چې په لرغوني هند او شا او خواسیمه او همدا ډول د لرغوني افغانستان په تأریخ، او خاصتاً د هغـهٔ مهال په دیني او عقیدتي برخو کې د یوهٔ ډادمن اخځ په توګه شمـېـرل کـېـږي. تر ټولو وړاندې ښاغلي آریا ته د دې ستري علمي –فرهنګي چارې د بشپړېدلو له امله د زړه له کومې مبارکي وایم. د دې کتاب سافت کاپي مې د ایمیل له لارې تر لاسه کړه، ومې لوستل، او یو شمـېـر برخې او پاڼې مې لا دوه ځله هم ولوستلې، د دې لوستلو او یا دوه ځله لوستلو عامل دا دی چې له یوې خوا دا اثر زما د مسلکي څانګې سره اړه لري او له بلې خوا په پښتو ژبه د دې اثر ارزښت دی چې پخوا مو په پښتو ژبه نـهٔ درلودی او ما ئـې هیله کول چې کاشکې مې دا کتاب درلودای او لوستلی وای. زما هیله ښاغلي آریا پوره کړه. یو ځل بیا د مننې په توګه وایم چې آریا صاحب! په هڅو او ربړ دې ویاړم!

د همدې اثر د تقریظ په بهانه غواړم دوو ټکو ته چې زما له نظره د دې اثر سره په یوهٔ یا بل ډول تړاو لري د درنو لوستونکو پام واړوم. لومړی : د تأریخي متونو ارزښت او د هغو ژباړل؛ زیات شمـېـر تأریخي متنونه په خپله د هغو مدارکو بیان نـهٔ سي کولای چې اوسني څـېـړونکي ئـې غواړي خپلو اوسنیو مینه والو ته وړاندې کړي. د همدې څـېـړنیز بنسټ له امله، څېړونکي اړ دي چې تأریخي متنونه په هغه ژبه خپلو مینه والو ته وړاندې کړي چې د لیوالو کسانو اړتیا وې پوره او پوښتنو ته بشپړځواب ووایي. همدا لامل دی چې زیات شمـېـر څـېـړونکي د تأریخی متنونو د سموونې یا ژباړنې پر مهال د تحاشي او تعلیقاتو اړتیا وینې او د اضافاتو په بیانولو تأریخي متن د لوستلو اوکتنې وړ ګرځوي. که د یوهٔ تأریخی متن څخه یو باب او یا یوه پاڼه د بیلګې په توګه یاد کړو د هغو ستونزو جاج به را ته مالوم سي چې د تأریخي متنونو سمونکی او یا ژباړونکی ورسره مخ دی. د تأریخي متن هره برخه د آرشیف د یوې پاڼې سره ورته والی لري او د آرشیف هره پاڼه د یوې موضوع د بیانولو او یا د یوی پیښی د تائیدي او یا تردیدي سند په توګه کارول کـېـږي. که هغه ساده څـېـړنیز میتود هم په پام کې ونیسو د آرشیفي سند د اصولي بیان لپاره باید هغه پاڼه په دریو برخو کې د پوهـېـدلو وړ وګڼو؛ لومړی باید دا آرشیفي سند په دریو برخو و ویشو چې لومړئ برخې ته ئـې مطلع، دویمه برخه ئـې د متن او دریمه برخه ئـې د اضافاتو په نوم یادېږي. د یادونې ده چې دا ویش د خصوصي او رسمي آرشیفي اسنادو سره تر زیاته بریده یو بل ته ورته کارول کـېـږي. په مطلع کې معمولاً د خپل مهال اړین ادبیات چې اصلي موضوع ته لاره پرانیزي ځای پر ځای کـېـږي. د بیلګې په توګه: (: د ستر پرتموال او برموال جنت مـېـشتي اعلیحضرت ټولواک (ضیاء الملة والدین امیر عبدالرحمن خان) رحمة الله علیه بختور پـېـر، له بغاوتونو او ګډوډیو نه ډک له یوه داسې مهال سره برابر شوی وو چې د افغانستان وګړي له یوې مخې د نظم او نسق له کړئ وتلي، او ټول هـېـواد د طغیان او سرغړونې پر یوې لویې

ګډوډۍ کـېـوتی وو[1] .د آرشيفي سند دوهمه برخه د ( متن ) په نوم ياده سوې ده، چي ځـېـړونکي اړ دی د هغه مطلب اصلي موخه ځرګنده کړي. د سند له متن څخه د سند موخه د همدې متن د ځـېـړلو پر بنسټ تر لاسه کـېـدای سي. بـېلا بـېلي پوښتني بايد ځواب سي، د سند موخه څه ده ؟ د چا له لوری ليکل سوی دی؟ چاته ليکل سوی دی ؟ غوښتنه څه ده ؟ او داسی نورې پوښتني بايد ځواب سي چي ځـېـړونکی ئـي د متن د مخامخ کړښو او د هغو له ربښتيني تحليل څخه تر لاسه کوي. د آرشيفی متن هر اړخيزه ځـېـړنه د دې چارو په سر ته رسولو پای ته نـۀ رسـېـږي، بلکې د دې دوو برخو ( مطلع او متن تحليل) د ثقه او ربښتينوالي لپاره د سند دريمه برخه هم تر کره ځـېـړنی لاندې ونيسي. د آرشيفي سند د ريمه برخه د (حواشي يا اضافات) په نوم يادېږي. ځـېـړونکي اړ دی چي دا برخه په پوره دقت و ځـېـړي، دا سند په کومه نـېـټه ليکل سوی دی؟ د چا په امضاء او يا مهر مزين دی؟ که رسمي سند وي د صادرې او واردې شمـېـره لري که نه ؟ د تکثير او عموميت په اړه ئـي دريځ ځرګند کړي، خاص او پټ سند دی او که د عامه خبرتيا لپاره کارول سوی دی؟ او داسي نورې پوښتني بايد ربښتيني او منطقي ځواب ومومي. په دې ډول د يوۀ آرشيفي سند د ځـېـړلو مراحل پلي کـېـږي او د يوې پيښې ربښتيني ځرک ځرګندېږي. په همدې ډول د يوۀ تأريخی اثر يا تأريخی متن ځـېـړنه او د هغو ارزونه اړين پړاونه او مرحلي لري چي ځـېـړونکي ئـي په پام کي نيسي. د يادولو ده چي د تأريخي متنونونو ژباړه هم د عادي او ساده ژباړو څخه متفاوته ده. په تأريخي متنونو کي ژباړن اړ دی چي پر هغو کتابونو، اثارو او رسالو برلاسی وي چي د ژباړې اثر ته ورته موضوعات لري. يا په بله مانا ژباړن اړ دی د تأريخي متن د ژباړې پر مهال د هغو اثارو په اړه مالوات ولري چي تر لاس لاندې اثر کي مطرح دي. په دې برخه کي د ښاغلي آريا بر لاسی ځرګند دی. د زياتو تعليقاتو او حواشيو په لرلو ئـي دا اثر د زياتو لوستونکو لپاره د پوهـېـدلو وړ ګرځولی دی. دوهم : د ميناندر په اړه ؛ ميناندر څوک وو او د افغانستان په تأريخ کي ئـي ونډه څه ده؟ دا هغه پوښتنه ده چي د ډېـرو کالونو راهيسي د سيمي او په ځانګړې توګه د افغان ځـېـړونکو او يا افغانستان پـېـژندونکو د پاملرنی وړ وه. په دې اړه د بيلګی په توګه څو نظرونه راوړو. د ويکيپيديا په دري متن کي ميناندر داسي پـېـژنو: د بودائـي دين او په ځانګړې توګه بودائـي ستوپې تر اشوکا وروسته په افغانستان او شمالي هند کي د يونان ستر واکمن ميناندر (هغه چي په پالي ژبه کي ( Millina Panha) ميلينا پانا ) ياد سوی دی، د وَدی او پراختيا لوړو پوړيو ته ورسـېـدل. هلندی مؤرخ ويلم بوخلسانګ په خپلو ليکنو کي ميناندر داسی را پـېـژني : ... « د هندوکش په سهيلی سيمو کي د ايتيديموس پاتي شونو د هندو - ګريک کورنی خپلي واکمنی ته دوام ورکړ، په ځانګړی توګه لومړی اپولودوتس او ميناندر چي نقره ای سيکي ئـي د کندهاره تر لاسه سوې دي. ميناندر احتمالاً د هغو خصوصياتو پر بنسټ چي په منځنی هندي ژبي اړوند اثارو کي د ملیندا پاتها په نوم ياد سوی دی. » د هندي مؤرخ ب . ن . پوري ، په باور د ديمتروس واکمني په ۲۰۰ – ۱۶۰ کاله پخوا تر ميلاده، تر سند او پنجاب پوری ورسـېـده. او د خپل نامتو جنرال ميناندر په مرسته ئـي د هند شمالي سيمي تر خپل واک لاندی راوستلي او په دې ډول ئـي د باختر د امپراتورۍ سرحدونه د اوسني ايران له دښتو څخه تر ګنګا سيند او له سيحون څخه تر جيحون پوری ورسولي. د استاد کهزاد، علامه حبيبي او د مرحوم غبار په اثارو کي هم ميناندر د يوۀ يوناني جنرال په توګه پـېـژندل سوی دی. له همدې امله ميلندا يا ميناندر به په دې اثر کي چي د ښاغلي آريا په زيار ژباړل سوی دی، زيات ولولو. زه يو ځل بيا ښاغلي آريا ته د دې ستر کار د بشپړېدلو مبارکي وايم او په داسي علمي چارو کي ئـي د لا بريو هيله کوم.

---

[1] ـ داوؤد جنبش د سراج الاخبار د څلورم توک ژباړه، نا چاپ اثر

# په دې کتاب کې :


د میلیندا «د پوښتنو» سیمهالي[1] بڼه

په دې اړوند د بودا گهوسه[2] څلور اخځونه

متون او سمون

پادشاه میلیندا هماغه مینندَر دی

مینندر د کلاسیکو لیکوالانو په یادښتونو کې

د مینندر ایکی «مسکوکات»

د مینندر د زوکړې ځای، کلاسي، چې ښایي کاریسي[3] وي

لیکوال هماغه ناگ ارگونه[4] (ناگ ارجونه - ژ) نهٔ دی

په «پیته که گانو[5]» کې یاد شوي عبارات چوپ «مسکوت» بلل شوي دي

پالي کتابونه او نور، د نوم په حواله

د «پیته که گانو» له عباراتو څخه اخځ

د «پیته که گانو» اوړدوالی

ددغو پرتلو پایلې

زموږ د مؤلف او د «پیته که گانو» د مؤلف تر منځ توپیر

له «پیته که گانو» دباندې خاص نومونه

زموږ د مؤلف او د «پیته که گانو» د مؤلف تر منځ ژبنی توپیر

میلیندا، د یوهٔ هنري اثر په توگه


## د متن ژباړه

لومړی کتاب. غیر دیني یا آزاده شرحه

---

[1] - سیمهالي Simhalese یا سینهالي د معاصرې سیریلانکا د ټاپو یوه بومي قومي ډله ده چې اوس د سیریلانکا ۷۵ په سلو کې وگړي جوړوي او شمېر ئې پنځلس میلیونه وگړي دي. - ژباړونکی

[2] - Buddhaghosa

[3] - Kalasi or probably Karisi په همدغهٔ کتاب کې دا ځای د معاصر افغانستان د کاپیسا ولایت پېژندل شوی دی - ژباړونکی

[4] - Nâgârguna

[5] - Pitakas - د بودیزم یوه زښته لرغونې ژوندۍ پاتې شوې څانگه (تریوا ده Theravâda) نومېږي. تریواده د (مشرانو د سبقونو یا لارښوونو) په معنی ده. په تریواده بودیزم کې په پالي ژبې لیکل شویو راټولو شویو لرغونو لارښودیزو لیکنو ته د « پالي قانون Pâli Canon» وایي، ددغو لیکنو معیاري شویو بڼو ته ( پیته که) وایي چې د بودیزم په ټولو څانگو کې دا یو بشپړ منل شوی قانون دی؛ لوستونکي دې په یاد ولري کله چې د کتاب په منځ کې قانون یادېږي نو موخه همدا قانون دی. دا قانون په شمالي هندوستان کې جوړ شوی او د گاتما بودا له مړینې څلور سوه او څلور پنځوس کاله وروسته په ۲۹ مخزدیز (ق.م) کال کې په سریلانکا کې د بودایانو په څلورمې شورى کې و پټیل شوه چې دا قانون دې په سیمهالي ژبې ولیکل شي. دغه قانون په دریو عمومي څانگو ویشل کېږي او همدا ویش د «پیته که» په نامهٔ یادېږي. په پالي ژبې کې «پیته که» د ټوکرۍ یا شگور په معنی ده او له ټوکرۍ څخه موخه د تاو شویو کاغذونو یا د ونې د پوستکي پر مخ لیکل شویو لیکنو ته نغوته ده چې دا لیکنې به په کښې راټولېدلې. - ژباړونکی

د «ساګـلې[1] » شرحه

د میلینډا او ناګه سینا مخکنۍ زېـږېـدنې[2]

په استدلال کې د میلینډا ستروالی، مینه او پوهه

د ناګه سینا د زوکړې داستان

قانون ته د یوۀ مبتدي په توګې د هغـۀ منل کــېـدل

«قانون ته» د هغـۀ اوښتون

ارهټ توب[3] ته د هــغــۀ رسـېـدل

پاد شاه میلینډا ، آیوپاله[1] غلط په زباد رسوي

---

[1] - Sâgala په لرغونو آثارو کې سانګله Sângala هم لیکل شوې چې په معاصر پاکستان کې د نن ورځې د سیالکوټ پخوانی نوم دی. دا نوم د ساکله Sâkala په نامـــۀ هم یاد شوی دی چې ښایي د لرغونو پښتـنو ساکانو له نامـۀ سره بنسټیز تړاو ولري. دا باید په پام کې ولرو چې په لرغونو مهالونو کې د بهارت د نیمه لوئـــې وچې بومي وګړو تولو، ساګله د ساکلې په نامـۀ یادوله. لومړي میننډر دغه ځای د یونان باکتري سلاطینو د یوې پلازمینې په نامـۀ ونوماوۀ. په مهابهارتا هم ساکله یاده شوې ده. د الکسندر پیښلیک لیکونکي ( واقعه نګاران) هم دا ځای د ساګلې په نامـۀ یادوي. دوی وایي چې د هیدراوتس Hydraotes له سینده په تېـرېدلو الکسندر د پروس له پنځو زرو سیمه ییزو سرتـېـرو او پنځه سوه فیلانو سره مخامخ سو، الکسندر د ساګلې ښار کلابند کړ او (کته ئـیـنـیانو Cathaeans ) مورچلې ونیولې. پروس ددغه ځای د هندي پادشاه نوم وو چې الکسندر ته ئـــې ماته ورکړه. ددغې جګړې ځای او ډګر اوس د پټان کوټ په نامـــۀ یادېــږي چې الفنستن او جنرال الکسندر کنینګهم هم په خپلو لیکنو کې یاد کړی دی. د هیدراوتس نوم په حقیقت کې د معاصر چناب او جیهلم سیندونو ته ویل شوي دي. دغه ښار د همدغو سیندونو په تقاطع کې پروت دی چې اوسمهال ئـــې پټهان کوټ او ځوک ئـــې مونګ Mong بولي. -ژباړونکی

[2] - Nâgasena د بودایانو یو لرغونی عالم شخصیت وو چې په کشمــېـــر کې اوسېـدۀ او د ۱۵۰ م. ز کلونو په شاو خوا کې ئـــې ژوند کړی دی. دا کتاب له همدغـۀ عالم شخصیت سره د میننډر یا میلینډا د پوښتــنو او ځوابونو کتاب دی. په پالي ژبې کې د میننډر نوم میلینډا پــنـــها Milinda Paňha لیکل شوی دی. - ژباړونکی

[3] - Arhatship : مخکې مو وویل چې د بودیزم یوه څانګه تریودا نومېږي. په دې څانګې کې ارهټ Arhat چې یو سانسکریټ وییکی یا لغت دی د هغه چا په معنی ده چې د بودیزم د ګروهنې پر بنسټ بشپړ کمال او سیرت او په پای کې نیروانا Nirvana ته رسېـدلی وي. په پالي ژبې کې همدغه ارهټ د ارهنټ Arhant په ډول لیکل شوی دی. نیروانا یو سانسکریت وییکی دی چې په پالي کې نیبانا Nibbâna ویل شوی دی. په بودایي ګروهنې کې دوه اورونه یاد شوي دي چې له دغو اورونو سره دوه عناصر بدرګه دي رَګا Raga یا موها Moha او دوی شه Dvesha یا اَویدیا Avidya. رګا د کرکې او نفرت په معنی او دوی شه د ناپوهۍ او جهل په معنی ده. نیروانا له اوره د خلاصون یا د اور د مړه کېـدلو په معنی ده او د بودایي ګروهنې پر بنسټ یو ځوک هغه مهال له سمسارې Samsâra او رنځ او کړاو (دوک خا Dukkha ) څخه خلاصون موي چې یاد شوي اورونه ورباندې مړه سي. سمساره د بیا زېږدېږنې په معنی ده چې د یو چا روح د هغـۀ له مړینې وروسته بیا د بل انسان یا ځاروي یا ژوي په قالب کې راڅرګندېــږي او دا متکرره کړۍ دوام مومي او ما په دې ژباړې کې ارتحال منلی دی؛ د معاد د کړۍ دغه دوران یا مکرر ارتحال هغه مهال پای ته رسېږي چې دواړه اورونه ورباندې مړه سي. د روح وراشه په بودیزم کې یوه پیچلې خبره ده، په لنډه ئـــې باید ووایو چې بودیزم د روح په نامـۀ څه شی نـۀ پېـــژني، دا چې زموږ په مفهوم روح څنګه له یوۀ معاد څخه و بل ته ورځي باید د بودیزم په مباحثو کې وپلټل شي چې دلته زموږ د وراشې له کړۍ دباندې خبره ده خو په کتاب کې د امثله وو په راوړلو ورباندې څه نا څه رونبا اچول شوې ده. لنډه دا چې هغه ځوک چې د ژوندانـــۀ د کړاو له دې کړۍ خلاص سي نو بویه چې نیروانا ته رسېـدلي دی او دا د بودایي دین د وروستۍ موخې پای - ټکی دی چې د سپـېـڅلي ژوندانـــۀ معنی ښندي. - زموږ په کندهارۍ پښتو کې ( د دوک) سانسکریټي وییکی د رنځ او کړاو په معنی تر اوسه ژوندی دی د بیلګې په توګې یو ځوک په ښېراوو کې وایي (د زړه دوک دې د ورولـېـږي) - سره له دې چې په ریګویدا کې د ارهټ وییکی د ارهټا Arhattâ په بڼې یاد شوی دی مګر په بودایي لیکنو کې ډېــر لیدل شوی دی. له دې داسې ښکاري چې د بودا له ژوندانـــۀ مخکې د ارهټ وییکی د خلکو په منځ کې دود وو. په معاصرې پښتو کې ارهټ یا ارهډ د لوئـــې څاه په معنی هم کارول کېږي. - ژباړونکی

ناګه سینا را رسېږي، د هغــهٔ شخصیت

میلینډا، ناګه سینا ته ورځي

# دویم کتاب : د اخلاقي ماهیت، ټاکونکې ځانګړتیاوې

فردیت او نوم

د تشبیه بګۍ

د مشرتابـــهٔ بیان

(وقفه) څنګه شاهان او علما فی الترتیب له یو بل سره بحث کوي

په دم کې روح نـــهٔ سته

له دنیا څخه د بودایي لاس اخیستنې موخه

تناسخ[2]

جوَت شوی استدلال او حکمت

د فضیلت بنسټ

ګروهنــه (ایمان)

استقامت

فکري حضور[3]

فکري مراقبت (میدي تیشن)[4]

---

[1] - Ãyupâla - د بودایانو یو لوی مذهبي مشر وو چې سګالې ته نــېږدې په سنخیا پریوینه Sankheyya Parivena کې ئـــې ژوند کاوه. بودایي روایات وایي چې د میلینډا سلطنتي ستورو پېـژندونکو دغــهٔ مشر ارهټ ته خبر ورکړ چې پاچا غواړي درسره ووینې. ارهټ ورته اجازه ورکړه او وروسته پاچا له پنځو سوو مانکانو سره ددهٔ لیدلو ته د پریوینې سیمې ته ورغی. پاچا له دهٔ سره د مانکانو د موخو په هکله وراشه وکړه په پای کې آیوپاله د میلینډا د وراشې جوګه نه وو او ارهټ ته ئـــې ماته ورکړه. - ژباړونکی

[2] - Re- incarnation یا تناسخ د روح او نفس دوه فلسفي سکالو یا موضوعات دي او وایي چې له بیولوژیکي مرګ وروسته دواړه په نوي بدن کې راژوندي کېږي. همدغه سکالو د هندو مذهب د بنسټ یوه برخه جوړوي. د یهودیت، عیسویت او اسلام، ابراهیمي ادیان په تناسخ باور او ګروهه نه لري. په زړه پورې دا ده چې د تناسخ سکالو په لرغونو کتابونو کې یاده شوې او عمر ئـــې تر ۱۲۰۰ م. ز کالو پورې شا ته بیایي او د دې فلسفې د پنځون یا زېږون ځای د اندس د درې شا و خواوې منل شوی دی او بیا په یونان کې د لومړي ځل لپاره له میلادي پــېړۍ شپږ سوه کاله وړاندې لیدل شوې ده. همدا د تناسخ سکالو د همدې سیمې په ویدي ادیانو کې د سمساره Samsâra او په غیر ویدي ادیانو کې د شره مانه Shramana په نومونو یاده شوې ده. پوهان ددې سکالو د زېــږون په سیمې باندې متفق نه دي، یو شمـــېـــر وایي چې دا شوني ده چې د دې سکالو د زېــږون ځای به اندس نـــهٔ بلکه سویلي هندوستان وي خو یو شمـــېـــر نور دا دواړه نـــهٔ مني او وایي چې دا سکالو د بودا په نوښت جوړه شوې ده - ژ

[3] - Mindfulness :- په عربي کې ئـــې (وعی تام) او په فارسي کې ئـــې (حضور در لحظه) ژباړلی دی. فکري حضور په حقیقت کې په اوسمهال کې د یو چا د « پاملرنې، احساساتو، افکارو او ظاهري اثر د تمرکز په قصدي او له قضاوته پرته منلو ته وایي» او دا د عباداتو او ژور تفکر له لارې په دې ډول ترلاسه کــېـږي چې ذهن وربانديې روږدي شي. دا اصطلاح د بودایانو د (انه پنه ستي anapanasati ) له اصطلاح څخه اخیستل شوې او په پالي ژبې کې ئـــې ستي Sati بولي او موخه ئـــې هماغه فکري حضور ده. فکري حضور د بودایانو د عباداتو له بنسټیزو ستنو څخه ده. د نن ورځې معاصر ارواح پېـژندونکی د عقدوي او ذهني ناروغانو د جسماني او ذهني حالاتو د ښــهٔ والي لپاره او هم د دوا پر ځای له دغسې تمریناتو څخه ګټه اخلي چې ډېــر ګټور په زباد رسېـدلي دي. - ژباړونکی

[4] - Meditation په پښتو او عربي قاموسونو کې ئـــې تأمل ژباړلی دی. له دې څخه موخه هغه ډول تمرین (ریاضت) دی چې څوک خپل ذهن په دې ډول روزي چې په کښې ذهني ځانخبري یا خود آګاهي راپارول کـېـږي او په پای کې ورڅخه یوه ګټه تر لاسه کوي او یا خپله په خپله پای مومي. په

متداوم هويت او د فرديت تجدد
متمايزه حکمت او ادراک
وقت
د ظرفيتونو سرچينې او پرمختګ
آيا روح شته؟
فکر او بصيرت
اړيکه، احساس او تصور

# دريم کتاب د سختيو لـېري کول

شتمن او بيوزلي
بيا ډېره کول
نيروانا او کرما [1]
د بيلابيلو سکالو ستونزې لکه تناسخ، فرديت او بودا

# څلورم کتاب : د معضلاتو حلول

ميليندا په مقدس قانون کې معضلې مومي
او بودايي توب مني
د ميليندا او ناګه سينا تر منځ دريمه ليدنه
لومړی معضله [2]: که په رښتيا بودا مړ سوی وي نو د هغـهٔ آثارو ته درناوی لپاره څه شي ښــهٔ دي؟

---

دې تمرين يا روزنې کې سپورت په شان ډول ډول جسمي او ذهني حرکات ګډون لري چې له مخې ئـې د انسان د ځان دننه ذهني آرامي تر لاسه کـېږي او يا په جسم کې دننه د ژوندانــهٔ انرژي په خوځښت راولي، د همدغو تمريناتو له کبله په انسان کې مينه، زړه سواندي، شفقت، صبر او زغم، سخاوت او بخښنه وده مومي. په بوديزم او هندوييزم کې دا د سانسکريت د دهيای dhyai له وييکي راغلي چې دهيانه dhyâna ئـې بولي. د هندوانو په ويداګانو او د برهمنانو په ريګويدا کې ئـې هم يادونه شوې ده - ژباړونکی

[1] - Nirvâna and Karma : پورته مو د نيروانا په هکله يادونه وکړه دلته د کرما لنډه يادونه کوو : کرما د سانسکريت يو وييکی دی. کرما कर्म د فعل، کار، اقدام او عمل په معنی ده. کرما د عليت يعنی د علت او معلول د اړيکي تر منځ خبرې کوي چې په لړ کې ئـې د يو چا تکل يا قصد او افعال دواړه د هماغــهٔ شخص پر راتلونکي باندې اغيز لري. له ښې کرما ، ښو کړو وړو او چارو څخه خوشاله راتلونکي تر لاسه کـېږي برعکس له بدې کرما څخه راتلونکی کړاو او رنځ تر لاسه کـــېږي. په ختيځو غير ابراهيمي فکري بنسټونو کې کرما د انسان بيا پنځون يا بيا زوکړې سره نغښتې ښکاري. په دغو فکري ګروهنيزو بنسټونو کې د يو چا د اوسمهال کرما نه يوازې د هغه پر راتلونکي ژوندانــهٔ اغيز کوي بلکه د هغـهٔ د راتلونکو ژوندونو پر طبعيت او کيفيت اغيز شيندي. د لوستونکو دې دلته پام وي چې د کرما په نامــهٔ کې يو په زړه پورې فرضي ټکی پروت دی چې په قريب ګومان ښايي همداسې اوسي. په سانسکريت کې ( کړ कृ) د پښتو (کول) او د دري فارسي د کردن - (To do, make, undertake,) په معنی ويل شوي چې مونږ همدغه (کړل - او کول ) او په دري - فارسي کې (کردن) لرو او په هندي او اردو کې همدا (کر) لرو چې د کرما پښتو ژباړه (کړنه)، (کول) او (چارچلند) کـېږي - ژباړونکی

[2] - Dilemma : ديليما ته ئـې په پښتو قاموسونو کې ستونزمن او کړکيچن حالت ته ويلي دي او ځوک په دوه وو کې غورځوي چې د چا به يو حالت خوښ نه وي خو دې ته اړ وځي چې له يوې خوا څخه يوه خوا بايد خوښه کړي او بله معنی ئـــې (مشکل انتخاب) ياد کړی دی. په عربي کې ئـې قياس أقرن، ذوالحدين او ذوالفرضين بللی دی، په فارسي کې ئـې ذوالحدين منلی دی. په ويکيپيډيا کې ئـــې ويلي چې ديليما د منطقي استدلال يوه

دویمه معضله: ویل شوي چې بودا ئې منعکسوي، نو څنګه کېدای شي چې بودا دې په ټولو شیانو واقف وي؟

دریمه معضله : که بودا په دې پوهېدهٔ چې دیوه دتا[1] به په دین کې تشعب رامنځته کړي نو ولي ئې نوموړی قانون ته منلی دی؟

څلورمه معضله : د ویسنترا[2] زلزله

پنځمه معضله : پادشاه سیوي[3]

---

ځانګړتیا ده چې له درو مقدمو پېلېږي. لومړی := مقدمه، منفصله شرطیه قضیه ده او دویمه او دریمه مقدمه متصله شرطیه قضیاوې دي. ددغو قضیو د مقدماتو پایلې یوه منفصله شرطي قضیه رامنځته کوي : د بیلګې په توګې : آیا احمد د پوهنتون په کانکور کې بریالی کېدای شي؟ که په کانکور کې بریالی شي نو پوهنتون ته ځي خو که په کانکور کې بریالی نه شي باید عسکرۍ ته لاړ شي نو له دې خبرې پایله دا کېږي چې احمد به یا پوهنتون یا عسکرۍ ته ځي. بله بیلګه ئې : د پلاني ښځه بچې په نس لري، اوس څرګنده نه ده چې هلک ده که نجلۍ، که هلک وي نوم ئې اڅک او که نجلۍ وي نوم ئې زرلښته ږدي پایله دا شوه چې هغوی د خپل بچي نوم یا اڅک یا زرلښته ږدي. دلته ما د مفهوم د آسانۍ لپاره د معضلې په ډول منلې ده- ژباړونکی

[1] - Devadatta :- په پالي او سانسکریت کې ډیوه دتا देवदत्त د (خدای ورکړې/ خدایداد God -Given) په معنی ده، په دې کتاب کې دیوه ډتا هغه څوک دی چې بودا ته ستونزې رامنځته کوي او له بودا سره سیالي لري. داسې سیالي چې بودا له ځانه کښته ګڼي او په دین کې انفصال رامنځته کوي. دغه دینی تشعب د بودا ګاتما د ژوندون پر مهال رامنځته شو. ښایي دیوه دتا وروسته د خپلې طریقې پیروان درلودل. موږ په افغانستان کې په ګڼ شمېر ځایونو کې د خدایداد د کلیو په نامهٔ نومونه لرو. کېدی شي د اسلام د دین له خپرېدلو وروسته ددغو کلیو نومونه له دیوه ډتا څخه په خدایداد ژباړل شوي وي. په پام کې ولرئ چې دا یوازې زما یوه انګېرنه ده او د زباد لپاره ئې اوسمهال څه نهٔ لرم. - ژباړونکی

[2] - Vessantara : په بودایي اساطیرو کې ویسنترا د ګاتما بودا مخیکني ارتحال ته وایي. بودا یو شهزادګی وو چې د پلار له مړینې وروسته ورته سلطنتي تاج رسیدهٔ خو دهٔ د سلطنت او سلطنتي مانۍ پر ځای دښته او ځنګل خوښ کړل او د عباداتو له لارې ئې ځان روښنایي ته درسېدلي سړي په توګې ورساوهٔ. په حقیقت کې د بودا بل نوم د ګاتم او ګاتما ترڅنګ ویسنترا هم دی.- ژباړونکی

[3] Sivi : سیوي هم د پادشاه او هم د سلطنت او سیمې په نامهٔ یاد شوی چې موخه ئې سیویستان یا سیبي ده او په مهابهارتا کې د (سیوي) په نامهٔ یاد شوی دی. دا نوم د (سیبي Sibi) ، (شیبي Shibi) او (شیوي Shivi) په نومونو هم یاد شوی دی. په کابل کې د (شیوه کیو) ولسوالۍ مهٔ هیروئ چې یا د شیوا له نامهٔ سره او یا د همدغهٔ سیوي له نامهٔ سره تړاو لري. په دغهٔ نامهٔ کې د (و) د توري اوښتنګ (ب) ته د چینایي ژبې له کبله بولم ځکه چینایي سیلانیانو (و) په (ب) ثبت کړی دی. یو شمېر کسان وایي چې دا سیمه د بلوڅستان په هماغه سیمې کې ده چې سیبي بلل کېږي او منطقاً باید سندهـ ته نېږدې وي خو ځیني ئې راجستان ته نېږدې بولي. د (سیوي جتهٔ که) په کتاب کې ویل شوي چې پاچا سیوي د یوهٔ (بودیستا) په توګې په (اریته پورې Aritthapura) کې پر (سیوي رټا Sivirattha) او پلازمینې کې واکمني وچلوله او همدلته ئې خپلې سترګې یوهٔ ړاندهٔ برهمن ته ورکړې. چینایی سیلانی فڅین Faxian دغه نوم د (سو هو تو So - ho- to) یا (سوات) په نامهٔ ثبت کړی دی او وائې چې دا سیمه د کابل او اندس د سیندونو تر منځ د اوډیانې Oddiyana په سویل کې پرته ده. د اوډیانې نوم زموږ د افغانستان په جغرافیې کې ارزښت لري چې زه ئې له معاصر اورګون سره نیږدې بولم. په لرغونو بودایي آثارو کې ویل شوي چې اوډیانه یو وړوکی ځای وو خو د بودیزم په خپرولو کې ئې ډیره مهمه ونډه لوبولې ده. ډېرشمېر پوهان اوډیانه د سوات د درې په یوهٔ لوی انځور کې ښیي خو یو نور شمېر ئې د هند په اویشا او یا د تبت د شمباله له سیمې سره هم - معنی ښیي. په تبتي چینایي بودایي لیکنو کې اوډیانه د اورګین O rgyan په ډول یاده شوې ده. په سانسکریت کې اوډیانه د بڼ یا باغ په معنی ده او نوموړی چینایي سیلانی وایي چې دا یوه بودایي سیمه وه چې د لمنې یوه برخه ئې د اندس په سیند او د سوهوتو یا سوات تر سویل پورې راالنډېدله او خلک ئې په پالي ژبې ګړېدل. په دې سیمې کې پنځه سوه بودایي عبادتځایونه ول. خوځندو یا ګرځندو مانکانو ته د درو ورځو لپاره خوارهٔ او نور اړین توکي برابرېدل او کلي په کلي به ګرځېدل. دا هم ویل شوي چې د بودا د ګامونو خاپ هم دلته لیدل شوی دی او وایي د بودا د ګامونو خاپ هغې ډبرې ته نېږدې موندل کېږي چې خپلې جامې ئې له مینځلو وروسته پر همدې ډبرې پلنې واچولې او (یو ناګه) ئې خپل دین ته راواړاوهٔ. د سوات په درې کې د بودا د ګامونو د خاپ د موندنې ادعا شوې ده - دا د سیوي لپاره د یوهٔ ځای په توګې لنډه شرحه وه خو یو شمېر نور سیوي د پاچا په نامهٔ هم یاد کړی او وایي دا هغه پاچا وو چې د خپل ځان غوښې ئې د یوې کوترې د ژغورلو لپاره ګوربت ته

يادونه :- په كتاب كې شپږم شمـېــر نـــۀ دى ياد شوى له پينځمه وروسته اووم راغلى دى

اوومه معضله : د دين په داوم كې د رسالتونو اختلاف

اتمه معضله : د بودا چوپتيا او د هغـۀ زغم ګالنــه

نــــهمه معضله : ولې دې بودا فكري مراقبه وكړي؟

لسمه معضله : بودا ولې باتې وهلې؟

يولسمه معضله : ولې بودا خپل جوړ كړي قواعد لغوه كړل؟

دولسمه معضله : بودا ولې د ځانګړو پوښتنو له ځوابولو ډډه وكړه؟

ديارلسمه معضله: د ډار په اړوند د بودا متناقضې ويناوې

څوارلسمه معضله :پيريت[1] څنګه كولاى شي ناروغى درمان كړي؟

پنځلسمه معضله: څنګه يو شرير كولى شي خلك د بودا پر وړاندې ودروي؟

شپاړلسمه معضله : د شعوري جرم تناقض

اووۀ لسمه معضله: د بودا د هيلې په اړوند تناقض چې د قيادت هيله ئـې كړې وه

اتلسمه معضله: څنګه كېدى شي چې د بودا په ژوندانــۀ كې دې تشعب راپورته شي؟

نولسمه معضله: ولې د قانون غړي، تقديس مني؟

شلمه معضله: د وعظ شريرې پايلې

يادونــه : يو ويشتمه معضله په كتاب كې نسته

دوه ويشتمه معضله: آيا بودا يو ځل په سودينا[2] باندې نــۀ وو قهرېــدلى؟

درويشتمه معضله : ويانده ونـــه

څلورويشتمه معضله: د بودا وروستنۍ ډوډۍ

پنځه ويشتمه معضله: له آثارو سره مينه

شپږويشتمه معضله: د ډبرې ټوټه

اوه ويشتمه ډيليما: د سَمَــنَـه[3] متناقضه شرحه

---

وركړلې او د استوګنې سيمه ئــې په اوډيانې پورې تړې. په بودايي داستانونو كې دا بودا وو چې خپلې غوښې ئــې ګوربت ته د كوترې د ژغورلو لپاره وركړې دي چې علامه رشاد بابا په دې هكله يو شعر هم ويلى دى. د اوډيانې سيمه د الكسندر پيښ ليك ليكونكو د اوروبتيس Orobatis په نامــۀ ثبت كړې ده. مهابهارتا سيوي د وګړو په ډول له آسوره Asura سره تړي او وايي چې دوى د كمبوجه په شان په رب النوعې ديتى Diti ايمان لري. له زښتو ډيرو لرغونو مهالو را په ديخوا د كونړ، سوات او اورانوس سيمې د اسوكه كامبوجه Asvaka Kamboja د دودونو او باورنو د پام وړ سيمې دي. اسوكه د آس روزونكي په نامــۀ پــېـژندل شوي چې معنى ئــې د نجيبو سواركارانو سيمه كــېـږي او له همدې كبله ئــې د اسوكه لقب ګټلى دى. معاصر لرغونپوهان د افغان د نامــۀ سرچينه د اسوه كه يا اسوه ګه مفغن - معرب بولي چې لومړى آوه يا اوه ګان شوى او ورسته ورڅخه افغان جوړ شوى دى. د فردوسي په شهنامې كې د (سپاه آوه ګان) نوم اويا ځله راغلى دى او پر بابيليون باندې د ستركوروش د بريد پر مهال د هغه د لښكر د سپرو برخه د (سپاه آوه) په ډول ياده شوې ده. - ژباړونكى

[1] - Pirit

[2] - Sudinna :- سودينا يو بودايي مانک وو چې مخكې ئـې په جګړو كې د سرتـېري دنده درلودله. بودا ورته امر كوي چې د مانک توب له منلو مخكې دې خپلې پخوانۍ ښځې ته ورشي. دى يو بودايي مفسر تـېر شوى او بودايي رواياتو كې ئـې نوم راغلى دى. - ژباړونكى

[3] - Samana : په سانسكريت كې شرَمَـنـه Shramana يا श्रमण او په پالي ژبې كې ئــې سمنه يا समण ياده كړې ده. دا يو غير ويدي غورځنګ وو چې له تأريخي ويدي خوځښت سره برابر روان وو خو له ويدي خوځښت څخه راكـتـېدلى وو او د همدغه غورځنګ له ګـېډې څخه يوګا ، بوديزم او د هندوييزم نور ديني - مذهبي خوځښتونه رامنځته شول. د دې خوځښت فكري تومنه هماغه د هندوييزم د فلسفي تومنه يعنې د ژوند

اته ویشتمه معضله: د بودا باټې

نهـــۀ ویشتمه معضله: یو مهربانه ځنګه نورو ته سزا ورکوي؟

دېـــرشمه ډیلیما: آیا بودا پر کاتوما[1] باندې نـــۀ وو په قهر؟

یو دېـــرشمه معضله: موګ ګلانـه[2] کوم له معجزې ډک ځواک درلود چې خپل مرګ مخکې له مخکې ووینې؟

دوه دېـــرشمه معضله: د احکامو قانون دې ولې پټ وساتل شي؟

درې دېـــرشمه معضله: د کذب په اړوند تناقضات

څلور دېـــرشمه معضله: آیا په ټولو شیانو واقف، یو ځل شک نـــۀ وو کړی؟

پنځـۀ دېـــرشمه معضله: ځان وژنـه

شپږ دېـــرشمه معضله: ټولو موجوداتو سره مینـــه

اووۀ دېـــرشمه معضله: فجور او سوکالي

اتـــۀ دېـــرشمه معضله: د ښځو مکر

نـهـــۀ دېـــرشمه معضله: آیا ارهټانو یو ځل ډار نـــۀ وو ښودلی؟

څلویښتمه معضله: آیا په ټولو شیانو واقف، یو ځل له خبرې نـــۀ وو اوښتی؟

ضمایم : ډیوه دتا په (بودایي ادبیاتو) ګاتکه [3] ګانو کې

ملحقات Addenda et Corrigenda

د خاصو نومونو انډکس

د سکالو یا موضوعاتو انډکس

---

په انګلیسي تورو د ختیځ الفبا د غږونو لیکنـــه د ختیځ د سپیڅلو کتابونو د ژباړې د معیار له مخې اخیستل سوې ده

---

او مرګ یا تناسخ او په بودایي باور د ارتحال د دوراني کړۍ پر شپول راڅرخي. د سانسکریت او پالي دغه دواړه اصطلاح ګانې د لومړي مخزېـږدېـزې زریزې د ریاضت دودونه لـېرې غورځوي. د سانسکریت ددغې اصطلاح جرړه له (شرم، په سکون د ش) څخه راغلې چې د هڅو کولو، کار کولو او ریاضت د سختیو په ګاللو او تر سره کولو معنی ښندي. یعنی هغه څوک چې هڅه کوي یا کار کوي. دا اصطلاح د هغو کسانو په هکله وکارول شوه چې د روښنایۍ پر لور د زړه له کومې هڅه کوي او هم د مانکانو په اړوند وکارول شوه. بودا په خپله یو سمنه وو، ځکه دۀ د نړۍ له ژونده لاس اخیستی وو او په دښتو کې ئـــې ریاضت ګالـۀ. د شرمنه د همدې فلسفې پر بنسټ ول چې بودا د خپل پلار سلطنتي ماڼي پرېـــښودله او د سختیو ګاللو ته ئـې مخه کړه. د برهمنانو (برهمن جاله سوتا) لیکنې ډیرۍ شرمنه ګانې شرحه کوي چې بودا ئـــې نه مني. لنډه معنی ئـې تارک د دنیا او لالهاندۀ صوفي کـــېږي. په دې کتاب کې سمنه په تفصیل مباحث لري. - ژباړونکی

[1] - Kâtumâ

[2] - Moggalâna :- په سانسکریت کې (مَـودګـَـل یاینه Maudgalyâyana) او په پالي کې (موګ ګلانه) یاد شوی یو نوم دی؛ نوموړی همدا شان د (مها مـَود ګلیا ینه Mahâmaudgalyâyan ) او( مها موګلانه Mahâmoggalyâna ) په نومونو هم یاد شوی چې د بودا یو له ډېرو نـېـږدو زده کونکو یا مریدانو څخه وو. نوموړی د بودا د زده کونکو په منځ کې دوهم او نـېـږدې ترینه زده کونکی بلل شوی دی چې د بودایي روایاتو پر بنسټ ئـــې تر ټولو لوړ مافوق الطبیعي ځواک درلود. نوموړی د بنګال د کولیتې په ښار کې په یوې برهمني کورنۍ کې زېـږېدلی دی. نوموړی تل ګرځند وو، روایات وایي چې په لارې کې غلو وواژۀ، نور روایات وایي چې خلکو سنګسار کړ. - ژباړونکی

[3] - Gâtaka : په کتاب کې ئـــې په همدې ډول لیکلي دي خو سانسکریت تلفظ ئـــې جه ته که Jataka دی او دا د بودا د ژوندانـۀ په اړوند د نامتو کیسو ټولګه ده او (جه ته که) په پالي او سانسکریت ډواړو کې د زېـږون په معنی ده. ددغو کیسو یو شمـــېـــر د پالي په قانون کې راغلي دي - ژباړونکی

# پېــــژنـــدنـــــه

ډیوېډ رایس

دا ژباړه چې د لومړي ځل لپاره د انګلیسي ژبې لوستونکو ته وړاندې کېږي، خپلې شا ته یو هېښنده او په زړه پورې داستان لري. دا کتاب د عیسوي پېړۍ له پیل لږ وروسته په شمالي هندوستان کې یا ټول په سانسکریت او یا ئې یوه برخه د شمالي هندوستان په پراکریتي ژبې لیکل شوی دی، خو په خپل کور کې دغه پنځول شوی کتاب په بشپړ ډول ورک شوی دی؛ (تر هغـهٔ ځایه چې تر دې دمه څرګنده ده) ددغه کتاب پاتې برخه له سایلون پرته نـهٔ د کتاب د پنځون په ټاټوبي کې او نـهٔ د بیلا بیلو بودایي ډلو د فکري بنسټونو په منځ کې موندل کېږي، او نـهٔ په هغو هېوادونو کې موندل کېږي چې بودیزم ئې د سایلون د بودایي فکري بنسټ له لارې منلی دی. دا خبره رښتیا ده چې جنرال کنینګهم[1] وایي د میلینډا نوم " لا تر اوسه په بودایي هېوادونو کې شهرت لري". خو کنینګهم دلته له یوهٔ منفرد حقیقت څخه یوه پراخه پایله راباسي. کنینګهم په خپل یادښت کې یوازې د ښاغلي هارډي یادښت ته په نغوتې چې د سایلون په اړوند یو ښـهٔ لاسوند دی حتی نـهٔ وایي چې میلینډا دې له سایلون دباندې بل چېرې پېژندل شوی وي.

(د بهارت – ژ) په سویل کې ساتل شوی او په هماغو لومړیو کې پالي ته ژباړل شوی د معیاري اعتبار دا کتاب د هغو کسانو لاس ته ولوید چې د بودا په بنسټیزو دکتورینو کې ئې شک پیل کړی وو، دا کتاب چې له پخوا په خپلې پالي بڼې کې ډېـــر نامتو وو سیمهالي ته وژباړل شو، او دوني نامتو شو چې یوازې له پالي پیټه که ګانو[2] وروسته ئې دویم دریځ غوره کړ (ان ښایي د بوداګهوسه «د تطهیر د لارې[3]» تر نامتو اثر هم مهم ګڼل شوی وي). دغه کتاب په خپلې هماغې پالي بڼې له سایلون وروسته برما او سیام ته او نورو هغو هېـــوادونو ته ولـېـږدول شو ( چې که خپلو ژبو ته ئې لا نـهٔ وو ژباړلی) خو تعلیقات ئې ورباندې لیکلي وو. دا کتاب نورو هیوادونو ته هم ولیږدول شو چې دغـهٔ کتاب په کښې نامتو نوم درلود. دا هغه یوازینی کتاب وو چې نـــهٔ یوازې د شمالي هندوستان بودایانو تصنیف کړی وو بلکه د سویلي هندوستان بنسټیزو بودایي مکتبونو ورته په درنښت کتل؛ او دا یوازینی کتاب دی چې د ټولو بودایانو په منځ کې ژوندی پاتې شوی دی. دا په لرغوني هندوستان کې یوازینی منثور اثر دی چې د معاصر لید لوري له اړخه یو بشپړ بریالي هنري اثر ګڼل کـــېږي.

ددغو توضیحاتو په هکله باندني لاسوندونـه په اوسمهال کې ډېـر لږ دي او که وي هم ډېـري ئـې په راوروستو وختونو کې ورکړل شوي دي. په کولمبو کې یو کتاب دی چې نیټه ئـې ۲۴۲۰ بودایي کال ده او له ۱۸۷۷ ز کال سره سمون خوري؛ دا کتاب ۶۵۰ پاڼي لري او په اتو ټوکونو کې راغونډ شوی دی او د لویوالي له اړخه تر دې دمه تر ټولو لوی کتاب دی چې د سیمهالې مطبعې له پلوه چاپ شوی او میلینډا پرَسنایا[4] نومیږي. دا کتاب د پنځو بودایي ښاغلو په مالي لګښت چاپ شوی چې

---

[1] - Ancient Geography of India' p. 186
[2] - Pâli Pitakas
[3] - Path of Purity
[4] - MILINDA PRASNAYA

نومونـه ئــې دلته د يادونې وړ دي. ددغو کسانو نومونه دا دي : کروليس پيريس[1]،آبراهام ليويرا[2]، لويس منديس[3]، نندیس منديس امَره سيکاره[4]، او چارليس ارنوليس منديس ويجيه يا رتنا امَره سيکاره[5]. د همدغـهٔ کتاب په سريزې کې ويل شوي چې دا کتاب د بودا له مړينې ۵۰۰ کاله وروسته هغه نامتو وراشه يا مباحثه رانغاړي چې د ميليندا او ناګه سينا ترمنځ شوې وه او « د لرغونو استادانو (پور وا کا رين ويسين[6])» له خوا ماګه دهي[7] ژبې ته ژباړل شوی وو؛ - ويل کيږي چې ددې کتاب پالي بڼه د لومړي ځل لپاره سيمهالي[8] ژبې ته د پاچا کيرتي شري راګه - سيمها[9] تر څارنې لاندې چې په ۲۲۹۰ بودايي کال (۱۷۴۷ ز) کې د سايلون سلطنت ته راغلی وو د بودايانو د اوامر او نواهيو د قانون د ټولنې د يوه غړي له پلوه چې هينــه تي کمبوري سمڼ ګله[10] نومېدهٔ وژباړل شو؛ هينتی کمبوري سمڼ ګله په ويوليويتا سره نانکره[11] پسې د زده کوونکي او استاد (انوسيشه[12]) د مقام ځای نيوونکی وو؛ همدا استاد وو چې د بودايي قانون د اوامرو او نواهيو لوی شيخ يا سمګـهه راګه[13] په توګې ګومارل شوی وو- وايي چې دا " بې ساری قيمتی کتاب هم د بودايي دکتورينو د زده کړې او يا هم په همدې اړوند د پوهې د پراختيا لپاره د يوې وسيلې په توګې کارول کېدهٔ او د غلطو عقايدو د مخنيوی لپاره د ښوڅو ځلو کاپيو په ترڅ کې له انحراف سره مخامخ شوی دی - نو همدا وو چې د نامتو عالم موهوټي وټي ګونانده[14] په هڅونې پورته پنځو تنو يادو شويو ښاغليو لومړی بايد لرغونې ليکنې اصلاح کړې وې، له لومړنی اصلاح ئــې وروسته بيا د څو تنو عالمو بودايي مانکانو (بهيکخوګانو[15]) (کيپه نمک لوا[16]) تر کتنې لاندې دا لرغونی کتاب بـېــرته راژوندی او د اندکس او د لغاتو ټولګه ئــې وربانده ورزياته کړه؛ چې په دې توګې اړين سمون موندلی کتاب ئــې اوس چاپ شوی دی.

---

1 - karolis Piris
2 - Ãbraham Liwerâ
3 - Luis Mendis
4 - Nandis Mendis Amara- Sekara
5 - Chârlis Arnolis Mendis Wijaya- ratna Amara- Sekara
6 -purwâkârïn wisin

7- Mâgadhi : ماګدهي پراکريتي Magadhi Prakrit چې د اردهه ماګدهي Ardhamâgadi ژبې په نامـــهٔ هم ياديږي په لرغوني هندوستان کې د ليکلو د دريو درَماتيک پراکريت Dramtic Prakrit ژبو له منځه د ليک لوست يوه ژبه وه چې د سانسکريت او پالي ژبو له زوال وروسته رامنځته شوه. خلکو د هندوستان د نيمه لوئــې وچې په ختيځ کې په دغې ژبې خبرې کولې چې د هند له ختيځ څخه زموږ اوسني موخه نيپال او بنګله ديش ده. - ژباړونکی

8 - Simhalese
9 - King Kirtti Sri Râga- Simha
10 - Hïnati Kumburê Samańgala
11 - Wœliwita Saranańkara
12 - anusishya
13 - Samgharâga

14- Mohotti - watte Gunânada: د Migettuwatte Gunanda په ډول ليکل شوی چې په ۱۸۲۳ ز کال په سيريلانکا کې زېـږېـدلی او په ۱۸۹۰ ز کال کې په کولمبو کې مړ شوی دی. نوموړی د بوديزم يو نامتو خطيب وو. دی هغه مهال نامتو شو چې له عيسوی دينی شيخانو سره ئــې په ديني مباحثو کې ميدان وګاټـهٔ. - ژباړونکی

15- Bhikkhus په سانسکريت او پالي کې بهيکښو Bhikşu ياد شوی دی او نارينه بودايي مانک ته ويل کېږي او ښځينه مانکه ئــې بهيکخوني يادېــږي چې په پالي او سانسکريت کې ئــې بهيکښوني Bhikşni بولیي او د جوړو شويو قوانينو تر سيوري لاندې ژوند کوي. - ژياړونکی

16 - Kïpa namak Lawâ

په دې توګې موږ ته سیمهالي ژباړه په لاس راغلي چې له سره تر پایه هماغه د پالي ژبې پر لارې تللي خو په یوې استثناء چې په دې ژباړې کې ئـې دلته او هلته د لغاتو یوه ټولګه ورزیاته کړې ده. د اندکسونو دا لغوي ټولګه د پیټکه[1] وو له هغو لغاتو مشتق شوې چې په پیټکه وو کې راغلي دي ؛ همدلته ئـې د بودا په خولې کې د غیب ویلو هغه خبرې ور اچولې چې بودا د مرګ په بستر کې پروت وو او داسې ئـې ښودلي چې دا خبرې د بودا له مرګه پینځه سوه کاله وروسته حقیقت مومي او د راتلونکي غیب هم وایي چې زما د یادښتونو د همدې چاپ په دریمې پاڼې کې ورته نغوته شوې، او همدغـهٔ غیب ویلو داسې یوه بڼه غوره کړې چې پر بنسټ ئـې سیمهالي ژباړن، ژباړې ته هڅـېـدلی دی. نوموړی د پورتني ټکي په تړاو د خپلې شرحې په لړ کې زیاتوي چې خپل کار ئـې شري ورد هنـــه پورې [2] ته نـــږدې د مها ویهارې[3] په اوپو ستها آرامې[4] کې لیکلی دی، دا معبد د بودایانو په منځ کې ځکه زښت ډېـر شهرت لري چې دلته د بودا غاښونـه ساتل کېږي؛ همدا ځای د (سمګهه راګه[5]) د [ بودایانو د اوامرو او نواهیو د قانون د شیخ] ویولیویتا سرنانکره [6] د استوګنې ځای وو؛ همدلته د بودایي دین یو شمـــېـــر لوی عالمان او مفسرین لکه درَمیتي پوله[7]، دهما راکهیته[8] او مدهو رسه توته دهمک کهندا[9] اوســېـدل.

له دې چې کیریتي شري راګه سیمهه[10] تر ۱۷۸۱ز کال پورې سلطنت کړی[11] نو دا خبره ددې ټکی یوازینی زباد دی چې په سایلون کې زموږ په پالي ژبې دغه شته نسخه په اوسني بڼې تر دې دمه دلته وه، او د وروستي پــېـړۍ تر پایه پورې ورته د ستر لرغوني او د ډېـر اعتبار وړ اثر په سترګې کتل کــېـدل. تر دې دمه په هــېـڅ موندل شوي لرغوني سیمهالي اثر کې ددې اثر یادونـــه نـــهٔ ده شوې. د سایلون د رنګین او لرغوني ادب په اړوند زموږ اوسنۍ خواره او زهیره (اسفناکه) بې خبرۍ او ناپوهي (د لاسوندونو د نشتوالي له کبله هره انګــېـرنـه[12] ) هــېـڅ ارزښت نـــهٔ لري. اوس چې د سایلون دولت په خپل مقننـه کنسول کې د بودایي معابدو د مواریثو او د (بودایي - ژ) ښوونې او روزنې د ګټورتوب لپاره یوه نوې قانوني لایحه تصویب کړې نو همدې لایحې ته هیلې ژوندۍ شوې چې په معابدو کې د لیکل شویو کتابونو ارزښت به نـــهٔ هــېـرېـږي او

---

[1] - Pitaka

[2] - Sri Wardha Pura

[3] - Mahâ Wihâra :- د پالي د ژبې یو ویبکی یا لغت دی چې د ستر معبد په معنی ده او دا په سریلانکا کې د بودایانو د یوهٔ ډېـر لوی معبد نوم دی. - مها د ستر او ویهاره د معبد په معنی ده. ژباړونکی

[4] - په پالي کې دهرمه سله Dharmasala هم عبادت ځای دی چې موږ ئـې اوس درمسال بولو، اوپوستهـه Uposatha هم یو بودایي معبد ته وایي؛ دواړه ئـې په دې معنی دي چې مانګان راټولــېـږي او د دیني سکالو په هکله خبرې کوي - ژباړونکی

[5] - Samgha Râga

[6] - Wœliwita Saranańkara

[7] - Daramiti Pola

[8] - Dhamma rakkhita

[9] - Madhorasatota Dhammakkhandha

[10] - Kïrtti Sri Râga- simha

[11] - See Turnour's Mahavansa p. lxviii

[12] - Ex silentio

ددغو له زښت ډېــره تأريخي ارزښته برخمنو کتابونو د سمون او چاپ لپاره به کلنۍ هڅې ځانګړې شي[1]. تر اوسه په زغرده ويلی شو چې موږ ته د " ميلينډا د پوښتنـو" د تأريخ د پلونو د خاپ موندنه په نورو هغو آثارو کې ناشونی ښکاري چې ددې اثر د سويلي ټاټوبي بومي علماوو ليکلي دي. دا به په هغو آثارو کې ياد شوی وي چې په اړوند ئــې لږ شک لـيدل کـېږي. هندي ليکوال چې له ډېــرو پخوا وختونو ئــې د خپلو علمي هڅو او هلو ځلو لپاره په دې سمسور او ښکلي ټاپو کې تر ټولو ښـــهٔ افق موندلی څلور خله ئــې په خپلو تبصرو کې يادونـه کړې ده؛ او کله چې ددهٔ آثار په بشپړ ډول چاپ شي نو دا مناسبه هيله څرګندولی شو چې ښايي نور ريفرسونـه به هم ور څخه تر لاسه شي. بوداګهوسه[2] د ستر مرګ[3] د کتاب پر

---

[1] - زما په باور هـېـڅ هندي بومي ژبه تر دې دمه د خپل ادبي لوړوالي او تفوق له کبله، د خپلو محتوياتو، عمر او يا تأريخي ارزښت له اړخه له سيمهالي ژبې سره د پرتلې وړ نـــهٔ ده. او د پالي متونونو د ټولنې د جاري سيستم لپاره به لس کاله کافي وي تر څو د څو سوو کالو آثار په بشپړ ډول اصلاح او چاپ کړي- ليکوال

[2] - Buddha ghosa : - ويل کـېـږي چې بوداګهوسه د پنځمې زېـږدېـزې پېړۍ ستر بودايي مفسر او ليکوال وو. دا يوازې يوه تقريبي انګـېرنه ده او د بودا ګهوسه د ژوندانـــهٔ او مړينې دقيقه نــېـټــه نـــهٔ ده څرګنده. د بودايي دين يوه زښته لرغوني او ژوندۍ پاتې شوې څانګه تريواده نومــېـږي. د همدې څانګې پيروان اوس په نيپال، سريلانکا، بنګله ديش، هندوستان، کمبوديا، لاوس، مينمار، تايلند، ويتنام، چين، ماليزيا، اندونيزيا او سينګاپور کې اوسېږي. تريواده د لغت له مخې د (شيخانو د درسونو) په معنی او د بوديزم د نورو دوه وو لويو څانګو په پرتلې دا ډله هماغو لومړنيو لرغونو بودايي باورونو ته ډېره نـېږدې ده. ددوی د کتاب راټولې شوې پاڼې د تيپي تکه Tipitaka په نامــهٔ يادېږي چې د همدې څانګې لپاره د بودايي رواياتو او دودونو د ليکنو يوه معياري لرغونې ټولګه ده؛ دا ټولګه په پالي ژبې ليکل شوې ده، دا کتاب د بودا له مړينې نــېـږدې څلور سوه او پينځوس کاله وروسته په ۲۹ م. ز کال کې راټول او يو کتاب ورڅخه جوړ شو. په پالي کې ټوکرۍ ته (پيټکه pitaka) وايي. د پالي قانون په خپله په دريو لويو برخو يا ټوکريو ويشل کـېـږي او له همدې کبله ورته په پالي کې تي پيټکه Tipitaka او په سانسکريت کې ورته تري پيټکه Tripitaka يا درې ټوکرۍ وايي او دا ځکه ورته ټوکرۍ وايي چې د هغـهٔ مهال بودايانو پخوانی ليکنې په ټوکريو کې راټولې ، دوی دا ټوکړۍ په درو لويو ټوکريو کې واچولې او بيا ئــې تصنيف او يو قانون ئــې ورڅخه جوړ کړ. دغه درې واړه ټوکرۍ په دې ډول تصنيف شوي دي: ۱- وينه يه پيټکه Vinaya Pitaka يا د مقرراتو او دسپيلين ټوکرۍ چې ښځينه او نارينه راهبيونو ته د چار چلند او قانون په تړاو خبرې کوي. ۲- ستوته پيټکه Sutta Pitaka يا وياندې ټوکرۍ چې يو شمـېـر ئــې د بودا خبرې دي او ډېـر شمـېـر ئــې د بودا د مريدانو خبرې دي. ۳- ابهيدَمه پيټکه Abhidamma Pitaka په دې ټوکرۍ کې بيلابيل سکالو رانغاړل شوي لکه فلسفه، سايکالوژي، ميتافريک او نور. لومړنۍ دوه ئــې د لومړنيو بودايانو د مکتب په پيروۍ نــېـږدي کټ مټ هماغه دي چې لومړنيو کول خو دريمه هغه ئــې يوازې او يوازې د همدې څانګې باورونه دي چې د بودايي دين نورو څانګو کې دومره د منلو نه دي. د تريواده Theravâda د بودايي څانګې کتاب د پالي د قانون Pâli Canon په نامـــهٔ يادېـږي چې وربانديې ډېر تفاسير او شرحې ليکل شوي دي؛ دغه شرحې ټولې په يوهٔ نوم يعنی د مهاويرا Mahavirâ په نامـــهٔ يادېـږي چې په حقيقت کې د پالي د قانون د کتاب ټوله شرحه ده او همدا شرحې په ټوليز ډول بودا ګهوسه او يو شمـــېـــر نورو مانکانو په پنځمې پېړۍ کې په هماغــهٔ مهال کې د هغو نسخو له مخې ورکړي چې اوس هغه نسخې ورکې شوې دي. له بوداګهوسه وروسته نورو کسانو وربانديې تفاسير ليکلي دي. د تريواده د بودايي څانګې دوديز تفسير بوداګهوسه رالنډ کړی دی چې ويسودهي مګه Visuddhimagga نومــېـږي. د بوداګهوسه د تفاسيرو په منځ کې يو ئــې (ستر مرګ Great Decease) نومــېـږي چې بودايان ئـــې مها پرينيبانه سوتا Mahâ - Prinibbâna- Suttâ بولي. د پالي د قانون وروستۍ برخه وايي چې په خپله بودا درې پټيکه ګانې تدريس کړې دي. له همدې کبله د تريواده څانګې پيروان وايي چې د پالي قانون په خپله د بودا او د هغه د نـېږدې شاګردانو په خولو او ژبو تدريس شوي دي. د پالي د قانون په همدغو رواياتو کې ويل شوي چې د بودا له مړينې وروسته په ډېــرې لنډې مودې کې يو کنسول جوړ شو او د بودا لارښوونې ئــې راټولې کړې. همدا وو چې د بودا لارښوونې په شفاهي ډول له پنځمې مخزېـږدېـزې پېړۍ نيولې تر لومړۍ مخزېـږدېـزې پېړۍ پورې په موزون او سندريز ډول له يوهٔ نسله بل نسل ته لـېـږدېدلې تر څو چې دا لارښوونې وليکل شوې او د پالي قانون په نامـــهٔ يادې شوې. - ژباړونکی

[3] -Great Decease VI, 3

شپږم ټوک[1] پر دریم ځپرکي باندې د خپلې تبصرې په لړ کې هغه نقل قول را اخلي چې د میلینډا او ناګه سینا د خبرو پر مهال تېر شوی او لاندې د څلورم کتاب د دویمې برخې په لومړۍ کې ژباړل شوی دی[2]. او په بل ځای کې دی (بودهاګهوسه - ژ ) پر (امبَټهه سوتا [3]) [4] باندې د خپل تقریظ په ترڅ کې هغه وییکې را نقلوي چې پر موضوع باندې د میلینډا او ناګه سینا تر منځ د وراشې په ترڅ کې یاد شوي دي. هغه لغاتونه چې دی ئې رانقلوي د ( سومنګله ویلاسیني د کتاب په ۲۷۵ او ۲۷۶ پاڼو کې چې ما او د پالي ټکسټ سوسایټي لپاره پوهاند کارپنټر[5] ورباندې سمون راوستی[6] موندل کېږي) کټ مټ هاغه لغات نهٔ دي چې ښاغلی ترنکنر[7] ئې په دې اړوند په هماغهٔ نقل قول کې د څلورم کتاب [8] په ۱۶۸، ۱۶۹پاڼو کې کاروي مګر د ماهیت او معنی له مخې یوبل ته ورته دي.

زموږ ددې اثر په هکله د بودهاګهوسه دوه ریفرنسونه ما (د انګریزي متن ژباړونکي - ژ) تشخیص کړي دي. ډاکټر موریس دوه وو نورو ریفرنسونو ته نغوته کوي او د دواړو ریفرنسونو په هر یوهٔ کې چې د بودهاګهوسه په نقل قول کې راغلي دي د ترنکنر له یادو شویو لغاتونو څخه توپیر لري. د ډاکټر موریس دواړه ریفرینسونه اکاډیمی ته د یوهٔ لیک په ترڅ کې د ۱۸۸۱ز کال د نوامبر په دولسمې نیټې ولېږل شول. په مَنو رتها پوراني[9] کې پر انګوتَره باندې [10] ډاکټر موریس په خپل تقریظ کې د کتاب په لومړی، پنځمې او اتمې پاڼې کې د بودهاګهوسه نقل قول را اخلي :

---

[1]- IV,2, I

[2] - دې خبرې ته ما مخکې د خپلې ژباړې Buddhist Suttas, vol. xi of the Sacred Books of the East, p.112 د متن د توضیح په لړ کې نغوته کړې ده – لیکوال

[3]- Ambattha Sutta. په پالي او سانسکریټ کې سوتا Sutta لنډ یا مؤجز کلام ته او یا پر سکالو یا موضوع باندې غټو تخنیکي خبرو ته وایي. په بودایي دین کې دا وییکی د بودا د لنډو ویناوو په معنی منل شوی دی. امبَټهه د یوهٔ برهمن نوم دی چې خپل برهمني استاد د بودا لیدلو ته په دې هیلې ورلېږلی چې ووینې په ربښتیا د بودا پر ځان باندې ۳۲ نښې شته که نه. موږ او تاسو پوهېږو چې برهمني ټولنې د کست cast پر ټولنیز سیستم باور درلود. کله چې دا برهمن سړی بودا ته ورنېږدې سو نو دی چې د کست په باوري سیستم ایمان لري بودا تر خپل ځان ټیټ ګڼي او له بودا سره توند او ناوړه چلند کوي. بودا ورته په ځواب کې وایي چې دی د ټولنیز دود او قانون له مخې تر امبټهه لوړ زېږېدلی دی (ځکه چې بودا په خپله یو شهزاده وو) خو دی هر هغه څوک لوړ ګڼي چې د علم او پوهې او روڼا په خپرولو کې هر ډول هلې ځلې پر ځان ګالي. - د پښتو تشریحي قاموس د دریم ټوک په ۱۷۳۲ پاڼې کې موږ د سخوټ لغت لرو چې : ګردی، ګردی زخن لرګی، منډلی او ټیټ چاغ سړی، غونډمنډ سړی، ګردی او شلنډ سړی معنی سوی دی. زما په اند سوټا د لنډ په معنی له پښتو سره تړاو لري. - ژباړونکی

[4] Ambattha Sutta (D.III 2, 12)

[5] - Professor Carpenter

[6] - pp.275 - 276 of the edition of the Sumańgala Vilâsini edited for the Pâli Text Society by professor Carpenter and me

[7]- Trenckner: بشپړ نوم ئې کارل ویلهلم ترنکنر Carl Vilehlem Trenckner چې د پالي د ژبې بشپړ تشریحي قاموس ئې لیکلی دی- ژ

[8] - pp. 168- 169 IV, 3. II

[9] - Mano ratha Púrańī

[10]- Anguttara : دا یو پالي وییکی دی او د پالي د قانون د هماغو دریو ټوکریو یوه برخه ده چې پورته مو یادونه وکړه. انګوتره د معنی له اړخه سوکه سوکه یا تدریجي ټولګې ته وایي او د شمېر له اړخه ورو ورو پورته کېږي یعنی د متدرج شمېر اضافت. دا برخه د بودا د زرګونو ویناوو یوه ټولګه ده - ژباړونکی

ایمه سمیم پن، اتهي میلینډا- راګا (راجا- ژ) دهمک تیکه - ناګسن اتهرم پکخي : " بهانتي ناګه سینا، ایکـَسمیم ایک کهرک کهاني پـوَه ټیټه - کیټه سم کهارا سکې روپینو اسه کیوه مها - راسي بهاوي یاتي؟

" Imasmim pan' atthe Milinda- râgâ dhammakthika- Nâgasenatteram pukkhi :" Bhante Nâgasena, ekasmim akkharakkhane pavattita- kitta- samkhârâ sake rúpino assa kiva mahâ-râsi bhavey-yâti?"

او بیا ځواب ورکوي : واهه ستانم خو مهاراګا (مهاراجا- ژ) ویهینم اډهه - کولن که واها ویهي ستّه منانې دوي که تومبه ایکک کهرک کهاني پاوَه ټیټه سه کیټه سه سنکهم پینـه اوپینتي کلم پي نــه اوپینتی کله - بهاګم پي نــه اوپین تي تي

Vâhasatânam kho mahâ- râga vihinam addha-kúlań ka vâhâ vïhi sattammanâni dve ka tumbâ ekakkharakhane pavattitassa kittassa sańkham pina upenti kalam pi na upenti kala- bhâgam pi na upentiti"

د میلینډا دغه نقل قول چې بودهاګهوسه را اخیستی د ښاغلي ترنکنر د چاپ په ۱۰۲ پاڼې کې موندل کېږي چې ژباړه ئــې د څلورم کتاب[1] په نولسمې پاڼې کې شوې ده. مګر په دغه چاپ کې پوښتنــه بیخي نسته او له دې سره سره چې ځواب کټ مټ (چاپ شوې لیکنې) ته ورته دی بیا هم په خپلو استـنـتـاجي لغاتو کې توپیر لري. ښاغلی ترنکنر په خپلې لیکنې کې دغه نقل قول «تحریف شوی» په نښه کوي او هم ډېـــره شوني ده چې بودهاګهوسه موږ ته هماغه لرغوني او د ښه لوستنګ ښه پرې ایښي وي.

بل نقل قول چې ډاکټر موریس (په اکاډیمی کې د ۱۸۸۱ز کال د جنوری په یولسمې نېټې) را نقل کړی دی له ( پـېـنکه سودني[2]) څخه دی، دا پر (مګهیمه نیکایه[3]) باندې د بودهاګهوسه تفسیر دی چې لا تر اوسه چاپ ته نــهٔ دی چمتو. دا نقل قول پر (برهمایو ستـنـتـه[4]) باندې د تفسیر په یوې برخې کې موندل کېږي او بل چـېـرې نــهٔ موندل کـــېـږي ما (لیکوال - ژ) په بشپړ ډول دلته را اخـېستی دی. دهمدغــهٔ په زړه پورې نقل قول په هکله چې پورته ورته نغوته وشوه (د ۱۶۸ او ۱۶۹پاڼو یادونــه وشوه دلته په څلورم کتاب کې په ۳،۱۱ کې ژباړل شوې دی) بودهاګهوسه وایي :

وتم ایتم ناګه سیناتهرینـه میلینډا رَنا پوتهنـه :" نــه مهاراګه بهګه وا ګیهم دسیتي خایم بهګه وا دسی تي تي"

" Vuttam etam Nâgasenattherena Milinda- rańńâ puttena: "Na mahâ-râga Bhagavâ guyham desseti khâyam Bhagavâ dassetïti"

په دې حالت کې د همدغــهٔ نقل قول په بل اخځ کې راغلي لغات، کټ مټ هماغه لغات نــهٔ دي چې د لیکنې په چاپي بڼې کې چاپ شوي دي، او له بل پلوه دا لغات سره له دې چې لنډ دي خو د (سمنګله ویلاسیني[5] ) له ورکړل شویو لغاتو سره سمون لري.

---

[1] -IV.1.19

[2] - Pańka Súdanï

[3] - Magghima Nikâya

[4] - Brahmâyo Suttanta

[5] - Samańgala Vilâsinï

مخکې له وخته به وي چې د بودهاگهوسه او د ښاغلي ترنکنر د را اخېستل شویو نقل قولونو تر منځ د توپیر د دلیل موندلو هڅه وکړو. ډېـره شوني ښکاري چې بودهاگهوسه دغه لغات په لوی لاس رالنډ کړي وي او یا دا چې دا اقوال به ددهٔ په حافظې کې ول او له خپلې حافظې څخه به ئــې را نقل کړي وي او یا ئــې د اصلي متن له مخې په خپله ژباړلي یا لنډ کړي او یا ئــې د پالي له کومې بلې بڼې څخه رااخېستي او یا ئــې د پالي د شته نسخې له مخې د کومې بلې چاپ شوې بڼې له مخې اخیستي دي. مخکې له دې چې ددغو توپیرونو تر منځ کوم قضاوت وکړو او یا ورته کومه متبادله شرحه ومومو، موږ باید خپلې مخې ته د (میلینډا د پوښتـنو) بشپړه بڼه ولرو. هغه څه چې اوسمهال په ډاډ ویلای شوی دا ده : کله چې بودهاگهوسه خپل شهکار لیکـهٔ نو دا د ۴۳۰ ز کال شا و خواوې وې او خپلې مخې ته ئــې هغه کتاب ایښی وو چې د میلینډا او ناګه سینا تر منځ خبرې ئــې رانغاړلې. دی پر (امبه ټها سوټا) باندې د پورته یاد شوي تقریظ په ترڅ کې د لومړي ځل لپاره له متن څخه د را اخیستل شویو لغاتو له اخځ وروسته په ساده ژبې وایي :" ګټه به په کې څه وي که بل څوک وربانډې څه ووايي؟ شیخ ناګه سینا پاچا میلینډا ته په ځواب دا ویلي چې : (لمن لیک وګورئ)[1] - او ور پسې دی له ناګه سینا څخه اخځ اخلي او له خپله ځانــه ان یو لغت هم پرې نـــهٔ زیاتوي. له دې کبله ټولو هغو سترو بودایي لیکوالانو چې نومونــه ئــې موږ ته راڅرګند دی د " میلینډا پوښتـنې" ئــې دوني یو ډاډمن او د اعتبار وړ اثر ګڼلی چې که د اثر لیکوال هره خبره او نظریه د ناګه سینا له خولې را اخلي نو باید پریکنده یا قطعي نظریه وګڼل شي. د پالي له ( پیټه که ګانو) دباندې دا یوازینی کتاب نـــهٔ دی چې بودهاګهوسه ورته په دې ډول غاړه ږدي، بلکه د مخکینیو تفاسیرو په استـثـناء دا یوازینی کتاب دی چې دهٔ ته آشنا وو او رجوع ورته کوي. خو له بلې خوا هر څوني که دا اثر دهٔ ته ځانګړی دریځ لري، بې سارى او ممتاز ورته ښکاري خو دی ددغو نقل قولونو پر تأریخ، یا پر مؤلف باندې رونا نـــهٔ اچوي.

تر دغـــهٔ ځایه مو هغه څه یاد کړل چې په سایلون کې د " میلینډا د پوښتـنو " په هکله موږ ته راڅرګند دي. په ډاډ ویلی شوی چې په پالي ژبې ددې اثر د شتوالي تر څنګ ښایي په برما او سیام[2] کې هم په سیمه ییزو ژبو ژباړل شوی وي. ښاغلی ترنکنر د خپلې سریزې په څلورمې پاڼې کې یوه یادونــه کوي او وایي چې دهٔ ته ډاکټر راست[3] د برمایي ژبې په تورو پالي متن ورلـېـږلی دی، او په همدغو تورو یوه بله پالي کاپي د کولمبو په لرغونتون[4] کې شته او د برما له مدني خدماتي[5] څانګې څخه ښاغلي جې. جي. سکات[6] انګلستان ته په برمایي ژبې د میلینډا (نیسه یه[7]) راولـېـږله ( دا یو ډول ژباړه ده چې

---

[1] - Kim ettha ańńena vattabbam? Vuttam etam Nâgasenattheren' eva Milinda-râńââ puttena .... (Sumańgala Vilâsinï, loc. cit.).

[2] - Siam : د تایلینډ پخوانی نوم دی. په تایلینډ کې په ۱۹۳۲ز کال کې یوه کودتا وشوه او سلطنت مشروطه سو. په ۱۹۳۹ ز کال کې د سیام نوم په تایلینډ واوښت. خو له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۹ز کلونو پورې ئــې بیرته سیام کړ. له دغې نـېـټې وروسته ئــې بـېـرته تایلینډ کړ. سیام یو سانسکریت وییکی دی چې د نصواري نژاد معنی ښندي او تایلینډ د " آزاد ټاټوبي" په معنی دی. - ژباړونکی

[3] - Dr. Rost

[4] - See p. 51 of the 'Journal of the Pâli Text Society' for 1882

[5] - Burmese Civil Service

[6] - Mr. J. G. Scott

[7] - Nissaya of the Milinda

لومړي په برمايي تورو پالي متن لغت په لغت ورکوي او وروسي ئـــي په برمايي ژبې تشريح ورکوي.[1]) د  پالي متن يوه نسخه له سيام څخه راوړل شوې ده چې د سيمهالي متن په نسخه کې ورته نغوته شوې او ښاغلي ترنکنر د خپل چاپ د سريزې په څلورمې پاڼې کې ورڅخه حاشيوي اخځ اخيستی دی. همدا شان د کامبريج د ترينيتي د کالج[2] په کتابتون کې يوه بشپړه نسخه شته؛ دا نسخه په ډېـــر ښـــهٔ حالت کې ده چې پالي متن ئـــي په سيامي تورو ليکلی دی په بله وينا د سيامي - پالي[3] ژبو[4] په تورو ليکل شوې نسخه ده؛ له بلې خوا د پاريس په ببيليوتيک نـشـنـِل[5] کې د دې متن د يوې يا څو نُـســخو بې شمـــېـــره ټوټې شته او دا ټوټې هم په هماغو کمبوجيايي[6] تورو ليکل شوي چې د  پالي متونونو لپاره د سيامي ژبې توري کارول شوي دي[7].

د يادوني وړ ده چې تر دې دمه په اروپا کې په سايلوني تورو ليکل شوي ددې نسخې اووهٔ پـېـژندل شوي نسخې شته دي. ددوغو ۷ له منځه دوې ئـــي (چې ډېرې لرغوني دي) د کوپنـــهاګن د پوهنتون په کتابتون کې[8]، دوې نورې ئـــي په ببيليتيک نشنل[9] کې، يوه ئـــي د کامبريج د پوهنتون په کتابتون[10] کې او دوې نورې ئـــي د هندوستان په آفيس لايبرري[11] کې دي. د نوموړو نسخو له منځه درې هغه ئـــي ښاغلي ترنکنر د خپل ۱۸۸۰ز کال د ستاينې وړ کتاب دقيق چاپ کې کارولي دي.

---

تر دې دمه پورتنی خبرې ټول باندني لاسوندونـه يا شواهد دي چې لاسرسی ورته شته. اوس به په هغـهٔ څه خبرې وکړو چې له کتابه د استنتاج وړ دي. دا کتاب په ځان کې د بودايي دکتورينو يو شمـــېـــر ټکي رانغاړي چې د مرکې په ډول د پاچا ميليندا او شيخ (تيره) ناګه سينا[12] تر منځ جوړې شوي دي. دا خبره دې د دغو پاڼو ټولو لوستونکو ته روښانه وي چې دا

[1] - دغه ني سايه Nissaya اوس ددهٔ د ورور،  د کامبرج د سنت جونز د کالج، برسر Bursar په ولکه کې ده - ليکوال

[2] - Trinity College, Cambridge

[3] - Siamese-Pâli

[4] - By the kindness of the Master and Fellows of the College I have been allowed to collate this MS. in London

[5] - Paris Bibliotheque Nationale

[6] - Kambojan character

[7] - See 'Journal of the Pâli Text Society' for 1882, p. 35

[8] - Copenhagen University Library, See 'Journal of the Pâli Text Society' for 1883, p. 146

[9] - Bibliotheque Nationale, See 'Journal of the Pâli Text Society' for 1882, p. 35

[10] - Cambridge University Library, See 'Journal of the Pâli Text Society' for 1883, p. 146

[11] - India Office Library, See 'Journal of the Pâli Text Society' for 1882, p. 119.

[12] - Nagasena the Elder (Thera) : مخکې مو وويل چې ناګه سينا د کشمـــېـــر يو بودايي دين پوه، عالم او حکيم وو چې د ۱۵۰ م. ز. کال په شاو خواوو کې ئـــي ژوند کړی دی چې ددهٔ او د معاصر افغانستان د هغـهٔ مهال د پاچا ميننډر تر منځ پر بودايي عقايدو باندې يوه مرکه تر سره شوې ده. دغه مرکه ئـــي د ميليندا پنـه په نامـهٔ ياده کړې ده. يو شمـــېـــر هندي او اروپايي ليکوالانو دغه مرکه د ميليندا پنـهـو Milinda Pańńho په نامـهٔ هم ياده کړې چې مخکې مې ورته لنډه نغوته وکړه. د ميننډر نوم په پالي کې د ميليندا په ډول ليکل شوی دی. دلته زما خبره د ناګه سينا په اړوند ده چې هغـهٔ ته ئـــي د شيخ لقب ورکړی دی. د شيخ معنی ئـــي په انګليسي کې Elder ليکلي دا ځکه چې په پالي کې شيخ ته تيرا Thera يا थेर وايي او حقيقي معنی ئـــي مشر مانک کـېـږي. په مخکنيو لمنليکونو کې مو وويل چې د بودايي دين يوه زښته لرغوني ژوندۍ پاتې شوې څانګه تيراوادا

مرکې ربښتوني نـــهٔ دي. هغه څه چې موږ خپل مخ ته لرو ، سره له دې چې روزنيزه اخلاقي موخه پر داستان پرده غوړوي، په حقيقت کې يوه تأريخي تخيلي افسانــه ده. اکثراً د مغالطې له مهارته ډک مالوچي (پنبه ئـين) پهلوانان[1] يو ځای راوستل کېږي، دلته دا پهلوانان د اخلاقي يا رواني باورونو د روښانــه کولو لپاره پر ځمکې نـــهٔ وهل کـــېږي بلکه لوړ بيول کـــېږي. پاچا په خپله ثانوي او تابعه ونډه لوبوي. راپورته شوې پوښتـنې يا معضلات ددهٔ په خولـــهٔ کې ورکول کـــېږي. اختراع شوېو پوښتـنو ته د حل او ځواب امکان چې ددې اثر ډېـر مهمه برخه ده د ناګه سينا خولې ته ورغورځول کېږي. ديالوګونـــه په ډېـــر احتياط په پيلينيزې (مقدماتي) کيسې پيليږي، او په دې سره د لوستونکي لـېـوالتيا راپارول کـــېږي چې د اثر خورا پياوړې برخه جوړوي. سره له دې چې په اثر کې د ميليندا او ناګه سينا پريمانـه ستاينې شوي خو په حقيقي اړخ کې ددې ستاينو موخه په خپله د دې اثر ستاينـه ده، که څه هم د اثر په لوستلو لوستونکی په دې ټکي ښـــهٔ پوهېږي خو له دې سره سره لوستونکی د هغو ښکلو او فصيحو کلماتو له اغېـزه تېـښتـه نـــهٔ شي کولای چې د دې غونډې/ مرکې علت ته ئـې ارزښت او اهميت ورکړلی دی؛ او بل د اثر راښکون او مهارت دی چې په ټول داستان کې ساتل شوی دی.

ورپسې دا پوښتنــه پيدا کېږي چې آيا په مرکو کې ويل شوي کرکترونـــه يا پرسوناژونــه ربښتوني حقيقي کسان دي که نـه. د انګېـرنې له مخې ميليندا هماغه ميننډر دی چې نوم ئـــې د باکتريا د سلاطينو په نوملړ کې راغلی دی ځکه په اثر کې ويل شوي چې نوموړی په ساګله[2] (يونانيانو ايوتيديميا[3] ياده کړې) کې د (يوناکه[4] وو) پاچا وو؛ په دې نوملړ کې د ياد شوي ميليندا له نامـــهٔ پرته بل داسې نوم نـــهٔ سته چې د ميننډر نامـــهٔ ته دې نـېـږدې وي. دا سمه ده چې ميليندا او ميننډر دواړه د يوهٔ نامـــهٔ استازيتوب کوي. دا څرګنده نـــهٔ ده چې ددې اثر ليکوال په لوی لاس غوښتي يو يونانی نوم هندي ژبې ته واړوي او يا دا بدلون د فونيتيک د طبيعي انحطاط له کبله رامنځته شوی دی، په دغو دواړو کې يو ئـــې شونی دی چې په نامـــهٔ کې د غږيز بدلون پر څرنګوالي ئـــې اغېـز کړی دی. په هندي نومونو کې په (ايندرا) يا (ايندا) د نامـــهٔ پای ته رسول غير متداوله

---

نومـېـږي چې له همدې کبله د شيخانو يا د مشرو مانکانو د دکتورينو معنی ښندي. د پالي د ژبې تيراواده دلته په دوه وو برخو ويشو لومړی تيرا/ تيره د شيخ او زاړه په معنی د سانسکريت ستهه ويرا Sthavirah کـــېږي او هماغه د زاړهٔ، مشر، شيخ او کم توانه سړي معنی ښندي. وادا Vâda د دکتورينو په معنی ده او په سانسکريت کې « وادا» د سياستوال او دکتورينو معنی ښندي. - ژباړونکی

[1]- Men of Straw : د مغالطې مالوچي پهلوانان د کره کتنې يا نقد د مقام يوه اصطلاح ده. په دې معنی چې که يو څوک له يوې مدعا سره مخالف وکړي او هغه غلطه وګڼي نو د مدعا د ناسموالي لپاره له غير منطقي مغالطو څخه کار اخلي؛ مالوچي پهلوان په مغالطې کې هـېـڅکله د لومړۍ مدعا پرضد کوم دليل نـــهٔ وړاندې کوي، مدعاګر د کره کتنې توان نـــهٔ لري او په دې سره نوموړې مدعا يوې خواته بړدي او په نرمه ورڅخه تـــېـرېـږي، خو د ضعيفې مدعا د کره کتنې د توان په لرلو مدعا د خپل مقابل لوري مخ ته راباسي او د اصلي مدعا د رد پر ځای د ضعيفې مدعا ردول پيلوي. ژباړونکی

[2]- Sâgala - په معاصر پاکستاني پنجاب کې سيالکوټ دی. د ساګلې نوم د سنګلې Sangala په ډول هم ليکل شوی دی -ژباړونکی

[3] - Euthydemia : دا هماغه د پالي او سانسکريت ساګله ده چې يونانيانو د ايوتيديميا په نامـــهٔ ياده کړې چې د باکتري سلطنت يوه برخه وه. زموږ اوسنی کتاب چې په بودايي ادب کې يو مهم کتاب دی او د ميليندا پنا Milinda Pańńa په نامـــهٔ ياد شوی وايي چې پاچا ميليندا پر دغـهٔ ښار باندې د ۱۰۰ م. ز کال په شا و خوا کې سلطنت کړی دی. د يوتايديمس او يوتديميا په هکله بشپړه مقاله زما د ژباړې، لرغوني آريانا په کتاب کې لوستلی شئ- ژباړونکی

[4] - Yonakas : په لرغونمهال کې په پالي ژبې کې يونانيان د يونا Yona او يوه نه Yavana په نامـــهٔ ثبت شوي دي. په هومري يونان کې د آيون Iaones او په لرغوني يونان کې ايونز Iawones ليکل شوي دي. په برهمني آثارو کې ويل شوي چې يوه نه وګړو يوازې دوې پاړکې، کست cast يا طبقات درلودل: ښتن او مريیی - ژباړونکی

خبره نـــهٔ ده او په هندي ژبو کې د باندني پاچا د نامــهٔ د معنی لپاره دا تقریباً حتمي ده چې که د پاچا نوم په (--ندر) پای ته ورســېږي نو په هندي کې (د پاچا د نامــهٔ همدا وروستی برخه) یعنی (ندر)، (یندا) ته بدلون مومي. په دې پسې د م – ن - ن د نرمو کانسوننټونو تسلسل دی چې په هندي ژبې کې ئــې باید د غیر تشابه له کبله بدلون موندلی وي، او ښاغلی ترنکنر په پالي ژبې کې اووهٔ داسې یو بل ته ورته حالات یادوي چې په هغو کې (ی) خپل ځای (ن) ته ورکوي[1].

دلته د (میننډر Menander - ژ) په نامهٔ کې یوازې د لومړي (E ) اوښتون و (I) ته پاتې کـېـږي. د (میننډر - ژ) د غیر مشکوکو ایکیو یا مسکوکاتو د هندي مخ په برخې کې، تر ټولو زړه او د اعتبار وړ لوستنـه (میننډا Minanda) د پاچا د نامــهٔ په توګې لولي[2]؛ په اوسمهال کې سره له دې چې د سم لوستنګ وړ ایکیو له مخې د نامــهٔ شرحه ورکړل شوې ده، خو بیا هم هـــېـــڅ شک نـــهٔ پاتې کېږي چې په هندي ژبې کې د ملینډا (Melinda) د غږ په پرتلې د میلینډا (Milinda) غږ په آسانی ګرځـېدلی شي او هماغسې چې د (میلکخها Milakkha ) په نامـهٔ کې د نوم په پیل کې د (Mil) پیلنیزه برخه مناسبه ښکاري نو د یوهٔ پاچا د نامــهٔ لپاره د میلینډا په نامهٔ کې هم د ( inda - -) د پای برخه مناسبه بریښي. لــــه دې کـــبــــله ده چـــــې (Men-ander) په (Mil-inda) بدلـېږي.

دلته باید زیاده کړم چې زموږ ددې اثر لیکوال څو نور یوناني نومونـه په اثر کې یاد کړي دي - لکه - (ډیوه من تیا[3]) چې د (لومړي کتاب په ۴۲ پاڼه کې[4]) ئــې یاد کړی دی، او د همدغـهٔ (یونـانـي - ژ) افسر نوم ئــې بیا د (دویم کتاب په دریمې پاڼې کې[5]) د (انن تکایا[6]، منکوره[7] او سبه دینه[1]) له نومونو سره یو ځای یاد کړی دی. په دغو نومونو کې هم د میننډر د نامــهٔ په

---

[1] - Pâli Miscellany,' part i, p. 55.

[2] - For instance, Wilson in his ' Ariana Antiqua,' p. 283.

[3]- Devamantiya : دیوه من تیا یا دیمیتریس د میننډر په دربار کې میننډر ته نـــېـــږدې د یوهٔ اشراف نوم او وزیر هم وو چې میننډر ئــې ناګه سینا ته بوت او همدا دیوه تیا وو چې له میننډر څخه ئــې وغوښتل چې ناګه سینا ته دې بلنه ورکړي چې سلطنتي ماڼی ته میلمــهٔ شي. ددې کتاب انګریز ژباړونکی په دې باور دی چې د دیوه من تیا نوم پالي ژبې ته د یوناني دیمیتریس Demetrius د نامــهٔ اړول شوی بڼه ده. وروسته میننډر خپل څلور تنه وزیران په ناګه سینا پسې د ساګلي ستر بودایي معبد ته لـېږي چې له میننډر سره مرکه وکړي. د لرغوني آریانا په کتاب کې دیمیتریس د باکتریا د پاچا په نامــهٔ هم یاد شوی دی چې ښایي همدا دیمیتریس وي. دا کتاب ما ژباړلی دی- ژباړونکی

[4] -I,43

[5] - II, 3

[6] - Anantakaya : د میننډر یو وزیر وو چې په ناګه سینا پسې ئــې استولی وو، د لارې په اوږدو کې نوموړی له ناګه سینا څخه د روح په اړوند پوښتنه کوي او ناګه سینا ورته د ابهیدما Abhidhamma په اړوند خبرې کوي چې د پالي د قانون د دریو ټوکریو له منځه وروستنې پیټکه یا ټوکری ده او یوه فلسفي، سایکولوژیکي او میتافزیکي برخه ده چې ښبرغاندو یا پدیدو ته د وریپښو حالاتو له مخې ګوري. یو شمــېــر مفسرین په دې باور دي چې دا برخه د بودا له مړینې وروسته بودا پیروانو ورزیاته کړې ده. هرګوره، کله چې ناګه سینا دهٔ ته دا یادونه کوي چې نو انن تکایا ناڅاپه بودایي کېږي. ویل کېږي چې د انن تکایا نوم پالي ته د یوناني انتیوکس Antiochus د نامــهٔ اړول شوی بڼه ده. د لرغوني آریانا په کتاب کې انتیاکس د باکتریا د پاچا په نامــهٔ هم یاد شوی دی چې ښایي همدا انتیاکس وي. دا کتاب ما ژباړلی دی -ژباړونکی

[7] - Mankura : دی هم د میننډر د دربار وزیر وو چې په ناګه سینا پسې استول شوی وو. -ژباړونکی

شان هڅه شوې چې يوناني وييکي پالي ژبې ته راواړوي: د دغو نومونو په هر يوۀ کي د ميليندا د نامــۀ د اوښتنګ په شان هره هڅه بې مفهومه ښکاري. تاسو د ډيوه من تيا نوم ته وګورئ چې د ديميتريس له نامــۀ څخه جوړ شوی او سړي ته په لومړی کاتو کې هندي نوم ښکاري. خو که دغـۀ نامــۀ کومه بله معنی ورکوله نو يوازينی معنی چې ورڅخه راوځي ښايي د " ارباب الانواعو د سلاکار[2]" فرضـی معنی ورڅخه واخېـستـل شي. همدا شان د (انن تا) او (کايا[3]) نومونه دواړه هندي دي خو که دواړه سره ګډ شي نو دا معنی ورڅخه جوړېږي لکه چې يو څوک " لايتناهي وجود/ بدن[4]" ولري چې د يوۀ درباري نديم لپاره پوچ او بې معنی نوم دی. ډېـــره شوني ښکاري چې د انن تکايا له نامــۀ څخه موخه د انتياکس[5] نوم وي. دا چې د منکوره او سبه دينـه له نومونو څخه ددوی موخه څه وه ګرانه ده چې په دې اړوند دې څه وويل شي[6] خو د سبه دينـه نوم (په ۸۷ پاڼې کې په لنډون دينـه Dinna) ويل شوی دی. خو د ميليندا په ډول د ميننډر د نامــۀ پــېــژندنه هموغومره ډاډمنـه ده لکه چې کنده ګوټا د سندروکوټوس په نامــۀ اوښتی دی.

---

يوناني او رومي ليکوالانو په باکتريا کې د يوناني سلاطينو په هکله ډېـــرې لږ ليکني له ځانه پرې ايښي دي. سره له دې چې له ميننډر څخه و ميليندا ته د نامــــۀ اوښتنګ په خواشينی دومره ډېـــر څه نــۀ وايي مګر همدا يو مهم او دقيق واقعيت دی.

سترابو په خپلې جغرافيې[7] کې وايي ميننډر[8] د باکتريا يو له هغو دوه وو شاهانو څخه وو چې د هندوستان پر لور ئــې په ختيځ کې د يوناني قلمرو په خپرولو کې ستره ونډه لوبولې ده. سترابو وايي چې ميننډر د هيپانيس (ستلج[9]) له سينده واوښت او ان تر ايساموس پورې ( چې ښايي د جمنا سيند وي[10]) پر مخ لاړ.

همدا شان د جستين[11] د يو ځلوينتم ورک شوي کتاب په عنوان کې، ميننډر او اپولوداتس[1] " هندي پادشاهان" ياد شوي دي.

---

[1] - Sabbadinna : دی هم د ميننډر د دربار وزير وو چې په ناګه سينا پسې استول شوی وو- يادونه. د منکوره او سبه دينه نومونه بومي نومونه ښکاري ځکه ما پښتو ژباړونکي د ديوه من او انن تکايا د نومونو په شان د هغوی معادل يوناني نوم په انګريزي او بودايي آثارو کې ونه موند او هغوی په دې اړوند ګنګ دي –ژباړونکی

[2] -'counsellor of the gods.'

[3] - Ananta and Kaya

[4] -'having an infinite body

[5] - Antiochos

[6] - Compare Mr. Trenckner's note at p. 70 of the ' Pâli Miscellany.'

[7] - Edit. Müller, xi, 11, 1.

[8] - Menander

[9] - Hypanis (that is the Sutlej)

[10] - Isamos (probably the Jumna)

[11] - Justin : دا برخه لږ شرحه غواړي چې له ورکو شويو کتابونو څخه موخه څه ده. د جستين بشپړ نوم په لاتين کې *Marcus Junianius Justinus* دی چې يو لاتين تأريخ ليکونکی وو او د رومي سترواکی تر سيوري لاندې ئــې ژوند کړی دی. ددۀ د ژوند او مړيني نـېـټه نــۀ ده

بیا پلوتارک[2] مورږ ته د میننډر په اړوند یوه کیسه وایي[3].

پلوتارک وايي چې میننډر د خپل سلطنت پر مهال لوړ نوم او په خپل رعیت کې دوني درنښت درلود چې په خپلې کیږدۍ کې له مړینې وروسته ددۀ د سلطنت د بـېـلابـېـلو ښارونو شیخان ددۀ د جسد له سوځولو وروسته د جسد د ایرو د ترلاسه کولو پرسر په خپلو منځو کې سره ونښتل. د ښارونو استازو دا شخړه په دې ډول حل کړه چې له میننډره پاتې شوي آثار دې د ښارونو تر منځ وویشل شي او ددۀ په یاد دې څو بـېـلابـېـل معابد (μνημεια) ودان کړل شي ( شک نـۀ شته چې دا داګبه ګانې یا ستوپې دي[4]) دي.

دلته عجیبه دا ده چې پورته یاد شوې خبره د " ستر مرګ د کتاب[5]" له بیان سره دقیق مماثلت لري، ځکه د ستر مرګ کتاب وايي چې د بودا له مړینې وروسته پیروانو ئـې د هغه له جسد سره څه وکړل. دا به ډېـــره خطرناکه وي چې له دغـۀ انطباق څخه کوم استنتاج راوباسو.

(ددې اثر د لیکوال له خبرو جلا) ، د میننډر - میلینډا په هکله یوازینی بل لرغونی لاسوند چې مورږ ته راپاتی دی د هغـۀ ایکې یا مسکوکات دي. او هماغسې چې معمول ده، د مسکوکاتو شهود به په خپله دا نوم بنه ثبیت کړي خو ډېـــره لـېـري ښکاري چې په تثبت شویو خبرو دې نور څه ورزیات کړل شي.

---

څرګنده. ددۀ له شخصي تأریخه څه لاس ته نـۀ راځي. نوموړي د Historiarum Philippicarum libri XLI تأریخ لیکلی او په سریزې کې ئـې له یوۀ ډېـر پرېـړ یا د قطور کتاب له نامـۀ څخه یادونه کـېـږي چې ټول ئـې په څلور څلوېښتو ټوکونو کې ول، په دی کې د *Historiae philippicae et totius mundi origines et terrae situs* په نامـۀ یادونه کـېـږي او له همدغـۀ کتاب څخه دی ډېـر مهم اخځونه را اخلي او وايي چې دا کتاب د اګوستس پر مهال پامپیوس تروګس لیکلی دی. اګوستوس د رومي سترواکۍ بنسټ اېښودونکی وو چې له ۲۷ مخزېـږدېـز کاله ئـې تر ۱۴ ز کاله پورې په روم کې سلطنت وکړ. جستین د تروګس د ژوند او مرګ خبره نـۀ کوي خو له دې څرګندېـږي چې جستین له تروګس وروسته ژوند کړی دی. جستین لیکي چې رومیانو او پارتیانو نړې په خپلو منځو کې ویشلې ده. د جستین دا خبره ښايي د پامپیوس تروګس له کتابه اخیستل شوې وي. او یوه تـېـر وتنه به وي چې که څوک دا خبره د ساسانیانو د ستروواکۍ د راڅرګندېدلو پر مهال پورې وتړي. بله خبره د لاتین د ژبې بدلون دی چې سوکه سوکه بدله شوې او د جستین لیکنې د دویمې او دریمې زېـږدېزې پـېـړۍ له لیکنګ بڼې سره سمون خوري. د پامپیوس تروګوس کتابونه ورک شوي دي مګر د کتابونو تومنه او ماهیت ئـې د لومړۍ زېـږدېزې پـېـړۍ د رومي تأریخپوه پلیني Pliny او د جستین په ګډون د نورو لیکوالانو په کتابونو کې ساتل شوې ده. په دې توګې وینو چې د تروګوس کتابونه د جستین لاس ته رسـېـدلي ول او دی ئـې لنډیز راباسي. دلته له ورکو شویو کتابونو څخه موخه د پامپیوس تروګس د ورکوشویو کتابونو ټولګه ده چې جستین د هر کتاب محتویات شرحه کړي دي - ژباړونکی

[1] - Menander and Apollodotus

[2] - Plutarch : بشپړ نوم ئـې لوسیوس میستیریوس پلوتارکس Lucius Mestrius Plutarchus دی چې له ۴۶ تر ۱۲۰ ز کال پورې ئـې ژوند کړی او یو یوناني تأریخپوه، تذکره لیکونکی او د مقالو لیکوال وو او د دویم افلاطون په لقب یاد شوی دی. پلوتارک د میننډر خبره د «موریلا» په نامـۀ یوې مقالې کې چې د ارسطویي شاعري ژوند یوه کمیډي ده را اخلي او د باکتریا د پاچا په نامـۀ ئـې یادوي. - ژباړونکی

[3] - De Repub. Ger., p. 821.

[4] - dâgabas or sthûpas : د ژباړونکي یادونه : د پلوتارک دا قصه، پوهاند ولسن د لرغوني آریانا په کتاب کې تحریف شوې بولي. او وايي چې یوازې د بودا له مړینې وروسته د بـېـلابـېـلو ښارونو مانګان د بودا د ایرو، هډوکو او پاتې شویو آثارو پر سر په خپلو منځو کې وران شول خو په پایله کې پرېـکړه وشو چې هر ښار ته دې یوه یوه برخه ورکړل شي تر څو پر سر ئـې ستوپې جوړې کړي.

[5] - Mahâparinibbâna Suttanta VI, 58-62, translated in my 'Buddhist Suttas' (vol. xi of the Sacred Books of the East), pp. 133-135.

تر دې دمه د میننډر دوه ویشت[1] بېلا بېلې ایکۍ موندل شوي دي، په یوهٔ ډول کې چې شمــېــر ئــې ډېــر دی پر خپلو مخونو د میننډر نوم لري او د اتو ایکیو پر مخ د میننډر تمثال ضرب شوی دی. دا ایکۍ په یوې پراخې سیمې کې موندل شوي دي چې په لوېدیز کې تر کابله، په ختیځ کې تر متهورا پورې پراخ ځای کې خپرې شوې دي او یوه ئــې په کشمــېــر کې موندل شوې ده. په زړهٔ پورې لا دا چې موږ په همدوني پراخې جغرافیــې کې د میننډر - میلینډا د خپرو شویو ایکیو تصدیق د (پریپولس مریس ایریترایي[2]) په کتاب کې لرو چې د لیکوال نوم د کتاب پر مخ نـهٔ دی لیکل شوی دی. د همدغـهٔ اثر لیکوال وایي چې[3] د میننډر له مړینې لا ډېــر کلونه وروسته د میننډر ایکیو د اپولاداتس له ایکیو سره یو ځای تر ډېــر اوږدهٔ مهاله پورې د گجرات په سمندري غاړې کې په بریگازه (معاصرو بروڅ) چلند درلود.

د ایکیو پر مخ ضرب شوې نیم مخیزه عمودي مخه – مقطع یا انځور خپلې ځانگړتیاوې لري، دا یو اوږد مخ دی او ځېــره یو ځلاند انځوریز بیان لري، دا ځېره په یو شمــېــر ایکیو کې ډېـــره ځوانـه او په یو شمــېــر نورو کې د پاخـهٔ عمر سړي ځرگندونـه کوي. دا انځوریزه ښوونـه د اټکل له مخې جوتوي چې ددهٔ د سلطنتي قلمرو لمنه ددهٔ د پیاوړي ځواک په شان پراخه وه. ټولې ایکۍ پر خپلو مخونو باندې پر یوهٔ مخ په یوناني الفبا لیکنې او پر بل مخ ئــې د (آریانو - پالي[4]) ژبې د الفبا لیکنې لري. د دهٔ د دوه ویشت ایکیو په منځ کې د یو ویشت ایکیو پر مخ دا لیکنـه لولو : دا لیکنه د ایکیو پر مخ د لیکنو له پرتلې او ټکي په ټکي شرحې وروسته د تر ټولو ښو او د لوستنگ وړ ایکیو له مخې چې ټولې لیکنې یو شان تثبیت شوي دي ولوستل شوه :

بسیلیوس سوتروس میننډرو

او

مهاراج اسه ترادات اسه میننډر اسه

BAS1LEÔS SÔTEROS MENANDROU
and

---

[1] - This number would be greatly increased if the differences of the monograms were allowed for.

[2]- Periplus Maris Erythræi : دا د سرهٔ سمندر د پریپولیس په نامـهٔ هم یاد شوی چې په یوناني لیکل شوی او د روم او مصر له سمندري غاړو څخه تر شمالي افریقا او د هند تر نیمي وچې پورې د سوداگریزو راکړو ورکړو او لارو پر ځرنگوالي خبرې کوي او هر چا چې لیکلی داسې ښکاري چې د دغو سیمو په هکله ئـې پراخ معلومات درلودل. د معاصر تأریخ یو شمــېــر لرغونپوهانو لومړی ددغـهٔ کتاب نـېـټه د دریمې او لومړۍ مخزېـږدېــزې پېړۍ تر منځ اټکل کړې وه خو اوس متفقه باور دا دی چې دا اثر باید په لومړۍ زېــږدېزې پېړۍ کې لیکل شوی وي. - ژباړونکی

[3] - Chapter 47 of Müller's edition

[4]- Ariano-pâli : د آریانو پالي ژبه د گندهارا د تمدن ژبه وه چې لیکدود ئــې خروشتي لیکدود دی او د څارویو د پوستکو پر مخک لیک بنې ئــې په افغانستان کې په ځانگړې ډول د هډې په شا و خوا کې موندل شوې او بیلگې ئــې د افغانستان په ملي لرغونتون کې شته. پوهنوال استاد رسول باوري په دې هکله خورا په زړه پورې څېړنې کړې دي چې د سلام د فرهنگي ټولنې په وبپاڼې کې تر لاسه کېدَی شي. - ژباړونکی

## MAHARAGASA TRADATASA MENANDRASA[1]

ولسن[2] وروستی نوم د (مینــَـد- اسه[3]) په ډول لولي[4]. ولسن ددې ژبې الفبا په ۱۸۴۰ ز کال کې ولیکله، په هغهٔ مهال کې دغه الفبا دومره ښه نـهٔ وه پېـژندل شوې لکه چې نن (د انگریز ژباړونکي مهال ۱۸۹۰ز کال) پېـژندل شوې ده او نـهٔ هم د ایکیو ښې او د لوستنگ وړ بېـلگې دوني ډېـرې تر لاسه شوې وې. له دې کبله په څو ایکیو کې وینو چې د (Mi) توري په روښانـه ډول لوستل کـېږي او دا به یوازینۍ تـېـروتنه وي چې څوک دې د (Me) په بڼې تـېر ووځي، ددې لامل منځنی واول دی چې د ضربـېـــدلو پر مهال لږ څه پلن تللی دی.

د پنځلسو ایکیو پر مخونو کله ئې په یوهٔ مخ او کله ئې پر بل مخ د پالاس[5] انځور ضرب شوی دی. د ایکیو پر بل مخ له دغو انځورونو څخه یو ئـې ضرب شوی دی لکه : یوه د " بریا نښه"، د دانگ وهلو په حال کې یو آس، یو دولفین، یوه ککره (ښایي د کوم رب النوعه نیم مخیزه انځور وي)، یو، دوه کوهانـه لرونکی آس (هغه آس چې دوه (بوکه) شاکړوپي لري)، د فیل یوه چوکه، یو خوک، یوه عرابه او د خرما د ونې یوه څانگه؛ د فیل، د کونگ او غوایي ککره هر یو دوه ځله راغلې ده. دا ټول د ایکۍ د مخې نښانونـه یا اشکال دي. په دغو ایکیو کې ان یوه ئـې هم مشخصاً بودایي ایکۍ نـهٔ ده، کـېدَی شي یوازې د عرابې په انځور په زړهٔ نا زړهٔ ډول د بودایي عرابي دعوی وشي، همدا شان د هغو ایکیو پر مخ چې د خرما د ونې څانگه او یا فیل دی، کـېدَی شي د بودایي سیمو ایکۍ وگڼل شي. له دې کبله دغو اشکالو ته په کتنې دا کولی شو ووایو چې د ایکیو ډېـــرۍ برخه په څرگنده د کفارو ایکۍ دي نـهٔ د بودایانو؛ او سره له دې چې پر دوه وو یا دریو ایکیو کې شک کـېږي ان همدغه شکمنې ایکۍ ښایي بودایي ایکۍ نـــهٔ وي.

مگر یوه ایکۍ د خپلې لیکنې له مخې د نورو ټولو ایکیو  د مخ د لیکنو په پرتلې زښته ډېره کم پیدا ایکۍ ده. دا ایکۍ پر خپل یوهٔ مخ دا لیکنـه لري :

BASILEÔS DIKAIOU MENANDROU,

او په پر بل مخې دا لیکنـه شوې ده[6] :

MAHARAGASA DHARMIKASA MENANDRASA.

.

آیا دلته بودایي دهرما ته د کومې ځانگړې نغوتې تکل په دې هیلې شته چې د عادلو پاچاهانو په منځ کې دې کوم امتیاز ولري ؟ زه گومان نـهٔ کوم چې داسې دې وي. د ایکۍ د  پالاس د انځور لرونکو ایکیو په منځ کې یوه ایکۍ ده چې پر خپل یوهٔ مخ

---

[1] - See Alfred Von Sallet,' Die Nachfolger Alexander's des Grossen in Baktrien und Indien,' Berlin, 1879; and Professor Percy Gardiner's ' Catalogue of the Coins of the Greek and Scythic Kings of Baktria and India,' London, 1886.

[2]- Wilson : دی هماغه نامتو پوهاند اچ اچ ولسن دی چې د لرغوني آریانا کتاب ئـې لیکلی او ما دوه کاله مخکې پښتو ته ژباړلی دی- ژباړونکی

[3] - Minadasa

[4] - In his ' Ariana Antiqua,' p. 283, London, 1841.

[5]- Pallas :  په یوناني اساطیرو کې شپږ نارینه رب النوعه یا خدایگوټي د پالاس په نامـــهٔ یاد شوي دي. او دوه هغه ئـې ښځینه اساطیري الهې دې. یوه ئــې آتنا ده او بله ئــې د تریتن لور ده. دلته د لیکوال موخه هماغه آتنا ده.  په یوناني میتالوژۍ کې آتنا Athena د پالاس آتنا په نامـــهٔ هم یاده شوې ده چې د حکمت او پوهې، د زړورتیا، الهام، تمدن قانون او عدالت الهه گڼل شوې ده.ژباړونکی

[6] - The r is a little doubtful and is written, if at all, after the dh, though intended to be pronounced before the m

په يوناني الفبا ليکنه لري او پنځـه تنه نور يونان - باکتري شاهان هم د خپلو ايکيو پر مخونو همداسي يوشان ليکنه لري. دغه يونان باکتري شاهان دا دي : اګه تکلز، هيليوکلز، آرکيبيس، ستراتو او زيولس[1]. د ايکيو په ټولګي کې همدا شان يوه بله ايکى سته چي پر مخ ئـي د (دهرما[2]) وييکى ضرب شوى دى - همدا وييکى لا تر اوسه په ډاډمنه توګه نـهٔ دى تثبيت شوى - مګر پرخپل مخ په يوناني الفباء د (ساى هرمايوس[3]) نوم لري او د انګـېـرني له مخې کېدَى شي د (لومړي کدفيزس[4] ) [5] له خوا ضرب شوي وي. که د ميننډر په دغې ايکى کې کوم شى د بودايي دين د نښې په توګې وي نو نورې ايکۍ ئـې هم بايد بودايي ايکى وي. خو که په يوې ساده او آساني کتنې موږ د (دهرميک اسه) په هکله يوناني ليکنې په پام کې ونيسو او وئـې ژباړه نو معنى ئـې " عادل، نيک، پرهيزکار[6]" او يا ښه معنى ئـې " منصف[7]" کېږي. که موږ يوازې (د بودايي يا غير بودايي پاچاهانو په هکله) پالي ليکنې په ذهن کې په پام کې ونيسو نو په پالي ژبې کې آيډيل او ښـهٔ پاچا د (دهميکو دهرما - راګا[8] "راجا -ژ") په ستاين نومونو ستايل شوى دى، په دې سره نـهٔ شو کولى ددې اصطلاح او د ايکيو پر مخ د ليکل شويو القابو تر منځ تړاو له پامه وغورځوو، او که لږ تر لږه شېږ يوناني پاچاهان چې يو ئـې ميننډر دى په پام کې ونيسو نو شپږ. واړه سلاطين په کافي اندازې دې ته ليواله دي چې ځانونـه د بودايي دين له ليد لوري سره سم د " عادل" يا "منصف" په هينداريې کې وګوري او دا هغه ځانګړتيا ده چې دوى په خپله غوښتې چې په همدغو اوصافو و پـېژندل شي. کېدى شي ددغـهٔ لقب کارول د هغو رواياتو او دودونو بنسټ وي چې پلوتارک په خپل اثر کې ليکلي دي؛ پلوتارک وايي ميننډر هغه پاچا وو چې په "عدل" کې ئـې لوړ نوم درلود؛ دا د بودايي اغيزو يو څرګند واقعيت دى چې نوموړى ئـې راچار پير کړى وو. خو هـېـڅ داسي لاسوند نــهٔ شته چي تثبيت کړي دى دې بودايي شوى وي.

**لنډيز** - ميننډر - ميليندا يو له هغو يوناني شاهانو څخه وو چې د ستر الکسندر په لاس جوړ شوي يوناني قلمرو، باکتريا کې ئـې يوناني سلطنت په لاس کې وو. په ډاډ ويلاى شو چې ميننډر په دغو ټولو شاهانو کې يو له زښتو مهمو شاهانو او ښايي

---

[1] -Agathocles, Heliokles, Archebios, Strato, and Zoilos

[2] - Dharma

[3] - Sy-Hermaios

[4] - Kadphises I

[5]- د پښتو ژباړونکي يادونه : د هغـهٔ مهال د هـېــواد په تأريخ کې دوه تنه د کدفيزس په نامـــهٔ تېر شوي دي. لومړى ئـې کجولا کدفيزس دى چې له ۳۰ تر ۸۰ م.ز کال پورې ئـې د کوشاني سترواکى واګې په لاس کې وې. نوموړي په لومړي مـخـزېـږدېـــزې پېړۍ کې لومړنى کوشاني ستروا‌ک شو. د رباطک د ډبر- ليکې پر بنسټ کجولا کذفيزس د کوشاني کورنۍ د لوى ستروا‌ک کنشکا نيکـهٔ وو. ( دکندهارد پنجوايي ولسوالۍ دزلخان، ماهي او ناخوني کليو ته نـېـږدې د زاړهٔ ښارد لکي غرهٔ په سويل کي يوغار او يوه تنګاچه (صفه) سته چي خلک ئې د کجولاغار بولي اوعلامه رشاد ئې له کجولاکدفيزس سره تړلى نوم ګڼي. (وګ : کندهارد تاريخ په اوږدو کښې، ۴ مخ، د پوهاند رشاله مقاله). دوهم : لوى ستر واک ويما کدفيزس Vima Kadphises دى چې د ۹۰ - ۱۰۰ مخ زېـږدېـز کال په شاو خوا کې ئـې سلطنت کړى دى. نوموړى هم د کوشاني ستروا‌کى ستروا‌ک وو. د رباطک د ډبر - ليکي پر بنسټ ويما کدفيزس د ويما تکتو زوى او د کنشکا پلار وو. د ويما د ستروا‌کى لمنه پراخه وه چې معاصر افغانستان او پاکستان او د هند ټولې شمال – لوېـدېـزې برخې ئـې تر ولکې لاندې وې. همدى وو چې د سرو زرو مسکوکات ئـې رامنځته کړل خو د سپينو زرو او مسو ايکى ئـــې هم درلودلې. ژباړونکى

[6] -'the Righteous,'

[7] -'the Just.'

[8] - dhammiko dhamma-râga

تر ټولو مهم پاچا وو. نوموړي، د يوناني سلطنت لاسونه تر خپل بل هر سلف لا اوږدهٔ وغځول او خپله سلطنتي لمنهٔ ئې په هندوستان کې ټينګه کړه، ټول تر لاسه شوي آثار ددغهٔ اثر د ليکوال هغه نظر تصديقوي چې دهٔ د لومړي کتاب په نهمې پاڼې[1] کې ورکړی دی او ددهٔ پر عدل، ځواک، وړتيا، مال او شتمنۍ ئې ټينګار کړی دی. مينندر بايد د دويمې مخزيږدېزې پېړۍ په وروستۍ برخې کې تر ډېر اوږد مهاله پورې واکمني چلولي وي؛ کېدَی شي له ۱۴۰ م.ز کاله نيولې تر ۱۱۵ ان تر ۱۱۰ م.ز کال پورې ئې د سلطنت واګې په لاس کې وې[2]. د هېڅ يونان - باکتري پاچا د شهرت سيطره لوېدېز لور ته دومره پراخه نهٔ وه لکه چې د مينندر وه، مينندر يوازينی يونان - باکتري پاچا دی چې په هند کې ئې تلپاتې نوم پرې ايښی دی. زموږ د دې اثر ليکوال دا هم پسې په اتفاقي ډول زياتوي[3] چې نوموړی د الاساندې (الکسندريې) په (کالا سي[4]) کې زېږېدلی دی؛ د انګېرنې له مخې دا نوم ښايي په اندس کې د کوم ټاپو نوم وي[5]. او هماغسې چې پلورتارک په خپل اثر کې وايي : مينندر د ګنګا په دَرې کې چې د هند پر وړاندې ئې پوځي کمپاين کړی وو، په کېږدۍ کې مړ شوی دی.

[ په دې هکله دا ټکی د يادونې وړ دی چې د کالاسي د (ګامه[6]) د ښار نوم بل هېڅ چېرې نهٔ دی ياد شوی. اوس د باکتري شاهانو د بې شمېرو ايکيو په منځ کې يوه ايکۍ شته او همدا يوازينۍ ايکۍ پر خپل مخ يوه ليکنه لري چې د پاچا

---

1 - I, 9

2 - See the chronological table in the Introduction to Professor Gardner's work, quoted below

3 - See the translation below of III, 7, 5. 3

4 - Kalasi in Alasanda ( = Alexandria)

5- د کالاسي نوم شرحې ته اړتيا لري. په پالي او سيمهالي ژبو کې د سريلانکايي شاهانو يو تأريخي کتاب دی چې مها وم سا Mahâwamsâ نوميږي او په بودايي کتابونو کې يو مهم کتاب ګڼل کېږي. دا کتاب د بودا له ژونده نيولې بيا د نورو بودايي شيخانو په اړوند شرحې لري. مهاومسا وايي چې کالاسي يو يوناني ښار وو. هلته د بودايانو لويه ټولنه وه. مهاومسا په xxix.40 کې وايي کله چې دوټاګامني Dutthagamani د مها تووپې Maha Thupa يا ستر بودايي معبد بنسټ ايښودهٔ يوناکه (مها دهرما راک کهيتا) Dhammarakkhita له الاساندې (الکسندريې ) څخه انورا دا پورې Anuradhapura ته له درې زور مانکانو سره راغی. زموږ په همدغهٔ کتاب ميليندا پنا کې ئې الاسانده د چين، بنارس او ګندهارا تر منځ يو ګنګ ځای ښودلی دی. د همدغهٔ کتاب په بل ځای کې ئې ويلي چې الاسانده له ساګلې څخه دوسوه ليګه لېرې ده. يو ليګ د اوسمهال پنځمه نيم کيلومتره کېږي چې دوه سوه ليګه ۱۱۲۰ کيلو متره کېږي او د اټکل له مخې د سيالکوټ او کاپيسا تر منځ واټن ښايي همدومره وي. په لرغونو کتابونو کې منل شوې چې الاسانده د باکتري سلطنت يوه برخه وه. جغرافيه پوهان د کالاسي په نامهٔ نهٔ دي پوه شوي خو د قفقاز له الکسندريې سره بلد دي چې د افغانستان بګرام ئې منلی دی. زما په اند کالاسي بايد کاپيسا وي. که کاپيسا وي نو د ګلګت د کالاش قوم هم خپل نوم بايد له کالاسي څخه اخيستی وي. - ژباړونکی

6 - (gâma) of Kalasi : د ګام او ګامه نوم افغانانو ته نوی نهٔ دی. موږ په نورستان کې دوه ځايونه لرو: يو په شمالي عرض البلد "46 '34 °35 N او ختيځ طول البلد "26 '16 °71 E د ګامه د غرهٔ په نامهٔ يو غر دی چې د سمندر له سطحې څخه ۴۲۱۵ متره لوړ دی او بل د اترې ګامه په نامهٔ نامهٔ سيند سته. په کونړ کې د شني ګام په نامهٔ د استوګنې سيمه، په ننګرهار کې د پچير او آګام په نامهٔ يوه ولسوالي او د آګام تنګی، د ديورند د کرښې پر سر د آګام غاښی چې د آګني غاښی ئې هم بولي او په ننګرهار کې د آګام بل تنګی سته – ژباړونکی

نوم نـــۀ بلکه د يوۀ ښار د نامـــۀ ليکنـه ده، ددغـۀ ښار نوم (کريسي)/ کاريسي) لوستل کېږي[1]. له دې چې دا ايکې په ۱۸۰ م. ز کال کې د يوکره تايدس له پلوه ضرب شوې او ښايي نومورې لومړنی پاچا وي چې د اندس پر غاړې سيمې ئــې لاندې کړې وې، نو (نومورې پاچا غوښتي د ايکې پر مخ - ژ) دوه نومونـه ضرب کړي چې يو ئــې په پالي بنې کې ( يا په بلې وينا ډېــره شوني ښکاري چې زموږ د همدې اثر د ليکوال په ژبې) وي او بله بڼه ئــې په سيمه ييزې ژبې وي او دواړه نومونه سره يو دي؛ او بله دا چې دا ايکې په دې وياړ ضرب شوې دي چې يونانيانو ځانونـه تر اندسه ورسول. که خبره همدا سي وي نو دوی د الاساندې (الکساندرېې) نوم بايد هغـۀ ټاپو ته ورکړی وي چې همدا ښار ئــې وربانديې ودان کړی دی، او ښکاري چې نـــۀ يوازې دوی د ښار بنسټ کېښــېښود بلکه کله چې دوی دا ځای ونيو، په خپله يو له مهمو ځايونو څخه وو.[2]

---

[1]- دلته به زه د برتانوي لرغونپوهانو يو شمــېـر شرحې وړاندې کړم چې د کالاسي د ښار په پېـژندنې کې شوي دي". لومړی :- باکتريا د هيرې شوې ستروا‌کې تأريخ Bactria, the History of a Forgotten Empire ليکوال ئــې Hugh George Rawlinson دی. دا کتاب په ۱۹۱۲ ز کال کې په لندن کې چاپ شوی دی. ددغـۀ کتاب په ۱۵۸ پاڼې کې چې د لومړي اندکس پيل دی ليکوال وايي : ښاغلي گاردنر يوه ايکې ومونده چې د ايکيو د کتالوگ په ۱۹ پاڼې کې ښودل شوې ده. دې ايکې د ايکې پېـژندونکو په منځ کې يوه غوغا جوړه کړه. ستونزه د ايکې پر مخ د ليکنې پر سر وه. ښاغلي گاردنر او نورو مخکنيو ايکې پېـژندونکو دا ليکنه داسې ولوستله : کاريسي نگره ډېوَتا Karisiye Nagara Devata يعنی د کريسي / کاريسي د ښار خدای. د کريسي د ښار د نامـــۀ د پېـژندنې لپاره نبوغ په کار وو. وان گستشميد Van Gustschmid دا ښار په آريا کې د چاريس Charis in Aria په نامـــۀ پېـژني. وگورئ د بريتانيکا انسايکلوپيديا لومړی ټوک، شمـېـر اتلسم، ۵۹۱ پاڼه لمن ليک، لومړی کالم. د ميليندا د کتاب ژباړونکی رايس ديوس ئــې د فيلالوژيکي احتمالاتو په پام کې نيولو سره د اندس په درې کې ښيي او وايي چې دا د مينندر- ميليندا د زوکړې ځای دی. مگر پوهاند رېسن وايي چې دا کاريسي نه بلکه کاويسي Kavisiye ده . د پوهاند رېسن دا پېـژندنه ستونزه بيخي هواروي. همدا کاويسي په حقيقت کې کاپيسا ده چې د افغانستان په شمال ختيځ کې د کابل د سيند په شمال کې يو ځای دی. دا نوم په څرگنده د کای- پين Ki- Pin له نامـــۀ سره سمون خوري، سره له دې چې کای - پين د کشمــېـر د نامـــۀ په شان لوستل کېږي مگر کاپيسا ئې ډاډمن نوم دی چې په چينايي ژبې کې ئــې کاي- پين ليکلې ده. دا ايکې يوازې په دې وياړ ضرب شوې وه چې د پاروپاميزس په سويل کې د يوکره تايدس د سوبې لمانځنه وشي. او دا هم کــېـدی شي چې نومورې خپله بريا پر ديميتريوس ښودلې وي او د خلکو په منځ کې ئــې د چلند لپاره دود کړې وي". دوهم : بل کتاب دا نومـېـږي : په ختيځ کې هيلينستي استوگنځايونه : له ارمينيا تر ميسوپوتيميا، تر باکتريا او تر هندوستانه . The Hellenistic Settlements in the East from Armenia and Mesopotamian to Bactria and India او ليکوال ئــې گتزل م. کوهن Getzel M. Cohen دی. دا کتاب د کاليفورنيا پوهنتون په ۲۰۱۳ ز کال کې چاپ کړی دی. د کتاب په ۲۰۶ پاڼې کې لولو :

برودرسن ددغـۀ ځای (کالاسي) د پــېـژندنې لپاره درې امکانات ورکوي : لومړی : کاريسي په آريا کې. دويم : چاريس په هندوستان کې او دريم : چارکس په ماد کې. برودرسن په آريا کې د کاريسي دا خبره د يوکره تايدس د موندل شوې ايکې له مخې کوي او د برودرسن دا خبره د جنرال کنينگهم د ۱۸۶۹ ز کال د جغرافيې د کتاب له ۲۲۵ پاڼې سره سمون خوري. .... له دې کبله د ايکې پر مخ د کاريسي نوم په پاروپاميزس کې د کاپيسا نوم دی." په دې اړوند ما نور کتابونه هم وپلټل چې ټول په يوۀ غږ همدا د کاريسي نوم د کاپيسا له نامـــۀ سره برابر بولي. لوستونکي دې د الاسای دغه جغرافيوي نومونه په ياد ولري چې د الکساندريې له نامـۀ سره تړاو لري او زما په باور چې تر اوسه ئــې هماغـۀ پالي بڼه ساتلې ده : ۱- په کاپيسا کې په شمالي عرض البلد 34° 55' 38 او ختيځ طول البلد 69° 48' 41 د الاسای دره، ۲- په کاپيسا کې په شمالي عرض البلد 34° 54' 46 او ختيځ طول البلد 69° 44' 12 د الاسای دره. ۳- په غزني کې په شمالي عرض البلد 33° 59' 17 او ختيځ طول البلد 67° 51' 17 د کوه الا سای پــۀ نامـــۀ غر، ۴- په غزني کې په شمالي عرض البلد 33° 58' 47 او ختيځ طول البلد 67° 52' 35 د کوتل الاسای پــۀ نامـــۀ د الاسای غاښی، ۵- په کاپيسا کې په شمالي عرض البلد 34° 53' 47 او ختيځ طول البلد 69° 43' 13 د الاسای په نامـــۀ سيمه. همدا شان ما ته په يوې نا ډاډمنې انگــېـرنې د الوزيو قومي نوم د الاسای او الوسي د نامـــۀ مغفن ښکاري - ژباړونکی

[2]- يادونه. په قوسينو کې ويل شوی پاراگراف د دې کتاب د انگريزي ژباړونکي دي - ژباړونکی

له دې پورته که بل هر څه وویل شي، انګېـر او ګومان دی. کله چې ددې اثر لیکوال وایي چې میلینډا د بودیزم[1] دین ته واوښت ښایي موخه ئې له موجودو دودونو او باورونو سره د تړاو شرحه وي او یا ئـې دا خبره له خپله ځانه د خپلې موخې د تثبیت لپاره کړې ده . په دې کیسې کې هـېـڅ شی اصلاً نـهٔ ناشوني او نـهٔ غیر محتمل دي. موږ پوهېږو چې باکتري شاهان او وګړي یو وخت له یوې مخې بودایان کېږي. مګر د کتاب په یوې برخې کې د ویل شوی عبارت مخه د شک پر لور خلاصه ده. موږ به د همدغـهٔ عبارت پر وړاندې منفي شواهد په دې ډول وړاندې کړوچې د مینندر د هـېـڅ ایکی پر مخ داسې پریکنده نښه نـهٔ ښکاري چې بودایي دین ته د هغـهٔ پر اوښتلو باندې دلالت او ټینګار وکړي. او همدا عبارت لا نور هم وړاندې ځي. دا عبارت وایي چې مینندر خپل سلطنت خپل زوی ته پرېـښود، بودایي دین قانون ته واوښت او ارهټ توب ئـې تر لاسه کړ. د همدې اثر د سیمهالي بڼې نسخه یوه حاشیوي یادونـه کوي او وایي چې دغه ټول عبارت له سیام څخه د راوړل شوې نسخې له مخې اخیستل شوی دی. له همدې کبله ده چې ښاغلی ترنکنر په دې باور دی چې دا عبارت په یوه جعلي متمم پورې اړه لري.[2] دا به یوې خوا ته پرېـږدو چې دا خبره واقعیت لري که ئـې نـهٔ لري خو دا زموږ د اثر د لیکوال سبک دی، او کتاب ته یوه مناسبه پایله راباسي. خو دا نـهٔ باور خبره ده چې په داسې ادبي وړتیا سمبال یو لیکوال، چې وړتیا ئـې په ټول کتاب کې څرګنده ده، د یوهٔ مقنعه جاج لپاره دې د جاج اخیستونکو کلماتو له یادونې پرته خپل کتاب په لوی لاس د پاراګراف په منځ کې پای ته ورسوي. مع ذالک، د سیام نسخه چې د سایلون د نسخې په پرتلې لرغونی قرائت لري ښایي د سایلون تر نسخې ښه وي او کـېدَی شي د کتاب وروستی پاڼه هماغلته ورکه شوې وي. که تر بحث لاندې پاراګراف یوې خوا ته کـښېـږدو، کتاب باید په پای کې یو جاج یا پایلنوی ولري؛ که داسې نـهٔ وي نو موږ ته به د پایلې د پلونو د خاپ موندل ناشوني وي. ان که زموږ د اثر لیکوال په رښتیا لیکلي وي چې مینندر (بهیک خو/ بهیک ښو[3]) او ارهټ[4] شو، نو دا په خپله د حقیقت یوه ضعیفه برخه ده، مګر دا چې د لیکوال موخه نـهٔ یوازې دا وي چې خبره به ئـې څوک په تحت اللفظي ډول ومني بلکه د پـېـښـو له رامنځته کـېـدا (یعني مینندر له ارهت او بهیکښو کـېـدلو - ژ) وروسته ئـې لیکلي او په لوی لاس ئـې ریکارډ کړې وي.

د پورتنی نظریې په پام کې لرلو سره موږ د اخلاقي تعلیماتو او مذهبي جدلیاتو داسې یوهٔ کتاب ته باید د تأریخي افسانې په سترګو وګورو. که دا خبره صحیح وخـېـږي نو د دوني ډېـرو معاصرو متناقضو ناقدینو په شتون کې به هـېـڅوک دوني هک پک نـهٔ شي لکه په خپله لیکوال چې ددهٔ د اخلاقي استدلالونو د روښانولو په لړ کې به څوک ددهٔ تأریخي بیان دومره

[1] -See p. 420 of the Pâli text
[2] -'Introduction,' pp. v, vi.
[3] - Bhikkhu : ددغـهٔ نامـهٔ وروستی برخه په پالي او سانسکریت کې د کندهاری لهجې له تلفظ سره سم په (ش) یا د پښتو په (ښ) ویلو سره سم ښکاري چې ختیځه پښتو ئـې په «خ» وایي. بهیک ښو په لغت کې د «ګدا» په معنی ده او هغـهٔ چا ته ویل کېږي چې په صدقاتو باندې ژوند کوي. بودا سیدهارتا هم چې یو شهزادګی وو خپل ښه ژوند ئـې پرېـښود او د بودایي ژوندانـهٔ د ترسره کولو لپاره ئـې په صدقاتو ژوند وکړ. څوک چې بهیک ښو کېږي د یوهٔ بل بودایي مانک تر سیوري لاندې په دې ډول ژوند کوي چې د خپل ښـهٔ ژوند ټول مادي شیان شا ته پرېـږدي او د مانک تر لاس لاندې څلورویشت ساعته زده کونکی کېږي. دا زده کونکي په ډله ډله د مانک تر سیوري لاندې کلي په کلي ګرځي او یوازې په باراني موسم کې په یوه ځای کې دمه کېږي. - ژباړونکی
[4] - Arahat

جدي ونيسي. دا خبره به واقعيت ولري چې د اثر د ليکلو پر مهال دې ليکوال خپلو مخاطبينو ته د داسې څه په ويلو هېڅ پېر نـهٔ وي ګټلی شوی چې په رښتيا ناشوني ول. ډېـــره شوني ښکاري چې ددې اثر ليکوال دا اثر په شمال لويديز هندوستان کې ليکلی وي، که دا اثر ئـې همدلته ليکلی وي نو دا په داسې وخت کې ليکل شوی چې د ميننډر د واکمنۍ د مهال د رښتونو واقعيتونو خاطرات کرار کرار د خلکو له حافظو تښتېدل- هماغسې چې د ليکوال د ريکارډ شوې مرکې د پای له مخې انګــېـرلی شو ښايي ليکوال پرته له دې چې د کومې تأريخي پـــېـــښې د شرحې موخه ولري د ميننډر له مړينې څو نسله وروسته ميننډر ئـې د بوديزم دين ته را اړولی وي.

دا خبره موږ د خپلې وراشې بل ټکي ته راګرځوي.

---

مخکې مو وويل چې دا اثر بايد د بودهاګهوسه له مهال ډېــر وړاندې او د ميننډر له مړينې وروسته ليکل شوی وي. آيا کېدی شي ددغو نېټو په پرتلې لا دقيقه نېټـه وټاکو؟ د ناګه سينا داستان موږ ته د هغه د پلار نوم په لاس راکوي چې سونوټاره[1] نومېږي، د هغه استادان دا دی :- روهـنـه[2]، اسه ګوټا[3] د وتنيا[4] د عبادت ځلي[5] استوګن، او پاټلي پوټې[6] ته نـېږدې د آشوکا آرامې[7] دهما - رَکهيته [8]، همدا شان د يوه بل استاد يادونه هم کـېږي چې آيوپاله[9] نومېږي او سګالي[10] ته نـېږدې د ( سنکهی يه / ښنښييه[11] ) په عبادت ځلي کې ئـې استوګنـه درلودله. په هـېـڅ بودايي نسخې کې که په پالي ليکل شوي که په سانسکريت له پورتنيو نومونـه څخه د هـېـڅ يوهٔ شخص يا د هـېـڅ يوهٔ ځای يادونـه نــهٔ ده شوې. د (ديويا

---

[1] - Sonuttara

[2] - Rohana

[3] - Assagutta

[4] - Vattaniya

[5] - hermitage : دا انګليسي وييکی په پښتو کې له ځلې پرته بله معنی نه درلودله. له ځلي څخه موخه د يوهٔ زاهد د عبادت ځای دی چې ګوښي ګوټ لـېرې پروت وي. په دري - فارسي کې ورته «ګوشـهٔ عزلت» ويلی شو. همدا شان موږ په دري - فارسي کې ورته بله نـېږدې معنی لرو چې «چله خانه» ورته وايي او ښايي زموږ د پښتو ځلی د همدغه ځلي يا چله خانې مفغن وي خو ما دلته د عبادت ځلي په ډول منلی دی. - په سانسکريت او پالي کې ورته سيناسنا Senâsana وايي.- ژباړونکی

[6] - Pâtaliputta : اوسنی نوم ئــې لنډ شوی او پوټنـه ئــې بولي چې د ګنګا د سيند پر غاړې په شمالي هندوستان کې د بيهار د ايالت پلازمېنـه ده. دا ښار د مايا د سترواکۍ او د ګوپټا د سلاطينو پر مهال يو پرتمين شهنشاهي ښار وو. دا ښار د وخت په تـېرېدلو له منځه تللی وو خو په هندوستان کې د افغان پښتني شاهانو د واکمنۍ پر مهال له سره ورغول شو او بيا مغولو يو څه جوړ کړ. - ژباړونکی

[7] - Asoka Ãrâma

[8] - Dhammarakkhita

[9] - Ãyupâla

[10] -Sâgala

[11] -Sañkheyya

وَدوانې[1]) په ۳۵۱ پاڼې کې په هغهٔ نقل قول کې چې د (اسوه ګوپتا[2]) نوم یاد شوی چې (د نامهٔ له ورته والي پرته) زموږ له دغهٔ (اسه ګوتا) سره هېڅ ګډ وجوهات نهٔ لري؛ بل د دریمې انګوتړې په ۶۶ پاڼې[3] کې یاد شوی روهنه زموږ له یاد شوي روهنه څخه ډېر توپیر لري او داسې ادنی دلیل هم نهٔ شته چې په چینایي، تبتي او تایلندي ادبیاتو[4] او د جین په نوملړ[5] کې یاد شوی ناګ آرګونا/ ارجونا[6] دې د ناګه سینا[7] د نامهٔ بله بڼه وي. دغهٔ نامهٔ ته نېږدې بل یاد شوی بودایي عالم هغه څوک دی چې د بودایي مکتب مهایانې بنسټ ئې کښېښود[8]. زموږ ناګه سینا له سره تر پایه د لا لرغونو بودایي لاربنوونو د قرائت استازیتوب کوي. که د دواړو نومونو تر منځ کوم تړاو شتون ولري - نهٔ په دې لا اقل فکر چې د دواړو

[1] - Divyâvadâna : دیویا ودانه یا جنتي داستانونه د بودایي داستانونو یوه ګل - ټولګه (منتخبات) ده چې نېټه ئې دویمه مخزېږدېزه پېړۍ ښودل شوې ده. دا ټولګه ۳۸ داستانونه لري یو ئې د اشوکه ودانه Aśokavadâna په نامهٔ یادېږي چې ژباړه ئې د پاچا آشوکا میراث کېږي. ژباړونکی

[2] - Aśvagupta : د لرغوني آریانا په کتاب کې ما ته د الکسندر د لښکري یون یوه برخه په یاد راځي چې پر اورنوس له بریده مخکې الکسندر ته دوه سیمه ییز شیخان پناه وړي او له الکسندر سره د سیمې د تللو لارو او جغرافیې په هکله مرسته کوي. دغه سیمه ییز شیخان یو ئې کوفائیوس او بل ئې اسوه ګوپتا نومېدهٔ. کوفائیوس ښایي د کوفني معني وښندي او کوفن هماغه کابل دی چې یونانیانو کوفن بللی دی او ډېره شوني ښکاري چې د الکسندر پېښ لیک لیکونکو همدا کوفني په یوناني کې کوفائیوس کړی وي. اوبل اسه ګټس دی چې ښایي همدغه اسوه ګوپتا Aśvagupta وي. د بودیزم یو له لومړنیو فکري مکتبونو څخه یو هم سرواستي واده Sarvâstivâda نومېږي. دا فکري مکتب په دوه وو برخو ویشل شوی دی. لومړی مکتب په دې باور دی : هغوی چې له حالاتو په خپلواکه توګه له مرستې آزادېږي آسه مایا - ویم کوټه Asamaya-vimkuta نومېږي او دویم فکري مکتب سه مایا ویم کوټا samaya-vimkuta: هغوی چې آزادي ئې نابېره او په پېښو پورې تړلې ده. دلته له آزادۍ څخه مفهوم له دنیوي غوښتنو څخه پریکون او نیروانا ته د رسېدلو په معنی ده. زما موخه له دې خبرې څخه د آسه مایا د نامهٔ په اړه ده چې موږ د کابل په ښار کې د آسمایي په نامهٔ غر لرو چې اوس ئې خلک د تأریخي ارزښت په نهٔ پوهېدلو د بې مفهومه نوم د تلویزیون غرهٔ په نامهٔ یادوي. که څه هم د علامه رشاد بابا د سیمو د جغرافیې په کتاب کې چې د هغهٔ د شفاهي خبرو یوه ټولګه ده د آسمایي د غرهٔ د تسمیوي وجهې په نامهٔ د اټکل له مخې ویل شوي چې آسمایي کېدی شي د آشا په اوستا کې د زرتشتي عقایدو مهم عنصر وي چې د رښتیا معنی ښندي اود درواغو ضد یعنی دُرج ده. او یا د آشا په نامهٔ کومه هندي راهبه وه چې د غرهٔ په سر ئې پناه ځای نیولی وو او یوه خور ئې درلودله د چندا په نامهٔ چې د همدغهٔ غرهٔ مخامخ موږ چنداول لرو او چندا ځانته لنګر درلود چې خلکو ته به ئې ډوډۍ ورکوله ځکه «ول» د مجومې یا غوري په معنی ده. خو زما باور همدا د بودایي مکتب نوم دی چې آسه مایا نومېږي. د آسمایي غرهٔ ته ګورو نانک هم راغلی وو او د غرهٔ پر سر کې ئې یوه موده د عباداتو لپاره تېره کړې وه. ګورو نانک په هندوییزو، اسلام او بودیزم کې ښه پوه سړی وو. د ګورو په اړوند د سیکهانو په روایاتو کې هم دا خبره یاده شوې ده. قضاوت تاسو ته پرېږدم - ژباړونکی

[3] - Rohana of Aňguttara, III, 66

[4] - Chinese and Tibetan Buddhist literatures , See the passages quoted by Dr. Wenzel in the 'Journal of the Pali Text Society' for 1886, pp. 1-4.

[5] - Jain lists, 'See Professor Weber in the 'Handschriftenverzeichniss der königlichen Bibliothek in Berlin,' vol. v, part 2, p. 365.

[6] - Nâgârguna

[7] -Nâgasena

[8] - Mahâyâna : مهایانه یا لویه عرابه د بودیزم یوه لویه څانګه ده او په شته وو بودایي فکري مکتوبونو کې دا ډله تر نورو ډېر پیروان لري. یو شمېر تأریخپوهان وایي چې ددې فکري مکتب بنسټ ایښودونکی مها سنګهیکا Mahāsaṅghika نومېږي چې د لومړۍ مخزېږدېزې پېړۍ په لومړیو کې ئې دا مکتب رامنځته کړ خو یو شمېر بودایي مفسرین ورسره مخالفت لري چې دلته ئې شرحه اړینه نهٔ ده. - ژباړونکی

د پېژندني لپاره دواړه په خپلو دوکتورینو کې له یو بل سره بنسټیز تضاد لري - بلکه د ناگ ارگونا د نامۀ د توپیر لپاره باید د ناگه سینا نوم اختراع شوی وي. ان که ددې باور لپاره کوم دلیل شتون ولري چې دا خبره همداسې سمه ده بیا هم له موږ سره دوني مرسته نۀ کوي، ځکه هماغومره چې زموږ د " میلینډا د پوښتنو" د اثر د لیکوال د ژوندانۀ نېټه بحث و جدل ته معروضه ده په خپله د ناگ ارگونا د ژوندانۀ نېټه متنازعه ده.[1]

د ناگه سینا په هکله دلته باید دوه ټکي یاد کړم، برونوف[2] وایي چې د ناگه سینا یوه نظریه (ابهي دهرما کوسه ویاکهیا[3]) کې په تفصیل سره سپړل شوې ده؛ او بل ښاغلی شیفنر[4] د یوه تبتي اثر بو- ستون[5] له مخې نقل قول اخلي چې د بودا له مړینې ۱۳۷ کاله وروسته د تیرا ناگه سینا[6] تر مشرۍ لاندې په بودیزم کې یو تشعب رامنځته شو. دا به زښته ډېره په زړه پورې وي چې د برونوف په نقل کې یاد شوی ناگه سینا دې همدغه ناگه سینا وي چې موږ ئې په هکله خبرې کوو. که د ناگه سینا د نامۀ په اعادې کې د شیفنر خبره چې په تبتي نسخې کې ئې موندلې سمه وي او نسخه ئې د ډاډ وړ وي نو دا امکان شته چې دی به هماغه ناگه سینا وي چې رژېدلې خاطرات ئې د هېرېدلو په حال کې ول او زموږ ددې اثر لیکوال ئې دې ته هڅولي چې همدغه ناگه سینا د میلینډا پوښتنو ته د بنسټیز ځواب ویوونکي په توگې ومني.

همدا شان (د جرمن ښار - ژ) لیدن څخه پوهاند کِرن – چې وایي بودا په خپله لمر او ډېرې بنسټیز مخکښ مریدان ئې ستوري دي – په دې باور دی چې زموږ ناگه سینا نۀ یوازې یو تأریخي شخص دی بلکه د بودایي شیوخو په منځ کې

[1] - په دې هکله د ډاکټر ونځل Dr. Wenzel, loc. Cit د ډاکټر برجس Dr. Burgess د «سویلي هندوستان لپاره د لرغونپېژندني له راپور سره» ('Archaeological Reports for Southern India,' vol. i, pp. 5-9) پرتله کړئ. ډاکټر برجس فکر کوي چې ددۀ مرینه په پیاوړي گومان د دوسوه ام ز کال په شا و خوا کې ده. د ناگ ارجونه Nâgârguna او ناگه سینا د نومونو د توپیر پېژندنه په خپلواکه توگه جگړن بیرد Major Bird د ۱۸۴۴ ز کال د اکتوبر په میاشت کې د رایل ایشیاتیک سوسایتی د بمبئي څانگې لپاره Journal of the Bombay Branch of the Royal Asiatic Society کړې ده (جگړن بیرد پسې ریو. آر سپینس هاردي Rev. R. Spence Hardy د بودیزم د لارښود Manual of Buddhism د کتاب په ۵۱۷ پاڼې کې کړې چې په ۱۸۶۰ ز کال خپور شو) او ورپسې بنفي Benfey په خپلې مقالې 'Indien' in Ersch and Gruber's Encyclopedia کې کړی؛ نوموړي د برونوف د کتاب د سریزې له ۵۷۰ پاڼې څخه اخځ اخیستی چې په ۱۸۴۴ز کال خپور شوی وو. لیکوال

[2] - Burnouf Loc. cit

[3] - Abhidharma Kosa Vyâkhyâ

[4] - Schiefner, Note to his translation of Târanâtha, p. 298

[5] - Bu-ston : بشپړ نوم ئې درب بوستن رینچن Drub Buston Rinchen دی چې له ۱۲۹۰ تر ۱۳۶۴ز کال پورې ئې په تبت کې ژوند کړی دی. نوموړی د بودیزم د دین څوارلسمې زېږدېزې پېړۍ یو دیني شیخ او مفسر وو. هغۀ د بودایي دین څه دپاسه څلورنیم زره بودایي تأریخي او فلسفي آثار راټول او په منطقي او له یو بل سره د تړلو لاسوندونو په ډول ئې چاپ کړل چې د څېړونکو لپاره یوه ښه سرچینه ده. دۀ په هندوستان او تبت کې د بودیزم د تأریخ کتاب هم ولیکۀ. - ژباړونکی

[6] - Thera Nâgasena

هېڅکه په دغۀ نامۀ څوک نۀ ول؛ او همدا ناگه سينا هماغه پتنجالي[1] دی چې د يوگا د فلسفې يو فيلسوف وو او دلته ئې په بل نامۀ تظاهر موندلی دی. که دا خبره ټوکه نۀ وي نو دا به د لنډ باورۍ/ ژر باورۍ يوه عجيبه ټوټه وي.

ددې خبرې په ملاتړ چې يوازينی دليل د چا خبره وړاندې شوی دا دی چې پتنجالي د (ناگسه[2]) او (فنين[3]) القاب هم درلودل. پتنجالي هغه هندو وو چې په روح – باوري يا انيمستي[4] عقيدې ئې گروهنه درلوده، حال دا چې د ناگه سينا خولې ته د ځواب په بنې ټول ورغورځول شوي نظريات له سره تر پايه بودايي او دغير فرديت – باورونه دي، نو له دې کبله نۀ د نومونو د تشابه چانس دلته د پام وړ دی بلکه له يوې خوا ئې نوم او له بلې خوا ئې القاب د ناگه سينا له نامۀ سره کوم انگېرونکی سمون نۀ خوري. دا کټ مټ همغې خبرې ته ورته ده چې څوک دې په هوښيار احساس جان ستورات ميل له دين ميلمن[5] سره په پرتلې ووايي چې دواړه د يوۀ سړي نومونه دي.

مگر دا خبره په لوی لاس په دې جوړه شوې تر څو د بودايانو پر ضد د هغو تورونو ملا پرې وتړل شي چې گڼې بودايانو په دروا غو د هندوستان هر نامتو سړی خپل ځان ته اختصاص شوی سړی گڼلی دی[6]. ظاهراً دا هره هغه ځته ده چې د بودايانو پوستکي ورباندې باسي. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې ددغۀ ويش او اختصاص رښتونی حق د چا دی او څوک ئې کوي؟ بودايان که پوهاند کرن؟

---

له دې کبله داسې ښکاري چې زموږ ددې اثر د ليکوال له پلوه د يادو شويو کسانو او ځايونو نومونه هغه نومونه دي چې ښايي دۀ په خپله پنځولي وي[7].

---

[1] - Patañgali يا Patañjâli په سانسکريت کې पतञ्जलि او په فارسي کې پاتانجالي ليکل شوی چې پتنجالي ئې سمه غږېزه بڼه ده. دا يو سانسکريتي نوم دی. د سانسکريت يو شمېر آثار په همدغۀ نامۀ څو تنو ته منسوب شوي دي. د پتنجالي د ژوند د نېټې په هکله ټول پوهان په يوې خولې نۀ دي دوی ئې د ژوند کلونه د ۵۰۰ او ۲۰۰ مخزېږدېزو پېړېو تر منځ اټکلوي. دی يو فيلسوف او د يوگاسوترا ليکونکی دی. هندي مفسرين په دغۀ نامۀ درې تنه مشاهير اټکلوي يو هغه پتنجالي دی چې د پانيني پر نامتو گرامر اشتاديا باندې ئې تقريظ وليکۀ او يوگا سوترا ئې تأليف کړه، دويم هغه پتنجالي دی چې نيدانا سوتراوې ئې راټولې کړي دي او دريم ئې د سمکهيا فيلسوف وو. خو له بله اړخه هندي تأريخپوهان هم په خپلو منځو کې متفق القوله نۀ دي او يو شمېر ئې درې واړه پتنجالي يو تن بولي. دلته به په همدومره پېژندنې بسنه وکړم ځکه زموږ وراشه پتنجالي نۀ ده - ژباړونکی

[2] - Nâgesa

[3] - Phanin

[4] - animistic : انيميسم يا روح پالنه په دې باور ده چې په طبعيت کې ټول شته عناصر روح لري. او د همدې گروهې په باور طبعيت له ارواحو او شياطينو څخه جوړ شوی دی. يو شمېر ارواح گاني د نېکۍ او يو شمېر د بدۍ لامل گرځي. ددې گروهې ډېري پيروان د افريقا په ختيځ کې دي. ژباړونکی

[5] - John Stuart Mill with Dean Milman

[6] - Kern's ' Buddhism ' (the German translation), vol. ii, p. 443.

[7] - کله چې دا پاڼې مطبعې ته سپارل کېدلې ماته څرگنده شوه چې د اسه گوتې Assagutta د وينه يه گوتځای Vattaniya hermitage د سدهامه سمگاهه Saddhamma Samgaha په وروستي څپرکي کې ياد شوی دی، دا پاڼې د پالي متنونو د ټولنې له خوا خپرېږي. زه ډاډه يم چې د

خو له هغو کتابونو څخه ډېـــر توپیر لري چې ددغـۀ اثر لیکوال نقل قول کړي دي. په څو نقل قولونـو کې چې دۀ راوړي داسې ښکاري چې لیکوال د مشابهو مسایلو په هکله د پالي نصوصو ورته محتوی په خپل ذهن کې درلودله. تر دې دمه له هغو ثابتو شویو نصوصو څخه چې لیکوال ورڅخه صامت اخځونه اخیستي په لاندې ډول دي؛ دا نصوص یا په اوسني ټوک کې دي او یا په متعاقبو ناژباړل شویو برخو کې راغلي دي:

(د پښتو ژباړونکي یادونـه : دلته نـــۀ غواړم د هر نص نوم، پاڼه او ټوک هم په پښتو تورو ټکی په ټکی ولیکم یا ئـــې شرحه په لمن لیک کې ورکړم ځکه دا به ډېر ځای او وخت ونیسي، له دې کبله غوره بولم هغه څه چې په انګریزي کې ویل شوي دلته کټ مټ را کاپي کړم)

| Page of this volume | | | |
|---|---|---|---|
| 8 | . | . | Dîgha Nikâya II 1,2 |
| 10 | . | . | Dîgha Nikâya II 20 |
| 10 | . | . | Dîgha Nikâya II 1 |
| 38 | . | . | Dîgha Nikâya II 10 |
| 38 | . | . | Dîgha Nikâya II 11 |
| 40 | . | . | Kathâ Vatthu I, 1 |
| 41 | . | . | Aňguttara I,15,4-7 |
| 41 | . | . | Dîgha Nikâya II 17 |
| 41 | . | . | Dîgha Nikâya II , 23 |
| 42 | . | . | Dîgha Nikâya II 26 |
| 59 | . | . | Dîgha Nikâya XVII |
| 80 | . | . | Mahâvagga I, 1 , 1 |
| 129 | . | . | Various (see my note) |
| 132 | . | . | Kullavagga IX 1,4 |
| 163 | . | . | Kullavagga VII 1 ,24 |
| 170 | . | . | Vessantara Gâtaka |
| 179 | . | . | Sivi Gâtaka |
| 204 | . | . | Magghima Nikâya LXIII |
| 212 | . | . | Gâtaka (No. 69) |
| 256 | . | . | Sutta Vibhaňga (pâr.4) |
| 257 | . | . | Kâtuma Sutta (No.67) |
| 259 | . | . | Kullavagga IX 1.3 |
| 264 | . | . | Mahâvagga II 16.8 |
| 275 | . | . | Dhamma-Kakka-Pavattana Sutta |
| 277 | . | . | Aňguttara II 1.1 |
| 283 | . | . | The 540th Gâtaka |
| 285 | . | . | Amba Gâtaka (No.274) |
| 285 | . | . | Dummedha Gâtaka (No.122) |
| 286 | . | . | Tittira Gâtaka (No.238) |
| 286 | . | . | Khantivâda Gâtaka (No.313) |

---

نوموړي ګوتځي نوم د میلینډا د کتاب له مخې اخیستل شوی دی ځکه د سډهامه سمګاهه په نامـــۀ د استاد په توګې کوم تأریخي شخصیت نـۀ دی تـېـر شوی چې نوم دې په کوم خپلواک ریفرینس کې راغلی وي. د سډهامه سمګاهه په نامـۀ کتاب دهما کیتي Dhamma-kitti په سایلون کې په شونې توګې په دولسمې زېـږدېـزې پـېـړۍ کې لیکلی دی – لیکوال

| | | | |
|---|---|---|---|
| 287 | . | . | Kûla-Nandiya Gâtaka (No.222) |
| 287 | . | . | Takkha-Sûkara Gâtaka (N0. 492) |
| 288 | . | . | Kariyâ Pitaka II 6 |
| 288 | . | . | Sîlva-nâga Gâtaka (No.72) |
| 288 | . | . | Sabba-dâtha Gâtaka (No.241) |
| 289 | . | . | Apannaka Gâtaka (No.1) |
| 289 | . | . | Nigrodha-miga Gâtaka (No.12) |
| 290 | . | . | Nigrodha Gâtaka (No.445) |
| 290 | . | . | Mahâ-paduma Gâtaka (No.472) |
| 290 | . | . | Mahâ-Patâpa Gâtaka (No.358) |
| 294 | . | . | Umagga Gâtaka (No.546) |
| 298 | . | . | Kullavagga VII 3.11 |
| 302 | . | . | Aňguttara IV 13 |

| Pages of Pâli Text | | | |
|---|---|---|---|
| 220 | . | . | Gâtaka No.310 (Vol.iii.p.32) |
| 231 | . | . | Sutta Nipâta 1.4 |
| 236 | . | . | Gâtaka (Vol.i.p.56) |
| 256 | . | . | Gâtaka (Vol. iv. P.232. Line 20) |
| 277 | . | . | Vessantara Gâtaka |
| 289 | . | . | Gâtaka (Vol.i.p.57) |
| 291 | . | . | Gâtaka (Nos. 258.541.494. and 243) |
| 313 | . | . | Magghima Nikâya No.75. (p.502) |

ليکوال په څو نورو نقل قولونو کې يا د پالي متن او يا د پالي د کتاپ د څپرکي د اخځ نوم ورکوي چې د پورتنيو ريفرنسونو په تناسب زموږ موخې ته د صامت اخځ په پرتلې، سره له دې چې کله نا کله شکمن بريښني، ډېـــر ارزښت لري. دغه اخځونه يا ريفرنسونـه چې تر دې دمه تثبيت شوي دي په لاندې ډول دي :

| Pages of this volume | | | |
|---|---|---|---|
| 1.2 | . | . | Vinaya, Sutta, Abhidhamma |
| 21 | . | . | The Suttantas |
| 21 | . | . | The Abhidhammas |
| 21 | . | . | Dhamma Samgani |
| 21 | . | . | Vibhaňga |
| 21 | . | . | Dhâtu Kathâ |
| 21 | . | . | Puggala Paňňatti |
| 21 | . | . | Kathâ Vattu |
| 22 | . | . | Yamaka |
| 22 | . | . | Pattâna |
| 22 | . | . | The Abhidhamma Pitaka |
| 25 | . | . | The Abhidhamma |
| 27 | . | . | The Abhidhamma |
| 28 | . | . | The three Pitaka |
| 31 | . | . | Mahâ Samaya Suttana (No.20 in the Dîgha) |
| 31 | . | . | Mahâ Maňgala Suttana (No, Nipâta II 4) |
| 32 | . | . | Sama-Kitta-Pariyâya Suttana (unknown) |
| 32 | . | . | Râhulovâda Sattana (No.147. in the Magghima) |
| 32 | . | . | Parâbhava Sattana (Sutta Nipâta 1,6) |
| 34 | . | . | The three Pitakas |
| 56 | . | . | Samyutta Nikâya (The word quoted are in the Sutta Nipâta) |
| 71, 88 | . | . | The Abhidhamma |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 137 | . | . | The ninefold scriptures |
| 195 | . | . | Moliya Sîvaka Chapter of the Samyutta |
| 213 | . | . | Ratana Sutta (In the Sutta Nipâta II.1) |
| 213 | . | . | Khandha Parittâ (not traced) |
| 213 | . | . | Mora Parittâ (Gâtaka Nos. 159. 491) |
| 213 | . | . | Dhagagga Parittâ (in the Gâtaka book) |
| 213 | . | . | Atânâňya Parittâ (in the Dîgha Nikâya) |
| 213 | . | . | Aňgulimâla Parittâ (not traced) |
| 232 | . | . | The Pâtimokkha |
| 264- 267 | . . | . . | Pâtimokkha, Vinaya Pitaka |

| Pages of Pâli text | | | |
|---|---|---|---|
| 241 | . | . | Dhamma-dâyâ Sutta of the Magghima Nikâya Vol.i. p. 13 |
| 242 | . | . | Samyutta Nikâya (vol.i . p. 67) |
| 258 | . | . | Dikkhinâ Vibhaňga of the Magghima Nikâya No.142 |
| 281 | . | . | Kariyâ Pitaka G.53 |
| 341 | . | . | Navaňgam Buddha-vakanam |
| 341 | . | . | The Gâtaka book |
| 341 | . | . | The Dîgha Nikâya |
| 341 | . | . | The Magghima Nikâya |
| 342 | . | . | The Samyutta Nikâya |
| 342 | . | . | The Khuddaka Nikâya |
| 348 | . | . | The three pitaka |
| 349 | . | . | Mahâ Râhulovâda (in the Magghima No.147) |
| 349 | . | . | Mahâ Maňgala Suttanta (in the Sutta Nipâta II,4) |
| 349 | . | . | Sama-kitta Pariyâya (not traced) |
| 349 | . | . | Parâbhava Suttanta (in the Sutta Nipâta I.6) |
| 349 | . | . | Purâbheda Suttanta (Sutta Nipâta IV. 10) |
| 349 | . | . | Kalaha-vivâda Suttanta (Sutta Nipâta IV 11) |
| 349 | . | . | Kûla Vyûha Suttanta (Sutta Nipâta IV.12) |
| 349 | . | . | Mahâ Vyûha Suttanta (Sutta Nipâta IV.13) |
| 349 | . | . | Tuvataka Suttanta (Sutta Nipâta IV.14) |
| 349 | . | . | Sâriputta Suttanta (Sutta Nipâta IV.16) |
| 350 | . | . | Mahâ-samaya Suttanta (in the Dîgha No.20) |
| 350 | . | . | Sakkha-paňha Suttanta (Dîgha No.21) |
| 350 | . | . | Tirokudda Suttanta (in the Khuddaka Pâtha No.7) |
| 350 | . | . | Ratana Suttanta (in the Sutta Nipâta II.1) |
| 350 | . | . | The Abhidhamma |
| 362 | . | . | Ekuttara Nikâya (= Aûguttara 1.13.7) |
| 369 | . | . | Dhaniya-Sutta of the Sutta Nipâta (1.2) |
| 371 | . | . | Kummûpama Suttanta of the Samyutta Nikâya (not yet printed) |
| 372 | . | . | Vidhura Punnaka Gâtaka |
| 377 | . | . | Sakka Samyutta of the Samyutta Nikâya (not yet printed) |
| 378 | . | . | Dhamapada (vers. 327) |
| 379 | . | . | Samyutta (55.7) |
| 381 | . | . | Sutasoma Gâtaka (No.537) |
| 384 | . | . | Kanha Gâtaka (No.440. Vol. iv. p.10) |
| 385 | . | . | Sutta Nipâta (I.12.1) |
| 389 | . | . | Samyutta Nikâya |
| 392 | . | . | Ekuttara Nikâya (= Aûguttara X.5.8) |
| 396 | . | . | Lomahamsana  Priyâya |
| 399 | . | . | Samyutta Nikâya (III,5.6.vol,i.p.73) |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 401 | . | . | Samyutta Nikâya (XVI 1,3.vol.ii,p,194) |
| 402 | . | . | Kakkavâka Gâtaka (No.451,vol,iv,p.71) |
| 403 | . | . | Kulla Nârada Gâtaka (not traced) |
| 403 | . | . | Samyutta Nikâya (not traced) |
| 405 | . | . | Lakkhana Suttanta of the Dîgha Nikâya (No.30) |
| 406 | . | . | Bhallâňya Gâtaka (No.504,vol.iv.p.439) |
| 408 | . | . | Parinibbâna-Suttanta of the Dîgha Nikâya (D.XVI.5.24) |
| 408 | . | . | Dhammapada (vers.32) |
| 409 | . | . | Samyutta Nikâya (XIV.16.vol.ii.p.158) |
| 411 | . | . | Sutta Nipâta (II.6.10) |
| 414 | . | . | Sutta Nipâta (III.11.43) |

بله خبره دا ده چې زموږ ددې اثر لیکوال د پیټکه ګانو له نسخو څخه (د هېڅ کتاب د نامه په نه یادولو) د مقیدو عباراتو په را اخېستلو، زښت ډېر نقل قولونه اخلي لکه: " هغه مبارک ویلي" یا "(تاسو، د اوامرو نواهیو د قانون غړیو) ویلي"، یا "(د اوامرو نواهیو د قانون د غړي د نامه په یادولو) داسې ویلي ول." ددغو نقل قولونو د لوبې شمېرې خاپونه یا ما او یا ښاغلي ترنکنر موندلي دي. کله نا کله داسې هم شوي چې لیکوال د پیټه که ګانو په یادولو د بودا له خولې اخځ یادوي، خو دا اخځونه په بل چا اړه لري نهٔ په بودا. دا ډول اقوال مو په لاندني لښتنلیک کې د B په توري څرګند کړي او څنګ ته مو یو ستوری ایښی، د B د توري او ستوري ګډوله هغه اقوال څرګندوي چې لیکوال بودا ته منسوب بللي دي. که د ښځو (رواهبو) له خولو نقل قولونو راغلي دي نو تر څنګ د خور (Sister) په لقب ښودلي دي.

| | | |
|---|---|---|
| II, 1,1 P. 45 | Sister Vagirâ | Samyutta Nikâya V.10.6 |
| II.1.9.p.53 | B* | Samyutta Nikâya V II 1.6 |
| II 1,9 p. 54 | B. | Not traced |
| II 1.11. p.57 | B. | Not traced |
| II 1.13. p.61 | B. | Samyutta Nikâya XXI. 5 |
| II 2.4. p.69 | B. | Not traced |
| II 3.1. p.79 | B. | Magghima Nikâya XXI |
| II 3.2. p.80 | B. | Magghima Nikâya XVIII |
| II 3.4. p.101 | B.* | Samyutta Nikâya II 3.2 |
| III 4.4. p.104 | B. | Aňguttara III, 35.4 |
| III 6.1. p.114 | B. | Not traced |
| IV. 1.10.p.145 | Sâriputta | Not traced |
| IV. 1.13.p.150 | B. | Dîgha Nikâya XIV 6.1 |
| IV. 1.36.p.170 | B. | Dîgha Nikâya XIV 3.13 |
| IV. 1.42.p.179 | In the Sutta | Not traced |
| IV. 1.55.p.185 | B. | Kullavagga X.1.6 |
| IV. 1.55.p.186 | B. | Dîgha Nikâya XIV 5.62 |
| IV. 1.67.p.196 | You | Not traced |
| IV. 1.67.p.196 | You | Not traced |
| IV. 1.71.p.199 | B. | Dîgha Nikâya XIV 3.60 |
| IV. 1.71.p.199 | B. | Dîgha Nikâya XIV 3.63 |
| IV. 2. 1.p.202 | B. | Not traced |
| IV. 2. 1.p.202 | B. | Dîgha Nikâya XIV 6.3 |
| IV. 2. 4.p.204 | B. | Dîgha Nikâya XIV 2.32 |
| IV. 2. 6.p.206 | B. | Dhammapada 129 |
| IV. 2. 6.p.206 | B. | Not traced |
| IV. 2. 15.p.213 | B. | Dhammapada 127.8 |
| IV. 2. 20.p.214 | You | Not traced |
| IV. 2. 20.p.214 | You | Not traced |
| IV. 2. 27.p.224 | You | Not traced |

| | | |
|---|---|---|
| IV. 2. 29.p.225 | B. | Dîgha Nikâya XIV 2.32 |
| IV. 2. 29.p.225 | B. | Not traced |
| IV. 2. 31.p.227 | You | Not traced |
| IV. 2. 31.p.227 | You | Not traced |
| IV. 3. 1.p.229 | B. | Various (Not seen) |
| IV. 3. 1.p.229 | You | Aggaňa Sutta (Dîgha) |
| IV. 3. 5.p.234 | You | Not traced |
| IV. 3. 5.p.234 | You | Not traced |
| IV. 3. 15.p.238 | Sâriputta | Not traced |
| IV. 3. 15.p.238 | B. | Pârâgika I. 15.11 |
| IV. 3. 19.p.241 | B.* | Gâkata III.24 |
| IV. 3. 19.p.241 | B. | Gâkata IV.210 |
| IV. 3. 21.p.242 | The Theras | Dîgha Nikâya XIV 4.23 |
| IV. 3. 21.p.243 | B. | Dîgha Nikâya XIV 4.57 |
| IV. 3. 24.p.246 | B. | Not traced |
| IV. 3. 24.p.246 | B. | Mahâ-parinibbâna Sutta (D. XIV 5.24) |
| IV. 3. 27.p.248 | You | Not traced |
| IV. 3. 27.p.248 | You | Kullavagga VII 3.9 |
| IV. 3. 31.p.251 | B. | Not traced |
| IV. 3. 31.p.251 | B. | Not traced |
| IV. 3. 33.p.253 | B. | Brahmagala Sutta (D. I.1.5) |
| IV. 3. 33.p.253 | B. | Sela Sutta (SN.III. 7.7) |
| IV. 3. 35.p.254 | B.* | The 521st Gâkata |
| IV. 3. 38.p.257 | B. | Dhania Sutta (SN. I.2.2) |
| IV. 4. 1.p.261 | B. | Aňguttara I.14.1 |
| IV. 4. 4.p.264 | B. | Aňguttara III 124 |
| IV. 4. 9.p.268 | B. | Pâtimokkha (Pâk I) |
| IV. 4. 11.p.270 | B. | Not traced |
| IV. 4. 11.p.271 | B. | Not traced |
| IV. 4. 13.p.273 | B. | Sutta Vibhaňga (Pâr 3.5.13) |
| IV. 4. 13.p.273 | B. | Not traced |
| IV. 4. 16.p.279 | B. | Aňguttara XI 2.5 and the 16th Gâkata |
| IV. 4. 16.p.280 | You | The 540th Gâkata |
| IV. 4. 17.p.283 | You | Not traced |
| IV. 4. 42.p.294 | B.* | The 536 Gâkata |
| IV. 4. 44.p.297 | B. | Not traced |
| IV. 4. 46.p.301 | You | Not traced |
| **Tha Pâli Text** | | |
| P. 211.1.6 | B. | Muni Sutta (SN.I.12.3) |
| 211.1.8 | B. | Kullavagga VI. 1.5 |
| 213.1.6 | B. | Dhammapada 168 |
| 213.1.7 | B. | Magghima Nikâya 77 |
| 215.1.10 | B. | Not traced |
| 215.1.12 | B. | Aňguttara I. 14. 4 |
| 217.1.9 | B. | Samyutta Nikâya XXI |
| 217.1.11 | B. | Not traced |
| 219.1.14 | B. | Not traced |
| 219.1.15 | It is said | Gâkata (No.433) |
| 221.1.20 | B. | Khaddanta Gâkata (vol. V. p.49) |
| 221.1.24 | It is said | Not traced |
| 223.1.16 | B. | Magghima Nikâya (No. 87) |
| 223.1.18 | It is said | Magghima Nikâya (No. 87) |

| | | |
|---|---|---|
| 225.1.2 | B. | Sela Sutta (SN. III. 7.33) |
| 228.1.2 | B. | Sutta Nipâta I.4.6.= III 4.26 |
| 230.1.13 | B.* | Kapi Gâkata (vol.iii.p.354) |
| 232.1.7 | You | Not traced |
| 232.1.10 | You | Not traced |
| 235.1.2 | B. | Magghima I.P. 177= Vinaya I. p.8 |
| 235.1.4 | B. | Magghima (No.86) |
| 236.1.27 | B. | Aṅguttara I.15. 10 |
| 240.1.3 | B. | Magghima Nikâya (No.142) |
| 242.1.17 | Sâriputta | Not traced |
| 242.1.26 | B. | Samyutta Nikâya 44 |
| 245.1.1 | B. | Samyutta 6.14 (Vol. i. p.157)=Thera-gâthâ 256=7. Di.Vayâvdâna p. 300 |
| 253.1.1 | You | Not traced |
| 255.1.8 | You | Not traced |
| 262. | B. | Not traced |
| 323. | You | Not traced |
| **P.** 333 | B. | Dhammapada 54-56 (taken in part from Aṅguttara III 79 |
| 366.1.6 | B. | Samyutta XX 8.5 |
| 366.1.10 | Sâriputta | Thera- gâthâ 985 |
| 367.1.8 | B. | Not traced (see S.XII. 63.8) |
| 367.1.19 | Mahâ Kakkâyana | Thera- gâthâ 510 |
| 368.1.2 | B. | Samyutta 46.7 |
| 368.1.6 | Sâriputta | Not traced |
| 368.1.20 | Kulla Panthaka | Not traced |
| 369.1.5 | B. | Sutta Nipâta I. 2. 12 |
| 369.1.22 | The Theras who held Synod (at Râgaha) | Not traced |
| 370.1.11 | Sâriputta | Not traced |
| 371.1.14 | Upasena | There- gâthâ 577 |
| 371.1.28 | B. | Samyutta I 27;2 (vol. i.p.7) |
| 372.1.12 | Râhula | Not traced |
| 372.1.23 | B. | Gâkata (No.545) |
| 373.1.13 | Sâriputta | Not traced |
| 374.1.5 | Sâriputta | Not traced |
| 374.1.16 | Sâriputta | Not traced |
| 375.1.15 | B. | Maggima (vol.i.p.33) |
| 376.1.3 | Anuruddha | Not traced |
| 376.1.17 | Râhula | Not traced |
| 377.1.14 | B. | Samyutta 55.7 |
| 378.1.5 | Sâriputta | Not traced |
| 378.1.17 | B. | Mahâ-parinibbâna Sutta (D XVI 2.1) |
| 379.1.1 | B. | Dhammapada 237 |
| 379.1.14 | B. | Samyutta 55.7 |
| 380.1.1 | Sâriputta | Not traced |
| 381.1.15 | B. | Sutasoma Gâkata (No.537) |
| 383.1.3 | Sister Subhaddâ | Not traced |
| 384.1.4 | B. | Kanha Gâkata (Vol.iv.p.10) |
| 385.1.1 | B. | (?)Magghima Nikâya (No.26) |
| 385.1.28 | B. | Sutta Nipâta I.12.1 |
| 386.1.12 | B. | Dhammapada 81 |
| 386.1.19 | B. | Dhammapada 404 (from SNIII 9.35) |
| 386.1.26 | Subhûti | Not traced |
| 387.1.8 | B. | Dhammapada 28 |

| | | |
|---|---|---|
| 387.1.16 | Sister Subhaddâ | Not traced |
| 388.1.16 | B. | Magghima Nikâya (vol.i.p.424) |
| **P** 389.1.9 | B. | Samyutta Nikâya XVI 3 |
| 390.1.17 | Vaňgîsa | Not traced |
| 391.1.6 | Subhûti | Not traced |
| 391.1.21 | B. | Dhammapada 350 |
| 392.1.3 | B. | Aňguttara X 5.8 |
| 392.1.10 | B. | Not traced |
| 393.1.3 | Vaňgîsa | Not traced |
| 393.1.25 | B. | Not traced |
| 394.1.6 | Upasena | Not traced |
| 394.1.16 | Upasena | Not traced |
| 394.1.28 | Sâriputta | Not traced |
| 395.1.9 | Mahâ Kassapa | Not traced |
| 395.1.22 | Upasena | Thera- Gâta 580 |
| 396.1.3 | B. | Magghima Nikâya (Vol.i.p.74) |
| 396.1.20 | Sâriputta | Not traced |
| 397.1.15 | Sâriputta | Not traced |
| 398.1. 5 | Pindola | Not traced |
| 399.1. 16 | B. | Samyutta Nikâya III 5.6.(Vol.i.p.73) |
| 401.1. 10 | B. | Samyutta Nikâya XVI 1.3.(Vol.ii.p.194) |
| 402.1.8 | B. | Kakkavâka Gâkata (Vol.iv.p.71.Not in III 520) |
| 402.1.26 | Brahmâ | Samyutta Nikâya VI. 2.4. (Vol.i.p154.Thera-gathâ 142) |
| 403.1.13 | B. | Kulla- Nârada Gâkata (Vol.iv.p.223) |
| 403.1.27 | B. | Samyutta Nikâya (Vol.iii.p.125) |
| 404.1.12 | Pindola | Not traced |
| 405.1.3 | B. | Dîgha Nikâya XXX |
| 405.1.22 | Anuruddha | Not traced |
| 407.1.1 | Sâriputta | Thera-gathâ 982.3 |
| 407.1.20 | Anuruddha | Not traced |
| 408.1.8 | B. | Dîgha Nikâya XVI 5.24 |
| 408.1.22 | B. | Dhammapada 32 |
| 409.1.17 | B. | Samyutta Nikâya XIV16.(= Thera-gathâ 148,266) |
| 410.1.8 | Sâriputta | Not traced[1] |
| 411.1.9 | Sâriputta | Not traced |
| 411.1.29 | B. | Sutta Nipâta II.6.10 |
| 412.1.21 | Mogharâga | Not traced |
| 413.1.6 | Rahula | Not traced |
| 414.1.1 | B. | Sutta Nipâta (Not traced[2]) |
| 414.1.18 | B. | Sutta Nipâta III.ii.43 |
| 415.1.14 | B. | Not traced |
| 416.1. 4 | Sâriputta | Not traced |
| 416.1. 29 | Upâli | Not traced |
| 417.1. 12 | B. | Not traced |
| 418.1. 1 | Moggallâna | Not traced |
| 419.1. 11 | Sâriputta | Not traced |

[1] - دا په پیتکه گانو کې نـــهٔ سته. ستانزه stanza پر دهما پدا Dhammapada باندې د فوسبول Fausböll د تقریظ په ۱۴۷ پاڼې کې او همدا شان د ترنکنر په یادښت کې د بودهاگهوسه د پپنکه سوداني په برخې کې– د هر شعر په پای کې د لړ توپیر په لرلو- موندل کـــېږي. لیکوال

[2] - ښاغلی ترنکنر کوم ریفرنس نـــهٔ ورکوي، او په سوتا نیپاته Sutta Nipâta کې چې انډکس نـــهٔ لري زما هڅې بې گټې وختلې - لیکوال

اوس ددې خبرې یادونــه اړینــه بولم چې پالي پیټکه ګاني له لاندنیو نــهویشتو کتابونو څخه جوړې شوې دي.

| No | Title | | | No. of printed pages 8 Vol | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | The Sutta Vibhaňga | . | . | 617* | } | THE VINAYA PITAKA |
| 2 | The Khandhakas | . | . | 668* | | |
| | a. Mahâvagga | . | 360. | | | |
| | b. Kullavagga | . | 308. | | | |
| 3 | The Parivâra | . | . | 226 | | |
| | Total | . | . | **1511*** | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | The Dîgha Nikâya | . | . | 750 | } | THE SUTTA PITAKA (The four Nikâyas) |
| 5 | The Magghima Nikâya | . | . | 1000 | | |
| 6 | The Samyutta Nikâya | . | . | 1250 | | |
| 7 | The Aňguttara Nikâya | . | . | 1500 | | |
| | Total | . | . | **4500** | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 8 | The Khuddaka Pâth | | | 10* | } | THE KHUDDAKA NIKÂYA (The repeaters of the Dîgha add these to the Sutta Pitaka. The repeaters of the Maggihma add them to the Abhiddhamma Pitaka) |
| 9 | The Dhammapadas | | | 40* | | |
| 10 | The Udânas | | | 80* | | |
| 11 | The iti-vuttakas | | | 100 * | | |
| 12 | The Sutta Nipâtas | | | 200* | | |
| 13 | The Vimâna Vatthu | . | . | 85* | | |
| 14 | The Peta Vatthu | . | . | 90* | | |
| 15 | The Thera - Gâthâ | | | 100* | | |
| 16 | The Theri - Gâthâ | | | 35* | | |
| 17 | The Gâtakas | | | 70* | | |
| 18 | The Niddesa | | | 300* | | |
| 19 | The Patsambhidâ | | | 400* | | |
| 20 | The Apadânas | | | 400* | | |
| 21 | The Buddha Vaňsa | | | 60* | | |
| 22 | The Kariyâ Pitaka | | | 30* | | |
| | Total | | | 2000 | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 23 | The Dhamma Saňgani | | | 260* | } | THE ABHIDHAMMA PITAKA |
| 24 | The Vibhaňga | | | 325* | | |
| 25 | The Kathâ Vattu | | | 440* | | |
| 26 | The Puggala Paňňatti | | | 75 * | | |
| 27 | The Dhâtu Kathâ | | | 100* | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 28 | The Yaakas[1] | . | . | 400* | | |
| 29 | The Patthâna | . | . | 600* | | |
| | Total Abhidhamma | | | 2200 | | |
| | | | | 10211 | | |
| | | | | | | |

دا د ټولو درې واړو پيټکه ګانو شمـــېـــر دی چې په اتو ټوکونو کې رانغاړل شوي او نـېـږدې لس زره پاڼې کېـږي چې چاپ شوي او يا به د پالي[2] نسخو د ټولنې[3] له خوا چاپ شي. که زموږ د زاړهٔ عيسوي بايبل نسخه څوک په همدې بڼې او ټايپې ډول او د همدغو پاڼو د ارت والي په اندازې چاپ کړي نو د پاڼو شمـــېـــر به ئـې پنځو زرو پاڼو ته ورسـېـږي. دې ته په کتنې که بودايي سپيڅلی کتاب له مکرراتو پرته (يو شمـــېـــر ئـــې تکراري او څه ئـې اوږدهٔ دي) چاپ کړو نو دا به د عيسوي بايبل په اندازې دوه چنده ځای ونيسي. نـــهٔ شي کېـدی چې زموږ ددې اثر ليکوال دې له دوني ډېرو زښتو اوږدو (ادبي) ليکنو سره آشنا وي. له پخواني ليست سره د تـېـر ليست په پرتله کولو به ژوندي بودايان د اوسنيو معياري کتابونو له مخې  ددهٔ د پوهې په هکله کومه منصفه پايله را وباسي؟

دغې پوښتنې ته ځواب موندنـــه نـــهٔ يوازې د يوهٔ بل دليل لپاره به له موږ سره مرسته وکړي بلکه تر څنګ به ئـې  د " ميلينډا  پوښتنو" ته د اصلي نـېـټـې په ټاکنې کې ګټه وکړي. دا خو يوه مشهوره خبره ده چې آشوکا[4] خپل فرامين د بودايي دين

---

[1] - يماکه په پالي کې यमक ليکل کېـږي او د تيروَدا بوديزم او د بوديزم د قانون يوه برخه ده چې بودا په خپله تدريساوهٔ او لغوي معنی ئـــې (جوړه) ده. دا نوم دې له يما Yama سره مغالطه نه سي. يما يا يما راج Yamarâj چې په سانسکريت کې يما यम او يما راج यमराज ليکل کـېـږي د هندويسم د مرګ پرښته ده چې په ابراهيمي اديانو کې عزرائيل کېـږي او په ريګويدا کې ډېر ځل په تکرار راغلی نوم دی. مګر په سانسکريت کې بيا د پالي له لغوي معنی سره که هم معنی نه وي خو نـېـږدې والی ورسره مومي او معنی ئـې غبرګولی يا غبرګ کېـږي. په ويشنو پورانا کې وايي چې يما د لمر د رب النوعه (سوريا) زوی او مور ئـــې سنجنا نومېـږي چې د (ويښ وکرَمن)  لور ده چې همدا (ويښ کرمن)  کله نا کله د (اوشا) په نامـــهٔ هم ياده شوی دی. دی د (منو وی وَستها)  ورور دی او مشره خور ئـــې ( يامی)  نومـــېـږي او پوهاند ولسن وايي چې د (يامونا) د سيند نوم له همدې (يامی) څخه راغلی دی همدا (يامونا)  په حقيقت کې د جمنا د سيند نوم دی. د همدغـــهٔ (يما) نوم په اوستا کې هم راغلی دی او په مزده يسنه کې (يمه خشايه) راغلی دی چې بيا وروسته ئـــې جمشيد کړی دی. - ژباړونکی

[2] - Pâli Text Society

[3] - دا اټکل هغه چاپي ځايونه حذفوي يا يې په پام کې نـــهٔ نيسي چې يادښتونو نيولی دی. هغه کتابونه چې په پخواني ليست کې په ستورو په نښه شوي دي مخکې له مخکې چاپ شوي دي – ليکوال

[4] - Asoka : آشوکا موريا अशोक मौर्य له ۳۰۴ تر ۲۳۲م.ز کال پورې ژوند کړی دی چې د آشوکا او ستر آشوکا په نامـــهٔ هم ياد شوی دی ؛ له ۲۶۹ تر ۲۳۲ م.ز. کال پورې ئـــې د ۳۷ کالو لپاره د هند پر نيمه لوئـــې وچې ستر واکي کړي او د موريا د ستر واکۍ بنسټ ايښودونکی دی.  د آشوکا د ستر واکۍ لمنه د معاصر افغانستان د پامير له څوکې نيولې تر تاميل نادو (مدراس) پورې غځـېـدله. په ۲۶۰ م. ز کال کې آشوکا، د کالينګا (اوديشا) پر وړاندې لويه جګړه پيل کړه، کالينګا ئـــې چې له دهٔ مخکې هـــېـــڅ پاچا نـــهٔ وه نيولې ونيوله. کله ئـــې چې په کالينګا کې د خپلې سوبې او بريا ورانۍ او وژنې وليدلې نو سخت په ژړا سو او په خپلو کړنو پښيمانه سو. په دې جګړې کې سل زره انسانان ووژل شول او يو سلو پنځوس زره کډوالۍ ته اړ شول. له دې پـــېـښې وروسته بودايي دين ته لـــېـواله کـېـږي. هندو تأريخپوهان وايي چې آشوکا په خپله نـــهٔ وو بودايي شوی مګر د خپلې ستر واکۍ دين ئـــې بودايي دين وګرځاوهٔ. له آشوکا څخه ۳۳ ډبرليکي پاتې دي او ۱۳ ډبرليکي ئـــې د کالينګا پر ښار باندې د آشوکا ساندې څرګندوي. ددهٔ د بيرغ نښه زمری وه. په همدې ډبر ليکې کې دی وايي " که دا سوبه وي نو ماته يا شکست څه ته وايي" "که دا بريا وي نو تيښته څه

د صدقاتو د طريقت[1] د غړو په عنوان ليکلي ول، آشوکا اووهٔ بودايي نسخي غوره کړې وې چې په نومونو يادې شوي دي ، ددغو نسخو په منځ کې کې آشوکا په يوې کې خپله هيله څرګندوي چې نهٔ يوازې د «ګدايانو د طريقت ورونه» او خويندې به دا نسخ بلکه عوام وګړي هم له ياده کړي او په خپل ژوندانهٔ کې به ئې پلي کړي. اوس خبره دا ده چې د آشوکا په فرامينو کې د يادو شويو اوو نسخو د هيڅ يوهٔ عنوان يا عنوان ته ورته يو عنوان د پورتني ليست د هيڅ يوهٔ نههٔ ويشتو کتابونو په منځ کې نهٔ ښکاري. همدا خبره د يو شمېر هندپالو د خوښۍ لامل شوې او ادعا ئې وکړه چې دوی اوس کولی شي له دې څخه يوه پايله راوباسي، ددوی دغه اند چې د غيربرهمني بودايانو پر ضد ده، وايي چې بودايي قانون نوی جوړ شوی او غلط يا بدل دی؛ او بل دا چې دوی وايي د آشوکا د مهال بوديزم بايد په بشپړ ډول د پالي پيټکه ګانو له بوديزم څخه توپير ولري. د هند پالو ددې ادعاد د غندنې په تړاو به دلته يوه بېلګه راوړم. دهند پالو دا ادعا به کټ مټ يوهٔ جاپاني روحاني عالم ته ورته وي چې په بايبل کې له يادو شويو کتابونو پرته، په خپله د عيسويت په هکله، لږ پوهېږي او يا هيڅ نهٔ پوهېږي، وروپسې به دهٔ ته به د کنستانتين يو ليک په لاس ورسي، په دې ليک کې به کنستانين پر ټول روحانيت او عوامو دواړو ټينګار وکړي چې په خپل ژوندانهٔ کې دې د خدای کلام ته د يوازينی معتبرې مرجعې په سترګو وګورئ، تل دې خپلې روح ته په مزاميرو کې د شپانهٔ د مزمور[2]، د لِموئيل د کلام[3]، د خدای د بنده د نبوت[4]، د غرهٔ د سر د موعظې[5] په لوستنګ تسکين کړي او دعا دې وکړي او بيا دې د صدقاتو ستاينه[6]، د نيکوديموس پوښتنه[7]، او د

---

ته وايي"" ما څه وکړل" " ميندې بورې سوې، پلرونه بې زامنو، زامن او لورګانې بې ميندو او پلرونو، دوی څه کړي ول؟" " آيا دا وحشت نهٔ دی؟" او نور.د آشوکا د فرامينو له ډبرليکو څخه ۱۴ هغه ئې په اوريسا کې موندل شوي دي. د آشوکا يوه ډبرليکه د کندهار ښار " په شهر کهنه" کې چې څهل زينو ته نېږدې ده ترلاسه شوې چې په دوه وو ژبو ليکل شوې ده يوه ئې آرمي او بله ئې يوناني ژبه ده. د دريمې مخزېږدېزې پېړۍ دغه ډبر ليکه اوس د کابل په لرغونتون کې شته. علامه کهزاد په دې اړوند ليکنې کړي دي. – ژباړونکی

[1] - Buddhist Order of mendicants : دا طريقت په مسيحيت کې هم شته او ددې لپاره چې د عيسی ع د ژوند د تګلورې خوند وڅکي نو له خپل مادي ژوندانهٔ څخه لاس اخلي او تل يا ديني مواعظ کوي او يا زده کړې کوي او ديني لارې تمرينوي او خپل ژوند په صدقاتو تېروي. دلته هم د ليکوال موخه د هغه مهال بودايان دي چې ژوند ئې په صدقاتو تيراوهٔ. په هغه مهال کې همدا دود وو چې دوی به د بودا په شان د يوهٔ مانګ تر مشرۍ لاندې ښار په ښار او کلي په کلي ډله ډله ګرځېدل- ژباړونکی

[2] - Psalm of the Shepherd : په عبري بايبل يا عهد عتيق کې داوؤد ع خدای ج د شپانهٔ په ډول ښيي. يهودان او عيسويان د داؤود ع دا ليکنه ډېره خوښوي او ان په موسيقي کې د نعت په شان ئې وايي. مزامير د دعاګانو کتاب دی چې د يهودي تنخ او د انجيل د عهد عتيق يوه برخه ده. دا په حقيقت کې جنګي سرودونه دي او د داوؤد ع له دورانه پاتې دي.ټول ۱۵۰ مزاميره دي. - ژباړونکی

[3] - the words of Lemuel : دا د يوهٔ پاچا نوم دی چې په بايبل کې ياد شوی دی چې ښايي په هماغهٔ وخت کې د آسوريا پاچا وو، يو شمېر مفسرين ئې د سليمان ع بل نوم بولي. - ژباړونکی

[4] - Prophecy of the Servant of the Lord : دا اشعيا ع ته يو نغوته ده چې د اشعيا کتاب ئې ليکلی او په هغه کې ئې د خپل نبوت يادونه کړې او د عهد عتيق له پيغمبرانو څخه دی چې تر ۶۸۱م. ز پورې ئې ژوند کړی دی. نوموړی د بشارت او زيرې د پيغمبر په نامهٔ پېژندل شوی دی - ژباړونکی

[5] - Sermon on the Mount : دا په انجيل کې ياد شوی د عيسی ع موعظې ته نغوته ده چې د جليل په ښار کې ئې د زيتون د غرهٔ پر سر ټولو پيروانو او يهودانو ته وکړه. تأريخپوهان وايي چې کېدی شي همدا موعظه د لوقا د انجيل اصلي برخه وي - ژباړونکی

[6] - Exaltation of Charity : د صدقاتو ستاينه د لوقا د انجيل يوه برخه ده - ژباړونکی

[7] - Question of Nicodemus : په يورشليم کې د يهودو مفسرينو يوه شوری وه چې سنهدرين نومېدله او ۲۳ غړي ئې درلودل او له فلسطينه درې تنه قاضيان په کښې ول ددې شوری د ټولو غړو شمېر ۷۱ تنه وو. دا شوری په حقيقت کې يوه محکمه وه چې ورځنی چارې به ئې د ديني چوکاټ له مخې سمبالولي. د يهودانو يوه فکري ډله فريسيان نومېدله چې له عيسی ع سره ئې اختلافات درلودل. ددوی له ډلې څخه يو تن ئې نيکوديموس نومېدهٔ او عيسی ع ته ئې ليوالتيا موندله او درې ځله ئې ورسره ليدلي دي او له هغه څخه ئې په لومړۍ ليدنه کې د معجزاتو

پرودیگل زوی[1] روایات په یاد ولري - او بیا دي زموږ دغه ختیځوال جاپانی مفسر دا پایله راوباسي چې د کنستانتین پر مهال د عیسویت د قانون کتابونه چا نـــه پېـژندل او د کنستانتین د مهال ساده عیسویت د بایبل له عیسویت څخه بشپړ توپیر لري. دلته نو (د کنستانتین - ژ) دداسې یوه لیک شتون به د بایبل په هکله د ټولو هغه شته وو کتابونو د نـېـټـې په ټاکنې کې لږ مرسته وکړي چې موږ ئـې پېـژنو. بیا نو که زموږ دغه جاپانی عالم وغواړي چې د یوه داسې عیسوي اثر په هکله پلټنـه وکړي چې په هغـهٔ کې د عیسویت د قانون له معیاري کتابونو څخه اخځونـه اخېـستل شوي وي او ان دا کتاب د کنستانتین له مهاله ډېـــر وروسته لیکل شوی وي نو ډاډمن شک نـــهٔ شته چې نوموړی به د تأریخي کره کتنې لپاره ښه تنقیدي بنسټ ولري. په دې توگې به نوموړی وموميي چې د ځانگړي درناوي او ستاینې لپاره د اوو واړو غوره شوېو برخو موخه د معیاري کتابونو د پراخ لیست لپاره نـــهٔ بلکه په خپله د اوو شمــېـــره یوازې ددې لپاره غوره شوې چې د اوو قدسي شمـــېـــرې ته په سپـــېـڅلو ادبیاتو کې د تقدیس په سترگې وکتل شي.

زموږ د میلینډا کتاب هم همداسې دی. پوهـــېـږو چې دا کتاب د پالي د قانوني پیټکه گانو له معیاري کتابونو وروسته راغلی دی، او له بلې خوا، نـــهٔ یوازې دا چې دا کتاب د ټولو لویو لیکل شویو تفاسیرو په پرتلې لرغون کتاب بلکه د بودایي قانون له کتاب وروسه دا یوازېنی کتاب دی چې د ډاډمن کتاب په توگې منل شوی او هم دې باید مطلق تابعیت وشي. زه د خبرې د لا روښانتیا لپاره هڅه کوم یوه عملي انگېرنـــه یا فرضیه وړاندې کړم او له مخې ئـــې غواړم هغه بې شمـېره او متفرق ریفریسونـه او اقوال شرحه کړم چې دا کتاب ئـــې را اخلي؛ هماغسې چې د ټولو پیټکه گانو په مخکینې لیست کې مو وښودل چې زموږ لیکوال له پالي پیټکه گانو، او هغه کتابونه چې موږ ئـــې پـېـــژنو اوس پوهـــېـــږو چې دی که په ټولو بشپړلو کتابونو خبر نـــهٔ وو لږ تر لږه له زښتو ډېـــرو ئـــې ښـــهٔ خبر وو. د پیټکه گانو د نـــهـــهٔ ویشتو کتابونو له منځه موږ په لیست کې درې پیټکه گانې مومو چې لیکوال په خپل اثر کې ورته په عام ډول د ریفرنس په توگې نغوته کوي او په دې ډول دي :-

(وینـــه یه پیټکه[2]) په ټولیز ډول، او (په سایلون کې تألیف شوی) (د پریواره[3]) له کتابه پرته نور د وینه یه پیټکه ټول متمم کتابونـــه ، (سوتا پیټکه[4]) او له څلورو واړو لویو (نیکایه وو[5]) څخه هر یو ئـــې، ( ابهي دهمه پیټکه[6]) او ټول اوهٔ واړه متمم کتابونو ئـــې، او (خوډکه نیکه یا[7]) په عام ډول او په دې پوره ځو اړوند کتابونـه. او که په خپل لیست کې د نقل قولونو هغه لویه شمـــېـــره چې خاپ ئـــې په پیټکه گانو څخه نـــهٔ دی موندل شوی نور سره راټول کړم دا باید په پام کې نیسو چې په دغو کتابونو کې د ناموندل شویو اقوالو په هکله - د لاسوندونو د نشتوالي له کبله - د هرډول فرضي استدلال په رامنځته کولو کې باید زښت ډېـــر محتاط اوسو.

---

غوښتنه وکړه، په دوهم لیدنگ کې ئـــې له عیسی ع د بعثت په اړه پوښتنه وکړه. نوموړی د یهودانو او کاتولیکي عیسویانو په منځ کې د قدیس یا سینت په نامــــهٔ د درنښت وړ دی. - ژباړونکی

[1] - Prodigal Son : د عیسی ع د مواعظو په مثالونو کې یو ئـــې هم د یوهٔ سړي قصه ده چې دوه زامن ئـــې درلودل او له خپلې مړینې مخکې ئـــې خپله ټوله شتمنې د کشر زوی په نامـــهٔ کړه او کشر زوی هم ټوله شتمنې بې ځایه خرڅه کړه چې په عبري کې د پروگدیل د زیات بې ځایه خرڅ په معنی ده یعنی مصرف او بې ځایه لگښت کونکی زوی - ژباړونکی

[2] - Vinaya Pitaka

[3] - Parivâra (which was composed in Ceylon)

[4] - Sutta Pitaka

[5] - Nikâyas

[6] - Abhidhamma Pitaka

[7] - Khuddaka Nikâya

**<u>دلته به لنډيز راواخلم</u>** – په ټوليز ډول ويلی شو چې که زموږ ليکوال ته (سته ويبهانـګه[1]) ، (خندهکه ګانې[2]) نيکايه ګانې[3]، څلور واړه ستري نيکايه ګاني او (ابهيدامه) په ډاډ څرګندې وې، نو دا هم ممکنه ده چې ښايي دۀ له (پريواري[4]) څخه هېـڅ خبرتيا نــۀ درلودله؛ دا بايد څرګنده شي چې ليکوال په رښتيا تر کومې کچې د (خوډَکه نيکايا[5]) په هکله معلومات او خبرتيا درلودله څکه يو ځل[6] ئــې يوازې له نامـــۀ څخه يادونـه کوي. تر اوسمهاله يوازې دوني روښانــه شوې چې ليکوال په څرګنده د (خـُـدا کا پاتهه[7])، د مقدسو اشعارو د ټولګې (دهمه پده[8])، (سوتا نيپاته[9])،، تيرا[10]، (تيرا ګاتها[11])، (تيري ګاتها[12])، (ګاتکه ګانو[13]) او (کری يا پيتکه[14]) په هکله معلومات درلودل. هيله مند يم د خپل دويم ټوک د سريزې په برخې کې دغې پوښتنې ته بـېـرته راوګرځم، خو دلته يوازينی ټکی چې د يادونې وړ بولم د هغو کتابونو د پاڼو شمـېـره چې (ظاهراً زموږ ليکوال ئــې په هکله غلی دی) که چاپ سي نــېـږدې شپاړلس زرو[15] پاڼو ته رسېږي او يوازې لس زره پاڼې ئــې درې پيتکه ګاني دي؛ له دې شمــېــرې څخه ددوه زرو پاڼو ډېـرۍ برخه چې په پيتکه ګانو پورې اړه لري لا تر اوسه ايديت سوي نــۀ دي؛ ډېـــره شوني ښکاري چې له دغو پاڼو څخه به هم بې شمــېـــره نور اقوال اخيستل شوي وي چې زما په ليست کې ئــې خاپ نــۀ دی نيول شوی[16].

---

[1] -Sutta Vibhaňga

[2] -Khandhakas

[3] - the four great Nikâyas

[4] -Parivâra

[5] -Khuddaka Nikâya

[6] -Page 342 of the printed text.

[7] -Khuddaka Pâtha

[8] -Dhammapada collection of sacred verses

[9] -Sutta Nipâta

[10] -Thera

[11] -Thera-gâthâ

[12] -Theri-gâthâ

[13] -Gâtakas

[14] -Kariyâ Pitaka

[15]- يادونه : په پخوا کې د غټو اعدادو د شمــېــر په هکله به هر (شل ګونی شمــېــر) په (څو) کې په ضربولو ښودل کيدۀ، د بـېـلګې په ډول تر اوسه به زموږ ځيني لوستونکي په ياد ولري چې اتيا وو ته به ئــې په ساده ژبې څلور شلې (څلور تومنه) ويل، يا ئــې سلو ته پنځه شلې. دلته هم ليکوال د شپاړلس زرو شمــېـــره په زړه پورې ډول ويلي چې ما ته ئــې زموږ تللي خلک را په ياد کړل، دی د شپاړلس زرو شمــېـــره داسې ښيي : دوه زره په اتــۀ تومنه پاڼو کې: " يعنی شپاړلس زره پاڼې". له همدې کبله ما شپاړلس زره ومنله. او بل دا چې عوامو به د تومنې وييکی د تومانو په ډول تلفظ کاوۀ او موخه ئــې د فارس پولي واحد نــۀ بلکه له تومنې څخه به ئــې موخه ضريب وو - ژباړونکی

[16] - د بوايي قانون د غير معياري کتابونو تر څنګ د قانون نــېـږدې نيمايي کتابونه په تــېــرو څو کلونو کې چاپ شوي دي، دا کتابونه په بنسټيز دول د پالي متنونو د ټولنې د کار حاصل دي. - ليکوال

د نسخو د همدوني پراخوالي په لمن کي تر اوسمهاله له دريو پيټه ګانو څخه د ليکوال پوهه ښودلی شو او ددۀ د پوهي ددقت کچه د رامنځته شويو پوښتنو له مخي څرګندېدی شي. په ډېـــريو ځايونو کي ددۀ پوښتني او يا ريفرنسونـه په بشپړ ډول د هغو متنونو له قرائت سره سمون خوري چي موږ ښودلي دي. مګر يو شمـــېـــر استثناءات هم شته. له دي چي دغه ځانګړتيا هم هم په زړه پوري او هم ګټوره ده ، غوره به دا وي چي په مشرح ډول ورته ګوته ونيول شي.

يو ريفرنس چي ورته کېـږي له ځمکي دباندي د ( اَويکي دوزخ[1]) دی، که دا نوم د ييټکه ګانو له تعليماتو سره کوم مغايرت ونـــۀ لري نو دا به لږ تر لږه په پيټکه ګانو کي د عالمِ وجود د خلقت او پيداښت په هکله يوه بله نوي زياتونـه وي[2]. مګر دلته دليل شته چي دا يو الحاق دی، او مغايرت په خپله نـــۀ يوازي شکمن نـــۀ دی بلکه دوني اهميت هم نـــۀ لري.

د (پـوګله پــنـَـتـيــي[3]) د منځپانګي په شرحي کي چي په (لومړي، ۲۶[4]) کي ورکړل شوي ده له متن سره ځـير سمون نـــۀ خوري. دا کتاب په خپلي لومړۍ برخي کي شپږ ډوله " توپيرونه" او يا "ځانګړتياوي" تصنيفوي. د لومړيو پنځو " ځانګړتياوو" لپاره يوازي يو پاراګراف ځانګړی شوی دی، حال دا چي ليکوال يا ليکوالانو، د کتاب پاتي ټوله برخه د (شپږم توپير) په شرحي باندي تـېـره کړي ده. خو زموږ د اثر ليکوال موږ ته، په خپله د کتاب شپږم تصنيف، د کتاب د ويش يا څپرکيو په توګي راکوي.
زما په اند هر څوني چي منځپانګه په ځير نـــۀ وي ويل شوي هماغومره د تـېـروتني شونتيا هم په کي شته، يعني دا چي نـــۀ يوازي د متنونو توپير هماغسي چي موږ ئـي اوس په متن کي لرو بلکه په ساده بيان چي زموږ مؤلف د کتاب په پيلنيز پاراګراف باندي ډېـر تأکيد کړی دی.

زموږ ليکوال (د لومړي کتاب په اتـۀ ديرشمي پاڼي کي[5]) د بودا لومړۍ موعظې ته په ريفرنس چي د ( عدالت د سلطنت بنسټ[6]) نومېـږي وايي " د برهما[7] اتلس کروړه خدايګوتي چي نور بې شمـېـره ارباب الانواع ورسره ملګري ول حقيقت

---

[1] - Aviki Hell : په بوديزم کي دوزخ د نره که Naraka په نامـــۀ ياد شوی دی. په نره کې د هغه وروستنی برخه د اويکي په نامـــۀ ياده شوې چي د عربي سقر کېـږي.- دلته ليکوال غواړي ووايي چي د ميليندا د پوښتنو په کتاب کي دا دوزخ له ځمکي دباندي ښودل شوي حال دا چي په دهماپدا کي تر ځمکي لاندې ويل شوی دی. د اويکي په نامـــۀ دوزخ په څلورو واړو نيکاياګانو کي په څوځو ځله راغلی دی. دغه دوزخ د پالي قانون په کتاب کي څوڅو ځله د اويسي نيرايا په نامـــۀ ياد شوی دی - والله اعلم - ژباړونکی

[2] - و. ګ زما د يادښتونو په نهمي پاڼي کي را اخيستل شوي نقل قولونه - ليکوال

[3]- Puggala Paňňatti : د تيره ودا بوديزم د پالي د قانون د سپيڅلي کتاب يوه برخه ده چي په همدې برخي کې ابهيدمه پيټکه هم راغلې ده. دا برخه انسانان تصنيفوي او دا تصنيف په اعدادو ښيي چي له يو استوي تر لس استوي پورې رسېـږي. - ژباړونکی

[4] - I, 26
[5] - I, 38

[6] - the Foundation of the Kingdom of Righteousness

[7]- Brahma د هندوييزم په فلسفې کي درې ارباب الانواع برهما، ويشنو او شيوا د تريموتي په نامـــۀ يادېږي. د برهما پورانا کتاب وايي چي برهما د منو پلار دی او له منو څخه د بشريت نسل منځ ته راغلی دی. په رامايانا او مهابهارتا کي برهما د بشريت د غور نيکـۀ په نامـۀ ياد شوی دی. مدهابهګواته مها پورانا وايي چي برهما د ويشنو له نو (ناف) څخه منځ ته راغی ځکه هر هغه څه چي په خلقت کې فزيکي شتون لري له ويشنو څخه رامنځته شوي دي. د هندويزم د برهما او د بوديزم د برهما ترمنځ کوم توپير نـۀ شته ځکه داوړه ئـي ارباب الانواع دي خو په بوديزم کي برهما د کايناتو صانع ويل شوی دی. لرغوني بودايي کتابونه د څو برهماګانو يادونه کوي چي د کايناتو په يوې نړۍ کې سره ژوند کوي. – ژ

موندنه تر لاسه کړه". خو د پیټکه په شرحو کې دغسې یو څه چې د اثر لیکوال ویلي نــۀ لیدل کیږي[1]. مګر همدا خبره د پالي له متن سره سمون خوري او شک نــۀ شته چې دا خبره دې د کوم تهذیبي تفسیر له مخې زیاته شوي وي.

د دوهم کتاب په ۲، ۴[2] کې د هغه څه د قرائت په کړښو کې چې د (ساري پوته[3]) خولې ته ور اچول شوي او هغه څه چې د (تیرا ګاتها) په (۱۰۰۲ - ۱۰۰۳)[4] کې په ( ساري پوته) پورې منسوب بلل شوي توپیر لیدل کېږي. که د میلیندا اوسنی قرائت - بنه په مخکنیو اقوالو ناچاپ شویو نقل قولونو کې ونــۀ موندل شي دلته ده چې موږ له ربښتوني بیلتون یا انشعاب سره مخامخ کېږو.

ښایي زموږ د لیکوال او د پیټکه ګانو د قرائت د متن تر منځ ظاهراً تر ټولو څرګند توپیر د څلورم کتاب په ۴،۹ کې ددۀ خپل بیان وي چې دۀ د بودا خولې ته ورغورځولی دی؛ او دا د (پاراګیکه[5]) په نامــۀ د قصدي درواغو سرغړونه ده چې ښایي پایله ئــې له دینه په اخراج واوړي. خو په زاړۀ بودایي قانون کې ګورو چې د پاراګیکه څلور سرغړونې په دې ډول ویل شوي دي: د عفت د پردې څـېـرل، غلا او هغه څوک چې د فوق العاده روحاني ځواکونو د لرلو جعلي ادعا وکړي[6]؛ کذب په څرګند توپیر په بلې کتګورۍ کې راغلی او دا کتګوري د (پاکیتي یه ګانو[7]) په ډلې کې ده چې سرغړونــه ورځخه د توبې مستوجب ګرځي[8]. که زموږ لیکوال د (بودایي قانون غړی وي، او په ډاډ ویلی شو چې وو، نو دا د نــۀ باور خبره ده چې دی دې د قانون د عامه پوهې په عادي سکالو کې داسې یوه تېروتنه وکړي، داسې یوه تېروتنه چې دی دې د (پاراګیکه) د قواعدو په شمــېـر او ماهیت کې چې د حیاتي اهمیت وړ دي، تېروتنه وکړي. له بلې خوا له دې سره جوخت لیکوال د (پاکیتي یه) قاعدې ته ورګرځي، خو کټ مټ هغه متن ټکی په ټکی نــۀ یادوي چې په (پاتي موخه[9]) کې راغلی دی. خو زه ګومان کوم چې لیکوال د هغه څه په هکله چې ویل ئــې دي ښــۀ پوهېدۀ او خبر وو. سره له دې چې ددغــۀ نقل قول خاپ تر اوسه نه دی موندل شوی خو ښایي په ناچاپ شویو پیټکه ګانو کې وموندل شي چې بودا په کې اړ شوی چې ووایي کذب یوه پاراګیه ده - دا کټ مټ د عیسویانو ادعا ته ورته ده چې وایي په لسو صحیفو کې له کذب ځخه احتراز شوی دی خو د لسو فرمانونو په دقیقو عباراتو ښــۀ خبر دي.

---

[1] - و.ګ زما ژباړه په بودایي سوتاګانو 'Buddhist Suttas کې ۱۴۶ – ۱۵۵ پاڼې - لیکوال

[2] - II, 2, 4

[3] - Sâriputta : د بودا څلور شاګردان ډیر مهم بلل شوي دي دوه نارینه او دوه ښځینه. په نارینه وو کې یو ئــې همدا ساري پوته او بل ئــې مَود ګلیایانه دی او په ښځینه وو کې یوه ئــې ښیمه او بله ئــې آپه لـَوانه ده. ساري پوته ارهټ سو او د بودایي روایاتو پر بنسټ د تعقل لوړې درجې ته ورسـېـد. په پالي ژبې کې پوته د بچي یا زوی په معنی ده او ساري ئــې د مور نوم وو. په سانسکریت کې ساري د یوې ناوې نوم دی. ژ

[4] - Thera Gâthâ (1002, 1003)

[5] - Pârâgika

[6] - و.ګ زما ژباړه : د وینه یا متنونه لومړی ټوک ۱ – ۵ پاڼې - لیکوال

[7] - Pâkittiyas

[8] - و. ګ. هماغه، زما ژباړه- لیکوال

[9] Pâtimokkha : په تیروه دا بودیزم کې د رهباني دسپلین او چار چلند یو شمــېـر قواعد دي چې ټول په همدغـۀ نامــۀ یادېږي. په دې کې ۲۲۷ د (نارینه) مانکانو لپاره او ۳۱۱ قاعدې د ښځینه رواهبو لپاره ویل شوي دي. - ژباړونکی

زموږ لیکوال د ځلورم کتاب په (۴، ۲۶) کې په (تک کهه - سوکـَره ګاته که[1] ) کې یاد شوی هوښیار سرکوزی (خوک) د (بودي سـَت[2]) په نامــــهٔ پېژني. لیکوال دلته په دې هکله په خپلې خبرې کې د (ګاته که) له تفسیر سره توپیر لري، د (ګاته کې) په تفسیر کې د (بودي ست) پر ځای ( ونــه - خدایګوټی[3]) ویل شوی چې په داستان کې د یوهٔ یوناني سرود په ډول چلند لري. همدا شان د ځلورم کتاب د (۴، ۲۸) د (رورو ګاته که[4]) د برخې او د ځلورم کتاب د (۴، ۳۰) د (سابه - داتهه - ګاته که)[5] تخلیصونـه د پوهاند (فـَوسبول[6]) له متن سره دقیق سمون نــهٔ خوري.[7] تفسیر خو متن نــهٔ شي کـېـدی؛ دا په زغرده څرګنده شوې خبره ده چې د اشعارو په پراخولو کې همداسې نرم بدلونونه رامنځته شوي او کرار کرار ئـې د حقیقي متن ځای نیولی دی.

د ځلورم کتاب په (۴، ۴۴)[8] کې زموږ لیکوال د بودایي دین د تعلیماتو په کتاب کې د مشهورې کیسې بله بڼه ورکوي چې د پیټکه ګانو له لرغونو متنونو سره توپیر لري. دا یوه بله بیلګه ده چې بڼه ئـې د کوم بل ناپــېژندل شوي مفسر له خبرو اخیستل شوي او پراختیا ئــې ورته ورکړې ده، او د هغــهٔ متن په هکله بحث نــهٔ کوي چې موږ ئــې په لاس کې لرو.

ما زموږ د لیکوال د اثر په یوې ناژباړل شوې برخې کې ځلور یا پنځه نور ټکي هم موندل چې ظاهراً د پیټکه له هغـهٔ متن سره توپیر لري چې دهٔ ورته نغوته کړې ده. هیله مند یم چې د خپل کتاب په بل ټوک کې دا ټکي راوسپړم. خو دلته دوني یادونه کوم چې لیکوال دوه شعري بندونه یادوي چې یو ئـې د ورکړل شوي متن په ۴۱۴ پاڼې کې او بل ئــې ویل شوي چې د (سوټا نیپاته[9]) په ۴۱۳ پاڼې کې راغلی دی؛ خو دا بندونـه د فوسبول په چاپي اثر کې نــهٔ لیدل کـېږي؛ او د ټولې شونتیا په پام کې نیولو سره دلته د یوهٔ بل رښتوني تحریف بــېـلګه وینو. خو د ټولو شونتیاوو په پام کې نیولو سره کـېـدی شي د میلینډا قرائـت سم نــهٔ وي.

---

[1] - Takkha-sûkara Gâtaka

[2] - Bodisat : موږ او تاسو به د پنجا تنترا او کلیله - دمنې له نومونو سره آشنا اوسو. په پخوا زمانو کې اخلاقي - مذهبي- ټولنیز او سیاسي لارښوونې د ځارویو او مرغانو له خولې د داستانونو په ډول ویل کـېدې چې مخکینۍ بیلګې ئــې موږ په ریګویدا کې هم ګورو. موږ او تاسو پوهېږو چې په بودیزم کې بیا زوکړه او ارتحال ددغــهٔ دین د فلسفې یوه برخه ده. همدغه ډول نصایح او اخلاقي تدریسات په خپله د بودا له خولې ویل کـېدل. له بله اړخه پوهـېږو چې بودیزم د اسلام او عیسویت د ادیانو په شان د دعوت پر بنسټ ولاړ یو دین دی. په بودایي دین کې به هم مانکان د دعوت لپاره لــېـرې ځایونو ته تلل او د خپلو پیامونو په رسولو کې به ئــې خلکو ته د خپلو مواعظو په لړ کې د ځارویو له خولې داستانونه ویل. بودي ست په بودیزم کې داسې یو موجود دی چې د ځاروي یا مارغه په بڼې هر کله او هر چــېــرې ننوځي. د بودي ست دغه کرکتر د مانکانو په داستانونو کې په حقیقت کې د بودا د ژوندانه انځور دی چې هر ډول ربړې د انسان په چوپړ کې پر ځان اخلي. - ژ باړونکی

[3] - tree-god : د طبعیت پالنې په فلسفې کې ارباب الانواعو ته د طبیعي شیانو لکه ونو، غرونو، سیندونو، اوبو، نباتاتو، آسمان، لمر و سپوږمۍ اور او نورو کې تجسم ورکول کـېږي. - ژباړونکی

[4] - IV, 4, 28 of Ruru Gâtaka

[5] - IV, 4, 30 of the Sabba-dâtha- Gâtaka

[6] - Fausböll

[7] - و. ګ را اخیستل شوي اقوال، زما یادښتونه - لیکوال

[8] - IV, 4, 44

[9] - Sutta Nipâta

کله چې موږ د اخېستل شویو نقل قولونو لویه شمــېــره په پام کې ونیسو نو زما په ډاډمن باور د دې پرتلې عمومي پایله به د پورته یاد شوي جاج منل وي چې زموږ لیکوال عملاً په  هغو پیټکه ګانو چې اوس ئــې لرو ښــهٔ پوهـېدهٔ په ځانګړې توګې په هغو پیټکه ګانو چې سایلون ته ورکړل شوې دي.

---

د خواشینۍ ځای دا دی چې د پیټکه ګانو له متـنـونو د باندې اوسنیو کتابونو ته ارجاع نــهٔ ده شوې. مګر یو شمــېــر مهمو هــېــوادونو او کسانو ته نغوته شوې ده او ددې ټکي په پام کې لرلو سره دا زموږ د لیکوال د پوهې ځرګندونه کوي چې په سپېــڅلو کتابونو کې ئــې یادونــه نــهٔ ده شوې. موږ ته به ښه لاره دا وي چې دا نقل قولونو لومړی په الفباتیک ډول راټول او بیا د همدغــهٔ لست پر بنسټ خپل جاج وړاندې کړو. دغه نقل قولونــه دا دي :-

| Name | | | Pages of the Pâli Text | |
|---|---|---|---|---|
| Anantakâya (Yonako) | . | . | . | 29, 30 |
| Alasando (dîpo) | . | . | . | 82, 327,331,359 |
| Asoka (Dhamma- râgâ) | . | . | . | 121 |
| Asokârâma (near Patna) | . | . | . | 16,17 |
| Assagutta (âyasmâ) | . | . | . | 6,7, 14 |
| Âyupâla (âyasmâ) | . | . | . | 19 |
| Ŭhâ (nadî) | . | . | . | 70 |
| Kalasi (gâmo) | . | . | . | 83 |
| Kasmîra (rattham) | . | . | . | 82,327, 331 |
| Kola-pattana (seaport) | . | . | . | 359 |
| Gandhâra (rattham) | . | . | . | 327, 331 |
| Kandagutto (râgâ) | . | . | . | 292 |
| Kîna (? China) | . | . | . | 121,327,331,359 |
| Takkola (?  = Karkota) | . | . | . | 359 |
| Tissatthera (Lekhâkariyo) | . | . | . | 71 |
| Devamantiya (Yonako) | . | . | . | 22, 24,29, 30 |
| Dhamma-rakkhita (âyasmâ) | . | . | . | 16, 18 |
| Nikumba (rattham) | . | . | . | 327 |
| Bindumatî (ganikâ) | . | . | . | 121 |
| Bhaddasâla (Senâpati-putto) | . | . | . | 292 |
| Bharukakkha (men of) | . | . | . | 331 |
| Maňkura (Yonako) | . | . | . | 29,30 |
| Madhora (nigamo) | . | . | . | 331 |
| Yonâka (the tribe) | . | . | . | 1,4,20, 68 |
| Rakkhita-tala (in the Himâlayas) | . | . | . | 6.7, 12, 18 |
| Rohana (âyasmâ) | . | . | . | 7.10 |
| Vaňga (Bengal) | . | . | . | 359 |
| Vattaniya (Senâsanam) | . | . | . | 10,12,14, 16 |
| Vigamba-Vuttu (Senâsanam) | . | . | . | 12 |
| Vilâta (rattham) | . | . | . | 327,331 |
| Saka-yavana (the countries of saka) | . | . | . | 327,331 |
| Saňkheyya (parivenam) | . | . | . | 19,22 |
| Sabbadinna or Dinna  (Yonako) | . | . | . | 29,56 |
| Sâgala (nagaram) | . | . | . | 1, 3, 5,14,22 |
| Surratha (nigamo) | . | . | . | 359, men of, 331 |
| Suvanna-bhûmi (? Burma) | . | . | . | 359 |

يوۀ په زړه پورې ټکي ته به پام وکړو چې په داستان کې د راغلو کسانو د نومونو تر څنګ يوازې په يوۀ نقل قول کې د آشوکا او بدلمنې (بيندو مَتي[1]) نومونه راغلي او په بل کې ئــې (کندره ګوپته او بهده ساله[2]) راغلي چې دده پر وړاندې ئــې جګړه کړې وه. په داستان کې د ځايونو د يادو شويو نومونو تر څنګ د يو شمــېــر ځايونو نومونــه راغلي چې ډېـــري ئــې په پنجاب او په ورڅـېـرمو سيمو کې دي؛ او ددغو نومونو ترڅنګ موږ يوازې د څو ځايونو نومونــه او يا ولايتونو نومونــه وينو چې په سمندري غاړو کې دي. په اندس کې د (الاسنده[3]) ټاپو او د (کلاسي[4]) ښارګوټي چې دواړه په همدغــۀ ټاپو کې پراتـــۀ دي، دا هغه نومونــه دي چې پورته مو ياد کړل. د (ساکانو[5])، (ياوانه وو[6])، (ګندهارا[7])، (کشمـــېـــر)، (بهروکخه/ بهروکښه[8])، (سورَت[9]) او (مدهوره[10]) هغه نومونــه دي چې شرحې ته اړتيا نـــۀ لري. د (نيکومبه[11]) او (ويلاته[12]) د ځايونو نومونه ښايي هغه ځايونــه وي چې د يادو شويو سيمو په ګاونډ کې به وې، خو دا بايد په پام کې ولرو چې دا نومونه بل چيرې نـــۀ دي ياد شوي او د شوني پېـژندنې لپاره ئــې کوم وړاندېز نـــۀ شم کولی. د سمندري غاړو د ځايونو نومونــه هغه دي چې سوداګريزو بېړېـو په کې تګ راتګ کولای شو او په ۳۵۹ پاڼې کې ياد شوي دي چې نامتو او پېـژندل شوي ځايونه دي. زما په ګومان د (کورومندل[13]) په سمندري غاړې کې د (کوله پټنــه[14]) سيمه او (سو وانه - بهومي[15]) ښايي د برما او سيام سمندري غاړي اوسي. ليکوال د ګنګا د سويل په کورنۍ برخې کې د هـــېـــڅ ځای نوم نـــۀ اخلي.

ليکوال په څلورو ځايونو کې د نامتو سيندونو نوملړ ورکوي. د سيندونو د څلورو نوملړونو له منځه ليکوال په درې هغو کې هماغه د پنځو سيندونو نومونــه تکراروي : ( ګنګا[16])، (جمنا[1])، (اکيره وتي[2])، (سَرَبهو3) او ( مهي[4]) - دا هغه نومونــه دي چې

---

[1] - Asoka and Bindumatî the courtesan

[2] - Kandragupta and Bhaddasâla

[3] - Alasanda

[4] - Kalasi

[5] - Sakas

[6] - Yavanas

[7] - Gandhara

[8] - Bharukakkha

[9] - Surat

[10] - Madhura

[11] - Nikumba

[12] - Vilâta

[13] - Koromandel

[14] - Kolapattana

[15] - Suvanna-bhûmi

[16] - Gaňgâ

په پيتکه ګانو[5] کې په ګډه ځوځوځله ياد شوي دي. ليکوال په (۱۱۴ پاڼې کې) په څلورم نقل قول کې پنځه نور سيندونه زياتوي - (سيندهو[6])،(سَرَسَتي[7])، (ويتره وتي[8])، (ويتَمسا[9]) او (کنده بهاګا[10]). په دغو پنځو واړو کې دوه لومړي سيندونه ئې نامتو سيندونه دي. پوهاند ايدوارد مولر[11] وايي[12] چې د ويتمسا نوم هماغه د (ويتَستا[13]) نوم دى (چې يونانيانو د هيدسپس[14] په نامهٔ ياد کړى او اوس د بهيت[15] سيند نوميږي). (ويتره وتي) د جمنا د لوى سيند يوه بنسټيزه څانګه ده؛ او د (کندره بهاګا[16]) سيند د هماليا له شمال لويديځ کې سر را پورته کوي؛ د يادونې وړ بولم چې دا سيند د ريګويدا (اسکيني[1]) سيند نهٔ دى؛ هغه اسکينز چې يوناني جغرافيه پوهانو ليکلى اوسنى کيناب[2] (چناب - ژ) دى[3].

---

[1] - Yamunâ

[2] - Akiravatî

[3] - Sarabhû

[4] - Mahî

[5] - See pp. 70, 87, 380 of the Pâli text.

[6] - Sindhu : يونانيانو او روميانو د اندس په نامهٔ ياد کړى دى، او له دوى مخکې ددغهٔ سيند دلتا په ريګويدا کې د سپتا سيندو Sapta Sindhu او په اوستا کې د هپتاهندو Hapta Hindu په نامهٔ راغلى دى. د ريګويدا او اوستا دواړه نومونه د (اوو سيندونو) معنى ښندي چې له همدې کبله په معاصرې پښتو کې اباسيند يعنې د سيندونو پلار شوى دى. په لرغونو تأريخي رواياتو کې چې دا سيند د لومړي ځل لپاره د داريوش پر مهال پلټل او ثبت شوى دى چې خپل يوناني طبيب او درباري افسر ئې چې کرياند سکايلکس نوميدهٔ دغه سيند ته ولېږهٔ چې ومومي دا سيند چېرې پاى ته رسيږي. نوموړى په خپل يادداشتونو کې وايي چې خپل د اوبوسفر ئې د پکتاييکا له ښاره پيل کړى دى. له دې ښکاري چې د پکتايکا لمنه تر ډېرو لېرې سيمو پورې غځيدله. دوه احتماله شته چې نوموړي دې خپل سفر د سوات او يا اټک له برخو پيل کړى وي ځکه تر دغو ټکيو مخکې د اوبو د چټک بهير له کبله د کابل د سيند ټولې څانګې د بېړى چلولو لپاره مساعدې نه دي. اندس ته په سانسکريت کې سيندهو सिन्धु وايي. د سيندهو نوم په سانسکريت کې له په زړهٔ پورې ترکيبه جوړ شوى دى چې د پاملرنې وړ دى. دا په حقيقت کې سيمدهو دى. سيما SimA يا सीमा په سانسکريت کې د سيمې، بشپړتيا يا تماميت او پولې يا سرحد په معنى راغلې ده او (دهو dhu يا धु) د لړزونکى په معنى راغلى او له ګډولې څخه ئې د سيند يا د لړزيدونکو اوبو معنى جوړيږي. يوناني جغرافيه ليکونکي مګه ستينيز چې له ۳۵۰ تر ۲۹۰ م.ز کال پورې ژوند کړى د انديکا په نامهٔ ئې کتاب ليکلى چې دا سيند په انديکا کې د اندس په نامهٔ يادوي او زياتوي چې څنګه «نې يرکس» له الکسندر سره د اندس له سينده واوښت. اندس په چينايي او ترکي ژبو کې د نيلاب په نامهٔ ياد شوى دى. اوس د همدغهٔ نامهٔ ګډولې ته په کتنې ګورو چې په پښتو کې د (سيمې) لغت په سانسکريت او پالي دواړو کې جرړه لري ځکه په پالي کې پولې يا سرحد ته سيمه وايي. – ژباړونکى

[7] - Sarassatî

[8] - Vetravatî

[9] - Vîtamsâ

[10] - Kandabhâgâ

[11] - Professor Eduard Müller

[12] - Journal of the Pâli Text Society,' 1888, p. 87.

[13] - Vitastâ

[14] - Hydaspes

[15] - Bihat

[16] - Kandrabhâgâ

دا نوملړ زښت ډېـــر لنډ دی. یوې دیني- اخلاقي رسالې ته ښایي چې خپل اند- لوری د یوې پراخې جغرافیــې پر شپول راوڅرخوي او یا تأریخي سکالو ته کتنـه وکړي. که ددې اثر لیکوال په لوی لاس نـــهٔ وي غوښتي چې خپله پوهه پټه کړي نو داسې ښکاري هغه څه چې دی ئــې د ناګه سینا په خولې کې د ځواب په توګې داسې وراچوي چې ګڼې ښوونکی وربانديې پوهېږي ، د نومونو دا ټول نوملړ مونږ دې پرېکندې پایلې ته رسوي چې د " میلیندا د پوښتـنو" د اثر لیکوال باید د هندوستان په لـېرې شمال لوېدیځ او یا په خپله په پنجاب کې دې استوګنـه کړې وي. او دا د هغه څرګند ناشوني توب د تصدیق له مخې په ډاګه کېږي چې له یادو شویو سیمو پرته د میننډر خاطرات بل هـــېـڅ چېرې په ځانګړې توګې په سایلون کې ژوندي نـــهٔ دي پاتې سوي، دا هغه سیمې دي چې که لیکوال بل چـېـرې استوګنه نـهٔ وي کړې طبیعي ده چې مونږ ددهٔ استوګنه همدلته ولټوو.

---

په اوسنۍ وراشې کې زما د نورو خبرو لپاره دلته ځای تنګ دی، خپلې خبرې به راتلونکي ټوک ته وځنډوم، په راتلونکي ټوک کې به په اثر کې د لیکوال د ښودل شوې پوهې برید په ډاګه شي چې د خپل مهال څومره شواهد مونږ ته په لاس راکوي یعنې هغه ټولیز شرایط باید په ډاګه شي چې دی ورسره ځان آشنا ښیي او هغه دیني اعتقادات باید وڅـېړل شي چې دی ئـــې په هکله خبرې کوي. دلته یوازې غواړم ووایم چې په اثر کې د لیکوال یاد شوي ټکي داسې نښې ښیي چې د پیټکه له متـنونو راوروسته وي. او د پالي په هکله زمونږ د اوسنۍ نیمګړې پوهې کچه په بلې وینا غفلت ډېـــره تېټه ده چې وکولای شو د لیکوال له کارَول شوې ژبې څخه دومره ډېـــر څه راوباسو. په لومړي سر کې خو مونږ په ډاډ نـــهٔ پوهـېږو چې آیا زمونږ مخې ته اصلي نسخه پرته ده او یا د سانسکریت د ژبې او یا د شمالي هندي د کومې بلې ژبې له مخې ژباړل شوې نسخه لرو. که خبره همداسې وي اوډېـــره شوني ښکاري چې همداسې به وي نو مونږ له کومې بلې ژبې څخه ژباړل شوې نسخه په لاس کې ولرو، هر ګوره، مونږ ته به ددې ویل ګران وي چې مونږ به په کښې کوم «ژبنی – ژ» خصوصیت ومومو، دا خصوصیت په حقیقت کې په ژباړن یا د اصلي متن په لیکوال پورې اړه لري[4]. شک نـــهٔ شته چې که یوهٔ ژباړونکي ته په اصلي متن کې داسې لغت په مخ ورشي چې په پالي کې نـــهٔ وي مګر د پالي د ګرامري مشتقاتو د قاعدې له مخې تر لاسه شوی وي، نو ژباړونکی به همداسې لغت پالي بڼې ته په مشابه یا متناظر ډول جوړ کړي. د همداسې کار په کولو، که اصلي نسخه په پراکرېتي ژبې وي، ډېره شوني ښکاري چې ژباړونکی خپلې مخې د پراکرېتي لغاتو په لرو په ګرداني مشتقاتو کې له تېروتنې سره مخامخ شوی وي. ښاغلي چایلدرز له پالي سره د بودایي سانسکریت په پرتله کولو څو پـېـښــې په ډاګه کړې چې همداسې تېروتنې په کې شوې دي او ګومان کوي چې په هرې تــېـروتنې کې د سانسکریت ژباړونکی په پالي

---

[1] - Asikni

[2] - Kînâb

[3] - See Lassen, 'Indische Alterthumskunde,' vol. i, p. 43 (first edition, p. 55 of the second edition), and the passages there quoted.

[4] - تر دې غونډلې یا جملې لاندې ما پښتو ژباړونکی کرښه ایستلې ده. ځکه ددې اثر په ژباړې کې زمونږ موخه دا ده چې تثبیت کړو دا اثر او مرکه په همغـهٔ مهال کې د هغـهٔ مهال په لرغوني پښتو تر سره شوې ده - ژباړونکی

لغت نـــۀ دی پوه شوی او خپلې مخې د پراتـــۀ پالي لغت په مفهوم کې تېروتلی دی[1]. هماغسې چې مخکې مې یو چــېـري وویل ډېر احتمال شته چې سانسکریت ته د اکثرو لرغونو «ژباړل شویو- ژ» بودايي متونو «اصلي بڼه –ژ»، له مبالغې پرته، د پراکریتي ژبې[2] یوه څانګه وه نـــۀ پالي[3]. اوس مو چې دا خبره وکړه نو د بلې انګېرنې رامنځته کولو ته اړ کېږو چې دا کومه ژبه وه چې سانسکریت لیکوالانو خپلو مخو ته درلودل او له داسې سترو او عجیبو تېـر وتنو سره مخامخ شوي دي. دې ته ورته استدلال د هغو څانګړو لغاتو د ژبې په هکله کـېـږي چې منحصراً د میلینډا په مرکې کې موندل کـېـږي او ښایي په همدې ژبې ئـې لیکلې وي. د هغو لغاتونو لیست ته ځانګړه پاملرنه په کار ده چې زموږ ددې اثر لیکوال کارولي او په پیتکه ګانو کې نـــۀ شته، او موږ تر اوسه د ټولې پیټکې متن په چاپي ډول په لاس کې نـــۀ لرو. سره له دې چې موږ ئـې چاپي بڼه په لاس کې نـــۀ لرو مګر موندل ئـې همدا اوس ددې لپاره ګټور دي چې زما د لغاتو په نیمګړي لیست کې به ددغو لغاتو د تعقیب او تداوم لړۍ ساده کړي، ما په خپلې کاپۍ کې د ښاغلي چایلدرز[4] د قاموس یادونـه کړې ده.

| وییکی/ لغت<br>Word | پښتو<br>تلفظ | Pages of Pâli Text | | | Note | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Ãlaka[5] | آله که | . | . | 418 | See Journal 1886 p.158 | | |
| Anekamsikatâ | انیکم سیکه تا | . | . | 93 | See Journal 1886 p.158 | | |
| Ãnâpako | آنا پـَکو | . | . | 147 | Peon Officer | . | پلی سرتـېـری |
| Anîkattha | اني کټهه | . | . | 234 | sentinel | . | پهره دار، قراول |
| Anughâyati | انوګهایتي | . | . | 343 | Trace by smell | . | په بوی تعقیبول |
| Anuparivattati | انوپَري وَټه تی | 204.253.307 | | | Turn towards | | یوې خوا ته تاوېدل، د چا مخ ته تاوېدل |
| Antobhaviko | انتوبهـ ویکو | . | . | 95 | Journal1886 p.124 | . | |
| Ãvapana | آوه پنـــۀ | . | . | 279 | Journal1886 p.157 | . | |
| Asipâsâ | اسي پاسا | . | . | 191 | A caste so called | | یوه (برهمني) پاړکه /طبقه یا کست په دغه نامـــۀ یادېدله |
| Anupeseti | انوپـــي سی تي | . | . | 31,36 | Send after | . | (چا) پسې (څوک) لـېږل |
| Ãsâdaniyam | آسا دَني یم | . | . | 205 | Injury | . | ټپ |
| Atonâ[6] | اَتونا | . | . | 191 | Professional beggars | | مسلکي ګدایان |
| Ãyûhito | آنو هیتو | . | . | 181 | Busy | . | بوخت/ مصروف |
| Ãyûhako | آیو هکو | . | . | 207 | Busy | . | بوخت/ مصروف |
| Bhaddiputtâ[7] | بهاډي پوټا | . | . | 191 | A caste so called | | یوه (برهمني) پاړکه یا کست په دغه نامـــۀ یادېدله |
| Bhattiputtâ | بهاټي پوټا | . | . | 133 | | | |

[1] - See the articles in his ' Pâli Dictionary' referred to under note 3.p. xi of the introduction.

[2] - See the note on pp. 178, 179 of my ' Buddhist Suttas.'

[3]- تر دې کرښې لاندې ایستل شوې کرښه زما د پښتو ژباړونکي ده- ژباړونکی

[4] - Childers' 'Dictionary

[5] - په سانسکریت کې آله که یا اَلـَکه अलक د څنو ول په ول، ګورګوټي ویښتانو، تاو ویښتانو او کـَوڅې ته وايي.ژباړونکی

[6] - Hînati-kumburé (p.252) reads as anânayo

[7] - The Simhalese has bhaddiputrayo

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Bhavatîha | بهاوَتيهـه | 92,93, 342 | | | Introducing verses | | پيژنديز اشلوک / معرفتي نظمونــه يا اشعار |
| Kandakanta | کنده کنته | . | . | 118 | A kind of gem | . | يو ډول غمی يا گوهر |
| Kavaka | کاواکه | 156,200 | | | wretch | | سپېره، خوار، تيت، بې وزلې، بدمرغه، کم اصله |
| Dhamadhamâyati | دهمدهمايتي | . | . | 177 | To blow | | سنول، بادول، چاودول، غوړېدل، چلېدل، لگېدل، سخول، پوکول، |
| Ekâniko | ايکانيکو | . | . | 402 | On the one true path | . | په يوې رېښتـيني لار |
| Ghanikâ | گهني کا | . | . | 191 | Musicians | . | موسيقي ږغونکي |
| Gilânako | گي لا نکو | . | . | 74 | A sick man, patient | . | يو ناروغه سړی، ناجوړه |
| Hiriyati | هيري يتي | . | . | 171 | Is made afraid of sin | | له گناه څخه د ويرې لپاره جوړ شوی |
| Issatthako | ايسَت هکو | . | . | 419 | Archer | . | غيشی او ليندۍ ويشتونکی |
| Galûpikâ | گلو پيکا | . | . | 407 | Leech | | ژوره، يو ډول چينجی دی چې وينه څبني، جوک، ويني څبونکی سړی |
| Kali-devatâ | کالي ديوَتـا | . | . | 191 | Kali worshipers | . | کالي ته عبادت کونکي |
| Katomika | کتو ميکه | . | . | 78,79 | Reminding | . | په ياد راوړنگ |
| Kummiga | کُميگه | . | . | 346 | Animal | | ژوی/ څاروی |
| Lakanaka | لکانکه | . | . | 377 | Anchor | . | لنگر |
| Laňňkaka | لنکه که | 137,242,256,362 | | | Epithet of Nikâya | . | د نيکايه گانو لقب |
| Laňghako | لنگهَکو | 34,191,311 | | | Tumbler | | سرکوندو وهونکی/ ملاقي کفتره، په کولپ کې د کونجی ځای |
| Lekhaniyo | ليکهني يو | . | . | 172 | Sharp (of medicine) | | تيز (درمل) تيزه دوا |
| Mamkata | مم کته | . | . | 384 | Done by me | | ما کړی دی |
| Manthayati | مَنتها يتي | . | . | 173 | Churn | | مندانو، غړکه |
| Manibhaddâ | منيب هدا | . | . | 191 | A caste so called | | يوه (برهمني) پاړکه يا کست په دغـهٔ نامــهٔ يادېدله |
| Nattâyiko | نتّا يکو | . | . | 201 | (?) Farmer | . | (؟) بزگر |
| Nârâkâ | ناړاکا | . | . | 105 | A weapon so called | | په همدغه نامـــهٔ د يوې وسلې نوم وو |
| Niyyâmaka | ني يامکه | 194,376 | | | Pilot | | بېړۍ چلونکی، پيلوټ، رهبر |
| Okassa | اوک اسه | . | . | 210 | Rudely | | په شډلتوب، په سپين سترگی، په خبثم |
| Pabbatâ | پبه تا | . | . | 191 | A caste so called | | يوه (برهمني) پاړکه يا کست په دغـهٔ نامـهٔ يادېدله |
| Pakkhanno | پک کهنو | 144,390 | | | Lost, fallen | . | ورک شوی، لوېدلی |
| Parimaggakâ | پري مگه کا | . | . | 343 | Touchers of | . | د ... لمسونکي |
| Parimutti | پري موتي | . | . | 112 | Release | . | خلاصول، خوشي کول، ترخيص |
| Parirañgita | پري رَنگيته | . | . | 75 | Marked over | . | په نبنه شوی |
| Parisanha | پري سنـــهٔه | . | . | 198 | Subtle | | ژور فکری، زيرک، دقيق، تنکی |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Pariyoga[1] | پري یوګا | . | . | 118 | Cauldron | | چای جوش، ګردی اوسپنین دیګی |
| Patisallîyati | پټي سالي يتي | . | . | 139 | To be secluded | | ګوښه سوی، منزوی سوی، متروک سوی |
| Pastisîsaka | پستي سي سَکا | . | . | 90 | Chignon | | څټ کې چوټي کړي ویښته |
| Penâhikâ | پـنِاهیکا | . | . | 402 | A bird so called | | یوه مرغی چې په همدغه نامـــۀ یادیږي |
| Pitaka | پي ته که | . | . | 18 &c | See more note to p. 28 | | |
| Pimsati | پیم سَتي | . | . | 43 | Compound (medicine) | | ترکیبي (درمل) |
| Ratani[2] | رَتـَـنـي | . | . | 85 | Cubit | | د اوږدوالي طول، د میچ د اندازې کولو پخوانی مقیاس له ۷۲ تر ۴۵ سانتي |
| Sakkika | سَکیکه | . | . | 226 | True | . | رښتیا، حقیقي |
| Sâmâyiko | سامایکو | . | . | 22 | Learned in doctrine | | د حکمت او عقیدې عالم، فاضل |
| Supâna | سَپـانـــۀ | . | . | 147 | Dog | . | سپی |
| Tamyathâ | تمیه تهه | . | . | 1 | See Trenckner's Pâli Miscellany p.55 | | |
| Thâla | تهاله | . | . | 62 | Gong | . | اوسپنین زنګ، ناقوس |
| Tipetako | تي پیتکو | . | . | 90 | Who knows the Pitaka | | هغه څوک چې په پیتکه پوهېږي |
| Ukkhadeti | اوک هَدیتی | 241 (see 315) | | | Perfume the body | | پر ځان عطر شیندل |
| Ŭhana | او هنـه | . | . | 32 | Synthesis | . | تلفیق، پیوند، امتزاج |
| Ukkalati | اوکه لـَتـي | . | . | 143 | Revoke | . | لغو، فسخ، ابطال |
| Uparama | اوپه رامه | . | . | 41,44 | Cessation | | پای، انقطاع، درول، توف، بندول |
| Viggâdharo | ویګادهَرو | 153, 200 | | | Magician | | کوډګر، مجوسي، جادوګر |
| Yogâvakro | یوګاوَکرو | 43,400,and fooll | | | See my note on p. 68 | | |
| Yogin | یوګین | 2,400. foll | | | Ascetic | | ربرګالی، مرتاض، ریاضت ایستونکی، زاهد |

دا لیست به هغه مهال لا لوی او پراخه شي چې که په توپیر لرونکو لغاتو پسې چې په پیتکه ګانو کې کارول شوي یوازې مشهور مختارې او وروستارې وټرو، د بېلګې په توګې په ۱۱۷ پاڼي کې (وي پَري وټاتي[3]) چې تر اوسه لـېدل شوی او په بل ځای کې په ۳۷م شعر کې (تـِلـه کتاهـه ګاتها[4]). مګر داسې لغات چې یوازې د ژبې د موجودو سرچینو د لا په کار لویدلو لپاره ګټور دي دلته زموږ استدلال ته کوم بنسټ نـۀ مساعدوي چې تثبیت کړي لیکوال چـېـري او کله دا اثر لیکلی دی. ما په دې هکله په خپلې ټولي وسعې وربانديې فکر کړی دی نو لږ تر لږه د اوسمهال لپاره غوره بولم چې ورڅخه تــېـر شم.

که موږ له منفردو لغاتو څخه د سبک شهودو ته را واوړو نو هر لوستونکی به دا ومني چې میلیندا خپل ځان ته یو منحصر سبک لري چې نـۀ یوازې د اکثریتو پیتکه متنونو له رسمي دقت څخه برابر توپیر لري، بلکه تر دې دمه د نورو پالي او سانسکریت بودایي لیکوالانو د چاپ شویو آثارو له سبک څخه هم توپیر لري. شک نـۀ شته چې ددې اثر د لیکنیز سبک

[1] - This word has been found in the Pitakas (i.e. Magghima I, 480) in the sense of "Practice"
[2] - The Pikaka form in ratana
[3] - viparivattati, at p. 117
[4] - Tela Katâha Gâthâ, verse 37

افسون یو له هغو بنسټيزو دلایلو څخه دی چي ددې کتاب په لوړ شهرت کي ئـي ونډه لوبولې ده. ان که کوم لوستونکی په متن کي له راپورته شویو ټکیو او یا له سپړل شویو پوښتنو سره علاقه ونـهٔ لري بیا هم په ډاډ ویلای شم چي ان د خامې ژباړې د کرښو له منځه به د اصلي نسخي محسنات ووینې. او یوهٔ بودایي عابد ته چي سترګي ئـي دا کرښې لولي کتاب ورته په دین کي د ډېــرو جدي صعوباتو، د ژوندانـــهٔ د ژورو ستونزو د حل لارې په لاس ورکړي- هغه ته چي د ذهني - عقلاني روزنې په ترڅ کي ستونزې کـټـېـدلي هغه معمی ګاني په دقت او جذبي حل شي چي ددهٔ مخي ته ايښودل شوي دي- همداسي یوهٔ لوستونکي ته د پـېلـنـيز دیالوګ آسانه ظرافت، کټ مټ هغي ببړۍ ته ورته دی چي د آرام فکري سمندر په پېل ورننوځي او هم په بیان پورې د اړوندو اقوالو فصاحت په ځانګړې توګې د نطقونو بیاني فصاحت چي په لړ کي ئـي د حل لارې پای مومي، باید د یو متداوم روحاني عشرت بنه ولري. غواړم په جرئت ووایم چي د " میلینډا پوښتنې" له شک پرته په هندي نثر کي یو شهکار دی؛ دا کتاب په حقیقت کي له ادبي اړخه په خپلې ډلې کي د نړۍ د ټولو تألیف شویو کتابونو په منځ کي یو تر ټولو ښـهٔ کتاب دی. د ځای تنګوالی مي نـــهٔ پرېږدي چي وروستی یاده شوې خو په زړه پورې خبره دلته تر بحث لاندې ونیسم: شک نـهٔ شته چي ددې ټکي اثبات به ګران وي چي زموږ د خپلو نجباوو او یا د هغو کسانو د پنځونو افضلیت چي کرما ئــي موږ په میراث لرو د هندوستان تر پنځونو به لوړ وي. خو دا باید هېره نـــهٔ کړو چي د لرغوني هندوستان د ادب په ډګر کي یوازې دوه یا درې نور داسي آثار شته چي ورسره پرتله کېـدی شي. او دا هم باید دومره عجیبه نـــهٔ وي چي دا آثار هم هغه بودایي او پالي آثار دي چي په همدغــهٔ فکري مکتب کي پنځول شوي دي. که (دیګهـه نیکایه[1]) په خپل غوره والي کي خپل دروند پرتم لري، که (ویسودهي مګه[2]) لا تر اوسه خپل زور و ځواک ساتلی دی او که د (ګاتـــکه[3]) کتاب خپل بـېلا بـېل ظرافتونـه لري بیا هم په دوی کي د ویاړ تاج د " میلینډا د پوښتـنـو" ته د یوهٔ هنري اثر په توګې ورکول کېـږي.

پوهـېږم چي زما دغه پایلـېنوی به د بودایي ادب له اکثراً متکرر کسر سره بشپړ توپیر ولري. مګر رښتیا خبره دا ده چي دغه کسر د هغي بې خبرۍ له کبله دی چي د مغرضانه تبعیضي قضاوت په مزیو تړل شوی دی. تنقیدي قضاوت خو وایي چي دا اثر به د هغو بودایي چاپ شویو او ژباړل شویو آثاور په منځ کي ژوندی نـــهٔ وای پاتې شوای چي ځان پرې غوره بولي یا سترګي ورڅخه پټوي. یو شمــېـر سانسکریت پوهانو ته - چي په هندي چارو کي د برهمنانو له لید لورو سره آشنا، او هغو فضایلو او نیکو خصایلو ته چي لرغونو برهمنانو درلودل پر ځای او ورند درنښت لري- د هغو مذهب پالو ډلو په ژبو د ستاینې وړ او ښکلو آثارو د ټکیو تائید او تصدیق به ورته ګران وي چي ددوی ژبني قواعد او قوانین په کي نـــهٔ وي مراعات شوي. مګر د تأریخي فکري پرمختګ څــېـړونکي او په هند کي د ادب د لمر ختل به دا مسـئـلـه له هره اړخه په بشپړ ډول تر کتنې لاندې ونیسي او پرته له دې چي په پام کي ونیسي دا آثار په کومو ژبو یا د کوم دین او مذهب له پلوه لیکل شوي د هندوستان د ټولو آثارو ارزښت به وټاکي.

طهماس ویلیم رایس دیودیز[4] معبد آګست ۱۸۸۹

---

[1] - Dîgha Nikâya

[2] - Visuddhi Magga : په ۴۳۰ م. ز کال کي په سیریلانکا کي لیکل شوی د بودا د لارښونو او دکتورینو یو سیستماتیک پالي کتاب دی چي په دیني تفسیري ژبې ئــې د سیریلانکا د انورادها پورې او د مهاویهارې د بودایی عبادتځایونو شیخ مانکان پوهـېدل چي د تي په که د تفاسیرو دقیق مرکز او د عملي کولو لارې چارې په کي په تفصیل رانغاړل شوي دي. دا کتاب درې برخي لري:۱- سیله Sila اخلاقیات یا دسپلین، ۲- سمادهي Samâdhi فکري تمرکز او ۳: - پنه / پنا/ پنو Paňňâ (پوهه). - ژباړونکی

[3] - Gâtaka

[4] - **Thomas William Rhys Davids** : د همدې اثر انګریز ژباړونکی دی چي د پالي ژبې متخصص وو. نوموړی د ۱۸۴۳ز کال د مي په ۱۲ په برتانیه کي زیږېدلی او په ۱۹۲۲ز کال کي د ډسمبر په ۲۷ نـېټـې مړ شوی دی. - ژباړونکی

# د

# سلطان میلنډا

# پوښتنې

# د سلطان میلېنډا
# پوښتنې

ستاینــه او درنښت دې وي هغــهٔ مبارک لره
ارهټ، سما- سمبودها

## لومړی کتاب

دنیوي روایت[1]

۱- د پخوا زمانو په نامتو ښار ساګلې کې وو سلطان میلېنډا
چې ورغی د جهان شهیر عالم ناګه سینا لره
( څومره ژور دی دا ګنګا چې د ژور سمندر ژور تل لور ته درومي.)
هغه ته چې فصیح وو، د حقیقت مشعلدار،
د انسانانو د اذهانو د تیارو د طلسم دافع،
زیرکې او پیچلې پوښتنــې دهٔ کښــېښودلې ډېــرې
راګرځـــېـدلې پر ډېرو ټکیو. بیا نو ورځواب شول
په معنی کې ول ژور، غځوله ئــې زړهٔ ته لاره،
په غوږونو لګېـدل خوارهٔ ، تــېــرېدل عجیب غریب
د ناګه سینا خبرې ډوبې شوې په پټ ژور کې
د وینه یه او ابهیدهمه (د افکارو قانون[2])

---

[1] - (باهیره - کتها Bâhira- kathâ) THE SECULAR NARRATIVE په تحت اللفظي معنی « بهرنۍ خبرې» ؛ دا ځکه د نورو پاتې کتابونو په تناقض بهرنۍ خبرې ویل شوي چې د مذهبي موضوعاتو کرکتر ئــې تر بحث لاندې نیولی دی. - لیکوال

یادونه : په پالي کې (بهر او دباندې ته ) [باهیرَبهاګه bāhirabhāga، باهیره bāhira او بهیډهها bahiddhā] وایي حال دا چې په سانسکریت کې د مذکر او مؤنث حالاتو په پام کې نیولو سره ( بَـهیهـ bahiH बहि بهیرب هاګه bhirbhAga भिर्भाग، باهیم bAhyam ، باهي bAhye बाह्ये او په هندي کې باهره भिर्भाग Bāhara ) ده. ددې په ویلو سره موږ په پښتو کې (بهر) لرو. - ژباړونکی

[2] - Vinaya and of Abhidhamma (Law and Thought)

د (سوتیا) د ځال تارونــه خلاص شول ټول

ځلــېــدهٔ زمان په استعارو، او لوړ وو استدلال

اوس نو راسئ! افکار مو واچوئ پر کار، او پرېــږدئ زړونه مو شي خوښ

او واورئ دا زيرکي پوښتنې،

د شکونو ټول بنسټونه به حل شي په آسانه

---

۲- له روایاتو را پاتې شوي چې - د (یوناکه ګانو[1]) په هېـواد کې یو ځای چې د سوداګرۍ سترمرکز[2] ئې بولي، د ساګلې په نامــهٔ یو ښار دی – ښار چې په زړهٔ راښکونې ځمکې باندې پروت، په پریمانو اوبو خړوب، هسکې غونډۍ، پراخې ورشوګانې، پریمانــه بڼونــه ، ګڼې ونې، بې شمــېــره کوړمونــه «غديرونه» او ډنډونــه لري، د سيندونو، غرونو ، ګلکځونو او ځنګلونو یو بشپړ جنت دی. دا ښار هوښیارو معمارانو[3] پنځولی دی، پرګنو ئې اندیر (ځور و آزار) ځکه نــهٔ پـېـژاندهٔ چې ټول میرځمن او سیالان ئې ځپل شوي دي. دفاع ئې د شنو زمریانو ده چې پرېمانه پیاوړې کلاګانې، پُښتـې، مورچې، پرتمینې دروازې او د ننوتـنګ ګـنـبـديـنـې لارې لري؛ سلطنتي مانۍ د ښار په منځ کې په پرتم ولاړه ده، د مانۍ تر ګرد چاپېرو سپـینو دیوالونو ژور منډونـه (خندوقونـه) کـیندل شوي دي. ښکلي سړکونـه، ډګرونه، څلورلارې او بازارونـه لري[4]. له شماره وتلي ګران بیعه سوداګریز توکي (۲) چې هټـۍ ګانې وربانديې ډکې دي په ښکلا ننداري ته اېـښودل شوي دي. ښار د صدقاتو په سلهاوو بـېلابـېلو پرتمینو لنګرونو پسولل شوی دی؛ په سلهاوو زره پرتمینـې کلاګانې لري چې د همالیا د دنګو څوکو په شان ئـې سرونــه پورته کړي دي. سړکونـه ئـې په فیلانو، آسانو، بګيـو او پلـیـو لاررویو ډک دي، ډله ډله ښکلي ښځينـه او نارينــه په کښې ګرځي، ښار په هر ډول انسانانو چې له هرې ډلې دي ډک دی لکه برهمنان، اشراف ، ورهنګر، صنعتکاران او چوپړیان (خدمتګاران). په هرګوټ کې ددوی د غړونو ازانګې اورېـدل کـېـږي چې د هرې عقیدې استادانو لارښوونو ته ښــهٔ راغلاست وايي او ښار د مختلفو عقایدو مخکښو شیخانو ته د تګ راتګ یو پناه ځای دی. په ښار کې داسې هټۍ ګانې شته چې د (کوتومباري[5] د اجناسو) ښارسي اوبدل شوي ډاکې او بـېلابـېلې جامې پلورې؛ د بازارونو له هغو ځنډو څخه خوږ بوی راپورته کـېـږي چې هر ډول ګلان او عطریات ایښودل شوي دي.

---

1- Yonakas : دا هماغه آیونیان Ionians دي چې په پالي کې باکتري یونانیان Baktrian Greeks د یوناکه په نامـــهٔ یادېږي. - لیکوال

2 - Nânâ-puta-bhedanam په تحت اللفظي معنی د بـېلابـېلو سوداګریزو توکو د غوټو او بستو د ویش د ځای په معنی دی. ترنکنر دا دداسي یوهٔ ښار په توګې ژباړي چې ورځـېرمه ئــې په دهٔ ښار پورې تړلې څو نور ښارونه وي، خو په داډ چې د صحيح معنی بنه ئــې سوداګریز مرکز دی - لیکوال

3-Sutavanta-nimmitam سوته وَنته - نیمیتم؛ دا اصطلاح ترنکنر " وګړي ئې دینـپـاله دي" ژباړلې ده. خو زه ئــې سینهالي تفسیر غوره بولم. لیکوال

4 - This list recurs at pp. 34, 330 of the text. See below, p. 53.

5 - It is worth noting, as there is a doubt about the spelling, that Hînati-kumburê reads Kodumbara, not Kodumbara. سره له دې چې انګریز ژباړونکی د کوتومباري د نامـــهٔ په تلفظي بڼې کې دغـهٔ نامـــهٔ ته دوني ارزښت نه ورکوي خو یو شمــېــر نور لیکوالان دي چې دا نوم په همدغه نامـــهٔ پـېـژني. یوه بیلګه ئــې ډاکټر راجکمار دی چې د Encyclopedia of untouchable Ancient, Medievel and Modren په نامـــهٔ قاموس ئــې په ۲۰۰۸ ز کال کې لیکلی دی. نوموړی د همدغـهٔ کتاب په ۵۲ پاڼې کې وايي :- په مهاواګا

د انسانانو د زړهٔ د خوښي پريمانـه جواهر هرې خواته لېدل کېږي او په بازارونو کې د هر ډول نفيسه جواهراتو سوداگرو خپل گرانبيعه توکي ايښي دي چې مخونــه ئــې هرې خوا ته د آسمان پر لور په ننداړو دي. په دې توگې دا ښار د پيسو او سرو زور، سپينو زرو، مسي توکو او نفيسه ډبرو او جواهراتو داسې يو ښار دی ته به وائــې چې د پانگو يو ځلانده کان دې نندارې ته ايښی وي. همدا شان په ښار کې د غـَــلو دانو، نورو شتمنيو، قيمتي شيانو، هر ډول خوراکي او څښاکي توکو، د خوږو او هر ډول شربتونو زيرمتونونــه شته. دا ښار په خپل ثروت کې کټ مټ د (اله که مندا[1]) د رب النوعو د ښار په شان له (اوتارا کورو[2]) سره سيالي کوي[1].

---

Mahavagga کې ويل شوي چې کمپلې هم له ځاومه Ksauma او وړيو جوړېدلې. د کاسي پاچا له دغو توکو جوړې پنځــهٔ سوه دانې ، د جيواکه کمارا بهرتيا ته ډالۍ کړې چې هغـهٔ په خپل وار بودا ته ورکړې. کوتومباره هم يو ډول جامې وې چې د څرنگوالي په هکله ئې څه نــهٔ دي ويل شوي. کېدی شي د مالوچو- وړيو جامې وي چې د اودومبارې Audumbara په ښار کې جوړېدلې. پريزلسکي وايي چې د اودومبارې او کوتومبارې نومونه سره يو دي ښايي دا يو ډول جامې وي چې د کرپارې Karpara په نامــهٔ پېـژندل شوي او په يوې سوترې Sutra کې چې سروت Sraut نومېـږي د لومړي ځل لپاره يادې شوې دي. په حقيقت کې دا ډول جامې ان په اندس کې د هړپې او يا راويدا په فرهنگ کې هم يادې شوي چې له مالوچو ئې جامې اوبدلې. " جنرال کنينگهم د لرغوني هندوستان په تأريخي جغرافيې کې کاسي د بنارس لرغونی نوم گڼي. په بودايي ادب کې کاسي يو مهم نوم دی ځکه چې بودا سارنات ته نـېږدې د غرڅو په ځنگل کې خپله يوه مهمه وينا خلکو ته اورولې وه. په غزني کې د کاشي نوم لرو، همدا رنگه په کويټه کې د کانسي او کاسي نومونه لرو. په گلگت او چترال کې د کاش او کالاش نومونه لرو چې د څېـړنې وړ دي. – ژباړونکی

[1] - Alakamandâ: په بودايي ادب کې يو ميتالوژيک ښار دی چې د رب النوعه ښار ئــې گڼي او په کښې ډېر ديوا گان دي او د (اوتارا کورو) د سترې وچې يو لوی سلطنتي ښار دی چې کويرا يا الکا په کې ژوند کوي. په دې ادب کې دا ښار د پانگې او ثروت او د ډېرو وگړو د ښار په معنی منل شوی دی – ژباړونکی

[1] - Alakamandâ: په بودايي ادب کې يو ميتالوژيک ښار دی چې د رب النوعه ښار ئــې گڼي او په کښې ډېر ديوا گان دي او د (اوتارا کورو) د سترې وچې يو لوی سلطنتي ښار دی چې کويرا يا الکا په کې ژوند کوي. په دې ادب کې دا ښار د پانگې او ثروت او د ډېرو وگړو د ښار په معنی منل شوی دی – ژباړونکی

[2]- Uttara-kuru : په سانسکريت کې उत्तर कु ليکل شوی چې د دويپا dvipa يا द्वीप يعنې د وچې په معنی او لويه وچه ئــې مها دويپا کېږي او د هندو او بودايي اديانو په فلاسفو کې د نړۍ د ويش په هکله يوه ميتالوژيکه اصطلاح ده. خو دا اصطلاح په ډېـريو وختونو کې د ربښتونې نړۍ په باب هم کارَول شوې ده. د ريگويدا د ايتاري برهمنا په سرودنو کې په حقيقي نړۍ کې دوه ملتونه ياد شوي چې يو ئــې اوتارا مدراUttaramadra او بل ئــې د جناپدا Janapada ملت دی او وايي چې دا دواړه ملتونه د هماليا د غرونو تر شا يعنی د هندوکش په لمنو کې اوسېږي. دا سرودونه وايي چې دوی د جمهوري ډول ويرَجيا Vairajiya ژوند لري خو واکمن په کې جناپدا دي. په هندي پوراناگانو کې دوی د غير حقيقي نړۍ ميتالوژيک استوگن دي. مهابهارتا ئــې د ښکلو ښاپېــريو د ښار په نامـــهٔ يادوي او دلته يوازې د ځلاندو کښتريا يا توره کښانو ارواح گاني ځي. خو رامايانا د ښارونو په شمېــرلو د شمال له درو ښارونو څخه يادوي چې د کمبوجيه، ياوانا او پرَدا، ښارونه دي او ددغو ښارونو شمال ته د اوتاراکورو ښار دی او وايي چې دا ښار د شيلوده Shailoda د سيند او د (کي چه که بمبو Kichaka bamboo) ددې په پورې غاړې کې دي. وروستي نامـــهٔ ته په کتلو ما ته د افغانستان په شمال کې د کوکچې نوم را په زړه کوي. په همدې کتاب کې ددې خبرې تفصيل په بل ډول هم راغلی چې په هماغه ځای کې به روښنايي ورباندې واچوو. - ژباړونکی

۳- ددې په ويلو سره اوس بايد ددغو دواړو (ميليندا او ناگه سينا) د مخکني ژوندون تأريخ او بېلابېلې معمی گانې[2] له يو بل ورسره وتړو. دا بايد تر شپږو عنوانو لاندې تر سره کړو :-

۱- د هغوی مخکينی تأريخ (پَبـه يوگا[3])
۲- د ميليندا ستونزې
۳- د مميزه خصائـصو په هکله پوښتنې
۴- هغه معمی گانې چې له متناقضو توضيحاتو راپورته کېږي
۵- هغه معنی گانې چې د ابهام له منځه راپورته کېږي
۶- د استعارې په هکله خبرې اترې

د ميليندا ستونزې په دوو برخو ويشل کېږي :
الف- د مميزه خصائـصو په هکله پوښتنې او
ب - هغه پوښتنې چې موخه ئـې د شک په ابطال کې وي
او هغه معمی گانې چې له متناقضو توضيحاتو راپورته کېږي دوی هم په دوو برخو ويشل شوي دي :
الف - اوږد ځپرکی
ب- د گوتڼاستي «عزلت نشين» په ژوندانـــهٔ کې ستونزې

---

# د هغوی مخکينی تأريخ (پُبه- يوگا)

۴- له پُبه يوگا[4] څخه موخه د هغوی پخوانۍ کرما[5] ده يعنی (په پخواني يا اوسني ژوندانـــهٔ کې د هغوی کړنې). دوی وايي ډېر پخوا کله چې (که سه په - بودا[6]) خپل دين خپراوهٔ د بودايي قانون د پيروانو يوې لويې ډلې گنگا ته نـږدې ژوند کاوهٔ. دلته

---

[1] Here follow in Hinati-kumburê's version two pages of introductory matter, explaining how he came to undertake his translation.

[2] - These six words are added from Hînati-kumburê.

[3] - Pubba-yoga

[4] - Pubba-yoga

[5] - Karma

[6] - Kassapa the Buddha: بودا ټول ټال ۲۸ نومونه لري. د پالي په رواياتو کې د بودا نوم که سه په دی. د سانسکريت په بودايي متـنـونو کې د بودا نوم کاسي ياپه Kâsyapa ويل شوی دی. دلته يو ټکي ته بايد پام ولرئ چې بودا خاص نوم نـــهٔ بلکه عام نوم دی چې روښنايي ته د رسېدلي او وينې سوي معنی ورکوي په بلې وينا له سمسارې وتلی او نيروانا ته رسيدلی وي. موږ په بودايي رواياتو کې ۲۸ تنه د بودا په نامـــهٔ لرو. دلته موږ د وروستي بودا شهزادگي سيدهارتا گاتما په هکله خبرې کوو. په خپله سيدهارتاگاتما يا گاتم ويلي ول چې دی وروستی بودا دی او ددهٔ په گډون ۲۸ تنه د بودا په نامـــهٔ تېر شوي دي. په بودايي رواياتو کې دا اصل منل شوی : هر څوک که وغواړي بودا کېدَی شي په دې شرط چې د بودا په شان ژوند وکړي يعنی په دوی کې بودا کېدنگ پای نه لري. د همدغـهٔ سيدهارتاگاتم بل نوم شکياموني بودا دی ځکه چې دی د نيپال د شکيا له قبيلې څخه وو. په بودايی رواياتو کې ددهٔ د ځبرې په شرحې کې ويل شوي چې نه چاغ وو نه ډنگر او په منځنۍ اندازه ئـې ونه وه، د کيڼ لاس په مړوند کې ئـې اوږده ويښتان شنه کېدل.- ژباړونکی

ديني وروڼه چې  شرعي اوامرو او دندو ته رښتوني ول او هر سهار وختي راپاڅېدل، نو اوږود- لاسي جارو ګانې به ئې راواخېستې او ځلور خواوی به ئې پاکې کړې، په لارو کې پراتــهٔ خس او خځلې او چټلۍ به ئې يوهٔ امبار ته راټول او د بودا پر فضايلو به ئې فکري عبادت کاوهٔ.

۵- يوه ورځ يوهٔ ورور[1] يوهٔ مبتدي ته وويل چې د خاورو او دوړو کواړۍ لېرې کړي. مګر داسې ښکارېدل چې مبتدي ئې غږ نــهٔ وي اوريدلی او په خپل کار پسې لاړ؛ د دويم ځل لپاره ئې بيا ورباندې غږ وکړ، دريم ځل ئې بيا ورغږ کړ خو بيا هم هغه په خپلې لارې روان وو او داسې ښکارېدهٔ چې غږ ئې نــهٔ ده اورېدلي. وروسته دا ورور په خښم سو او متمرد مبتدی ئې د جارو په لاستې ښــهٔ و ډباوهٔ. (۳) دا ځل چې (له کاره - ژ) د سرغړولو جرئت ئې تللی وو نو په ژړغونو سترګو ئــې کار پيل کړ؛ د کار په لړ کې ئې تر ژبې لاندې په غومبېدو له ځان سره خپله هيـله تکرار کړه : " ښايي تقدير د خځلو راغونډولو لپاره وړ بللی يم چې په هر پرله پسې شرط «ژوند – ژ» کې د همدې لپاره زېږون موممم او دې ته به تر هغــهٔ مهاله دوام ورکوم چې نيروانا تر لاسه کړم ، نو راځه چې د نيمې ورځې د لمر په شان ځلاند او پياوړی اوسم!"

۶- کله چې کار ئــې خلاص کړ د سيند غاړې ته د لمبا لپاره لاړ، د ګنګا د څپاند سيند په بهير کې ئې د زښتو پياوړو څپو په ليدلو چې په غړغړاندو مستيو کې کښته او پورته کېدلې خپله دويمه هيله ور په ياد کړه : " له هرو پرله پسې شرايطو وروسته چې په هر ارتحال کې بيا زېــږول کېږم  او کله چې نيروانا تر لاسه کړم آيا د رښتونو شيانو د ويلو ځواک به ولرم او دا ځواک به ولرم چې په هر ډول شرايطو کې چې رامنځته کېږي په هماغه دم ئــې ووايم او مخې ته مې د همدغو سترو غړغړاندو څپو په شان ئې له ځان سره يوسم."

۷- اوس نو هاغه ورور هم پس له دې چې جارو ئــې د جاروګانو په الماری کې کښېښودله ددهٔ په شان د سيند غاړې ته د لمبا لپاره لاړ، د سيند غاړې ته په نـېږدې کېـدو سره ئې هغه څه واورېدل چې مبتدي له ځان سره ويل. بيا ئې له ځان سره فکر وکړ: که دا سړی ددې عمل د لياقت پر بنسټ چې د پارولو لامل ئې زه يم کولی شي داسې يوه هيله وکړي آيا زه به څه شی تر لاسه نـــهٔ کړم؟ " دهٔ هم خپله هيله وويله :" په هر پرله پسې شرط/ ژوند کې چې زېــږون موممم د نيروانا تر لاسته راوړلو پورې به ښايي زه هم بلاواسطه رښتيا ويلو ته چمتو اوسم او په ډېــر ځانګړي ډول زه به دا ځواک ولرم چې ددغــهٔ ځوان په شان پوښتنو ته د حل ځواب ورکړم – او خپلې مخې به ته ددغو سترو څپو په شان خنډونه لــېرې کړم !"

۸- بيا په دا ټولې اوږدې دَورې کې دغو دواړو له يوهٔ بودا نيولې تر بل بودا پورې له يوې هستۍ تر بلې هستۍ پورې د رب النوعو او انسانانو تر منځ تګ راتګ کاوهٔ. او زموږ بودا هم دوی ليدلي ول، هماغسې چې دهٔ (بودا - ژ) د (موګلي) زوی او

---

[1]- يادونه : له ورور څخه موخه بودايي مانک دی. بودايي مانکان په خپلو منځو کې يو بل ته د ورور خطاب کوي- لکه اخوانيان چې په خپلو منځو کې خپل بل اخواني ته ورور وايي يا کمونيستان د ملګري او رفيق ستاين نوم کاروي - د مانک د نامــــهٔ جرړه د يوناني ژبې له موناکوز monachos څخه اخيستل شوې چې د مجرد په معنی ده او هغه چا ته ويل کېږي چې په يوازې سر يا په يوې ډلې کې ديني رياضت کوي. په عيسوي دين کې دا نوم ډېــر کارول شوی دی چې په انګليسي سرچينو کې همدا اصطلاح بودايانو ته هم منسوبه شوې ده او عربي معنی ئــې راهب کېږي. راهب هغه څوک دی چې له دنيوي ژونده لاس اخلي او خپل ژوند د بشريت چوپړ ته ځانګړی کوي. په بوديزم کې د مانک معادله معنی بهيکخو/ بهيکښو Bhikkhu ده خو په مهايانه بوديزم کې همدا نوم د سنګهه sangha په ډول کارَول شوې ده. .- ژباړونکی

(شیخ تیسه[1]) ته ئــې ویلي ول، دوی ته ئـې هم ددوی د راتلونکي دین په هکله وویل چې :" زما له مرگه پنځوسه کاله وروسته به دوی دواړه بیا راڅرگند شي؛ دوی دواړه به په ځیر جوړ شوی قانون او هغه دوکتورین چې ما تدریس کړي شرحه کړي، او د پوښتنو له لارو او د استعارو په ښودلو به د ستونزو پـېــچلې غوټې پرانیزي."

---

۹- د دوو مبتدیانو له منځه یو ئـې په هندوستان کې د ساگلې د ښار پاچا شو چې میلینډا نومیدۀ، میلینډا فاضل، بلیغ، حکیم او د وړتیا خاوند وو؛ مؤمن پـیـرو وو، تل به ئــې په سم وخت کې په ټول اخلاص او لمانځنو سره د اشیاء وو د تـېــرمهال او اوسمهال او راتلونکي په هکله د خپلو سپــېــڅلو روحاني سرودونو سپارښتنه کوله. د ساینس او هنري چارو په ډېـریو برخو کې پوهـېـدۀ – مروج عقاید او د بشر په لاس جوړ شوي قانون؛ (سانخیه/ سانښیه[2])، یوگا، (نیایه[3])، او د (وي سیشکا[4]) فلسفو سیستمونـه؛ علم الحساب، موسیقي، طبابت، او څلور ویدا گان[5]، (پورانا) او (ایتیهاسه وې[6])؛ ستوري پـېـژندنه ، کوډې، د علت او معلول تر منځ نسبیت[7] او طلسمات؛ د جگړې هنر، شاعري، قباله لیکل[8]- په یوه خبره دا ټول نولس واړه[1].

---

[1] - the son of Moggali and to Tissa the Elder : دوی دواړه د آشوکا د مهال دوه تنه نامتو مانکان ول چې د آشوکا د سترواکۍ پر مهال کله چې آشوکا بودیزم د خپلې سترواکۍ رسمي دین اعلان کړ، د بودایي متنونو د راټولولو په هکله دوې غونډې یا کنوانسیونونه جوړ شول چې دوی په کې بنسټیزه ونډه ولوبوله او د آشوکا په گډون خلکو ورته د خپل دیني رسوخ له کبله د بودا په سترگې کتل. - ژباړونکی

[2] - Sâňkhya یا सांख्य د هندوییزم د مکتب یا فلسفې په شپږو بنسټیزو کلاسیکو مکتبونو کې د یوۀ مکتب نوم وو. د معنی له اړخه د تجربې او یا په اعدادو پورې د اړوند په معنی ده دا ځکه چې دا مکتب پنځه ویشت رښتوني پرنسیپونه شرحه کوي. - ژباړونکی

[3] - Nyâya - د قیاس په معنی ده دا هم د هندوییزم د فلسفې د کلاسیکو شپږو مکتبونو له منځه یو هغه وو. همدا فلسفه اوس هڅه کوي چې د ویداگانو پر بنسټ د خدایتعالی شتون په زباد ورسوي. ددې فلسفې ډیری برخه د ارسطو له فلسفې سره اړخ لگوي - ژباړونکی

[4] - Vaiseshika - وي سیشکا یا وي شیشکا वैशेषिक دا هم یو له هماغو شپږو فلسفي مکتبونو څخه ده چې نیکایه ته په مفهوم کې نـېـږدې گروهنه ده او وایي چې نړۍ له وړوکو اتومي ذراتو څخه جوړه ده او دا نــۀ مني چې فزیکي کائـنات دې لایتنهاهي ذراتو ته راټیټ شي. - ژباړونکی

[5] - the four Vedas : ویدا یا वेद د معنی له اړخه د علم او پوهې په معنی ده او دا د ویدي سانسکریت د هندوییزم د فلسفې د سانسکریت د ادب د متنونو یوه زښته لوی پانگه ده. ویدي متنونو ته شروتي وایي او دا ټول د برهمن زېــږنده بولي. ددغو څلورو ویداگانو نومونه دا دي : ریگویدا، یجور ویدا، سمه ویدا او اتهروا ویدا. ریگویدا هغه سرودونه دي چې د ویدي روحاني راهب (هوتر) hotar له پلوه ویل کـېـږي. دلته د هوتر نوم په زړه پورې دی. پاتې درې نورې ویداگانې هم ځانته راهبان او راهبان ځانته نومونه لري. - ژباړونکی

[6] - Itihasas : د معنی له اړخه د شفاهي تأریخ په معنی ده. د هندوستان په تأریخ کې اساطیري شاعري زښت لرغوني نوم لري چې رامایانا او مهابهارتا ئـې ښې بیلگې دي. دا دواړه کتابونه چې په سانسکریت لیکل شوي وروسته نورو هندي ژبو ته وژباړل شول. په دغو اسطوروي اشعارو کې ویل کـېـږي چې د ځمکې پر مخ د بشریت په تأریخ کې تر ټولو زاړۀ اشعار دي او همدغه برخه د ایتیهاس په نامــــۀ یادېـږي. له دې کبله رامایانا او مهابهارتا دواړه د همدغو اشعارو یوه لویه برخه ده چې تأریخ ئــې بولي او له لغوي اړخه ایتیهاس د تأریخ په معنی دی. - ژباړونکی

[7] - هیتو Hetu په تحت اللفظي معنی " سبب/ علت". ترنکنر ئــې د "منطق" په ډول ژباړي. هینه تي کمبوري ئــې تکراروي. لیکوال

[8] - موډا Muddâ په تحت اللفظي معنی " د مهر گوته". ددې اصطلاح معنی (چې د Dîgha I, I, 25; I, 2, 14 په ورته لیست او لاندې د ۵۹ پاڼې په متن کې تکرارېــږي) ډېــره څرگنده ده خو د " هنر" دقیقه شرحه لا تر اوسه معلومه نــۀ ده. زه ددغو اقوالو په هکله د بوداگهوسه د توضیحاتو پیروي کوم. ترنکنر دا وییکی همداسې نا ژباړلې پرېــږدي او هینه تي کمبوري وایي (Ængillen œl-wîma) " په گوتې پورې تړلی" او زه ئــې په

(۴) په جدلي مباحثو کې ددهٔ د جوړې موندل ګران ول ، په جدلي مباحثو کې چا وربانديې برلاسی نـهٔ سو تر لاسه کولی؛ د بېلابېلو فکري مکتبونو پر ټولو بنسټ ایښودونکو باندې پېژندل شوی برلاسی وو. هماغسې چې په علم کې ممتاز وو په جسامت کې هم دومره چابک او زړهٔ ور وو چې په ټول هندوستان کې د میلینډا ثاني نـهٔ موندل کېدهٔ. میلینډا بډای هم وو، په پانګې او سوکالۍ کې ستر وو، او د وسلوالو سپاهیانو شمـېـر ئې پای نـهٔ پېژندهٔ.

۱۰- یوه ورځ سلطان میلینډا له ښاره دباندې ووت چې د خپل ستر او پیاوړي لښکر د څلور پـټه سپاهیانو (د فیلانو، سپرو، غیشي ویشتونکو او پلیو سرتیرو) لیدنـه وکړي. د پوځي قطعاتو د شمـېـر له وړاندې کولو او کتنې وروسته پاچا چې تل اوږدو جدلي مباحثو ته لېواله وو، غوښتل ئې په سفسطې او سوفسطایي ګرۍ[2] کې او یا له دغو محترمانو سره وراشه وکړي نو (ددې لپاره چې د ورځې وخت ځانته څرګند کړي) پورته ئې آسمان ته وکتل او بیا ئې خپلو وزیرانو ته وویل : " ورځ خو لا تر اوسه ډېـره ځوانـه ده، څه به وکړو چې دوني وختي بېـرته ښار ته لاړ سو؟ آیا دلته کوم عالم شته؟ که کوم لالهانده ښوونکی، یا برهمن وي، یا د کوم فکري مکتب یا د دین شیخ وي او یا د مریدانو د کومې ډلې استاد وي ( ان که د ارهټ او ستر بودا تر عالي مقامه هم رسېدلی وي[3]) داسې څوک به پیدا سي چې زما شکاکیت راحل کړي؟

۱۱- بیا نو پنځو سوو یوناکانو سلطان میلینډا ته وویل :" اې پاچا! - شپږ تنـه دیني عالمان شته - (پورا نـا که سه په[4])، د غوایانو د غوجل[5] (مکخلي/ مکښلي[6])، (نیګـَـن تها) د (ناته[7]) له قبیلې څخه، (سـنـګـایـه[8]) د میرمن (بیلـَټها) زوی، د ویښتانو د

---

دی معنی یوه نـهٔ شوم مګر دا چې د لاسوندونو په معنی وي. په IV, 3, 25 کې ئـې مفهوم ښایي " د ملکیت قانون" وي او ښایي همدلته ئـې دا تر ټولو ښه معنی وي – لیکوال

[1] - د سیپپه ګانو Sippas (هنر او ساینس) شمـېـره ډېرى وختونه اتلس ورکړل شوې ده. د پوهاند فوسبول Fausböll's د چاپ د ګاتکې Gâtaka په 58, 1, 29 کې دا شمـېـره ۱۲ ویل شوې ده – لیکوال

[2] - لوکایه ته ګانې او ویتندس ګان Lokâyatas and Vitandas. په نورو پالي اقوالو کې چې راغلي دا دي : Kullavagga V, 3, 2; Aňguttara III, 58, 1; Sumaňgala Vîlâsini, 96, 247 او هم د ۱۷ پاڼې په ۲۲ پارګراف کې. همدا شان وګورئ : Weber, 'Bhagavatî,' II, 246; Muir, 'Sanskrit Texts,' III, 95; Deussen, 'Das Vedânta-System,' 310. – لیکوال

[3] - سه مه نه Samana. په انګلیسي کې داسې وییکی نـهٔ شته چې د پالي له دغـهٔ لغت سره دې هم معنی وي. (له تخنیکي اړخه) ددې معنی د برهمنانو د بنسټیز قانون له مخې هغه دینپاله چې ګوتناستی نـهٔ وي. په دې کې هغه غټه شمـېـره راځي چې بودایي نـهٔ ول، همدا شان دوی کې هغه کسان هم راځي چې سره له دې چې برهمنانو ول خو بودایانو یا جینانو سره یو ځای شوي ول او هغوی هم راځي چې له دین سره ئـې همغږي نـهٔ درلودله. سمنه ګان یوازې د باران د وربښت پر مهال په یوهٔ ځای کې دمه کـېـږي نور پاتې ټول کال له یوهٔ ځایه بل ځای ته د تګ په حال کې لالهانده دي او خپل ځانګړی لید لوری ترویجوي. اړینه نه ده چې دا اصطلاح دې یوازې او منحصراً زاهدانو ته وکارول شي؛ دوی معمولاً جره یا مجردان وي- لیکوال

[4] - Pûrana Kassapa

[5] - دی ځکه په همدغـهٔ نامـهٔ یادېـدهٔ چې د غوایانو په غوجل کې زېـږېـدلی وو. وګورئ Sumaňgala, p. 143. دغه شپږ واړه استادان له بودا سره همعصره ول نو ځکه له میلینډا پینځه سوه کاله مخکې تـېـر شوي دي – لیکوال

[6] - Makkhali of the cowshed

[7] - Nigantha of the Nâta clan

[8] - Saňgaya the son of the Belattha woman

جامو (اجيتا[1]) او (پکودهه کک کاينــه[2]). دوی د فکري مکاتبو زښت نامتو بنسټ اېښودونکي دي چې ډېلي ډېلي مريدان او اورېدونکي لري او خلک ئــې خورا زيات درناوی کوي. يا لويه پاچا! لاړ سه، خپلې ستونزې دوی ته ووايه او ستا شکونـه به مو حل شي[3].

۱۲- همدا ول چې سلطان ميليندا د پنځوسو يوناکاگانو په بدرگي له نديمانو سره يو ځای په خپلې پرتميني په وسلو سمبال بگۍ کې چې آسانو کشوله کښيناست او د (پورانـا که سپه) استوگنځي ته لاړ، له تعارف او دوستانه سلامونو وروسته په ډېـــر ادب ورڅخه لـېـرې کښيناست. د کښـېـناستلو په حال کې وو چې پوښتنه ئــې وکړه:" ښاغلی که سه په! د نړۍ واکمن څوک دی؟"

" ستره پاچا، ځمکه ده چې پر نړۍ واک چلوي!"

" خو ښاغلی که سه په! که ځمکه پر نړۍ واک وچلوي، څنگه کېـدی شي چې يو شمـــېـــر کسان دې د (اَويکي) دوزخ[4] ته لاړ شي، يعنی هغوی به څنگه د ځمکې له محيطه دباندې ووځي؟" (۵)

کله چې په دې ډول خبرې وشوې نو پورانا که سپه نــــهٔ دا معما غړوپولی سوای او نـــهٔ ئـي ورته ځواب درلود؛ سر ئــي ځوړند ولوليد، چوپه خوله ناست وو، تندی ئــي تريو[5] نيولی وو او همداسې ناست پاتې شو.

---

[1] - Agita of the garment of hair

[2] - Pakudha Kakkâyana

[3] - دا ټول يوازې د سامنه – فاله Sâmaňňa-phala (D. 2) د پيلنيز پاراگراف انعکاس دی چې په آگه ته سه تو Agâtasattu کې داسې ښودل شوي چې له دغو شپږو واړو سوفسطايانو سره ويني. او ادبي غلا د همدغو لرغونو نومونو د ساتنې په شان غير هنري ده، دا شرحه نـــهٔ ده ورکړل شوې چې دوی د پينځوسو کالو په اوږدو چـېـرې دوه ځله زېـږېـدلي دي. يو څوک زموږ له دغــهٔ ښــهٔ بودايي رومان ليکونکي څخه دا پوښتنه نــهٔ کوي کله چې تاسو د بدعت او روافضو خبره کوئ د ريشوي نومونو په پــېـژندنې کې مو ولې په تأريخ ليکلو کې د حقيقي اشخاصو په ظهور او پــېـښــو کې دا ځلانده او روښانه تـېــروتنه کړې ده؟ کتاب په ټوله کې په ادبي مهارت سمبال دی او له داسې يوهٔ ماهر او نامتو ليکوال څخه دداسې يوې لويې تـېـروتنې هيله ناشونې ده؛ د نومونو ددغــهٔ تناظر لپاره نور دلايل شته چې په هکله ئــې بايد فکر وشي. وگورئ : د ۱۳ او ۱۵ پاڼو يادښتونه. ښايي پينځلسم پاراگراف په لسمې پاڼې پسې راغلی وي او بيا له ۱۵ تر ۳۶ پاراگراف پورې- ۳۷ پاراگراف راغلی وي چې د لسم پاراگراف په پای کې ئـې مشرحه تفسير راغلی دی – ليکوال

[4] - اوي کي Avîki (ښايي د ساکن او بې څپو په معنی وي). له ځمکې دباندې دداسې دوزخ يادول د پاملرنې وړ دی. دغــهٔ نامــهٔ ته په کتنې ښايی څوک گومان وکړي چې ښايي دغه دوزخ به د شرحې له مخې لوکانتريکه Lokântarika کې ومومي. سپنس هارى Spence Hardy لا دونې وړاندې ځي چې وايي د اويکي دا دوزخ په بودگايا Budh Gâyâ کې د بو، تر ونې لاندې Bo Tree نـېـغ اوهٔ سوه مايله لـېـرې پروت دی وگورئ (Manual, p. 26) چې کـېـدی شي د ځمکې په محيط کې وي. خو په پالي متنونو کې چې تر اوسه چاپ شوي دداسې يوهٔ موقعيت په هکله څه نــهٔ دي ويل شوي. وگورئ : Kullavagga VII, 4, 8; Aňguttara III, 56; Gâtaka I, 71, 96; Paňka. Gati Dîpana, 20. دا د دريمې نيپاتې سوتا Sutta Nipâta III په لسمې پاڼې کې د دوزخونو ليست دی، خو اويکي ئــې په منځ کې نـــهٔ شته. له داسې يوهٔ شهير عالم څخه چې پوهه ئــې په نورو ځايونو کې څرگنده ده داسې يوه تـېــروتنه نا شوني ده نو ځکه بل دليل ورته لرو چې موږ بايد ددغو ځانگو په هکله کوم متبادل فکر وکړو- ليکوال

[5] - Pattakkhando Pagghâyanto. See my note on .Kullavagga IV, 4, 7, and compare Aňguttara III, 73, 4.

۱۳- بیا سلطان میلینډا د غوایانو د غوجل[1] مکخلي ته وویل :" ښاغلی ګوساله[2]، آیا ښــۀ او بد عمل سته؟ آیا د ښو او بدو اعمالو د نهائــي پایلو لپاره د میوې په شان څه شی سته ؟

اې سلطانــه! نــه، داسې عمل نــۀ سته، نـــۀ داسې میوه یا نهائـي پایله. اې سلطانــه! هغه څوک چې په دې نړۍ کې دي نجیب خلک دي او کله چې بلې نړۍ ته ځي یو ځل بیا به نجیب خلک شي. او هغوی چې برهمنان دي یا د منځنې پاړکې (طبقې) دي یا کارګران دي او یا دلته رټل شوي دي په بلې نړۍ کې به هماغه خلک وي چې په دې نړۍ کې دي. ښه نو د ښو او شریرو اعمالو کول او نـــۀ کول به په څه معنی وي؟[3]"

ښاغلی ګوساله! که داسې وي چې تاسو ئــې وایاست، نو د دلیل د تساوي له مخې که په دې نړۍ کې د یو چا لاس پریکېږي باید په راتلونکي نړۍ کې ئـې هم لاس پریک پاتې شي، په همدې ډول که د چا پښه، غوږ او یا پوزه پریک شي نو په هغې نړۍ کې به همداسې وي لکه چې په دې نړۍ دي؟"

او ددې په اوریدلو سره مکخیلي چوپ خوله پاتې شو.

۱۴- بیا سلطان میلینډا له ځان سره فکر وکړ[4] :" ټول هند تش تپانی دی، حقیقتاً چې دوی بوس دي. هـــیـڅ څوک نـــۀ سته، نـــۀ کوم برهمن سته او نـــۀ کوم ګوتېناستی/ زاهد چې له ما سره دې د وراشې وړتیا ولري او زما شکونــه لــیـرې کړي." بیا ئـې خپلو وزیرانو ته وویل :" ښکلې او خوندوره شپه ده! چېرته دی کوم ګوتـېناستی یا برهمن چې نن شپه له ما سره ووینې او وئــې پوښتم، داسې څوک چې له موږ سره خبرې اترې وکړي او زموږ شکونـه له منځه یوسي؟[5] " ددې په ویلو سره درباریان چوپه خوله ودرېدل او د پاچا مخې ته په ړدو ړدو سترګو درېدلي پاتې شول.

---

[1] - بیا ئـې دلته بده ګډوله جوړه کړې ده، معاندو استادانو باید له یو بله بیل ژوند کولی. او وبه لیدل شي چې د نومونو ښودنه د څېرکي په پیل کې له شپږوواړو نومونو سره سمون نـــۀ خوري، پاتې نور څلور نومونه نـــۀ دي یاد شوي. لیکوال

[2] - Gosâla بشپړ نوم ئـې مکخلي ګوساله پوته دی چې یو هندي مرتاض / زاهد وو. ویل شوي چې په ۴۸۸م. ز کال کې زیږېدلی وو. دا یو سانسکریت وییکی دی چې ګاوه गव غوایي ته وایي او زاله چې وروسته شاله یا ساله شوی دی د غوایانو د ساتنې ځای ته وایي چې سخوندر او غوایان او میښې په کښې ساتي. سمه لیکنه ئـې ګوزاله ده Gozâlâ یا गोशाला – د هـېـواد په دري ژبې کې ګوساله هماغه سخوندر دی- ژباړونکی

[3] - دا له هغې نظریې سره سمون خوري چې په سامنېه فله (Sâmaňňa-phala (D. 2, 20 کې مکخلي ګوساله Makkhali Gosâla ته منسوب بلل شوی دی او هم وګورئ :(Sumaňgala Vilâsini on it (see especially p. 166 - لیکوال

[4] - و. ګ. پاڼه ۳۰- لیکوال

[5] - دا د سامنېه فله .(Sâmaňňa -phala Sutta (D. 2,1 په هکله نقل قول کې د یادو شویو وییکو انعکاس دی - لیکوال

۱۵- دا نو هغه مهال وو چي د سګالي ښار د دولسو کالو لپار د پوهو خلکو له شتون څخه تش وو، نـــهٔ پوه برهنمان ول نـــهٔ (سامنه ګان[1]) او نـــهٔ کوم پوه یا عادي سړی. خو که پاچا په دې خبرېدهٔ چي یو چېرې همداسي یو سړی ژوند کوي، نو دی به په خپله ور روان سو او پوښتني به ئـي ورڅخه کولې. [2] (۶) خو دوی ټول یو بل ته ورته ول او د پاچا د ستونزو (پوښتنو) په ځواب کي د حل په وړاندې کولو به ئـي نـــهٔ شوای کولای د پاچا ته قناعت تر لاسه کړي، دې خوا ها خوا به کېدل، او که په وراشو کي کومې خوا ته نـــهٔ تلل نو په ټولو حالاتو کي به چوپ پاتي شول. او د دین ډېـــري ورونه د همالیا غرونو ته تللي ول.

۱۶- په همدغــهٔ وخت کي د همالیا په غرنی سېمي کي د (تحفظي ډډې[3]) په برخي کي د ارهټانو (هغه ورونه چي لا تر اوسه ژوندي ژوندي ول او نیروانا ئـي تر لاسه کړې وه) یوې لويې له شماره وتلې ټولنې ژوند کاوهٔ. او ښاغلي (اسه ګوټا[4]) د غیبي ځواک د اورېدنګ له لارې د سلطان میلینډا دا خبرې واورېدلې. نوموړي د (یوګندهري[5]) د غرهٔ په څوکي کي قانون یوه ډله راغونډه کړه او له ورونو ئـي وپوښتل :" آیا د قانون د غړو په منځ کي داسي وړ څوک شته چي له سلطان میلینډا سره وراشه وکړي او شکونـه ئـي ورته حل کړي؟"

ټول چوپه خوله ناست ول. (اسه ګوټا - ژ) خپله پوښتنــه د دویم او دریم ځل لپاره وکړه، خو بیا هم هــېـڅ چا خبرې نـــهٔ کولې. بیا ئـي د قانون راټولې شوې ډلې ته وویل : " ښاغلو صاحبانو، هلته په (دري دیرشم[6]) جنت کي د (ویګا یانتا[7]) د مانی په ختیځ کي یوه کلا ده چي (کیتومنتي[8]) نومېږي او په منځ کي ئـي رب النوع (مهاسینا[9]) ژوند کوي. دی ددې وړتیا لري چي له سلطان میلینډا سره مرکه وکړي او شکونـه ئـي ورته حل کاندي." او د ارهټانو بي شمېـره ټولنه د (یوګندهرې) د غرهٔ له دنګي څوکي څخه ترې تم شوه او په دري دیرشم جنت کي راڅرګنده شوه.

---

[1] - Samanas : په سکون د ش او فتح د (ر) ، شرمانه هغه لالهانده زاهدان ول چي د کړاو په ګاللو به په بیدیاوو او کلیو ګرځېدل؛ یو له هغو څخه په خپله بودا ګاتما وو. مخکي لیکوال شرحه کړل - ژباړونکی

[2] - هغه څه چي ما مخکي وویل بس ول، دا پاراګراف دوني اړین نـهٔ دی او تر څنګ ئـي له دې خبرې سره تناقض لري چي لږ تر لږه په ښار کي یا ښار ته نــږدې دوه تنه استوګن استادان ول، ما ته داسي ښکاري چي ډېـره شوني ده چي دا خبره په حقیقت کي د څوارلسمي پاني پاراګراف دي نــېـغ په نـېـغه په لسمي پاني پسي راغلی وي، پاتي نور تناظر او بد شکله ښکاري – لیکوال

[3]- دلته انګریز ژباړونکي Guarded Slope لیکلي چي ما تحفظي ډډه ومنله - ژ

[4] - Assagutta

[5] - Yugandhara mountain

[6] - دوی د ویدي معبد بنسټیز ارباب الانواع دي – لیکوال

[7] - Vegayanta palace

[8] - Ketumatî

[9] - the god Mahâsena

۱۷- او د رب النوعو پاچا (سک کا[1]) ولیدل چي د قانون ورونه له ډېـــرې لـېـرې لارې ور وران دي. ددوی په لیدلو ښاغلي (اسه گوتیا) ته ورغی، د هغه مخې ته د درناوي په پار په ملا کوږ سو او په درنښت یوې خوا ته ودرېد. له درېدو سره سم ئـي وویل : " درنښت دي وي ستر ښاغلیه لره! د ورونو ډله راغله. دا څه دي چي دوی ئـي غواړي؟ زه د دین په چوپړ کي یم. تاسو ته څه کولای سم؟"

او ښاغلي اسه گوتیا ځواب ورکړ: په هندوستان کي د ساگلي په ښار کي یو پاچا دی، نوم ئــي دی میلینډا. د جدل په سختی کي ساری نــهٔ لري برلاسی ورباندې گران دی، د ټولو بېلابېلو فکري مکاتبو د بنسټ اېښودونکو په منځ کي یو ممتاز پېـژندل شوی ښاغلی دی. دی یو عادت لري چي د قانون د غړو لیدلو ته ورځي او هغوی په خپلو خطرناکو تحلیلي پوښتنو ځوروي ."

بیا د رب النوعو پاچا سک کا ورته وویل : " دی هماغه پاچا میلینډا دی، چي دروند او ښاغلی دی، شرط همدا وو چي د انسان په جامو کي زېـږون ومومي. د کیتومتي په ماڼۍ کي یو رب النوعه دی چي نوم ئـي دی مها سینا، هماغلته ژوند کوي، همدا مهاسینا ددې وړتیا لري چي ورسره جدلي استدلال وکړي او شکاکیت ئـي ورته حل کاندي (۷). موږ به له دغه رب النوعه وغواړو چي پر ځان کړاو ومني او د انسانانو په نړۍ کي بیا زېـږون ومومي."

۱۸- په دې توگې سک کا د رب النوعو پاچا د قانون د امر پر بسنټ لاړ او د کیتومتي په کلا ننوت؛ او کله چي رب النوعه مهاسینا ئــي په غـېـږ کي ونیو ورته ئـي وویل : " اې څښنه! د قانون ورونه، له تا یوه غوښتنـه لري - چي تاسو به د انسانانو په منځ کي بیا پنځون مومۍ."

" صاحبه! انساني نړۍ ته کومه لېوالتیا نـــهٔ لرم، پـېټـې ئـي له عمل (کرما) سره دروند دی. انساني ژوند سخت دی. صاحبه! ښه ده چي همدلته په همدې لوړ او لا لوړ چاپېریال کي د رب النوعو په نړۍ کي بیا زېـږون ومومم او هیله لرم چي همدلته رحلت وکړم.!"

د رب النوعو پاچا سک کا د دویم او دریم ځل لپاره هماغه غوښتنه بیا تکرار کړه خو ځواب هماغه لومړی وو. بیا نو ښاغلي اگه سوتیا دغـهٔ رب النوعه ته مخ واړاوهٔ او ورته ئـي وویل : " د رب النوعو او انسانانو نړېـو ته په کتنې اې څښتنه، له تاسو پرته بل څوک نـــهٔ شته چي د سلطان میلینډا له بدعت ډک لید لوری دې ورته رد کاندي او له دین سره دې مرسته وکړي. زما څښتنه! ټول قانون له تا غوښتنـه کوي او وایي : " اې یوازینیه ارزښتمنـه! تواضع وکړئ چي د انسانانو په منځ کي بیا زېـږون ومومئ او په خپلي پیاوړې مرستي د هغــهٔ مبارک دین ته پور ورکړئ ."

---

[1] - دلته : په پالي کي سک کا / سکا Sakka او په سانسکریت کي شکرا Shakra یا शक्र دی چي په بودایي کوزمولوژي کي د ترایستریمسا د جنت واکمن دی. ژباړونکی

ورپسي رب النوعه مهاسينا په زړۀ کي له حده زيات خوښ سو او فکر ئـي وکړ چي د ميلينډا د ارتداد په ردولو به له دين سره مرسته وکړي؛ او د ژمني په کولو ئـي وويل : " ډېــر ښـۀ ګرانو ښاغلو، راضي يم چي د انسانانو په نړئ کي بيا زېـږون وموم."

۱۹- وروسته له دې چي ورسپارل شوې دنده ئــي تر سره کړه نو له دري ديرشم جنته ووت او تري تم شول او د هماليا د غرونو په (تحفظي ډډې) کي راڅرګند شول. او ښاغلي اسه ګوپتا قانون ته وينا وکړه وئـــي ويل :" ګرانو ښاغلو! ستاسو په منځ کي داسي ورور شته چي د همدې ډلي وي او ستاسو په کي نـۀ وي راڅرګند شوی؟"

له لږ څند وروسته يوۀ ورور وويل چي (روهنا[1]) يوه اونی مخ کي غرونو ته تللی او په فکري عباداتو کي ښخ شوی دی (۸) نو وړانديز ئــي وکړ چي يو قاصد دې ورپسي ولـېږل شي. په همدغي شـېـبې کي ښاغلی روهنا يو ناڅاپه له غيبه راپيدا شو څکه دی پوه وو چي قانون[2] دۀ ته سترګي په لارې دی. او د غرۀ له څوکي ورک سوی وو، نوموړی د وروڼو د بې شمــېـــرې ډلي مخې ته بيا راڅرګند شو.

او ښاغلي اګه سوپټا ورته وويل :" ښاغلی روهنا! اوس څنګه؟ کله چي د بودا دين ته د زوال ګواښ پـېـښ شي، تـــۀ سترګي نـــۀ لرې چي قانون ته کار وکړئ؟"

دۀ ورته وويل :" صاحبه! دا د سهوې له کبله ول."

" بيا ئـي نو کفاره ورکړه."

" صاحبه! څه بايد وکړم؟"

"ښاغلی روهنا! د هماليا د غرونو په لمنو کي يو برهمني کلی دی چي (کړن ګله[3]) نومـېږي، په دې کلي کي د (سونوټره[4]) په نامـــۀ يو برهمن ژوند کوي. ددۀ به يو زوی پيدا سي چي نوم به ئــي ناګه سينا وي. تـــۀ به د اوو کالو او لسو مياشتو لپاره دغـــۀ کالـــۀ ته د صدقاتو لپاره لاړ سې. ددغـــۀ مهال په اوږدو کي به تـــۀ دغه هلک له دنيوي ژونده راوباسي او قانون ته ددغـــۀ هلک د را اوښتلو علت به تـــۀ اوسې. کله چي هغـــۀ د نيوي ژوند پريښود ته به آزاده سې او دغه مهال به تا د خپلې سهوې کفاره پوره کړې وي."

ښاغلي روهنا د خپل رضائيت په ښودلو وويل :" څرنګه چي تا وويل هماغسې به کـېږي."

---

[1] - Rohana

[2] - پټي مانتي Patimâneti. چايلدرز ددغـۀ وييکی معنی نـۀ ورکوي. خو دا يو عادي وييکی دی. پرتله کړئ : Sumaňgala, vol. i, pp. 276, 280; Vinaya Pitaka IV, 212 ; Kullavagga VI, 13, 2; Gâtaka II, 423. ليکوال

[3] - په بودايي تأريخ کې دا يو مشهور ځای دی. دا د بودايانو په سپـېـڅلي ټاټوبې کې د " منځني هـېـواد" د ختيځ په وروستی څنډې کې پروت دی. وګورئ : See Sumaňgala Vilâsinî on D. 2,40 (p. 173); MahâvaggaV, 13,12; Gâtaka I, 49. – ليکوال

[4] - Sonuttara

۲۰- اوس نو ځښتن مهاسینا د رب النوعو له نږۍ و کوچېد او د انسانانو په نړۍ کې د برهمن سونوتړه د مـېـرمني په رحم کې له سره وپنځـېد. او په هماغي شـېبې چې ناګه سینا د مور په رحم کې القاح شو، درې عجیب او حیرتنـاک شیان پـېښ شول : - ټولي وسلي او ټول نور جنګي توکي ځلانده شول، نازک او حساس غـټـله او دانـه باب په یوې شیبي کې پاخه شول، او (د وچکالی مهال وو چي) یو ډېـــر ستر باران و وَرېد. او له هماغي شیبي چي مهاسینا بیا تجسم موندۀ ښاغلی روهنا هماغه کالـۀ ته د اوو کالو او لس میاشتو لپاره د صدقاتو لپاره ورغی مګر هـــېـڅ کله ئـي ان د یوۀ ځل لپاره د جوش کړو وریجو د کومي قاشقي، یا د تروۀ اوماچک د کومي ملاقي څکه ونـۀ کړه، نـــۀ د چا سلام ورته ورسېد، نـــۀ ئـي د خپل ځان د بندونو او لاسونـو کومه شخي وایستله او نـۀ ورته کوم تعارف او سلام وشو. او دا نـــۀ کوم سپکاوی وو او نـــۀ کومه ملنډه او پـېـغور چئ دۀ ته په برخي رسـېدلي وای : او هـــېـڅ څوک نـــۀ ول چي دوني ورته ووایي " صاحبه! دوني ښـۀ اوسه چي بل کالــۀ ته لاړ سي[1]."

کله چي دغه ټول مهال تـېر سو نو یوه ورځ راغله چي دۀ ته ټاکل شوي خبرې ووایي. په هماغه ورځ برهمن، په پټي (۹) کي له کار وروسته را روان وو چي شیخ ئـي ولید، دی ویني چي شیخ ددۀ پر لور ور روان دی، برهمن شیخ ته وویل :" اې، زاهده! زموږ کورته تللی وې؟"

" هو برهمنه!، تللی وم"

"په کالــۀ کي دې کوم شی واخیستل؟"

" هو برهمنه، وامي خیستل."

ددې په اورېدلو برهمن خوښ نـــۀ سو او خپل کور ته لاړ او له کور والاوو ئـي وپوښتل :" تاسو زاهد ته څه ورکړل؟"

کور والاوو وویل " موږ هـــېـڅ شی نـــۀ دي ورکړي."

۲۱- ورپسي په سبا ئـي برهمن د خپل کالــۀ د دروازې مخي ته کښـېناست او له ځان سره ئـي په فکر کولو وویل :" نن به دا زاهد ددۀ درواغ ویلو په بدل کي ښـۀ وشرموم." کله چي شیخ بیا په ټاکلي وخت د برهمن کالــۀ ته راورسېد، نو برهمن ورته وویل :" پرون تا وویل چي زما له کالــۀ څخه دې څه شی اخیستي ول، حال دا چي تا له کالــۀ څخه هـــېـڅ شی نـــۀ ول اخیستي." " ایا تــۀ اجازه لرې چي ملګري ته دي درواغ ووایې؟"

---

[1]- دا د هندي کلیوالو یو عام عادي دودیز متل دی؛ کله چي یو زاهد له کټوري سره د ډوډی لپاره کوم کور ته ځي نو که د کور ځښتن د ډوډۍ د ورکړې پر مهال خپله کم تواني (یا نا لیوالتیا) ورڅرګنده کړي (نو ورته په ادب وایي : دوني ښه اوسه چي بل کالــۀ ته لاړ سي)- لیکوال

شیخ په خوب کې ورته وویل : " ای برهمنه! له اوو کالو او لسو میاشتو را په دې خوا تر نن پورې تا دومره مؤدبانه چلند نه وو کړی چې زه ئې تصدیق کړم. له ما سره پرون همداسې چلند وشو. نو ما چې وویل ستا له کالۀ مې څه شی واخیستل زما موخه هماغه چلند وو."

برهمن له ځان سره فکر وکړ :" که دا زاهدان یوازې د یوه چا وچ او بسۀ چلند د خلکو په منځ کې په مننې ستایې او وایې چې خیرات ئې راکړل شو ، نو بویه که دوی ته په رښتیا ځوک ډالۍ ورکړې دوی به څه وکړي." برهمن چې ددې خبرې تر اغیز لاندې راغلی وو پر شیخ باندې ئې خپله مهرباني ولوروله او په کالــۀ کې ئې پخې وريجې او کورکمن چې د ځان له پاره ئې پخې کړې وې شیخ ته ورکړې او ورزیاته ئې کړه :" ته به هره ورځ له دغـۀ کالــۀ څخه همداسې خواړه تر لاسه کوې" له همدغې ورځې وروسته شیخ د برهمن لیدلو ته راتــۀ، شیخ لیدل چې برهمن څومره تابع او مطیع دی، برهمن د شیخ په لیدلو خوښ وو او ورته ئـې وویل هر وخت ژر ژر راځه او خپله غرمنی دې له دغـۀ ځایه اخله. شیخ خپل رضائیت په چوپه خولــۀ وښود؛ شیخ به هره ورځ راتــۀ، شیخ به د ډوډۍ له خلاصولو وروسته کله به چې ددۀ د تګ وخت راتــۀ نو د تللو په وخت کې به ئــې څو لنډ دیني اقوال برهمن ته وويل[1].

۲۲- اوس نو له لسو میاشتو وروسته د برهمن ښځې یو بچی نری ته راووړ؛ نوم ئــې ناګه سینا کښېښود. ناګه سینا کرار کرار لوئېدۀ تر څو چې اووۀ کلن سو، په اووۀ کلنی کې ئې پلار ورته وویل : «ګرانــه ناګه سینا [۱۰] غواړې زموږ په دغـۀ برهمني کالـۀ کې دودیزې ښووني «تقلیدي تعلیم[2]» زده کړې؟

هلک وويل : " پلاره! دا څـۀ ته وایې؟"

ګرانــه! درې «ویدا ګان[3]» دې چې د «سیک خه[4]» د زده کړو په نامـۀ يادېږي، نور علوم یوازې هنرونه دي زما ګرانــه!
هلک وويل :پلار جانــه! باید زده ئـې کړم.

وروسې برهمن سونوتـَـره[5]، برهمن ښوونکي ته د تدریس د اجرت په بدل کې زر ټوټې ورکړې، د کالــۀ د منځ په کوټې کې ئــې ورته جلا نالیچه یا توشکه وغوړوله او بیا ئـې ورته وویل :" برهمنــه! دغـۀ هلک ته سپېڅلي سرودونـه تدریسوه چې له یاده ئـې کړي."

د وخت په تېـرېدلو ښوونکي له هلک سره سرودونه ویل او تکراول چې له یاده ئې کړي. او ځوان ناګه سینا به یوازې له یوۀ تکرار وروسته هر سرود له یاده کړی وو، درې واړه ویدا ګاني ئـې له یاده کړې، هر سرود ئـې په سمه وایـۀ، په معنی

---

[1] - دا د سائــلانو یوه قاعده ده. په دې سره دوی خپله مننه څرګندوي؛ وګورئ پینځه ویشتمه پاڼه - لیکوال

[2] -traditional learning  یعني د برهمني کتابونو لکه ویدا او ریګویدا مذهبي سرودونه- ژ باړونکی

[3] - Vedas

[4] - Sikkha

[5] - So*n*uttara the Brahman

ئـي پوهېدۀ او هر ځانګړی شعر[1] به ئـي په خپل اړین اړوند ځای کي سماوۀ او په شعرونو کي په نغښتونو رموزونو باندې ښـۀ پوهېدۀ[2]. په دې سره ئـي په ذهن کي يو ناڅاپه په ويداګانو کي شعوري بصيرت پـۀ ځپو شو او ورسره ئــي د ويداګانو د لکسيکوګرافي يا لغت پوهني علم راڅوندی شو، د ويداګانو او د هغوی په عروضي علم او ددوی ګرامر او په داستانونو کي د يادوشويو کرکترونو په ماهيت پوۀ شو. ناګه سينا يو فيلسوف او ژب پوه شو او په همدې اندازې ئـي په سوفسطائـي فلسفي کي لاس بر شو او هم ئـي د انسان په بدن کي د هغو نښو په پـېژندني کي علم اوچت شو چي د ستر انسان وړاند وينه کوي[3].

۲۳- په دې پسي ناګه سينا خپل پلار ته وويل : « زموږ په برهمني کورنـی کي ټول همدا شيان ول چي بايد زده کړي مي وای او يا ټول ئـي همدا ول؟»

پلار په ځواب کي وويل :« ګرانـه زويه ناګه سينا! نور نـــۀ سته، ټول ئـي همدا ول.»

ځوان ناګه سينا خپل درسونـه د وروستي ځل لپاره د خپل استاد مخي ته تېـر کړل، ناګه سينا له کالـۀ دباندې ووت او د مخکينی کرما زور وو چي په زړۀ کي ئــي يوه ځپه را پورته شوه، ددې ځپي په متابعت ئـي د عزلت ګوټ لپاره لټون پيل کړ چـېـرې چي ځان به په فکري عباداتو کي ډوب کړي. په ګوټـناستی کي ئـي ټول زده کړي شيان له سره تر پايه تکرار کړل خو پـه هېڅ يوۀ کي ئـي د ارزښت وړ شی ونـۀ موند. بيا ئـۀ د زړۀ لـۀ تله د سوځندې ترخي آه په ترخ کي وويل : « حقيـقـتـاً چي دا ويداګاند منځـتـشـي دي، کټ مټ د بوسو په شان. په دوی کي نـۀ واقعيت نغښتی دی او نـۀ کوم ارزښت لري او نـۀ کوم ځرګند حقيقت په کي پروت دی.!»

په دې وخت کي ښاغلی روهـنا[4] چي په «وَتـنـيا[5]» کي په خپل عزلت ګوټ کي ناست وو په الهامي ډول په زړۀ کي احساس کړل چي د ناګه سينا په زړۀ کي څه تېـرېږي. خپله چپنـه ئـي واغوستله او په خپل لاس کي ئـي خپل کجکول را واخيست، د سترګو په رپ کي له وتـنيا ورک او د «کـږَنـګالي[6] » په برهمني کلي کي راڅرګند شو. ځوان ناګه سينا چي د دروازې په درشل کي ولاړ وو له لـېـرې ولـېـدل چي روهنا ور روان دی. د روهنا په ليدنګ ئـي سترګي رڼي شوی او خوښ شو، پـه زړۀ کي ئــي يوه خوږه هيله وغوړېدله چي له روهنا څخه به رښتونی اړين حقيقت زده کړي. ناګه سينا ورتـه [۱۱] وَرَغـی او وئـي ويل: «تاسو څوک ياست صاحبه چي سر مو په دې ډول خريلی او ژيړې جامې مو په ځان کي دي؟»

« زويه! خلک مي ګوټـناستی "عزلت نشين" بولي (پـَبـه ګيتا: تحت اللفظي معنی ئـي تارک ده؛ څوک چي له دنيوي ژونده لاس اخلي).»

---

[1] - سوَوَتهاپيتا Suvavatthâpitâ ښايي په لمانځنو او قربانی کي کارول کـېـدله اصطلاح وه. همدا اصطلاح يوازې په دغـۀ نقل قول کي راغلي ده. تحت اللفظي معنی ئـي دا ده :" درې ويداګاني د هلک له پلوه سمي شوي دي." هينه ته کمبوري يوازې دا اصطلاح تکراروي- ليکوال

[2] - On the exact force of the special terms translated in these clauses, one may further compare the corresponding phrases used of learning the Buddhist texts in .Kullavagga IV, 14, 17; IX, 5,1.

[3] - پورتني د يوۀ عالم برهمن لپاره رينوي عبارات دي، په شرحي کي يو يا دوه ټکي ځرګند نـۀ دي- ليکوال

[4] - Rohana
[5] - Vattaniya
[6] - Kagańgala

« نو ولې تاسو خلک په دغـۀ نامـۀ يادوي " هغه څوک چې تارک وي؟"»

« دا ددې لپاره چې تارک هغه څوک وي چې له دنيوي ژوند څخه ګوښه کېږي او ددې لپاره ګوښه کېږي چې پر شيانو باندې د ګناه داغونـه لېـري شي. د همدې لپاره مې زويه ، خلک تارک بولي.»

«صاحبه! ولې تاسو وېښـتان نـۀ پرېـږدئ حال دا چې نور خلک وېښـتان پرېږدي؟»

« يو تارک د هغو شپاړلسو تحريماتو لپاره د خپل سر او مخ وېښـتان خريي چې په آسماني ژوندانـۀ کې پېـژندل شوي دي.»

«او دا شپاړلس تحريمات کوم دي؟»[1]

( دا تحريمات دا دي : د هغوی سينګار، په نورو شيانو د هغوی پسولنه، پر سر تيل اچول، شامپو کول، ګردچاپيره ئـې د ګلانو کړی اچول، د عطرونو او غوړيو کارول، د " کابلي هرېړې[2]" ، رنګول، د فيتو او رنګينو کارَول، د نايي «سلمان» راغوښتل، د ځنو خلاصول او ددې شونتيا چې مضره ځاروي او حشرات « ووژل شي –ژ[3]». کله چې ددوی وېښتان لوېږي، غمجن کېږي او کړېږي؛ او هو، کله کله غلبلي کوي او ژاړي او خپلي سيني وهي او يا سرچپه په غم کې ډوب بې سده کېږي- او په همدې کې راګير کـېـږي، او په دغو تحريماتو کې ښکيل انسانان ښايي د حکمت دغه برخې او يا لارښوونې هېـرې کړي چې حساسي او له دقت ډکې دي.)

«صاحبه ستا جامې ولې د نورو انسانانو په څېـر نـۀ دي؟»

«ګرانــه هلکه! ښکلي جامې دنيوي خلک اغوندي؛ او له پيـنځو لـېـوالتياوو نـۀ بـېـلـېـدونکي دي[4]. هرڅومره ګواښ چې انسان ته کابو وي، د ژېړو جامو اغوستونکی پرې نـۀ پوهېږي. همدا دليل دی چې زما جامې د نورو پـه شان نـۀ دي.»

«ځښتنه! پوهــېــږئ چې رښتونی معرفت څه دی؟»

« هو هلکه، زه په رښتوني معرفت خبر يم او په دې هم پوهېږم چې په نړۍ کې تر ټولو ښـۀ سرود " منتره" کوم دی ».

« ځښتنــه! کولائ شئ رازده ئـې کړئ؟»

---

[1] ـ دا د " خنډ يا مانع" عجيبه نظريه ده چې د ويښتانو او رږېـرې پرېـښـودل چې نــۀ يوازې د معاصر وخت د ويښتانو او رږېرې خريلو له خوارقو سره سمون خوري، بلکه د لومړنيو عيسويانو او د منځنيو پـېـړېـو له دودونو سره برابره ده ـ ليکوال

[2] - myrobalan seeds

[3]- په بودائـي ګروهنې کې د هېـڅ ژوندي موجود وژل روا نــۀ دي ان که مضر هم وي او يا ډېـر واړه وي چې تر پښو لاندې نـۀ شي. دا ځکه چې بودايان باور لري چې د ژوندانــۀ کړۍ ګرځنده او متحوله ده چې کله د انسان، کله د ځاروي، کله د ژوي او کله د حشراتو په بڼې تجسم مومي. –ژ

[4]- د سترګو شهوت د غوږونو شهوت او نورو ـ ليکوال

«هو کولی شم»

«نو را زده ئـي کړه»

« اوس ئـي سم وخت نـهٔ دی؛ موږ کلي ته د صدقاتو لپاره راغلي يو.»

۲۴- ورپسې ځوان ناګه سينا د ښاغلي روهنا له لاسه د صدقاتو کچکول واخيست او خپل کالـهٔ ته ئـي راوست او په خپل لاس ئـي ورته ډوډۍ برابره کړه، که کلکه يا نرمه[1] ډوډۍ وه د روهنا د اړتيا په اندازې ئـي ورته برابره کړه. کله چې روهنا خپله ډوډۍ خلاصه کړه او خپل لاس ئـي له کاسې لـېرې کړ نو ناګه سينا، روهنا ته وويل: «ښه صاحبه! اوس کولی شئ هغه سرود را زده کړئ؟»

«کله چې تـهٔ ځان له تحريماتو خلاص کړئ، او په ځان ئـي ومنې او ستا د مور او پلار په دې رضائيت وښود چې زما په شان د زاهدانو جامې واغوندې، هغه مهال به ئـي درته در زده کړم.»

۲۵- ورپسې ځوان ناګه سينا خپل مور او پلار ته ورغی او وئـي ويل :« دغه زاهد وايي چې په نړۍ په تر ټولو ښـهٔ سرود پوهېږي، خو دی ئـي تر هغو پورې چا ته نـهٔ شي ور زده کولی چې قانون ته د زده کوونکي په شان نـهٔ وي منلی شوی. زه بايد د قانون کړۍ ته ننوځم او هماغه سرود زده کړم.»

او د ناګه سينا مور او پلار خپل رضائيت وښود ؛ مورا و پلار ئـي خپل زوی ته هيله ځرګنده کړه چې سرودونه زده کړي ان که له نړۍ ځخه د رخصتيدلو په بيعې هم وي ؛ مور او پلار ګومان کاوهٔ چې زوی به ئـې خپلې زده کړې وکړي او بـېـرته به دوی ته راستون شي[2].

ورپسې، ښاغلي روهنا، ناګه سينا له ځان سره د وتـنـيا ګوټځي «ويګمبه وتو[3]» ته بوت او شپه ئـي هلته تـېـره کړه، او بيا ئـي «محفوظي غرنـۍ ډډې[4]» ته بوت؛ دلته ځوان ناګه سينا د نورو بې شمـېــرو ارهټانو په منځ کې قانون ته د مبتدي په توګې ومنل شو.

۲۶- او کله چې دی ومنل شو نو ښاغلي ناګه سينا و ښاغلي روهنا ته وويل :« ستاسو جامې خو مې واغوستلې ؛ اوس نو هماغه سرود را زده کړه.»

---

[1]- کلکه ډوډۍ هغه وي چې په غاښونو ژول کـېـږي او نرمه هغه ئــي لکه مستې، حلوا او نور ژوولو ته اړتيا نــهٔ لري- ژباړونکی

[2]- د بودايي قانون په رڼا کې د زده کړو پر مهال که هر څوک په خپل زړهٔ وغواړي چې لاړ شي او زده کړې پرېږدي ورته کوم خنډ نـهٔ شته.- ليکوال

[3] - Vigamba Vatthu

[4] - Guarded Slope

بیا نو ښاغلي روهنا له ځان سره په دې هکله له ځان سره فکر وکړ: «لومړی څه شي باید ور زده کړم؛ آیا د «سوتن تا[1]» خطابې ورته ووایم یا د دین ژورې خبرې « ابهید هما[2]»؟ له دې چې روهنا پوهېدهٔ چې ناگه سینا هوښیار او ځیرک دی نو له ځان سره ئې وویل چې دی به ژر په ابهیدهما کې مهارت تر لاسه کړي، نو له همدې کبله ئې په ابهیدهما کې ورته لومړنی لوست ورکړ.

او ښاغلي ناگه سینا په یوازې یوهٔ ځل لوستنگ خو یوهٔ ځل تکرار سره ټوله ابهیدهما له یاده کړه- همداسې ئې «دهمه سنګَني[3]» د هغه له ستر څېرکیو سره چې ښهٔ، بد او مختلف خصوصیات او د هغه دوه گوني او درې گونې برخې[4] - «بیا ئې - ژ» «ویبهانگه[5] » له خپلو اتلسو څېرکیو سره « له یاده کړه - ژ» چې د موجوداتو په جوړونکو عناصر راپېلېږي – «بیا ئې - ژ» «دهاتو کتها[6]» له څوارلسو کتابو سره « له یاده کړل - ژ» چې په سکېنده کېدونک / جبرانېدونکو او نهٔ سکېنده کېدونکو پېلېږي - «بیا ئې - ژ» «پوگله پناتي[7]» له شپږو څېرکیو سره « له یاده کړه - ژ» چې د بېلابېلو جوړونکو عناصرو توپیر، د بېلابېلو حواسو توپیر او کومې ځانگړتیاوې لري، او نور[8] « له یاده کړل - ژ» - «بیا ئې - ژ» «کتهاوتهو[9]» له زرو برخو سره، « له یاده کړه - ژ» چې پینځه سوه ټکي ئې زموږ خپل لید لوری او پینځه سوه ټکي ئې د مخالف لیدلوری رانغاړي- «بیا ئې - ژ» «یمَکه[10]» له لسو څانگو سره چې متممه تیوري گانې لکه سرچینې او یا جوړوونکي عناصر او نور لري « له یاده کړه - ژ» - «بیا ئې - ژ» «پټهانه[11]» له څلور ویشت څېرکیو سره « له یاده کړه - ژ» د علت د دلایلو، د نظریاتو د دلایلو او پاتې برخې ئې زده کړې. او وئې ویل [۱۳] : « صاحبه! همدومره مې بس ده، تاسو بیا اړتیا نهٔ لرئ چې راته مطرح ئې کړئ. دا به زما لپاره بس وي چې تمرین ئې کړم.»

۲۷- بیا نو ناگه سینا د ارهټانو یوې بې شمېرې ډلې ته ورغی او وئې ویل: « زه باید ټوله ابهیدهما پیټکه مطرح کړم، او له لنډون پرته به ئې د ښو، بدو او د خصوصیاتو د توپیر په ویشون په درو برخو کې ترتیب کړم.» ارهټانو ورته اجازه ورکړه

---

[1] - Discourses (Suttanta)

[2] - Abhidhamma

[3] - Dahmma Saṅgani

[4]- پرتله کړئ : د بېلگې په توگې په ۱۲۵ پاڼې کې د بودیزم اخلاقي سایکولوژي د همدغهٔ لنډیز په ۱۲۵ پاڼې کې چې د پالي ټکسټ سوسایټې د برن « د خپرندوئې ټولنې ۱۸۸۵ لندن» ډاکټر ایډوارډ میولر له خوا ایډیټ شوي دي- لیکوال

Vibhańga-[5] - د بودایي دین یو سپیڅلی کتاب دی چې د تیریوادا د بودیزم د پالي د قانون یوه برخه ده او اتلس څپرکي لري چې په ابهیدهما کې راگډه ده – ژباړونکی

Dhâtu Kathâ - [6] – دا د ویبهانگه په شان یو بودایي سپیڅلې کتاب دی – ژباړونکی

Puggala Pańńatti-[7] هماغه – ژباړونکی

[8]- دا شپږ ډوله توپیرونه ( پنه تي Pańńatti) چې دلته ورته نغوته شوې هماغه توپیرونه دي چې په «پوگله Puggala» کې راغلي دي. دا د اخلاقي مقالاتو یوه برخه ده چې یوازې د «یوگړو کسانو» له وروستیو شپږو «توپیرونو» سره سر و کار لري. وگورئ : لیکوال

See the edition by Dr. Morris, published by the Pali Text Society (London, 1883).

Kathâ Vatthu -[9] هماغه – ژباړونکی

Yamaka -[10] – هماغه – ژباړونکی

Patthâna -[11] – هماغه- ژباړونکی

چې لاړ شي او جوړ ئـې کړي. ناګه سینا په اوو میاشتو کې د ابهیدهما بشپړ اووۀ واړه کتابونـه په لوړ غږ قرائـت کړل. له ځمکې تندرین غږونـه پورتـه شول، رب النوعو په لوړو غږونو ورته لاسونـه وپړقول، برهما رب النوعو ورتـه لاسونـه وپړقول، او له جنته د چندڼ د لرګي خوږي عطریني دوړې د باران په شان راووَریـدې او د «مندَرَوا[1]» ګلونـه ووَریـدل! او بیا د بې شمـــېـــرو ارهتانو ډلې همدلته په «محفوظې غرنی ډډې کې[2]» ښاغلی ناګه سینا چې پر دې مهال شل کلن وو د قانون د لوړ دریځو کسانو په ګړیتوب ومانـۀ.

۲۸- اوس نو په دا بله ورځ ئـې چې ښاغلی ناګه سینا د قانون د غړو بشپړ غړیتوب ترلاسه کړی دی «بودایي –ژ» جامې واغوستلې او کچکول ئـې په لاس کې واخیست او له خپل استاد سره لاندې کلي ته د صدقاتو د راټولونګ لپاره لاړ. د لارې په اوږدو کې ئـې په زړۀ کې یوه خبره راتاو شو او له ځان سره ئـې وویل چې دا " زما استاد څوني تش لاسی، تشپانی او ساده دی چې د بودا ټولې خبرې ئـې یوې خواته کښېښودلې او ما ته ئـې لومړی ابهیدهما را زده کړه!"

او ښاغلی روهنا په الهامي ډول خبر شو چې د ناګه سینا په زړۀ کې څه تېـر شول او بیا ئـې ورته وویل :« ناګه سینا! دا څه دي چې په زړۀ کې تـېـر شول سم نـــۀ ول؛ دا ددې ارزښت نـــۀ لري او نـۀ ښایي چې داسې سوچونه وکړې.»

ناګه سینا له ځان سره وویل :«څوني هېـښـنده او په زړۀ پورې! چې زما استاد لا په دې خبرې پوهـېـږي چې زما په زړۀ کې څـۀ تـېـرېږي!، زۀ باید ورڅخه بخښنـه وغواړم.» بیا ناګه سینا وویل:«صاحبه! ما وبخښئ، نور به هېـڅـکله داسې خبرې په زړۀ کې تاو نـۀ کړم.»

[۱۴] «روهنا- ژ» په ځواب کې وویل :« ناګه سینا! زۀ دې په دوني ساده ګی نـــۀ شم بخلښی. هلته لـېـرې یو ښار دی چې ساګله نومـېـږي؛ دا ښار یو پاچا لري چې میلینډا نومـېـږي، دا پاچا "زمونږ – ژ" ورونه ځوروي، دی زمونږ ورونه ته داسې معمی ګاني وایي چې دوی بدعت ته هڅوي. ناګه سینا! زۀ به هغه مهال تا وبخښم چې پاچا ته لاړ شي او په وراشو «مباحثو» کې وربادي برلاسی شي او پاچا د ربښتیا د لارې خوښیو ته راوګرځوی.»

ناګه سینا په ځواب کې وویل :« نـۀ یوازې سپیڅلي پاچا میلینډا بلکه د هندوستان ټول پادشاهان دې راسي او پوښتنې دې راڅخه وکړي، زه به د هغوی ټولې معما ګاني ورماتې کړم او ځواب به ورته برابر کړم.» خو کله چې ناګه سینا پوۀ شو چې پاچا اوس نسته نو وئـې یول :« صاحبه! ستا سلا څـۀ ده، تاسو خو پوهـېـږئ چې درې میاشتې بارانونه را روان دي، زۀ به دا درې میاشتې چېـرې تـېـرې کړم؟[3]»

---

[1]- Mandarava flowers : په پښتو کې مې دغـۀ ګل ته نوم ونـۀ موند. په پالي کې ئـې پاریک چټـَـکا *pāricchattaka* او په سانسکریت کې ئـې پاریجاتا पारिजात بولي چې د سپین مرجان د ونې معنی ښندي او له دې څخه موخه چې پښتو ئـې چونیاکی یا شب بو او یاسمن کـېـږي. ژباړونکی

[2] - Guarded Slope

[3]- دا به د قانون خلاف وي چې د بارانونو په موسم کې دې یو ناڅاپه ساګلې ته لاړ شي. له دې کبله دی په دې مودې کې باید ځان چمتو کاندي.- لیکوال

[۲۹]. (روهنا ورته وویل – ژ). زموږ یو «دیني – ژ» ورور دی چې اسه ګوټه[1] نومېږي او د وټـنیا په ګوټځي کې استوګنه لري. ناګه سینا! تـهٔ هغـهٔ ته ورسه او زما په نامـــهٔ د هغـهٔ پښو ته ور ټیټ سه او ورته ووایه : « زما سپېځلي استاد تاسو ته په ډېر درنښت سلام وایـهٔ، او ستا د روغتیا او سوکالۍ پوښتنـه او غوښتنـه ئـې کوله او هیله لري چې تاسو د ټول توان لرونکی او هوسا اوسئ. زهٔ ئـې تاسو ته دلته راولیږلم چې ستاسو تر لاربښونې لاندې د بارانو درې میاشتې تـېرې کړم.» که ئـې ستا د استاد د نامـهٔ پوښتنـه کوله ورته ووایه. او که ئـې درڅخه وپوښتل چې ددهٔ خپل نوم څه دی ورته ووایه چې :«صاحبه! زما استاد خو ستاسو پـهٔ نامـهٔ پوهېږي.»

او ناګه سینا د ښاغلي روهنا مخې ته په ملا کوږ سو، او د تللو پر مهال ئـې د ښـي لاس له څنګه تـېر سو، خپل کچکول او جامې ئـې واخیستلې، له یوهٔ ځایه و بل ځای ته د وټـنـیـا د ګوټځي پر لور روان وو او د لارې په اوږدو کې به ئـې خپله ډوډۍ په صدقاتو راټولوله. کله چې «ټاکل شوي –ژ» ځای ته ورسېد ښاغلي اسه ګوټه ته ئـې سلام واچاوهٔ او کټ مټ هغه څـهٔ ئـې ورته وویل چې ورته ویل شوي ول [۱۵]، او د اسه ګوټه وروستی ځواب ورته دا وو چې وئـې ویل : «ډېر ښـهٔ ناګه سینا، جامې او کچکول دې کښېږده». په بله ورځ ئـې ناګه سینا د ښوونکي له دېـرې دباندې ووت او د خپل استاد لپاره ئـې د څښنګ اوبـهٔ او غاښ پاکوونکي کښېښودل. شیخ له دېرې بیا دباندې راووت، اوبـهٔ او غاښ پاکوونکي ئـې لېرې وغورځول، دهٔ به غورځول او ناګه سینا به راوړل او ان یوه کلمه به ئـې هم نـهٔ ویله. دا لړۍ تر اوو ورځو پورې روانه وه. په اوومې ورځې شیخ یو ځل بیا د پخوا په شان هماغه پوښتنې کولې. او ناګه سینا به هماغه پخواني ځوابونـه ورکول، د باراني فصل له بشپړېدو وروسته ئـې ورته د بېرته تګ اجازه ورکړه.

۳۰- اوس نو دلته یوه مېـرمنـه وه، د ایمان یو پـېـژندل شوی ګل وو، دېـرش کلنـه وه او د ښاغلي اسه ګوټه د غوښتنو څارنـه او پالنـه به ئـې ډېره کوله. د باراني فصل په پای کې یوه ورځ دا میرمن اسه ګوټه ته راغله او ورڅخه ئـې وپوښتل چې آیا کوم بل ورور هم ورسره ژوند کوي که نـه. کله چې اسه ګوټه دې مـېـرمنې ته وویل چې «هو» یو تن شته دی او د ناګه سینا نوم ئـې واخیست، نو مـېـرمنې شیخ او ناګه سینا دواړه خپل کالـــهٔ ته راوبلل چې په بله ورځ «سبا- ژ» ئـې ددې په کالـهٔ کې د څاښت ډوډۍ ورسره وخوري. شیخ خپل رضائیت په چوپتیا ور څرګند کړ. شیخ د بلې ورځې له څاښت مهال مخکې خپلې جامې واغوستلې، خپل کچکول ئـې په خپل لاس کې واخیست، دباندې ووت، ناګه سینا ورسره د لارې ملګری وو او د هماغې راهبې کور ته روان شو، د راهبې کالـهٔ ته په رسېـدو سره پر هغـهٔ ځای کښیناستل چې دوی ته جوړ شوی وو. راهبې دوی ته ډوډۍ که کلکه وه یا نرمه، څونې چې دوی غوښتله برابره کړه او لاس په نامـهٔ ورته ودرېدله. کله چې اسه ګوټا ډوډۍ خلاصه کړه، او خپل لاس ئـې د ډوډۍ له کاسې لـېـري کړ ناګه سینا ته ئـې وویل : « تـهٔ باید له دې درندې مـېـرمنې مننه او د شکرانې دعا ورته وکړې.» د همدې په ویلو له خپله ځایه جګ سو او لاړ. [۱۶]

۳۱- دې مـېـرمنې ناګه سینا ته وویل :«ملګریه ناګه سینا، زه زړه یم. دعا باید د ایمان له ژورو وشي»

---

[1] - Assagutta

او ناګه سینا ددعا ویل پېل کړل[1]، ژور په ابهیدهما کې ننوتی وو، نـهٔ دا چې یوازې په عادي اخلاقیاتو کې بلکه په هغو خبرو کې چې په ارهټانو پورې اړه لري[2]. او مېـرمن ناسته وه او اورېدل ئـې، ددې په زړهٔ کې د ربښتیا باطني بصیرت را اوچت سو، یوه رڼه او سپیڅلې رښتیا [3] چې په پوهـېدا ئـې دا احساس راژوندی کېږي چې هر څـهٔ چې پېـل لري پـهٔ ځان کې د فنا خانګړتیاوې نغښتي لري. او ناګه سینا هم کله چې دعایه بشپړوله دهٔ هم د ربښتیا او حقیقت ځواک لمس کړ، دی هم هماغـهٔ باطني بصیرت ته ورسېد[4] - دی هم چې هماغسې ناست وو په همدې ځېې کې ننوت « په بلې وینا دا د ارهټ توب ممتازې لارې ته لومړی پړاو وو»

۳۲- ورپسې ښاغلی اسه ګوټا چې په خپل بڼ کې ناست وو په دې خبر سو چې دوی دواړو باطني بصیرت تر لاسه کړی او وئـې ویل: « ډېـر ښـهٔ! ډېـر ښـهٔ! ناګه سینا! پـهٔ یوهٔ غیشي دې دوه پرتمین ښکارونـه وویشتل!» او په عین وخت کې په زرګونو رب النوعو په لوړ غږ خپل موافقت څرګند کړ.

اوس نو ښاغلی ناګه سینـا راپورته سو، بېـرته اګه سوټا ته ورغی، هغـهٔ ته ئـې سلام واچاوهٔ او ورڅـخه لـېـرې په درنښت کښـېـناست. او اسه ګوټه ورته وویل : « ناګه سینا! اوس نو تـهٔ پاټلي پوټه [5] ته لاړ شه. هلته د آشوکا په بڼ کې ښاغلی دهما راکهیته [1] اوسـېـږي. د هغـهٔ تر لار ښوونې لاندې به تـهٔ د بودا وینـاوې زده کړې.»

---

[1]- پورته یاددښت وګورئ. ۱۵مه پاڼه – لیکوال

[2]- دلته سونـه تا Suńńatâ د نیروانه Nirvâna په اسیت کارَول شوې ده. پرتله کړئ دویمه انګوتـَـره ۵ او یا ۶ Ańguttara II, 5, 6 او دریمه ګاته که ۱۹۱ یا Gâtaka III, 191 او دولسمه کوله وّګه ۲ او ۵ یا kullavagga XII, 2, 5 - لیکوال

[3]- دهمه ککخو. Dhamma-Kakkh . د ټولو شیانو او موجودات د نـهٔ پایښت درک او احساس د «حقیقت لپاره د سترګې 'the Eye for the Truth» پـهٔ نامـهٔ یادېږي او د ارهټ توب په لارې کې یعنې نیروانا ته د ننوتنګ له ښو څخه ده. د بودایانو همدغه ګروهنه په عیسویت کې هم تفسیر او تبدیله شوې ده. پرتله کړئ :Acts xxvi. 18 (سترګې ئـې خلاصوي او له تیارو څخه ئـې په روښناییی بدلوي، او د شیطان له ځواکه ئـې په رب النوعه بدلوي) او نور نقل قولونه. – لیکوال

د ژباړونکي یادونه :- نـهٔ پایښت، د بودیزم یوه اصطلاح ده او په دې باور ده چې ددې جهان ټول واقعي موجودات د خپل ظاهر او باطن له اړخه د بدلون په حال کې دي. په بله وینا ټول موجودات ان د یوې شیبې لپاره د خپل ماهیت د ساتنې وړتیا نـهٔ لري. نـهٔ پایښت، رنځ او د نـهٔ فردیت لرل د بودیزم په مکتب کې د هستۍ درې نښې دي. د نـهٔ پایښت د فرضیـې پر بنسټ انسان دا پړاو د زړښت تر پړاوه وهي، دې دنیا ته تګ او بیرته راتګ د ټولو موجوداتو لپاره دی ان که د اخلاقیاتو رب النوعه هم وي او دا ځکه چې د هستۍ د عالم ټول موجودات له نـهٔ پایښت سره مخ دي او په نړۍ باندې زړهٔ تړل د رنځ او کړاو د ډېـرېدلو لامل ګرځي. ژباړونکی

[4] - وي په سـنا Vipassanâ : چایلدرز Childers وایي چې دا ارهټ توب ته یوه نغوته ده؛ او ترنکنر ئـې د «ممتازې خبرتیا» په ډول ژباړي. خو یوازې ئـې ارهټان لري ځکه دوی ددین د لارې ټول پړاونه وهلي دي او د موجود په توګې مافوقه موجودات ئـې لرلی شي ځکه چې د دې نړۍ له خبرتیا او ان له انحصاري اخلاقیونو څخه لا وړاندې او لـېرې ده. دا د خدایي له سترګې Divine Eye لږ ده او ناګه سینا تر دې دمه لا ارهټ شوی نـهٔ وو. پرتله کړئ د چایلدرز یادښت تر دهمه ککخو لاندې دهمه ککخو او هم مها وګه لومړی ، ۶، ۳۳؛ ګاتګه لومړی ۱۴۰، سومنګله ویلاسي ۲۳۷، ۲۷۸ یا : Dhamma-Kakkhu, and also Mahâ- vagga I, 6, 33; Gâtaka I, 140; Sumańgala Vilâsinî, 237, 278.

[5]- Pâtaliputta : پاټه لي پوټه : چې پاټه لي پوتره هم یادېږي د بهارت یا هند شمال ختیځ کې د کلکتې په شمال لویدېـز کې معاصرې پټنې ته ورڅـېـرمه د ګنګا سیند ته نـېـږدې د لرغون بهارت یو ښار وو. دا ښار د مګدها د شاهانو له خوا په ۴۹۰ م. ز کال کې جوړ شو حال دا چې پټنه چې د آشوکا پلازمینه وه په دریمې مخزدېـزې پـېـړۍ کې ودانه شوه. ژباړونکی

« پاټلي پوټه څوني لېرې ده»

«زما په ګومان سل یوګنه[2] لېرې ده، ناګه سینا.»

« صاحبه! ښایسته اوږده لاره ده. د لارې په اوږدو کې به د ډوډۍ موندنه ګرانه وي. څنګه هلته لاړ سم؟»

«ناګه سینا! مخامخ لاړ سه. د لارې په اوږدو کې به ډوډۍ ومومې، وریجې به ومومې چې توری داني ورڅخه ټولې شوي وي، او ورسره به کورکمن او بېلابېل لعابونه وي.»

ناګه سینا وویل « ډېر ښهٔ صاحبه!» د خپل استاد مخې ته په ملا کوږ سو، له ښي اړخه ئې تېر سو، خپل کجکول او جامې ئې واخیستلې او د پاټلي پوټې په لور روان سو.

۳۳- [۱۷] په دې مهال کې د پاټلي پوټې یو سوداګر بېرته د خپل ښار پر لور روان وو چې پینځه سوه بارې بګۍ ئې درلودلې. کله چې سوداګر ښاغلی ناګه سینا له لېرې ولید چې ددهٔ پر لور ور روان دی، خپل کاروان ئې ودراوهٔ؛ ناګه سینا ته ئې سلام واچاوهٔ او ورڅخه ئې وپوښتل :

« چېرې روان یاست بابکه[3]؟»

«پاټلي پوټې ته، غیر روحاني[4] سړیه!»

«ډېر ښهٔ بابکه، موږ هم هلته ځو. تا ته به هوساینه وي که له موږ سره لاړ سئ»

سوداګر د ناګه سینا له چار چلنده خوښ سو، ناګه سینا ته ئې ډوډۍ که کلکه یا نرمه ددهٔ د اړتیا په اندازې ئې ورته برابره کړه او د ډوډۍ تر خلاصولو پورې ورته لاس په نامهٔ ولاړ وو. کله چې ډوډۍ خلاصېدله سوداګر به لږ ښکته، لږ لېرې ټیټ پر ځمکې په درنښت کښېناست. سوداګر چې کښېناست، نو ښاغلي ناګه سینا ته ئې وول : «بابکه، ستاسو نوم څه دی؟»

---

[1] - Dhammarakkhita

[2] Yoganas- : په انګلیسي مقیاس لیګ league راځي چې هره یوګنه اووهٔ مایله کېږي. وګورئ د سایلون د ایکیو په هکله زما میچ اخیستنه شپاړلسمه پاڼه چې پهٔ Thomas's 'Numismata Orientalia,' vol. i. کې راغلی دی. - لیکوال

[3] father - : دلته انګلیسي ژباړونکي د فادر یا پلار په دیني مذهبي معنی راوړې چې عیسویان ئې خپل کشیش ته وایي. دغه نامهٔ ته مې تر بابک پرته بل ښه پښتو ویی ونهٔ موند- ژباړونکی

[4] householder - : دلته انګلیسي ژباړونکي همدا ویی د کور د څښتن او مالک په ظاهري معنی راوړی دی. په بودیزم کې دغهٔ وییکي ته ګه هه پتي *gahapati* وایي چې معنی ئې غیر روحاني کېږي. ژباړونکی

«غیر روحانیه! ناګه سینا مې بولې»

«بابکه! تاسو د بودا په ویناوو خبر یاست؟»

«زه په ابهیدهما پوهېږم.»

«موږ ډېر نېکمرغه یو بابکه، په حقیقت کې دا ګټور شی دی. زه هم ستاسو په شان د ابهیدهما زده کوونکی یم. بابکه ځینې برخې ئې راته قرائت کړه»

ښاغلي ناګه سینا سوداګر ته د ابهیدهما برخې قرائت کړې، هماغومره چې ناګه سینا «د زړهٔ له اخلاصه» قرائت کاوهٔ نو هومره ئې په زړهٔ کې د رښتیا، سپیڅلتیا او رڼوالي د باطني بصیرت روښنایي راپورته کېدله او پوهٔ شو چې هر هغه څه چې هرو مرو یو پېل لري نو د فنا خصوصیت هم په ځان کې په میراث لري.

۳۴- او د پاټلي پوتې سوداګر د خپلو بګیو کاروان له ځانه مخکې ولېږهٔ او دی ورپسې ور روان سو. او هغهٔ ټکي ته ورسېد چې پاټلي پوتې ته نېږدې سړک ویشل کېږي، دلته ودرېد او ناګه سینا ته ئې ووَل : « دغه موږ د آشوکا بڼ ته تللی دی. اوس زه دلته یو کم پیدا لرګین شی لرم چې شپاړلس په اتو ذرعو[1] کې دی. [۱۸]. پر ما پېرزوینه وکړه چې دا ډالی مې ومنه.» او ناګه سینا هماغسې وکړل. سوداګر په ښادمن زړهٔ خوښ او خوشاله سو، زړهٔ ئې راضي او په خوښی ډک سو، ښاغلي ناګه سینا ته ئې سلام کړ، او ښی خواته ئې ودرېد، تړې تاو سو او په خپلې لارې لاړ.

۳۵- ناګه سینا د آشوکا بڼ[2] ته دهما- رکهیته[3] ته ورغی. دهما رکهیته ته ئې له سلام کولو وروسته وویل چې څه ئې تر لاسه کړي دي او د څه لپاره دلته راغلی دی، بیا نو ناګه سینا د درو میاشتو په ترڅ کې د ښاغلي دهمارکهیته له خولې څخه د بودا د ویناوو، درې واړه ټوکری[4] له یاده کړې او یو ځل ئې (سره له دې چې له یاده ئې زده ول) ټول له یادي تکرار کړې. او په نورو درو میاشتو کې ئې د خپل باطن کنټرول تر لاسه کړ ( او دا د خطابو د ژور احساس په معنی ده).

---

[1] - cubit یا ذرع د مقیاس پخوانی واحد وو چې له ۴۵ تر ۷۲ سانتي مترو پورې اوږد والهٔ ئې اندازه کاوهٔ - ژباړونکی

[2] - Asoka Park

[3] - Dhamma-rakkhita

[4] - Pitakas دا اصطلاح د قانون په سپېڅلو کتابونو کې نـهٔ ده کارَول شوې. دا چې کله کارَول شوې موږ ته روښانه نـهٔ ده. دا یو له ډېرو پخوانیو نقلِ قولونو څخه ده چې تر اوسه ددغو سپېڅلو کتابونو د ویش په تخنیکي لړ کې لیدل شوی دی. دا اصطلاح د بودهاګهوسه پر مهال په بشپړ ډول کارېدله. وګورئ : - لیکوال

see the Sumańgala Vilâsinî, pp. 15, 16, 17, 18, &c, and the Samanta Pâsâdikâ, printed in Oldenberg's 'Vinaya Pitaka,' vol. iii, p. 293

د پرتلې یا مقایسې دریمه خبره دا ده چې دا په اصل کې کومه ټوکرۍ یا بکس د شیانو د ساتلو لپاره نـهٔ بلکه د لاس په لاس کېدلو په معنی ده (په ختیځ کې کله چې کارګران ځمکه کیني نو خټه یا خاوره په ډولچو یا پلنو ټوکریو کې اچوي او له یوهٔ لاسه ئې بل لاس ته تېروي.) نو دلته د درو ټوکریو اصطلاح د درې ټولګو /مجموعو معنی نـهٔ بلکه د عقایدو درې بدنې یا ستنې دي چې له یوهٔ ښوونکي و بل ته لېږدېدلې دي. وګورئ :

Trenckner's decisive argument in his 'Pâli Miscellanies,' pp. 67-69. لیکوال

د همدې مودې په پای کې ښاغلي دهمارکهیته ناګه سینا مخاطب کړ او ورته ئې وویل :« کټ مټ لکه یو شپون چې غوایان ساتي او نورو د غوایانو له محصولاتو خوند اخلي، تـهٔ هم هماغسې ئـې، تا په خپل سر کې د بودا د ویناوو ټولي درې ټوکرۍ راټولي کړي او زده کړي او لا تر اوسه کړي خو ددې ورتیا نــهٔ لرئ چې د «سَـمَـنـه توب[1]» د میوې خوړونکی اوسې.»

«د ناګه سینا – ژ» ځواب دا وو چې «سپېڅلیه استاده، تر دې پورته نو څه مـهٔ وایه». په هماغه ورځ، د شپې له پلوه هغه «ناګه سینا – ژ» ارهټ توب[2] ته ورسېد او ورسره د حکمت هغو څلورو واړو ځواکونو ته ورسېد چې ټول ارهټان ورڅخه برخمن دي : « یعنی : حسیه استدراک، په ژورو دیني لاربنوونو کې د نغښتو لغاتو استدراک، د حسي/ بصري یا مستقیم قضاوت ځواک او د سم او چمتو تفسیر ځواک»[3]. په همدې شـېـبې کې چې دهٔ حقیقت تر لاسه کړ ټولو رب النوعو په لوړ غږ خپله منظوري بیان کړه، له ځمکې تندرین غږ پورته سو او د برهما رب النوعو د لاسونو پړقا وکړه او له جنته د معطره خواږه چندڼ دوړې او د مندرّوا د ګلونو باران پیل شو.

۳۶- په دې وخت کې د همالیا په غرونو کې په محفوظې غرنی ډډې کې د بې شمــېــر ارهټانو ډلې «ناګه سینا ته – ژ» پیام ولـېـږهٔ چې راشه، ځکه دوی د دهٔ د لیـدلو ډېـر لـېـواله دي. کله چې پیام ئـې واورېـد، ښاغلی ناګه سینا د آشوکا له بـڼـه غیب او ددوی مخې ته راڅرګند شو. اودوی ورته وویل :«ناګه سینا! پاچا میلینډا زموږ د ورونو د ځورولو عادت لري، له هغوی څخه پـېـچلي پوښتني او ورسره پـېـچلي وراشي کوی، دا کوي او دا. تـهٔ ناګه سینا لاړ سه او [۱۹] پوهٔ ئـې کړه»

«نـهٔ یوازې سپـېـڅلی پاچا میلینډا بلکه د هندوستان ټول پادشاهان دې راسي او له ما دې پوښتني وکړي. زهٔ به ټولي معمی ګاني ماتي او ستونزمني پوښتني به ورځواب کړم.»

«تـهٔ باید له ډاره پرته ساګلي ته لاړ شې.»

ورپسې ټول شیخان د ساګلي ښار ته روان شول، او په خپلو ژېړو جامو ئـې ښار د لمپو په شان روښا کړ او له ځانـه سره ئـې او د علماوو په استوګنځایونو[4] له آسمانونو خوړې ورمې راوړې.

---

[1] - Samanaship

[2]-Arahatship : په تریوادا بودیزم کې ارهټ د بشپړ یا کامل شوي سړي په معنی ده چې نیروانا ته رسـېـدلی وي. په نورو بودایي عقایدو کې ارهټ هغه چا ته ویل کـېـږي چې باطني خبرتیا، باطني ویښتابـهٔ، باطني بصیرت او باطني معرفت او تـَــنــوّر ته رسـېـدلی وي - ژباړونکی

[3]- څلور پټي سمبهیداګانې Patisambhidâs چې د سوتا پیتکه Sutta Pitaka په کتابونو کې د یوهٔ کتاب سکالو یا موضوع ده. لیکوال

[4] ـ ایسي واتم پـَري واتم «نګه رَم» اکمسو.Isi-vâtam parivâtam (nagaram) akamsu : ددې اصطلاح معنی چې په نورو ځایونو کې نـهٔ موندل کـېـږي، شکمنه ښکاري. ترنکنر ورڅخه " د سپـېـڅـلو اولیاوو تنفس یا ورم جوړي." ددې اصطلاح تحت اللفظي معنی «د ریشي باد Rishi-wind په مرستې تیتول» کـېـږي. که هر څه وي، وي به خو معنی ئـې د خوښۍ وړ په یوهٔ شي دلالت کوي. پرذهن باندې غږ کول ښایي د «ویګه نه واتم آرامم viganavâtam ârâmam » له اصطلاح سره ورته والی ولري چې معنی ئـې د « دښتني ګوتځي له ورم سره» برابري کوي :(Mahâvagga I, 22, I7=Kullavagga VI, 4, 8.) زه غواړم پورتنۍ ژباړه ومنم.: هینتي کومبوري پاڼه ۲۴ (p. 24) Hînatikumburê په ځان کې *Rishi*warayańge gamanâgamanayem ganita

۳۷-[1] پر دې مهال ښاغلی «آيوپاله[2]» د «سنِ کهيا[3]» په ګوښځي[4] کې ژوند کاوۀ. او پاچا ميليندا خپلو سلاکارانو ته وويل : « ښکلې او خوشاله شپه ده! څوک سته! هغه لالهاندی ښوونکی يا برهمن چې ليدلو ته ئې نن شپه ورشو او وئې پوښتو، داسې څوک چې له موږ سره وراشه وکړي او زموږ شکونه راحل کړي؟»

او پينځوسو يوکانه ګانو[5] ځواب ورکړ : « څښتنه! يو شيخ دی چې آيوپاله نوميږي، د درو واړو ټوکريو او د دوديز معرفت او پوهنې په هکله پوهيږي. همدا اوس د سنکيا په ګوښځي کې استوګن دی. اې پاچا! کېدَی شي هغۀ ته ورشو او ورڅخه پوښتنې وکړئ.»

« ډېر ښۀ، درځئ. دغۀ ښاغلي ته خبر ورکړئ چې موږ درځو.»

---

wa kîvara wâtayem pratiwâtaya kalâhuya. نغښتي لري « هغوی ئې هوا په داسې ښه جوړوي چې د جامو د ځپو د ريشيانو Rishis په وړاندې وروسته تګ کې رامنځته کيږي. - ليکوال

**د ژباړونکي يادونه** : دلته ما ته د ريشي ويی په زړۀ پورې ښکاري چې په پښتو قاموسونو کې په دې ډول معنی شوی دی :

رشه : خوی، عادت، خصلت، طبعيت، دود دستور، درمند، د غنمو وړی، آذوقه، قيماق

رشکی :ډيری، غنډی، خټ، راشه

اوس راځو د ريشي بلې معنی ته : په ويداګانو کې ريشي د ويدي سرودونو په يوۀ ځانګړي شاعر دلالت کوي چې په يوازې سر يا نورو سره ئې رب النوعو ته په شاعري دعاګاني کړي وي. له ويدي مخکې روايات ريشي په يوۀ ولي يا عالم دلالت کوي. د هندي د رواياتو پر بنسټ ريشي د رش rsh له ريښې څخه په دوه وو معنی ګانو راغلی دی : سانسکريت ژبپوهان ئې له دويمې ريښې مشتقوي چې د «تللو او خوځولو To go and to move » معنی ورڅخه باسي. همدا معنی کېدای شي په پښتو کې (راسه راشه، ورسه،ورشه، درشه، ورځه، درځه او نور) وي. نور ژب پوهان ئې بيا هم له دويمې ريښې څخه په دغو معنی ګانو را پېژني : جريان موندل، بهېدل، د بهېدنګ له لارې نېږدې خوځېدل. دغه معنی ګانې د منير ويليمز د انګليسي – سانسکريت له قاموس څخه اخيستل شوې دي. ددې تر څنګ د ريشي لغت له اوستا سره هم ګډه جرړه لري : يره شس *ərəšiš : يسنه*. د نشه په معنی. ريشي په برهمني نومونو کې د نارينه نوم هم دی.

[1] - دلته موږ د ميليندا اصلي فقره بېرته را اخلو چې په پينځلسمي پاني کې ئې د تداوم لړۍ درَول شوې وه « په بلې وينا لړۍ ئې له لسمي پاني شلېدلې وه» ليکوال

[2] - Âyupâla

[3] - Sańkheyya

[4] - hermitage : دلته ئې يو ځل بيا تکرار احسن بولم چې له ګوښځي څخه زما موخه د عزلت کښېناستو ځای دی چې په دري او فارسي کې ئې عزلت ګاه بولي او په عربي کې ئې صومعه، مسکن معزول، دَير او منسک بولي. ژباړونکی

[5] - Yonakas : په هندي سرچينو کې موږ د يونا، ياونا، يوناکه ، جاوَنا او يَوانا نومونه ډېر وينو چې موخه ئې په شمالي هندوستان کې د ګريکو باکتريک شاهانو او وګړو خلکو څخه ده چې ددوی ګاونډی سيمې ئې نيولې وې. دا د هندوستان د شمال لويديز برخې دي او معاصر افغانستان او پاکستان په کې راځي او له څلورمې مخزېږدېزې پېړی ئې څخه تر لومړی مخزېږدېزې پېړی پورې واکمني چلولې ده. په بودايي آثارو کې ويلی شوي چې کامبوجه او يوناکه وګړي دوې پاړکي يا طبقې لري چې مريبان او څښتنان دي او بس، بله پاړکه نۀ لري. ژباړونکی

وروسته درباري ستوري پېژندونکي «مُنَجم» آيوپاله ته پيام ولېږهٔ چې پاچا ميليندا غواړي له تاسو سره ووينې. او نوموړي ښاغلي وويل :«ورته اجازه ده چې راځي شي.»

بيا نو پاچا ميليندا د پينځوسو يوناکه ګانو په بدرګي په خپلي سلطنتي بګۍ کې کښېناست او د سنکيا د ګوتځي پر لور وخوځېد، دا نو هغه ځای دی چې آيوپاله په کښي استوګن دی، د سلامونو، ستړي مه سئ او د ملګرتابهٔ د ادب په وړاندي کولو دروند او لېږي په خپل ځای کښېناست. او بيا ئې ورته وويل :

۳۸- ښاغلی آيوپاله! ستاسو د قانون پر بنسټ ولي يو څوک دې نړۍ څخه لاس اخلي او تاسو اعلی ترينه ښېګڼه[1] په څه شي کي ږدئ؟»

شيخ وويل : « ښاغلی اعليحضرت! له نړۍ څخه لاس اخيستل په نيکی او عدل کي د ژوند کولو او د روحاني سکون د وړتيا لپاره دی.»

«صاحبه! داسې عامي څوک شته چې په «يادو شويو اوصافو -ژ» دې ژوند وکړي؟

«هو لويه پاچا! داسې عامي خلک سته. کله چې هغهٔ مبارک د غرڅو په پارک[2] [۲۰] کې په بنارس کې د عادل سلطنت، د سلطنتي بګۍ څرخ په خوځښت راوست نو اتلس کروړه برهمني رب النوعو چې نور بې شمېره ارباب الانواع ورسره بدرګه ول حقيقت پوهنه تر لاسه کړه[3]. دوی چې ټول عامي وګړي ول له يوې مخې له دنيا څخه لاس واخيست. او بيا کله چې «هغهٔ - ژ» مبارک د «مهاسمه يه» مباحثه[4] او د «تر ټولو ستر تبرک[5]» او « د تصوف د مکتب شرحه[6]» او د «راهولا ته نصايح[7]» رامنځته کړل حقيقت د رسېدلو رب النوعو شمېر له شماره وتلی وو. او ټولو ئې چې عامی وګړي ول له يوې مخې له دنيا څخه لاس واخيست [1].

---

[1]- سمم بونم Summun bonum : يوه لاتينه اصطلاح ده چې د لرغوني يونان په فلسفي کې د اعلی ترينې ښيګڼې معنی ښندي. افلاطون د خپل جمهوريت په کتاب کې دا خبره په تفصيل سپړلې ده او وروسته ارسطو هم تفصيل ورکړی دی- ژباړونکی

[2] - Deer Park

[3]- وګورئ زما يادښت بوديست سوتاګاني پ. ۱۵۳ – ۱۵۵ په پيټکه ګانو کې د اتلس کروړو په اړوند هېڅ نهٔ دي ويل شوي - ليکوال

[4] - Mahâ Samaya. No. 20 in the Dîgha Nikâya.

[5] -'Greatest Blessing. In the Mahâ Mańgala, translated in my 'Buddhism,' pp. 125-127.

[6]- Sama-kitta-pariyâya Suttanta : Exposition of Quietism دلته په ډاډمن ډول روښانه نهٔ ده چې کومي سوتا Sutta ته نغوته ده. ترنکنر دا په انګوټري (دويمي، ۴ ، ۵) کې په لنډې سوتا short Sutta in the Ahguttara (II, 4, 5 کې پېژني. دا واقعيت دی چې يوازې د برما په نسخو Burmese MSS کې په A. II, 4 کې لس ستوتا ګاني دي چې ټول ئې په ګډه د سما کيته وګه Sama kitta Vagga په نامهٔ يادېږي. خو جلا سوتاګاني ځانته جلا عناوين نهٔ لري؛ د وګه Vagga عنوان په سيمهالي نسخو Simhalese MSS کې نهٔ موندل کېږي، خو کېدی شي په راوروستو نسخو کې تر لاسه شي؛ په ډاډ ويلی شم چې دلته ياد شوی عنوان له اصلي عنوان سره سمون نهٔ خوري. ليکوال

[7]- Exhortation to Râhula: په پالي پيټکه ګانو Pâli Pitakas کې په دغهٔ نامهٔ څو داني سوتاګاني شته. يوه له دغو سوتاګه ګانو څخه دلته سمون خوري (او کېدی شي د آشوکا په فرمانونو Asoka Edicts کې هم وي ) ښايي تر ټولو لنده سوتا (کولا راهولو

« ښه نو، ډېر دروند آيوپاله! " له نړۍ څخه ــژ" ستاسو انکار هېڅ په کار نــۀ راځي. دا چې بودايي « سه مه نـه ګان[2] » له نړۍ څخه لاس اخلي دا بايد د ګناهونو هغه پايله وي چې په پخواني تولد کې «ورڅخه – ژ» تر سره شوي وي او ځانونـه د تقدس د ديارلسو ممنوعه[3] وسيلو يوۀ يا نورو ته معروض وبولي[4]! هغوی چې په يوۀ ځای کې کښېـني ترڅو خپله ډوډۍ

---

واده سوته Kûla Râhulovâda Sutta) وي چې هم په (Magghima. (No. 147 او هم په (Samyutta (XXXIV, 120 دواړو کې مونده کېږي. وګورئ ددې نقل قول په هکله د ترنکنر يادښت – ليکوال

[1]- په هغه ډول چې رب النوعو ته " په نړۍ کې" د عامي وګړي په سترګې کتل کېږي، يوه بشپړه بودايي ګروهنه ده – ليکوال

[2] - سه مه نه يا سه منه او شرَمانه د هندي لالهاندو کسانو نوم وو چې له نړۍ څخه ئې لاس اخيستی وو او يو له دوی څخه ګاتما بودا وو. د شيعه ګانو د دولسم امام علي الهادي النقي د مور نوم سمانه وو. خو د سماني عربي معنی په دې معنی نـۀ ده په عربې کې سمانه د هغه چا په معنی ده چې آسمان ته تلونکی وي. ژباړونکی

[3]- دا دهوتانګه ګانې dhutańgas د Childers sub voce له پلوه شمــېــرل شوي دي. ليکوال

[4]- د ژباړونکي يادونه : دغه ديارلس واړه دهوتانګه ګانې يا موانع چې ليکوال ئې دلته يادونه کوي په لاندې ډول دي: په پالي ژبې کې دهوته dhuta د لاس اخيستنې او ترک په معنی او انګه ańga د ذهني حالت په معنی ده چې د دواړو وييکو له ګډولې څخه له نړۍ څخه لاس اخيستنه او يا قطع علاقه جوړېږي. مانکان اړ دي چې يوه له دغو موانعو څخه پر ځان ومني او موخه ئې داسې ذهني تمرينات او ممارستونه دي چې په سپېڅلي ژوندانـۀ کې ورسره مرسته وکړي. دغه ذهني او فزيکي تمرينات له مانک سره مرسته کوي چې د بدن په ګډون چې مادي بڼه لري خپله روح مادياتو ته له لېـوالتياوو څخه خلاصه کړي. ۱- د ټوکړ له زړو ريتاړو يا پارچو څخه د جوړو جامو د اغوستنګ د ځان لېـرې ساتنې تمرين – يو مانک کولی شي د ټوکر له نويو پارچو څخه ځانته جامې جوړې کړي خو که دا جامې ورته د کوم کالـۀ له پلوه تياري جوړې شوې وي، بايد ونـۀ مني. دغې مانع ته په پالي کې پام سو کوليک انګه pamsukulik'ańga وايي.۲- يوازې درې جوړې بودايي جامې لرلی شئ. دغه حالت ته تي سي وَريک انګه tecivarik'ańga وايي ۳- د صدقاتو د ډوډۍ خوړنګ چې پينده پتيک انګه pindapatik'ańga ئې بولي. مانک بايد يوازې له صدقاتو او خيراتي ډوډۍ څخه خوراک وکړي له ويهاره vihara څخه ئې نـۀ شي خوړلی. ويهاره په دې معنی ده چې د کالـۀ څښتن څوک د ډوډۍ خوړنګ لپاره خپل کالـۀ ته وبولي. ۴- د کور پـۀ کور ګرځېـدلو تمرين چې سه په دنيک انګه sapadańik'anga ئې بولي. کله چې مانک صدقات راټولوي خپلې مخې ته ئې چې له هر کوره راځي بايد ورشي داسې نـۀ شي چې يوۀ کالـۀ ته دې لاړ سي او بل ته نـۀ. په دې معنی چې کورونه نـۀ شي غوره کولی، ښايي هغه ئې د خپلوانو وي او خپلوانو ته به ورنـۀ شي. ۵- يوازې د يوۀ وخت ډوډۍ اخيستنګ چې ايکس انيک انګه ekasanik'ańga ئې بولي. که له يوۀ کالـۀ څخه ئې د غرمې ډوډۍ اخيستي وي نو د ماښام ډوډۍ له هماغه کالـۀ څخه نـۀ شي اخيستی ان که د کالـۀ څښتنګ ئې ورته وړانديز وکړي.۶- له کاسې څخه د ډوډۍ خوړنګ چې پټا پينديک انګه pattapindik'ańga ئې بولي. مانک بايد له خپلې کاسې ډوډۍ وخوري، په دې معنی چې مانک چې له څو ځايونو ډوډۍ ټوله کړې او سره ګډه شوې بايد هماغه وخوري نـۀ دا چې له غاب يا ديګي ئې وخوري.۷- د دويم ځل ډوډۍ له ورکړې او اخيستلو ځان ليري ساتل چې کهالوپک چه بهاتيک انګه khalu-paccha-bhattik'anga ئې بولي. کله چې يو مانک ډوډۍ خوري او نس ئې موړ سو د نوري ډوډۍ له اخيستلو او غوښتلو بايد ځان لېـري وساتي. ۸- په ځنګلـۀ يا ګوټځي کې د استوګنې تمرين چې ارَنيک انګه Araññik'ańga ئې بولي. مانک نـۀ شي کولی په ښار يا کلي کې ژوند وکړي، ددې لپاره چې فکري تمرکز ولري بايد ځان له نورو موجوداتو لېـرې په يوۀ څنګ يا لېـرې ګوښي ګوټ کې وساتي. ۹- د ونو تر جرړو لاندې ژوند کول چې روکهامولیک انګه rukkhamulik'anga ئې بولي. مانک بايد تر ونو يا داسې ځای کې ژوند وکړي چې چت ونـۀ لري.۱۰- تر خلاصې هوا لاندې ژوند کول چې اب بهوسيک انګه abbhokasik'ańga ئې بولي. مانک نـۀ شي کولی تر چت لاندې يا د ونو له جرړو جوړې څېرې لاندې ژوند وکړي. پر ځای ئې بايد په داسې يوې کـېـږدۍ کې ژوند وکړي چې د بودايي جامو له ټوکر څخه جوړې شوې وي۱۱- هډ ايرو ته نـېـږدې يا په هډ ايرو کې د ژوند کولو تمرين چې سسنيک انګه susanik'anga ئې بولي. مانک په هډايرو يا د مړيو د سوځولو ځای ته نـېـږدې بايد ژوند وکړي. له دې داسې ښکاري چې په لرغوني هندوستان کې ښايي دا دود وو چې يو چېـرې لـېـرې به ئې خپل مړي يا ښخول يا به ئې نيمه سوځول او هماغسې به ئې په دښتې کې پرېښودل چې مانک بايد په همدغسې ځايونو

خلاصه کړي په تحقیق چي هغه کسان دي چي په پخواني ژوندانـهٔ کي هغه غلـهٔ ول چي د نورو انسانانو ډوډئ ئـي غلا کوله. دا د دوی د کرما او چلند له کبله ده چي نور خلک ئـي له ډوډئ محرومه کړي ول او اوس په داسي حالت کي دي چي یوازې یو وخت ډوډئ خوړلی شي؛ او اجازه نـهٔ لري چي وخت په وخت چي ډوډی ته ئـي زړهٔ کېږي، څه شی وخوري. دوی په خپله تقوی نـهٔ درلودله، نـهٔ ئـي د پرهیز وړتیا درلودله او نـهٔ ئـي په ژوند کي نېکی کړي دي. او هغوی چي په پرانیستي خلاصي هوا کي ژوند کوي په حقیقت کي هغه کسان دي چي په پخواني ژوندانـهٔ کي هغه داړه ماران ول چي کلي ئـي لوټ کړي ول. دا د دوی د کرما او چلند له کبله ده چي د نورو خلکو کورونـه ئـي ویجاړ کړي، همدا لامل دی چي اوس بې کوره دي او ان اجازه نـهٔ لري چي د استوګنې لپاره څپرئ وکارَوي. دوی په خپله تقوی نـهٔ درلودله، نـهٔ ئـي د پرهیز وړتیا درلودله او نـهٔ ئـي په ژوند کي نېکی کړي دي. او هغوی چي هېڅکله نـهٔ دي څملاستلي په حقیقت کي هغه کسان دي چي په پخواني ژوندانـهٔ کي هغه لاروهونکي شوکماران ول چي د مسافرینو کاروانونـه ئـي وهل، د مسافرو لاس او پښې ئـي ورتړل او هماغسي ئـي په ناستي پرېښودل. دا د دوی د کرما او خوی له کبله ده چي دوی اوس په دې ژوندانـهٔ کي «نِسه ګیکا[1]» شوي دي (یعنی هغه څوک چي تل کښېني) او د څملاستو لپاره هېڅ کټ او ځای نـهٔ لري. دوی په خپله تقوی نـهٔ درلودله، نـهٔ ئـي د پرهیز وړتیا درلودله او نـهٔ ئـي په ژوند کي نېکی کړي دي.

۳۹- کله چي «پاچا په دې ژبې» خبرې کولې، ښاغلی آیوپاله چوپ وو او یو ټکی ئـي هم له خولې راونـهٔ وت. وروسته پینځوسوو یوناکه ګانو پاچا ته وویل :« اې پاچا! دا شیخ ددې ترڅنګ چي عالم سړی دی، تر نورو توپیر هم لري. له همدې کبله دی چي ځواب نـهٔ درکوي. کله چي پاچا ولیدل چي آیوپاله څنګه چوپ سو نو لاسونــه ئـي وپړقول [۲۱] او په لوړ غږ ئـي وویل : ټول هندوستان یوهٔ منځتشي شي غوندې دی، کټ مټ لکه بوس! هېڅ څوک ان یو سمانــه یا برهمن هم نـهٔ موندل کېږي چي له ما سره دې د وراشې وړتیا ولري او زما شکونــه رالېري کړي[2].!

کله چي ئـي ډلې ته وکتل او وئـي لیدل چي یوناکه ګان څوني بې باکه او په ځان غره دي نو له ځان سره ئـي فکر وکړ :« داسي برېښـي چي هرو مرو یو عالم ورور به وي چي له ما سره وراشه وکړي او یا به دا یوناکه ګان به دوني ډاډمن نـــهٔ وي.» او بیا ئـي ورته وویل :

«وه زما ښو خلکو! آیا کوم حکیم ورور شته چي له ما سره وراشه وکړي او زما شکونــه له منځه یوسي؟»

۴۰- په دې وخت کي نو ښاغلی ناګه سینا د کلیو، ښارګوټو او ښارونو له منځه د خپلو صدقاتو له راټولو وروسته په مساعد وخت کي ساګلې ته راورسېد، له دهٔ سره د قانون د سامنـه ګانو یوه ډله بدرګه وه، کټ مټ د قانون د غړو د ډلې د لارښود

---

کې ژوند غوره کړي.۱۲- هر چـېـرې چي ورته د خوب لپاره ځای برابر شي باید هماغلته خوب وکړي چي یتها سنتهتیک انګه -yatha santhatik'anga ئـې بولي. مانک باید قانع وي چي که هر ځای ورته د خوب لپاره برابر شي باید بیده شي که خاوره وي که ډبره او یا تخت.۱۳- د ناستي تمرین چي نیسه جیک انګه nesajjik'anga ئـې بولي- مانک په درو حالاتو کي باید ژوند وکړي یا په ګرځـېدلو، یا په ناستي یا په درېدلو خو هېڅکله څملاستلی نه سي.

[1] - Nesagikâ

[2] ـ وګورئ پورته، لسمه او څوارلسمه پاڼه ـ لیکوال

په توګي؛ يا د پيروانو د يوې ډلې مشر؛ د فکري مکتب د ښوونکي په شان؛ نامتو او پېژندل شوی، داسې سړی چې خلک ورته ډېر زيات درناوی لري. «ناګه سينا» عالم وو، زرنګ وو، ځيرک او د وړتيا خاوند وو؛ ماهره مفسر وو، په ظاهري آرامۍ کې زړه ور وو؛ د عقيدتي شعرونو په وينګ کې بر لاسی وو، د درو واړو ټوکريو «پيټه که ګانو» استاد وو او په ويدي پوهنې[1] او معرفت کې متبحر عالم وو. هغـهٔ « د بودايي» باطني بصيرت لوړ ځواک درلود، دی په ټولو هغو عقايدو کې استاد وو چې فکري مکتبونو ته راوړل شوي ول، د تحليلي علم[2] خاوند وو چې له مخې ئـې ډېـر پيچلي او غامض ټکي تشريح کېږي. ناګه سينا د بودا په نـــهو استويو دکتورينو کې د کمال تر کچې پوهٔ وو[3]، او په همدې اندازې ئـې هم د روح او کلام پېژندنـه کولی شوه. د حاضر ځوابی او ناڅاپه ځواب، د ژبې په پانګې، د فصاحت د ښکلا په موهبت سمبال وو، ګرانـه وه چې ددهٔ په شان دې بل ساری مونده شي، دهٔ غونډې بر لاس بل نـهٔ وو، ګرانـــه وه چې ددهٔ ځواب دې څوک وويلی شي، يا دې مقابله ورسره وکړي او يا ئـې تېروتنـه ور اصلاح کړي. د سمندر د تـَل په شان آرام وو، د غرونو د پاچا په شان دروند او ثابت وو؛ د شرير او لـئيم پر وړاندې په هڅو کې بريمن وو، د تيارو د طلسماتو دافع او د روڼا خپروونکی وو؛ په فصاحت کې ځواکمن وو، د نورو استادانو د پيروانو حيرانوونکی او سرګنګسوونکی وو، د سيالو عقايدو د پيروانو هډ ماتوونکی (د بدعت سټک) وو. د قانون خويندو او وروڼو ورته درناوی درلود، عادي پيروانو که نارينـه او ښځينـه ول ، که پاچاهان ول يا د سلاطينو مامورين، ټولو ورته درناوی درلود، هغـهٔ ته د قانون د غړو له پلوه د اړتيا وړ پريمانه او بې شمـــېـــره شيان راوړل کېدل، که «بودايي – ژ» جامې وې، که کجکولونـه، استوګنځايونه او که د ناروغانو د اړتياوړ توکي – ستر درنښت ئـې تر لاسه کاوهٔ چې تر مادي ډالۍ وو لړ نـــهٔ وو. دهٔ به حکماوو او د بصيرت خاوندانو ته چې په خپلو اورېدونکو غوږونو راټلل د سوبمن «بودا- ژ» د ويناوو نــهـهٔ استوي ګوهرونه واورول، دهٔ به ورته د عدل او نـېـک چلندۍ لاره وروښودله، دوی ته به ئـې د حقيقت لوړ فانوسونـه روښانـه کړل، د حقيقت او رښتيا سپېڅلي ستنې به ئـې ورته ودرولې[4]، ددوی د ښـېـګنې او ګټې لپاره به ئـې د حقيقت د قربانۍ لاره تقديسوله. د دوی ملاتړ به ئـــې کاوهٔ، د «اخلاق او عقيدت» د لارې ارزښتونو معاير به ئـې ورښودل، د حقيقت ترومونه او ډهلونه به ئـې ورته وغږول. هـغـهٔ به خپل د ستر زمري غږ په شان - کټ مټ د ايندرا د تندر په شان- خو خواږهٔ غږ [۲۲]، د رحمت پريمانه دراندهٔ بارانونه ووَرَول، د تندرېنې بريښنا د ځلا په شان به د خپلې پوهې او حکمت روڼاوې «ور وستلې – ژ»، کټ مټ د حقيقت د نيروانا د ښوونو انګبينې اوبـهٔ به ئـې ووَرّولې – او په دې ډول به ئـې ټوله ترې نړۍ خړوبه کړله.

---

[1] - دا ټل هماغسې چې په درو واړو پيټکه ګانو ويل شوي په بودايي ويدا ګانو کې هم د عالم په توګې شرحه شوی دی. ليکوال

[2] - پټي سمبهيداګاني Patisambhidâs وګورئ زما يادښت په ۲۹ پاڼې کې. ليکوال

[3]- پارَمي – پټو Pârami-ppatto دا ددغـهٔ وييکي غير عادي کارونه ده چې لاندې په ۳۶ پاڼې کې هم راغلي ده او په معنی کې ئـې کوم شک نـــهٔ شته. ترنکنر ئـې «تر بل هر چا ډېـر ښـــهٔ» ژباړلې. ليکوال

[4]- دهمه – يوپم Dhamma-yûpam، دا په حقيقت کې د سپېڅلي سرښندنې مقام ته يوه کنايه ده چې د برهمنانو په مذهبي تشريفاتو کې ستره ونډه لري. ليکوال

۴۱- بیا نو ښاغلي ناګه سینا د سنکهیا په ګوتځي کي د ورونو له بي شمــېــرې ډلي سره ژوند کاوهٔ[1]. له همدې ده چي ویل شوي :

(حکیم وو، د پراخ فصاحت خاوند، ځیرک او هوښمند او زړور وو
د نظریاتو استاد، شارح او مفسر وو
ورونه- چي په خپله په سپېڅلو لیکنو کي پوهان ول
د پینځه استوي سپېڅلي کلام[2] تکرارونکي
ناګه سینا ئـي د خپل لارښود او شیخ په توګې وټاکهٔ
دی، ناګه سینا، پاک ذهنی او د ژور حکمت خاوند وو
دی وو چي د حقیقت په لارې خبر وو، دی وو چي ورته غلطه
لاره روښانــه وه، او دی وو چي په خپله په نیروانا کي لوړ هوسا
ځای ته تللی وو!

حقیقت پالو حکماوو بدرګه کړ
له یوهٔ ښاره بل ښار ته لاړ او بیا
ساګلي ته راغی؛ دلته نو اوس د سنکهیا په ګلګڅ کي استوګن شو
د غرنیو زمریانو په منځ کي به راڅرګند شو)

۴۲- او دیوا منتیا[3]، پاچا میلیندا ته وویل :( څو شیبې صبر وکړه، لویه پاچا، څو شیبې صبر وکړه! دلته یو شیخ دی چي ناګه سینا نومېږي، عالم دی، د وړتیا څښتن دی، په چلند کي متواضع دی، له دې سره سره ډېر زړّور دی، په عقایدو کي شاعر دی، د ژبې استاد دی، او ځوابونو ته چمتو دی، هماغومره چي په ارتحال خبر دی په هماغه اندازه د قانون په کلماتو پوهٔ دی، ستونزې ئـي تفسیرولی سي او مخالف استدلالونـه د کمال تر درجي پورې تکذیبولی شي[4]. دی اوس د سنکهیا په ګوتځي کي استوګن دی. اې لویه پاچا! تاسو باید هغـهٔ ته ورشئ او خپلي پوښتني ورڅخه وکړئ. هغه د شیانو په هکله د وراشي وړتیا لري او ستاسو شک او ګومان لـېرې کولی شي.)

---

[1]- دلته په تحت اللفظي معنی اتیا زره ورونه ویل شوي: خو زما په اند ددې اصطلاح یوازینی معنی دا ده چي ووایي : د بې شمــېــرو (په ناڅرګندې شمــېــرې) ورونه ول. وګورئ د ناله پانه ګاتکه اصطلاح (فوَسبول شمــېــره ۲۰ Nâlapâna Gâtaka (Fausböll, No. 20). لیکوال

[2]- زما په اند دلته ښایي له پینځــهٔ استوي سپېڅلي کلام څخه موخه د ویدي سندرو سامه ویدا Sâma Veda سمبولیزم ته نغوته وي چې : هینکاره Hinkâra ځمکه ده، پَرَستاوه Parastâva اور، اودګیتا Udgîta آسمان، پرتیهاره Partihâra لمر او نیدهنه Nidhâna جنت وي- ژباړونکی

[3] - Devamantiya

[4]- وګورئ، پورته، ۳۴ پانه، ۳ یادښت - لیکوال

کله چې پاچا میلینډا ته ناګه سینا په ناڅاپه په دې ډول ور وپېژندل شو، نو د پاچا په ځان کې وېره خپره شوله، لېوالتیا ئـې وغوړېده او د ځان ویښتان ئـې له سره تر پایه نېـغ ودرېدل[1]. بیا ئـې له دیوامنتیا څخه وپوښتل : «ربښتیا همداسې ده؟»

او دیوامنتیا ځواب ورکړ: « صاحبه! هغه د نړۍ له ساتندویانو سره د شیانو په هکله د وراشې وړتیا لري – له ایندرا[2] سره، له یما[3] سره، له وَرونا[4] سره، له کویرا[5] سره، له پرَګاپتي/ پرَجاپتي[6] سره، له سویامه[7] سره [۲۳] او سنتوشیتا[8] سره – او په خپله له ستر برهمن سره چې د انسانانو نیکـهٔ دی، تر دې پورته بله وړتیا به یوازې له انسان سره وي؟»

پاچا وویل :«دیوا منتیا! چې داسې ده نو ورته یو پیام ولـېږه چې زه در روان یم»

او «دیوا منتیا – ژ» همداسې وکړل. او ناګه سینا بـېرته «ځواب –ژ» ولـېږهٔ چې کولی شي راسي. او پاچا چې پینځه سوه یوناکه ګان ورسره بدرګه ول په خپلې سلطنتی بګۍ کې کښـېناست او له خپلو بدرګه کسانو سره د سنکیها د ګوتځې پر لور روان شو، دا نو هغه ځای وو چې ناګه سینا په کې استوګن وو.

۴۳- په دې وخت کې ناګه سینا د قانون له بې شمــېــرو ورونو سره د ګوتځې[1] مخې ته په پراخ مخ خلاصې دالان کې ناست وو، پاچا له لـېرې ددوی ټولنـه ولیدله او دیوا منتیا ته ئـې وویل : دا ستر خلک څوک دي؟

---

[1]- د ناګه سینا نوم په خپله چې د ناګه Nâga له ګډولې څخه جوړ شوی د مارانو د شیخ په معنی دی. دا نوم په خپله زښت ویروونکی دی په ځانګړې توګې د مارانو داسې شیخ یا ناګس چې له مافوق الطبیعه جهانه وي. خو په دې کې شک نه شته چې له دې اصطلاح څخه موخه دا ده چې ووایي پاچا د ناګه سینا نومیالیتوب اورېدلی وو. لیکوال

[2] - ایندرا : په ویدا کې د شـَکره Śakra په نامــهٔ هم یاد شوی چې د دیوا ګانو یا نیمه رب النوعو او د سوَرګه لوکه Svargaloka یا جنت شیخ دی. ایندرا د تالندې او بریښنا رب النوعه دی چې پر سپین فیل ناست دی او د تندرونو غونډاري غورځوي. ایندرا یو غبرګولی ورور هم لري اګني، په یو شمــېــر روایاتو کې د ادیتي زوی ویل شوی او نوم ئــې ادیتا یاد شوی دی. ایندرا ډېـر نومونه او القاب لري. په لرغونو اروپایي عقایدو کې هم د ایندرا په شان د تندر ارباب الانواع شته لکه تور thor، زئـوس،پـیرن او یا د شرابونو رب النوعه دیانـسس. ویدي ایندرا د زرتشتي دین د اوستا له ورتغنه یا ورثغنه Verethragna سره هممعنی ده چې په اوسنۍ فارسي کې ئــې بهرام کړی دی او په اوستا کې د بریا بخښوونکی رب النوعه په نامـهٔ یاد شوی دی او د ویدي له ورترهن سره هم معنی دی. ژباړونکی

[3]- یما، یمه، په سانسکریت کې د یمه او یمراج په بڼې دواړو راغلی دی او د مرګ رب النوعه دی. په سانسکریت کې د یما یا یمه نوم د غبرګولي په معنی هم تفسیر کېـدی شي. په ویشنو پورانا کې ویل شوي چې یما د لمر د رب النوعه سوریا زوی دی چې له ملکې سنجَنا څخه زېږېـدلی او د اوشا لور ده. ورور ئـې منو او مشره خور ئــې یمی نومـېږي. پوهاند ولسن وایي چې د یما نوم د یمونا د سیند له نامــهٔ څخه راغلی چې اوس ئـې د جمنا سیند بولي. په ویدا کې یما د نه مړهٔ کېـدونکو ارباب الانواعو په منځ کې یوازینی رب النوعه دی چې مړ شوی دی. په بودیزم کې یما د دهرم پاله یا د خښم د رب النوعه په نامـهٔ یاد شوی دی چې د مړهٔ قضاوت کوي او په دوزخ کې استوګن دی. ژباړونکی

[4]- ورونه Varuṇa वरुण په ویدا کې د اوبو او کهکشاني سمندر، د قانون او تر اوبو لاندې نړۍ رب النوعه دی. ژباړونکی

[5]- کویرا : कुबेر ،Kuvera ، د پانګې او شتمنی رب النوعه- ژباړونکی

[6]- پرَګاپتي/ پرَجاپتي : प्रजापति ،Pragâpati یا prajā-pati : په هندویزم کې د مخلوقاتو رب النوعه – ژباړونکی

[7]- سویامه :Suyamana یو له اتو برهمنانو څخه وو چې د بودایي عقایدو پر بنسټ د بودا د زېږون پر مهال ورسره مشوره وشوه او د بودا د راتلونکې وړاند وینه ئـې وکړه. ژباړونکی

[8] - Santushita

«دیوا منتیا – ژ» ځواب ورکړ :« دا هغه کسان دي چې د ښاغلي ناګه سینا پیروي کوي»

دې ته په کتنې سره د میلینډا په زړهٔ کې ویره او اندیښنـه خپره شوه او د ځان ویښتان ئـې نـېغ ودرېـدل[2]. له دې سره سره بیا ئـې دونې د ویرې احساس وکړ لکه چې یو کرګدن فیلانو را ایسار کړی وي، داسې وېـره لکه چې ابلیسي فلکي مار چې د ګَـروداګانو را ایسار کړی وي. (ګـرودا[3] – مار خوړونـکي افسانوي مرغۍ)، لکه سورلنډی / شغال چې ښامارانو[4] ایسار کړی وي، یا ایـږ / خرس چې بفلوګانو را ایسار کړی وي، یا لکه چونګښه چې مار پسې اخیسـتي وي، یا غرڅـهٔ چې پړانګ پسې اخیستي وي، یا لکه مار چې د مارانو د ګوډګر په منتر کې بې دمه شوی وي، یا لکه موږک چې د پېـشو په خپړو کې راایسار وي یا لکه سپوږمۍ چې راهو[5] را ایساره کړې وي، کټ مټ لکه مار چې په ټوکړۍ کې بندي وي یا لکه په قفس کې بنده مرغۍ، یا لکه کب چې په ځال کې نښتی وي، یا لکه داسې یوهٔ سړي چې په ځنګلـهٔ کې ئـې لاره ورکه کړې وي او وحشي ژویو پسې اخیستی وي، یا لکه یکها «سړي خور[6]» چې د ویسه وَنـه[1] (د سړي خورو او ښاپیریو پاچا) پر ضد ئـې

---

[1]- مندله ماله Mandala-mâla : یو ډول دالان دی چې یوازې چت لري، پر ستنو ولاړ دی چې د دوه یا درو فیټو په لوړوالي د یوهٔ لنډ دیوال په مرستې نښلول شوی دی. د دالان چت د ستنو له سرونو لږ وړاندې غځـېـدلی او په دې ډول دالان ته د ډېـر سیوري ځای ورکوي. دا په پرانیستې هوا کې د میلمنو د ناستی ځای ته ورته ځای دی چې په ډېـریو ګوټځایونو کې لیدل کـېـږي، کـېـدی شي دومره وړوکی وي لکه د خسو او خځلو د څپرۍ په شان چې د یوهٔ تن لپاره ځای ولري او یا په سختۍ په کې کښـېـنئ او یا دومره لوی وي چې د ډېـرو کسانو لپاره د ناستې ځای ولري. ډېـری وختونه دا دالان له لرګیو او ځینې وختونه له ډبرو جوړ وي چې د ناستې لپاره خوندور ځای دی. دا د سامـَنـه فله په هکله په D. II, 10 کې په یوهٔ نقل قول کې ویل شوی دی . لیکوال

[2]- د لیکوال یادښت : دا هم هماغه شان په اتمې پاڼې کې په یوهٔ روایت کې د سامڼه فله د انعکاس په هکله راغلی دی. وګورئ :

(See D. 2, 10 of our forth coming edition, or p. 116 of Grimblot.)

[3] - ګرودا Garuda : په سانسکریت کې په همدغـهٔ نامـهٔ ګرودا गारुड़ یادېـږي چې مارغـهٔ ته ورته یو ژوی دی او د هندوانو او بودایانو په میتالوژیو کې ډېـر یاد شوی دی. په یوناني میتالوژۍ کې دې مارغـهٔ ته ورته موږ فینکس یا سیمرغ، عنقا او هما لرو. په هندویزم کې ویشنو تل پر دغـهٔ مارغـهٔ باندې سپور وي. ګرودا د مارانو یا ناګ لوی دښمن دی. دا مارغـهٔ په پالي کې د ګارولا په نامـهٔ یاد شوی دی. ژباونکی

[4]- boa-constrictors دلته لیکوال ښامار نـهٔ دی یاد کړی بلکه همدا وییکی ئـې یاد کړی دی دا ماران د Boa د کورنۍ د مارانو له ډلې څخه دی چې په عربي کې ئـې أصلـة او په فارسي کې ئـې اژدرمار معنی کړی دی. دا ډېـر لوی او په وزن درانده ماران دي چې له لرغونو وختونو تر اوسه نسلونه ئـې ژوندي دي. یوه بیلګه ئـې پیتان ماران دي چې لوی لوی ژوي هم له ستوني تیرولی شي - ژباړونکی

[5]- راهو Râhu : په هندوییزم کې راهو د یوې آسورې asura سر دی چې د خسوف یا کسوف په رامنځته کولو یا لمر ښوري یا سپوږمۍ. په مجمسو کې د بت ډول بدن نـهٔ لري یوازې سر ئـې ښودل کـېـږي چې په یوې بګۍ کې ناست او اتـهٔ آسونه ئـې کشوي. په هندویزم کې آسوره د خیر غوښتونکو دیواګانو په پرتلې ځواک لټوونکي خدایګوټي دي. په اوستا، ویدي سندرو او مهابهارتا کې یاد شوي دي. ژباړونکی

[6]- Yakkha (ogre) : انسان ته ورته لویه بلا چې انسانان خوري، دا یو افسانوي نوم دی چې په پښتو فولکلور کې ئـې سړي خورو دیب ته ورته یو موجود وبولو – ژباړونکی

گناه کړي وي او يا داسي په مرگ محتوم يوۀ رب النوعه ته ورته چي ژوند ئـي پای ته نـېږدي شوی وي – سره له دې چي ترهوره، بېـرېـدلی، اندېښمن او تر ځنگ ئـي دی په خپله د وېـرې په ځنکدن او دۀ ته ورته حالت کي ډوب وو- بيا ئـي هم له ځان سره وويل د دوني ډېـرو خلکو په مخکي بايد له سپکاوي څخه ډډه وکړم، ځان ئـي زړۀ ور ونيو او ديوا منتيا ته ئـي وويل :« تـۀ ځان ته زحمت مـۀ ورکوه [۲۴] چي راوښيي کوم يو ئـي ناگه سينا دی. زه به ستا له مرستي پرته ورته گوته ونيسم چي کوم ددوی ناگه سينا دی.»

ديوا منتيا ځواب ورکړ[2] :( ډاډه اوسه ښاغلی اعليحضرت)

۴۴-اوس نو ناگه سينا چي په ځوانی کي ئـي د مشرتابـۀ دريځ ترلاسه کړی وو، (له هغې ورځي نيولي چي دۀ د قانون بشپړ غړيتوب تر لاسه کړی وو) نيمايي ناست خلک به چي په خپل مقام کي ټيټ رتبه ول ددۀ تر شا او نيمايي نور لوړ پوړي ددۀ مخي ته کښـــېــنستل. کله چي پاچا د ټولو ناستو خلکو مخامخ، وروسته، شا او منځ ته وکتل نو پاچا ميلينډا پوۀ شو چي ناگه سينا د خلکو په منځ کي ناست دی، کټ مټ لکه ببر زمری چي خښم او ويره نـۀ پـېـژني، عصبي اضطراب ورسره نـۀ شته، بې زړۀ توب او گبنی نـۀ پـېـژني. کله چي ئـي وليد نو هغه ئـي له څـېـرې وپـېـژاندۀ او ديوا منتيا ته ئـي ورووښود.

ديوا منتيا په ځواب کي وويل : «هو لويه پاچا!، تاسو دغه عالم / حکيم وپـېـژاندۀ»

په پای کي پاچا په دې خوښ وو چي ناگه سينا ئـي د بل چا له مرستي پرته په خپله وپـېـژاندۀ. خو له دې سره سره پاچا، ناگه سينا ته په کتلو، په عصبي اضطراب، ترهي او وېـرې کي راگير شو. له همدې کبله ويل شوي چي :

ناگه سينا تـه پـه کتني چي عالم او سپـېـڅلي ښکارېـدۀ،
مطيع او په بشپړ اطاعت ولاړ
ميلينډا دغه له شگونـه ډک کلام ووايـۀ :
« اې زما د زړۀ پياوړي کوونکيه! له ډېـرو سره مي چي ليدلي
او له ډېـرو سره مي چي خبري کړې،
له ډېـرو سره مي چي وراشي کړي دي،
خو هـېـڅکله مي،
لا تر اوسه،

---

[1] -Vessavana : په سانسکريت کي ويشتر ونـه Vaiśravaṇa वैश्रवण او په پالي کي ئـي ويسه ونـه Vessavaṇa ويلی دی چي په بوديزم کي د جنت له څلورو پاچاهانو څخه يو پاچا دی - ژباړونکی

[2] - سمنه فله گيوّکه Sâmańńa Phala Gîvaka په خپل اړوند نقل قول کي بودا ته په اگاته سـَـتـو Agâtasattu کي نغوته کوي.(§ II, Grimblot, p. 117). دا بايد د ليکوال ټولو لوستونکو ته ور په ياد وي چي ليکوال په دې هکله قصه ددې لپاره بدلوي ترڅو څرگنده کړي چي په زاړۀ ديالوگ کي والا مقامی ميلينډا د سلطنتي (هم کلام/ ځواب ورکوونکي) پر وړاندې څنگه وو. ليکوال

تر همدا نن پورې داسې يوه وېــره، عجيبه وېــره، وحشتناکه وېــره نـــۀ
ده ليدلې»
دلته ده چې د دنيوي «غير روحاني/ سکيولر» شرحه پای ته رسېږي.
(باهـيـره – کـتـها)[1]

---

[1] - Bâhira-kathâ : وګورئ يادښت په لومړی پاڼې کې. دا کتاب د (هيناتي کمبوري) په سيمهالي بڼې کې ( Hinati-kumburê’s Simhalese version) په (پوروا يوګا يائــې 'Pûrwa Yoga yayi) پای ته رسېږي؛ او څرګنده ده چې له (پوبه يوګا) سره ورته والی لري چې پورته په څلورمې پاڼې کې د کتاب په لومړي څپرکي ورته نغوته شوې ده. - ليکوال

# دوهم کتاب

# لکهانا پـڼـها[1]

# د اخلاقي خصوصیاتو بېلوونکي ځانګړتیاوې

# لومړی څپرکی

[۲۵]- اوس نو پاچا میلینډا هغـهٔ ځای ته لاړ چې ښاغلی ناګه سینا ناست وو، هغـهٔ ته ئـې سلام، تعارف او د ملګرتیابـهٔ ادب وړاندې کړ او په درنښت ورڅخه لېرې کښېناست. ناګه سینا ورته متقابل ادب وړاندې کړ او په دې سره د پاچا زړهٔ تسکین سو.

او میلینډا خپلې پوښتنې پـېل کړې؛ د «ستاسو درانده او ښاغلي پېژندګلوي څنګه ده[2] او صاحبه! ستاسو نوم څه دی؟»

اې پاچا! زه د ناګه سینا په نامـهٔ پېژندل کېږم او دیني ورونه په همدغـهٔ نامـهٔ راته خطاب کوي. اې پاچا! که څه هم مور او پلار مې راته د ناګه سینا، یا سوراسینا[3]، یا ویره سینا[1] یا سیها سینا[2]، نومونه یادوي بیا هم صاحبه ناګه سینا او دې ته ورته

---

[1] LAKKHANA PAŇHA

په پالې کې لکهنا، سبها ودي پکه sabhāvadīpaka، پکاتیاګتا pakatiyāgata د ځانګړنو یا کرکترستیک، کیفیت او نښې په معنی راغلي دي. او پڼها د تحقیق، پلټنې او پوښتنې په معنی راغلي دي. همدا شان سمسایه saṃsaya، سندیها sandeha، وادا ویسایا vādavisaya، پوچا pucchā، پو چتي pucchati، انویوني جتي ، پوټا puṭṭha او انویوټا . anuyutta د پوښتنې په معنی راغلی دي. ژباړونکی

[2]- د سپنس هاردي Spence Hardy په Manual of Buddhism,' pp. 424-429 کې د ځلورمې پانې تر پایه پورې د راتلونکو دیالوګونو د سیمهالي ژبې آزاده ژباړه ده، خو د سیمهالي او یا پالي ژبې په بیا پنځونې کې دا ژباړه زښته ډېره شکمنه ده او شکمن نقل قولونه په پام کې نـهٔ نیسي، لیکوال

[3] ـ Sûrasena : په سانسکریت کې शूरसेन لیکل شوی نوم دی او د هندوستان یوه لرغونې سیمه وه چې اوسمهال په هندوستان کې د اوترپرَدیش د برَج له سیمې سره سمون خوري. بودایي متون وایي چې لږ تر لږه په ۱۰۰۰م.ز کال کې دا نوم په رامایانا کې د جناناپدا د ایالت په هکله یاد شوی دی. هماغسې چې په اوستایي او ویدي سرودونو کې د آریایانو شپاړلس خدای ورکړې ځمکې یادې شوې چې څوارلس ئـې په معاصر افغانستان کې دي، په هند کې په اوومې مخزدېزې پـېړۍ کې سولاسه *solasa* یا شپاړلس مهاجناپدا یا سلطنتونه یاد شوي چې یو ئـې سورا سینا دی. لرغونو یوناني لیکوالانو دا نوم د سورا سیونی په نامـهٔ یاد کړی دی.

نومونه یوازې د پېژندلو او خاص نامـۀ لپاره په عام ډول کارَول کېږي. دا ځکه چې په جسمیت او مادې کې هېڅکله دایمي فردیت «روح» نـــۀ دی نغښتی.[3]

ورپسې میلیندا په یوناکه ګانو او دیني ورونو غږ وکړ چې ددې شاهد اوسي چې :« دا ناګه سینا وایي چې ددۀ په نامـۀ دایمې فردیت «روح» نـــۀ شته. آیا ددې امکان شته چې ددۀ خبره ومنو.» بیا ئـې مخ ناګه سینا ته واړاوۀ او وئـې ویل : «ښاغلی ناګه سینا! که په مادې یا جسمیت کې دایمي انفرادیت (روح) نـۀ وي نوا دا څوک دي چې دعا کوي، څوک دي چې د قانون غړو ته جامې او ډوډۍ، د استوګنې ځای او ناورغ ته د اړتیا وړ شیان ورکوي؟ نو که داسې چا ته داسې شیان ورکړل شي دا څوک دی او څوک ورڅخه خوښېږي؟ هغه څوک چې په نېکۍ او عدل کې ژوند کوي، څوک دی؟ هغه څوک، څوک دی چې ځان فکري عبادت ته وقفوي؟ هغه څوک دی چې د عالي لارې موخه ترلاسه کوي او ځان د ارهټوب نیروانا ته رسوي؟ هغه څوک، څوک دی چې ژوندي موجودات له منځه وړي؟ دا څوک دی چې هغه شی اخلي چې ددۀ نـــۀ وي؟ هغه څوک، څوک دی چې په شریر ژوند کې په دنیوي شهواتو ژوند کوي، درواغ وایي، دراندۀ څښاک څښي، (که ئـې په لنډیز ووایم) هر هغه څوک چې پینځـۀ ګناهانې تر سره کوي چې ان په دې ژوندانـۀ کې ئـې د هلوځلو ترخې میوې دي[4]؟ که داسې وي نو نـۀ د نېکۍ سزا شته او نــــۀ د بدۍ؛ نـۀ د ښــۀ چارچلند فاعل شته او نـۀ د بدو او شریرو اعمالو فاعل[5]؛ نـۀ به د ښو اعمالو میوه وي او نـۀ به د بدۍ کرما[6]. [۲۶] – ډېره ښاغلیه ناګه سینا، داسې وانګېرئ چې یو سړی به تا ووژني، «نو ستا د وژلو په صورت کې خو ــ ژ» قتل نــــۀ دی رامنځته شوی[7]، ورپسې نو دا پوښتنـه رامنځته کېږي چې ستاسو په دین کې خو نـۀ

---

که څه هم دلته د سوراسینا نوم ناګه سینا ځان ته د شخص د نامـۀ لپاره کارولی خو کېـدی شي دا ومنو چې خلکو په هغه مهال کې دا نوم هم د خاص او هم د عام نامـۀ په توګې کاراوۀ. ژباړونکی

[1] - Vîrasena

[2] - Sîhasena

[3] -Na puggalo upalabbhati : دا فرضیه چې " فردیت شتون نـۀ لري" د کتها وتهو Kathâ Vatthu (leaf ka of my MS.) په پېلـنیزې برخې کې تر شننې لاندې نیول شوی ده. خو که په معاصرو فلسفي مصطلحاتو کې ئـې واچوو دا به له دې سره برابر وي چې ووایو داسې دایمي تابع نـــۀ شته چې د یوې څرګندې لنډمهالې نښرغاندې یا پدیدې په توګې د یوۀ انسان په انفرادیت کې پروت وي. خو زه په دې کې شک لرم چې زموږ د لرغونو مهالونو لیکوال پر مهال دې د «تابع» د القاح او تصور خبره عام شوې وي او یا د پوګله puggala لغت دې هماغه ځانګړې القاح یا تصور تر لاسه کړی وي.- لیکوال

[4] Pańkânantariya-kamman karoti. See my note on.Kullavagga VII, 3, 9 ('Vinaya Texts,' vol. iii, p. 246, in the Sacred Books of the East). لیکوال

[5] - په دې کې هېڅ شک نـۀ شته چې دا خبره سامنه فلې (Sâmańńa Phala (D. II, 17 ته په نغوتې یا اشارې هغې نظریې کې ویل شوې چې پورانا کسه په Pûrana Kassapa کې ورته نسبت ورکړل شوی دی- لیکوال

[6] - دا خبره په سامنه فله کې (Sâmańńa Phala (D. II, 23 کښ مټ په همدغو ټکیو د ویښتانو د پوښښ اجیتا Agita ته نسبت ورکړل شوی دی. لیکوال

[7]- دا په ځانګړي ډول هماغه باور او نظر دی چې سامنه فله (Sâmańńa Phala (D. II, 26 پکهودا ککیانه ته نسبت ورکړی دی. لیکوال

استاد شته او نـهٔ ښوونکی او ستا سنخیت[1] خو دلته باطلېږي. تاسو راته وایاست چې ستاسو دیني ورونه تاسو د ناګه سینا په نامـهٔ یادوي. اوس نو راته ووایاست چې دا ناګه سینا ئـي څه شي وي؟ آیا ستا موخه دا ده چې ویښتان مو د ناګه سینا په نامـهٔ یادیږي ؟

«لویه پاچا!، زه داسي نـهٔ وایم»

« یا هم د ځان وېښتان»

«په دابه زړهٔ وایم چې نــه»

(یا د لاس نوکان، یا غاښونــه، یا پوستکی، یا جسمانیت، اعصاب، هډوکي، د هډوکو مغز، پښتورګي، زړهٔ، ځیګر، خیټه، تورَی «طحال»، لړمون، غټي کولمي، وړې کولمي، نس، مخونه، تریخی «صفرا»، خراشکی یا بلغم، زوه «چرک»، وینـه، خوَله، وازده، اوښکه، وینوب «خوناب»، د خولي لاړې، ګړنګ، غوړ چې مفاصل غوړوي، بولي «متیازې»، یا مغز یا یو له دغو یا ټول دي د ناګه سینا په نامـهٔ یاد شي؟[2])

او هر یوهٔ ته ئـي د نـه ځواب ورکړ.

(آیا ظاهري بڼه یا «روپه[3]» د ناګه سینا په نامــهٔ ده، یا احساسات «وِدَنا[4]» یا فکر «سـَنـا[5]» یا معجون (د یوهٔ کرکتر جوړونکي عناصر، «سَمخارا[6]»)، خبرتیا «ویڼانــه[7]» د ناګه سینا په نامـــهٔ یادېـږي؟[1])

---

[1] - سنخیت یا انتصاب: چې په انګلیسي کي ordination ویل شوی په پالي کي ورته «سنګ هه *saṅgha* सङ्घ » او په سانسکریت کي ورته سمګهه संघ وایي. موږ په افغانستان کي یو شمـــېـــر سیمي لرو چې نومونه ئـي یا په سنګ پیل شوي یا پای ته رسېـدلي لکه په لوګر کي کټه سنګ. زما په باور یو شمـــېـــر دغسي نومونه د پالي له سنګهه سره تړاو لري او موخه ئـي ټولنه، ډله، سنخیت او پلاوی دی. دا د بودایي دین د هغو راهبانو او رواهبو او عادي خلکو ټولګه ده چې ځانونه ئـي دین ته د چوپړ لپاره وقف کړي دي. په ټولیز ډول دا ټولنه هغو کسانو ته ویل کـېـږي چې روښنایي یا بوداییت ته رسـېـدلي وي. یعني په دین کي یوې درجي ته رسېـدلي وي – ژباړونکی

[2] ـ د انسان د بدن د غړو دا دوه دېرش نومونه چې د آکاره ګانو âkâras په نامـهٔ یادېـږي مخکي له مخکي د خوداکه پاتهه Khuddaka Pâtha په دریمي پاڼي کي یاد شوي دي. دا یو معیاري لیست دی چې تل په ورته حالاتو کي کارَول شوی دی؛ او شک نـهٔ شته چې ددهٔ لیست لرې به اوږده وي. د دیپا وسمه Dîpavamsa I, 42 شپاړلس یعنی د آکاره ګانو نیمایي د ذهن په تړاو شتون لري. لیکوال

[3] -Rûpa : په هندوییزم او بودیزم دواړو کي روپه هر هغهٔ شي ته ویل کـېـږي چې مادي جمسیت او شکل په ځانګړې ډول یوه بڼه ولري چې رنګ، جوړښت او نوري ټولي نښي په ځان کي رانغاړي. ژباړونکی

[4] - Vedanâ

[5] - Sańńâ

[6] - Samkhârâ

[7] - Vińńâna

او ددغو ټولو هر يوۀ ته ئـې د نه ځواب ورکړ.

چې داسې نـۀ ده نو دا ټول يادشوي سکندهه ګان په ګډه ناګه سينا دي؟
«نـــه لويه پاچا»

چې داسې نـۀ ده نو آيا له پينځو سکندهه ګانو دباندې داسې څه شته چې ناګه سينا وي؟
بيا ئـې هم د نـه ځواب ورکړ.

«نو هر څه چې زه پوښتم، نـۀ شم کولی ناګه سينا ومومم. ناګه سينا يو منځتشی غږ دی. چې داسې ده نو دا ناګه سينا چې زموږ مخې ته ناست دی څوک دی؟ تاسو ښاغلي چې څه واياست کذب دي، او حقيقت نـۀ لري!»

او ښاغلي ناګه سينا، پاچا ميليندا ته وويل :« صاحبه! تاسو دلته په ډېـرې دبدبې راوستل شوئ، او له دې ستاسو لوړ اصل اونسب ښکاري. که تاسو په دې وچې هوا کې د ځمکې پرمخ د تودو شګو پرمخ په پښو راغلي واست او د کلکو ډبرو سختې شګې مو تر پښو لاندې کړې وَې نو ستاسو پښو هرمرو درد کاوۀ. ځان به مو په خوږ اخته شوی وو، فکر به مو ګډوډ شوی وو، او بيا به مو جسمي کړاو احساس کړی وو. تاسو څنګه راغلاست، په پښو که بګۍ کې؟»

« صاحبه زه په پښو نـۀ يم راغلی، زه په [٢٧] بګۍ کې راغلی يم.»

«ښه نو صاحبه تاسو چې په بګۍ کې راغلي ياست، راته ووايه چې دا «بګۍ ـژ» څه شی دی؟ آيا بګې کومه ستنـه ده؟»

«ما داسې نـۀ دي ويلي»

«نو دا د عرابې ميله ده چې نوم ئـې بګۍ وي؟»

«څرګنده ده چې نـه»

«نو آيا دا څرخونه / عرابي، چوکاټ، رسی، واګې، د عرابې پَرې يا چوکه ده چې نوم ئـې بګۍ وي؟»

او ټولو ته ئـې د نه ځواب ورکړ.

«چې داسې نــــۀ ده نو دا ټولې اجزاوې د بګۍ په نامـۀ ياديږي؟»

---

[1] - دا پينځه سکندهه ګان Skandhas دي چې د هر ژوندي موجود جسمي او ذهني جوړونکي عناصر په ځان کې رانغاړي. وګورئ اتيايمه پاڼه – ليکوال

«نـه صاحبه»

«نو آیا ددغو شیانو له نومونو دباندې داسې څه شته چې نوم ئـې بګۍ وي؟»

او ددغو ټولو هر یوه ته ئـې د نـه ځواب ورکړ.

که داسې وي چې ما پوښتنې وکړې نو زه خو بګۍ نـــهٔ سم موندلی. بګۍ یوازې یو منځتشی غږ دی. نو دا بګۍ چې تاسو په کښې راغلاست چـېرې ده؟ دا هم یو کذب دی چې تاسو علیاحضرت ئـې په هکله خبرې وکړې او حقیقت نـهٔ لري! د بګۍ په نامهٔ داسې شی نـهٔ شته! ستاسو سلطنت پر ټول هندوستان باندې خپور دی، یو ستر پاچا یاست. تاسو نو له چا ډارېـږئ چې حقیقت نـهٔ وایاست؟ بیا ئـې پر یوناګه ګانو او دیني ورونو غږ وکړ او وئـې ویل تاسو ټول شاهد اوسئ :« پاچا میلیندا اوس وویل چې په بګۍ کې راغلی دی. خو کله چې په دې هکله ورڅخه پوښتنـه وشوه چې ووایي بګۍ څه شي ده، هغه څه ئـې په یقین ئـې اثبات نـهٔ شوی کړی چې وئـې ویل. آیا په تحقیق، دا شوني ده چې په دې هکله ددوی خبره ومنم؟»

کله چې داسې خبرې ئـې وکړې نو پینځو سوو یوناکه ګانو لاسونـه وپړقول او پاچا ته ئـې وویل :« اوس نو ښاغلی اعلیحضرت ځان ترې خلاص کړي که کولی شي؟»

او پاچا میلیندا، ناګه سینا ته په ځواب کې وویل :« ښاغلی صاحبه! ما کوم څه نـــهٔ دي ویلي چې غیر حقیقي وي. دا خو هغه عمومي شیان دي چې یوه بګۍ جوړوي لکه : ستنـه، اکسل، څرخونــه، چوکاټ، رسۍ، واګې، پَرې او چوکه- دا خو هغه مصطلحات دي چې عموماً په خبرو کې د پوهـېدا وړ او د پوهونې لپاره دي او هغه نومونـه دي چې د یوې بګۍ لپاره کارَول کـېږي.»

«ډېـر ښـهٔ! ښاغلی اعلیحضرت په سمه د بګۍ پر معنی پوه دی». نو چې داسې ده، تاسو خو هم له ما د همدغو شیانو په هکله همداسې پوښتنې وکړې – [۲۸] د انساني بدن د جوړښت دوه دېرش ارګانیک مواد، د ژوندیو موجوداتو پینځه جوړونکي عناصر- ما هم په عامو اصطلاحاتو هغه څه وویل چې د "ناګه سینا" د پـېژند نښې لپاره کارَول کـېږي. له همدې کبله زموږ خور وګیرا[1] د هغــهٔ مبارک په حضور کې ویلي چې :

«مخکې له دې چې د بګۍ لغت و ینځول شي لومړی د بګي جوړونکي توکي جوړل شوي دي، نو همداسې د موجوداتو په هکله زما او ستا خبرې هم دي[2] چې د هغوی له خلقته مخکې سکندهه ګان[3] پنځول شوي دي»

---

[1] - Sistr Vagirâ

[2]- له سمي یوټا نیکایا څخه .Samyutta Nikâya-V, 10, 6 لیکوال

[3] - Skandhas په سانسکریت کې سکندهـه راغلي او په پالي کې کهندهه ګان khandhas چې د بودیزم د ګروهنې پر بنسټ د موجوداتو د پنځولو پینځه جوړونکي عناصر دي او دا پینځه واړه دا دي: ماده، احساس، ادراک، انګیزه یا فکر او هوښیاري – ژباړونکی

« ډېره په زړهٔ وه ناګه سینا، ډېره جالبه. دا معما چي تاسو ته وویل شوه، که څه هم ډېره پېچلي وه، خو حل شوه. که بودا په خپله هم دلته وَی، ستاسو ځواب به ئې منلی وَی. ډېر ښه ناګه سینا، ډېر ښه!»

---

۲- ناګه سینا! تـهٔ څو کاله مشرتوب «رُشدیت» لرې؟

«اووهٔ کاله، ښاغلی اعلیحضرت»

« څنګه تـاسو ویلی شئ چي دا ستاسو خپله «اووهٔ» دي؟ یا دا «اووهٔ» تاسو په خپله یاست او یا دا چي شمـېـره مو اووهٔ ده؟»

په دې شـېـبـي کي نو د پاچا د ځـېـرې سیوری پر ځمکي ښکاریدهٔ او د پاچا په ځان کي د شاهي ګانو او ګران بیعو ډېرو ځلا په یوهٔ لوښي کي د اوبو پر مخ انعکاس کاوهٔ. ناګه سینا ورته وویل :« اې پاچا! ستا سو د ځـېـرې سیورې پر ځمکي پروت دی او په اوبو کي ئـې انعکاس موندلی دی، اوس تاسو راتهووایاست چي تاسو پاچا یاست او یا د ځمکي پر مخ د پاچا د ځـېـرې انعکاس؟»

ناګه سینا! « زه پاچا یم، مګر پر ځمکي باندې سیوری زما د موجودیت او شتون له کبله رامنځته شوی دی.»

« نو چي داسي ده، اې پاچا! د کلونو شمـېـره اووهٔ ده، زه اووهٔ نـهٔ یم. اې پاچا! مګر د اوو د شمـېـرې موجودیت او شتون زما له کبله رامنځته شوی دی؛ او کټ مټ هماغسي چي ستاسو سیوری پر ځمکي باندې دی، د اوو شمـېـره هم زما ده.[1]»

« ډېره په زړهٔ وه ناګه سینا، ډېره جالبه. دا معما چي تاسو ته وویل شوه، که څه هم ډېره ستونزمنـه وه، خو حل شوه.»

---

۳- پاچا وویل :«دروند ښاغلیه! غواړئ له ما سره بیا وراشه وکړئ؟»

«که تاسو اعلیحضرت د یوهٔ عالم «پنډت» په توګې وراشه وکړئ نو ښه، خو که تاسو د یوهٔ پاچا په توګې وراشه وکړئ، ځواب نـه دی.»

«څنګه به وي چي د علماوو په توګې خبرې وکړو؟»

« کله چي علما له یو بل سره پر یوې سکالو/موضوع باندې خبرې کوي جاج اخیستل کـېـږي[2] او حل کـېـږي؛ یو بل په تېـروتنو[1] تورنوي، او بیا یو لوری خپله تېـروتنـه مني؛ [۲۹] توپیرونــه روښانوي او تشخیصوي[2] ئـې؛ او له دغو خبرو سره سره بیا هم پر یو بل باندې نـهٔ خښـمـېـږي. اې پاچا! پوهان په دې ډول وراشې کوي.»

---

[1]- هاردي Hardy د لومړي چاپ د ځلورم څپرکي په ۴۲۷ پاڼي کي په دې معمي کي تېـروتنه کړې ده. لیکوال

[2] - Âvethanam; not in Childers, but see Gâtaka II, 9; IV, 383, 384; and Morris in the 'Journal of the Pali Text Society,' 1887.

او پاچاهان څنګه وراشي کوي؟

ښاغلی اعلیحضرت! کله چې یو پاچا د کومې سکالو په هکله خبرې کوي نو خپله خبره پر مخ وړي، خو که څوک ورسره مخالفت ښکاره کړي نو پاچا وايي :« دهٔ ته دې دا او هاغه سزا ورکړل شي!» ښاغلی اعلیحضرت! پاچاهان دغسې وراشي کوي[3].

« ډېر ښـهٔ. زه به د يوهٔ عالم په توګي، نـهٔ د يوهٔ پاچا په توګي وراشه وکړم. تاسو ښاغلي ته به اجازه درکړم چې په آزاده توګي خبرې وکړې، داسې لکه چې له خپل ورور سره، يا له يوهٔ مبتدي سره، يا له يوهٔ هڅاند مريد او ان لکه يوهٔ نوکر سره چې خبرې کوئ. مـهٔ ډارېږه!»

ناګه سينا په مننې وويل : « ډېر ښـهٔ. ښاغلی اعليحضرت»

پاچا وويل : «ناګه سينا غواړم يوه پوښتنه وکړم»

وغواړه صاحبه، څه غواړئ وپوښتئ!

«دې ته لا وختي ځواب ورکړ شوی دی»

«څه شي ته مو ځواب ورکړی دی؟»

«ستاسو اعليحضرت موخه څه وه، څـه شي ته مو نغوته کوله؟»

خو ميليندا له ځان سره فکر وکړ چې :« دا مانک «بهيکو[4]» يو لوی عالم دی. دی له ما سره د وراشي وړتيا لري. زه بايد له ځان سره ډېرې پوښتني ولرم چې ورڅخه ئـې وپوښتم، خو که ټولې پوښتني ورڅخه وکړم نو لمر به کښېـني او ماښام به شي. ښه به دا وي چې ددې خبرو لړی سبا په کور کې ورسره راپېـل کړم.» او بيا ئـې ديوامنتريا ته وويل :« تاسو دغـهٔ ښاغلي ته ووایاست چې د وراشي لړی به سبا په مانۍ کې را پېـل شي». او د همدې په ويلو ئـې له ناګه سينا څخه رخصت واخيست او پر خپل آس سپور شو، او په خپلې لارې وخوځېد او تر شونډو لاندې ئـې له ځان سره «ناګه سينا، ناګه سينا» ويل.

---

1 - Niggâho kariyati, as for instance below, p. 142.

2 - Pativiseso; not in Childers, but see again Gâtaka II, 9.

3 - Hardy, loc. cit. § 5, puts all this into the mouths of 'the priests.'

4 - Bhikkhu i

او دیوا منتریا ئـي پیام ناگه سینا ته ورساوۀ او ناگه سینا په خوشالۍ ومانـۀ. او بله ورځ ئـي سهار وختي دیوا منتریا، انن تکایه او منکوره او سبادینـه[1] پاچا ته لاړل او وئـي ویل : «صاحبه! آیا ښاغلی ناګه سینا باید نن راشي؟»

«هو باید راشي»

«له څو تنو دیني ورونیو سره راتلی شي؟»

له هر څوني سره چې دی غواړي.

او سبادینـه وویل :" له لسو تنو سره دې راشي" خو پاچا هماغه څه وویل چې وئـي ویل. او پاچا د سبا دینه د ټینګار پر وړاندې بیا وویل : «ټوله تابیا دې ونیول شي، او زه وایم چې :« پرېږدئ له هومره کسانو سره چې راځي رادې شي.» خو له دې سره سره سبا دینــه بیا وویل :«نـه، له لسو تنو سره دې راشي».»

آیا ته ګومان کوې چې موږ دوني کسانو ته ډوډۍ نــۀ شو ورکولی؟"

په دې سره سبا دینــه و شرمېـد.

---

۴- او دیوا منتریا او انن تکیا او منکورا، ناګه سینا ته ورغلل او هغه څه ئـي ورته وویل چې پاچا ویلي ول. او ښاغلي ناګه سینا له څاښت مخکي خپلې جامې واغوستلې او خپل کجکول ئـي په لاس کي واخیست او د ورونیو د یوې ډلې په بدرګۍ د ساګلې پر لور وخوځـــېـد.

او انن تکایا چې د ناګه سینا تر څنګ روان وو، وویل :

ښاغلیه! کله چې زه ناګه سینا ووایم، دغه ناګه سینا ئـي څه شی وي؟

شیخ ورته ځواب ورکړ: ته څه فکر کوې چې ناګه سینا څه وي؟

زما په ګومان ناګه سینا هغه څه وي چې روح ولري او دننــه سا ئـي وځي او رواوځي.

خو که سا ووتله او بېرته رانغله او یا بېرته راغله او بیا ونـۀ وتله نو آیا دا سړی به ژوندی وي؟

«څرګنده ده [۳۱] چې نــه، صاحبه»

مګر هغه ترومپت وهونکی چې ترومپت وهي، آیا د ترومپت په وهلو ددوی ایستل شوې سا بیرته دوی ته راځي؟

---

[1] - Devamantiya and Anantakâya and Mankura and Sabbadinna

«نـه صاحبه، نـهٔ راځي.»

يا هغه باجه وهونكي كله چې باجه غږوي او يا هارن غږوي، آيا ددوی ايستل شوي سا بېرته دوی ته راګرځي؟

«نـه صاحبه»

دا په دې معنی ده چې دوی مرګ نـهٔ لري؟

«زه له داسې استدلال كوونكي سره د استدلال كول وړتيا نـهٔ لرم. صاحبه راته ووايـاست چې دا موضوعات څنګه دي!»

شيخ په ځواب كې وويل : سا يا نفس روح نـهٔ لري. د سا ايستل يا اخيستل دواړه يوازې د وجود د چوكاټ د ځواكونو جوړونكي برخې دي. او ورسره ئـي د ابهيدهما[1] له مخې تر هغه بريده خبرې وكړې چې انن تكايا په دين ايمان راووړ.

---

۵- او ښاغلی ناګه سينا پاچا ته لاړ. له پاچا لـېرې دهٔ ته پر جوړ شوي ځانګړي ځای كښېناست. او پاچا، ناګه سينا او د هغـهٔ ملګرو ته خوارهٔ برابر كړل، دواړه نرم او كلك خوراكي توكي، دوني چې ددوی اړتيا وه: او هر وروړ ته ئـي يوه يوه جوړه كالي وركړل او په خپله ناګه سينا ته ئـي درې جوړې پراخي جامې وركړې. او بيا ئـي ورته وويل :« خوښ به اوسم چې تاسو دلته كښېنئ او له تاسو سره دې لس تنـه ديني ورونه وي. پاتې نور دې لاړ شي.»

او كله ئـي چې وليدل چې ناګه سينا خپله ډوډئ خلاصه كړه، پاچا له لوړه ځايه راكوز شو او كښته د ناګه سينا تر څنګ كښېناست او وئـي ويل : « د څه شي په هكله وراشه وكړو؟»

« موږ غواړو حقيقت ته ورسېږو. راځه چې زموږ وراشه دې د حقيقت په هكله وي»

او پاچا وپوښتل : صاحبه ! (له نړئ څخه –ژ) ستاسو د قطع علاقې[2] موخه څه ده، او په موخه كې ستاسو خير مطلق[3] څه دی؟

ولې دا پوښتنـه كوئ؟ (له نړئ څخه –ژ) زموږ قطع علاقه تر پايه پورې دا ده چې دا كړاو له منځه لاړ شي او نور دې كړاو رامنځته نـهٔ شي؛ زموږ تر ټولو لوړه موخه دا ده چې دا كړاو پر نړئ باندې له زړهٔ ټړلو پرته پای ته ورسېږي.

اوس څنګه صاحبه! آيا د قانون ټول غړي د همداسې يوې لوړې موخې او دليل په پار دين ته اوښتي دي؟

---

[1]- غواړم په دې فكر وكړم چې كه له اكاسي.akâsi وروسته په بشپړه توګه تم شم ناسمه به وي - ليكوال

[2]- جمع. «تاسو د بودايي دين غړي». دا پوښتنه په دريم څپركي كې په ۱ او ۳ كې او پورته په لومړي څپركي په ۳۸ كې لا نوره سپړل شوی ده – ليكوال

[3] -summum bonum

[۳۲] څرګنده ده چې نـه، صاحبه. یو شمــېــر ئـې د همدې موخې لپاره په دین اوښتي دي، یو شمــېــر نورو ددې لپاره دنیا ته شا کړې چې ځان د ظالمو پادشاهانو له ترهې خلاص کړي. یو شمــېــر نورو ددې لپاره نړۍ ته شا کړې چې د غلو له لوټ څخه خوندي وي، یو شمــېــر ئـې پورونو ځورولي دي او یو شمــېــر ئـې ښایي د ژوندانـــهٔ د معیشت د ترلاسه کولو لپاره له دین سره یو ځای شوي وي.

«مګر صاحبه! تاسو په کومې موخې دغـهٔ دین ته اوښتي یاست.»

زه هغه مهال دغـهٔ دین ته واوښتم چې تنکی هلک وم او په وروستۍ موخې هېڅ نـهٔ پوهېدم. خو له ځان سره مې فکر وکړ: «چې دا بودایي سَمَنـــهٔ ګان، معقوله عالمان دي، او ددې وړتیا به ولري چې ماته ښوونـه وکړي.» او همدوی ول چې ما ته ئـې را زده کړل؛ او اوس په یوهٔ وار هم پوهېږم او هم پوهولی شم چې د کوم دلیل لپاره دین ته اوښتی یم او دنیا ته د شا اړولو ګټه څه ده.»

ډېـــر ښـهٔ، ناګه سینا!

---

۶- پاچا وویل :« ناګه سینا! آیا داسې څوک شته چې له مرګ وروسته دې بیا - فردیت[1] ته راونـهٔ ګرځي؟

یو شمــېــر سته چې بیا فردیت ته راځي او یو شمــېــر نـــهٔ راګرځي.

«دوی څوک دي؟»

ګناهکاران بیا فردیت ته راګرځي، او  بې ګناهان بیا فردیت ته نـهٔ راګرځي.

آیا تاسو به بیا فردیت ته راوګرځئ؟

که زه مړ شم، په دې هیله غواړم مړ شم چې په خپل زړهٔ کې شتون او هستي ولرم، که داسې وي نو هو، غواړم بیا فردیت ته راوګرځم، که داسې ونـــهٔ شو، نو نـهٔ ئـې غواړم[2]. ډېر ښه، ناګه سینا

---

[1]ـ له بیا فردیت څخه موخه بیا زیږون یا ارتحال دی. د هندوییزم او بودیزم تر منځ د تناسخ توپیر په دې کې دی چې هندوییزم وایي روح له جسمه وځي، جسم د زړو کالیو په شان دی کله چې کالي زاړهٔ شول روح ورڅخه وځي او بیا نوې جامې اغوندي یعنی دا چې روح له یوهٔ جسمه و بل جسم ته په خوځون کې ده خو بودیزم وایي چې اړینه نه ده چې روح دې له یوهٔ کالبده و بل ته کالبد ته د خوځون په حال کې وي لکه کله چې یوهٔ شمعه لګول کېـږي په دې شمعې باندې سل نورې شمعې لګول کېـږي نو له دې کبله روح خوځون نـــهٔ مومي. ژباړونکی

[2] - Repeated below, with an illustration, Chap. 2, § 7, p. 76

۷- پاچا وویل : «ناګه سینا، هغه چې له فردیت څخه تښتي آیا دلیل راوړلی شي چې دی ورڅخه تښتي؟ »

ښاغلی اعلیحضرت! هم ئې د دلیل په راوړلو[1] او هم ئې په حکمت[2] او پوهې دواړو ئې کولی شي او هم ئې د نورو ښو خصایلو پر بنسټ.

مګر، آیا په ډاډ ویلای شئ چې دلیل او حکمت دواړه په یوې معنی دي؟

څرګنده ده چې نــه. دلیل یو شی دی او حکمت بېل شی دی. لکه پسه او وزې، ګاومېښې او وحشي غوایان، اوښان او خرۀ، دوی دلیل لري مګر حکمت نـۀ لري.

ډېر ښه، ناګه سینا

---

۸- پاچا وویل :« د دلیل راوړلو ځانګړې نښه څه ده، او هم د حکمت نښه په څه کې ده؟»

«دلیل راوړل تـل په ځان کې د خپلې نښې په شان د استدراک قوه لري؛ خو حکمت خپل نهایي پای لري[3]

دا څنګه کېدای شي چې د استدراک قوه دې د دلیل مشخصه وي او نهایي پای دې د حکمت؟ راکړه یوه بېلګه؟

د وربشو لــوګري دې په یاد دي؟

څرګنده ده [۳۳] چې په یاد مې دي.

لــوګر وربشې څنګه لــو کوي؟

په خپل کیڼ لاس کې د وربشو ګېډۍ نیسي او په ښي لاس کې لـور او همداسې ئــې لو کوي.

چې داسې ده نو اې پاچا، یو ګوټناستی هم د خپل فکر له لارې استدراک مومي او په خپل حکمت پرخپلې ناکامۍ د پای ټکی ږدي. همدا لاره ده چې قوه د استدراک د دلیل مشخصه ده خو نهایي پای د حکمت.

---

[1] - Yoniso manasikâra

[2] - Pańńa. See pp. 59, 64, 128.

[3] - بودهاګهوسه په سمنګلي Sumańgala کې د اخلاقي خصایلو د بېلابېلو ځانګړتیاوو له مخې یو اوږد لیست ورکوي، ۶۳ پاڼه پګانانه pagânana د پنیندریا pańńindriya نښه، اویګایه اکامپیین aviggâya akampiyan د پنابالهpańńabala او تد – اوتارین tad-uttariyan د پنا pańńa نښه ده. دی د یونیسو مناسیکاره نښه نــۀ ورکوي. – لیکوال

---

۹- پاچا وویل :تاسو همدا اوس وویل «د نورو ښو خصایلو له لارې»، ددې په ویلو مو څه شي ته نغوته کوله؟

لویه پاچا! ښـۀ چار چلند، ایمان او ثبات او تفکر او تعمق[1] / ژور فکري عبادت[2].

او د ښـۀ چارچلند د مشخصې نښه څه ده؟

دا خپله مشخصه لري او د خپلې مشخصې په شان د ټولو ښـو خصایلو لپاره بنسټ دی. پینځه اخلاقي ځواکونـه[3] – ایمان، عزم، خبرتیا/ هوښیاري، فکري عبادت/ تعمق او حکمت- د ارهټ توب اووۀ شرایط [4] [ستې پټهانـه]– اعتماد په نفس، په دهما[5] کې څېړنـه،عزم، خوښي / مسرت، پټه خولـۀ / سکوت، تعمق او متانت – لاره، د حافظې چمتووالی (نـۀ ماتېدونکی اعتماد په نفس) ؛څلور ډوله سمې هلې ځلې[6] (سمه پډهانـه ) د فوق العاده ځواکونو څلور جوړوونکې عناصر[7] ، د وَجد څلور پړاوونه[8]؛ د معنوي خلاصون/ ژغور اتـۀ ډولونـه[9]؛ د ذاتیه ترکیز «باطني تعمق» څلور بڼې[10]؛ د شدید تفکر اتـۀ حالات[11]، ددوی هر یو او ټول ئـې د خپل بنسټ په شان ښـۀ چار چلند « د ظاهري اخلاقو[12] رعایتول» غواړي. اې پاچا، هغه څوک چې ځان په همدغو بنسټونو سمبالوي پر هغـۀ به دا ښــۀ شرایط کم نـۀ شي[13].

«یوه بېلگه ئـې راکړئ»

اې پاچا! هماغسې چې ټول حیواني او نباتي ژوند وَده کوي، لوییږي او پخـېـږي ځکه چې ځمکه ئـې بنسټ دی؛ همداسې یو گوتناستی هم دی چې ځان خپلو هڅو ته وقفوي، د پینځو اخلاقي ځواکونو په منځ کې د فضیلت پر بنسټ د فضیلت په وسیلې وده کوي.

---

1 - Indriya-balâni

2 - Sîlam, saddhâ, viriyam, sati, samâdhi.

3 - Bogghańgâ

4 - Satipatthâna

5 - Dhamma

6 - Sammappadhâna

7 - Iddhipâda
8 - Ghâna
9 - Vimokhâ
10 - Samâdhi.
11 - Samâpatti

12 - outward morality : چارچلند هغه اعمال دی چې د انسان په ظاهري اعمالو کې راښکاره کېږي، دلته له ظاهري اخلاقو څخه موخه هماغه په چار چلند کې د ښو اخلاقو مراعاتول دي. باطني اخلاق یا نفساني تزکیه بیل مبحث دی – ژباړونکی

13 - پورته یادې شوې وړتیاوې هغه شرایط دي چې ټولگه ئـې ارهټ توب جوړوي - لیکوال

«یوه بله بېلګه ئـي راکړه»

اې پاچا! هماغسې چې ټولې چارې د جسماني هڅو له لارې پر ځمکې باندې د ړومبی او وروستی اتکاء پر بنسټ تر سره کېږي هماغسې یو ګوتناستی خپل ځان کې پینځو اخلاقي ځواکونو ته وده ورکوي په همدې توګې ده چې یو ګوتناستی د فضیلت پر بنسټ او د فضیلت په وسیلې وده کوي. [۳۴]

«یوه بېلګه بنه ئې راکړه»

اې پاچا! هماغسې چې یو معمار د یوۀ ښار د معمار په توګې غواړي یو ښار ودان کړي لومړی د ښار ځمکه پاکوي، بیا ګڼ ځنګلونــه د ونو ستې او ریښې او اغزي باسي او ځمکه ئـې هواوروي، له دې وروسته ده چې د سړکونو او څلور لارو نقشې جوړوي، متقاطع سړکونه او بازارونـه په پام کې نیسي او همداسې یو ښار ودانوي؛ همدا شان ده چې یو ګوتناستی په ځان کې پینځو اخلاقي ځواکونو ته وده ورکوي او همداسې پر مخ درومي نو په همدې توګې ده چې د فضیلت پر بنسټ د فضیلت په وسیلې وده کوي.

کولی شئ یوه بله تشبیه راکړئ؟

اې پاچا! هماغسې چې یو ننداز غاړی « اکروبات[1]» کله غواړي خپله ورهنه ننداري ته وړاندې کړي لومړی سخته ځمکه کیندي او بیا د ځمکې له مخې ډبرې او مات کودرې ددې لپاره ټولوي چې ځمکه ورته نرمه شي او یوازې هغه مهال نندارہ او خپل چلونــه وړاندې کوي چې تر پښو لاندې ئـې ځمکه نرمه وي؛ همدا شان یو ګوتناستی هم دی چې لومړی په ځان کې پینځو اخلاقي ځواکونو ته وده ورکوي او څکه چې د فضیلت پر بنسټ د فضیلت په وسیلې وده کوي. له همدې کبله ده چې هغــۀ مبارک ویلي :

«فضیلت هغه بنسټ دی چې هوښیار انسان وربانډې خپل زړۀ روزي،
او خپل حکمت ته وده ورکوي.
له همدې کبله ده چې یو بهیکو باید له فریب او تزویر لېـرې
د ژوندانــۀ ټولې راټولې سوې پیچلې غوټې خلاصې کړي[2]»
«دا ئـې بنسټ دی، کټ مټ لکه چې لویه ځمکه انسان ته بنسټ دی
او دا د ټولو ښـېـګـڼـو جرړه ده. د بودا د ټولو تعلیماتو پـېـلنیـز ټکی تقوی او تعقل دی
چې ټولې خوښۍ او نیکۍ ورپورې تړلې دي[3]. »

---

[1] - Lańghako, not in Childers; but compare Gâtaka I, 431, and below, pp. 191, 331 of the text.

[2] - دا منظومه وینا په سمې یوټا (Samyutta (I, 3, 3, and VII, 1, 6 کې راغلې ده- لیکوال

[3]- وره- پاتیموکهویو Vara-pâtimokkhiyo یوه شاعرانه اصطلاح ده چې یوازې په همدغــۀ نقل قول کې موندل شوې ده او دا چې دقیقاً له څه شي سره تړاو لري زه وربانډې ډاډمن نـۀ یم. دا د چایلدرز په چاپ کې نــۀ شته؛ او او هینه تي کومبوري Hinati-kumburė راسره کومه مرسته نـۀ

ډېر ښـهٔ ئـي ویلي دي ناګه سینا.

---

۱۰- پاچا وویل[1] : ښاغلی ناګه سینا! د ایمان ځانګړتیا څـهٔ ده؟

«اې پاچا! هوسا کېدل او د لوړې هیلې لرل[2].»

او څنګه هوسا کېدل د ایمان مشخصه کېدَی شي؟

«اې پاچا! ایمان پـهٔ زړهٔ کې دننه غوړېږي، خو ایمان په پینځو موانعو ماتېږي : شهوت / نفس، عناد، ذهني سستي، روحاني فخر او شک – او هغه زړهٔ چې له دغو موانعو خلاص شي [۳۵]، نو سپيڅلی، آرام او بې جنجاله او بې له سرخوږۍ کېږي».

«یوه بېلګه ئـي راکړه»

اې پاچاهماغسې چې یو سلطان د یوهٔ ټولواک په توګې له خپلو څلورواړو ځواکونو سره مارش کوي او له یوهٔ نري سینده اوړي، نو د سیند اوبـهٔ د فیلانو او سپرو ځواکونو او بګیو او غیشي ویشتونکو له پلوه خړې کېږي ښايي اوبه ککړې، ختیني او په لوخړو[3] ډکې شي. او که پاچا د سیند په بلې غاړې کې وي او خپلو بدرګه کسانو ته امر وکړي چې :« زما ښو سړیو، اوبـهٔ راته راوړئ زه په خوشالۍ غواړم دا اوبـهٔ وڅښم.» اوس نو تاسو داسې وانګېرئ چې پاچا د اوبو پاکولو یو ګوهر[4] لري او د پاچا تر فرمان لاندې مطیع کسان ګوهر اوبو ته ورغورځوي؛ او بیا په یوهٔ ځل د اوبو له منځه ختې او لوخې ورکـېږي، د شګو او پوستکو ذرات او په اوبو کې اوبلن نباتي ذرات له منځه ځي او اوبـهٔ په خپله پاکېږي، رڼې کېږي او صافېږي او دوی به له دغو پاکو اوبو څخه یو څـهٔ پاچا ته د څښلو لپاره راوړي. دلته اوبـهٔ د زړهٔ تشبیه ده، سلطنتي خادمين هماغه ګوتپاستي دي؛ ختې، د شګو ذرات او اوبلن نباتي ذرات ټول شیطاني لېوالتیاوې دي؛ او د اوبو پاکولو ګوهر په خپله ایمان دی."

او هیله څنګه د ایمان مشخصه کېدی شي؟

---

کوي. دا ټوله کرښه ښايي داسې معنی ولري : د یوهٔ پرهیزګار ژوندانـهٔ طرحه په ممتازه پتیموکهه Pâtimokkha کې پرته ده . وګورئ لاندې په شپږ. دېرشمې پاڼې کې د سمیوتېه نیکایه Samyutta-Nikâya کارول . په دې ټولې برخې کې M. P. S. I, 12 پرتله کړئ – لیکوال

[1]- دا برخه د هاردي د کتاب له مخې رالنډه شوې ده:.Hardy's ' Manual of Buddhism,' pp. 411, 412 (1st edition) - لیکوال

[2] -Sampasâdana and sampakkhandana بوداګهوسه Buddhaghosa, loc. Cit د ایمان د برخو نوملړ نـهٔ ورکوي خو د ایمان ځواک saddhâ-bala یادوي او په ځانګړتیا کې ئـې وايي چې ایمان د بې ایمانۍ او بې اعتقادۍ په وسیلې ټکان نـهٔ شي موندلی - لیکوال

[3] - Lulita, not in Childers; but compare Ańguttara I, 55, and 'Book of the Great Decease,' IV, 26-32.

[4]- Udakappasâdako mani : په دې کې شک نـهٔ شته چې له دې اصطلاح څخه موخه او معنی کوډګر ګوهر دی: دا نغوته په ځانګړې توګې د پرتمین افسانوي پاچا حیرتناکه ګوهر Mani-ratana ته ده وګورئ زما :'Buddhist Suttas,' p. 256

هر ځونې چې يو ګوتپناستی د نورو خلکو د زړونو خلاصون وينې هماغومره دی هم هيله لري چې د لومړي پړاو د ميوې د ترلاسه کول په پار «په خوښۍ – ژ» خينجکې ووهي، يا په دويم پړاو او يا په دريم پړاو کې ممتازه لاره او يا په خپله ارهټ توب تر لاسه کړي، او له همدې کبله ده چې هغه څه پر ځان مني چې تر دې دمه ئې نـهٔ دي تر لاسه کړي، او هغه څه ازمايي چې تر اوسه ئې نـهٔ دي احساس کړي، هر هغه څـهٔ تر سره کړي چې تر اوسه ئې نـهٔ دي تر لاسه کړي، نو له همدې کبله ده چې هيله د ايمان مشخصه ده.

«يوه بېلګه ئې راکړه»

اې پاچا! که يو پياوړی توفان [۳۶] د يوهٔ غرهٔ پر څوکې باندې راکوز او باران پېل کړي، نو د توفاني باران اوبـهٔ لومړی د غرهٔ لـهٔ ډېو راکوزيږي او له لوړو ژورو په را اوښتلو د غرونو چاودې، سوري، او د غرهٔ په لمونو کې پراته موړونــه او ګړنګونـه ډکوي ورپسې وړاندي ځي او سيند جوړوي او دا سيند په اوبو ډکوي او بيا د اوبو بهير دوام مومي او د سيند په دواړو غاړو کې بهير پر مخ ځي. اوس نو داسې وانګېرئ چې د خلکو يوه ډله يو په بل پسې راپيدا کېږي، دوی د اوبو ريښتونی پسور او ژور والی په بام کې نـهٔ نيسي او غواړي د سيند د اوبو له يوې غاړې څخه بلې غاړې ته واوړي. او بيا وانګېرئ چې دوی ته يو سړی راځي او دا سړی په خپل جسمي ځواک او قوت خبر او راڅرګندېږي او په هوښياری د سيند بلې غاړې ته اوړي. په دهٔ پسې نور خلک ګوري چې دی د سيند بلې غاړې ته خوندي رسېږي نو پاتې خلک به هم ددهٔ په شان د سيند بلې غاړې ته واوړي. همدا د يوهٔ ګوتپناستي لاره ده چې د ايمان[1] په زور خپلو هيلو ته د رسېدو په لاره کې ئې زړهٔ پـهٔ تيندکو دی، کټ مټ په دې هيلې چې زړهٔ ئې په لوړو «آسماني –ژ» شيانو کې بند دی. اې پاچا په همدې هکله هغـهٔ مبارک په سميوته نيکايه[2] کې وېلي :

« د زړهٔ له کومې په ايمان دی چې دی
د ژوندانـهٔ د سمندر له بهيره تېرېږي؛
په متانت دی چې دی سکون مومي
په حکمت دی چې دی سپېڅلی کېږي[3]»

---

[1] - دا په بودا کې د ممتازې لارې کفايت او بسيانه ده چې دهٔ تدريس کړې وه او د هـغـهٔ چا د ظرفيت څرګندويه ده چې په همدې لارې روانېږي. دا خبره تر يوې کچې «د ارهټ توب په پرتلې» په پينځم مهاويګا Mahâvagga V, i, 21 کې- په څلورم مهاپرينې بهانه سوته Mahâparinibbâna Sutta VI, 9 کې « د آننداÂnanda په هکله چې ايمان لري او له نورو ديني ورونو سره پرتله شوی او د ممتازې لارې يوهٔ يا بل پړاو ته ننوتلی وي» او په دريمې انګوتري Ańguttara III, 21 کې « چې د مستقيم ادراک او عقلاني ادراک سره پرتله شوی» ياده شوې ده. د وروستنی پرتلې لپاره وګورئ دريمه پوګاله پنه تي Puggala Pańńatti III, 3. له دغو نقل قولونو څخه د ايمان په هکله د بوداپانو ښايسته ليد لوری جوړی شوی دی. سره له دې چې عيسويت او بوديزم د شيانو په اړوند له يو بل سره اعتقادي توپير لري خو دواړه اديان د زړهٔ د حال په هکله هم په اصل او هم په پای کې له يو بل سره زښت ډېر نـېږدې والی لري. ليکوال

[2] - Samyutta Nikâya

[3]- دا نظم تر اوسه د پالي متنونو ټولنې Pâli Text Society د سميوته چاپ شويو بنو ته نـهٔ دی رسـېدلی خو په لومړی سوته نيپاته Sutta Nipâta I, 10, 4 کې موندل کېږي. ليکوال

ډېر ښـۀ دې وويل ناګه سينا!

۱۱ پاچا وويل[1] : ناګه سينا! د ثابت قدمۍ ځانګړنه څـۀ ده؟

ای پاچا! تکيه کول د ثابت قدمۍ[2] ځانګړتيا ده. ټول هغه ښه خصايل چې تکيه کول رامنځته کوی پای نـــۀ لري.

«يوه بېلګه ئـې راکړه»

که يو کور د نړېدلو په درشل کې وي نو سړی د چت د نړېدلو د مخنيوي لپاره تر چت لاندې بله ستنـه ږدي، او دا ستنـه هغه تکيه ګرځي چې کور له نړېدلو ژغوري؛ همدا ده چې د تکيه کولو تر لاسه کول د تکل ځانګړتيا ګرځي او ټول هغه ښـۀ خصايل چې تکيه کول رامنځته کوی پای نـــۀ لري.

«يوه بېلګه ئـې راکړئ»

«داسې وانګيرئ چې يو وړوکی لښکر د لوی لښکر په لاس ماتـېږي خو د وړوکی لښکر پاچا خپلې ټولې شونې هڅې کوي چې خپل وړوکي لښکر[3] پياوړی کړي او ښايي د خپل لښکر د پياوړي کولو لپاره ځانته متحدين پيدا کړي او په دې توګې وړوکی لښکر ښايي ددې وړتيا ومومي چې لوی لښکر مات کړي؛ اې پاچا نو همدا ده چې تکيه کول د ثابت قدمۍ ځانګړتيا ده او ټول هغه ښـۀ خصايل چې تکيه کول رامنځته کوی پای نـــۀ لري [۳۷].» همدا لامل دی چې هغـۀ مبارک ويلي :« اې بيکهو! تکل د ربښتوني حقيقت اورېدونکی دی، شرارت درڅخه لېرې کوي او د اعمالو په کروندې کې نـــېکی کري، هغه څـۀ چې غلط دي له منځه ئـې وړي او هغو  شيانو ته په ځان کې وده ورکوي چې ښـۀ دي او په همدې سره ځان سپېڅلی او پاک ساتي.»

ډېر ښـۀ مو وويل ناګه سينا!

---

۱۲- پاچا وويل : ناګه سينا! «د خبرتيا/ هوښيارتيا ځانګړتيا څه ده؟[4]»

اې پاچا! «تکرر او تداوم[1]».

---

[1] - This section is summarised by Hardy, loc. cit. p. 409.

[2] - Buddhaghosa, loc. cit., says that paggaha (tension) is the mark of viriyindriya.

[3]- انا مَنم انوساريا انوپيسيا Ańńamańńam anusâreyya anupeseyya. دا هماغه لاره ده چې هيناتې کمبوري په دغـۀ شکمن پيام پوهېږي. هاردي Hardy  په ټولې استعاري کې تېروتلی دی. دواړه لغات نوي دي او زه ډاډه نـۀ يم چې لومړی هغه ئـــې د سر له ربښې څخه راغلی وي چې پل ئـې واخلم – ليکوال

[4] - Sati, summarised in Hardy's 'Manual,' p. 412.

او تکرر څنګه د خبرتیا ځانګړتیا کېـدی شي؟

اې پاچا! هماغسې چې خبرتیا په زړهٔ کې غوړېږي، د زړهٔ ښتن په خپل چلند کې ښــهٔ د بدو پر وړاندې، صحیح د غلط پر وړاندې، مهم د بې اهمیته پر وړاندې، روڼا د تیارو پر وړاندې او نورې ځانګړتیاوې چې له دغو سره ورته والی لري تکراروي او له ځان سره وايي : « دا څلور واړه حالات څوک چمتو او خبر ساتي، د روحي هڅو څلور حالات ، د فوق العاده ځواکونو څلور بنسټونــه، د اخلاقي احساس پینځه غړي، پینځه ذهني ځواکونـه، د ارهټ توب اووه بنسټونـه، د اعلی لارې اتـهٔ څانګې، دا صفا ده او دا بصیرت دی، دا حکمت دی او دا ژغورنــه او خلاصون دی.[2]». له همدې کبله ده چې یو ګوټناستی هاغه ځانګړتیاوې تعقیبوي چې غوره دي او له هغو څخه ځان ژغوري او لېـرې ساتي چې غوره نـهٔ دي؛ له همدې کبله ده چې یو ګوټناستی د زړهٔ په پټي کې هاغه څه کري چې باید تکرار ئـې کړي او وئـې ازمویي او هغه څـهٔ باید تکرار نـهٔ کړي چې نــه باید تکرار ئـې کړي. همدا دی چې تکرر د خبرتیا ځانګړتیا کېـږي.

«یوه بېـلګه ئـې راکړئ»

دا د یوهٔ سلطان خزانه - چې[3] ته ورتـه ده چې خپل سلطان ته د هغـهٔ پخوانی او اوسنی پرتم ور په یادوي او وايي: اې زما سلطانــه، ستا دونې فیلان دي، دونې دې سپارهٔ[4] دي، دونې دې غیښي ویشتونکي دي، دونې دې پیسې دي، دونې دې سرهٔ زر دي او دونې دې پانګه ده. اې زما اعلیحضرته دا مې ستاسو پاملرنې ته وړاندې کړه.

او صاحبه څنګه تداوم د خبرتیا ځانګړتیا کېـدی شي؟

---

[1]- اپیلا پنه او اوپه ګنهنه Apilâpana and upaganhana دواړه نوي لغات دي. دوی خپله معنی له ایتیمولوژیکي اړخه د ساتي sati له لغت سره ساتي چې د " حافظې" په معنی ده. په ټول بودايي رواني اخلاقي سیستم کې ددغـهٔ لغت معنی «په خپلې دویمې، اخلاقي او لا معمولي معنې کې» یو تر ټولو سخت لغت دی چې معنی شي. هاردي دا لغت د " باطن" په معنی ژباړي خو په ډاډ ویلی شم چې دا ئــې غلطه معنی ده؛ او ګوګرلي «وګورئ د زما " بودايي سوټا 'Buddhist Suttas,' p. 144» دا لغت د "فکري عبادت" په معنې ژباړي چې یوه پراخه معنې ښندي . ځینو ځایونو کې ما د " ځاني – تسلط" په معنی ژباړلی دی. دا د فکري فعالیت، دایمي فکري حضور، د زړهٔ هوښیارتیا چې له بې احتیاطی سره دښمني لري، غفلت، او د ځاني بې خبرتیا په معنی راځي. دا په بودايي اخلاقیاتو کې یوه ډېره ثابته موضوع ده. بوداګهوسه Buddhaghosa, loc. Cit ئــې په اوپه ټهانه upatthâna کې د چمتووالي، تیاري په معنی ښیي . لیکوال

[2]- دا هغه اخلاقي ځانګړتیاوې او ذهني عادات دي چې په ګډه ارهټوب جوړوي، (او هماغسې چې بودا تدریس کړي) ښايي دا ځانګړتیاوې په خپله ټول بودیزم جوړ کړي. د همدغو ځانګړتیاوو پر بنسټ ول چې بودا له خپلې مړینې مخکې د دین غړو ته د وینا په ترڅ کې پر همدغو ځانګړتیاوو ټینګار وکړ. (وګورئ: Book of the Great Decease,' III, 65, in my 'Buddhist Suttas,' pp. 60-63 ) او تفصیل ئـې د همدغــهٔ نقل قول په شرحې کې راغلی دی . لیکوال

[3]- کاکه وَټیسه بهانداګاریکو Kakkavattissa bhandâgâriko شک نــهٔ شته چې دا ګهاپتي – رَتــَنــَم ته یوه نغوته ده چې د اوو خزانه چیانو په منځ کې د افسانوي سلطان د پرتم یو خزانه - چي، دی وګورئ زما (Buddhist Suttas,' p. 257). دلته ما ته په زړهٔ پورې دا ده چې د کور د څښتن د معنی پر ځای د خزانه - چې د لغت د کارولو څرنګوالی وموم ځکه ما د ګهاپتي gahapati لغت په همدې کټ مټ معنی د پالي متنونو د سکالرشیب پر مهال درک کړی وو او ما ته زښت ډېر لرغونی ښکاري . لیکوال

[4]- تحت اللفظي معنی ئـې " آسونه" دي. دا ټول لیست په حقیقت کې هماغه لیست دی چې د ستر سلطان د پاچا د پرتم په سوټا کې راغلی دی. لیکوال

اې پاچا! خبرتیا ددهٔ په زړهٔ کې وده کوي، د خبر زړهٔ ځښتن په ښو خصایلو پسې ګرځي او له بدو ئې توپیروي او له ځان سره وايي :« دا او دا خصایل ښـهٔ دي او هغه او هاغه بد دي؛ [۳۸] دا او دا خصایل مرستندوی دي او هغه او هاغه ئې معکوس». همدا دی چې یو ګوتڼاستی په ځان باوري کېږي او پوهېږي چې څـه شي شرير دي او له ځانـه ئې ورکـوي، او ښـهٔ د ځان لپاره ساتي. همدا ځانګړتیاوې دي چې تداوم د خبرتیا مشخصه جوړوي.

«یوه بېلګه ئې راکړئ»

دا لکه د یوهٔ سلطان د محرم سلا کار په شان ده چې خپل اعلیحضرت[1] ته د ښو او بدو د توپیر لارښوونـه کوي او ورته وايي چې :« د اعلیحضرت لپاره دا شیان ښـهٔ او هاغه شیان بد دي، دا شیان ورسره مرسته کوي او هاغه شیان ورته تاوان رسوي.» او له همدې کبله ده چې پاچا مخې ته د بدیو پرَته بلا ورکه کېږي او ښو کارونو ته ئې هڅوي».

ډېر ښـهٔ مو وویل ناګه سینا!

---

۱۳- پاچا وویل [2]: ناګه سینا! د فکري عبادت ځانګړتیا څه ده[3]؟

اې پاچا! چې لارښود اوسي. ټول ښـهٔ خصایل په ځان کې، فکري عبادت، د خپل شیخ په توګې لري، ورته سر ټیټوي، مخ پورته ئې په کړو وړو لارو بیایي، کټ مټ لکه چې په یو غرهٔ کې ګړنګونـه، موړونـه او سوري دي فکري عبادت له دغو خندونو په تـېـرېدنې سرِی مخ پورته په سمه لار بیایي.

«یوه بېلګه ئې راکړئ»

هماغسې چې یوهٔ کالـهٔ ته داسې بام جوړیږي چې دستک او تبمې ئې نیمه نیم پورته څنګ په څنګ اېښـودل کېږي، او بیا څوکه جوړوي او څوړند مخ جوړوي او ټول په ګډه بام جوړوي او د بام څوکه تر ټولو لوړه څوکه بلل کېږي؛ فکري عبادت هم د نـېــکیو او ښـهٔ چارچلند په هکله همدا ځانګړتیاوې لري.

نورې بېلګې ئې راکړئ

---

[1] - پرینایکه Parinâyaka د پرتمین سلطان اوومه پانګه (پرتله کړئ له 'Buddhist Suttas,' p. 259). وبه لیدل شي چې زموږ لیکوال ددین په زړو احکامو ټینګ ولاړ دی او لالیتا ویستره Lalita Vistara ئې نـهٔ خوښـېږي او په عام ډول ئې د همدغـهٔ افسر تر لاس لاندې ئې ګڼي . لیکوال

[2] - هاردي دا برخه حذف کړې ده – لیکوال

[3] - سمادهي Samâdhi. بوداګهوسه Buddhaghosa, loc. cit. p. 65 هم، فکري عبادت د ټولو مشر ګڼي خو دی په ۶۴پاڼې کې اویکهپه avikkhepa یعنی آرامي او وقار د سما سمادهي sammâ-samâdhi ځانګړتیا ګڼي او همدا شان په ۶۳ پاڼې کې سمادهي ایندریا samâdhindriya چې په روحاني ویاړ ثابت دی د سمادهي بله Samâdhi-bala ځانګړتیا ګڼي. لیکوال

ښاغلی اعلیحضرت! فکري عبادت د یوهٔ پاچا په شان دی چي له خپل څلور اړخیز لښکر سره جګړي ته ځي. او ټول لښکر ته لکه د جنګي فیلانو برخي، سپرو، د جګړې بګې والو او غیشو ویشتونکو ته د خپل مشر په شان دی، دوی ورته سر ټیټوي، ټول ددهٔ تر لاس لاندي دي لکه دی چي یو لوړ غر وي، او ددغـهٔ لوړ غرهٔ په لمني کي ورپورې نښتي لوړ ټیټ غرونـه له خپلو لوړو ژورو سره څنګ پر څنګ پر غرهٔ پورې نښتي وي او دی د ټولو له پاسه لوړ ولاړ وي [۳۹]. اې پاچا په همدې هکله هغـهٔ مبارک ویلي دي: « اې بیکهوګانو! په ځانونو کي مو د فکري عبادت د خوی او عادت تخمونـه وکرئ. هغه څوک که په ځان کي دغــهٔ عادت ته وده ورکوي نو دی به د شیانو په حقیقت پوهٔ شي.[1]»

ډېر ښـهٔ مو وویل ناګه سینا!

---

۱۴- پاچا وویل :«ناګه سینا! د حکمت[2] ځانګړتیا څه ده.»

اې پاچا! ما مخکي تاسو ته وویل چي تفکیک او انفصال ئـي ځانګړتیاوې[3] دي خو تنویر ئـي هم نښه ده.

او تنویر ئـي څنګه نښه کېـدی شي؟

اې پاچا! کله چي حکمت په زړهٔ کي وَده وکړي دا د جهل د تیارو طلسم دفع کوي دا د دې لامل ګرځي چي د حکمت ځلا راپورته شي، دا ددې لامل ګرځي چي د پوهي رونا لا وځلېږي[4] او نبیل حقیقت راڅرګندوي. له همدې کبله ده چي یوهٔ ګوتناستی خپلې هڅې ئـي دې ته وقف کړي چي یوازې په حکمت سره به «د ټولو موجوداتو او شیانو» عدم البقاء[5]، کړاو « چي ذات ئـي په فردیت کي ده» او د هر ډول روح فقدان تصور کړي.

یوه بېـلګه ئـي راکړئ

اې پاچا! دا لکه د یوې لمپې په شان ده چي یو څوک په بلندې لمپې یوې تیارې کوټې ته رونا راوړي. کله چي یوې تیارې کوټې ته رڼه لمپه راوړل شي نو تاریکي ورکېږي او لمپه د رونا د ځلښت لامل ګرځي، هر څوني چي د لمپې رونا ډېره

[1] - Samyutta Nikâya XXI, 5.

[2] - Pańńa. Hardy in the 'Manual of Buddhism,' pp. 414, 415, gives a jumble of this passage and several others.

[3] - See above, p. 51.

[4] - Vidamseti, not in Childers; but compare Theri Gâthâ, 74; Ańguttara III, 103; and Gâtakâ III, 222.

[5]- په بودیزم کي دري اصطلاح ګاني مهمي دي : انیکا annica یا عدم البقاء impermanency ، دوکها dukha یا suffering د رنځ او کړاو ګالل او انه تا anatta یا لا انانیت یا non-selfhood چي ناخودي ئـي هم ویلی شو. بودیزم په دې باور دی چي د جهان ټول واقعي موجودات د خپل ماهیت او ظاهر له اړخه د بدلون په حال کي دي چي ان د یوې شیبې لپاره د خپل ماهیت د ساتلو وسعه نـهٔ لري. د عدم البقاء د انګیرني پر بنسټ دا د هر انسان په ژوندانـهٔ کي د زړښت تر پړاوه دوام مومي او نړۍ ته د تګ راتګ په اوښتون یعني مرګ او بیا ژوندي کېـدل په ټولو موجوداتو کي شته چي په پای کي په اخلاقي رب النوعو اوړي. له دې چي د نړۍ ټولو ښکارندې یا پدیدې ثابتي نـهٔ دي نو پر نړۍ باندې زړهٔ تړل د کړاو لامل ګرځي. ژباړونکی

وي نو تر رونا لاندې ئـې واړهٔ واړهٔ شيان د ليدنگ وړ گرځي. حکمت همدوني اغيز په يوهٔ انسان کې لري لکه چې مخکې مو وويل:

ډېـر ښـهٔ مو وويل ناگه سينا!

---

۱۵- پاچا وويل : ناگه سينا! دا خصايل  له يو بله ډېـر توپيـر لري[1]، آيا دوی هماغه شان ورته پايله لري؟

هو، هماغه پايلې لري. شريرو ليوالتياو ته د پای ټکی ږدي.

څنگه؟ يوه بـېـلگه ئـې راکړئ

دا د يوهٔ لښکر د بـېـلابـېـلو برخو لکه د فيلانو، سپرو، د جگړې بگيو او  غيشو ويشتونکو په شان دي چې ټول ئـې په پای کې د يوهٔ لښکر په ټولگې کې پای مومي او يوهٔ سر ته غځـېـږي : يعنې د دښمن پر لښکر سوبه تر لاسه کوي.

ډېـر ښـهٔ مو وويل ناگه سينا!

---

په دې سره د دويم کتاب لومړی څپرکی پای ته رسـېـږي.

---

[1] - That is, the five referred to above, p. 51, § 9.

# دویم کتاب
# دویم څپرکی

۱- [۴۰] پاچا وویل : ناګه سینا! څوک چې پر دې نړی سترګې وغړوي آیا هماغه څوک پاتې کېږي یا بل څوک کېږي؟ نـهٔ هماغسې پاتې کـېږي او نـهٔ بل څوک کـېږي.

یوه بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا! تاسو څه فکر کوئ؟ کله چې تاسو ماشوم واست، یو نازک شی واست، او په بدن وړوکی، پلن شا په تخته پروت واست. کله چې لوی سواست آیا تاسو هماغسې پاتې شوئ؟

نـه. په ماشومتوب کې یو څوک وم. اوس بل څوک یم.

اې پاچا که تاسو هغه ماشوم نـهٔ یاست نو دا په دې معنی ده چې تاسو نـهٔ پلار درلود او نـهٔ مور، که نـهٔ! او نـهٔ مو ښوونکی درلود. تاسو ته زده کړې نـهٔ شوای درکول کـېـدی، نـهٔ مو چلند او سلوک او نـهٔ مو حکمت زده کولی شوای. اې پاچا! د لومړي پړاو د مور جنین ددویم پړاو د مور له جنین څخه یا له دریم او څلورم پړاو څخه څه توپیر لري[1]؟ آیا د یوهٔ ماشوم مور د یوهٔ په عمر پاخـهٔ سړي له مور څخه کوم توپـیر لري؟ آیا یو څوک چې ښوونځي ته ځي هماغه سړی دی او کله چې ښوونځي بشپړ کړي هماغه سړی پاتې کـېږي؟ که یو مجرم جرم کوي او د جرم په سزا ئـې لاسونــه یا پښې قطع کـېږي نو آیا هماغه سړی پاتې کـېږي که نه[2]؟

څرګنده ده چې نـه. مګر صاحبه ستاسو ځواب ورته څه دی؟

شیخ ځواب ورکړ : زه باید ووایم چې زه هماغه سړی یم چې وم، اوس لوی شوی یم او کټ مټ هماغه هلک یم چې وړوکی ماشوم وم، حساس وم، شا په تخته پروت وم، اوس هم هماغه سړی یم. دا د ژوندانـهٔ پړاونـه او حالات دي چې په یوهٔ جسم کې پراته دي، ددغو حالاتو د بشپړولو لپاره جسم یوه وسیله ده.

یوه بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا! داسې وانګیرئ چې یو سړی یوه لمپه لګوي، آیا دا لمپه به ټوله شپه وسوځي؟

---

[1]- ددې څلور پړاونو لپاره وګورئ Gâtaka IV, 496, and Samyutta X; 1. 3 – لیکوال

[2]- هاردي Hardy له دغو ټولو خبرو څخه غملړلي شطحیات جوړوي. لیکوال

هو، باید وسوځي.

اوس پوښتنــه دا ده چي آیا د شپې د ددویم ساعت لمبه به هماغه د شپې د لومړي ساعت لمبه وي؟

نــه

او یا ددریم ساعت لمبه به هماغه ددویم ساعت لمبه وي؟

نـه

نو له دې داسې ښکاري چي د شپې په لومړي ساعت کې مو یوه لمپه درلودله، او په دویم ساعت کې مو بله لمپه او په دریم ساعت کې مو بله لمپه؟

نــه. روڼا هماغه روڼا ده چي له یوې لمپې راځي او ټوله شپه سوځي.

اې پاچا! د یوۀ شخص او د یوۀ څوځند موجود تداوم هم همداسې دی. یو دې نړۍ ته د ژوندانـۀ لپاره راځي او بل مري؛ د مرگ او بیا پنځون/ زیږون لړۍ په داسې ډول رامنځته کېږي چي څوک گومان کوي دواړه ئـې پـۀ یوه مهال رامنځته کېږي. له همدې کبله ده چي یو څوک د خپلې نفسي خبرتیا[1] په وروستي پړاو کې نــۀ هماغه څوک دی چي وو او نــۀ ئـې بل څوک پر ځای تللی شي.

یوه بېلگه ئـې راکړئ

[1]- په همدې هکله هاردي خپله ۴۲۹ پاڼه داسې ژباړي : [ لویه پاچا، هماغسې چي نور پړاونه دي ټول یو شان دي، یو څوک په رحم کې شکل نیسي، بل زېږون مومي او بل مري؛ کله چي دا خبره په ذهني ادراک کې و څېړل شي سړي ته داسې ښکاري لکه چي نـۀ ئـې مخکې، نـۀ ئـې وروسته، نـۀ ورپسې او نـۀ په راتلونکي کې او نـۀ په پرله پسې پړاونو کې موجودیت لري. له دې کبله یو موجود چي زېږېدلی دی خپل موجودیت ته په هماغه شکل دوام نـۀ ورکوي، او نـۀ بل څوک گرځي او وروستنـی «وینـیـانـه winyâna» یا شعور دی چي له ټولو پړاونو سره پیوستون مومي.] (!) هاردي د وروستیو څو لغاتو په هکله خپل شک څرگندوي، خو په خپل ما فی الضمیر کې ورته څرگنده وه چي ټول پاراگراف ئـې غلط ژباړلی دی.

ربښتیا خبره دا ده چي ددې پاراگراف لغات په پالي او سیمهالي کې ډیرې معنی گانې لري. یو څوک د ژوندانـۀ په هرې شیبې کې دقیقاً هماغه څوک دی چي ددۀ شعور دی. د باالذاته ادراک/ شعور پړاو، په مجموع کې هماغه دی چي ددۀ شعور دی، دا تل بدلون مومي، او په یوۀ څرگند احساس د مرگ پر مهال شعور ئـې د زېږون د مهال له شعوره بشپړ توپیر لري، دی په یوۀ پړاو کې هماغه څوک نـۀ دی چي په بل پړاو کې وو. مگر هر پړاو د ټولو پرله پسې پړاونو تداوم دی؛ - تداوم په ټول جسم پورې تړلی دی. دا خبره په هماغې تشبیه کې برابری مومي چي جسم ئــې د لمپې له روڼا سره برابر گڼلی دی، لمپه هماغه لمپه ده خو روڼا ئـې په باطني شعور/ باالذاته ادراک کې تل بدلون مومي؛ په حقیقت کې دا تشبیه په هغې ژباړې کې ځای نـۀ مومي چي هاردي ژباړلې ده - د اپوبم اکاریم apubbam akariyam د اصطلاح په هکله وگورئ : Dr. Morris's note at p. 101 of the Pâli Text Society's Journal, 1887 او هغه نقل قولونه چي نوموړي هلته اخیستي دي – لیکوال

دا لکه د شیدو [۴۱] په شان دي، کله چي له غوا څخه ولوشل شي د يو څه وخت په تېرېدلو په چکي اوړي، له چکي وروسته ورڅخه کوچ جوړېږي او له کوچو وروسته په غوړيو اوړي. اوس آيا دا به رښتيا وي چي ووايو شيدي هماغه شی دي چي چکه ده، يا کوچ دي يا غوړي؟

څرگنده ده چي نــه؛ خو له شيدو څخه لاس ته راغلي دي

اې پاچا! د يوۀ انسان يا د يوۀ شي تداوم هم همداسي دی. يو څوک هستي مومي بل مري؛ او بيا زيږون لکه چي پخوا وو، هممهاله رامنځته کېږي. له همدې کبله ده چي يو څوک په بل پړاو کي نــۀ هماغه سړی دی چي مخکي وو او نـۀ څوک په انفسي خبرتيا خپل وروستي پړاو ته تللی شي.

ډېـر ښـۀ مو وويل ناگه سينا!

---

۲- پاچا وويل[1] : هغـۀ چا چي لا بيا زېـږون نــۀ دی موندلی، آيا له حقيقت څخه خبر دي؟

هو، گرانه پاچا

نو دی څنگه وربانديږ پوهېږي؟

د ټولو په توقف چي د بيا زېږون تقريبي يا بعيد علت کېږي.[2]

يوه بېلگه ئـې راکړئ

اې لويه پاچا! داسي وانگيرئ چي يوۀ بزگر ځمکه قلبه کړه، تخم ئـې وشيندۀ او خپل د غلې امبار ئـې ډک کړ؛ دا بزگر به تر يوۀ مهاله نـۀ قلبه کوي او نـۀ به تخم شيندي او خپل ژوند و ژواک به په امبار شوي غلې پر مخ بيايي او يا ئـې مال په مال معاوضه کوي او يا ئـې د خپلې اړتيا له مخي په بل شي معامله کوي. اې لويه پاچا! آيا دا بزگر به له دې خبر وي چي ددۀ امبار نـۀ ډکـېږي؟

هو، دی بايد پوۀ شي

مگر څنگه؟

دی بايد پوۀ شي چي د امبار د ډکېدلو د تقريبي او يا ليرې مهال، علت نور قطع شوی دی.

---

[1] - هاردي دا برخه نـۀ ده ژباړلې. اړوند لاندې په III, 5, 8, p. 112 شرحه شوي دي . ليکوال

[2]- په بله وينا : تنها او اپادانه Tanhâ and Upâdâna

دا هم د هماغـهٔ سرې په شان ده چې تاسو ئـې په هکله خبرې وکړې. له ټولو هغو شیانو سره انقطاع چې د بیا زېږون لامل گرځي دی به په دې پوه شوی وي چې له خپله مسؤولیته ئـې خلاصون موندلی دی.

ښه شرحه مو ورکړه ناگه سینا

---

۳- پاچا وویل : ناگه سینا! هغه څوک چې ذکاوت لري، حکمت هم لري[1]؟

هو لویه پاچا [۴۲]

څنگه؟ دواړه ئـې یو شی دي؟

هو

نو هغه څوک به له خپل ذکاوت سره چې تاسو وایاست له حکمت سره ئـې یو دی، له التباس او مغشوشتوب سره مخامخ شي که نـه؟

د یو شمـېـر شیانو په هکله هو، او د یو شمـېـر نورو په هکله نـه

مغشوشتوب به د څه په هکله وي؟

دی به د زده کړو د هغو برخو په هکله له مغشوشتوب سره مخامخ شي چې تر اوسه ئـې نـهٔ دي زده کړي، هغه هېـوادونـه ئـې چې لا نـهٔ دي لیدلي، اویا هغه نومونـه یا اصطلاحات ئـې چې لا نـهٔ دي اورېدلي.

او څنگه له مغشوشتوب سره مخامخ نـهٔ وي؟

د هغو شیانو په هکله چې د بصیرت له لارې ئـې تر سره کړي «ادراک چې » د ټولو موجوداتو عدم البقاء/ عدم الاستمرار دی، کړاو چې د فردیت میراث دی او د روح نـهٔ موجودیت[2]

نو ددغو ټکیو په هکله به ددهٔ له توهماتو څه جوړ شي؟

یو ځل چې ادراک پورته شو په هماغه شیبه توهم له منځه ځي

---

[1] - Summarised in Hardy's 'Manual,' p. 414.

[2]- همداسې ده، ښایي دی به تر دې دمه یوازې د جهاني سکالو په هکله غلط وي مگر په خپل ذهن کې به د دین د بنسټیزو حقایقو په هکله روښانه پوهه ولري. پرتله کړئ هغه متشابه اختلافات چې د وحیی د متن له منځه او یا پر پاپ د مطلق اعتماد له منځه را ایستل شوي دي – لیکوال

یوه بېلګه ئـې راکړئ

دا لکه د یوې لمپې په شان ده چې یو څوک ئـې یوې تیارې کوټې ته راوړي، د لمپې په راوړلو سره تیارهٔ ورکېږي او روښنایي راځي.

خو ناګه سینا! له بلې خوا ئـې حکمت ته څه ورپېښېږي؟

کله چې منطقي حکمت خپله اغیزه وکړه او باید وئـې کړي نو منطق خپل توقف ته دوام ورکوي. خو په هغې وسیلې چې منطق تر لاسه شوی، وسیله ئـې پاتې کېږي – یعنی علم چې د تعقل قوه ده د هر موجود د عدم البقاء/ عدم الاستمرار لپاره، کړاو چې د انفرادیت میراث دی او د روح نـهٔ موجودیت.

محترمه صاحبه، ددغـهٔ څه په هکله مو چې وویل یوه بېلګه ئـې راکړئ

دا لکه د یوهٔ سړي په شان ده چې وغواړي په تیارې شپې کې یو لیک ولـیږي، دی اړ دی چې خپل کاتب ته غږ وکړي چې لمپه روښانـه کړي او لیک ولیکي. وروسته له دې چې لیک ولیکل شو نو لمپه وژني. دلته سره له دې چې لمپه وژل شوې خو لیکل شوی لیک به موجود وي. له همدې کبله ده چې منطق توقف کوي او حکمت پاتې کېږي.

یوه بله بېلګې ئـې راکړئ

په ختیځو ولایتونو کې [۴۳] کلیوال یو دود لري، دوی د خپلې هرې څـپرې تر څنګ د اوبو پینځه پینځه منګي په دې موخې ږدي چې که په څپرې کې د اور کوم بڅرى اور بل کړي نو د منګیو په همدغو اوبو به اور مړ کړي. داسې وانګېرئ چې څپرې اور واخیست او دوی د پینځو واړو منګیو اوبو پر څپرې باندې واچولې او اور مړ شو؛ اوس پوښتنـه دا ده چې آیا کلیوال د اور له مړهٔ کېدلو وروسته هم د منګیو د اوبو د کارولو په هکله فکر کوي؟

نـه صاحبه، د منګیو اوبـهٔ خو خلاصې شوې او اور ئـې مړ کړی دی. (په دې شیبې کې) به د هغو اوبو د نورو کارولو لپاره څه اړتیا وي؟

پینځه منګي د اخلاقي شعور پینځه غړي دي- ایمان، د تعقل قوت، په هڅو کې ثبات، خبرتیا، فکري عبادت او منطقي حکمت. دلته په دې بېلګي کې کلیوال هماغه ګوتناستي دي چې خپلې هڅې[1] ئـې وقف کړي؛ او اور د ګناه «سمبول – ژ»

---

[1] - یوګاوَکرو Yogâvakaro؛ دا یوه تخنیکي اصطلاح ده چې زموږ لیکوال ډېره کارَولې او په پالي پیټکه کې نـهٔ موندل کېږي. هاردي ئـې داسې ژباړي :«هغه څوک چې د نیروانا په لټون کې دی»؛ که څه هم د اصطلاح ظاهري معنی به همدا وي خو دا ئـې معنی نـهٔ ده. تحت اللفظي معنی ئـې دا ده : «هغه څوک چې ځان محاط کړي او یوازینی پناه ځای ئـې یوګا ده. اوس نو د یوګا معنی ته په کتلو یوګا د هڅې، ځان وقفولو او فکري تمرکز په معنی ده؛ او هېڅ داسې شی په دې اصطلاح کې نـهٔ لیدل کېږي چې زموږ لیکوال ئـې د ارهټوب د لقب لپاره کاروي. ماته داسې ښکاري چې دا ټوله مرکبه اصطلاح یوازې یو له هغو دیني تخنیکي اصطلاحاتو څخه ده چې نـهٔ یوازې په دین کې لوړ وي بلکه په عادي اخلاقي احساس کې هم د

دی. کله چې اور د پینځو منګیو په اوبو مړ شو نو دا په دې معنی ده چې ګناه د اخلاقي شعور د پینځو غړو په مرستې ووژل شوه، کله چې د ګناه اور ووژل شو، دا اور به بیا سر پورته نـهٔ کړي[1].

نورې بېلګې ئـې راکړئ

دا لکه د یوهٔ طبیب په شان ده چې رنځور ته له پینځو ډولو درملو سره ځي او دا درمل د طبي بوټو له جرړو[2] څخه جوړ شوي دي، دا جرړې ټکوي او سولوي ئـې او بیا ئـې ناروغ ته ورکوي چې له اوبو سره ئـې غړوپ کړي او په دې سره د رنځور ناروغي له منځه ځي. آیا دا طبیب به د نورو درملو په هکلع=ه فکر وکړي چې ناروغ ته ئـې ورکړي؟

څرګنده ده چې نـه، ځکه همدغو درملو د رنځور ناروغي ښه کړه د نورو درملو لپاره به څه اړتیا وي؟

اې پاچا! همدا ئـې بېلګه ده، کله چې ګنــهکاري د پینځو اخلاقي ځواکونو په مرستې له منځه لاړه شي، نو اسباب هم توقف کوي خو حکمت پر خپل ځای پاتې وي.

[۴۴] یوه بله بېلګه راکړئ

دا لکه د یوهٔ جنګیالي په شان ده چې پر کالـهٔ باندې ئـې برید شوی دی، جنګیالي له ځان سره پینځه شلګرې اخلي او د باندې د جګړې ډګر ته ځي چې خپل میرڅمن له پښو وغورځوي. کله چې جنګیالی خپلې شلګرې کارَوي میرڅمن ماتېږي. د میرڅمن له ماتې وروسته دهٔ ته نوره اړتیا نـهٔ شته چې خپلې شلګرې نورې وکارَوي.

ډېر ښـهٔ مو وویل ناګه سینا

---

۴- پاچا وویل : هغه څوک چې بیا زېږون نـهٔ مومي آیا تر دې دمه د درد احساس کولی شي؟

شیخ ځواب ورکړ : یو شمــېــر «دردونــهٔ ــژ» احساسوي، یو شمــېــر ئـې نـهٔ احساسوي.

دا کوم «دردونه ــژ» دي؟

---

لوړتیا خاوند وي. کېدَی شي دا اصطلاح د سَمګاماوَکرو samgâmâvakaro له اصطلاح سره مترادفه وي «په کالـهٔ کې په جنګ کې» یعنی په سماګاوکره ګاتکه samgâmâvakara Gâtaka (Fausböll, II, 95) کې د جنګي فیل لپاره او تر لاندې سرتېرى Mil. 44 کارَول شوې اصطلاح ده . لیکوال

[1] - زما په باور ددې خبرې پوهېدنه په لړ اصلاح شوې بڼې شوني ده چې څلور ستر اعمال «سمه په دهنانه Sammappadhânas» ګانې هغه هڅې دي چې د ګناه د حالاتو د رامنځته کېدلو مخه نیسي. لیکوال

[2] - پڼکه مولا بهیسګاني Pańka mûla bhessagâni چایلدرز Childers په خپلې ژباړې کې پینځه ډوله درمل نـهٔ دي یاد کړي. لیکوال

اې پاچا! دی به جسماني درد احساس کړي خو ذهني درد نـهٔ احساسوي

دا به ئـې لا څنګه وي؟

له دې چې د جسماني درد تقريبي يا لـېرې علت تر دې دمه دوام مومي نو دی به درد ته معروض وي. مګر له دې چې د ذهني عذاب تقريبي يا لـېرې علت توقف موندلی نو ذهني درد نـهٔ احساسوي. له همدې کبله ده چې هغـهٔ مبارک ويلي : « دی به په يوهٔ ډول درد وکړول شي چې جسماني درد دی، نـهٔ ذهني درد.»

صاحبه، نو دی ولې نـــهٔ مري؟

اې پاچا! ارهټ دې ته اړ نـــهٔ دی چې په کورکمن د چا ديګی خوندور کړي او يا عناد وزغمي. ارهټ خامه ميوه له ونې نـهٔ راغورځوي. دی د ميوې تر بشپړ رسـېدلو پورې صبر کوي. په همدې هکله د ايمان بولندوی، شيخ ساري پوټا[1] ويلي چې : [۴۵] :

دا نـهٔ مرګ دی او نـهٔ ژوند چې په ورين تندي ئـې منم؛
کټ مټ لکه د يوهٔ مزدور په شان چې خپله د کار اجوره اخلي
زه هم خپل وخت ته سترګې رغړوم.
دا نـهٔ مرګ دي نـهٔ ژوند چې زه ئـې غواړم؛
په هوښيارتيا او ليوالتيا خپلې سترګې خپل وخت ته ځارم[2].

ډېر ښـهٔ مو وويل ناګه سينا

---

۵- پاچا وويل : ناګه سينا! آيا مطبوعه احساس ښـهٔ دی که شرير او يا له يو بله کوم توپير نـــهٔ لري؟

کـېدی شي يو له دغو درې واړو وي

---

[1] - Sâriputta: په سانسکريت کې شَري پوټه शारिपुत्र ياد شوی دی. د بودا د شاګردانو په منځ کې دوه نارينه او دوې ښځينه مريدانې نامتو نومونه لري په نارينه وو کې شري پوټه او مَودګليانه او په ښځينه وو کې کهيمه او اپا لـَوانه دي. شري پوټه له دې کبله په ښځينه نوم ياد شوی چې شري يا ساري ددهٔ د مور نوم وو او د پلار نوم ئـې اوپه تيسه وو چې د اوپه تيسه پوټه په نامـهٔ هم ياد شوی دی. دی د بودا له مړينې څو مياشتې مخکې مړ شوی دی. ژباړونکی

[2]- دا اشعار تقريباً هغو اشعارو ته ورته دي چې په تهيري ګاتهه Theri Gâtha, 1003, 1002 کې د سري پوټه په خولې کې په معکوس ډول اچول شوي دي. هماغسې چې ډاکټر روست Dr. Rost راته په کافي اندازې روښانه کړه لومړني دواړه کرښې له يو بل سره ورته دي چې له څلورم مانو Manu VI, 45 سره (د ډير لږ ګرامري توپير په لرلو) بشپړ ورته والی لري – ليکوال

مګر صاحبه! که ښـهٔ شرايط رنځونکي نــهٔ وي او رنځونکي شرايط ښـهٔ نـهٔ وي نو له دواړو څخه ئـي ښـهٔ شرايط نـهٔ رامنځته کېـږي او په عين وخت کې رنځونکي دي[1].

لويه پاچا! تاسو څه ګومان کوئ؟ داسې وانګيرئ چې يوهٔ سړي ته دې څوک په يوهٔ لاس کې د سرهٔ اور يو اوسپنين غونداري او بل لاس کې ئـې ورته د کنګل شوې واورې يوه ټوټه کېښـېږدي، آيا دا دواړه، دا سړی ژوبلوي؟

خود به ئـې ژوبلوي.

آيا دواړه ئـې د اور سپرغی دي؟

څرګنده ده چې نـه

آيا دواړه ئـې د کنګل ټوټې دي؟

نـه

اوس ومنـئ چې ځان مو په غلطې لارې روان کړی دی! که تودخه ئـې ژوبلوي او دواړه ټوټې تودي نـهٔ دي، نو درد خو له تودوخې نـهٔ شي راتلی. او که کنګل ئـې ژوبلوي نو دواړه ټوټې خو کنګل نـهٔ دي او درد خو له کنګل نـهٔ شي راتلی. اې پاچا، څنګه دا دواړه دا سړی ژوبلوي چې دواړه ئـې نـهٔ تاوهٔ دي او دواړه ئـې نـهٔ ساړهٔ او (چې يو ئـې سوړ دی بل ئـې تود) نو آيا درد نـهٔ له تاودهٔ شي څخه راځي او نـهٔ له ساړهٔ څخه؟

زه له تاسو سره د وراشي برابري نـهٔ شم کولی. تاسي موضوعات داسې شرح کوئ چې له ربښتوني منطق سره برابر دي.

بيا نو، شيخ، له پاچا سره استدلال وکړ، پاچا ئـې و هڅاوهٔ چې په ابهيدما کې د بحث شويو سکالو په هکله ورسره خبرې وکړي لکه : اې پاچا دغه شپږ خوښی «عشرتونـه» دي چې په نړۍ کې له ژوندانـهٔ سره تړلي دي، او شپـږ منکرات دي چې له ژوند سره تړلي دي. شپږ خپګانونـه «غمونه» دي چې په نړۍ کې له ژوندانـهٔ سره تړلي دي او شپـږ منکرات دي چې له ژوند سره تړلي دي. عشرت او خپګان ته شپږ بې اعتنائـي ګانې «بې مبالاتی» دي چې په نړۍ کې له ژوندانـهٔ سره تړلي دي او شپږ منکرات دي. [۴۶] له دې کبله د احساساتو لپاره د شپږ په شپږو کې يوه لړۍ ده چې « د اوسمهال لپاره» شپږدیرش کېـږي او همداسې د تېـر مهال او د راتلونکي لپاره د احساساتو «شپـږ په شپـږو کې » لړۍ ده. او دا ټول چې سره يو ځای کړو موږ ته د احساساتو يو سلو اتـهٔ په لاس راکوي[2].

---

[1] - که داسې وي نو مطبوعه احساسات هم شرير دي – ليکوال

[2] - دلته ليکوال غواړي ووايي چې د (اوسمهال + تېـرمهال + راتلونکي) هر يوهٔ لپاره د عشرت او منکراتو لپاره شپږ شپږ احساسات دي. يعنې د اوسمهال لپاره شپږ عشرتونه ضرب په شپږو منکراتو کې مساوي شپږ دېرش. د تېـرمهال لپاره شپږ عشرتونه ضرب په شپږو منکراتو کې

ډېر ښـۀ مو وويل ناګه سينا!

---

۶- پاچا وويل [1]: دا چې بيا زېـږون وايو، بيا زېـږون څه شی دی؟

نوم – او – تجسد، بيا زېـږون دی.

څه؟ آيا نوم- او تجسد دواړه هماغه يو شان دي چې بيا زېـږون دی؟

نــه : مګر دغه (نوم – او – تجسد[2])[3] دی چې يا ښـۀ يا شرير اعمال تر سره کوي او په دغو اعمالو (دغه کرما) کې يو بل (نوم – او – تجسد) بيا زېـږون دی.

صاحبه! که داسې وي نو آيا نوی موجود له خپلې شريرې کرما څخه آزاد کېـږي؟

شيخ ځواب ورکړ: هو، «دا په هغـۀ حالت کې کېـږي – ژ» چې بيا زېـږون نـۀ وي. اې پاچا! له دې چې دا يو بيا زېـږون دی نو له شريرې کرما څخه به آزاد نـۀ شي.

يوه بېـلګه ئـې راکړئ

داسې وانګېـرئ چې يو سړی راځي او د يوۀ سړي امونـه «ميوه/ منګو- ژ» غلا کوي او د امونو څښتن غل نيسي او پاچا ته ئـې راولي او د غلا دعوی وربانديې کوي. خو غل د ځان په دفاع کې وايي : «اعليحضرته! ما ددغـۀ سړي امونـه نـۀ دي اخيستي. هغه امونـه چې دۀ پر ځمکې باندې ايښي له هغو امونو توپير لري چې ما اخيستي دي[4] او زۀ د سزا ليدلو وړتيا نـۀ لرم.» څنګه! اوس دا سړی پړ دی که نـه؟

صاحبه! څرګنده ده، دی د سزا وړتيا لري او بايد سزا وويني.

---

مساوي شپږ دېرش. د راتلونکي لپاره شپږ عشرتونه ضرب په شپږو منکراتو کې مساوي شپږ دېرش. او په دې توګې د دريو واړو مهالونو (اوسمهال + تېـرمهال + راتلونکي) چې هر يو ئـې شپږ دېرش لري. اوس شپږ دېرش په درو کې ضرب کړو ۱۰۸ کېـږي. ژباړونکی

[1] - This dialogue is in Hardy, p. 429 (No. 7).
[2] Name-and-Form
[3] - دا اصطلاح شرحه غواړي : په سانسکريټ او پالي کې مورډ د نامــه روپا Nâmarûpa يوه مرکبه اصطلاح لرو چې نامــه د نوم او روپا د مظهر يا جسميت په معنی ده. په هندوييزم کې نامـه روپا داسې ويل شوی چې نامـه د يوۀ شي يا يوۀ موجود روحاني يا بنسټيزه برخه ده او روپا فزيکي مظهر د هماغه شي دی چې د روح فزيکي مظهر څرګندوي. په بوديزم کې هم نامـه د انسان سايکولوژيکي عنصر دی حال دا چې روپا د نامــه ظاهري يا فزيکي تجسم يا مظهر دی. په بوديزم کې نوم او مظهر دواړه په يو بل پورې تړلي او له يو بله نــۀ بېـلېـدونکي دي ځکه همدا دواړه دي چې د يوۀ موجود هستي څرګندوي. ژباړونکی

[4] - Repeated below, III, 5, 7, p. 112

د څه شي بر بنسټ باید سزا وويني؟

ځکه که هر څـهٔ دی «غل –ژ» وايي، له دې سره سره دی باید د ورکو شويو امونو پر بنسټ پـر وګڼل شي چې دا پرتوب له لومړي لامل « د امونو د څښتن د دعوی» پر بنسټ رامنځته شوی دی.

همداسي ده لويه پاچا! اعمال، اعمال دي که ښـهٔ وي يا شرير چي يو ئـي د (نوم – او – تجسد) پر بنسټ او بل ئـي د بيا زېـږون له مخي تر سره کـېـږي. له دې کبله دغه (بل ئـي) له اعمالو «خپلي کرما» څخه نـهٔ آزاده کـېـږي.

يوه بېـلګه ئـي راکړئ

دا هم د غلا شويو وريجو يا بورې د بـېـلګي په شان ده چي بله بـېـلګه مو پورته د ام په هکله ووېله. [۴۷] او يا دا لکه د اور په شان ده چي يو سړی دې د سړو په موسم کي د خپل ځان د تودولو لپاره يو چـېـرې اور بـَل کړي او د ځان له تودولو وروسته پرته له دې چي اور مړ کړي په خپله مخه روان شي. خو دلته داسي وانګـېـرئ چي دغـهٔ سړي دا اور د کوم بل سړي په کروندې کي بل کړی وو او د کروندې څښتن دا سړی نيسي او د پاچا حضور ته ئـي راولي او خپلي کروندې ته د اوښتي تاوان دعوی ورباندې کوي. خو دا سړی پاچا ته وايي : ښاغلی اعليحضرت! زه هغه څوک نـــهٔ يم چي ددهٔ کروندې ته مي اور اچولی وي. هغه بـَـل کړی اور چي ما تر خپلې شا پرې ايښی له هغه اوره توپير لري چي ددغـهٔ سړي کرونده ئـي سوځولي ده. زه پـړ نـهٔ يم. اوس نو اې پاچا! آيا دا سړی پړ دی؟

هو صاحبه! څرګنده ده چي پـړ دی.

مګر ولې؟

ځکه دا سړی که هر څه وايي وائـــي دې، دی باید د هغه بل شوی اور د پايلي له کبله پړ وګڼل شي  چي د مخکيني لامل له کبله « يعني کروندې ته د اور اچولو له کبله ـ ژ»  راکـتـېـدلي ده.

همداسي ده لويه پاچا! ښـهٔ او يا شرير اعمال د همدغـهٔ (نوم – او تجسد) په لاس تر سره کـېـږي او «هغه بل ئـي» بيا زېـږون دی. په دې توګي دغه «هغه بله ئـي» له اعمالو «د هغه له کرما څخه» نـــهٔ آزادېـږي.

يوه بېـلګه ئـي راکړه

اې پاچا! داسي وانګـېـرئ چي يو سړی لمپه په لاس د خپل کالـــهٔ د بام سر ته خـېـږي او د لمپي تر رڼا لاندې خپله ډوډۍ خوري. دلته همدا لمپه لوېـږي او د بام د سر بوسو ته اور اچوي، اور ددهٔ سړي ټول کور سوځوي او د اور لمنـه پراخـېـږي او اور ټول کلي ته اور اچوي. کليوال دا سړی نيسي او ورته وايي چي : تا څه وکړل چي زموږ کلي ته دې اور واچاوهٔ؟ خو دی په ځواب کي ورتـه وايي چي : ما کلي ته اور نـهٔ دی اچولی. د لمپي تر رڼا لاندې ډوډۍ خوړل يو څـهٔ دي او ټول کلي

ته اور اچول بل څـۀ دي. اوس نو دوی خپله راکـتـېـدلي شخړه ستاسو حضور ته اې پاچا راوړي، تاسو به د چا په ګټې خپله پرېـکړه وکړئ؟

د کليوالو په ګټې

مګر ولې؟

ځکه، داسړی هر څـۀ چې وايي ودې وايې خو اور « له هاغـۀ بل څـۀ» څخه رامنځته شوی دی.

همداسې ده لويه پاچا! يو نوم – او تجسد دی چې خپله پايله په مرګ کې لري او بل نوم- او تجسد دی چې بيا زېږون دی. دا دويم هغه د لومړي هغه له پايلې څخه رامنځته شوی دی او همدا لامل دی چې له شريرو اعمالو خلاصون نـۀ مومي.

يوه بله بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا! داسې وانګېرئ چې يو سړی به د خپل وادۀ لپاره يوه وړوکې نجلۍ غوره کړي، دا سړی د نجلۍ ولور ورکوي[1] او په خپله مخه ځي. [۴۸] په پام کې وه چې نجلۍ به له پـېـغلتابـۀ وروسته وادۀ کـېږي ، خو د نجلۍ د پېغلتوب پر مهال بل سړی راځي، ولور ورکوي او له نجلۍ سره وادۀ کوي. لږ موده وروسته لومړنی سړی راځي او د نجلۍ خاوند ته وايي : ولې دې زما له ښځې سره وادۀ کړی دی، دا ښځه خو زما وه؟ خو د نجلۍ خاوند وايي : " دا ستا ښځه نـۀ ده چې ما کړې ده! په هغـۀ وخت کې چې تا ښځه غوره کوله دا يوازې يوه وړوکې معصومه نجلۍ وه خو کله چې پـېـغله سوه ما ځان ته غوره کړه او ولور مې ورکړ او وادۀ مې کړه، اوس دا هغه ښځه نـۀ ده چې تا غوره کړې وه" اوس نو لويه پاچا! ددوی شخړه را پارېږي او ستاسو حضور ته راځي، تاسو به د کوم يوۀ سړي په ګټې پرېـکړه وکړئ؟

د لومړي سړي په ګټې

مګر ولې؟

ځکه دويم سړی «چې اوس د ښځې خاوند دی» هر څـۀ چې وايي، ودې وايي، پـېـغله شوې نجلۍ له هماغې وړوکې ماشومې مشتق شوې ده.

همداسې ده لويه پاچا! دا يو نوم – او تجسد دی چې خپله پايله په مرګ کې لري او بل نوم – او تجسد دی چې بيا زېږون دی. مګر له دې چې دويم د لومړي له پايلې رامنځته شوی دی نو له شريرو اعمالو نـۀ دی آزاد شوی.

---

[1]- سونکم دتا : Suńkam data په تحت اللفظي ډول د ټکس د ورکولو معنی لري نو له قانوني وخته مخکې همداسې د وادۀ خبره هم وه. پرتله کړئ Theri Gâthâ, 402. او Hînati-kumburê, p. 58 چې woetup di ئـې ياده کړې او معنی ئـې د معيشت ورکړه ده. مګر څرګنده ده چې سونکا Suńka بايد هغه ولور يا بيعه وي چې د نجلۍ مور و پلار ته ورکول کـېدله. ليکوال

يوه بله بېلګه ئې راکړئ

داسې وانګېرئ چې يو سړی راځي او له يوهٔ شپانهٔ څخه يو لوښی شيدې غواړي، سړی د شيدو پيسې ورکوي، شپانهٔ ته ئې ورسپاري او ورته وايي: زهٔ به ددغو شيدو لپاره سبا راشم؛ خو په سبا ورځ شيدې په مستو بدلېږي. کله چې سړی راځي او خپلې شيدې غواړي نو داسې وانګېره چې شپون دغهٔ سړي ته د شيدو پر ځای مستې ورکوي او سړی ورته وايي: ما له تاسو څخه مستې نهٔ وې اخيستې، ماته زما لوښی په شيدو ډک راکړه. خو شپون په ځواب کې وايي : په دې کې زما ګناه څه ده[1]، ستا شيدې په مستو بدلې شولې. دلته ددوې شخړه رامنځته کېږي او اې پاچا دوی ستاسو حضور ته راځي؛ اوس نو تاسو د چا په ګټې پرېکړه کوئ؟

د شپانهٔ په ګټې

مګر ولې؟

هر څهٔ چې دا سړی وايي، ودې وايي، ځکه مستې له همغو شيدو مشتق شوې چې دهٔ پېرودلې وې.

همداسې ده لويه پاچا! دا يو نوم- او – تجسد دی چې پايله ئې په مرګ اوړي او بل ئې بيا زېږون دی. خو دغه (بل) د هماغهٔ لومړي له پايلې رامنځته شوی دی نو لهٔ دې کبله له شريرو اعمالو (له خپلې بدې کرما) څخه نهٔ دی آزاد شوی.

ډېر ښهٔ مو وويل ناګه سينا

---

۷- پاچا وويل [2]: ناګه سينا آيا تاسو به بيا زېږون ومومئ؟

نهٔ لويه پاچا. دا پوښتنه مو ولې وکړه؟ ما تاسو ته ونهٔ ويل چې کله چې مرم [۴۹]، که مرګ مې د زړهٔ د تل له ليوالتيا وي، نو غواړم ئې؛ خو که داسې ونهٔ سي نو نهٔ ئې غواړم[3]؟

يوه بېلګه ئې راکړئ

---

[1]- اګانـَتو Agânato : دلته ددغه وييکي په هکله يو ابهام شته چې تحت اللفظي معنی ئې «ما ته پرې نهٔ پوهېږم» او يا « تا ته پرې نهٔ پوهېږې» کېږي. هينتي کومبوري Hinati kumburê دا وييکی را اخلي او داسې ئې ژباړي : تهٔ څهٔ وايي! تهٔ نهٔ پوهېږې چې شيدې دې مستې شوې دي؟ (Embala, tâge kiri mawû bawa no dannehi dœyi) – ليکوال

[2]- دا برخه هارډي نهٔ ده ژباړلې – ليکوال

[3] - See above, Chapter 1, § 6, p. 50.

اې پاچا! داسې وانګېرئ چې يوۀ سړي ته د پاچا د چوپړ لپاره مسؤوليت ورکول کېږي[1] : پاچا له دۀ سړي سره خوښ دی او يو مقام ورته ورکوي. ورپسې دا سړی چې د همدغۀ مقام بشپړ مسؤوليت لري او ورڅخه بشپړ خوند اخلي او هوسا ژوند کوي په برالا وايي چې پاچا دۀ ته هېڅ شی نـۀ دي ورکړي. اې پاچا اوس تاسو ووایاست چې آيا ددغـۀ سړي چلند سم دی؟

قطعاً چې نــه

همداسې ده لويه پاچا، يو ځل بيا له تاسو پوښتم چې ولې مو دا پوښتنه له ما څخه وکړه. مخکې مې تاسو ته ونـۀ ويل : کله چې مرم، نو مرګ مې هغسې غواړم چې زړۀ مې غواړي، که هسې نـۀ وي نو نـۀ ئـې غواړم؟

ناګه سينا تاسو هرې پوښتنې ته چمتو ځواب لرئ

---

۸- پاچا وويل : تاسو همدا اوس د نوم- او تجسد په هکله خبرې کولې. په دې غونډلې کې «نوم» او «تجسد» څـۀ معنی لري؟

هر هغه شی چې جسميت ولري «تجسد» دی او هر هغه شی چې تعقل او زيرکتوب ولري «نوم» دی.

ناګه سينا، ولی «نوم» (روح –ژ) په جلا توګې بيا زېږون نـۀ مومي او يا «تجسد» په جلا توګې بيا زېږون نـۀ مومي؟

لويه پاچا! دا حالات له يو بل سره تړلي دي؛ او دواړه يو په بل کې ظهور مومي.

يوه بېلګه ئـې راکړئ

لويه پاچا! دا د چرګې په شان ده، چرګه چې هګۍ اچوي نو سپين او زېړ ئـې له پوستکې پرته نـۀ وي، دواړه پوستکی او د هګۍ د منځ توکي په يوۀ وار وده کوي او له يو بله نـۀ بېلېدونکي دي؛ په همدې ډول که نوم نـۀ وي نو تجسد به له کومه سي. په دې بيان کې له نامـۀ څخه موخه دا ده چې هغه معنی چې په نامـۀ کې پرته ده هغه په تجسد کې هم پرته ده او دواړه په ګډه وَده کوي. او له زښتو ډېرو پخوا وختونو را په ديخوا ددوی ماهيت او طبعيت دی[2].

ناګه سينا تاسو ځواب ته چمتو ياست

---

۹- پاچا وويل : ناګه سينا تاسو مخکې وويل چې «له ډېـــرو پخوا وختونو». دلته د «وخت» لغت څه معنی لري؟

---

[1]- همدا تشبيه لاندې په II, 3, 10 (P- 93) کې په لږ توپير بيا راغلې ده- ليکوال

[2] - ايوم ايتم ديګهم اډهانم سمبهاويتم Evam eta*m* dîgham addhânam sambhâvitam هاردي Hardy ئـې په ۱۴۱ پاڼې کې داسې ژباړي : " دوی د يو بل بدرګه دي «لکه بني نوع بشر يا نور موجودات خو نـــۀ دا چې د ابديت په لړ کې دې انفراديت ولري» خو د سيمهالي متن له مخې داسې معنی ورڅخه نـــۀ شي اخيستل کـــېـدی – ليکوال

لویه پاچا: تېرمهال، اوسمهال او راتلونکی مهال

ښـهٔ نو څنګه؟ آیا د «وخت» په نامـهٔ څـهٔ شي سته؟

داسي وخت شته چې موجودیت لري او داسي وخت هم شته چې موجودیت نـــهٔ لري

کوم یو موجودیت لري او کوم ئـي نـهٔ لري؟

[۵۰] اي پاچا! دا مرکبات دي یعنی (د یوهٔ موجود اصلي [1] امکانات) چې تېر مهال ئـي موږ احساسوو دی چې مړ شوی دی، او یا منحله شوی او یا ټول په ګډه بدل شوی دی. دغـهٔ موجود ته وخت نـــهٔ شته. خو د زړهٔ یو شمـــېــر حالات یا شرایط دي چې اغیزې ئـــي په اوسمهال کې رامنځته کـــېــږي او یا د اغیزو د تولید میراث په ځان کې لری خو که دا ونـــهٔ لري نو پایله ئـي په فردیت پالني اوړي. دوی ته وخت شتون لري. داسي موجودات شته چې کله مري نو بیا به زېږون و مومي، دوی ته وخت شته؛ داسي موجودات شته چې مري خو بیا زېـرون نـــهٔ مومي نو دوی ته وخت نـــهٔ شته، داسي موجودات شته چې له یوې مخې آزادي مومي (هغوی چې د خپل اوسمهال ژوند کې نیروانا تر لاسه کوي، او ژوند ئـي پای مومي) دوی ته وخت نـهٔ شته – ځکه دوی خپله آزادي تر لاسه کړې ده[2]

ناګه سینا تاسو ځواب ته چمتو یاست

---

همدلته دویم څپرکی پای ته رسېږي

---

[1] - سمکهارا Samkhârâ. وګورئ زما ژباړه 'Buddhism,' pp. 91, 92 (یو لیست دی چې په دې لیست کې تر اوسه دا وییکی په پیته که ګانو کې نـــهٔ دی موندل شوی خو ښایي په وروسته چاپونو کې به وموندل شي، دومره ویلی شم چې په لرغونو متنونو کې نـــهٔ دی لیدل شوی چې ددوی شارح وي). دا هغه برخې دي چې هستي ( او یا ددې لپاره چې بودایي بڼه ولري «کـــبــدل» او یا «توقف») په کې باید وویشل شي او عملاً د کرما بـــېــلابــېــل ډولونه رانغاړي. د لرغونو متنونو لپاره وګورئ د وینه یا Vinaya د متن د لومړي څپرکي د ۷۶ پاڼې نقل قولونه - لیکوال

[2] - پري نیبوته تا : Parinibbutattâ : هاردي (په وروستۍ کرښې کې) کې دا ټول بند داسې ژباړي : " نیروانا تر لاسه شوې، نور وخت نـــهٔ شته" خو دا د نیروانا او پري نیروانا Parinirvâna تر منځ د نـــهٔ توپیر د نـــهٔ پوهــېــدلو له کبله راپورته شوې ناپایه تـــېــروتنه ده. هغـــهٔ چا چې " نیروانا تر لاسه کړې دهٔ ته به تر هغـــهٔ مهاله وخت وي چې دی ورځخه خوند اخلي دا په دې معنی ده چې دی په خپلې اوسنۍ (او وروستۍ) هستۍ کې دوام مومي. سیمهالي متن په بشپړ ډول روښانه دی – لیکوال

# دویم کتاب

# درییم ځپرکی

۱- پاچا وویل : ناګه سینا! د تېرمهال، اوسمهال او راتلونکي مهال جرړه په څـۀ شي کې ده.؟

بې خبري/ جهالت. د بې خبری له کبله مرکبات منځته راغلي دي، له مرکباتو خبرتیا رامنځته شوی، له خبرتیا نوم او تجسد، له نامـۀ او تجسد څخه د احساس شپږ غړي[1]، له شپږو غړو اړیکي رامنځته شوی، له اړیکو احساس، له احساس تنده، له تندې غوښت او لیوالتیا، له غوښت او لیوالتیا کېدنګ، له کېدنګه زېــږون راغلي، له زېــږونه لرغونی مهال او مرګ، غم، ویر، مصیبت، درد او نومیدي راغلي. په دې ډول د دغو ټولو وختونو نـــهائـي ټکی په تېرمهال کې ځرګند نـــۀ دی.

ناګه سینا تاسو هر ځواب ته چمتو یاست

---

۲- پاچا وویل : تاسو وویل چې نـــهائـي ټکی ځرګند نـــۀ دی. ددې یوه بېلګه ئـي راکړئ.

ګرانه پاچا! داسې وانګېرئ چې یو څوک یو ډېر وړوکی زړی/تخم کري؛ له تخمه نبات راشین کــېــږي، نبات وده کوي، څانګه ئـي په وړند وخت کې غوړېږي، لوییږي او تر هغه مهاله غټېږي چې میوه تولید کړي. [۵۱] ورپسې دا سړی د میوې تخم را اخلي او بیا ئـي په ځمکې کې کري او دې لړۍ ته دوام ورکوي. اوس نو پوښتنــه دا ده چې آیا دا لړۍ پای لري که نــه؟

نــه صاحبه ځرګنده ده چې نـۀ ئـي لري

اې پاچا! همداسې ده چې په تېرمهال کې د ټولو وختونو نــهائـي ټکی ځرګند نـــۀ دی.

یوه بله بېلګه ئـي راکړئ

چرګه هګی اچوي. له هګی چرګه جوړېږي. بیا له چرګې هګی جوړېږي. آیا دې لړۍ ته پای شته؟

نــه

---

[1]- سلا یَتـه نانی Salâyatanâni چې حسي غړي دي لکه سترګې، غوږونه، پزه، ژبه او بدن او ذهن « چې کولی شو مغز ئـي ووایو» لیکوال

نو همداسې ده اې پاچا چې په تېرمهال کې د دغو ټولو وختونو نـهائـې ټکی څرګند نـــۀ دی.

یوه بله بېلګه ئـې راکړئ

شیخ د ځمکې پر مخ یوه فنر ډوله کړی / دایره رسم کړه او پاچا ئـې وپوښتـۀ : آیا ددې کړی کوم پای شته؟

نه، پای نـۀ لري

ښه نو، دا خبره د همدې کړېو په شان ده چې هغۀ مبارک ئـې په هکله ویلي دي[1]. " د سترګې او تجسد په دلیل لیدنګ/ بینائـي[2] رامنځته کـېـږي، کله چې دا درې واړه سره یو ځای شول نو لمس رامنځته کـېـږي، د لمس په دلیل احساس رامنځته کـېـږي ، د احساس په دلیل لیوالتیا او اشتیاق «تن ها Tan*h*â یا تنده» رامنځته کـېـږي، د لیوالتیا په دلیل فعل «کرما» رامنځته کـېـږي ، او له فعالي سترګې بله رامنځته کـېـږي[3]. اوس نو آیا ددې لړۍ کوم پای شته؟

نـه

بیا ئـې نو د احساس «غوږ، پزې، ژبې، بدن» او نورو غړو «لکه ذهن[4]» لپاره په ځـېـر هر یوۀ ته کړۍ وایستله، او هغه به هماغه یوه پوښتنه تکراروله. او ځواب هم هماغه وو، پایله ئـې راغونډه کړه :

اې پاچا! همداسې ده چې په تـېـرمهال کې د دغو ټولو وختونو نـهائـې ټکی څرګند نـــۀ دی.

ناګه سینا! تاسو هرې پوښتنې ته په ځواب ورکړنګ چمتو یاست

---

[1] - هینتي کمبوري Hînati-kumburê دا په مخکینیو لغاتو کې (د ژوندانـــۀ د لړۍ کړۍ چې د مهاوګه Mahâvagga I, 1, 2 په لومړي پارګراف کې نقل شوي) تطبیقوي او هاردي ئـې هم په ۴۳۴ پاڼې کې پل اخلي. ترنکنر ئـې په هغو لغاتو کې تطبیقوي چې د مګهیمه نیکایا Nikâya *Maggihma.* په اتلسمې کې ورته نغوته شوې ده او زما په ګومان ترنکنر دلته صحیح وايي. که هره لار ئـې نیولي وي پایله ئـې یوه ده – لیکوال

[2] - ککهو – ویڼانه Kakkhu-vińńâna - په دغـۀ نقل قول کې د لنډو مصطلحاتو له مخې روښانه نـــۀ ده چې له ذاتي پړاو څخه مقدماتي موخه یوازې " تماس (phasso) ده که تماس په ځان کې رانغاړي. (پرتله کړئ دهما سنګاني Dhamma Sańgani, 589, 599, 620). زه هماغـه لومړنۍ فرضیه منم. خو که معنی ئـې د پورتنۍ خبرې وروستۍ برخه وي نو دا باید داسې وژباړل شي " «د هستۍ » په هوښیارۍ کې داسې طلیعه رامنځته کـــېـږي چې په سترګو پورې تړلې ده. وګورئ لاندې څلورم پارګراف – لیکوال

[3] - په بل زېـږون کې بله سترګه ده – لیکوال

[4]- په متن کې ټوله جمله په هر یوۀ غړي کې تکرار شوې ده - لیکوال

۳- پاچا وویل : کله چي تاسو وایاست : چي نــــهائـي ټکی ځرګند نـــهٔ دی، په دې کې له «نـــهائـي ټکي» څخه مو موخه څـهٔ ده؟

هرڅومره وخت، تېرمهال دی. اې پاچا ما دوخت د نـــهائـي ټکي په هکله خبرې کولې.

که داسې وي لکه چي تاسو ئـې وایاست او کله چې وایاست چي ځرګند نـهٔ دی، آیا ستاسو موخه هر شی ده؟ آیا د هر شي نـــهائـي ټکی ځرګند نـهٔ دی؟

څـهٔ ئـې همداسې دي څـهٔ ئـې نـهٔ دي

نو کوم ئـې دي او کوم ئـې نـهٔ دي؟

ګرانه پاچا! پخوا هر څه چي په هرې بڼې او په هر حالت کي ول، ناخبري وه. دا موږ يو چي ګومان کوو ګڼي نـــهٔ ول. له همدې کبله ده چي نـــهایي پیل ځرګند نـــهٔ دی. خو هغه څه چي نـهٔ دي شوي، کـېږي؛ په مجردې چي کــېـدنګ پیل شي، بـېـرته منحلــېږي. په همدې هکله بیا نـــهایي پیلنیز ټکی ځرګند دی[1]. [۵۲]

مګر صاحبه! که له نیستی څخه هستي رامنځته کــېږي او د هستی له پیل سره سم بـېـرته محوه کـېـږي وي نو دا لړئ خو په دواړو سرونو کي قطع کــېږي، دا باید په بشپړ ډول له منځه لاړه شي[2]؟

اې پاچا! په ډاډ چي نـــه، که دا لړئ په دواړو سرونو کي قطع کــېږي نو آیا په سرونو کي د بیا پیدا کـېدو امکان شته[3]؟

هو، شاید امکان به ولري. مګر دا زما پوښتنـه نـــهٔ وه چي تاسو ئـې ځواب راکړ. زما پوښتنـه دا ده چي آیا دا سلسله که له یوهٔ ټکي قطع شي آیا له همدغـهٔ قطع شوي ټکي څخه د بیا رامنځته کـېدو امکان شته؟

ځرګنده ده چي هو

یوه بېلګه ئـې راکړئ

---

[1]- دا چي په ټولي سلسلي کي د هرې کړی پیل دی یعنی – د هر فردیت پیل – کېدی شي تعقیب شي مګر نـهٔ د هرې سلسلي په پیل کي. هر ژوند د ژوندونو د سلسلي یوه کړی ده چي د علت او معلول پر بنسټ له یو بل سره تړل شوي، سره له دې چي هر ژوند توپیر لري مګر بیا په نهایي معنی کي یو دی. داسي سلسلي لایتناهي دي؛ د هر ستر وحدت په مبحث کي نـهٔ کوم عطف شته او نـهٔ د ټولو سلسلو کوم «نهایي ټکي ته» عطف شته. لیکوال

[2]- په دې سره هر فردیت باید جلا شي. داسي فرضي سلسله په حقیقت کي شتون نـهٔ لري- لیکوال

[3] - دلته په تجنیس کي یو ځانګړی بدلون لیدل کــېږي. ښایي د " جهل یا بی خبری" لغت له منځه ایستل شوی وي. ترنکنر وایي چي نقل قول تحریف شوی دی او سیمهالي متن هم دومره ګډوډ دی چي معنی ورڅخه نـــهٔ اخیستل کــېږي- لیکوال

شيخ هماغه د وني او تخم تشبيه تکرار کړه او وئـي ويل چي سکنده ګان « د ژوند ارګاني او غير ارګاني جوړونکي عناصر» ډېر زيات ول؛ او پاچا په خپله په قناعت اعتراف وکړ

---

۴- پاچا وويل: آيا داسي مرکبات[1] شته چي جوړ شوي وي؟

ځرګنده ده چي هو

کوم يو

چـېـرته چي سترګه وي هلته اجسام هم شته، هلته ليد/ بينائـي[2] شته، چـېـرته چي ليد وي نو د سترګي له لارې تماس هم شته، احساس شته، چـېـرته چي احساس شته نو هوس او شوق هم شته، چـېـرې چي هوس او شوق[3] وي نو استيعاب[4] او کمال هم شته، چـېـرې چي کمال وي ، هستي شته ، چـېـرې چي هستي وي نو زېـږون شته، او په زېـږښت او مرګ کي وير، ساندې او درد و غم او نوميدي رامنځته کـېـږي. په دې سره د کړاو د ټولي لړۍ کړۍ رامنځته کېږي.- که نـهٔ سترګه وي او نـــهٔ جسميت نو ليد هم نـهٔ شته، چي ليد نـهٔ وي د سترګي له لارې تماس نـهٔ هم شته، کله چي تماس نـهٔ وي نـهٔ احساس شته، نـــهٔ کمال او شوق ، کله چي کمال نـهٔ وي نو شوق هم نـهٔ شته، کله چي شوق نـهٔ وي هستي هم نـهٔ شته، کله چي هستي نـهٔ وي، زېږون هم نـهٔ شته، نو کله چي زېږون نـهٔ وي نـــهٔ زېـږښت شته، نـهٔ مرګ، نـهٔ وير شته نـهٔ ساندې، نـهٔ درد شته نـــهٔ غم، او نـــهٔ نوميدي. په دې سره د کړاو او درد د ټولګي پای دی.

ډېر ښـهٔ ناګه سينا

---

۵- پاچا وويل : آيا د «انواعو» داسي مرکبات شته چي له تدريجي هستۍ څخه پرته هست شوي وي؟

نـه، ټول تدريجي هست کېدنګ لري

يوه بېلګه ئـي راکړئ

لويه پاچا! تاسو څه فکر کوئ؟ آيا په دغـهٔ کور کي چي ناست ياست يو دم او ناڅاپه د هستۍ نړۍ ته راغلی دی؟

---

[1] - سنکهارا – Sankhârâ – بالقوه عوامل، د حس لرونکي هستۍ ممکنه بني – ليکوال

[2] - Kakkhu-vińńana. See note 2 above, p. 80.

[3] -Tanhâ, thirst.

[4] - Upâdâna,  a stretching out towards a satisfaction of the longing, and therefore a craving for life, time, in which to satisfy it.

[۵۳] څرګنده ده چې نـه صاحبه. هـــېـڅ داسي شی نـۀ سته چي يو دم دې په دې ډول هستي ومومي. د يوې هستي هره برخه په تدريج سره هستي مومي، د چت دغو ستنو لومړی په ځنګل کې هستي موندلې، دغو ختو لومړی په ځمکې کې هستي موندلې او د ښځينـه وو او د نارينــۀ وو[1] هڅي او خواری وې چي دغـۀ کالـۀ ته ئـې هستي وربخښلي ده.

همداسي ده لويه پاچا، هـــېـڅ داسي مرکبات نـۀ شته چي له تدريجي ودې پرته دې يو ځلي هستي موندلي وي. دا د تطور/ تدريجي تحول يو پړاو دی چي په لړ کې ئـې يو موجود هستي مومي.

يوه بله بېلګه ئـې راکړئ

دا لکه د نباتاتو او ونو په شان دي چي په ځمکې کې د کرلو له لارې شنـۀ کېږي، وَده کوي، لوېږي او ورپسي ګل جوړوي او بيا ميوه ورکوي. ونې له تدريجي تحول پرته هستي نـۀ مومي. دا د همدغـۀ تطور/تدريجي تحول له لارې ده چي دوی وده کړې او په هغـۀ څه اوښتي چي نن دي. لويه پاچا، همداسي ئـې نورې هستي دی، هـــېـڅ داسي هستي به نـۀ وي چي د تدريجي تحول د پړاو له تېـرولو پرتـه دې بشپړه هستي موندلي وي. دوی د تطور د تحول د پړاو له بشپړولو وروسته بشپړه هستي موندلي ده.

نورې بېلګې ئـې راکړئ

دا لکه د بېلا بېلو کلالي لوښو په شان ده چي کلال ئـې جوړوي، چي لړی ئـې کلال د ځمکي له مخې د خاورې له کېنـدلو پېلوي. د کلالي لوښو شتون له هست کېدلو پرته نـۀ رامنځته کېږي. دا د تطور د تحول د پړاو له لارې ده چي د پړاو له بشپړولو وروسته هستي مومي. لويه پاچا! همداسي د هستي نور موجودات هم د تطور د تحول له بشپړولو پرته يو ناڅاپه هستي نـۀ مومي. دا د همدغـۀ تطور د پړاو له لارې ده چي دوی هستي مومي.

نورې بېلګې ئـې راکړئ

ګرانه پاچا، تاسو د ماندولين[2] د موسيقی دغې آلې ته وګورئ؛ که د ماندولين پر مخ راوتلي ګردئ اوسپنينــه پانه، څرمن، تش نس، چوکاټ، غاړه، تارونــه، ليندۍ او انساني هلې ځلې او هڅي نـۀ وې، نو آيا موسيقي به رامنځته شوې وه؟

څرګنده ده چي نـه صاحبه

که دغو ټولو شيانو هستي درلودله نو آيا غږ به نــۀ وو؟

څرګنده ده چي وو به

---

[1]- که څـۀ هم دا يوه وړوکي موضوع ده خو د پاملرني وړ ده چي بودايي متون تـل ښځې لومړی يادوي- ليکوال

[2]- وينايه پـټـم Viînâya pattam . زه ددغـۀ وييکي په معنی پوۀ نـۀ شوم. سيمهاليان دا وييکي تل يادوي- ليکوال

لویه پاچا، هېڅ داسي مرکب نـهٔ شته چي له تدريجي ودې پرته دې هستي مونـدلې وي. دا د تطور د تدريجي تحول د لړۍ له کبله ده چي هستي ئــې موندلې ده.

نورې بېلگې ئـې راکړئ

گرانه پاچا، گومان وکړئ چي که د اور لگولو لپاره اورلگيت[1]، څرخنی – لرگی، او د څرخني لرگي لپاره مزی او سانچه نـهٔ وه، که د فتيلې لپاره ټوکر او انساني هلې ځلې او هڅې نـهٔ وې، آيا اور رامنځته کېدی شوَی؟
څرگنده ده چي نــه

خو که دا ټول شيان شتون ولري آيا اور رامنځته کېږي؟

څرگنده ده چي هو

[۵۴] لويه پاچا، همداسي ده چي يو موجود د متدرج تطور له بشپړولو پرته هستي نـهٔ شي موندلی. دا هغه لړۍ ده چي د تطور تدريجي تحول نومېږي او له مخې ئـې موجودات هستي مومي.

نورې بېلگې ئـې راکړئ،

اې پاچا، داسې گومان وکړئ چي که ذره بين، د لمر تودوخه او د اور لپاره د غوايو وچ خوشايي نـهٔ وَی، نو آيا اور رامنځته کېدی شو؟

څرگنده ده چي نـه

خو که دا ټول شيان شتون ولري آيا اور بلېدَی شو که نـه؟

څرگنده ده چي هو

لويه پاچا، همداسي ده چي يو موجود د تطور د تدريجي تحول له بشپړولو پرته هستي نـهٔ شي موندلی. دا هغه لړۍ ده چي د تطور تدريجي تحول نومېږي او له مخې ئـې موجودات هستي مومي.

نورې بېلگې ئـې راکړئ،

---

[1]- آرَني، ارَني او اوته راني Arani, arani-potako, and uttarârani. د اورلگيت او څرخني – لرگي تر منځ دقيق توپير څرگند نـهٔ دی. سيمهالي ژبه په دې هکله څرگنده رونا نـهٔ اچوي او يته او ليه yata. Lîya ئـې ژباړي لکه متو ليه matu liya لاندنی لرگی، او اوتورو ليه uturu liya کښتنی لرگی. د اور لگولو دغه ډول بڼه ښايي هماغومره نا آشنا وي لکه چې هينتي کومبوري Hinati-kumburê ئـې موږ ته وايي- ليکوال

اې پاچا، داسي ګومان وکړئ چي که هینداره، روښنايي او د هيندارې مخي ته کوم مخ نـۀ وي نو آيا څـېـره په هيندارې کي ښکاري؟

نـه

خو که دا شیان موجود وي نو آيا د څـېـرې انعکاس په هيندارې کي راتلی شي؟

هو کـېـدَی شي

اې لويه پاچا، همداسي نور موجودات هم دي چي د تطورد تدريجي تحول د پړاو له بشپړولو پرته هستي نـۀ شي موندلی. دا د تطور د لړۍ د بشپړلو له لارې ده چي يو موجود هستي مومي.

دېـر ښـۀ ناګه سينا

----------------------------------------

۶- پاچا وويل: ناګه سينا! د روح په نامـۀ څـۀ شی شته[1]؟

اې پاچا دا روح «ويده ګو[2]» څه شی ده؟

يوه ژوندۍ قاعده ده چي په منځ[3] کي ئـې سترګي د ليدنګ لپاره دي، د غوږونو له لارې اوري، د ژبې له لارې خوند څکي، د سوږمو له لارې بوی احساسوي، د بدن له لارې تماس احساسوي، د شيانو توپير او تميز « حالات، دهما[4]» د ذهن له لارې کوي، کټ مټ لکه زموږ په شان چي دلته په مانۍ کي ناست يو، له کړکۍ دباندې کتلی شو او هر هغه څه چي غواړو وينو، وينو ئـې، ختيځه کړکۍ يا لويديزه کړکۍ، سويل يا شمال.

شيخ «ناګه سينا- ژ» ځواب ورکړ: لويه پاچا! زه به تاسو ته د پينځو[5] دروازو په هکله ووايم. غوږ ونيسئ او په ځير ئـې وَاَورئ. که يوه ژوندۍ قاعده هغسي چي تاسو وويل [۵۵] د سترګو له لارېويني، هغه کړکۍ خوښوي چي دی ئـې غواړي، نو آيا دی نـۀ شي کولی نـۀ يوازې د همدغو سترګو له لارې بلکه د نورو پينځو حسي غړو له لارې وويني؟ او په همدې شان

---

[1] - Vedagû, see below, III, 5, 6, p. in, not found in this meaning in the Pitakas.
[2] - Vedagû
[3]- ابهانترى ګيو Abbhantare gîvo په پيتکه ګانو کي په دغې معنی ونـۀ موندل شو. اتا Attâ دا ئـې د انځور يا انعکاس په ډول ژباړلي او دا هغه وييی دی چي د روح لپاره کارول شوی دی. هينه تي کومبوري ئـې د پرانه ګيوا prâna gîwa يعنی د روح د تنفس په ډول ژباړي وګورئ لاندې: III, 7, 15, p. 132; and above, II, 4, p. 48; and II, 2, 6, p. 71 ليکوال

[4] - dhammâ

[5] - دلته عجيبه ده چي شپږ نـۀ يادوي - ليکوال

آیا د هغو غړو تر څنګ چې هر یو مو په ځانګړي ډول څرګند کړ، دی نـهٔ شي کولی  د پینځو حسي ارګانونو له لارې غږ واوري، خوند وڅکي، بوی احساس کړي او حالات تشخیص کړي لمس احساس کړي ؟

نــه صاحبه

چې داسې ده نو دا ټول ځواکونه له یو بل سره له یوې مخې متحد نـهٔ دي، د بـېـلـګې په توګه لومړی غړی دې له وروستي سره او نورو سره تړلی وي. اوس هماغسې چې په دې مانۍ کې ناست یو، ګورو چې کړکۍ ګاني ئـې پرانیستي دي، رڼا ورځ ده، که موږ خپل سرونـه له کړکۍ دباندې وباسو نو ډېـر نور شیان په پراخ افق کې په څرګنده ګورو. که د سترګو دروازې پرانیستل شي آیا یوه ژوندۍ قاعده هم همداسې کولی شي؟  آیا دا قاعده نــهٔ یوازې کولی شي غږ واوروي بلکه شیان وګوري، خوند وڅکي، بوی احساس کړي، لمس احساس کړي او حالات تشخیص کړي؟ همدا پوښتنه د همدې قاعدې د نورو کړکیو په هکله کــېــږي؟

نـه صاحبه

[۵۶] له همدې کبله ده چې دا ځواکونــه ټول له یو بل سره له یوې مخې متحد نـهٔ دي. اوس یو ځل بیا، لویه پاچا، که دینا[1] وغواړي دباندې ووځي او د مانۍ په دروازې کې ودرېږي، آیا تاسو به پوهـېدلی وای چې دهٔ څه کړي دي؟

هو باید پوهٔ شوی وَی

او که همدا دینا بیرتـه راشي او ستاسو مخې ته ودرېږي، آیا تاسو به پوهٔ شوي وَی چې دهٔ څه وکړل؟

هو باید باید پوهٔ شوی وَی

ښه نو لویه پاچا! په همدې ډول که یوه ژوندۍ قاعده د تشخیص د ځواک په لرلو پر ژبې باندې یو خوند لرونکی شی کښــېــږدي، نو ددغــهٔ شي تریو والی، مالګینوتب، تیزابي توب یا توندوالی یا تیزوالی یا خوږوالی تشخیصولی شي[2]؟

هو، باید ئـې تشخیص کړي

ښه نو، که د همدغـهٔ شي خوند نس ته لاړ شي آیا نس به دغه خوند تشخیص کړی شي؟

څرګنده ده چې نه

[1] - Dinna

[2] - دا لیست لاندې په II, 4, 1 په تکرار راغلی دی- لیکوال

دا ځواکونه ټول له يوې مخې له يو بل سره متحد نـهٔ دي. اې پاچا، اوس داسې ګومان وکړئ چې يو سړی ځي او د انګبينو سل لوښي پېـړي او پـهٔ لويې تغارې کې ئـې اچوي، ورپسې يو بل سړی راولي، څملوي ئـې خوله ئـې ورتړي او د انګبينو په تغارې کې ئـــې اچوي. آيا دا سړی چې په تغارې کې اچول شوی په دې به پوهٔ شي چې انګبين خواږهٔ دي که نه؟

نـه صاحبه

مګر ولې؟

ځکه چې انګبين ئـې له خولې نـهٔ دي تـېر شوي

نو همدا ده چې لويه پاچا چې دا ځواکونـه له يوې مخې له يو بل سره متحد نـهٔ دي[1]

زه له داسې يوهٔ استدلال کوونکي سره د وراشې وړتيا نـهٔ لرم. صاحبه د پېـرزويني له مخې راته شرحه کړئ چې دا مسايل څنګه دي.

ورپسې شيخ ناګه سينا ، پاچا ته د ابهيدمه د اقوالو له مخې قناعت ورکړ او وئـې ويل :ګرانه پاچا د سترګې او اجسامو د دليل پر بنسټ دی چې ليدنګ رامنځته کېږي او همدې ته ورته نور حالات لکه تماس، احساس، تفکر، نظريه، پريښنايي، د ژوند احساس او پاملرنه- هر يو ئـې په هممهاله وخت کې له خپل ماسبق سره په يو ځای والي کې راپورته کېږي[2]. او همدې ته ورته علت او معلول هغه مهال رامځنته کـــېږي کله چې د احساس پينځـــهٔ واړه غړي د عمل ډګر ته ننوځي. [۵۷] له همدې کبله ده چې د روح «ويګادو» په نامـهٔ څه نـهٔ سته[3]

---

۷- پاچا وويل: آيا هر چــېـرې چې بصيرت رامنځته کــېږي[4] هلته فکري تصور هم رامنځته کېږي[5]؟

هو ګرانه پاچا! کله چې يو ئـې وي بل هم ئـې هم رامنځته کـېږي.

له دغو دواړو څخه کوم يو ئـې لومړی رامنځته کـېږي؟

---

[1] - دا په دې معنی ده چې: ستا په ځان کې دننه « يوه ژوندی قاعده » نـهٔ شي کولی هغه کړکۍ غوره کړي چې تاسو خوښ ساتي. همدا شان د يوهٔ انسان د کور په قالب کې د روح لرل صحيح نـــهٔ ده. وګورئ د دويم کتاب پای کې دويمه او شپاړلسه پاڼه- ليکوال

[2] - دا څلور وروستي دا دي :کينـتا ketanâ، ايکه ګاته ekaggata، ګيويتيندريام gîvitindriyam او مناسيکارو manasikâro؛ سيمهالي متن دا څلور واړه په سيمهالي وييکو تکراروي. – ليکوال

[3] - د هارې په ۴۵۷ او ۴۵۸ پاڼو کې دا پايلنيوی له سره تر پايه غلط دی – ليکوال

[4] - Mano-vińńânam

[5] - Kakkhu-vińńânam

لومړی بصيرت رامنځته کېږي ورپسې تصور

چې داسي ده نو بصيرت دی چې تصور ته بولنه يا قومانده ورکوي او ورته وايي : آيا ته له هماغـهٔ ځايه راغلی يم چې زه راغلی يم؟ او يا دا چې تصور، بصيرت ته هدايت ورکوي او ورته وايی چې : "چـېـرې چې تـهٔ رامنځته کـــېـږې زه به هم رامنځته شم"

لويه پاچا دا داسې نـهٔ ده چې تاسو ئـې واياست. دوی په خپلو منځو کې مراوده نـهٔ لري.

نو دا څنگه کېدی شي چې تاسو واياست هر چـېـرې چې بصيرت رامنځته کــېـږي هماغلته فکري تصور هم رامنځته کـــېـږي؟

ځکه چې د دواړو تر منځ تيښ لور ته ميلان موجود دی، ځکه چې د دواړه تر منځ يوه دروازه ده، ځکه چې د دواړو تر منځ يو خوی او مشرب دی[1] او ځکه چې د دواړو تر منځ يوه رابطه ده.

دا څنگه کېدای شي؟ يوه داسې بـېلگه ئـې راکړئ چې هر چـېـرې چې بصيرت رامنځته کـــېـږي هماغتله فکري تصور هم رامنځته کـــېـږي او دا ځکه چې د دواړو تر منځ تيښ لور ته ميلان موجود دی.

گرانه پاچا! تاسو څه فکر کوی؟ کله چې باران وَرېږي[2] د باران اوبـهٔ چـېـرې ځي؟

اوبـهٔ د سرخوړي ځمکې پر لور بهير مومي

او که بيا باران ووَرېږي نو دا اوبـهٔ بيا چېرې ځي؟

اوبـهٔ به بيا هم په هماغـهٔ لور لاړې شي چې لومړی هغه تللی وې

ښه نو اوس په دې کې څه واياست؟ آيا لومړی اوبـهٔ دويمو اوبو ته په لارښوونې وايي: هر چيرې تـهٔ ځې چې زه هم ځم؟ او يا دويمې اوبـهٔ لومړيو اوبو ته په لارې وايي هر چېـرې تـهٔ ځې زه به هم هلته ځم؟

نـــهٔ داسې نـهٔ ده صاحبه. د داړو تر منځ خبرې او راکړه ورکړه نـهٔ شته. هره يوه ئـې په هماغـهٔ لوري ځي چې د ځمکې ريونده مخ وي.

گرانه پاچا همداسې ده [۵۸]، کله چې بصيرت رامنځته کېږي د طبيعي ميلان د لامل له کبله تصور هم رامنځته کېږي. بصري تصور، فکري تصور ته په لارښوونې نـهٔ وايي چې : "چېـرې چې زه رامنځته کېږم تـهٔ هم هلته رامنځته کېږې"

[1] - کيناتا Kinnattâ، هينه تی کمبوري ئـې پورودو بووين purudu bœwin ژباړي – ليکوال

[2] - ديوي وسانتي :" کله چې خدای باران وَرَوي "– ليکوال

او نـهٔ هم فکري تصور، بصري تصور ته په لاربښووني وايي چې : "چېرې چې زه رامنځته کېږم تـهٔ هم هلته رامنځته کېږې." د دواړو تر منځ داسي مکالمه نـهٔ شته چې څوک دي ګومان وکړي ددوی تر منځ څه شی شته. هر هغه څـه چې پېښېږي د همدغـهٔ طبيعي ميلان له کبله دي.

اوس هغه بېلګه راکړئ چې ددوی تر منځ دروازه ده

لويه پاچا څه ګومان کوئ؟ داسي وانګېرئ چې يوهٔ پاچا يو لوی استحکامي ښار لري چې ښار په پياوړو مورچلونو او برجونو پياوړی شوی او دغـه ښار يوازې يوه دروازه لري. که يو سړی وغواړي چې له ښاره دباندې ووځي، نو څنګه به له ښاره دباندې ووځي؟

څرګنده ده چې د دروازې له لارې

که بل سړی وغواړي له ښاره دباندې ووځي، هغه به له کومې لارې ووځي؟

څرګنده ده په هماغه لاره چې لومړی سړی وځي دی به هم په هماغه لاره ووځي

ښه نو بيا به څـه سي؟ آيا لومړی سړی به دويم هغـهٔ ته ووايي: غواړې له همدې لارې ووځي چې زهٔ ورځم؟ او يا دويم سړی، لومړي هغـهٔ ته ووايي: پـهٔ هغې لارې چې تـهٔ وځې، زه هم بايد لاړ سم؟

څرګنده ده چې نـــهٔ صاحبه. ښايي ددوی تر منځ کومه اړيکه نـهٔ وي. دوی ځکه په يوې لارې وځي چې يوه دروازه ده.

لويه پاچا! همداسي د بصيرت په هکله خبره هم ده

اوس هغه بېلګه راکړئ چې د خوی له کبله فکر هغه مهال رامنځته کېږي چې شته بصيرت رامنځته شي.

تاسو څه فکر کوئ لويه پاچا! که يوه لويه ټاير لرونکي لاسي کراچۍ پر مخ درومي، دويمه هغه به ئـې په کومه لاره لاړه شي؟

په هماغې لارې چې لومړۍ تللې ده.

اوس نو لومړۍ کراچۍ به دويمې هغې ته ووايي چې په کومې لار لاړه [۵۹] او يا دويمه هغه به لومړۍ ته ووايي چې په کومه لاره تللې ده؟

نـــهٔ صاحبه. ددواړو تر منځ کومه اړيکه نـهٔ سته. دويمه هغه خو د خوی او مشرب له لارې په هغې لارې ځي چې لومړۍ تللې ده.

لویه پاچا، همداسي د بصیرت او فکر خبره هم ده

اوس نو هغه ښېلګه راکړئ چي کله چي د بصيرت په رامنځته کېدلو سره فکر څنګه د رابطي له لارې رامنځته کېږي؟

اې پاچا! د محاسبي په هنر کي تل یو نوی تازه کاره نامتجرب او خام وي چي د ګوتو د بندونو یا نښو[1] په کارولو شمېر کوي، همدا شان د علم الحساب په هنر کي خالص او ساده[2] اعداد، د اټکل او تخمین په هنر کي ښايي د پخو شويو غله جاتو حاصل[3]. خو د وخت په تېرېدلو، ممارست او پاملرني دی په متخصص بدلېږي. همداسي ده کله چي بصيرت رامنځته کېږي فکر هم د رابطي له لارې وده کوي.

په دې توګې شيخ همدا شان پوښتنو ته په هماغه شان ځواب ورکاوۀ چي د پوښتني ختنه او تومنه وه ، دا که د اورېدلو په هکله وه، که د خوند که د بوی او یا لمس په هکله: هر یو ئـې پرله پسي یو په بل پسي رامنځته شوی خو رامنځته کېدل ئـې د رابطي له لرلو پرته شوی [۶۰] او همـاغسي چي پورته وويل شول ټول ئـې د طبيعي ميلان له کبله رامنځته شوي دي.

۸- پاچا وويل: ناګه سينا! فکر «فکري تصور[4]» چېـرى دی، آيا احساس تل شتون لري؟

هو کله چي فکر رامنځته کېږي، اړيکه شته ، احساس شته، نظريه شته، د نيت امکان شته ، انعکاس شته او پلټنه شته[5]

---

۹- محترمه صاحبه! د تماس «فسه[6]» مشخصه ځانګړتيا څه ده؟

اې پاچا، لمس[7]

---

[1]- مودا Muddâ ، هينه تي کومبوری Muddâ. Hinati-kumburê د بودا ګهوسه د سمنګلي Sumańgala د لومړي ټوک د ۹۵ پاڼي په پرتلې لړ څه بشپړه شرحه لري. دی وايي ( یم سې وِهجيلي پوروکي الوه جنه سڼکه کوته کيانه هسته مورده ساستريه yam se œhgili purukhi alwa gena sańńa kota kiyana hasta mudra sârstraya ) د لاس د ګوتې هنر، چي د لاس د ګوتو معنی ورځخه اخيستل کېږي او د شمېـرلو لپاره د نښو په توګې ئـې کارّوي. ليکوال

[2]- ګننا Gananâ ، هينه تی کومبوری وايي :اکهيده وو ګنم ساسترې akkhida wu ganam sâstray : پرله پسي شمېـرنه او دا هغه وييکی دی چې بوداګهوسه ئـې په ځير شرحه کوي «تصديقوي چي د شمـېـرلو هغه بڼه ده چي موږ منلی ده» او ښايي موخه ئـې په وروستی اصطلاح کې له مرستې یا نښو پرته حساب وي. دلته موږ د علم الحساب د پرمختګ یوه په زړۀ پورې نښه وينو. په دې چي زموږ ليکوال ليکي چي په ګوتو باندې شمـېرل تر دې دمه مبهمه وه مګر اوس د شمېـرلو معاصر سيستم په عمومي ډول کارَول کېږي. ليکوال

[3] - سڼخا Sańkhâ په تحت اللفظي معنی د " محاسبي معنی ښندي" خو هاردي ئـې په کشتريا وريکشا ويلوکايا کوته فله پرمانيا کياناو سمخايا ساستريا Kshetraya wriksha vilokaya kota phala pramânaya kiyannâwû samkhyâ sâstraya کې پياوړي کوي – ليکوال

[4] - Mano-vińńâna as all through the last section. The reader must not forget that mano is here strictly an organ of sense, on an exact level with eye, ear, tongue, &c.

[5] - Ketanâ, vitakko, and vikâro. See fuller further on, §§ n, II. 13,14

[6] - Phassa

[7] - Phuşana. So also Buddhaghosa at p. 63 of the Sumańgala.

چې داسې ده نو يوه بېلګه ئې راکړئ

ګرانه پاچا! دا لکه دوه بازوګان دي چې سر پر سر پر يو بل باندې کښېښنودل شي. او يو ځا کېدنګ ئې سترګه د يوۀ بازو په شان ويني او تماس د دواړو اتحاد دی

يوه بله بېلګه ئې راکړئ

دا لکه د موسيقي[1] په آلاتو کې ضربتي ساز ته ورته ده چې دوه اوسپنيني پلنې پاڼې د يو بل پر سر کښېښنودل شي او د ضربت په راوړلو له دواړو يو کړنګ پورته کېږي (د عربي صنج – ژ). چې يوه ئې سترګه او بل ئې شي «جنسي ذات» دی او د دواړو اتصال هماغه تماس کېږي

ډېر ښـۀ ناګه سينا

---

۱۰- محترمه صاحبه د شعوري احساس « وِدَنا [2]» ځانګړې نښه څه ده؟

لويه پاچا! چې متجرب اوسي او خوند واخلئ[3]

يوه بېلګه ئې راکړئ

دا لکه د پاچا د يوۀ خدمتګار د بېلګې په شان ده. پاچا يو سړی ځان ته د خدمت لپاره[4] ټاکلی اوله خدمته ئې خوښ سوی نو يو مقام ئې ورته ورکړی دی. په همدغـۀ مقام کې دی بشپړ واک لري، او په ټول احساس ورڅخه خوند اخلي په همدې سره دی له ځان سره فکر کوي : ما خو د پاچا خدمت کړی دی. د همدغۀ خدمت په بدل کې پاچا زما له خدماتو خوښ دی نو ځکه ئې ما ته دا مقام راکړی دی. د همدغو خدماتو په بدل کې ول چې ددغـۀ مقام په لرلو خوندونه اخلم. – دا لکه د هماغـۀ سړي [۶۱] په شان ده چې د خپل بيا زېږون په پړاو کې ئې ښـۀ چلند کړی وي او له مرګ وروسته ئې جسم منحله « خاوری – ژ» شوی وي او په جنت کې له برکاتو ډک خوښ ژوند تېروي. نو کله چې دی په خپل ټول شور او احساس اوس له جنته خوندونـه اخلی نو له ځان سره فکر کوي چې : ما خو پخوا ډېر ښـۀ کارونـه کړي دي. د همغو ښو خدماتو په بدل کې ول چې نن دا نعمت را په برخې شوی دی. لويه پاچا د التذاذ تر لاسه کول او خوند اخيستل هغه څه دي چې د احساس نښه جوړوي.

ډېر ښـۀ ناګه سينا

---

[1] -Sammâ, compare Theri Gâthâ, 893, 911.
[2] - Vedanâ
[3] - Buddhaghosa, loc. cit, only gives the first of these.
[4] - See for a similar illustration above, II, *2*, 7, p. 76.

۱۱- ناګه سینا! د فکر/آيډیا (سنا) د تمیز ځانګړتیا څه ده؟

اې پاچا! تشخیص[1]

نو دی به څه شی تشخیص کړي؟

شینوالی، ژړ والی، سور والی، سپینوالی او نصواري والی

یوه بېلګه ئې راکړئ

اې پاچا! دا لکه د پاچا د خزاني په شان ده، کله چې پاچا خپلې خزانې ته ننوزي نو د خپل ملکیت شیان ویني چې په بېلابېلو رنګونو دي، او تشخصیوي چې (داسې شیان لري). له همدې کبله ده لویه پاچا چې تشخیص د فکر نښه ده.

ډېر ښـۀ ناګه سینا

---

ناګه سینا! د ممکنـه مقصود (کیتـَنـا[2]) د تمیز نښه څـۀ ده؟

اې پاچا د فکري بصیرت لرل او چمتو[3] اوسېدل

یوه بېلګه ئې راکړئ

اې پاچا! دا داسې یوۀ سړي ته ورته ده چې زهر جوړوي او دا زهر هم خپله او هم ئـې پر نورو باندې څښي. دی به په خپله د نورو په شان د زهر د څښلو له کبله وکړېږي او د درد احساس به وکړي. په همدې شان یو بل سړی پیدا کېږي او په بد نیت په قصدي ډول دغـۀ شریر عمل ته لاس اچوي، دا سړی به د خپل جسد له انحلال وروسته په برزخ[4] کې په ډېر ویر کې وکړېږي او همدا شان نور هغه کسان به ددۀ په شان وکړېږي چې ددۀ پر لارې ځي. اې پاچا! همدې بېلګې ته برعکس بل سړی غواړي د حیواني غوړیو، کوچو، نباتي غوړیو، انګبینو او ګوړې یوه ګډوله جوړه کړي چې هم ئـې خپله وڅښي او هم ئـې پر نورو باندې وڅښي. دی به خپله له څښلو څخه خوندونــه واخلي او هم به نور ورڅخه خوند واخلي. [۶۲]. همدۀ سړي

---

[1] - So also Buddhaghosa, Sumańgala, p. 63.

[2] - Ketanâ

[3] - بودا ګهوسه د کینتا Ketanâ نښه نـــۀ ورکوي خو دوه ټکي ورکوي " چمتووالی" د مرکباتو د نښې په توګې ښیي. د میلینډا په پوښتنو کې څرګنده نـــۀ ده چې د کینتا اصطلاح ئــې تعبیر کړې ده، خو زه د دریمې انګوتړې ۷۷ پاڼه تعقیبوم (چې دا اصطلاح ئــې د استنشاق پر ځای کارَولې ده) او دهما سمګاني ۵ (چې دا اصطلاح د ذهن، تصور او اکتشاف د رابطې په توګې په دې ډول کارولې چې له رابطې څخه رامنځته کــېـږي)- لیکوال

[4] - برزخ :purgatory په عربي کې ئـې المطهر بللی دی او د عیسویت په باور دا ځای د هغو ګنهکارانو لپاره لنډ مهالی ځای دی چې په نړۍ کې ئـې ګناه ګانې کړي او تر هغه مهاله به وکړېږي تر څو له ګناهانو څخه پاک شي. دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره په عیسوي لیکنو کې په شپږمې زېږدېزې پېړۍ کې وکارَول شوه او موخه ئـې هغه کسان دي چې په دنیوي ژوند کې د خدای د لارې په مینې کې مړۀ شي خو له ګناهانو خالي نـۀ وي. دوی به هغه مهال جنت ته لاړ شي چې په دغـۀ لنډ مهالي ځای کې له ګناهانو پاک شي. عیسوي پروتستانت دا ځای نـۀ مني. – ژباړونکی

ته ورته یو بل سړی په ښـۀ نیت قصداً د ښـۀ عمل تر سره کولو ته لاس اچوي. دی به له مرگ او د جسد له انحلاله وروسته په جنت کې په خوندور او متلذذ حالت کې وي او هغه کسان به هم ددۀ په شان وي چې ددۀ په شان ئـې عمل کړی وي. له دې کبله ده لویه پاچا چې د تصور امکانیت او چمتو والی دواړه د ممکنـه مقصود نښې دي.

ډېر ښـۀ ناگه سینا

---

۱۲- ناگه سینا! د ادراک «وینـه نــه[1]» د ځانگړتیا نښه څه ده؟

پـېـژندنـه[2] لویه پاچا

یوه بېلگه ئـې راکړئ

دا لکه د یوۀ ښار د یوۀ ساتندوی بېـلگې ته ورته دی چې د ښار په منځ کې د سړکونو د تقاطع په ټکي کې ناست او گوري چې څوک له ختیځه، یا سویله، یا لویدېزه او یا شماله راځي. اې پاچا، همدا شان دا سړی په خپلو سترگو شیان ویني، په غوږونو،غږ اوري، په پوزې بوی احساسوي، په ژبې د یوۀ شي خوند څکي او یا ئـې که ځان په څه شي وموښلي نو تماس او یا د ذهن له لارې د یوۀ شي څرنگتیا او کیفیت تشخیصوي. له همدې کبله ده لویه پاچا چې پـېـژندنه د حسي ادراک نښه ده.

ډېر ښـۀ ناگه سینا

---

۱۳- ناگه سینا! د انعکاس «ویته که [3]» ځانگړې نښه څه ده؟

د یوې موخې اغېـزمنول[4]

یوه بېلگه ئـې راکړئ

دا لکه د یوۀ ترکاڼ کار ته ورته ده لوی پاچا چې د یوۀ ښکلي فیشني لرگین شي د ټوټو د پیوستون لپاره د ښلولـنگ یو ښکلی اتصالی مفصل جوړ کړي. له همدې کبله ده چې د یوې موخې اغـېـزمنول د انعکاس نښه ده.

ډېر ښـۀ ناگه سینا

---

[1] - Vińńana
[2] - Vigânana. So also Buddhaghosa, loc. cit., and below, III, 7. 15, P- 13
[3] - Vitakka
[4] - Appanâ, which Hinati-kumburê renders pi hitana. Buddhaghosa, p. 63, gives abhiniropana as its mark, which comes to much the same thing.

۱۴- ناګه سینا! د پلټـنـي «ویکاره[1]» ځانګړې نښه څه ده؟

ټکول او بیا ټکول[2]

یوه بېلګه ئـې راکړئ

دا لکه یو مسین لوښی دی کله چې یو پېښ په خپل ستېک مس ته بنه او شکل ورکوي [۶۳] نو د شکل ورکولو پر مهال غږ پورته کـېـږي او کرار کرار مس د لوښي بڼه[3] راخپلوي. له مسو څخه لوښي ته اوښتنګ انعکاس دی او په ټکولو کې د مس ترنګهار چې په ځلونو ځلونو پورته کـېـږي پلټنــه ده. له دې کبله ده لویه پاچا چې ټکول او بیا ټکول د پلټني نښه ګڼل کـېـږي. ډېـر ښـــهٔ ناګه سینا

همدلته دریيم څپرکی پای ته رسـېـږي[4]

[1] - Vikâra
[2]- Anumaggana. So also Buddhaghosa, loc. cit. p. 63. The word is not in Childers, but see Morris in the Journal of the Palî Text Society, 1886, p. 118.
[3] - Anuravati anusandahati. Not in Childers. Hinatî kumburê says pasuwa anurâwanâ kere da anuwa pihitâ da.

[4]- راتلونکي دوی برخي ددغـهٔ څپرکي ضمیمه جوړوي او له هغي ضمیمي سره برابر سمون یا تطابق مومي چې د دریيم کتاب د اووم څپرکي دروروستی ي برخي جوړوي. په دي توګي ددوو برخو اینودل شوي شمـېـرې په دواړو کي پرله پسي راغلي دي. لیکوال

# دويم کتاب

# دریيم څپرکی

۱۵- پاچا وويل : پورته مو ياده کړه چې دغه حالات «چې ځانګړې نښې ئـې مخکې څرګندې شوې» له يو بل سره تړلي دي آيا دا شوني ده چې هر حالت له يو بله بېل شي[1] او هر يو ئــې يوې يوې خوا ته کښــېــږدو او تر منځ ئـې توپير په زغرده څرګند کړو او بيا ووايو چې : دغه تماس دی، دغه احساس دی، دغه نظريه ده ، دا قصد دی، دا ادراک دی، دا انعکاس دی او دا پلټنــه ده[2]؟

نــه داسې نــۀ شي کېدی

يوه بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا داسې و انګېرئ چې په سلطنتي پخلنځي کې پخلنګر «آشپز» غواړي يوه ښوروا يا د ښباک يوه ګډوله جوړه کړي چې په هغې کې مستې، مالګه، سونډ، زېره، مرچ او نور شيان واچوي. او بيا داسې وانګېرئ چې پاچا له پخلنګر څخه غواړي اوس له دې ښوروا څخه د مستو، مالګې، سونډو، زېرې[3]، مرچو او نورو شيانو خوند هر يو ورته جلا کړي. لويه پاچا! آيا دا به پخلنګر ته شوني وي چې دا ګډ شوي شيان چې په يو بل کې منحل شوي دي له يو بله بېل کړي او ودې وايې چې دا تريو والی دی، دا مالګين توب دی، دا تېز والی دی، دا تيزابي خوند دی، دا تريخوالی دی او دا خوږوالی دی[4]؟

نــه دا شوني نـــۀ ده. [۶۴] خو له دې سره سره د هر شي خوند به د هغوی د ځانګړتيا له مخې د څکلو پر مهال روښانـه وي.

لويه پاچا! د ويل شويو حالاتو په هکله زموږ خبرې هم همدغسې دي.

---

[1] - وينيب بهوجيتوا وينيب هو جيتوا Vinibbhugitvâ vinibbhugitvâ. دا پوښتنه هماغې پوښتنې ته ورته ده چې له بودا څخه د ۴۳ مګهيمه نيکايه Magghima, Nikâya په ۲۹۳ پاڼي کې شوې ده. همدا شان پرتله کړئ ۲۳۳ پاڼه او ۵۹ تيله کتاها ګاتها Tela Katâha Gâthâ – ليکوال

[2] - This list differs from that in II, 3, 8, by the addition of Vińńâna.

[3] - جيرَکه Giraka : پرتله کړئ ګاتکه Gâtaka I, 244; II, 181, 363. هيناتي کومبوري ئـې دورو duru او هاردي p. 439 ئـې پياز ژباړي- ليکوال يادښت : د جيرَکه وييکی په پالي کې په زړه پورې دی چې په سانسکريت کې ئـې هم جيرکه जीरक ويلی دی او پښتو کې زيره شوی دی. دلته له ج څخه و ز ته اوښتون شونی دی او موږ په پښتو کې زيره لرو. ژباړونکی

[4] - دا هماغه ليست دی چې پورته ددويم کتاب ددريم څپرکي په شپږمې پاڼې کې ويل شوی دی او هم وګورئ دريم کتاب څلورم کتاب دويمه پاڼه او له ورکړل شويو اقلامو څخه موخه ددې لپاره نـــۀ ده چې د پورته ورکړل شوي ليست سره په برابرئ يو خوند ولري- ليکوال

۱۶- شيخ وويل : اې پاچا! آيا مالگه په سترگو د پېـژندلو /تشخيص وړ ده؟

هو صاحبه، کېږي

گرانه پاچا! په دې ځواب کې احتياط کوئ

ښه نو صاحبه، آيا خوند ئـې په ژبې تشخيصـېـږي؟

هو، همدا خبره ده

مگر صاحبه! آيا دا يوازې ژبه ده چې د هر ډول مالگې خوند پېـژني؟

هو، هر ډول مالگه

که داسې وي صاحبه نو ولې پر سخوندرو باندې بگی بگی مالگه راوړلې ؟ آيا دا مالگه نـۀ ده او بل هـېـڅ شی نـۀ دي چې په دې ډول دې راوړل شي[1]؟

ناشوني ده چې مالگه دې په خپل سر راوړل شي مگر دا چې د راوړلو لپاره ئـې ټول حالات سره يو ځای او په يوۀ حالت واوړي[2] او يو مشخص شی ورباندې توليد شي چې په پای کې مالگه بلل کېږي[3]. (د بېـلگې په توگې) مالگه درنده هم ده. خو اې پاچا دا شوني ده چې مالگه دې وتلل شي؟

څرگنده ده چې هو صاحبه

نـــۀ، لويه پاچا، دا مالگه نـۀ ده چې تاسو ئـې تـَلئ، دا وزن دی چې تاسو ئـې تـَلئ

---

[1]- د ژباړونکي يادونه: دلته ئـې دا انگليسي غونډله يا جمله په همدې ډول راوړې چې ما وژباړله، زۀ ئـې په ژباړې ډاډه نـۀ يم. يوازينی معنی چې زه ورڅخه اخيستی سم دا ده چې په هغـۀ مهال کې لکه د نن په شان په هند او معاصر پاکستان او بنگله ديش کې له غوايانو او سخوندرو څخه د ترانسپورت د وسيلې په توگې کار اخيست.

[2]- نـۀ يوازې مالگه بلکه سپين رنگ او نور او نور.... ليکوال

[3]- د ناگه سينا موخه دا ده چې پاچا په دې پايلې قانع کړي چې مشخص شيان يوازې د ژبې له لارې د پېـژند او تشخيص وړ دي؛ له دې کبله حسي ادراکات د معاوضې وړ نـۀ دي. په بلې وينا دا سمه ده چې مالگه ظاهراً هغه مهال په ليدنگ پېـژندل کېدی شي چې خلک ئـې په بگيو کې راوړي او خوند ئـې نـۀ څکي. خو په حقيقت کې دا مالگه نـۀ ده، هغه څه چې دوی تلي مالگه نـۀ بلکه سپين والی او دروندوالی د تللو لپاره دی. او دوی ئـې چې د مالگې په نامـۀ پېـژني ددوی خپل استنتاج دی. له دې کبله لويه پاچا، ستاسو تشبيه چې روح په جسد کې دننه ده، او پينځه احساسات کارَوي سمه نـۀ ده او دې ته ورته ده لکه چې يو سړی د يوۀ کالـۀ له کړکی څخه کار واخلي. وگورئ پورتنی پايله II, 3, 6, p. 88 ليکوال

په دې ځای له ناګه سینا څخه د میلینډا پوښتنې پای ته رسېږي[1]

---

[1]- دا عجیبه ښکاري. ښايي څوک ووايي چې دلته په دې ځای د ځانګړتیاوو د نښو په هکله پای ته رسېږي. وګورئ : د وروستي څپرکي په پای کې یادښت- لیکوال

# دریيم کتاب

## ویمَتي کهډَنـه پـڼــهو[1]

## د سختیو له منځه وړل

# ڂلورم څپـرکی[2]

۱- [۶۵] پاچا وویل : ناګه سینا، آیا پینځه آیته ګاني[3] «سترګه، غوږ، پزه، ژبه او جسم» د بېلابېلو افعالو یا د یوۀ فعل له لارې رامنځته کېږي؟ «یعنی د بېلابېلو کرماګانو یا د یوې کرما له لارې»

د بېلابېلو افعالو له لارې، نـۀ د یوۀ فعل له لارې

یوه بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا! تاسو څـۀ ګومان کوئ که زه په یوۀ ټپي کې پینځه ډوله تخمونــه وکرم، آیا زه به په حاصل کې ورڅخه بېلابېل تخمونـه تر لاسه کړم که یو تخم؟

څرګنده چې هو

همدا خبره د آیته ګانو د تولید په هکله هم صادقه ده

ډېر ښـۀ ناګه سینا[4]

---

۲- پاچا وویل : ناګه سینا! ولې ټول انسانان یو شان نـۀ دي، یو شمــېـر لنډ ژوند لري، یو شمــېــر ئـې اوږد ژوند لري، یو شمــېــر ئـې ناروغه دي، یو شمــېــر ئـې روغ رَمټ دي، یو شمــېــر ئـې بد رنګه یو شمــېــر ئـې ښکلي، یو شمــېــر

---

[1] - VIMATI-KKEHDANA-PAŇHO

[2]- د څپرکیو شمــېــرو همداسې دوام موندلی دی ځکه دویم او دریيم کتابونه په حقیقت کې د یوۀ کتاب دوې برخې دي. وګورې پورته: څلورمه پاڼه- لیکوال

[3] Âyatanas - یا پالي لیکدود आयतन په پالي ژبې کې د سیمې، ساحې، چاپېریال او حسي اعضاوو په معنی ده- ژباړونکی

[4]- ددې پاراګراف معنی او ژباړه آسانه نـۀ ده، ځکه د آیته نا وییکی یا د حسي غړو یا فزیکي «جسمي غړو» لپاره کارَول کېږي؛ او په خپله متن کې هم داسې څه نـۀ دي ویل شوي چې څوک دې ورڅخه معنی واخلي. ښایي موخه ئـې ښـۀ لید، اورېدنګ او نور وي چې د هر زېږون په یوۀ پړاو کې د تېر وروستي زېږون د جلا کرما پایله وي. خو زه وربانديې ډېر ډاډه نـۀ یم او په ۷۶ پاڼې کې سیمهالي متن هماغومره مبهمه دی چې په خپله پالي متن مبهمه دی. لیکوال

ئـي په ژوند کي اغيزناک دي يو شمــېــر ئـي ډېر ځواکمن دي، يو شمــېــر ئـي شتمن دي يو شمــېــر ئـي نيستمن، يو شمــېــر ئـي له ټيټ ذاته دي يو شمــېــر ئـي له لوړ اصيل ذاته دي، يو شمــېــر ئـي ليوني او يو شمــېــر ئـي هوښيار دي؟

شيخ ځواب ورکړ چي :ولي ټول سبزيجات سره يو شان نـهٔ دي، يو شمــېــر ئـي تروهٔ دي، يو شمــېــر ئـي مالگين، يو شمــېــر ئـي تيز خوند لري، يو شمــېــر ئـي تراخـهٔ او تيز او يو شمــېــر ئـي خوارهٔ دي؟

صاحبه زما په خيال دليل ئـي دا دی چي هر يو ئـي ځانته جلا جلا تخمونـه لري.

همداسي ده لويه پاچا، تاسو د انسانانو په منځ کي توپيرونو ته گوته ونـېـوله، هغوی هم همداسي دي. په همدې هکله هغـهٔ مبارک ويلي چي :اې برهمنـــه، ټول موجودات هر يو ئـي ځانته خپله کرما لري، موجودات د کرماگانو وارثين دي، دوی د خپل قوم په کرما پورې متعلقه دي، دوی د کرما له لارې سره خپلوان دي، هر يو ئـي خپله کرما د خپل ساتندوی مشر په توگي لري. دا کرما ده چي دوی سره په لوړ او ټيټ او يو بل ته په ورتـه ويش[1] له يو بله بـېـلوي.

ډېر ښـهٔ ناگه سينا

---

۳- پاچا وويل: ناگه سينا! تاسو راته وويل چي له دنيا څخه ستاسو خلکو لاس اخيستنه ددې لپاره ده چي په دې سره به اوسنی کړاو پای ته ورسـېـږي او دا کړاو به د تل لپاره له منځه لاړ شي او په راتلونـکي کي به رامنځته نـهٔ شي[2].

[۶۶] هو همداسي ده

آيا دا دنيا پرېښودونه مو د پخوانيو هلوځلو په مټ تر سره کـېـږي او يا په اوسمهال کي، سر له همدا اوسه ؟

شيخ ځواب ورکړ: د اوسمهال هڅي د هغو کړاونو لپاره دي چي لا تر اوسه پاتي دي، پخواني هلي ځلي د هغو کړاونو لپاره وې چي بايد شوې واې.

يوه بـېـلگه ئـي راکړئ[3]

---

[1]- ښاغلی ترنـکنر وايي چي دا پوښتنه له ۱۳۵ مگهيمه Magg-hima څخه را اخيستل شوې ده. همدا خبره په څو ځله بل چـېـرې په پيټه گانو کي هم راغلې ده. د بـېـلگي په توگي انگوتره څلورمه Ańguttara IV, 197 (pp. 202-203 of Dr. Morris's edition for the Pâli Text Society). ليکوال

[2] - Above, II, 1, 5, p. 50, and compare I, 38

[3] - These three illustrations recur (nearly) below, III, 7, 3, pp. 125-126.

اې پاچا! تاسو څـهٔ گومان کوئ؟ کله چې تاسو تږي سئ آیا له تندې وروسته غواړئ د خپلې تندې ماتولو لپاره په دې هیلې یوه څاه یا یو مصنوعي لښتی وکېندئ چې اوبـهٔ ورڅخه تر لاسه کړئ؟

ځرگنده ده چې نـه صاحبه

نو د اوسنیو هڅو خبره هم همداسې ده، هغه کړاونـه چې پاتې دي باید د هغوی د له منځه وړلو لپاره اوسمهال هلې ځلې وشي، پخوانی هلې ځلې د هغو کړاونو لپاره وې چې پر وړاندې ئـې هڅې شوې وې.

یوه بله بېلگه ئـې راکړئ

اې پاچا! تاسو څـهٔ گومان کوئ؟ کله چې تاسو وږي سواست نو له لوږې وروسته غواړئ په دې هـېـلې یو پټی قلبه کړئ او تخم په کې وکرئ چې د خوراک لپاره ورڅخه خواړهٔ تر لاسه کړئ؟

ځرگنده ده چې نـه صاحبه

نو د اوسنیو هڅو خبره هم همداسې ده، هغه کړاونـه چې پاتې دي باید د هغوی د له منځه وړلو لپاره اوسمهال هلې ځلې وشي، پخوانی هلې ځلې د هغو کړاونو لپاره وې چې پر وړاندې ئـې هڅې شوې وې

یوه بله بېلگه ئـې راکړئ

اې پاچا! تاسو څـهٔ گومان کوئ؟ که ستاسو پروړاندې یو سمبال لښکر د جگړې لپاره ودرېږئ آیا تاسو د میرځمن د لښکرو له رسـېـدو وروسته د خندقونو د کېندې، د مورچلونو د جوړونې، د ځار کوټونو د جوړونې، د استحکاماتو د جوړونې او د خوراکي توکو د زېرمتونونو د جوړونې په فکر کې کېږئ؟ آیا له دې وروسته تاسو د فیلانو د سمبالونې، یا جنگي آس سپرو، یا د غیشو او لیندۍ ویشتـنې د بگیو د چمتو کولو او روزنې او یا د دفاعي استحکاماتو د هنر په فکر کې کېږئ؟

ځرگنده ده چې نـــه صاحبه

نو د اوسنیو هڅو دلیل هم دا دی چې د هغو شیانو لپاره باید وشي چې پاتې دي، پخوانی هڅې خو د هغو کړاونو لپاره شوې وې چې باید له منځه تللې وای. د همدې دلیل لپاره اې پاچا هغـهٔ مبارک ویلي چې:

پرېږدئ چې هر هوښیار انسان مخکې له مخکې د ستونزو د هوارولو داسې وړتیا ولري
چې په هغـهٔ کې خپل خیر او نیکمرغي ووینې!
دی نـــهٔ باید د کراچي وان د فکر په شان وي بلکه ټینگ او ثابت وي
پرېږدئ چې دی خپل گام نیغ او په ځـیـر اوچت کړي
کراچي وان به لوړې آسانې لارې ووهي

خو کله چي په سختو او له ګړنګونو ډکو موړونو او نا بلدو سړکونو باندې اوړي په آسانی د ناتوانی په فکر کې ډوبېږي[1]
د همدغـۀ کراچي وان په شان جواريګر هم دی چي د جواری پر مهال ټولي د قمار داني په ګواښ کي اچوي او بايلوي ئـي
ضعيف فکری انسان هم همدا شان دی چي تر دې دمه له ښـېـګـنـو او خير څخه سترګي پټوي
او د شرارت پر لارې درومي، خو کله چي د مرګ ځواکمنو منګولو ته لوېږي، په زړۀ کي دننه وير کوي
دی هماغـۀ قمار بايللي جواريګر ته ورته دی چي د اړتيا د ساعت[2] پر مهال ځان کړوي

[۶۷] ډېـر ښـۀ ناګه سينا

---

۴- پاچا وويل : تاسو «بودايان[3]» واياست : چي د دوزخ اور تر عادي اور ډېـر پياوړی او سوځوونکی دی. که په يوۀ عادي اور کي يوه وړوکي ډبره واچول شي پرته له دې چي له منځه لاړه شي ښايي تر څو ورځو پورې لوګی وکړي؛ خو که ددغــۀ معبد د ګنبدی په شان يوه لويه ډبـره د دوزخ په اور کي واچول شي نو په هماغه شيبې به په بشپړ ډول له منځه لاړه شي. زه په دې خبرې هـېـڅ باور نـۀ شم کولی. او له بلې خوا تاسو واياست : هر ډول موجود چي وي بيا زېږون مومي، سره له دې چي دا موجود د زرهاوو کلونو لپاره په برزخ کي پاتي وي، بيا هم له منځه نـۀ ځي. دا هم هغه څـۀ دي چي زه ئـي نـۀ منم.

شيخ وويل :اې پاچا تاسو څه ګومان کوئ؟ آيا د شارک[4] د کبانو، تمساحو، کيشپانو، طاووسانو او کوترو ښځينه کلکې ډبرې او شګي نـۀ خوري؟

---

[1]- ګهايتي Ghâyati : دا يوه استنثاء ده چي دا وييکی د خپل اشتقاقي مصدر له مخي دوې معنی ګاني لري يا د «سوځـېـدلو» يا د « فکري عبادت کولو» په معنی دی، او ددغو معنی ګانو په پام کي نيولو سره دلته کـېـدی شي «سوځـېـدنګ» يا «په فکر کې ډوبـېـدنګ» وي. خو دلته ئـې حقيقي معنی هماغه دويمه معنی ده نه لومړنۍ معنی چي له مصدر څخه ئـې اشتقاق شوې ده، او په همدې معنی ددريمې ګاتکې په ۳۵۴ پاڼې کې په څرګنده راغي دي او دلته د ګايتي وييکی په مرکبه بڼه د پګ ګهايتي pagghâyati په ډول راغلی چي چې «د يوۀ شي په هکله په فکر کې د ډوبـېـدنګ» په معنی راغلی دی. ليکوال

[2]- دا د دويمې سمي يوتا نيکايه د دويمې او دريمې پاڼې Samyutta Nikâya II, 3, 2 (p. 57 in M. Feer's edition, published by the Pâli Text Society) له مخې اخيستل شوې ده. دلته ددغې برخې لوستـنــه زموږ د متن له بنې لږ څه توپير لري، او پورتنی ويل شوی شعر د بودا پر ځای د کهمه/ خمه Khema يا د خدای خولې ته ويل کـېـږي. هينه تي کيمبوري په ۷۹ پاڼې کې Hinatî-kumburê (p. 79) په وروستۍ کرښې کې د ښاغلي ايم ليون فري M. Léon Feer له ژباړې سره همغږی دی چي دا کرښه د مانو لپاره لولي؛ او ما په خپلې ژباړې کې د هغوی ژباړه په پام کې نيولې ده. د ګاتکه Gâtaka په کتاب کې څو شعري بندونه دي چي په دښتي کې د يوۀ ورک شوي کراچي وان په هکلې ده خو په دغو شعرونو کې داسې شی نـۀ شته چي هغه دې دلته په يادې شوې قصې پورې اړوند وبلل شي. ليکوال

[3] -'You ' in the plural: that is,'you Bhikkhus.' So also above, PP- 30, 50.

[4]- دلته يوۀ ټکي ته بايد پام وکړو چي د يادو شويو ژويو او ښارويو ښځينه بڼې په هرې ډلې کې غير عادي دي چي د «inî» د غږ پر ځای ورته يوازې د ساده «î» غږ د نومونو په پای کې راغلی دی. لومړی ښاروی چي مکـَـريني Makarinî دی چايلدرز د يوۀ افسانوي حيوان په ډول ژباړلی

هو صاحبه، خوري ئـي

ښه نو بيا څـهٔ؟ اوس راته ووایاست کله چې دوی دا ډېرې خوري او دننه ددوی نس ته ځي آيا دا ډېرې له منځه ځي؟

هو له منځه ځي

او هغه جنینونه چې د همدغو حیواناتو په ګېډو کې شته هم له منځه ځي؟

څرګنده ده چې له منځه نـهٔ ځي

ښه نو ولې له منځه نـهٔ ځي؟

صاحبه زه ګومان کوم چې دوی د کرما د اغیزې له کبله له منځه نـهٔ ځي

همداسې ده لويه پاچا، دا د کرما د اغیز له کبله ده چې که موجودات د زرهاوو کلونو لپاره په برزخ کې پاتې شي بيا هم له منځه نـهٔ ځي. که دوی همدلته بيا زېږون مومي، بيا هم وَده کوي، لويېږي او مړهٔ کېږي. په دې هکله اې پاچا هـغـهٔ مبارک په څرګنده ويلي چې:

تر هغو به څوک ونـهٔ مري چې شريره کرما له پښو نـهٔ وي غورځول شوي[1]

يوه بله بېلګه ئـي راکړئ

اې پاچا تاسو څه ګومان کوئ؟ آيا د زمريانو، ببرانو، پړانګانو او سپيو ښځينـه کلک هډوکي او کلکي غوښې نـهٔ خوري؟

هو دوی همداسې شيان خوري

ښه نو بيا څـهٔ؟ اوس راته ووایاست کله چې دوی دا کلک شيان [۶۸] خوري او دننـه ددوی نس ته ځي آيا دا کلک شيان له منځه ځي؟

هو له منځه ځي

او هغه جنینونه چې د همدغو ژويو په ګېډو کې شته هغه هم له منځه ځي؟

---

دی، خو د پينځمې انګوتړې په لومړۍ او څلورمې پاڼې کې د بوداګهوسه له ليکنې په څرګنده ښکارې چې دلته موخه يو عادي ځاروی دی، او دا زه د خپل ګومان له مخې وايم او په دې باور يم چې ما دلته « شارک» د ګومان او حدس له مخې راوړلی دی. ليکوال

[1] - From Ańguttara III, 35, 4 (p. 141 of Dr. Morris's edition for the Pâli Text Society).

ځرګنده ده چې نــه

ښه نو ولې نــه؟

صاحبه! زما په ګومان چې د کرما د اغیز له کبله له منځه نـهٔ ځي

لویه پاچا همدا خبره ده چې موجوات که په زرهاوو کلونو په برزخ کې هم وي بیا د کرما د اغیز له کبله له منځه نـهٔ ځي.

یوه بله بېلګه ئـې راکړئ

ښه نو اې پاچا، تاسو څه ګومان کوئ؟ آیا د یوناکه ګانو، د اشرافو، برهمنانو او نورو نازکې نرۍ ښځې کلک کیکونه او کلکې غوښې نـهٔ خوري؟

هو دوی داسې شیان خوري

نو کله چې دوی دا نازکې ښځې چې داسې کلک شیان خوري او دا شیان ددوی نسونو ته ځي آیا په نسونو کې ئـې نـهٔ حل کېږي؟

هو کــېږي

خو هغه بچیان چې ددوی په رحم کې دي هم له منځه ځي؟

ځرګنده ده چې نـهٔ ځي

ښه نو ولې له منځه نـهٔ ځي؟

صاحبه، زما په باور دا د کرما د اغیز له کبله ده چې له منځه نـهٔ ځي؟

لویه پاچا همدا خبره ده، موجوات که په زرهاوو کلونو په برزخ کې هم وي بیا د کرما د اغیز له کبله له منځه نـهٔ ځي. که دوی دلته بیا زېږون مومي، همدلته وَده کوي او همدلته مري. په همدې هکله هغـهٔ مبارک په ځرګنده ویلي چې : تر هغو به ځوک ونـهٔ مري چې شریره کرما له پښو نـهٔ وي غورځول شوي

ډېر ښـهٔ ناګه سینا

---

۵- پاچا وويل : ښاغلی ناگه سينا! ستاسو خلک واياست چې دنيا د اوبو پر مخ ولاړه ده، اوبـهٔ د هوا پر مخ ولاړې دي او هوا په تشيال يا فضا[1] کې ده. دوی چې دا خبره کوي زه ئـي نـهٔ شم منلی.

شيخ د اوبو په يوهٔ لوښي کې اوبـهٔ راوړې او وئـي ښورولې[2] او پاچا ميليندا ته ئـې ددې په ويلو قناعت ورکړ چې : له دې چې دا اوبــهٔ د لوښي په چاپيريال کې راگير دي نو همداسي په هوا کې هم راگير دي.

ډېر ښـهٔ ناگه سينا

---

۶- پاچا وويل : آيا پرېکون/ مقاطعه[3] نيروانا[4] ده؟

هو ښاغلی اعليحضرت [۶۹]

دا څنگه، ناگه سينا؟

اې پاچا! ټول ساده او احمق کسان له «دنني –ژ» احساس او باندني احساس څخه خوند اخلي[5]، په هغو کې لېـوالتيا، شوق او ذوق ويني، او په هغو پورې نښتلو ته دوام ورکوي. همدلته ده چې دوی د همدغـهٔ «انساني نفساني غريزې» سيلاب په منگولو

---

[1]- دا مشخصاً د بودايانو عقيده نـهٔ ده. دا باور په هماغـهٔ وخت کې د نورو لارښوونکو له پلوه ويل شوې ده. پرتله کړئ : Book of the Great Decease,' III, 13 (in 'Buddhist Suttas,' Sacred Books of the East, vol. xi, p. 45).

[2] - دهماکره کِنه Dhamma-karakena دا عبارت ښيي چې لوښي ئــې په داسې بڼې جوړول چې اوبـهٔ ورڅخه نـهٔ تېـرېدلې يا نـهٔ لوېدلې، اوبـهٔ هغه مهال له لوښي څخه تېـرېدلې چې د فلتر کولو يوه وسيله به ئـې په کار واچوله. کله اوبـهٔ نـهٔ کارَول کېـدې نو شک نـهٔ شته چې په لوښي کې شته اوبـهٔ تر يوهٔ ځانگړي لوړوالـهٔ پورې د اتموسفير د فشار په وسيلې ساتل کېـدې. زه داسې يوه بېـلگه نـهٔ وينم چې زموږ په معاصرو لرغونتونونو کې ساتل شوې وي او يا کوم لرغونی حجاري شکل نـهٔ وينم چې پورتنې ويل شوې بېـلگه په کې شرحه شي، د لوښي دقيق شکل څرگند نـهٔ دی. ښايي دا لوښی له هغـهٔ لوښي څخه توپير ولري چې د کنينگهم د بهليسه ټوپ په ۴۸ پليټ کې ښودل شوې ده وگورئ : plate xlviii of Cunningham's 'Bhilsa Tope.' See .Kullavagga V, 13, 1 (note); VI, 21, 3; XII, 2, 1; Mahâvamsa, p. 60

[3] - cessation

[4] - Nirvâna : Nirodho nibbânan ti.

[5]- د ژباړونکي يادونه : په انگريزي متن کې ئـې senses and in the objects of sense راوړي دي چې ما دننه احساس او باندنی احساس وژباړهٔ. دليل ئـې دا دی چې : که په بودايي متونو کې آيه تنه Âyatana راواخلو نو دا شرحه ورڅخه راځي چې : آيه تنه په پالي او سانسکريت کې د بوديزم يوه اصطلاح ده چې د احساس بنسټ، Sense Base د احساس وسيله Sense Media او يا د احساس چاپيـريال Sense Sphere بلل کېږي. هماغسي چې په مخکنيو پاڼو کې مو وليدل په بوديزم کې د احساس شپږ دنني يا کورني Internal Sense Bases دي چې د غړو يا ارگان په نامــــهٔ ياد شوي دي او دا د دروازو، ريښو او يا ځواکونو په نامـهٔ هم ياد شوي دي. موږ په تېـرو پاڼو کې ټول ئـې ياد کړي دي او له بلې خوا د احساس شپږ باندني بنسټونه External Sense Bases دي چې انگريزي ژباړه ئـې Sense objects شوې ده چې کولی شو د حوزې يا دايرې يا دومين په معنی ئـې هم وژباړو. په دې توگې موږ شپږ باندني احساسونه او شپږ داخلي احساسونه لرو چې : سترگه د ليد لپار، پزه د بوی لپاره، غوږ د غږ لپاره، ژبه د خوند د څکلو لپاره او جسم د تماس لپاره رانغاړي. گومان کوم د ژباړې لپاره ئـې همدونې شرحه بس ده-

کې نښلي او سيلاب ئــې پسې اخلي، دوی له زېږون، زړښت او مرګ ، له غم، وير، درد، سوګ او افسوس له کړاوه آزاد نــهٔ دي، - دوی له کړاو څخه آزاد نــهٔ دي. خو اې پاچا! هوښيار کسان، د شريفو کسانو مريدان، نــهٔ له دغو شيانو څخه خوند اخلي، او نـــهٔ ورته لېـوالتيا لري او نــهٔ ئــې په منګولو کې ورنښلي. او هر څومره چې دی ورڅخه ځان لېـرې ساتي نو ددهٔ په ځان کې رغبت[1] پرېکون مومي، او د رغبت په پرېکون سره ، طمع پرېکون مومي ، او د طمعې په پرېکون سره، کېـدنګ او راښکون يا انجذاب[2] پرېکون مومي ، او کله چې کېـدنګ او راښکون پرېک شو نو زېـږون پرېکون مومي، او د زېـږون په قطع کېـدو سره نور زړښت، مرګ، غم، ساندې او وير، درد، افسوس نـهٔ شته او نومـېدي پرېــکون مومي. له همدې کبله ده چې پرېکون د ټولو دردونو او کړاونو پر ټولګې باندې د پای ټکی ږدي. د همدې دليل له مخې ده چې پرېکون، نيروانا ده.

ډېـر ښــهٔ ناګه سينا

---

۷- پاچا وويل : آيا ټول انسانان نيروانا ته ځي؟

نــه اې پاچا! ټول ئــې نيروانا نــهٔ ترلاسه کوي. يوازې عادل او نيک چلنده انسانان پر نيروانا باندې ګام ږدي، هغه کسان نيروانا ته ځي چې هغه شرايط بايد ومني چې بايد ومنل شي،هغه کسان نيروانا ته ځي چې هغه شرايط ووينې چې بايد وليدل شي، هغه کسان نيروانا ته ځي چې له هغو حالاتولاس واخلي چې بايد لاس ورڅخه واخيستل شي، ځان په هغو شرايطو وروزي چې بايد وروزل شي، هغو شرايطو ته تحقق ورکوي چې بايد تحقق ومومي، - نو داسې کسان نيروانا ته ځي.

ډېـر ښـهٔ ناګه سينا

---

۸- پاچا وويل : ښاغلی ناګه سينا! هغه کسان چې نيروانا ته نــهٔ رسېـږي، آيا په دې پوهېـږي چې نيروانا ځوني د خوښۍ او خوشالۍ دولت دی[3]؟

هو پوهـېـږي

نو نيروانا ته له رسـېـدو مخکې څنګه دی پوهـېـږي چې نيروانا لري؟

اې پاچا تاسو څه ګومان کوئ؟ د هغو کسانو چې لاسونــه چې نــهٔ دي پريک شوي په دې پوهـېـږي چې ددغو غړو پريکول څومره خواشينونکي دي؟

هو صاحبه، پوهـېـږي

[1] - Agghosâya titthanti. Compare Ańguttara II, 4, 6, and Theri Gâthâ, 794.

[2] -Tanhâ, Upâdâna, Bhava

[3]- پورته مو په دويم څپرکي کې ددغـهٔ ټکي مخالف ټکی وسپړهٔ «آيا هغه څوک چې نيروانا لري، په دې پوهـېږي چې نيروانا لري که نه». ليکوال

ښه نو څنګه په دې پوهېږې؟

د هغو کسانو د ساندو د وير له مخې پوهېږې چې لاسونه او پښې ئې پريک شوي وي

[۷۰] همداسې ده لويه پاچا! دوی د هغو کسانو د خوښيو ډکو خبرو له مخې پوهېږي چې نيروانا ئې ليدلې ده، هغوی چې لا تر اوسه نيروانا نـهٔ ده ترلاسه کړې ددغو کسانو د غږونو د اورېدلو له مخې پوهېږي چې نيروانا څونې له خوښيو ډک دولت دی.

ډېـــر ښـهٔ ناګه سينا

---

په دې سره څلورم څپرکی پای ته رسېږي

# دریيم کتاب

## پينځم څپرکی

۱- پاچاويل : ناگه سينا! آيا بودا مو په سترگو ليدلی دی؟

نـه صاحبه

آيا ستاسو استادانو بودا ليدلی دی؟

نـه صاحبه

ښاغلی ناگه سينا! له دې ښکارې چې بودا هېـڅ شتون نـهٔ لرې[1]!

لويه پاچا! آيا تاسو د هماليا په غرونو کې د يوها[2] سيند ليدلی دی؟

نـه صاحبه

آيا ستاسو پلار دا سيند ليدلی دی؟

نـه صاحبه

ښه نو ښاغلی اعليحضرت، اوس نو تاسو څنگه ويلی شئ چې هلته په دغـهٔ نامـهٔ داسې سيند نـهٔ شته؟

دا سيند هلته دی خو نـهٔ ما او نـهٔ مې پلار ليدلی دی، خو له دې سره سره هماغلته دی

همداسې ده لويه پاچا! نـهٔ ما او نـهٔ زما استادانو هغه مبارک ليدلی دی، خو له دې سره سره هغه شتون درلود.

ډېـر ښـهٔ ناگه سينا

---

[1]- دا ديالوگ د څلورم کتاب د لومړي څپرکي له لومړي ديالوگ سره بيخي ورته دی. دا د برهما او برهمنانو په هکله په خپله د گاتما Gotama د وراشې د تقليد په ډول ده. (آيا دوی خدای ليدلی دی او نور)، چې په تويگا سوتا Tevigga Sutta I, 12-15 کې راغلی او ژباړه يې دلته شوې ده : ليکوال – 'Buddhist Suttas,' pp. 172-174

[2] - Ŭhâ

۲- پاچا وویل : ناګه سینا! آیا بودا مـُـقــَـدم دی؟

هو، بې جوړې دی

ښه نو تاسو څنګه پوهېږئ چې یو څوک مو هېڅکله نـهٔ وی لیدلی هغه دې مقدم وي؟

اې پاچا! تاسو څه ګومان کوئ؟ یو چا چې په ژوند کې سمندر نـهٔ وي لیدلی هغه به د سمندر په هکله څه فکر کوي: چې یو لوی سمندر څوني پراخ او څوني ژور دی. څنګه به پوهٔ شي چې په سمندر کې پینځه سیندونــه بهېږي؟ ګنګا، جمنا، اکیرَوَتي، سرابهو او مهي؟- آیا په دې بـهٔ پوه وي چې سمندر ډېــرډک دی که ډېــر تش؟

هو خود پوهېږي

همداسي ده لویه پاچا، کله چې د سترو شاګردانو په هکله فکر کوم چې اوس مړهٔ دي نو ګومان کوم چې بودا ساری نـــهٔ درلود. [۷۱]

ډېر ښـهٔ ناګه سینا

---

۳- پاچا وویل: ناګه سینا! آیا نورو ته ممکنـه ده پوهٔ شي چې بودا څنګه مقدم دی؟

هو، ښایي پوهٔ شي.

ښه نو هغوی به څنګه پوهٔ شي؟

اې پاچا! په ډېرو پخوا وختونو کې د شیخ تیسه په نامـهٔ د لیکوالۍ یو استاد وو او له مړینې ئـې ډېر وختونـه تېر شوي دي. اوس نو خلک څنګه نوموړی پېژندلی شي؟

د هغـهٔ د لیکنو له مخې صاحبه

همداسي ده لویه پاچا!

هر هغه څوک چې پوهٔ سي حقیقت څه دی، نو په دې پوهېږي چې هغـهٔ مبارک د حقیقت[1] تدریس کړی وو او ویني چې هغه مبارک څنګه وو.

ډېر ښـهٔ ناګه سینا

---

[1] - Dhamman, here nearly=Buddhism. See below, III, 5, 10.

---

۴- پاچا وویل: ناگه سینا! آیا تاسو حقیقت لیدلی دی؟

اې پاچا ! آیا موږ خپل ځانونه او د خپل ژوندانــهٔ سلوک د بودا تر سترګي او د هــغــهٔ امر ته نــهٔ دی وقف کړی؟[1]

ډېر ښــهٔ ناګه سینا

---

۵- پاچا وویل: ناګه سینا! که ارتحال، نــهٔ وي نو آیا بیا زېږون شته؟

هو، شته

دا څنګه کېدی شي؟ یوه بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا! داسې وانــګېـرئ چې یوهٔ سړي یوه لمپه د بلې لمپې په لمبې بله کړه، اوس ویلی شو چې دې لمپې بلې ته ارتحال موندلی دی یا ئـې بلې ته ارتحال ورکړی دی؟

څرګنده ده چې نـــه

لویه پاچا همداسې د بیا زېږون خبره هم ده چې له ارتحال پرته تر سره کـېږي

یوه بله بـېـلګه ئـې راکړئ

لویه پاچا! کله چې تاسو تنکی هلک واست آیا تاسو ته هغه شعرونـه یا بل څه په یاد دي چې ښوونکي مو درښودلي ول؟

هو په یاد مې دي

ښه نو، آیا دغو شعرونو ستاسو له استاده تاسو ته ارتحال موندلی دی؟

څرګنده ده چې نـه

لویه پاچا همداسې د بیا زېږون خبره هم ده چې له ارتحال پرته ترسره کـېږي

---

[1] - ښاغلی ترنکنر ګومان کوي چې دلته یو ابهام موجود دی؛ او ښایي هینه تي کمبوري هم دغه ابهام تائـیـد کړی وي. نوموړی دا نقل قول داسې ژباړي: « یو څوک چې نـهٔ پوهېږي نو څنګه به په هغه لار لاړ شي نو موږ به څنګه خپل ژوند « د قانون» د وینه یه Vinaya په هغې لارې سمبال کړی وَی چې بودا تدریس کړې وه او د بودا د سترګي په نامـهٔ پېژندل کـېږي او د علم الاخلاق سیکها یَده Sikkhâpada له مخې ئـې بنسټ ایښی وو او د هغـهٔ اوامر بلل کـېږي؟ خو یو شمـــېـــر نور نقل قولونه شته چې سیمهالي بڼه ئـې نـهٔ تائـیـدوي حال دا چې په پالي متن کې داسې ابهام نـهٔ شته؛ او دا نقل قول ښایي یو ډول معما وي چې سمیهالي بڼه ورته ځواب برابروي. لیکوال

ډېر ښـهٔ ناگه سینا

---

۶- پاچا وویل: ناگه سینا! آیا د روح[1] په نامـهٔ څه شی شته؟

اې پاچا! که په عالي معنی ورته وگورئ، د روح په نامـهٔ څه شی نـهٔ شته[2]

ډېر ښـهٔ ناگه سینا

---

۷- [۷۲] پاچا وویل: ناگه سینا! آیا داسې کوم موجود شته چې دغـهٔ جسم څخه بل ته ارتحال ومومي؟

نـه داسې موجود نـهٔ شته

ښه نو که داسې وي نو آیا دا موجود به له خپلو شریرو اعمالو څخه خلاصون ومومي؟

هو، که ئـې بیا زېږون نـهٔ وي موندلی خو که موندلی ئـې وي نو نه[3]

یوه بېلگه ئـې راکړئ

اې پاچا! داسې گومان وکړئ چې یو سړی د بل سړي ام غلا کوي، آیا غل د سزا مستحق دی؟

هو

خو غلـهٔ به دوني ام نـهٔ وي غلا کړي. دهٔ به دا ام د مځکې له مخې اخیستي وي، نو ولې دې سزا ووینې؟

ځکه چې د بل سړي له خوارۍ څخه ئـې غلا کړې ده او د وني د امونو د ښتن دی
نو باید سزا ووینې

همداسې ده لویه پاچا، دغه نوم- او – جسد عمل تر سره کوي، دا عمل به یا خالصه وي یا ناخالصه نو د همدغـهٔ کرما پر بنسټ ده چې بل نوم – او جسد بیا زېږون مومي. نو له همدې کبله ده چې دا بیا زېږون موندلي نوم- او- جسد د شریرو کړو وړو له ترسره کولو څخه خلاص نـهٔ دی

ډېر ښـهٔ ناگه سینا

---

1 - Vedagu. See above, II, 3, 6, p. 86 (note).

2- ښاغلی ترنکنر گومان کوي چې دلته کوم ابهام شته. سیمهالي ښه د پالي ښه لغت په لغت تعقیبوي- لیکوال

3- دا کښ متې هماغه تکرار دی چې ددویم څپرکي په دویمې او شپږمې پاڼي کې راغلی دی- لیکوال

۸- پاچا وویل : ناګه سینا! کله چې د نوم – او جسد له پلوه اعمال تر سره کېږي دغه اعمال څه کېږي؟

اې پاچا! اعمال دي چې نوم- او – جسد لکه د سیوري په شان تعقیبوي او هېڅکله دا سیوری ورڅخه نـهٔ لېـری کېږي[1] څوک اعمال «په سترګو ويني؟ -ژ» چې ووايي دا فلانی او دا فلانی عمل دی؟

نـه

یوه بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا! تاسو څه ګومان کوئ؟ آیا څوک هغې میوې ته ګوته نیولی شي چې ونې ئـې تر اوسه میوه نـهٔ وي کړي او ووايي دا ددې یا هغې ونې میوه ده؟

څرګنده چې نـه صاحبه

لویه پاچا همداسې ده، تر هغو چې د ژوندانـهٔ د تداوم مزی نـهٔ وي پریک شوی دا ناشوني ده چې وویل شي اعمال تر سره شوي دي

ډېر ښـهٔ ناګه سینا

۹- [۷۳] پاچا وویل : ناګه سینا! هغه څوک چې بیا زېږون مومي آیا په دې پوهېږي چې دی به زېږون ومومي؟

هو، اې پاچا! پوهېږي

یوه بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا داسې ګومان وکړهٔ چې یو بزګر په خپلې ځمکې کې تخم وکري او ښـهٔ باران هم ووَرېږي، اوس نو دی په دې پوهېږي چې تخم به ئـې ښـهٔ حاصل ورکړي؟

هو، دی باید پوهٔ شي

لویه پاچا! همدا خبره ده، دی پوهېږي[2] چې بیا زېږون ئـې کېږي او دی به زېږون ومومي

---

[1] - These last words are a quotation of those that recur at Samyutta III, 2, 10, 10, and Dhammapada, verse 2.

[2]-دا ددهٔ له زېږون مخکې ده- لیکوال

ډېر ښـهٔ ناګه سینا[1]

۱۰- پاچا وویل: ناګه سینا! آیا د بودا په شان داسي څوک شته؟

هو

ناګه سینا! نو داسړی ویلی شي چي دی دلته یا هلته دی؟

اې پاچا! هغه مبارک په داسي ډول مړ شوی چي له هغـهٔ څخه هېـڅ داسي څـهٔ نـهٔ دي پاتي چي ورڅخه دې د بل چا په وجود کې د جوړښت شونتیا ولري[2]. دا شوني نـهٔ ده چي څوک دې ووایي هغه مبارک دلته یا هلته دی.

یوه بېلګه ئـې راکړئ

اې پاچا! تاسو څه ګومان کوئ؟ تاسو یو ستر غرغړانده اور او لبمي ئـــې په پام کي ونیسئ ، آیا تاسو د وتلي لمبي په هکله ویلی شئ چي لمبه دلته یا هلته ده؟

نـه صاحبه. دا لمبه باید مړه شوی وي، وتلي لمبه لاړه

لویه پاچا! همداسي ده، هغه مبارک هم په دې ډول مړ شوی چي د شتون هېـڅ ریښـه ئـې نـهٔ ده پاتې او څه ورڅخه نـهٔ دې پاتي چي د بل چا په وجود کي دې جوړښت ومومي. هغه مبارک نور پای ته رسېـدلی دی دا ناشوني ده چي ووایو دلته یا هلته دی. خو د هـغـهٔ د دکتورینو په بنې یو څوک ظهور موندلی شي، اې پاچا! دغسې سړي ته ویلی شو چي دی هماغه دی. هماغه دکتورین[3] چي وعظ ئـې هغـهٔ مبارک کړي دي.

ډېر ښـهٔ ناګه سینا

پینځم څپرکی همدلته پای ته رسېـږي

---

[1]- دا د دویم کتاب د دویم څپرکي له دویمي پاڼي سره برابري کوي- لیکوال

[2] - Anupâdisesâya nibbânadhâtuyâ.
[3] - Dhamma. See above, III, 5, 3.

# دریيم کتاب

## شـپـږم ځپـرکی

۱- پاچا وویل: ناگه سینا! آیا پـۀ گوتناستو باندې جسم گران دی؟

نــه، هغوی له جسمیت سره مینـه نـۀ لري

نو تاسو ولې خپل جسم په خوراک روزئ او ولې ورتـه ډېـره پاملرنه کوئ؟

اې پاچا! تاسو هر کله او هر چـېـرې چې جگړې ته تللي یاست آیا کله تاسو په غـېـشـي ټپـي شوي یاست؟

هو، دا راپـېـښ شوي دي

اې پاچا [۷۴] په داسې حالاتو کې آیا ستاسو مریيي ستاسو پر ټپ باندې غوړ نـۀ اچوي او غوړ وربانـدې نـۀ موښـي او ټپ په بنداژ نـۀ تړي؟

هو، همداسي یو څه شوي دي

نو بیا؟ آیا پر تاسو باندې دا ټپ دوني گران وو چې تاسو ئـې په دوني مینې او لطافت درملنه وکړه او لگښت مو وربانـدې وکړ؟

نــه، له ټولو درملنو سره سره ټپ پر ما گران نـۀ وو، یوازې په دې هیلې وو چې غوښې جوړې « بیا راشني» شي.

لویه پاچا، همدا خبره د گوتناسي او جسم په هکله هم ده. گوتناستي پرته له دې چې جسم له منځه یوسي هغـۀ ته د نیکو کارونو د تر سره کولو په موخه پاملرنـه کوي. اې پاچا! هغـۀ مبارک ته جسم د یوۀ ټپ په شان وو. نو له دې کبله جسم یوازې د یوۀ درد او ټپ په توگې دی او پرته له دې چې له منځه ئـې یوسي یو گوتناستی هم خپل جسم ته پاملرنـه کوي. په همدې هکله هغـۀ مبارک ویلي چې :

"په نمجن پوست پوښل شوی، نجس او ملوث دی
چې نـهـۀ کړکۍ لري او له هرې کړکۍ څخه د ټپ زوې ځاځي[1]."

---

[1]- ما ونـۀ شوی کولی ددې دوبیتی خاپ بل چېرې تر لاسه کړم. د عاطفي احساس په هکله د ځواني ښځي فصیح لغات زما د لومړي ټوک په ۲۰۰ پاڼې کې شته. زما لیکنه وگورئ: Buddhist Birth Stories,' and Sutta Nipâta I, 11 - لیکوال

ډېر ښـهٔ ځواب مو ورکړ ناګه سینا!

---

۲- پاچا وویل : ناګه سینا! آیا په ټولو شیانو عالم، بودا، د ټولو شیانو وړاند ویینـه کوله؟

هو. هغه مبارک نـهٔ یوازې په ټولو شیانو عالم وو بلکه د ټولو شیانو وړاند ویینـه ئـې هم کوله.

ښه نو چې داسې ده ولې ئـې وخت په وخت او د اړتیاوو پر مهال د دین د غړو لپاره قوانین وضع کړل[1]؟

اې پاچا! آیا داسې طبیب شته چې دې د ځمکې پر مخ د ټولو درملو په ډول او ښې پوهٔ وي؟

هو، کېـدی شي همداسې یو څوک وي.

ښه نو اې پاچا! آیا دغه طبیب خپلې جوشاندې ناروغ ته د ناروغۍ پر مهال ورکوي یا له ناروغۍ مخکې؟

کله چې علت یا ناروغي رامنځته شي

همداسې ده لویه پاچا! سره له دې چې هغه مبارک په ټولو شیانو عالم وو او د ټولو شیانو وړاندې ویینه ئـې کوله یو ناڅاپه او په بې موقع وختونو کې ئـې هېـڅ قانون نـهٔ دی جوړ کړی، یوازې ئـې د اړتیا د رامنځته کېـدلو پر مهال جوړ کړی دی، هغــهٔ مبارک داسې یوه مقرره جوړه کړې چې مریدان بـهٔ ورڅخه د خپل ژوندانـهٔ تر پایه سرغړونـه ونـهٔ کړي.

ډېر ښـهٔ ځواب مو ورکړ ناګه سینا!

---

۳- [۷۵] ناګه سینا! آیا دا رښتیا ده چې د بودا پر ځان باندې د ستر انسان د دوه دېرشو نښو موهبت شوی وو او په اتیا فرعي ځانګړتیاوو/نښو باندې پسولل شوی وو؛ او دا چې په رنګ طلائـي پوستکی ئـې لکه د سروزرو په شان وو او ګرد چاپېـره ئـې د یوهٔ قولاچ په اندازې پرتمین شپول راتاو وو؟

اې پاچا! هغه مبارک همداسې وو

آیا مور و پلار ئـې هم د همدهٔ په شان ول؟

نه، هغوی نـهٔ ول

---

[1]- هینه تې کمبوري دا نقل په همدې ډول پېـژني. لیکوال

که مور او پلار ئـي ددۀ په شان نـۀ ول نو ښايي اوس به راته وواياست چي دی هماغسي زېږېدلی وو. خو په ډاډ ويلی شم چي يا ئـي مور داسي وه او يا ئـي د مور له خوا داسي څوک ول، او يا ئـي پلار داسي وو يا ئـي د پلار له خوا داسي څوک ول!

شيخ ځواب ورکړ:اې پاچا! آيا د نيلوفر د گل په شان داسي شی شته چي سل داني گلپـاڼي ولري؟

هو سته

چيرې شنـۀ کېږي؟

په خټو کي او هغه ځای کي چي پريمانـه[1] اوبـۀ وي

ښه اوس تاسو راته وواياست چي کله چي دا دا نيلوفري گلان غوړېږي آيا دوی په رنگ، بوی او خوند کي د لښتي د غاړې خټي ته ورته دي؟

څرگنده ده چي نـه

ښه نو چي خټي ته ورته نـۀ دي نو هرو مرو به د لښتي اوبو ته ورته وي؟

نـه، ورته نـۀ دي

همدا شان بـېلگه د هغـۀ مبارک په هکله هم ده، هغه نښې او ځانگړتياوې چي تاسو يادې کړې د هـغـۀ مبارک مور او پلار نـۀ درلودلې.

ډېـر ښـۀ ځواب مو راکړ ناگه سينا

---

۴- پاچاوويل : ناگه سينا ! آيا بودا په سلوک سُچه سپېـڅلی وو( آيا هغه برهما –کارين[2]وو) ؟

هو، هغه مبارک سُچه سپېـڅلی وو

ناگه سينا! دا نو په دې معنی ده چي هغه د برهما[3] پيرو وو

---

[1] - Âsîyati. See Dr. Morris in the 'Journal of the Pâli Text Society,' 1884, p. 72.
[2] - Brahma-Kârin
[3]- دلته د خدای د نامـۀ په هکله يوه صحنه شته چي ژباړه ئـي نـۀ شي کېدی او په دې ډول ويل شوې چي د « سوچه، خالص، او اعلی» په افادي د «سوچه چلند يا سلوک» په اصطلاح کي راغلی دی. لومړنی پوښتنـه چي رامنځته کېږي دا ده چي : آيا د بودا سلوک چي "اعلی" دی "برهما" وو؟ که داسي وي نو په دې توگي موږ د همدغـۀ دليل لپاره د "سوچه/خالص" معنی لرو او آيا زموږ همدا اصطلاح ډېـري وختونه د " عادي انسان په

اې پاچا تاسو هاتي/ فیل لیدلی دی؟

هو [۷۶]

ښه نو اوس راتهووایاست چې آیا هاتي کله هم سورنی «ترومپت» غړوي «تحت اللفظي ژباړه: ژړا د ماهی خورک ژړا»[1]

هو، ولې نـهٔ

نو آیا په دې حساب هغه د ماهي خوړَکو پیرو وو؟

څرګنده ده چې نـه

اوس نو راته ووایاست لویه پاچا چې آیا برهما، حکمت «بودهي[2]» وو یا نـهٔ وو؟

هغه په حکمت سمبال دی

چې داسې ده «نو ستاسو د خبرو پر بنسټ» یقیناً چې دی د بودا پیرو دی[3]

ښـهٔ ځواب مو راکړ ناګه سینا

---

۵- پاچا وویل: آیا [4] سنخیت[5] ښـهٔ شی دی؟

هو، ښـهٔ او ښایسته شی دی

خو پوښتنـه دا ده چې آیا بودا ترلاسه کړی وو که نـه؟

---

هکله" هم ضمني دلالت کوي؟ حقیقت دا دی چې ددغـهٔ وییکي ایتیمولوژیکي معنی نـهٔ " اعلی" ده او نـهٔ " سوچه / خالصه" ؛ خو له دې چې زموږ لیکوال په پالي کې دا لغت لیکلی، نو په بشپړه توګه ئـې دویمه ایتیمولوژیکي افاده ورڅخه ایستلې ده – لیکوال

[1] - دا تخنیکي اصطلاح چې هاتي سورنی وهي ډېره کم پیدا ده. د بېـلګې په توګې وګورئ : لومړی ګاتکه، پینځوسمه پاڼه- لیکوال

[2] - Buddhi

[3] - حقیقت دا دی چې د خدای په هکله زموږ د اوسني باور په پرتلې برهما چې په هغـهٔ وخت کې تل د هغـهٔ مهال د هندیانو په باور کې نغښتی وو، په بودیزم کې برهما د ښـهٔ بودایي په توګې ښودل شوی دی. د بېـلګې په توګې وګورئ :.'Buddhist Suttas,' p. 116, and my note at p. 117 لیکوال

[4] - اوپه سمه دا :Upasampadâ په قانون کې لوړې درجې ته منل کېـدل – لیکوال. یادونه : ما ژباړونکی دلته سنخیت ژباړلی دی.

[5] -ordination : د بودایي مانکانو ټولنه سنګهـه نومېـږي چې بنسټ ئـې بودا ایښودلی وو او مانکانو او وروسته ئـې ښځینه مانکانو ته چې ننه نومېـدلې قانون جوړ کړ. د همدغـهٔ قانون له مخې مشر مانک د بودا د لارښوونو پر بنسټ ټاکل کېـږي یا نصبېـږي. ژباړونکی

لويه پاچا! کله چې هغـهٔ مبارک د فضليت تر ونې لاندې په ټولو شيانو باندې معرفت تر لاسه کړ نو همدا هغـهٔ ته د کهنوت انتصاب وو. د کهنوت په انتصاب کې پر هغـهٔ باندې داسې مانعه نـهٔ وه چې ددهٔ انتصاب دې د نورو په لاس کې وي- په دې ډول چې هغـهٔ مبارک خپلو مريدانو ته د مقرراتو بنسټ کښېښود چې مريدان به د ژوند تر پايه ورڅخه سرغړونـه ونـهٔ کړي[1].

بيخي حقيقت لري ناګه سينا

---

۶- پاچا وويل : ناګه سينا! په دغو دوه وو کسانو کې کوم يوهٔ ته خپلې اوښکې درمل دي : هغه څوک چې د خپلې مور پر مړينې ژاړي او يا هغه څوک چې د حقيقت «دهما» په مينې کې اوښکې تويوي؟

اې پاچا د هغه چا اوښکې چې مُلــوَنې او د عشق په درې اورونو باندې سرې وي. د بل چا اوښکې غير مُلــوَنې او سړې وي. اوس ځواب دا دی چې په سړښت او سکوت کې علاج وي خو په تودخې او عشق کې کېـدی شي علاج ونـهٔ لري[2].

ډېـر ښـهٔ ناګه سينا

---

۷- پاچا وويل : ناګه سينا! ددغو دوه وو کسانو تر منځ توپير څه دی چې يو ئـې د نفساني هوا په لېـوالتيا کې دوب وي او بل ئـې له نفساني هوا څخه ځان لېـرې ساتي ؟

اې پاچا! يو ئـې طلب او رغبت مهزومه کړی او بل ئـې نـهٔ دی

ښــه نو دا په څه معنی؟

اې پاچا! يو ئـې غوښت لري بل ئـې مستغنی دی

خو زه ئـې په دې ښې ګورم صاحبه : هغه چې نفساني لېـوالتيا لري او هغه ئـې چې نـهٔ لري دواړه ئـې يو شان دي- دواړه ددې هوس لري چې ښــهٔ خواړهٔ وخوري که نرم وي يا کلک. په دوی کې يو ئـې د غلط شي هوا او هوس نـهٔ لري.

---

[1]- ښاغلی ترنکنر ګومان کوئ چې په دغـهٔ ځواب کې کوم شی حذف شوي دي. مګر د متن له مخې ما ته داسې ښکاري چې معنی په کافي اندازې رسول شوې ده. سيمهالي متن د پالي متن پر بنسټ ژباړل شوی دی، اوس نو څرګنده خبره ده چې د ژباړونکی مخې ته هماغه متن پروت وو چې د ترنکنر په متن کې لېـدل کېـږي. - ليکوال

[2]- ددې خبرې کره موخه د نيروانا سکوت او سړښت ته يا ارهټ توب ته نغوته ده چې د شهواني رغبت، حسد او اغفال په درې اورونو کې له منځه ځي. د سړښت/ فتور، سيتاله Sîtala د ارهټانو لپاره د ډېـرېـو القابو په منځ کې يو لقب دی. ليکوال

اې پاچا! شهواني انسان خپل خوراک هم په خوند او هم په شهوي رغبت خوري او شهوي رغبت له خوند او التذاذ څخه راپورته کېږي حال دا چې له شهوي رغبته خلاص او آزاد انسان يوازې [۷۷] خوند څکي داسې خوند چې شهوي رغبت ورڅخه نـهٔ راپورته کېږي.

ښـهٔ ځواب مو راکړ ناگه سينا!

---

۸- پاچا وويل : ښاغلی ناگه سينا! حکمت چېرې استوگن دی؟

هېڅ چېرې نـهٔ اې پاچا

چې داسې ده نو صاحبه، د حکمت په نامـهٔ څه شی شتون نـهٔ لري

اې پاچا! باد/ شمال چېرې استوگن دی؟

هېڅ چېرې نـهٔ صاحبه

چې داسې ده نو د باد په نامـهٔ څه شی نـهٔ شته

ښـهٔ ځواب مو راکړ ناگه سينا!

---

۹- پاچا وويل : ناگه سينا! کله چې تاسو د ارتحال په هکله خبرې کوئ، دا په څه معنی ده؟

اې پاچا! يو موجود چې همدلته زېږون مومي، همدلته مري. کله چې دلته مړ شي يو بل چېرې زېږون مومي. کله چې هلته ئـې زېږون وموند نو هماغلته مري. کله چې هلته مړ شو بيا يو بل چېرې زېږون مومي. دې ته ارتحال وايي.

يوه بېلگه ئـې راکړئ

دا لکه يوهٔ سړي ته ورته ده چې ام وخوري، د ام له خوړلو وروسته د ام مندکه په ځمکې کې کري. له مندکې څخه ونـه شنه کېږي او ونه ميوه ورکوي. او دا پرله پسې لړۍ هماغسې د ام د ونې او مندکې د بېلگې په شان پای نـهٔ لري.

ډېر ښـهٔ ناگه سينا

---

۱۰- پاچا وويل : ناگه سينا ! يو څوک په څه شي تېر مهال او هغه څه ئـې چې ډېر پخوا تر سره کړي په ياد راوړي؟

د حافظې له لارې

مگر آیا د عقل[1] له لارې نـهٔ ده چې موږ ئـې په یاد راوړو نـهٔ د حافظې[2] له لارې؟

اې پاچا ! آیا کومه تر سره کړې چاره مو په یاد ده چې بیا مو له یاده وتلې وي؟

هو

ښه نو بیا ؟ آیا په هغـهٔ وخت کې مو عقل نـــهٔ درلود؟

نـه. خو له حافظې مو وتلې وه.

چې داسې ده نو ولې وایاست چې موږ تـېـرې چارې د عقل له لارې په یاد راوړو نـهٔ د حافظې له لارې؟

ډېـر ښـهٔ ناگه سینا!

---

۱۱- پاچا وویل : ناگه سینا! آیا حافظه تل په ذاتي شکل [۷۸] سره رامنځته کـېږي که د باندني[3] فکتور د تحریک له پلوه القاء کـېږي؟

دواړه ئـې په متقابل فعل او انفعال، یا دا یا هغه

خو آیا داسې نـهٔ ده چې ټوله حافظه په اصل کې ذاتي ده، او هـېـڅـکله مصنوعي نـهٔ ده؟

اې پاچا! که حافظه «ناقله» مصنوعي نـــهٔ وای، نو هنریالان، هنر، ښوونځي او ښوونکي به بې گټې وای. خو په معکوس ډول ورته وگورئ نو کره خبره خو همدا ده.

ډېـر ښـهٔ ناگه سینا!

---

شپېږم څـېـرکی دلته پای ته رسـېـږي

---

[1] - Samsâra

[2] - Kittena, no satiyâ

[3]- د پېـچلو وییکو په اړه ما په متن کې د هینه تي کمبوري Hinati-kumburé له تفسیر څخه کار اخیستی دی چې ښاغلی ترنکنر وایي له معنی څخه غورځـېدلي دي. کـَـتومیکه Katumika د مصنوعي په معنی کټ مټ د سانسکریت د کړیتیمه krritima په معنی ده. دا یوازې تر دې دمه زموږ د لیکوال په متن کې لیدل شوی دی. لیکوال

# دریيم کتاب

## اووم څپرکی

۱- پاچا وويل : ناګه سينا! حافظه له څو لارو هستي مومي/رامنځته کېږي؟

اې پاچا ! له شپاړلسو لارو. يعني : د شخصي تجربې له لارې[1]، کټ مټ لکه د ښاغلي آنندا[2] او يا د سرښندويې مېـرمنې خوګوتړا[3] او يا ددوی په شان ډېري نور چې د حافظوي ځواک په لرلو د خپلو مخکنيو «تولداتو» خاطرات ئې په حافظه کې درلودل،- [۷۹] او يا د باندنۍ مرستې[4] له لارې، لکه يو څوک چې طبيعتاً هېرجن دی خو نور ورته يو څه په ياد وروليو - يا د کومې پېښې د سترې اغېزې[5] له کبله څـهٔ ورپه ياد شي- کټ مټ لکه هغه ورځ چې پاهانو ته د خپل تاج اېښـودنې ورځ ور په ياد وي او يا لکه موږ چې دين ته د اوښوتنګ ورځ مو را په ياد ده- د خوښۍ د اغېز له کبله[6]، لکه يو څوک چې په ياد راوړي چې څه شی ورته خوښي او التذاذ ورپه برخي کوي- يا د غم د اغېز له کبله[7]، لکه يو څوک په ياد راوړي چې څه شي غمجن کړی دی- يا د تشابه يا د ورته والي د بڼي له کبله[8]، کټ مټ لکه دا چې يو څوک بل څوک ويني او په ليدلو ئـې خپل پلار، مور، خور، ورور او نورو ور په ياد شي يا غويی، قچر او يا خر ور په ياد شي- يا د ظاهري توپير له کبله[9]، لکه کله چې موږ يو رنګ، غږ، بوی، خوند او يا په يوهٔ شي باندې تماس چې ځانګړتيا ئـې په هماغـهٔ شي پورې اړه لري- يا د خبرو د پوهېدلو له لارې[10]، له لکه يو څوک چې طبيعتاً هېرجن دی او نور کسان ورته خبرې په ياد وروليو او په دې سره ئـې تېـرې خبرې په ياد ورځي- يا د نښې /علامې[11] له لارې، لکه چې موږ د بار وړلو د کراچۍ يو سخوندر د هغـهٔ پر ځان د بېلوونکو نښو له مخې په ياد راوړو، او يا ئـې د هڅو[12] له مخې په ياد راوړو- لکه يو څوک چې طبيعتاً هېرجن دی خو د ټينګار او بيا ټينګار له لارې اړ

---

[1] - Abhigânato

[2] - Ananda : نوموړی په لومړی بودايي شوری يا سنګها کې د بودا يو له نامتو او پوهو مريدانو څخه وو چې د خپلې پياوړې حافظې په لرلو ئـې ډېـــری بودايي سوټاګانې په ځانګړې توګې «سوټا پيټه که» له ياده زده وي او له همدې کبله ئـــې د دهرما د ساتندوی لقب ګټلی دی. د بودايی رواياتو پر بنسټ لومړی بودايی شوری د ۵۴۳ او ۵۴۲ م.ز . کلونو پر لړ کې جوړه شوې او ځيني وايي چې د پاچا اجاشوترا د سلطنت پر مهال جوړه شوې ده. اجاشوترا د ۴۹۲ او ۴۶۰ م. ز کلونو په لړ کې په هندوستان کې د مګدها د سلطنت واګې په لاس کې درلودلې. يو شمـــېـــر روايات وايي چې دا شوری د آشوکا له تاج اېښودلو ۲۱۸ کاله وړاندې جوړه شوې وه. آشوکا په ۲۱۹م. ز کال کې تاج پر سر کښېښود. ژباړونکی

[3] - Khugguttarâ

[4] - Katumikâya

[5] - Olârika-vińńanato

[6] - Hita-vińńanato

[7] - Ahita-vińńnato

[8] - Sabhâga-nimittato

[9] - Visabhâga-nimittato

[10] - Kathâbhińńânato

[11] - Lakkhanato

[12] - Saranato

کېږي چې په یاد ئـې راوړي: «کوښښ وکړئ چې په یاد ئـې راوړئ» - یا د شمېرلو له لارې[1]، لکه یو څوک د روزنې او ممارست له لارې دې کچې ته رسېدلی وي چې پو هـېـږي دغه او هاغه لیک ئـې تر لاسه کړی، د لیک محتوی ئـې په یاد ده او کوم لیک په کوم لیک پسې باید ځواب شي- یا د محاسبې له لارې[2]، لکه یو محاسب چې لوی اعداد له اعدادو سره د خپلې پو هې په مرستې جمع کوي- یا لکه حافظ[3]، چې د روزنې له لارې لوی متنونه حافظې ته سپاري او یادوي ئـې – [۸۰] یا د فکري عبادت[4] له لارې، لکه کله چې یو بهیکو په فکري عبات کې ډوبېږي او په همدغه لنډمهالي حالت کې پو هـېـږي چې څو ورځې ورباندې تـېـرې شوي دي، - یا یوهٔ کتاب ته د ریفرنس له مخې[5]، لکه چې شاهان پخواني مقررات په یاد راوړي او وایي : " کتاب دلته راوړئ" او د کتاب له مخې ئـې په یاد راوړي – او یا د ژمنې[6] له لارې، څوک چې « د حالاتو تر سیوري لاندې څو تنـه ژمنې کوي» او لکه د توکو له زیرمتون څخه خپل اړوند شیان را اخلي- یا د یوې ټولنې[7] له لارې، لکه کله چې د ټولنی یو غړی یو شی په یاد راوړي ځکه د ټولنې له منځه ښایي یو چا هماغسې ویلي وي، او یا ئـې هماغـهٔ شي ته نـېږدې یو څه ویلي وي چې ورتـه ورتـه والی لري، یا یو بوی ځکه یو چا هماغسې بوی په یاد درلود، یا تماس ځکه کوم چا به هماغسې تماس احساس کړی وي یا یو تصور، ځکه کوم چا هماغسې تصور کړی وو.

ډېـر ښـهٔ ناگه سینا

---

۲- پاچا وویل : ناگه سینا! ستاسو خلک وایي چې که یو سړی په سلهاوو کلونو په شرارت کې ژوند وکړي خو که د مرگ په وروستی شـېبې کې ئـې بودا ذهن ته راشي نو دی به د رب النوعو په منځ کې بیا زېږون ومومي. زه په دې خبرې باور نـهٔ لرم. همدا شان ستاسو په خلکو کې ویل کېږي چې د یو چا د ژوندانـهٔ د مانی په ورانولو به ورانکار په برزخ کې بیا زېږون ومومي. زه په دې خبرې هم باور نـهٔ لرم.

اې پاچا! راته ووایاست چې یوه نرۍ وړوکې ډبره به ان له مانو پرته د اوبو پر مخ ودرېـږي؟

څرگنده ده چې نه

---

[1] - Muddâto (see above, p. 6)
[2] - Gananâto
[3] - دهرَنـَتـو Dharanato: د دهارَنـَکا dhâranakâ وییکی یوازې په «سیمهالي ژباړې کې ما ئـې پل اخیستی دی» او د دویمې گاتکه په ۲۰۳ پاڼې کې موندل کېـږي چې په سانسکریت کې د پوروړي په معنی دی. - لیکوال

[4] - بهاوَنـَـتـو Bhâvanato دلته مو په متن کې په لنډیز راوړی دی د بشپړ متن لپاره وگورئ :.(§ 17) 'Buddhist Suttas,' pp. 215, 216 - لیکوال

[5] - Potthaka-nibandhanato

[6] - Upanikkhepato.

[7]- انوبهوتتو Anubhûtato ښایي د تجربې په معنی وي. دغه شمـېـرې چې زموږ لیکوال وړاندې کړې باید اوولس وي نـهٔ شپاړلس، ښایي داسې پـېښ شوي وي چې ددغو اووهٔ لسو په منځ کې لیکوال دوه ئـې د یوهٔ په توگې منلي وي. کـېـدی شي دا لومړی او څوارلسم او په ډېرې شونتیا ښایي څلورمه او پینځمه شمـېـره وي. - لیکوال

ډېر ښـهٔ؛ آيا که په سلهاوو کراچۍ ډبرې په يوهٔ مانو کې بار شي، نو ډبرې خو د اوبو پر مخ پاتې کـــېـږي که نـه؟

هو، ډبرې به په مانو کې وي او د اوبو پر مخ به پاتې وي

ډېر ښـهٔ، چې داسې ده نو اعمال هم د مانو په شان دي

ډېر ښـهٔ ناګه سينا

---

۳- پاچا وويل: ناګه سينا! آيا تاسو «ګوتناستي» د پخوانيو کړاونو له منځه وړلو وروسته بيا هم هڅه کوئ؟

نـه

ښه نو بيا څه؟ آيا تاسو د راتلونکي مهال د کړاو د له منځه وړلو لپاره هڅه نـــهٔ کوئ؟

نـه

د اوسمهال کړاو لپاره څنګه؟ [۸۱]

د هغــهٔ لپاره هم نـه

ښه نو تاسو نـهٔ د تېـرمهال، نـهٔ د راتلونکي مهال او نـهٔ اوسمهال[1] د کړاو د له منځه وړلو لپاره هڅه کوي نو د کومې موخې لپاره تاسو هڅه کوئ؟

اې پاچا! تاسو د څه شي پوښتنــه کوئ؟ دغـه اوسنی کړاو بايد له منځه يووړل شي چې نور کړاو رامنځته نـهٔ شي، دا هغه څه دي چې موږ ئـــې په هڅه کې يو.

مګر ناګه سينا! د اوسني مهال[2] په متن کې د راتلونکي مهال د کړاو په نامـهٔ څـه نـهٔ سته؟

نـه، دا زه په ډاډ تاسو ته وايم

چې داسې ده نو تاسو زښت ډېر ځيـرک او هوښيار خلک ياست چې د هغــهٔ څه د له منځه وړلو وروسته هڅه کوئ چې شتون نـهٔ لري!

---

[1] -present time
[2] -Now

اې پاچا! آیا تاسو ته کله هم داسې پېښ شوي چې سیال سلاطین دې ستاسو پر وړاندې هم د دښمنو او هم مخالفو په شان راپورته شوي وي؟

څرګنده ده چې هو

چې داسې ده نو زه ګومان کوم چې ددې به خبرېدلو تاسو خندوقه کېندلي، استحکامات مو اچولي، څارکوټونه مو درولي، پیاوړي مورچلونه مو جوړ کړي او خوراکي توکي[1] مو راټول او په زېرمتونونو کې مو انبار کړي وي؟

نه هېڅکله مو داسې نهٔ دي کړي، موږ مخکې له مخکې ورته چمتوالی لرو

او یا مو په همدغهٔ مهال د هاتیانو د جګړې، د آس د سپرلی، د جګړې د ډګر د بګی، د غېشو د غوځارولو او تورې وهلو زده کړی دی؟

نه دا مو مخکې له مخکې زده کړي دي

ښه ولې مو مخکې له مخکې زده کړي دي؟

ددې لپاره چې د راتلونکو ممکنه خطراتو مخه ونیسم.

ښه نو اوس څنګه ؟ آیا د راتلونکي مهال د ګواښ په نامهٔ داسې شی ( اوسمهال) سته؟

نه، دا زه باید دا ستاسو ته په ډاډ و وایم

چې داسې ده نو تاسو سلاطین باید زښت ډېر ځیرک او هوښیار خلک واوسئ چې ځانونه په داسې یوهٔ جنجال کې اچوئ چې له اره شتون نهٔ لري!

یوه بېلګه ئې راکړئ

اې پاچا ! راته ووایاست، کله چې تاسو تږي شئ نو له تندې وروسته تاسو څاه ګان، اوب- ډنډونه کېندئ ، اوب- چینې او د اوبو زېرمتونونه په دې موخې جوړوئ چې له هغو څخه د څښاک لپاره څه شی تر لاسه کړئ؟

څرګنده ده چې نه. دا هر څه باید مخکې له مخکې چمتو وي

ښه نو د شي څه دی لپاره ئې جوړوئ؟

---

[1]- دا ټول همغه خبرې دي چې ددریم کتاب په دریيم او څلورم څپرکي کې په سلمې او یو سلو دویمې پاڼې کې مو ولیدل دلته یو لږ څه وربانده زیات شوي دي. لیکوال

ددې لپاره چې د راتلونکو تندو مخه وربندې ونيسو

ښه نو څنګه سوه؟ آيا د راتلونکي مهال د تندې په نامـۀ څه سته؟

نـه صاحبه

له دې داسې ښکاري اې پاچا [۸۲] چې تاسو سلاطين بايد زښت ډېر هوښيار او ځيرک خلک اوسئ چې د راتلونکي مهال تندې لپاره دا ستونزې پر ځان ګالئ چې په اوسمهال کې شتون نـۀ لري!

يوه بله بېلګه ئـې راکړئ

[ورپسې شيخ، د پخوانۍ بېلګې په شان د راتلونکي مهال د لوږې په شان خبرې وکړې او پاچا د معمى د حل په هکله خپله خوښي او قناعت څرګند کړ.]

---

۴- پاچا وويل : ناګه سينا! له دې ځايه د برهما تر نړئ[1] پورې څوني لاره ده؟

اې پاچا! زښته ډېره لېرې ده، که ددې معبد د ګنبدئ په لوېوالي يوه ډبره له هغه ځايه راولوېږي نو تر ځمکې به په څلورو مياشتو کې راورسېږي، دا ډبره به هره شپه او ورځ اته – او- څلويښت زره ليګه[2] مزل ووهي.

ښه ناګه سينا! آيا ستاسو خلک نـۀ واياست چې که يو بيکهو[3] چې د ايدهي[4] ځواک او پر خپل ذهن[5] سلطه ولري نو کولی شي له کمبو – ديپې[6] څخه غيب او د برهما نړی[7] ته ځان په دوني لنډ وخت کې ورسوي چې که يو پياوړی سړی خپل لاس وغځوي او يا ئـې که غځولی وي بېرته ئـې کټ کړي؟ دا خو ما ته بيخي د منلو وړ نـۀ ده. دا څنګه شوني ده چې يو سړی دی په دوني لنډ وخت کې په سلهاوو ليګه مزل ووهي؟

شيخ په ځواب کې وويل : اې پاچا! تاسو چېرې زېږېدلي ياست؟

---

[1] - په جنتونو کې تر ټولو لوړ جنت. ليکوال

[2] - يوګـه نـه د اوو مايلو يو ليګ- ليکوال

[3] - Bhikkhu

[4] - Iddhi

[5] - کيتووسي پټو Ketovasippatto هينه تي کمبوري Hinati-kumburé ئـې د منو وسي پراپته وو mano vasi prâpta wû په ډول ژباړي. ما په هېڅ (پې ته کې) کې دا اصطلاح د ايدهي په هکله نـۀ ده ليدلی. خو زموږ ليکوال ئـې ډېـر کارَوي. د بېلګې په توګې وګورئ : دريېم کتاب اووم او نهم څپرکی- ليکوال

[6] - Gambu-dîpa

[7] - Brahma world

په یوۀ ټاپو کې چې الاسنده[1] نومېږي. زه هلته زېږېدلی یم.

او الاسنده له دغۀ ځایه څوني لېرې ده؟

نېږدې دوسوه لیگه[2]

آیا ستاسو په یاد لرئ چې کوم ځانگړی کار مو هلته کړی وي او اوس ئې دلته په یاد ولرئ؟

خود

لویه پاچا ! دوني ژر؟ آیا تاسو نېږدې دوه سوه لیگه مزل وواهۀ؟

ډېر ښۀ ناگه سینا

---

۵- پاچا وویل : ناگه سینا! که یو څوک دلته مړ شي او د برهما په نړۍ کې بیا زېږون ومومي، او بل څوک دلته مړ شي او په کشمېر کې بیا زېږون ومومي، په دوی دواړو کې کوم به یو ئې ړومبی ورسېږي؟

اې پاچا! دواړه ئې یو ځای رسېږي!

یوه بېلگه ئې راکړئ

اې پاچا په کوم ښار [۸۳] کې تاسو زېږېدلي یاست؟

یو ښار دی چې کله سي[3] نومېږي. زه همدلته زېږېدلی یم.

کله سي له دې ځایه څوني لېرې دی؟

نېږدې دوه سوه لیگه

کشمېر له دې ځایه څوني لېرې دی؟

---

[1]- الاسنده :Alasanda : الکسندریه Alexandria په باکتریا کې چې په اندس کې د یوۀ ټاپو پر مخ جوړ شوی ښار دی. - لیکوال

[2] - League - د واټن لرغونی مقیاس دی چې په اروپا او لاتینې امریکا کې کارول کېږي. یو لیگ پینځه نیم کیلومتر کېږي په دې توگې دوه سوه لیگه نهۀ سوه او شپږ شپیته کیلومتر کېږي – ژباړونکی

[3]- Kalasi : په دې هکله جنرال الکسندر کنینگهم په خپل کتاب د هندوستان په لرغوني جغرافیې کې په زړۀ پورې شرحه لري او ما ژباړونکي د لرغوني آریانا د تعلیقاتو په برخې په بشپړ تفصیل راوړی دی. الکسندر کنینگهم دغه ځای له کاپیسا او بگرام سره یو گڼي – ژباړونکی

دولس لیگه

لویه پاچا اوس مو سترګې پټې کړئ او کله سي په یاد درولئ

ښه، ومې کړل

اوس له هغه ځایه راووځئ او د کشمــیــر په هکله فکر وکړئ

ښه ومې کړل

کوم یوۀ ته ژر ورسېداست؟

دواړو ته په یوۀ وخت کې

همداسي ده لویه پاچا! که څوک د برهما په نړۍ کې یا په کشمــیــر کې زېږون ومومي دوني وخت نـۀ نیسي. ای پاچا! اوس داسي وانګېرئ چې دوې مرغۍ دي، یوه ئـې پر یوې دنګې ونې کښېنـي او بله ئـې پر یوۀ وړوکي بوټي باندې کښېنـي. که دا دواړه مرغۍ په یوۀ وخت کښېنـي، د کومې یوې سیورۍ به ژر پر ځمکې راپرېوزي؟

د دواړو سیورۍ به په یوۀ وخت کې پر ځمکې راپرېوزي

همداسي ده لویه پاچا چې تاسو وویل

ډېر ښـۀ ناګه سینا!

---

۶- پاچا وویل : ناګه سینا! د حکمت څو ډولونه دي

ای پاچا اووه ډولونـه لري

او د حکمت په څو ډولونو یو څوک حکیم کـېږي؟

په یوۀ ډول ئـې: دا هغه ډول حکمت دی چې «د حقیقت پلټنه[1]» نومـېږي

چې داسي ده نو ولې ئـې اووۀ ډولونـه یادوئ؟

[1] - Dhamma-vikaya-sambogghańgena.

اې پاچا! راته ووایاست : که یوه توره هېڅکله له تیکي نـهٔ وي ایستل شوي او لاس نـهٔ وي ورسـېدلی، آیا تاسو ددې هیله لرئ چې یو شی چې تاسو غواړئ ورباندې پریک کړي، آیا پریک به ئـې کړي؟

څرګنده ده چې نـه

همداسې ده لویه پاچا، د حقیقت پلټنې د حکمت له لرلو پرته د حکمت په نورو ډولونو باندې څوک په هېڅ شي نـهٔ پوهېږي.

ډېر ښـهٔ ناګه سینا

---

۷- پاچاوویل : ناګه سینا! کوم یو ډېـــر دی، ورتیا یا نقص؟

ورتیا [۸۴]

څنګه؟

اې پاچا! هغه څوک چې یوه غلطي کوي په پای کې د پښـېمانۍ احساس کوي او په خپلې شریرې کړنې اعتراف کوي. له دې کبله نقص وده نـهٔ کوي. خو هغه څوک چې ښــهٔ کوي د پښـېمانۍ احساس نـهٔ کوي په زړهٔ کې ئـې خوښي وده کوي، په زړهٔ کې ئـې د خوند احساس ډېرېږي او په دې سره ورته خوشحالي رامنځته کېږي، او د خوښۍ د همدې خوند په څکلو سره د ځان هر غړی به ئـې په سوکالۍ او آرامۍ کې وي، او کله چې په دې ډول په خوښۍ او آرامۍ کې وي دی به په خپله قناعت او رضائـیت په زړهٔ کې په تجربې ووینې او دداسې یوې خوښۍ په ترلاسه کولو به ئـې زړهٔ په سکون او آرامۍ کې وي، ددې آرامۍ په تر لاسه کولو، دی د شیانو په حقیقت په هغه شان چې دي پوهېږي[1]. په همدې دلیل ده چې ورتیا ډېرېږي. د بـېلګې په توګې : که د یوهٔ سړي لاس او پښې دواړو پریک وي او له دې سره سره یوازې هغـهٔ مبارک ته د اوبو د نیلوفر څو ګلونه ورکړي نو د یو نوي (۹۱) کلپه وو[2] لپاره به دی د برزخ مخ ونـهٔ ویني. اې پاچا! نو ما د همدې لپاره وویل چې ورتیا تر نقصان ډېـره ده.

ډېر ښـهٔ ناګه سینا

---

[1]- پورتنی پارګراف په پالي «پې ته که» کې ډیر ځلي تکرار شوی دی. د بېلګې په توګې وګورئ : Dîgha II, 75; Ahńguttara III, 104; and Mahâvagga VIII, 15, 13 (where I have annotated the details).

[2]-Kalpas: کلپه په هندي کې کیلپه कल्प ویل کېږي. کلپه یو سانسکریت وییکی دی چې د ناپایه پېړیو په معنی ده چې انګریزي کې ئـې aeon او په عربي کې ئـې دهر لانهائـیة بولي. دا وییکي په هندي او بودایي کازمولوژی کې ډیر کارول کېږي او د لومړي ځل لپاره په مهابهارتا کې یاد شوی دی. په پوراناګانو کې ئـې یوه کلپه څلور اعشاریه دوه دیرش بیلیونه کلونه ویلي دي. ژباړونکی

۸- پاچا وویل : ناګه سینا! په دو دوو کې کوم یو ډېر نقصان کوي؟ هغه څوک چې قصداً ګناه کوي یا هغه څوک چې په سهوي توګې ګناه کوي؟

اې پاچا! هغه څوک ډېر نقصان کوي چې په سهوي توګې ګناه کوي

چې داسې ده ګرانه ښاغلیه نو موږ باید د خپل کالۀ او دربار هر هغۀ غړي ته باید دوه ځله زیاته سزا ورکړو چې په سهوي توګې غلط کار کوي.

اې پاچا! تاسو څه ګومان کوئ؟ یو څوک چې قصداً په اور کې پخه شوې د اوسپینې یوه میله چې تکه سره وي په لاس کې اخلي او هغه څوک چې ناڅاپه په غیر قصدي توګې داسې له اوره ډکه تکه سره میله واخلي کوم یو ډېر سوځېږي؟

هغه څوک به ډېر وسوځي چې نـۀ پوهېږي څـۀ کوي.

همدا خبره خو د هماغۀ چا په هکله هم صادقه ده چې ناڅاپه غلط کار کوي

ډېر ښـۀ ناګه سینا

---

۹- پاچا وویل : ناګه سینا! آیا داسې څوک شته چې په دغـۀ جسماني قالب کې وکولی شي اوتاره- کورو[1] یا د برهما نړۍ او یا نورو څلور خورا لویو وچو ته چې «چې جهان په کې ویشل شوی دی» لاړ شي؟

هو، داسې خلک شته

ښه نو دوی څنګه کولی شي؟ [۸۵]

---

[1] Uttara-kuru- : په سانسکریت کې اوتاره کورو उत्तर कुरु د هندوانو او بودایانو د یوې لوئـې میتالوژیکي وچې دویپه dvipa نوم دی. یو شمـېـر سرچینو له حقیقي انسانانو او سېـمې سره برابر ګڼلی دی او وایي چې دا سیمه د همالیا په شمال کې ده خو د لرغونپوهنې مفسرینو دا سیمه د مهابهارتا د اسطوروي افسانې پربنسټ په منځنۍ آسیا کې له قیرغیزستان سره یوه بللې ده. په مهابهارتا کې د کورو د سیمې یو جنګیالی چې بهشیما نومېږي د کاشي له سلطنته درې ناوې ګانې غلا کوي او غواړي دربواړه خپل میرې زي «ویکي تراویرا» ته وادۀ کړي. دغه کاشي وروسته «ونارَس» او بیا «بنارَس» شوی دی. په قیرغیزستان کې اوس هم د مناس د قانون له مخې څوک چې وادۀ کوي نو هلک لومړی د خپلې خوښې نجلۍ خپل کالـۀ ته تښتوي او بیا خپل مور و پلار ورلـېږي او نجلۍ ځانته غواړي او دا ددوی دود دی. په ریګویدا کې د شعرونو یو ټولګه ده چې «آیتریا برهمنا» نومېږي. په همدې ټولګې کې «اوتاره کورو» او «اوتاره مرده» د «جناپده» د ربښتوني ژوند د یوې برخې یعنې د دوه ملتونو په توګې د لومړي ځل لپاره یاد سوي دي. دا اشعار وایي چې دا دواړه ملتونه د همالیا د غرونو تر شا یعنې هندوکش کې ژوند کوي. دا سرودونه دا ملتونه د ویراجیا vairajiya یعنې جمهوري ملتونو په توګې یادوي چې په منځ کې ئـې جناپده واکمني په لاس کې اخلي. په میتالوژۍ کې مهابهارتا اوتاره کورو د ښاپیریو او د متبرکو ارواحو د لویې وچې په نامـۀ یادوي. او دا متبرکې ارواحې کشتریا یا تورکښان دي چې د برهمنانو لوړه پوځي واکمنه پاړکه ده. بودایی متون هم دا نوم کله د دې نړۍ د حقیقي خلکو او کله هم د میتالوژیکي سیمو په نامـــۀ یادوي چې د شرحې د اوږدېدو له کبله همدومره وربانديې بسنه کوم. ژباړونکی

اې پاچا! ستاسو به په ياد راځي چي کله مو له دې خوا ها بلې خوا ته يو يا دوه فوټ ټوپ وهلی وی؟

هو ناګه سينا زه تر دولسو فيټو پورې ټوپ وهلی شم

ښه نو څنګه کولی شئ؟

زه مي فکر په دې موخي راټولوم چي تر هماغه ځايه ټوپ ووهم نو په همغې شېبې کي چي خپله موخه ټاکم ځان راته «د دروندوالي له اړخه – ژ» سپک ښکاري.

همداسي ده اې پاچا! چي يو بيکهو ئـي هم کولی شي، هغه بيکهو چي د ايدهي ځواک لري او پر خپل ذهن سلطه لري، په دې سره کله چي بيکهو خپل فکر راټولوي نو له سمندره راپورته شي او په آسمان کي د خپل ذهن له لارې الوزي.

ډېر ښـۀ ناګه سينا!

---

۱۰- پاچا وويل : ستاسو وګړي وايي چي داسي هډوکي شته چي اوږدوالی ئـي ان تر سلهاوو ليګ پورې رسېږي. اوس نو تاسو په خپله فکر وکړي چي د ځمکي پر مخ داسي ونه نـۀ شته چي سل ليګه لوړوالی ولري نو څنګه به دومره اوږدۀ هډوکي شتون ولري؟

اې پاچا! تاسو نـۀ دي اورېدلي چي په سمندر کي داسي کبان شته چي اوږدوالـۀ ئـي تر سلهاوو ليګ پورې رسېږي؟

هو دا مي اورېدلي دي

ښه نو چي داسي ده آيا دا کبان په سلهاوو ليګه اوږدۀ هډوکي نـۀ لري؟

ډېر ښـۀ ناګه سينا!

---

۱۱- پاچا وويل :ناګه سينا! ستاسو خلک وايي چي دا خبره شوني ده چي د «يو چا د تنفس پر مهال دې د هغه» سا اخېستـنه او سا اېستـنـه ودرَول شي.

هو، دا کېدی شي

ښه نو څنګه؟

اې پاچا! راته ووایاست : تاسو اورېدلي چې یو څوک دې د خوب پر مهال خـُرَهار وکړي[1]؟

هو

ښه نو کله چې خرهار کوونکی ځان کت کړي د خرهاري غږ نـهٔ درېږي؟

هو

ښه نو چې داسي ده وګورئ یو څوک چې په چلند، په ذهن او په حکمت کې روزل شوی نـهٔ دي او په جسمیت کې کټ مټ د بیکهو په شان دی یوازې د ځان په کتولو د خرهاري غږ بندولی شي نو ولې ئـې یو بیکهو ونـهٔ شي کولی چې په چلند، په ذهن او په حکمت کې روزل شوی او تر څنګ ئـې د فکري[2] وَجد څلورو واړو پوړونو ته رسېدلی او دی د ې ونـهٔ شي کولی د نفس په بندوَلو باندې سلطه و لري؟

ډېر ښـهٔ ناګه سینا!

---

۱۲- پاچا وویل : ناګه سینا! د سمندر پـهٔ نامـهٔ یوه اصطلاح شته. ولې اوبـهٔ د سمندر پـهٔ نامـهٔ یادېږي؟

شیخ ځواب کې وویل [۸۶]: اې پاچا په هماغه اندازه چې مالګه د اوبو په شان ده، په هماغه اندازه اوبـهٔ د مالګې پـهٔ شان دي نو ځکه ئـې سمندر[3] بولي.

ډېر ښـهٔ ناګه سینا!

---

۱۳- پاچا وویل : ناګه سینا! ولې ټول سمندر یو خوند لري، د مالګې خوند؟

دا ځکه چې اوبـهٔ په مالګې کې د ډېر وخت لپاره درېدلي دي نو د همدې لپاره ټولې اوبـهٔ ئـې یو خوند لري، د مالګې[1] خوند.

---

[1] - Kâkakkhamâno: وګورئ: .Gâtaka I, 60, 24; 160, 18 . هینه تي کمبوري ئـې د کارغانو «کاکه kaka» د غږ په شان له خوب سره خرهارى gorawamin ژباړي. لیکوال

[2] - Ghâna

[3] - سمه ډه Samudda. دا د سمندر لپاره د پالي وییکی دی چې په پالي کې یو ډول تجنسي ایتیمولوژي یا اشتقاق دی او «داسې یوې جوړې شوې پوښتنې ته ئـې» د ځواب ورکولو «شـېبه برابره کړې ده ». داسې ښکاري چې دغـهٔ لیکوال د «سمه sama» او (اوډ «اکه» ud(aka) له جرړې څخه د سمندر لپاره دا وییکی جوړ کړی وي چې معنی ئـې «برابر اوبلنتوب equal water-ness' » کـېږي. ددې وییکي حقیقي اشتقاق زښت ډېر ګران دی. دا وییکی د «اود ud » له ریښې څخه راغلی چې زموږ د انګریزۍ له «لاندهٔ wet» او د یوناني له νετδς سره همریښه دی او د «سم sam» مختاړی د بشپړوالي په معنی دی. دې په کتنې کې ډېره ګرانه برېښي چې دا دواړه له ریښوي اړخه یو بل سره تلفیق کړو. په Dîgha I, 1, 17 کې د محکومولو په یوې وراشې کې او یو بل چېرې لکه د samuddakkhâyika په شان وییکی چې په Sumańgala, p. 91 کې راغلی د samudda له جرړې څخه «سه sa» اشتقاق شوی دی چې د «ورسره with » په معنی ده او «مَډه mudda» د مُـهُر د ګوتمۍ په معنی کـېږي- لیکوال

ډېر ښـهٔ ناګه سینا!

---

۱۴- پاچا وویل : ناګه سینا! آیا تر ټولو وړوکي ذره تقسیمــېدلی شي؟

هو تقسیمـېدلی شي

ښه، په ټولو وړوکو ذراتو کې تر ټولو وړوکي ذره کوم شی دی؟

ای پاچا! حقیقت «دهما[2]» ده. حقیقت دی چې تر بل هر شي ډېر وړوکی او زښت ډېر تنکی دی. خو حقیقت یا دهما ټول اوصاف په ځان کې نـهٔ رانغاړي. تنکي والی او یا برعکس، یوازې د لقب ځانګړتیا ده. خو هر هغه څه چې تقسیمـېدلی شي، حکمت «پــنــه[3] » ئـې تقسیمـولی شي، له حکمت پورته بل داسې شی نـهٔ شته چې شیان دې تقسیم کړی شي.

ډېر ښـهٔ ناګه سینا!

---

۱۵- پاچا وویل : ناګه سینا! آیا دا درې واړه : ادراک، دلیل[4] او په یوهٔ موجود کې روح هم په لیکنې او ماهیت کې له یو بله توپیر لري یا دا چې په ماهیت کې یو دی او په لیکلو کې له یو بله توپیـر لري؟

ګرانه پاچا ! پــېــژندنه د ادراک ښه او دلیل د توپیر او تمیز ښه ده او په یوهٔ موجود کې د روح پـهٔ نامـهٔ څه نـهٔ شته[5].

---

[1]- هماغسې چې په Kullavagga IX, 1, 4 کې ویل شوي په بودایي دین کې هم دهما وینایه DhammaVinaya ویل شوې چې «ټول خوندونه یو خوند کېږي» د ژغورنې او خلاصون Vimutti خوند- لیکوال

[2] - Dhamma

[3] - pańńa

[4]- همدا خبره ددویم کتاب په دویم او دریيم څپرکي کې یاده شوه. دلته د ویګاننه لکهَنم Vigânana-lakkhana، وینںم vińńanam، پګاننا- لکهنه pagânanâ-lakkhana، پنه pańńa هغه وییکي دي چې سایلوني ژباړونکي ئـې داسې ژباړي : « لکه یو بزګر چې د تخمونو او حبوباتو په لیدلو، هغه سرهٔ زر ګڼي او په ارزښت ئـې پوهـېږي همداسې د وینںه vińńana ځانګړتیاوې هم دي چې په لیدلو ئـې «اره مونو aramunu» (د احساس فزیکي غړي) پـېـژني. یو زرګر د سرو زرو په لیدلو نـهٔ یوازې په ارزښت ئـې پوهـېږي بلکه د سرو زرو بیعه (غټه یا وَړه) هم ټاکلی شي، نو د پنه pańńa ځانګړتیا هم په دې کې ده چې نـهٔ یوازې د احساس د فزیکي غړي پـېـژندنه کولی شي بلکه د احساس د غړو تر منځ توپیر هم کولی شي. لیکوال

[5]-وګورئ پورته: دویم څپرکی دریيمه او شپږمه پانه ، او دویم څپرکی دریيمه او شپاړلسمه پانه. هینه تي کمبوري Hinati-kumburé ئـې دلته «جییو gîvo» د ژوند په معنی ژباړي (ښایي موخه ئـې یوه ژوندۍ قاعده یا موجود جي ویتا gîvitâ) وي یعنی هغه ښـه چې د څلورو عناصرو «عناصر اربعه» له منځه راوتلې ده. لیکوال

ښه نو چې روح په نامـهٔ څه شی نـهٔ شته نو دا څه دي چې اشکال په سترګو ويني، په غوږونو، غږونــه اوري، په پوزې بويونــه احساسوي، په ژبې خوندونـه څکي او په جسم تماس احساسوي او يا په ذهن کې د اوصافو او کوايفو انګېرنـه کوي؟

شيخ په ځواب کې وويل : ښه نو که «له جسم څخه بيل» د روح په نامـهٔ څه شی وي چې ټول دا کارونـه چې تاسو وويل کوي، راته ووایاست چې که د سترګو کړکی راوغورځول شي «يعنی که سترګي له ګاټو څخه وايستل شي» آيا روح کولی شي د سترګو له دې کړکی څخه خپل سر دباندې راوباسي؟ تر سترګو خو د سترګو ګاټی لوی دی نو اوس دا روح له دې غټي کړکی څخه د ښخوا په شان شيان ښـهٔ رانـهٔ کتلی شي؟ که غوږونــه پريک شي آيا روح کولی شي څه شی ښـهٔ واوري؟ او يا که پزه پريک شي ښـهٔ بوی محسوسولی شي؟ او يا که ژبه پريک شي آيا روح کولی شي تر ژبې لا ښــهٔ خوند وڅکي؟ او يا که ټول جسم له منځه لاړ شي آيا روح کولی شي پر شي باندې ښــهٔ تماس احساس کړي؟

[۸۷] څرګنده ده چې نـه صاحبه

چې داسي ده نو دا ومنـئ چې په جسم کې روح نـهٔ شته

ډېـر ښـهٔ ناګه سينا!

---

۱۶- شيخ وويل : ګرانه پاچا ! هغـهٔ مبارک يو ډېـر سخت کار سر ته رسولی دی.

کوم سخت کار؟

د ټولو هغو دماغي حالاتو تثبيت چې ټول ئـې د ادارکي احساس په يوهٔ غږي پورې تړلي دي، او موږ ته وايي چې دا تماس دی، دا شعوري احساس دی، دا نظر دی، دا قصد دی او دا فکر دی[1].

يوه بېلګه ئـې راکړئ

ښه نو پاچا! داسي ګومان وکړئ چې يو څوک د سمندر ژور تل ته ننوځي او په خپلي لپې کې يوه لپه اوبـهٔ را اخلي او غواړي دا اوبـهٔ وڅکي. اوس نو آيا دا سړی کولی شي دا تشخيص کړي چې آيا دا د ګنګا اوبـهٔ دي، يا د جمنا، يا د اکيره وتي[2] يا د سرَبهو[3] او يا د مهي[4] اوبـهٔ دي؟

ناشوني ده صاحبه!

---

[1]- Phasso, vedanâ, sańńa, Ketanâ, Kittam
[2] - Akiravatî
[3] - Sarabhû
[4] - Mahî

او تر دې ئـې لا سخته دا ده چې هغـۀ مبارک د هغو فکري عقلاني حالاتو توپير هم کړی چې د ادراکي احساس د هر غړي په متابعت په کار لوېـږي.

ډېـر ښـۀ ناګه سينا!

---

په دې سره اووم څپرکی پای ته رسـېږي[1]

---

۱۷- شيخ وويل : اې پاچا ! تاسو پوهـېږئ چې اوس څو بجې دي؟

هو صاحبه! څو شـېبې مخکې د شپې لومړی ګړی تـېره شوه. او د نيمايي شپې ګړی ده چې تـېرېږي. شهليتونه «مشالونه» لګېـدلي دي. امر شوی چې څلور بيرغونـه دې ودرَول شي، او له خزاني څخه به تاسو ته وَړَند تحايف ډالی شي.

يوناکه ګانو وويل : ډېـر اعلی لويه پاچا. دا پياوړی بيکهو هم همداسې اعلی دی.

هو زما يارانو. په رښتيا چې ډېـر پياوړی بيکهو دی. که ددۀ په شان استاد او زما په شان زده کوونکی [۸۸] وي نو يو ځيرک عالم به دوني وخت ته اړتيا ونـۀ لري چې رښتيا تر لاسه کړي.

ورپسې پاچا د خپلو مطرح شويو پوښتنو ځوابونو ته خوښ شو او د ناګه سينا پر اوږو ئـې يوه ښکلې ګلورينه چپنه واچوله چې سل زره[2] بيعه ئـې درلوده او ورته ئـې وويل : ښاغلی ناګه سينا! ما همدا اوس امر ورکړ چې تاسو ته به د اتو سو ورځو لپاره ډوډۍ برابرېـږي، او تاسو ته به واک درکړل شي چې که په ماڼۍ کې مو هر څه د قانون په اړانۍ کې خوښ شول غوره او خوښ کړي او وائـې خلئ. کله چې شيخ د پاچا له دغـۀ وړانديـزه نټه وکړه او وئـې ويل چې د ژوند کولو لپاره هر څه لري نو پاچا په ځواب کې وويل: پوهـېږم صاحبه چې د ژوند کولو لپاره هر څه لرئ. خو تاسو دا وړانديز بايد هم د ځان او هم زما د ساتـنې / دفاع په پار ومنئ – د ځان په دفاع کې په دې معنی چې په ټولنـه کې د ځان په هکله له ګنګوسو څخه په دې ډول مخنيوی وکړئ چې تاسو له ما څخه هـېڅ شی نـۀ دي تر لاسه کړي او زما په هکله په دې موخې په ټولنې کې د ګنګوسو مخنيوی وکړئ چې ما قناعت کړی او ددې په تائيد کې ما هـېڅ شی نـۀ دي درکړي.

شيخ په ځواب کې وويل: چې داسې ده نو سمه ده

---

[1] - See the note at the end of Book II, Chapter 3, § 14.

[2]- دا کها پنه kahâpanas دي چې يوه ئې د نيمې پيسې ارزښت درلود. ليکوال

بیا نو پاچا وویل : که د ژویو پاچا، زمری، په یوهٔ قفس کې واچوئ او ان که قفس د سرو زرو هم وي، نو دی به په ډېرې لیوالتیا خپل مخ له قفس دباندې نړۍ ته په هوس وروګرځوي، زه هم همداسې یم، سره له دې چې اوس په دې نړۍ کې استوګنـه لرم خو زما فکر او اند اوس ستاسو ګوتپاستو په لوړ ژوندانـهٔ کې ډوب دی. خو صاحبه! که زه له کورنې ژونده لاس واخلم او له نړۍ لاس ومینځم او ګوتپاستی سم زما ژوند به دوني اوږد نـهٔ وي او لنډ ژوند به ولرم، زما میرځمن ډېر دي.

ښاغلي ناګه سینا چې د پاچا میلینډا راپورته شویو پوښتنو ته د حل لارې ورکړې، له خپله ځایه راولاړ سو او د خپل ګوتځې پر لور رهي سو.

---

۱۸- د ناګه سینا له تګه ډېر وخت نـهٔ وو تېر شوی چې میلینډا پاچا له ځان سره فکر وکړ چې آیا خپلې پوښتنې ئـې په سمه توګه مطرح کړې وې او آیا ورته سم ځوابونه ورکړل شوي که نـه. لنډه دا چې پاچا دې پایلې ته ورسېد چې دهٔ خپلې پوښتنې سمې مطرح کړې وې او ښـهٔ ځوابونه ئـې هم تر لاسه کړي ول. همدا شان ناګه سینا هم چې خپل ګوتځې ته ورسېد له ځان سره ئـې د سکالو په تړاو فکر وکړ، دی هم دې پایلې ته ورسېد چې پوښتنې په سمه توګه مطرح شوې وې او ښـهٔ ځوابونـه ئـې ورته ورکړي ول.

ناګه سینا په خړ سهار کې خپله چپنــه پر ځان راتاو کړه او کجکول په لاس د ماڼۍ پر لور وخوځېد، ماڼۍ ته له رسېدو سره سم پر هغې څوکۍ کښېنـاست چې دهٔ ته چمتو شوې وه. میلینډا ښاغلي ناګه سینا ته د سلام  په وړاندې کولو [۸۹] په ډېر درناوي د ناګه سینا تر څنګ کښېناست او ورته وئـې ویل :خدای دې وکړي بل څه فکر ونـهٔ کړئ صاحبه! کړی شپه مې له تاسو څخه د پوښـتنو په هکله په خوښۍ کې تېره کړه. له ځان سره مې خبرې کولې چې آیا له تاسو څخه مې سمې پوښتنې کړې او آیا ما سم ځوابونـــه ترلاسه کړي که نه. په پای کې قانع شوم چې هو سم ځوابونـه مې تر لاسه کړي دي.

او شیخ هم په ځواب کې ویل: لویه پاچا خدای دې وکړي تاسو هم بل ډول انګېرنـه ونـهٔ کړئ، ما هم کړی شپه په دې خوښۍ تـېره کړه چې ستاسو پوښتنو ته مې ځوابونـه درکړي دي. ما د ټولو هغو خبرو اترو په هکله فکر کاوهٔ چې موږ او تاسو تر سره کړې. زه هم دې پایلې ته ورسېدم چې تاسو سمې پوښتنې مطرح کړلې او ما هم سم ځوابونـه وړاندې کړل. په دې توګې دواړو سترو او پیاوړو ښاغلو یو بل ته د ښې وراشې په هکله مبارکي وویله.

په دې سره د میلینډا پوښتنو ته د ځوابونو لړۍ پای ته رسېږي

---

# څلورم کتاب

# میلینډا پـڼـهـو

## د معضلاتو حل

## لومړی څپرکی [۹۰]

**لومړی**: د بیان او سفسطې استاد ځـیرک او عاقل
میلینډا هڅه وکړه چې
د ستر ناګه سینا ورهنه «مهارت» وازمايي.
نـهٔ یوازې یو ځل
بلکه
په ځلونو ځلونو ئـې یوازې نـهٔ پرېښـود[1].
پاچا له میلینډا پوښتنې کولې
او خپلې هماغه پوښتنې به ئـې
په نورو الفاظو تکرار کړلې،
دې لړۍ تر هغو دوام وکړ چې
د پاچا خپلې ورهنې،
ددهٔ ناپوهي په زباد ورسوله.
له دې وروسته نو دی
د سپېڅـلي کتاب زده کوونکی شو.
کړۍ شپه به ئـې
په پټه د اشعارو
د معنی په ډوب فکر کې تـېـره کړه
په نـــهو استویو

[1] - وَسَـنـتو تسه کهایایه Vasanto tassa Khâyâya په تحت اللفظي معنی : د هغـهٔ تر سیـوري لاندې ځای پر ځای ولاړ وو. پرتله کړئ : لیکوال Gâtaka I, 91

سپېڅلو کتابونو کې ئـې دلته او هلته
سختې معمی ګانې
وموندلې چې
حل ئـې ورته ګران وو
او په دې توګې ئـې فکر وکړ:
د سوبمن بودا په ویناوو کې
چې څو اړخیزې وې
او
ځینې ئـې شرحې
یو شمـــېـــر ئـې
د حالاتو له مخې
بدیهـة الکلام دې،
یو شمېر ئـې
په بشپړ ډول
بنستیز ټکي راسپړي
هر ځل به له معنی
او مهفومه ناخبره وو،
په دې پسې به هڅې وې
او کړاونه
عادل پاچا شا په تخته څملاست،
په دغو
دقیق النظرو بـېـلابـېـلو ارشاداتو کې
ډوب وو
او له ځان سره ئـې ویل
کاشکې همدا اوس
د ستر ناګه سینا غوږ
رانـېـږدې وای
او دا نابلده ټکي مې
ددهٔ مخې ته ایښې وای
چې
ډېـر عجیب دي او

سخت ښکاري-

هو متناقض هم دي-

راولئ ناګه سینا

چې

راحل ئـې کړي

چې په راتلونکی کې که څوک

په شک کې وي نو

د هغـهٔ حل به هم

ورته د حقیقت

د لارې په اوږدو کې لاربنود شي

---

**دویم :** پاچا میلینډا سپیده چاود مهال له خوبه راپاڅـېدهٔ، د لمر خاتــهٔ د لومړی څرک له لګـېدو سره سم ئـې ولامبل، بیا ئـې د دواړو لاسونو ورغوي پر یو بل باندې کښـېښودل او غبرګ ئـې خپل تندي ته پورته کړل او له ځان سره ئـې د تېـرومهالونو، اوسمهال او راتلونکي مهال بوداګان په یاد کړل او په یوازې سر ئـې قانون ته اتـهٔ ګونې ژمنې یادې کړې او له ځان سره ئـې وویل : زه به سر له اوسه د اوو ورځو لپاره داسې ریاضت پر ځان وګالم چې اتـهٔ ګوني مقررات به پر ځان پلي کوم، او کله مې چې دا عبادت بشپړ کړ نو بیا به استاد ته لاړ شم او دا معضلات به د پوښتـنو په توګې د هغـهٔ مخ ته کښـېږدم.

ورپسې پاچا میلینډا خپلې سلطنتي جامې یوې خوا ته کښـېښودلې، خپلې شاهانه جامې ئـې و ایستې او ژړه چپنـه ئـې واغوستله، پر خپل سر ئـې هغه پګړی[1] کښـېښودله چې یوازې ګوتناستي ئـې پر سر کوي، په ظاهر کې یو بشپړ زاهد ښکارېدهٔ، پـهٔ ذهن کې ئـې د خپلې ژمنې په پام کې لرلو سره اتـهٔ پرهیزونه پر ځان ومنل.- له ځان سره ئـې وویل: م په دغو اوو ورځو کې به د حکومت هـــېـڅ قانوني قضیه ونـهٔ ګورم او پرېـکړه به ونـهٔ کړم. له شهواني افکارو به ځان لـېرې ساتم، د بخل او کینې له افکارو به پرهیز کوم او له هغو افکارو به تېښتم چې د ابهام او اغفال لیوالتیا ته مې وهڅوي. د خپلو ټولو مریيانو، خدمتګارانو، او اړوندو کسانو پر وړاندې به له ځانـه سهاندتوب «برده باري» او ځان ټیټوالی څرګند کړم. [۹۱] خپل جسماني عمل او د ځان هر غړی به د احساس د شپږو غړو په ګډون په ډېـر احتیاط څارم. او د خپل زړهٔ نړیَ به د ټولو موجوداتو پروړاندې له مینې ډکه کړم. "

د خپلو اتـهٔ ګونو ژمنو په ساتلو ئـې په زړهٔ کې ددغـهٔ اخلاقي قانون ډېـوه بـَله کړله، او د اوو ورځو لپاره له ځایه ونـهٔ خوځـېـد. کله چې اتمه شپه راغله او ورپسې د اتمې ورځې لمر وخوت نو سهار وختی ئـې خپل سباناری وکړ او په غم

---

1 - Patisîsakam. See Gâtaka. II, 197.

ژړلو سترګو او سنجولو شويو کلماتو چې په چلند کې نرم او مهربانــه ښکارېدۀ خپل فکر راټول کړ، او په خوښ او هوسا زړۀ له ځايه پاڅېد او ناګه سينا ته ورغی. د ناګه سينا ښو ته لومړی په ملا کړوپ شو او بيا په ډېر احترام يوۀ ګوټ ته ودرېد او وئـې ويل:

---

**دريم** : ښاغلی ناګه سينا! يوه ځانګړې موضوع ده چې غواړم د هغې په هکله له تاسو سره په يوازيتوب کې خبرې وکړم. غواړم چې زما او ستا تر منځ دې دريمګړی څوک نـۀ وي. غواړم چې يو لـېرې ګوښې ګوټ، په ځنګل کې يوۀ منزوي ځای ته لاړ شو، داسې ځای چې د يوۀ ګوښې ګوټ اتـۀ واړه ځانګړتياوې ولري او هلته به درسره دا موضوع ياده کړم. او دلته بايد له ما څخه هـــېـڅ شی پټ پاتې نـۀ شي، له ټولو اسرارو مې خبر کړه. اوس زه په ښـۀ حالت کې يم، او دې ته چمتو يم چې په وراشې او ژورو افکارو کې ننوځو. او هغه څه چې وايم د هغو معنی به د ښېلګو په ويلو راته روښانه کړې. اې ناګه سينا! ځمکه زښته ډېره پراخه ده، او کله چې ناوړه حالات رامنځته کېږي نو خلک د همدې پراخې ځمکې په يوۀ ګوښې ګوټ کې پر ځمکې باندې د ډاډ او اعتماد کولو په هيلې خزانې پټې ږدي، زه هم همداسې يم کله چې موږ په ژورو وراشو کې ننوځو نو پر ما هم د پټو خبرو ډاډ وکړئ.

---

**څلورم** : بيا نو له خپل مولا سره په پورته ويل شويو ځانګړتياوو ګوټځي ته لاړ: " ناګه سينا يو څوک چې چا سره سلا مشوره کوي بايد اتو ځايونو ته له تګ څخه ډډه وکړي. هېڅ هوښيار سړی به په داسې ځايونو کې خبرې ونـۀ کړي، ځکه که خبرې وکړي نو خبرې ئـې له پايلې پرته د هماغې ځمکې پر مخ په رالوېدلو هماغلته پاتې کېږي. او دا اتـۀ ځايونه کوم دي؟ ناهمواره ځای، انسانانو ته نامصـئونــه ځايونـه، هغه ځايونـه چې هلته ډېر باد چلېږي، د پټېدلو ځايونـه، سپيڅلي ځايونـه، دنګې لارې، د بانس[1] له لرګيو جوړ نازکه پـُل او هغو ځايونو کې چې خلک لامبي."

شيخ، پوښتنــه وکړه: پر دغو ځايونو باندې د اعتراض دليل څـۀ دی؟

پاچا ځواب ورکړ: ناګه سينا [۹۲] په همواړو ځايونو کې د خبرو سکالو پرغزي «متشنجه» ، اوړدې او شـېـنـدلي «ګډوډې» کېږي، او هېڅ پايله ورڅخه لاس ته نـۀ راځي. په نامصـئونو ځايونو کې فکر ابتر «مضطرب» کېږي او څوک چې ابتره وي په څرګنده او آسانــه د خبرې په منځـټکي نـۀ پوهېږي. په هغو ځايونو کې چې باد چلېږي غږ سم نـۀ اورېدل کېږي. په پټو ځايونو کې استراق سمع کېږي. په سپـېڅلو ځايونو کې د وراشې په لړ کې پوښتنــه جدي انحراف مومي او پراخ تعابير ورڅخه اخيستل کېږي. پر لوړو لارو د لهو و لعب د اوښتنګ شونتيا شته، د بانس له لرګيو جوړ نازک پـلـۀ باندې د توازن نشتوالی او د پـلـۀ د ټال خوړلو شونتيا شته، د لمبا په عامو ځايونو کې د يوې خبرې په هکله وراشه نور د دوو تنو وراشه نـۀ بلکه د يوې ډلې د خبرو سکالو ګرځي. له دې کبله ويل شوي چې [2] :

" کله چې د لوړو موضوعاتو په هکله خبرې کوئ

---

[1] - bambû

[2]- څرګنده نـۀ ده چې «دغو دوو پانو کې را اخيستل شوي اخځونه» يعنی شعرونه له کوم ځايه را اخيستل شوي دي- ليکوال

نو په ناهموارو ،
نامصئونو
او په هغو ځایونو کې چې باد چلېږي
او په پټنځایونو
او د خدای – استوګنو معابدو
دنګو لارو، پلونو او د لامبا په ټولو ګهاټونو[1] کې
له خبرو کولو ډډه وکړئ"

---

**پینځم :** ناګه سینا ! اتهٔ ډوله خلک هم دي چې د یوې سکالو په هکله خبرې د وراشي په ترڅ کې ورانوي. او دا اتهٔ ډوله خلک څوک دي؟ هغه څوک چې په شهوت پسې ګرځي، هغه چې په زړهٔ کې کینــه او عناد پالي، هغه چې په غرور او اغفال خبرې کوي، هغه چې په تکبر او غرور ګرځي، سولند انسان، لټ انسان، هغه چې یوازې په یوې خبرې ټینګ ولاړ وي، او احمق.

شیخ، پوښتنــه وکړه چې ددغهٔ ډول خلکو پر وړاندې د اعتراض/ممانعت دلیل په څه کې دی؟

لومړنی هغه ئـي د خپل شهوت له کبله خبره ورانوي، ورپسې هغه ئــي د خپلې کینې له مخې خبره ورانوي، دریم هغه ئـي د خپل وهم او اغفال له کبله ، څلورم هغه ئــي د خپل غرور له کبله، پینځم هغه ئـي د خپل سولندتوب له کبله، شپږم هغه ئـي د خپلې لټۍ له کبله او اووم هغه ئـي د خپلې تنګ الواکۍ «تنګ نظرۍ» له کبله او اتم هغه ئـي د خپل حماقت له کبله خبره ورانوي. له همدې کبله دي چې ویل شوي :

شهواني، قهرجن یا
له عناده ډک انسان
مغرور، سولند یا
لټ انسان
تنګ الواکی
او بیوزلی احمق انسان
دا اتهٔ هغه کسان دي چې د لوړو موضوعاتو د خبرو په لړ کې خبرې ورانوي"

---

[1]- ghâts : په پالي کې ګاټ هغو سپېڅلو ځایونو او ښارونو ته ویل کېږي چې د ګنګا سپېڅلي سیند ته د ښکته کېدنګ لاره ولري. د معنی له اړخه ګاټ څو پوړیو ته ویل کېږي چې اوبو ته ښکته شوي وي. په پښتو کې موږ ګټ د کاڼي یا ډبرې په معنی لرو. ژباړونکی

**شپږم :** ناګه سینا نــهـۀ ډوله کسان شته چې پټ رازونه او محرمې خبرې ئـې په خولو کې نـۀ ساتل کېږي او د زړونو په خزانو کې ئـې نـۀ شي ساتلی. او دا نــهـۀ ډوله کسان څوک دي؟ شهوتپالی انسان هوس ته په متابعت کې پټ رازونــه نـۀ شي ساتلی، بدمزاجه انسان ئـې د خپل چلند له مخې د يو شمــېـــر بد نيتيو په پايلې کې د ساتلو زور نـۀ لري، غافل انسان ئـې د يو شمــېـــر تـېـروتنو له کبله روز نـۀ لري. [٩٣] ډارن انسان ئـې د ويرې له مخې رسوا کوي، سولند انسان ئـې ددې لپاره افشاء کوي چې يو شی ورڅخه تر لاسه کړي. ښځه ئـې د ضعف او ناتوانۍ له کبله نـۀ شي ساتلی، نيشه انسان ئـې د نيشې له کبله، نربڅوکې ئـې د خپل جسمي نابشپړوالي له کبله او ماشوم ئـې د خپل متلون المزاجی له مخې. له همدې کبله ويل شوي چې :

"شهوتپالی، قهرېدلی،
منګ / سربداله انسان
ډارن انسان او
سولند چې د يو شي د لاسته راوړلو
په لټه کې دی
ښځه، نيشه، نربڅوکی/هجړا يا يو ماشوم
دا نــهـۀ واړه متلون المزاجه،
مترد ده او نا اهله دي
کله چې يو پټ راز دوی ته وويل شي
بويه چې ټوله نړۍ دې پرې خبره کړه"

---

**اووم**: ناګه سينا! د پرمختګ اتـۀ دلايل شته چې باطني بصيرت په کې وده کوي. او دا اتـۀ کوم دي؟ د کلونو پرمختګ يا تـېـرېـدل، د شهرت وَده، مکررې پوښتنې، له ښوونکو سره ناسته ولاړه يا معاشرت، د يو چا خپل انعکاس، له حکماوو سره وراشه، په زړۀ کې مينې ته وده ورکول او په يوې هوسا سيمې کې استوګنـه. له همدې کبله ويل شوي چې :

" د شهرت په ودې او
د کلونو په تـېـرېـدلو
د ډېـرو پوښتنو په کولو او
له حکماوو سره په خبرو اترو
د مينې په ارزښت له پوهـېـدندونکي انسان سره
د ناستې ولاړې له لارې
په ښکلي او هوسا ځای کې
د استوګنې د لارې
دا هغه نــهـۀ شيان دي چې

له مخې ئــې باطني بصيرت مطهره کـېږي

هغه څوک چې دا نـــهـۀ ولري

حکمت او تعقل ئــې وده کوي[1]"

---

**اتم:** ناګه سينا! دا ځای له اعتراضونو خلاص ځای دی چې په کې د مسايلو په هکله څوک خبرې کولی شي. او که هر څوک وغواړي داسې وکړي نو زه ورتـه يوه نمونوي بـېلـګه يم. زه پټ اسرار ساتلی شم او تر هغو به ئــې پټ وساتم چې ژوندی يم. په ټولو اتو واړو ويل شويو لارو کې زما باطني بصيرت وده کړې او پوخ شوی دی. تاسو ته به ګرانــه وي چې زما په شان به بل مريد ومومئ.

[۹۴]" اوس نو چې ستا په شان چلند لرونکی مريد وي نو دا د مولا دنده ده چې مولا هم د پينځه ويشتو فضيلتونو په لرلو ځان سمبال او هماغسې چلند وکړي. دا پينځه ويشت کوم دي؟ مولا بايد د مريد په ساتنـه او څارنــه کې هېڅ ډول سمپا ونــۀ کړي. مريد بايد پوۀ کړي چې څه شی په ذهن کې وکــَـړي، څه وکړي او له کومو شيانو ډډه وکړي، څه شي ته بايد ليوالتيا ولري او له کومو شيانو سترګې پټې کړي. مولا بايد مريد ته ورزده کړي چې خوب وکړي، خپله روغتيا وساتي، کوم ډول خواړۀ وخوري او له کومو خوړو ځان لــېــرې وساتي. مولا بايد مريد  ته د «خوراکي توکو» توپير[2] ورزده کړي او هر هغه څه ورسره شريک کړي چې دۀ ته د خيرات په ډول ددۀ په کاسې کې اېښودل کـــېـــږي. مولا بايد مريد ددې په ويلو وهڅوي چې :" مــۀ ډارېږه. (هغه څه چې تا ته دلته درښودل کـېږي) ته به ورڅخه ګټه واخلې. مريد بايد وپوهول شي چې له کومو خلکو سره ناسته ولاړه وکړي او کليو او ويهارو[3] ته تل په تګ راتګ کې وي. که مريد «احمقانــه» خبرې کوي نو مولا ئــې بايد هېـڅکله ونــۀ ځوروي[4] او مريد بايد خپه نــۀ کړي. که مولا په مريد کې کومه نـېمګړتيا ويني نو بايد په آسانی ئــې وبخښي. مولا بايد سرښندونکی اوسي، مولا بايد مريد ته هېڅ شی نـېمګړی ونــۀ ښيي، هېـڅ شی ورڅخه پټ ونــۀ ساتي، او هېڅ خبره ځان ته ونـــۀ ساتي[5]. مولا بايد مريد ته په زړۀ کې د خپل زوی په شان وګوري او له ځان سره دې ووايي:" ما دغـۀ مريد ته د خپل زوی په شان په زده کړو[6] کې هستي ورکړې ده." مولا بايد د مريد په ودې او پرمختګ کې هڅه وکړي او له

---

[1]- پبهي ګاتي :Pabhiggati : داسې ښکارې چې دا په زاړۀ متن کې کومه تېروتنه نـۀ ده. سيمهالي متن ئــې په ځلونو تکراروي او د ژباړې معنی ئــې نــۀ ورکوي. ليکوال

[2]- ويسيسو Viseso، ددې وييکي په هکله نــۀ وايي چې په څه کې «توپير وکړي – ژ»، او سيمهالي ژباړه ئــې همداسې په تکرار راوړي- ليکوال

[3]- Vihâras: ويهاره: په سانسکريت او پالي ژبو کې ويهاره विहार بودايي معابد او د بودايي مانکانو د استوګنې ځای دی. په هندوستان کې د بيهار د ايالت نوم له همدغې ويهارې څخه مشتق شوی دی. د معنی له اړخه وړوکي معبد او د مانکانو د استوګنې وړوکي ځای ته ويل کـېږي. په لومړنيو بودايي متنونو کې د بودايانو معابدو او د مانکانو د استوګنې ځای سنګهـا ويل شوی دی. له دې چې د هندوستان برسات يا د ورښت موسم د وّسا vasâ په ډول ويل شوی نو د ويهارې نوم هم د باران له ويرې يوۀ لنډ مهالي ځای ته د پناه اخيستلو په معنی ويهاره له وسا سره پيوستون مومي او ويهاره له همدغـۀ موسم څخه مشتق شوی نوم دی. ژباړونکی

[4]-Sallâpo na kâtabbo : سيمهالي متن يوازې همدا وييکي کاروي چې ډېري وختونو د هېـڅ بد دلالت له کارولو پرته ئــې کارولی دی.. د بېـلګې په توګې وګورئ :Gâtaka I, 112 - ليکوال

[5]- له دې ښکاري چې په رښتوني بوديزم کې هېـڅ « محرم دکتورين 'Esoteric Doctrine» نـۀ شته وګورئ لاندې :IV, 4, 8 - ليکوال

[6]- همدې ته ورته حکم په وينه يه کې راغلی دی وګورئ : .(Vinaya (Mahâvagga I, 25, 6 ليکوال

ځان سره ووايي :" له کومو لارو کولی شم چې مريد پرمختګ وکړي او د شاتګ مخه ئي ونيسم." مولا بايد په دې پوهٔ وي چې مريد د پوهې په ترلاسه کولو کې پياوړی اوسي او له ځان سره ووايي: " زه به له دهٔ څخه يو پياوړی او پرتمين انسان جوړ کړم." مولا بايد له مريد سره مينه ولري، او د اړتيا پر مهال ئــي هېـڅکله يوازې نـهٔ پرېږدي، هېـڅکله دې غفلت ورسره نـهٔ کوي او هر هغه څه ئـي چې له وسعي کـېږي بايد مريد ته ئـي تر سره کړي- بايد ورسره ملګری وي او که کومه تېـروتنــه کوي نو په ملګرتوب دې، دې ته چمتو کړي چې تېـروتنــه بـېرته سمه[1] کړي. صاحبه! دا په يوهٔ مولا کې پينځه ويشت ښې ځانګړتياوې دي. له ما سره هم د همدغو احکام پر بنسټ چلند وکړئ. لويه ښتنه! شک راباندې لاسبرى شوى دى.

ظاهراً د سوبمن «بودا – ژ» په وينا کې تناقضات لـيدل کـېږي. که ددغو ويناوو په هکله لانجمنه شخړه راپورته شي له دې وروسته او په راتلونکې کې به راته ګرانــه وي ستا په شان به بل د بصيرت خاوند استاد ومومم. د مخالفانو او رقيبانو د ماتې په هيلې ددغو معضلاتو «ديليما ګانو» په هکله رڼا واچوئ.

---

**نــهم :** ورپسې شيخ د پاچا له ويل شويو خبرو سره موافقه ښکاره کړه او په خپل وار ئـي هغه لس ځانګړتياوې ورته روښانه کړې چې بايد په يوهٔ نوي زده کوونکي[2] کې ومونډل شي. اې پاچا دا لس واړه ځانګړتياوې يوهٔ نوي زده کوونکي ته د تقوى او نـېـکى فضيلتونه دي. زده کوونکی د قانون په شان له کړاو او درد څخه خوند اخلي. زده کوونکی دغه دکتورين «دهرما» د خپل مولا په توګې مني. دهٔ ته تر هغو التذار ورکول کـېـږي تر څو نورو ته د لذت د ورکړې جوګه شي. که زده کوونکی ويني چې د سوبمن «بودا – ژ» دين «دهرما» له زوال سره مخامخ دى نو د بيا راژوندي کولو په لارې کې به ئـي هېـڅ ډول سرښندنــه ونـهٔ سپموي. زده کوونکي رښتوني او حقيقي ليد لوري خپل مشال ګرځوي. زده کوونکی له شور او شرر[3] سره مينــه نـهٔ لري او په خپل ژوند کې په بل ښوونکي پسې نـهٔ ځي. زده کوونکی په دواړو فکر او چلند کې ځان خوندي ساتي. زده کوونکی په سولې او سوکالۍ کې خوښ وي او له سولې سره مينه لري. زده کوونکی رخه / حسد [۹۵] نـهٔ

---

[1]- په وينه يا Vinaya کې يو نامتو اخځ دى چې په کښې د زده کوونکو او استادانو تر منځ بشپړې دوه اړخـېزو دندې او مسئـوليتونو په ګوته شوي دي وګورئ: Mahâvagga I, 25, 26, translated in the 'Vinaya Texts' vol. i, pp. 154 and foil: همدلته په (25, 22 = 26, 10 کې دې ته ورته حکم دى چې د دهمينه dhammena پر معنى باندې رڼا اچوي. – ليکوال

[2]- په انګريزي متن کې lay disciple راغلي چې يوه معنى ئې غير روحاني مريد کېږي. په بوديزم کې يو نوى زده کوونکی بايد دوه پړاوونه ووهي چې د روحانيت دريځ تر لاسه کړي. دريو مرغلرو ته پناه يوسي او دويم پينځه اخلاقي قواعد پر ځان پلي کړي. درې ملرغلرې يو رسمي تشريفاتي ځانګړتياوې دي چې زده کوونکی به د خپل ژوندانـهٔ د اصل په توګې بودا، دهرما او سنګها پر ځان مني. او له پينځو اخلاقي قواعدو څخه موخه دا ده چې زده کوونکی به دغه اصول په خپل چارچلند کې د يوې موخې يا ايډيال په توګې پلي کوي. دا دواړه يعنى درې مرغلرې او پينځه قواعد د مانکانو او ننانو تر مخ په يوهٔ بودايي معبد کې په رسمي ډول پيلېږي. په درې مرغلرو کې زده کوونکی وايي چې بودا ته پناه وړم، دهرما ته پناه وړم او سنګها ته پناه وړم. په پينځو اخلاقي قواعدو کې زده کوونکی هوډ کوي چې ژمنه کوم چې د چا ژوند به نـهٔ اخلم، ژمنه کوم چې له هغو شيانو به پرهيز کوم چې ماته نـهٔ دي راکړل شوي. ژمنه کوم چې جنسي شهواني غلطي به نـهٔ کوم. ژمنه کوم چې له دروا‌غو او غلطو خبرو به ځان ساتم. ژمنه کوم چې له شرابو، واين او نورو نيشه يي شيانو به پرهيز کوم ځکه دا ټول د بې پروايي بنسټونه دي. – ژباړونکی

[3]- اپه ګته- کوتوهله منګله ليکو Apagata-kotûhala-mańgaliko : په سيمهالي ژباړې کې داسې ژباړل شوى دى: له غلطو ليدلورو او قواعدو څخه ځان ليري ساتل چې کوتوهله kotûhala او منګله ليکه mańgalika دي - ليکوال

احساسوي او په دين کې په لانجمن او جګړه مار تفکر ګام نـهٔ ږدي. زده کوونکی بودا ته پناه وړي، زده کوونکی دکتورينو «دهرما» ته پناه وړي او قانون ته پناه وړي. لويه پاچا! دا د يوهٔ نوي زده کوونکي لپاره لس واړه ځانګړتياوې دي. دا لس واړه ځانګړتياوې ستا په ځان کې ليدل کېږي. له همدې کبله ده چې دا ځانګړتياوې په تاسو کې سمې او ښې ښکاري او که تاسو د سوبمن «بودا ــ ژ» ددين زوال وليد نو تاسو به ئـې بيا رغاوني ته ليوالتيا ولرئ. اوس تاسو ته رخصت درکوم.

په دې سره د معضلاتو د حل د پېژندلو برخه پای ته رسېږي

---

# معضلات

## [بودا ته د درناوي وړاندې کول]

**لسم**: ورپسې، له دې چې پاچا ميليندا ته د رخصت اجازه ورکړل شوه، نو پاچا په داسې حال کې د ناګه سينا په پښو کې پريوت چې د دواړو لاسونو ورغوي ئـې پر يو بل باندې خپل تندي ته نـېږدې ايښي ول او وئـې ويل : " ښاغلی ناګه سينا د نورو مذهبي ډلو مشران وايي چې : « که بودا ډالی مني نو دا په دې معنی ده چې هغه په بشپړ ډول نـهٔ دی مړ شوی. هغه بايد اوس هم له نړۍ سره وي، د هغـهٔ حضور د همدې نړۍ په يوهٔ ګوټ کې شته، د نړۍ په شيانو کې خپله برخه لري؛ نو له دې کبله هغه ته د درناوي وړاندې کول هسې تشه او بې ګټې خبره[1] ده. خو له بلې خوا که «بودا- ژ» له (ژوندانـهٔ) څخه په بشپړ ډول مړی شوی وي او له نړۍ سره کومه اړيکه ونـهٔ لري، او ټوله هستي ئـې بشپړه له منځه تللي وي نو هغه ته بايد «د ديني لمانځني يا عبادت په ډول ــژ» درناوی ونـهٔ شي. هغوی چې په بشپړ ډول ئـې خلاصون موندلی دی، درناوی نـهٔ مني او هره هغه کړنـه چې داسې چا ته وشي او وئـې مني نو تشه او بې ګټې نـهٔ وي. دا معضله دوه ښکر لري. " دا د هغـهٔ چا د ليدلوري په قلمرو کې نـهٔ ځايږي چې فکر[2] نـهٔ لري، دا د هغـهٔ د فکري قلمرو خبره ده چې پراخ ليد لوری لري. د کفر دا ځاله ځيرې کړئ او يوې خوا ته ئـې کښېږدئ. دا معما يوازې ستا مخې ته ايښودل شوې ده. دا د سوبمن د سترګو راتلونکو بچيانو ته ورکړه چې په دې معما سره د خپلو مخالفانو او رقيبانو وارخطائـي او ابتروالی په خپلو سترګو ووينې.

شيخ په ځواب کې وويل : اې پاچا! هغـهٔ مبارک په بشپړ ډول خلاصون موندلی دی. او هغه مبارک کومه ډالی نـهٔ مني. ان کله چې د حکمت تر ونې لاندې وو نو د ډاليو د اخيستنګ دود ئـې خوشې کړی وو، د هغـهٔ وخت او اوس تر منځ ډېر وخت تېر شوی دی. دی په بشپړې توګې داسې له منځه تللی دی چې « د بيا نوي هست کېدنګ لپاره ئـې» هېڅ جرړه هم نـهٔ ده پاتې. اې پاچا د همدې لپاره ددين بولندوی ساري پوته[3] ويلي چې[1] :

---

[1]- د عبادت په بنې يو چا ته د درناوي وړاندې کول بايد هغه چا ته وي چې مړ شوی وي او يوازې او يوازې همدغسې يوه مړهٔ شوی کس ته وشي: دا خبره دې ته نغوته کوي چې دا بايد بوداپانو او د هغوی مخالفانو ته يو دود وي. خو په پالي او پيټکه ګانو کې دغسې يو ليد لوری نـهٔ ليدل کېږي. ددې خبرې نفس وروسته وختونو کې رامنځته شوی دی. ليکوال

[2]- اپــټـه ماناسنم Apatta-mânâsanam : د سينهالي شرحې له مخې : هغوی چې د ارهټانو باطني بصيرت ئـې نـهٔ دی تر لاسه کړی- ليکوال

[3] - Sâriputta

" سره له دې چې هم د رب النوعو
او هم د انسانانو له پلوه
دغو منقطع النظایرو « بې جوړو» ته
په برابره تعبد شوی
خو دوی ټولو په بې شبهه ډول
نـهٔ د عطیـې او نـهٔ د تعبد،
پروا ونـهٔ کړه
د نسلونو نسلونو په اوږدو کې
نـهٔ ئـې ومنل او نـهٔ ئـې وغندل،
ټول بودایان همداسې ول،
او همداسې بـه تر ابده وي[2]"

---

**پولسم**: پاچا وویل : ښاغلی ناګه سینا! یو پلار ښایي د خپل زوی په ستاینې کې څه ووایي او یا زوی د پلار په ستاینې کې. خو دا خبره ددې بنسټ نـهٔ شي کېـدی چې څوک دې خپل مخالف وشرموي. دا یوازې د هغوی د خپل باور یوه اصطلاح ده. اوس راته ووایاست! ما ته دا موضوع په بشپړ ډول په دې بڼې شرحه کړه چې ستا د خپلې عقیدې بنسټ راته وویلی شي [۹۶] او له بدعت څخه د خلاصون لاره راته ووایې.

شیخ په ځواب کې وویل : اې پاچا! هغـهٔ مبارک په بشپړ ډول «له ژوندانـهٔ» خلاصون موندلی دی. او هغه مبارک ډالی نـهٔ مني. ارباب الانواع یا انسانان به وغواړي چې د تـتهاګـته[3] د سپـېڅلو آثارو د ګنج د ګوهر[4] لپاره یوه ودانۍ جوړه کړي خو په دې پوهٔ وي چې هېـڅکله ددوي ډالۍ نـهٔ منل کېږي؛ دوی له دې سره سره دا بیعت د هغـهٔ مبارک د حکمت د ګنج د ګوهر تر سیوري لاندې د اعلی ښو د تر لاسه کولو په هیلې کوي چې که وکولی شي ځانته یو یا دریواړه دولتونـه تر لاسه

---

[1] - دا شعر زموږ په چاپ شویو متنونو کې نـهٔ موندل کېږي. تیرا ګاتا (981-1017) Gâthâ اووهٔ دېرش اشعار لري چې ساري پوټه ته ئـې نسبت ورکړل شوی دی خو دا شعر په همدغو اووهٔ دیرشو اشعارو کې نـهٔ شته- لیکوال

[2]- هینه تي کمبوري Hinati-kumburé چې له پالي څخه اشعار په اخځ اخلي دا د پوګه یانتا pûgayantâ او سادي ینتي sâdîyanti په بڼې لولي – لیکوال

[3] - Tathâgata

[4]- jewel treasure : په پالي او سانسکریت کې تریرتنا त्रिरत्न ویل شوي او کله هم د دریو ګنجونو، دریو پناه ګانو او د قیمتي تثلیث په نامـهٔ هم یاد شوي دي. دا د بودایانو د ایمان ارکان دي چې بودایان ورته پناه وړي. او دا درې ګوهرونه : بودا، دهرما او سنګها دي – ژباړونکی

کړي[1]. اې پاچا داسي وګڼئ چي یو وخت یو لوی او پرتمین اور بل شوی وو، دا اور باید او هرو مرو مړ شو وای، اور مړ شو، پوښتنه دا ده چي آیا مړ شوی اور د خپل دوام لپاره نوي سون توکي لکه وچ بوټي او لرګي مني؟

صاحبه! سره له دې چي اور ډول مړ شوی دی خو څوک نـهٔ شي ویلی چي دا اور دې «د خپل دوام لپاره – ژ» سون توکي ومني، دا په دې اړه لري چي اور څوني مړ شوی او څوني له سوَنګه پاتي دی، آیا یو بې حسه شی «اور- ژ» به دا ومني؟

"او کله چي دا ستر اور مړ شو او له منځه لاړ، نو آیا نړی به له اوره بې برخي شي؟"

"څرګنده ده چي نـه. وچ لرګی د اور بنسټ او مرکز دی او هر څوک چي اور غواړي نو د خپلی هڅې، د خپل توان او د ځواک د په کار اچولو له لارې چي په هر انسان کي نغښتی دی کولی شي اور تر لاسه کړي او هم لرګي څنګ پر څنګ د یو بل پر سر ږدي او اور رامنځته کوي او په همدغـهٔ اور هر هغه څه چي زړهٔ ئـې غواړي کولی شي تر سره کړي."

" یو شمـــېـــر مذهبي ډلي وايي چي هغـهٔ ته که د «لمانځني – ژ» کومه کړنه تر سره کېږي ، دی ئـې «بودا – ژ» ئـې مني، نو ځکه تشه او بې ګټي نـهٔ ده" ددوی دا خبره بشپړ درواغ دي. لویه پاچا، هغـه مبارک د هماغـهٔ لوی او پرتمین بل شوي اور په شان وو چي په خپل پرتمین بودا توب ئـې نړئ ته لس زره سیستیمونــه ځلانده کړل. کله چي دغه ډیوه مړه شوه نو هغه مبارک هم په داسي ډول مړ شو چي هېـڅ ریښه ئـې پاتي نـهٔ شوه. کټ مټ د هماغه مړهٔ شوي اور په شان چي د خپل دوام لپاره نورې ځئلي نــهٔ مني، دی هم هماغسي وو او دا د نړئ د ښـهٔ والي لپاره وو چي د ډالیو منل په پریکنده ډول ورسره مړهٔ شول. کله چي اور مړ شي او د خپل سوځېدنګ د دوام لپاره نور سون توکي نـهٔ لري نو انسان په خپل ځان کي د نغښتی ځواک او نغښتو هڅو په مټ سون توکي لټوي، ګوګړ را اخلي او اور رامنځته کوي او هر هغه کار کوي چي د اور د بلېدلو لپاره اړین وي – نو ارباب الانواع او انسانان هم همداسي دي او همداسي کوي، سره له دې چي تتهاګته[2] مړ شوی او نور هېـڅـکله ډالی نــهٔ مني خو بیا هم دوی د هغه د ګوهریني خزاني لپاره کور جوړوي او د فوق العاده نـېــکی د تر لاسه کولو په هیلي د دهٔ د حکمت د ګوهریني خزاني لپاره ځانته پناه ځای «معبد – ژ» جوړوي چي د دریو پرتمینو حالاتو له منځه یو نـهٔ یو تر لاسه کړي. [۹۷] له همدې کبله ده لویه پاچا هغه افعال چي دوی تتهاګته ته کوي، سره له دې چي تتهاګته مړ شوی او دوی نـهٔ مني، بیا هم ارزښت لري او خپله میوه ترلاسه کوي"

**دولسم :** اوس نو د همدې خبرې لپاره بل دلیل هم واورئ. اې پاچا! داسي وانګېـرئ چي یو لوی توند باد وچلېږي او بیا دا لوی باد مړ شي. آیا همدا باد به (چي مړ شوی دی- ژ) بیا وچلېږي؟

---

[1]- تیسو سمپټیو Tisso sampattiyo : دا د بل ارتحال پر لور د ځمکې پر مخ د انسان په بڼې، یا د رب النوعه په بڼې او یا دلته د ارهټ په بڼې په دې زېږون «اوسني ژوندون» کې دی. لیکوال

[2]- Tathâgata په سانسکریت کې तथागत کې تتها ګته ویل کېږي. تتها ګته د پالي او سانسکریت د ژبو یو وییکی دی چي معنی ئــې بودا ده او بودا غوره بلله چي په همدغـهٔ نامـهٔ دې یاد شي. او دوه اړخیزه معنی لري یعنی «هغه چي تللی دی» یا «هغه چي راغلی دی». د پالي په قانون کې بودا ځان داسي نه دی بللی لکه چي ووايي «زه بودا وایم» بلکه تتهاګته ئــې ویلي دي. ژباړونکی

' او هغه باد چې مړ شوی وي په دې نـــۀ پوهـېږي چې بیا به وچلېږي. ولې؟ ځکه چې عنصري باد له خپل ځانـه بې خبره یو شی دی.'

او یا اې پاچا! دغه مړۀ شوي باد ته څوک ان د "باد" وییکی کارَولی شي؟

' څرګنده ده چې نــه صاحبه. خو د باد د رامنځته کولو لپاره پکه هم کارېدلی شي. هر هغه څوک چې له تودوخې سره مخامخ شي، یا له تبې کړېږي کولی شي په خپل ځان کې د نغښتي ځواک او توان پر بنسټ پکه وښوروي او باد رامنځته کړي او په دې سره تودوخه له منځه وړي او یا خپله تبه ورباندې ټیټوي.'

'که داسې وي نو د هغو مذهبي ډلو خبره هم غلطه ثـېږي چې وايي " که هغـۀ ته «بودا ته –ژ» هره کړنـه «عبادت –ژ» تر سره شي نـۀ منځتشي ده او نـۀ عبث". لویه پاچا، هغه مبارک هم د هماغــۀ لوی توند باد په شان وو چې د نړۍ په لسو زرو سیستیمونو کې په خپلې مینې، سړښت، خوږښت، آرامښت او خوند وچلـېد. توند او پیاوړی باد یو وار راځي او بیا مري، هغه مبارک هم د همدغـۀ باد په شان یو ځل په خپلې مینې وچلېدۀ، په سړښت، خوند، آرامښت او خوند وچلـېد، اوس هغه مړ دی او داسې مړ دی چې هـېڅ جرړه ئـې نـۀ ده پاتې. هماغسې چې دغه انسانان په تودوخې او تبو کړېږي ان ارباب الانواع او انسانان هم په درې اړخـېزه اور او تودوخې کړېږي او زبـېښـل کـېږي[1]. او هماغسې چې پکه یوه وسیله ده چې ورباندې باد رامنځته کـېږي، د تتهاګته د حکمت د ګوهر خزانـه هم د وسایلو په شان ده چې له مخې ئـې درې اړخـېز ګوهرونــه تر لاسه کـېږي. [۹۸] انسانان چې په تودوخې زبـېښـل کـېږي او په تبې کړول کـېږي نو په پکې کولی شي باد رامنځته کړي او په دې توګې د تبې او تودوخې کچه راټیټه کړي نو همدې بـېلګې ته ورته ارباب الانواع هم کولی شي سپېڅلو آثارو ته خپل درناوی وړاندې کړي، او د تتهاګته د حکمت د خزانې د ګوهر درنښت وکړي، سره له دې چې تتهاګته مړ شوی دی او ددوی «دعاګانې – ژ» نـــۀ مني، خو په دې سره نـېـکۍ په ځان کې پنځوي او د همدې نـېـکۍ په شان کولی شي د درې ګوني اور د تودوخې او د تبې کچه ورباندې راټیټه کړي." له همدې کبله ده لویه پاچا هغه افعال چې دوی تتهاګته ته تر سره کوي سره له دې چې تتهاګته مړ شوی او دوی نـۀ مني، بیا هم ارزښت لري او خپله میوه تر لاسه کوي"

**دیارلسم:** اوس نو د همدې خبرې لپاره یو بل دلیل واورئ. اې پاچا داسې وانګـېرئ چې یو سړی ډهل وډنګوي او د ډهل غږ جوړ کړي او بیا دډهل غږ مړ شي. نو آیا د ډهل دا مړ شوی غږ به بیا راژوندی شي؟

'څرګنده ده چې نــه صاحبه. دا غږ نور په خپله مخه لاړ. دا غږ دا فکر او نظر نـــۀ لري چې دی به د بل غږ د رامنځته کولو جوګه وي. د ډهل غږ رامنځته شو او بیا مړ شو، د غږ په رامنځته کېدلو او مړۀ کېدلو سره بشپړه انقطاع رامنځته او جوړ شوی غږ نور لاړ. خو صاحبه! ډهل د غږ جوړولو وسیله ده. هر څوک کولی شي د اړتیا پرمهال په خپل ځان کې د نغښتي توان او ځواک له مخې ډهل وډمبوي او ږغ رامنځته کړي.'

---

[1]- او دا درې اورونه د شهوت اور، د ناوړه چلند اور او د اغفال اورو دی چې له منځه تګ ئـې د فوق العاده امتیاز په نامـــۀ یادېږي چې " د (نیروانا) پر لور وتنګ" بلل شوی دی- لیکوال

' لویه پاچا! هغه مبارک هم همداسي دی- په دې استثناء چې هغـهٔ په خپلو دکتورینو، اخلاقیاتو او د خپلو سپېڅلو آثارو د ګوهر په خزانې کې ښوونکی او لارښوونه له ځانـه پرېښودلې ده چې قدر او ارزښت ئـې له نـېـکـۍ، تفکر، حکمت او خلاصون څخه مشتق شوی دی، داسې بصیرت چې د خلاصون له علم څخه ورکړل شوی دی- هغه مړ شوی دی، په داسې ډول مړ شوی چې هېـڅ ریښه ئـې نـهٔ ده پاتې. خو که هغه مبارک مړ شوی مګر د درې واړو «ګوهرونو- ژ» د تر لاسه کولو شونتیا له منځه نـهٔ ده تللې. که څوک په غم کړېدلی وي او د درې واړو «ګوهرونو- ژ» د تر لاسه کولو هیله ولري نو بیا هم کولی شي د هغـهٔ «تتهاګته - ژ» د سپېڅلو آثارو د ګوهر د خزانې، د هغـهٔ د دکتورینو او اخلاقي ښوونو په وسیلې ئـې تر لاسه کړي. له همدې کبله ده لویه پاچا هغه افعال چې دوی ئـې تتهاګته ته تر سره کوي سره له دې چې تتهاګته مړ شوی او دوی نـهٔ مني، بیا هم ارزښت لري او خپله میوه ترلاسه کوي. او لویه پاچا، هغـهٔ مبارک د راتلونکي لپاره د شونتیا وړاند وينه کړې ده، او په دې هکله ئـې خبرې کړي او ویلي ئـې دي او خبر ئـې ورکړی چې : " آنندا! ښایي ستاسو په منځ کې دا لارښوونې طلیعه ووهي: [۹۹] ' د ولي الأمر خبرې پای ته ورسېدې. تاسو نور لارښود نـهٔ لرئ!.' خو آنندا دا هغه څه نـهٔ دي چې تاسو ئـې په پام کې ونیسئ. هغه حقیقت چې ما تاسو ته تدریس کړی، هغه قوانین مې چې ددین لپاره رامنځته کړي، دا ټول به زما له مړینې ورسته ستاسو مُـدَرِس وي.[1]" په دې توګه، ددښمنانو دا خبره غلطه ده چې وايي - له دې چې تتهاګته مړ شوی او برسیره پر دې پوهـېـږي چې نور نـــهٔ سته، نو چې نـــهٔ سته نو هره کړنـه د هغه لپاره تشه او بې ګټې ده. دا واقعیت نـــهٔ لري، له حقایقو سره سمون نـهٔ خوري، دا غلطه او د بې لاریتوب یا انحراف نښه ده. دا د کړاو سبب دی، کړاو ئـې میوه ده او پایله ئـې په عذاب النار اوړي.'

**څوارلسم:** اوس نو د همدې خبره لپاره بل دلیل واورئ. آیا دا دوني پراخه ځمکه به په دې راضي شي چې که پر مخ ئـې د تخمونو د ډولونو ټول ډولونـــه وکرل شي؟

څرګنده ده چې نـه صاحبه '

خو دا څنګه کېدی شي چې دا تخمونـه دې د ځمکې له رضائیته پرته د ځمکې پر مخ وکرل شي، او بیا هم دا تخمونـه د ځمکې پر مخ وده کوي، خپلې ریښې ټینګې ځغلوي، ونې جوړېږي، د ونې ستړې ستې یا ډډې جوړوي، د ونې شیره او څانګې جوړوي، غوټۍ کوي او میوه جوړوي؟'

'صاحبه! سره له دې چې ځمکه خپل رضائیت نـهٔ ورکوي بیا هم همدغو تخمونو ته د غوړېدلو د یوهٔ ځای په توګې ددوی د ودې د یوې وسیلې په بڼې چلند کوي.' په همدغـهٔ ځای کې کرل کـېـږي او د همدې وسیلې له لارې وده کوي، ستړې ستړې ونې له سترو سترو څانګو، ګلونو، غوټیو او میوو سره شنې کـېـږي.

' چې داسې ده نو لویه پاچا، دښمنان په خپلو خبرو او باور کې له منځه تللي، غلط ثابت شوي او په شا تمبول شوي چې وايي :" هره کړنـــهٔ هغـهٔ ته چې دی ئـې مني، تشه او بې ګټې نـــهٔ ده." اې پاچا! تتهاګته، ستربودا او ارهټ کټ مټ د ځمکې په شان دی. هېـڅ شی نـهٔ مني. هماغسې چې وده د تخم له لارې تر لاسه کېږي ارباب الانواع او انسانان هم د تخمونو په

---

[1]- Book of the Great Decease, VI, 1, translated in 'Buddhist Suttas,' p. 112.

شان دي چي د تتهاګته د حکمت او د هغـۀ د خزانو د ګوهرونو له مخې وده مومي- که څه هم هغه مړ شوی دی او رضائـيت به ونـۀ لري- خو دی لکه د ونې په شان دی چي د لياقتونو جرړې ئـې په ځمکې کې ډېرې ټينګې او ډوبې ننوتلې او دا ونه د خپل تفکر د څانګو، د رښتونو دکتورينو د شيرې او د تقوی د څانګو له لارې هوسا سيوری جوړوي، او د خلاصون ګلان رغوي، او د «سماويتوب[1]» ميوه رامنځته کوي. [۱۰۰]" له همدې کبله ده لويه پاچا هغه افعال چي دوی تتهاګته ته کوي سره له دې چي تتهاګته مړ شوی او دی ئـې نـۀ مني، بيا هم ارزښت لري او خپله ميوه ترلاسه کوي"

**پينځلسم:** اوس د همدې خبرې لپاره بل دليل واورئ. آيا اوښان، وحشي غواوې،خرۀ، وزې، ګاومـېښې يا انسانان به دا ومني چې ددوي ځان کې دننـه دې چينجيان زېـږون وومي؟

څرګنده ده چې نـه صاحبه

'ښه نو چي داسې ده نو څنګه کېـدی شي چي ددوی له رضائـيته پرته دې چنجيان رامنځته شي، او په دوني چټکی وده وکړي چې زامن او ان لمسيان ئـې بيا زېږون مومي؟'

'صاحبه! د هغوی د شريرې کرما په مرستې'

همداسې ده لويه پاچا، دا د تتهاګته د آثارو ځواک او د هغـۀ حکمت دی، که څه هم هغه مړ شوی او هېـڅ شی نـــۀ مني، خو که هره کړنـه هغـۀ ته تر سره شي ارزښتمنه ده او ميوه ورکوي.

**شپاړلسم :** اوس د همدې خبرې لپاره بل دليل واورئ. اې پاچا! آيا انسانان به ومني چې ددوی په ځان کې دې اتــۀ نوي ډوله ناروغۍ پنځون ومومي؟

څرګنده ده چې نـه صاحبه.

چې داسې ده نو د انسان په ځان کې ناروغي له کومه کېـږي؟

په تېـرو زېږونونو کې د ناوړو او شريرو کړووړو له کبله

خو لويه پاچا، که په تــېــر زېـږون کې شرير اعمال تر سره شوي وي او د خپلو کړو وړو له کبله په اوسمهال کې او دلته وکړول شي نو دواړه شرير او ښـــۀ اعمال چي دلته تر سره کــېــږي، خپل درونداولی «سزا- ژ» او خپله ميوه لري. له دې کبله لويه پاچا هغه افعال چي تتهاګته ته ترسره کېـږي سره له دې چي هغه مړ شوی او دی ئـې نـۀ مني، بيا هم ارزښت لري او هر څوک خپله ميوه ترلاسه کوي

---

[1] - Samawaship

**اوولسم :** اوس د همدې خبرې لپاره بل دلیل واورئ. تاسو د هغـهٔ سړي د خور نوم اورېدلی چې نندا‌که نومېدله او پر شیخ سري پوته[1] باندې ئـې لاس پورته کړی وو خو ځمکې ژوندی تېره کړه؟

هو صاحبه عوام خلک په دې هکله خبرې کوي

اوس پوښتنـه دا ده چې سري پوته په دې خبرې رضائیت درلود؟

[۱۰۱] صاحبه که د انسانانو او ارباب الانواعو نړی له منځه تللي وای، که لمر او سپوږمی پر ځمکې راپریوتلي وای، که د غرونو پاچا (سینرو[2]) له منځه تللی وای، بیا به هم شیخ سري پوته هېڅکله په دې راضي نــهٔ وای چې نورو موجوداتو ته دې تاوان ورســېږي. ولې نه؟ دا ځکه چې ددهٔ په زړهٔ کې هر هغه حالت چې ددهٔ د قهر او خښم او یا ځور سبب ګرځـېـد په دهٔ کې له منځه تللی وو او جرړه ئـې له زړه ایستل شوې وه. او له دې چې ټول حالات ددهٔ له زړهٔ څخه ایستل شوي ول نو صاحبه نـهٔ شي کېدی چې سري پوته ان پر هغو کسانو نــهٔ وي خښمېدلی چې له ژوندانـــهٔ ددهٔ د بې برخې کولو تکل ئـې کړی وو.'

اې پاچا! خو اوس پوښتنـه دا ده چې که سري پوته د نندا‌که ژوندی تېرولو ته رضائیت نـهٔ درلود نو ولې نندا‌که ځمکې ژوندی تېر کړ؟

د خپلو شریرو کړنو د ځواک له کبله

لویه پاچا! چې داسې ده نو هره کړنـه چې هغه ته وشوه او سره له دې چې دهٔ ورسره رضائیت نـهٔ درلود مګر بیا هم هماغې کړنې خپل ځواک او میوه درلودله. که داسې وي چې یوه شریره کړنـه دې خپل ځواک او میوه ولري نو تاسو د نــېــکو چارو د ځواک او میوې په پیاوړتیا او څومره والي څه ګومان کوئ؟ له دې کبله ده ګرانه پاچا هغه افعال چې تتهاګته ته ترسره کېږي سره له دې چې هغه مړ شوی او دی ئـې نـهٔ مني بیا هم ارزښت لري او هر څوک خپله میوه ترلاسه کوي.

**اتلسم :** ګرانه پاچا! تاسو پوهېږئ چې څوني انسانان په دې ژوندانـهٔ کې د ځمکې له پلوه ژوندي تېر شوي دي؟

آیا داسې څه مو اورېدلي دي؟

هو صاحبه، دا مې ډېر اورېدلي دي

---

[1] - Sariputta the Elder

[2] - Sineru : په پالي کې سینرو او په سانسکریت کې سومرو Sumeru ویل شوی چې د بودایي کازمولوژۍ په نړۍ کې د هماغې نړۍ د منځنیو برخو د غرونو نوم دی. دا غرونه په سانسکریت کې میرو Meru او په پالي کې نیرو Neru یاد شوي او د سو Su مختاړی د پرتم او عظمت په معنی پرې ورزیات شوی دی. یعنی د میرو یا نیرو پرتمین غرونه. د کوزمو لوژۍ پر بنسټ دا غرونه اتلس زره یوجانا لوړ دی. یوجانا، یو سانسکریت وییکی دی چې د واټن ټاکلو لپاره کارول کېږي او هر یو یوجانا زموږ له عصري واټن شمــېــرې سره له اتو تر دیارلسو کیلومترو پورې راځي. – ژباړونکی

راته ووایاست

برهمني میرمن کینکه[1]، ساکي سوپه بودها[2]، شیخ دیوه دتا[3] او سړي خور نتداکه[4] او برهمن ننذا[5] - دا هغه پینځهٔ تنهٔ دي چې ځمکې ژوندي تېر کړي دي.

اې پاچا! او څوک په غلطی د ځمکي له ستوني تېر شوي دي؟

هغه مبارک او د هغهٔ مریدان

چې داسي ده نو هغهٔ مبارک او مریدانو ئې په دې رضائیت درلود چې د ځمکي له ستوني تېر شي؟

څرګنده ده چې نه صاحبه

اې پاچا دلته ده : هغه افعال چې تتهاګته ته ترسره کېږي سره له دې چې هغه مړ شوی او دی ئې نهٔ مني، بیا هم ارزښت لري او هر څوک خپله میوه ترلاسه کوي.

ښاغلی ناګه سینا! دا هغه ژورې پوښتني وې چې ما درلودلې او تاسو په خپلو ځوابونو زما ذهن روښانه کړ. تاسو ډېر محرم شیان ماته په ساده ټکیو[۱۰۲] روښانه کړل، تا غوټې راته خلاصي کړلې، تاسو په ګڼ ځنګلهٔ کې ځمکه راته پراخه کړه، دښمنان ړنګ شول، غلط عقاید غلط ثابت شول، اې ددین تر ټولو لوړه او ښاغلیه شیخه کله چې ددین ډلپال کسان تاسو ګوري په تیارو کې پټېږي.

---

په دې ځای د نهٔ رضائیت په هکله پوښتني پای ته رسېږي

---

1 -'Kińka the Brahmin woman

2 - Suppabuddha the Sâkyan

3 - Devadatta the Elder

4 - Nandaka the ogre

5 - Nanda the Brahman

# د بودا علم لانـــهائـــي

---

**نولسم :** ښاغلی ناگه سینا! آیا بودا علم لانـــهائـي  وو؟

هو، پاچا. خو د بصیرت علم ئـــي تل او په کي متداوماً «په شعوري ډول»  موجود نـهٔ وو. د هغـهٔ مبارک علم لانـــهائـي په انعکاس پورې تړلی وو[1]. که ئـــي انعکاس ورکاوهٔ نو په هر هغــهٔ شي خبرېــدهٔ چي غوښتل ئـــي پرې پوهٔ شي[2].

چي داسې ده صاحبه ! که بودا خپل ټول علم ته د پلټني له لارې رسېـدلی وي نو نـهٔ شي کولی چي علم لانـــهائـي ولري.

[لويه پاچا! که زموږ د بودا د پوهې درجه له اعلی درجي ټيټه وای نو د نورو بوداگانو به هم همداسې وای. او دا استنتاج زښت گران دی چي راوئـې باسو. خو اجازه راکړئ لږه نوره شرحه ورکړم.]

گرانه پاچا! داسې وانگـېرئ چي تاسو د وريجو سل کراچۍ بار لري او دا وريجي له پوستکو سره دي، هر بار اووهٔ نيم امانه[3] دي. آيا يو څوک به له شمـېرنـي پرته ددې وړتيا ولري چي ووايي تاسو په ټول بار کې څو لکه دانې وريجي لرئ[4]؟

**شلم:** اوس دې ټکي ته ستاسو پاک را اړوم چي اذهان په اوو ډلو ويشل شوي دي. لويه پاچا دا اذهان دا دي : هغه چي شهوتپال دي، هغه چي ککړ او ناوړه تکل لري، هغه چي له اغفال او توهمه ډک دي، هغه چي په غلطو لارو روان دي، هغه چي د خپل جسم په سمبالښت کي نـهٔ دي روزل شوي، هغه چي په خپل چلند کي نـهٔ دي روزل شوي، هغه چي په تفکر کي نـهٔ دي روزل شوي او  هغه چي په حکمت کي نـهٔ دي روزل شوي- ددوی فکري ځواک هغه مهال راڅرگندېږي چي له ستونزو سره مخامخ شي او سوکه چلند کوي. اوس پوښتنه دا ده چي ولې داسې دي؟ دا ځکه چي ددوي ذهني حالت نـهٔ دی روزل شوی. دا لکه د ستر بانس د لرگي، دراندهٔ او سوکه خوځښت ته ورته دی – کله چي له خپلې پراخي لويـې ډډې سره راکش شي چي په څنگ کې ئـې نور بوټي شنـهٔ شوي او بوټي ورپورې گردچاپېـره راتاو شوي وي نو ورپورې ټول راټول

---

[1]- په بېـلابېـلو پوښتـنو پورې اړوند دغه لقب او نور د سیمهالي متن له مخې ورزیات شوی دی. کېـدی شي همدې ته ورته القاب هماغه القاب وي چي د ښاغلي ترنکنر د برمايي متن Burmese MS په سریزې کې لـيدل کېـږي. لیکوال

[2] - So again below, § 27

[3]- یوه امانه څلور بوشله bushels کېـږي. لیکوال

بوشل د وچو توکو د تللو لپاره یوه مقیاس دی چي په امریکایی مقیاس یو بوشل څلور پکه Pecks  او یا اتـهٔ گیلنه کېـږي. ژباړونکی

[4] - ښاغلی ترنکنر په خپلې ژباړې کې دغه نقل قول گډ وډ بللی او په نښه کړی ئـــې دی، چي زه ئـې هم په معنی پوه نـهٔ شوم. سیمهالي متن هم مبهم او مغشوش دی. په قوسینو کې راغلي کلمات ما د سیمهالي متن له مخې ورزیات کړي او پاتې مې د سیمهالي او پالي کلماتو د عمومي ادارک له مخې ژباړلي دي. هاردي د همدې برخې ژباړه د Manual of Buddhism' په ۳۸۶ پاڼې کې ورکوي. دی وايي:" د وريجو په يوهٔ بار کې۰۰۰،۶۳،۶۶۰ دانې وريجې دي. بودا به د سترگو په رپ کې د هر بار جلاجلا شمـېـره وويله. په همدې شــېـبې کې ول چي بودا د خپل ځواک اووهٔ گونی اړخ راڅرگند کړ." وروستۍ جمله په IV, 1, 20  کې زموږ د راتلونکي څانگې په پیلنیزې برخې کې یوه تېـروتنه ده. لیکوال

شوي بوتي او ددۀ ځانګي ورسره یو ځای کش کېږي او په خپل دراندۀ خوځښت لټ او سوکه وي. نو اې پاچا! فکري او ذهني خوځښت په انسانانو کې هم همداسې سوکه او دروند دی. دا ولې؟ دا ځکه چې فکري جرړې ئې غلطو پیچلو لارو ته لیواله دي. دا د فکر لومړۍ ډله ده.'

**یوویشتم :** دویمه له لومړۍ ډلې باید توپیر شي. اې پاچا! دا د هغو ډلو افکار دي چې دین ته اوښتي دي، ددوی پر مخ د عالم برزخ دروازې ترل شوي دي، دا هغه ډله ده چې ښـۀ نظریات ئې تر لاسه کړي دي، هغه کسان چې د خپل ولي الامر په دکتورینو پوۀ شوي دي – د هغوی فکري ځواک تر دې دمه په درو کښـتنیو پوړونو[1] کې دی، او درې واړه ځواکونه په کار اچوي [۱۰۳] او په آسانۍ عمل کوي. خو په لوړو پوړونو کې په سختۍ او سوکه عمل کوي. دا ولې داسې ده؟ دا ځکه چې په لومړیو درو پوړونو کې ددوی اذهان پاک شوي دي او له دې چې لا تر دې دمه په دوی کې ناکامي شته، ( هغه ناکامي چې باید په لوړو پوړونو کې له منځه تللي وي.) دا هم کټ مټ هماغه د بانس د ستر لرګي خوځښت ته ورته ده چې تر دریمې غوټې پورې روښانـه ځانګه لري خو له دریمې غوټې پورته ځانګې ئې په پیچلي ډول په یو بل پورې پیچل شوي دي. تر دې دمه تر دریمې غوټې پورې که ځانګه کش سي خوځښت ئـې آسان دی خو په پورتنیو ځانګو کې خوځښت ټینګ او سخت دی. دا وه د اذهانو دویمه ډله.'

**دوه ویشتم :** دا ډله باید له دوه وو یادو شویو ډلو توپیر شي. اې پاچا! سه کد اګامینان[2] هغوی دي چې د شهوتپالنې، ناوړه تکل او اغفال لیوالتیا ئـې تر زښتې ډېـرې ټیټې کچې راټیټه شوې – او فکري ځواکونه ئـې تر پینځو پوړونو پورې کار او عمل کوي او په آسانۍ فعل تر سره کوي. خو که دوی له پینځو پوړونو پورته لاړ شي نو اعمال ئـې په سختۍ او سوکه وي. دا نو ولې داسې ده؟ دا ځکه چې ددوی اذهان یوازې تر همدغو پینځو پوړونو پورې پاک شوي دي او بل دا چې لا تر دې دمه په دوی کې ناکامي شته، ( هغه ناکامي چې باید په لوړو پوړونو کې له منځه تللي وي.) دا هم کټ مټ هماغه د بانس د ستر لرګي خوځښت ته ورته ده چې تر پینځمې غوټې پورې روښانـه ځانګه لري خو له پینځمې غوټې پورته ځانګې ئـې په پیچلي ډول په یو بل پورې پیچل شوي دي. تر دې دمه تر پینځمې غوټې پورې که ځانګه کش سي خوځښت آسان دی خو په پورتنیو ځانګو کې خوځښت ټینګ او سخت دی. دا وه د اذهانو دریمه ډله.

**درویشتم :** دا ډله باید له دریو ویل شویو ډلو توپیر شي. اې پاچا اناګامیان[3] هغه څوک دي چې د خنډونو له پینځو ټیټو پوړونو څخه په بشپړ ډول خلاص وي – ددوی فکري ځواکونـه تر لسو پوړونو پورې ژر په کار لوېږي او په آسانۍ عمل کوي. [۱۰۴] خو په نورو پورته پوړونو کې فکرونـه ئـې په سختۍ کار کوي او سوکه عمل کوي. او ولې داسې ده؟ دا ځکه چې

---

[1]- دا د فوق العاده لارې یوه برخه ده. دلته درې خنډونه دي – ځاني اغفال، شک او په دیني تشریفاتو او لمانځنو باندې ترښت او ظاهري اخلاقیات – او دا درې واړه خنډونه هغه دي چې سوتاپنو Sotâpanno وربانډې سوبمن شوی او خنډونه ئې مات کړي دي. لیکوال

سوتاپنو : د معنی له اړخه د بهیر ګټونکي ته ویل کېږي. په بودیزم کې سوتاپنو هغه څوک دی چې د فکر پر درو خنډونو باندې لاسبری شوی وي لکه ځان لیدنګ «ځان پېـژندنه»، په دیني لمانځنو او تشریفاتو پورې تړلی او عقیدوي شک – ژباړونکی

[2] Sakad Agamins : هغه مریدان چې یوازې یو ځل د ارهټ توب د ترلاسه کولو لپاره دې نړۍ ته راځي او مري. لیکوال

[3] - Anâgâmins : هغوی چې ان یو ځل دې نړۍ ته نـۀ راځي خو په جنت کې ارهټ توب تر لاسه کوي – لیکوال

ددوی اذهان تر لسم[1] پوړ پورې پاک شوي دي او له دې چې لا تر دې دمه په دوی کې ناکامي شته، ( هغه ناکامي چې باید په لوړو پوړونو کې له منځه تللي وي.) دا هم کټ مټ هماغه د بانس د ستر لرگي خوځښت ته ورته ده چې تر لسمې غوټې پورې نرمه څانگه لري خو له لسمې غوټې پورته څانگې ئـې په پيچلي ډول په يو بل پورې پيچل شوي دي.. دا وه د اذهانو څلورمه ډله.

**څلورويشتم :** دا پينځمه ډله بايد له څلورو ويل شويو ډلو توپير شي. اې پاچا! ارهټان هغه څوک دي چې په ځان کې ئـې څلور ستر شريران[2] مړهٔ شوي دي، له زړونو څخه ئـې داغونه پريمنځل شوي دي، هغوی چې نور د شرارت وړتيا[3] نـهٔ لري، هغوی چې ژوند و ژواک ئـې کړی دی، دندې ئـې ترسره کړي دي، او ټول دراندهٔ پيټي ئـې يوې خوا ته ايښي دي او تر هغهٔ ځايه رسېدلي چې ښـهٔ والی ئـې بللی شو، دغو کسانو ته د هر ډول غوښت او خواست خنډ په راتلونکي ژوند کې ټوټه ټوټه[4] شوی دی، هغوی چې د بصيرت[5] لوړترين پوړ ته رسېدلي دي، دوی هغوی دي چې د زړهٔ ټول حالات ئـې دونې پاک شوي لکه چې يو خالص او پاک مستمع وي – ددوی فکري ځواک بايد هماغه وي چې يو مريد ئـې ولري او يا د مريد د فکري ځواک ښښتن وي او په همدې کچې په چټکی او آسانی افعال تر سره کاندي. خو هغو شيانو ته چې پکيکه بودايان[6] (هغوی چې بودايان دي مگر په يوازې سر دي) لاسرسی لري دوی ئـې په سختی تر سره کوي او په کې پڅ دي. او دا ولې داسې ده؟ دا ځکه چې دوی يوازې (سره له دې چې په يوازې سر بوداگان دي) او د مستمعو تر ولايت پورې پاک شوي خو نـهٔ تر هغې کچې چې بودايان ورته رسېدلي دي. دا لکه هماغه د بانس د ستر لرگي په شان دي چې د خپلو غوټو له ټولو راپورته شويو څانگو پاک شوي دي – او که کش سي په چابکی او آسانی کش کېږي، دا ځکه چې ټول له سره تر پايه نرمښت لري او بله دا چې د ځنگلي بوټو له ودې څخه نور خلاص ي. دا وه د اذهانو پينځمه ډله.

**پينځه ويشتم :** [۱۰۵] شپږمه ډله بايد له يادو شويو پينځو ډلو توپير شي. ای پاچا! پکيکه بودايان هغوی دي چې يوازې له خپل ځان سره تړاو لري، ښوونکي ته اړتيا نـهٔ لري او لکه د کرگدن د يوازيني ښاخ په شان يوازې گوښې گوټ ژوند و ژواک لري، او زړونـه ئـې په لوړ روحاني ژوند کې سپيڅلي او له داغونو پاک دي- د هغوی فکري ځواکونـه په خپل ولايت کې په چټکي او آسانی کار کوي. خو که دوي په ټولو هغو چارو کې چې د بشپړ بودا په ولايت پورې اړه لري « هغه چې نـــهٔ يوازې بودا دی او په خپله، روښنايي ته رسېدلي بلکه روښنايي ته د نورو لاربنود گرځي» راوستل شي نو دوی په سختي کار کوي او ډېر پڅ دي. او ولې داسې ده؟ دا ځکه چې دوی يوازې په خپل ولايت کې پاک او سپـېڅلي شوي دي او بل دا چې د بوداگانو د ولايت علم لانـــهائـــي زښت ډېر دروند دی. دا يوې ويالې ته ورته دی چې ددوی په خپل ملکيت کې ژور والی نـهٔ لري او له ډاره پرته او په خپلې خوښی شپه او ورځ ورڅخه تېرېدلی شي. خو که يوهٔ ستر، ژور او پراخ

[1]- دا ټکی دلته د يادونې وړ دی چې ددې ډلي اذهان لا تر دې دمه تر پينځو پوړونو پورې نه دي پاک شوی. مگر د وروستی ډلي په ټولو څلورو واړو کې راځي. ليکوال

[2]- شهوت، کيدنگ، اغفال او بي خبري. - ليکوال

[3] - Kilesâ

[4] - Parikkîna-bhava-samyganâ.

[5] - Patta-patisambhidâ.

[6] - Pakkeka Buddhas

سمندر ته ورسېږي او ورڅخه تېر شي او د سمندر څنډې ونـهٔ ويني نو دلته زړهٔ نا زړهٔ په ډار درېږي او له سمندر څخه د تېرېدلو هڅه نـهٔ کوي. ولې؟ دا ځکه چې دی په خپل ولايت کې بلد دی او بل لامل ئـې د سمندر لويوالی او ژوروالی دی. دا وه د اذهانو شپږمه ډله.

**شپږ ويشتم :** اوومه ډله بايد له شپږو يادوو شويو ډلو توپير شي. اې پاچا! هغوی چې بشپړ بوداګان[1] دي له بشپړ حکمته برخمن دي او په ځان کې لس استوی « د بصيرت لس ډوله » ځواک نغښتی لري، د ايمان بالنفس په څلورو ځانګړو حالاتو کې ډاډمن دي، د بودا د اتلسو ځانګړتياوو په مواهبو سمبال شوی دي چې د تفوق سيطره ئـې حدود نـهٔ پېژني، له سترګو ئـې هېڅ شي پټ نـهٔ شي پاتې کـېدی- فکري ځواکونـه ئـې ډېر ژر او په آسانی په کار لوېږي. اې پاچا! يو صيقل شوی له زنګ وهلو خلاص غيشی په پام کې ونيسئ چې بشپړ ظريف او نيغ تېرهٔ اړخونـه لري چې کوږوالی او کموالی ونـهٔ لري او په يوې پياوړې ليندی کې ځای پر ځای شي.اوس که دا غيشی د پياوړي غيشي ويشتونکي په لاس وويشتل شي او د يوهٔ نرم کتان، د مالوچو ټوکر او يا له وړيو جوړ د يوهٔ ټوکر له منځه تـېر شي آيا د غيشي په کار کې به کومه بې خوندي يا ناوړتيا وليدل شي؟

ځرګنده ده چې نــه صاحبه. نو ولې؟ دا ځکه چې ټوکران نرم دي او غيشی په ظرافت جوړ او په پياوړي لاس ويشتل کېږي.

[۱۰۶] لويه پاچا! نو د بوداګانو فکري ځواکونـه هم همداسي دي چې مخکې مې وويل چې په چټکی او آسانی کار کوي. دا ولې؟ دا ځکه چې دوی له هره اړخه سپيځلي شوي دي. دا وه د اذهانو اوومه ډله. '

**اوه ويشتم** : اې پاچا! اوس ددغو ډلو وروستی ډله – دا د علم لانـــهائـي بوداګانو فکري ځواکونه دي – چې له ټولو شپږو يادوشويو ډلو بـېـل دي، دا هغه ځواکونـه دي چې تر عالي او لوړې کچې دوني پاک او فعاله دي چې زموږ په خيال کې به هم رانــهٔ شي. لويه پاچا! دا د هغـهٔ مبارک د سپيځلي او فعاله ذهن له کبله ده چې هغـه مبارک غبرګه معجزه ښکاره کوي. اې پاچا له هغـه څـه چې موږ پوهېږو، نو ګورو چې د هغـهٔ مبارک تعقلي ځواکونـه څوني پاک او سپـېڅلي دي. او دغو معجزو ته بل دليل نـهٔ شته چې په دهٔ پورې دې منتسب شي. اې پاچا (بيا هم) دا معجزې [چې د بوداګانو د علم لانـــهائـي د (بيوازيني) ذهن د سبب په وسيلې شوي] نـهٔ شمار لري، نـهٔ محاسبه کېدی شي، نـهٔ تقسيمدی شي او نـهٔ بـېلـېدی شي؛ اې پاچا (دا ددې لپاره چې) د هغـهٔ مبارک بصيرت[2] او پوهه په انعکاس[3] پورې] تړلې ده او د انعکاس پر بنسټ ده چې که هر څه دی وغواړي نو وربانديې د پوهه او علميت سيطره لري. اې پاچا دې بـېلـګې ته پام ونيسئ : که يو څوک په يوهٔ لاس کې يو څه ولري نو په څوني چټکی ئـې ژر بل لاس ته اړولی شي، او يا ئـې که خوله خلاصه شي نو په څوني چټکی غړ ايستلی

---

[1]- له وروستی ډلې څخه ددوی توپير دا دی چې نـهٔ يوازې دوی روښنايي ته رسېدلي دي بلکه ددې وړتيا لري چې نورو انسانانو ته زده کړه ورکړي- ليکوال

[2]- دلته د اولسمي پاڼې وراشه يو ځل بيا راغلی ده – ليکوال

[3]- په ډاډ ويلی شم چې دلته يا په پالي متن کې او يا زما په ژباړې کې چې د سيمهالي متن له مخې کـېږي او په ۱۳۰ پاڼې کې دې يو څه غلط دي. ليکوال

شي، یا ئـې که په خولـۀ کې څه شي وي نو په څوني چټکی ئـې له ستوني تـېرولی شي او یا ئـې که سترګي ترلي وي څوني ژر ئـې په رپ کې خلاصولی شي، او یا په څوني چټکی خپل راټول کړي مړوندونـه غځولی شي یا څوني ژر خپل غځولي مړوندونـه راټولولی شي- لویه پاچا د هغـۀ مبارک ټول بصیرت تر دۀ هم آسانــه، او ددۀ تر انعکاسه[1] هم چټک دی. سره له دې چې بوداګان د همدغـۀ انعکاس پر بنسټ هر هغه څه چې ددوی زړۀ وغواړي ورباندې پوهېږي او سره له دې چې د دوی علم لانـــهائـي لوړ دی خو بیا هم ددوی انعکاس د هغـۀ مبارک تر انعکاسه نـۀ شي رسېدلی.

مګر ښاغلی ناګه سینا! انعکاس د پلټون په موخې رامنځته کېږي (او څرګنده نـۀ ده چې انعکاس کله رامنځته کېږي). اوس نو ما ته په دې هکله د دلایلو پر بنسټ قناعت راکړئ.

اې پاچا یو شتمن سړی په پام کې ونیسئ چې ډېره شتمني او جایدادونـــه لري- دا سړی د سرو او سپینو زرو او ګران بعیو شیانو مغازې لري، د هر ډول اوړو مغازې، د هر ډول وریجو، شولو او وربشو مغازې، د وچو دانو غـَــلو، د نباتي غوړیو د تخمونو، باقلیو، نخودو او د هر ډول نورو خوراکي تخمونو مغازې لري، دا سړی د غوړیو او تیلو، کوچو او شیدو او مستو او انګبینو او بورې او ګوړې [۱۰۷] مغازې لري، ټول شیان ئـې په منګیو، کوزړیو او چاټیو کې په زیرمتونونو په دیګیو او کټوریو کې او نورو هر ډول لوښو کې ایښي دي. اوس نو که یو مسافر راشي چې د مـېلمستیا وړتیا ولري او مسافر هم د کوربه مـېلمـه پالني ته سترګه په لارې وي؛ خو په دې مهال کې د شتمن سړي په مغازو کې ټول شیان خلاص شوي دي او یوازې په مرتبان کې لږ وریجي دي او له همدغو وریجو مسافر ته ډوډۍ برابروي. اوس پوښتنـه دا ده چې آیا دا شتمن سړی به په رښتیا، د خوراکي توکو د کمښت له کبله چې مسافر ورباندې په ناوړه وخت کې برابر شوی دی، بې وزلی او غریب سړی وګڼل شي؟

څرګنده ده چې نــه صاحبه. ان کـېدی شي د شهنشاه په ماڼی کې به داسې مېلمانـۀ ته چې په ناوړه وخت کې رسـېږي ډوډۍ چمتو نـۀ وي، عادی سړی خو پر ځای پرېږده.

لویه پاچا همداسي ده، د تتهاګته له ټول بصیرت سره سره ددۀ انعکاس یوازې د اړتیا پر مهال روښانـېدۀ؛ خو هر هغه څه ئـې چې غوښتل په انعکاس کې ورښکارېدل. لویه پاچا اوس له میوې ډکه یوه لویه ونه په پام کې ونیسئ چې اوږدې څانګې ئـې هر لور ته خورې ورې دي او دا څانګې د خپلو میوو د درونداوالي له کبله کښته ځړېدلي دي خو له ونې څخه یوه دانــه میوه هم ځمکې ته نـۀ ده لوېدلې. اوس د همدې ونې حالت ته پام سره آیا کـېدی شي دا ونـه یوازې او یوازې په دې تور چې له څانګو څخه ئـې یوه میوه ځمکې ته نـۀ ده لوېدلې شنډه یا بې حاصله وګڼل شي؟

---

[1] - reflection : موږ دغـۀ ټکي ته په مخکنیو لمنلیکونو کې نغوته کړې ده. دلته یو ځل بیا وایم چې له انعکاس څخه موخه دا ده چې د بودیزم مرکزي ټکی په درو ګوهرونو یا تریرتنا त्रिरत्न ولاړ دی چې درې خزانې، درې پناه ګانې او فوق العاده تثلیت دی او یو بودایي همدغو درو واړو ته پناه وړي چې بودا، دهرما او سنګها ده. ژباړونکی

نــه صاحبه. له وني څخه د ميوې لوېدنګ د تلذذ يو حالت دی، کله چې ميوه له وني لاندې راولوېږي نو هر څوک کولی شي هر څوني چې وغواړي د ځمکي له مخې ئــې ټولولی شي.'

همداسي ده لويه پاچا. سره له دې چې د تتهاګته د بصيرت لپاره اړين شرط دی خو بيا هم دی په انعکاس سره هغه شی ويني چې دی ئــې وغواړي.

ناګه سينا! آيا تل داسي د انعکاس پر مهال پـېښـېږي؟

هو، اې پاچا. هر کله چې ستر شهنشاه (ککا وټي[1]) د سوبې پرتمين څرخ په ذهن کې راوګرځوي نو د هيلو تر سره کـېدنګ ئــې ورته ژوندی په نظر راسي، دوني ژر ورته را څرګنـدېږي چې محض په اړه ئــې فکر وکړي- نو همداسي د تتهاګته بصيرت هم دی چې تل مدام په انعکاس پسي دوام مومي.

' ناګه سينا! تاسو د بودا د علم لانـــهائـي په هکله پياوړي دلايل راکړل. زما قناعت مو په دې هکله تر لاسه کړ.'

---

[ په همدې ځای د بودا د علم لانـــهائـې په هکله هغه پوښتـنې پای مومي چې په انعکاس[2] پورې تړلې دي.]

---

## [ولـې ډيوه ډتا [3] دين ته ومنل شو]

**اتــهٔ ويشتم :** ښاغلی ناګه سينا! دا څوک ول چې ډيوه ډتـا[4] ئــې دين ته ومانـــهٔ؟

دا شپږ تنــه ځوان اشراف ول هر يو بهاډيا، انوراډها، آننداء بهاګو، کيمبيلا او ډيوه ډتا[5] [۱۰۸] او اووم تن ئــې يو نايي د اوپالي[6] په نامـهٔ - کله چې ولي الأمر بودا توب تر لاسه کړ او هغـهٔ مبارک دين ته د رابللو بلنـه ورکړه نو لومړی دوی ټول ول چې د خپلو خوښيو کورونــه ئــې په ساکيا[7] کې خوشې کړل او د هغـــهٔ مبارک په متروکې دنيا پسي وخوځـــېدل. نو هغـهٔ مبارک ټول، دين[8] ته ومنل.

---

[1] - Kakkavatti

[2] - د دريم څپرکي په شپږمې او دويمې برخې کې د بودا د علم لانهائـې په هکله يوه بله ستونزه راپورته شوې وه- ليکوال

[3] - Devadatta يو ستر بودايي مانک وو چې د ګاتما سيدهارتها يا شکياموني بودا چې په لنډون ئـې بودا پـېژنو، د ترهٔ زوی او اوښی وو. ډيوه ډتا د معنی له اړخه په زړهٔ پورې دی چې معنی ئــې خدای ورکړی يا خدايداد کـېږي. زموږ د هـېـواد په ډېريو برخو کې د خدايداد په نامـهٔ نـهٔ يوازې خاص نومونه شته بلکه د سيمو او کليو لپاره عام نومونه هم شته. کـېدی شي د سيمو دغه عام نومونه په لومړيو کې همدغه ډيوه ډتا ول او وروسته په خدايداد ژباړل شوي وي - ژباړونکی

[4] - دی د بودايي داستانونو يو له جودا Judas ګانو څخه دی چې د بودا د وژلو او د هغـــهٔ د مريدانو د اغوا کولو هڅه ئــې کوله- ليکوال

[5] - Bhaddiya and Anuruddha and Ânanda and Bhagu and Kimbila and Devadatta

[6] - Upâli

[7] - Sâkya

[8] - هيناتي کمبوري Hinati-kumburê کولا kulâ د مفعول مــِـنــهُ په توګې مني. ليکوال

خو آیا دا ډیوه ډتا نـــۀ وو چې دین ته له ننوتنګ وروسته ئـې  په دین کې انشقاق او اختلاف راپورته کړ؟

'هو. هېـڅ عادي متدین نـۀ شي کولی انشقاق رامنځته کړي، نـۀ ئـې کومه دیني خور کولی شي، او نـۀ ئـې د تمهیدي لاربښوني تر سیوري لاندې او نـۀ ئـې د دواړو نر او ښځې د جنسونو کوم نوی دیني شاګر کولی شي. داسې چې، انشقاق باید کوم بهیکهو وي چې معیبوبیت ونـۀ لري او باید هغه څوک وي چې په دین کې ئـې بشپړ ګډون تر لاسه کړی وي او معبد-استوګنی وي[1].

او انشقاقي سړی کومه کرما تر لاسه کوي؟

داسې یوه کرما چې کړنـه ئـې تر کلپه[2] «ډېـر اوږدۀ مهال » پورې دوام مومي.

نو بیا څه کېـږي ناګه سینا! آیا بودا په دې خبر وو کله چې ډیوه ډتا دین ته ننوت او انشقاق ئـې راپورته کړ، نو آیا دی به د انشقاق په رامنځته کولو د یوې کلپه لپاره په برزخ کې په سزا وکړول شي؟

هو تتهاګته په دې پوهــېــدۀ.

خو ناګه سینا! چې داسې ده نو آیا دا ادعا غلطه نـۀ ده چې ویل کېـږي بودا دوني مهربان او اندېـښمن وو چې نورو ته ئـې ښېګڼه غوښتله، د صدمه رسـېدونکو افعالو دافع وو، او نورو ته د هغو کارونو برابرونکی وو چې سوکالي ئـې ورته ورسـېږي. که داسې وي – نو آیا «بودا- ژ» په دې نـۀ پوهـېـد چې دین ته د ډیوه ډتا له راننوتنګ وروسته به ډیوه ډتا په دین کې انشقاق رامنځته کړي – چې داسې ده نو څوک نـۀ شي ویلی چې دی «بودا –ژ» دې علم لانـــهائـي ولري. دا هغه بله غبرګه او دوه اړخیزه معضله ده چې ستاسو مخې ته مې کـښـېښودله. دا پـېـچلې غوټه خلاصه کړئ او د دښمنانو دغه لانجمنـه وراشه ماته کړئ. ستاسو په شان به بل بیکهو په راتلونکي کې ونـۀ موندل شي چې ستاسو په شان حکمت ولري. راځئ خپله ورهـنـه «مهارت» راڅرګند کړئ.'

**نـــهـۀ ویشتم :** ګرانـه پاچا! هغه مبارک هم له رحمته ډک وو او هم ئـې بشپړ حکمت درلود. دا هغه مهال وو کله چې هغـۀ مبارک په خپل رحمت او حکمت د ډیوه ډتا د ژوند د پړاونو تأریخ مطرح کړ او وئـې لیدل چې څنګه ډیوه ډتا یوه کرما پر بلې کرما راټوله کړې او وئـې لیدل چې ډیوه ډتا به د کلپه ګانو یوه ناپایه مهالیزه لړۍ وګوري او له یوۀ عذابه به بل عذاب ته او له یوې نیستۍ او تباهۍ څخه په بلې نیستۍ او تباهۍ ته اوړي. او له دې چې ډیوه ډتا دین ته اوښتی وو نو هغـه مبارک په دې پوهـېـدۀ چې ددۀ سړي کرما به لایتنـــاهي وي او هغه غم چې د مخکینۍ کرما له کبله ورته ورپـېښ شوی هم په همدې پورې مقیده وي. [۱۰۹] خو که دا احمق سړی دین ته هم نـــۀ وو راغلی بیا به هم دۀ یوه کرما پر بلې کرما راټولوله او تر کلپه پورې به په کې سوځـېدۀ. د همدې لپاره وو چې هغه مبارک په دې پوهېدۀ نو په خپل رحمت ئـې دین ته ومانـۀ.

---

[1] - دا د بودایي دین د قانون تخنیکي مصطلحات دي. ددو معنی دا ده چې په دین کې نوري ځانګې له تخنیکي اړخه انشقاق نه شمـېـرل کېـږي. وګورئ : - Kullavagga VII, I, 27, &c. - لیکوال

[2] - Kalpa

'چې داسې ده نو ناګه سینا! بودا لومړی یو څوک ټپي کوي او بیا ئې پر ټپ باندې تیل ورشیندي، لومړی یو څوک د یوهٔ ګړنګ پر ژۍ برابروي او بیا د خپلې مرستې لاس ورغځوي، لومړی یو څوک وژني او بیا ورته ژوند ورکوي، لومړی یو څوک په دردونو کړوي او ورسره له ورکړل شوي درد او کړاو څخه خوند اخلي.'

'اې پاچا! تتهاګته خلک د هغوی د ښـېـګـڼې لپاره ټپي کوي، تتهاګته خلک ددوي د ګټې لپاره ډوبوي، تتهاګته خلک وژني خو ددوی د ګټې لپاره. اې پاچا! کټ مټ لکه مور او پلار چې خپل بچیان د هغوی د ښـېـګـڼې لپاره وهي او ان دا چې په وهلو وهلو ئې پر ځمکې بې هوښه غورځوي؛ نو که تتهاګته د خلکو په ژوندانـهٔ کې هر ډول سزا ډېروي او یا ورباندې کړاو راولي یوازې ددوی په ښـېـګـڼې کې خپله ونډه اداء کوي. ګرانه پاچا! که دېوه دتا دین ته نـهٔ وَی راغلی نو هر عادي متدین به دونې کرما کړې وَی چې پایله به ئې په غم او پرېـښاني اوښتای او په دې سره به همدا عادي متدین د سلګونو زرو کلپه وو په لړ کې له زجر تر بدبختی پورې کړاونه ګاللې وَی او د نیستی او هلاکت له یوهٔ حالته به بل حالت ته اوښت او انسان به دایم له متداوم کړاوه کړېـدهٔ. هغه مبارک د عادي انسان له دغـهٔ حالته خبر وو او پوهـېـدهٔ نو ځکه ئې دېوه دتا دین ته ومانــهٔ. د دې تفکر له مخې ول چې دېوه دتا د هغـهٔ «بودا –ژ» د دکتورینو پر بنسټ دنیا ترک کړه او غمونـه ئې د هغـهٔ مبارک په رحم رالنډ شول او دا لار ئې د درندو غمونو د سپکولو یوه وسیله ومنله.

<u>**دیرشم**</u>: ګرانه پاچا! که کوم سلطان پر خپل ملګري یا یو دوست باندې یوه درنده سزا کښـېـږدي نو سلطان د خپلې اغـېـزې له مخې، د خپل ځواک، شتمنې، شهرت، بریا یا په اصلانو کې د زوکړې له مخې د هغې داډمنتیا پر بنسټ چې پر دهٔ باندې ئې لرې کولی شي دا سزا کمه کړي؛ [۱۰۱] هغـهٔ مبارک هم کټ مټ همداسې وکړل، دېوه دتا ئـې دین ته ومانـهٔ او د عدل او نیکی د نفوذ د اغیزې له مخې، او د عبادت او حکمت او د زړهٔ د خلاصون له مخې ئې د دېو دتا درانـدهٔ غمونه سپک کړل، که ئـې داسې نـهٔ ول کړي نو دېوه دتا به د سلګونو زرو کلپه ګانو لپاره کړېـدهٔ. هماغسې چې یو پوه طبیب یا جراح د پیاوړو طبي درملو په مرستې د شدید ترینو ناروغیو دروندوالی سپکوي نو هغـهٔ مبارک هم په خپل ربنتوني حکمت سره دېوه دتا دین ته ومانــهٔ او د دهرما د درملو او د غښتلي استرحام په برکت سره ئې د دېوه دتا شدیدترینه درد سپک کړ[1]. اې پاچا! اوس تاسو ووایاست چې هغه مبارک په دې کې په کومې غلطی تورنـېـږي چې دېوه دتا ئـې له ډېــــرو غمونو څخه د لږ غمونو خاوند جوړ کړ؟

'نــه صاحبه! هغـهٔ کومه غلطي نـهٔ ده کړې ان تر زښتې ډېــــرې کوچنی غلطي پورې ئې کومه نـهٔ ده کړې[2]'

نو لویه پاچا دا په بشپړ ډول ومنئ چې هـغـهٔ مبارک، دېوه دتا د کوم دلیل له مخې دین ته ومانـهٔ.

<u>**یو دیرشم :**</u> ګرانه پاچا! بل دلیل تاسو ته وړاندې کوم چې هغـهٔ مبارک څنګه دېوه دتا ومانـهٔ. داسې و انګـېـرئ چې څو تنــه ونیول شول او ددوی له منځه ئې یو تن د شریر غلـهٔ په تور د پاچا مخې ته راوست؛ افسران پاچا ته وایي : " ښاغلی

---

[1] - Kâruńńabalopatthaddha. Compare Gâtaka, vol. i, verse 267, and Sutta Vibhańga I, 10, 7.
[2] - Gaddûhanam pi. It is the Sanskrit dadrûghna.

اعلیحضرت! دی یو شریر غل دی. دهٔ ته داسي له کړاوه ډکه سزا وټاکئ چي له دهٔ سره ښايي!" او ددې په اورېدلو پاچا دوی ته وايي : " زما سړيو! چي داسي ده نو دا غل له ښاره دباندې يوسئ او د اعدامولو ځای ته ئي ورسوئ او سر ئي ورپريک کړئ." دوی هم د پاچا د حکم په متابعت دا سړی د اعدامولو ځای ته بيايي. دلته يو بل سړی ددوی مخي ته راځي چي پاچا ته نېږدې دی، دا سړی لوړ نوم، جايداد، ډېره پانګه او شتمني لري، خبره ئي وزن[1]، او ډېر اغېز لري، دا سړی د سرتېرو مخي ته دربېږي. ددغهٔ سړي رحم ورباندې راځي او د پاچا سړيو ته وايي :" صبر وکړئ خلکو. ددغهٔ سړي له سر پرېکولو به تاسو ته څه ګټه دروسېږي؟ ژوندی ئي وساتئ او يوازې ئي يو لاس يا يوه پښه پريک کړي. زه به په دې هکله له پاچا سره خبرې وکړم. او د پاچا سړي هم د همدغهٔ سړي د خبرې پر بنسټ هغه څه کوي چي دی ئي ورته وايي. اوس خبره دلته ده چي آيا دغه افسر چي د شتمن سړي له خبرې سره چلند کوي آيا له غلهٔ سره ئي نېکي کړې ده؟'

صاحبه دغهٔ افسر د غلهٔ ژوند ژغورلی دی. که داسي ئي نهٔ وَی کړي نو څه به ئي کړي وای؟

افسر خو د غلهٔ د لاس يا د پښي په پرېکولو پر غلهٔ باندې د درد [۱۱۱] په راوستنګ کي کومه غلطي نهٔ وي کړي؟

' په هغهٔ درد کي چي غل به پرې وکړول شي د غلهٔ خپله تېروتنه ده. خو هغهٔ افسر چي د غلهٔ ژوند ئي ساتلی دی، کوم تاوان ئي نهٔ دی رسولی.'

' همداسي ده لويه پاچا! دا د هغهٔ مبارک رحم وو چي ډيوه ډټا ئي دين ته ومانهٔ او دې پوهېدهٔ چي پر ډيوه ډټا باندې د کړاو په راوستلو به د ډيوه ډټا د غمونو کچه سپکه شي.'

**دوه دېرشم :** اې پاچا! په دې سره د ډيوه ډټا د غمونو کچه راټيټه شوه. ډيوه ډټا د خپلي مړيني پر مهال د خپلي بشپړې هستۍ لپاره د هغهٔ «مبارک ـژ» رحم ته پناه يووړه او وئي ويل :

ددهٔ په پناه کي چي
په ټولو افضلانو کي
بې ساری دی[2]
د ارباب الانواعو رب النوعه،
د رب النوعو او انسانانو
لاربښود
دا هماغه دی چي هر څه ويني
او سل نښي لري

---

[1] - Âdeyya-vakano. See my note, Kullavagga VI, 4, 8, and also Puggala Pańńatti III, 12, and *Pańka,* Gati Dîpana, 98.

[2]- په تحت اللفظي معنی افضل دی په دغو اتو کي : هغه اتهٔ موجودات چي پر افضلي او عالي لارې روان دي، څلور مه ګه سمڼ جينو magga-samańgino او څلور فله سمڼ جينو phala-samańgino. وګورئ : Puggala Pańńatti VIII, 1 – ليکوال

د نیکۍ په پار – "
دۀ ته پناه ورم
د ټولو هغو ژوندونو لپاره
چې زه به په کې ژوند وکړم."

اې پاچا[1] که دغه کلپه په شپږو برخو وویشئ نو د لومړۍ برخې په پای کې ول چې ډیوه ډټا په دین کې انشقاق رامنځته کړ. وروسته له دې چې ډیوه ډټا په پینځو برزخونو کې و کړول شي بیا به راخلاص شي او دی به د اتهیساره[2] تر نامـۀ لاندې پکیکه – بودا[3] شي.

ناګه سینا! هغـۀ مبارک پر ډیوه ډټا باندې ستره لوريينه لورولې ده. په دې لورينې کې به ډیوه ډټا پکیکه بودا شي، څه نـۀ دي چې بودا هغـۀ ته ئـې نـۀ دي کړي؟

اې پاچا، پوښتنه دا ده هر څوني چې ډیوه ډټا په دین کې انشقاق رامنځته کړی هماغومره به دې په برزخ کې کړول کـېږي، آیا هغـۀ مبارک ددۀ په حق کې غلطي نـۀ ده کړې؟

نـه صاحبه. دا د ډیوه ډټا تـېروتنـه وه؛ هغـۀ مبارک ددۀ د درد په راکمولو کې دۀ ته تاوان نـــۀ دی رسولی.

چې داسې ده نو اې پاچا، دا دلیل ومنئ چې هغـۀ مبارک څنګه ډیوه ډټا دین ته د همدغـۀ دلیل پر بنسټ ومانــۀ.

**دري ډېرشم :** ګرانه پاچا اوس د هغـۀ «مبارک – ژ» د همداسې کړنې لپاره بل دلیل واورئ. [۱۱۲] داسې وانګـېرئ چې په زوو او وینو ډک یو ټپ دی او درملنــه ئـې کـېږي، ددغـۀ ټپ په جـَوف کې د وسلې یوه ټوټه بنده پاتې ده چې د خوسا شوې غوښې ګنده بوی ورڅخه راځي او د ټپ د درد کچه او تبه د ناروغی د بدلون موندونکو نښو په اسیت په ثابت ډول کښته او پورته ځي، دا نښې د بدن د تودخې کښته او پورته کـېدل، او د درو– بادي، صفراوي او بلغمي اخلاطو د یو ځای والي له کبله دي[4] - یو پیاوړی طبیب او جراح راځي او په یوۀ زاړۀ، تـېـرۀ، زړۀ سوري کوونکي او نـېښ وهونکي مرهم باندې ئـې غوړوي چې په دې سره به التهاب یا پاړسوب کم شي. او کله چې پاړسوب کښـېناست، او ټپ خپل خوړوالی تر لاسه کړي اوس وار ددې دی چې دا ټپ په نیښـتر پرې شي او په یوۀ سوځندۀ شي ئـې وسوځوي. او کله چې ټپ ئـې وسوځاوۀ داسې وانګـېرئ چې جراح د ټپ د پریوللو لپاره القلي ورکوي او تر هغـۀ دمه له درملو جوړه پټۍ ورکوي چې ټپ ورغـېږي او ناروغ خپله روغتیا بـېرته تر لاسه کوي- ګرانـه پاچا اوس راته ووایاست چې آیا دا د جراح بـېرحمي نـۀ وه چې د ناروغ ټپ ئـې په پټۍ وداغـۀ او ټپ ئـې ورته په نـېښـتـر پرې کړ او د داغلو په سوځوونکي وسپنې ئـې ټپ و داغـۀ او تر جوړېدو پورې ئـې ټپ ورته په مالګینو اوبو پاک کړ؟

---

[1]- سیمهالي متن په همدغـۀ ځای کې یو پاراګراف اچوي چې د ښاغلي ترنکنر په متن کې نـۀ شته – لیکوال

[2] - Athissara

[3] - Pakkeka-Buddhas , See above, p. 158.

[4]- په دغـۀ پاراګراف کې د یو شمــېــر طبي مصطلحاتو ژباړه ډاډمنه نه ده. د اصلي متن ۱۳۴، ۲۵۲ او ۳۰۵ پاڼې وګورئ – لیکوال

ځرګنده ده چي نـه صاحبه؛ دا د جراح د رحم او مهرباني خبره وه او دا ټول کارونـه ئـي د ناروغ د سوکالئ په هیلي وکړل او د ناروغ درملنـه ئـي وکړه.

او د روغتیا د بیا تر لاسه کولو په هیلي هغه دردونه چي جراح پر ناروغ راوستل په دې کي جراح ملامت نـهٔ دي؟

جراح په دې کي ځنګه ملامتـېدی شي؟ جراح خو په پاک زړهٔ او د ناروغ د سوکالئ لپاره کار وکړ، ځنګه کېدی شي چي جراح دې په دې کي غلط او پړ وګڼل شي؟ دا پر ناروغ باندې جنتي مهرباني وه او د درنښت وړ خو جراح دی چي پر ناروغ ئـي خپله مهرباني ولوروله.

همداسي ده لویه پاچا! د هغـهٔ مبارک خبره هم همداسي ده چي په خپل رحم ئـي ډیوه ډټا دین ته په دې هـېلي ومانـهٔ چي له دردونو او کړاونو ئـي خلاص کړي.

**<u>ځلور دېـرشم :</u>** ګرانـه پاچا د هغـهٔ مبارک د همداسي کار لپاره یو بل دلیل واورئ : داسي وانګـېرئ چي د یوهٔ سړي په ځان کي یو اغزی لاړ. بل سړی په نـېـک تکل راځي او ددغـهٔ سړي په ځان کي د تللي اغزي ځای په یو بل لوی تـېرهٔ اغزي یا نـېښـتر پرې کوي او د سړي له همدغـهٔ ځایه وینې راوځي چي اغزی راوباسي. اوس نو آیا ددغـهٔ سړي دغه کار ظلم ګڼل کـېږي چي له دهٔ سره ئـي مرسته وکړه؟

'ځرګنده ده چي نــه صاحبه. نوموړي د نـېـکئ په تکل او د هغـهٔ بل د ښـهٔ والي لپاره دا کار وکړ. که دهٔ دا کار نــهٔ وای کړی نو ښایي هغه بل سړی به مړ شوی وای او یا به د مرګ تر پولي نـېږدې درد ځخه کړېدلی وَی.'

لویه پاچا، همداسي د هغـهٔ مبارک رحمت وو چي ډیوه ډټا ئـي دین ته ومانـهٔ تر ځو دی د دردونو له کړاوه خلاص کړي. که هغـهٔ مبارک دا کار نــهٔ وَی کړای [۱۱۳] نو ډیوه ډټا به د ځو پر له پسي هستیو په ترخ کي د سلهاوو زرو کلپه ګانو په لړ کي په برزخ کي کړېدی وای.

' هو ناګه سینا، دا تتهاګته وو چي سیلاب پسي اخیستي ډیوه ډټا ته ودرید او د سیلابي اوبو په بهیر کي ئـي د هغـهٔ مخه راټاو کړه؛ او کله چي ډیوه ډټا په ځنګلـهٔ کي لاره ورکه کړه نو ډیوه ډټا ته ئـي د تلنګ دلارې کرښه وښودله، کله چي ډیوه ډټا د ژور ګړنګ پر ژئ ولاړ وو او نـېږدې چي ولوېږي دا تتهاګته وو چي ډیوه ډټا ته ئـي د پښو ایښـودلو ځای ورکړ؛ کله چي ډیوه ډټا د پرېـښانئ او غم له ستوني تـېرېدهٔ نو دا تتهاګته وو چي ډیوه ډټا ئـي د غم له ستوني دباندې راوایست. ناګه سینا! ستاسو په شان به بل ځوک داسي ونـهٔ موندل شي چي ما ته ئـي دلایل او د شیانو معنی په لاس راکړی وای مګر دا چي هغه باید هم ستاسو په شان په پوهې او حکمت سمبال عالم وای. '

---

[په دې سره د ډیوه ډټا معضله پای مومي.]

---

# د وِســَـنـتــرا زلزلــه[1]

**پينځـــۀ دېرشم** : ښاغلی ناگه سينا! هغـۀ مبارک ويلي چې : "اې بهيکخوگانو! د يوې سترې زلزلې لپاره اتـۀ نـېږدې يا لـېرې علتونـه شته[2]." دا يوه هر اړخـېزه يا جامعه غونډله يا جمله ده، داسې يوه غونډله چې متمم وربانديې نـۀ شي زياتـېدی، داسې يوه غونډله چې تعليق يا تحشيه پرې نـۀ شي زياتـېدی. د يوې زلزلې لپاره کـېدی شي نور نـــهم علت موجود نـــۀ وي. که تر دې پورته علتونـه موجود ول نو هغـۀ مبارک به ياد کړي ول. نو همدا دليل دی چې بل علت ئـې نـۀ شته چې ددۀ ورته پام نـۀ وي شوی. خو موږ يو بل، يا نـــهم دليل موندلی دی او موږ ته ويل کـېږي کله چې وسنترا خپل تر ټولو ستر سخاوت ورکاوۀ نو ځمکه اووه ځله وښورېـدله[3]. ناگه سينا! که د يوې زلزلې لپاره اتـۀ علتونـه وي نو هغه څه چې موږ د زلزلې په هکله اورو په دې معنی دي چې د وسنترا سخاوت غلط دی. او که دا سم وي نو دا غونډله غلطه ده چې وايي د زلزلو لپاره اتـۀ علتونـه موجود دي. دا يوه دوه اړخـېزه پوښتنه هم ده، په دقت ډکول او حلول ئـې گران دي، په تورتم کې پټه او ژوره ده. اوس همدا پوښتنـه ستاسو مخې ته ږدم. [۱۱۴] ستاسو له حکمت او پوهې پرته بل څوک دوني علميت نـۀ لري چې دا پوښتنـه دې حل کړی شي.

**شپږ دېرشم** : گرانـه پاچا! تاسو د هغـۀ مبارک وينا ته نغوته وکړه چې ځمکه لا تر اوسه د وسنترا د سخاء پر مهال اووۀ ځله ښوري. خو دا د هغـۀ مهال او ځای خبره وه، دا يوه استـثـنائـي پـېښـــه وه چې د زلزلې په اتو معمولو علتونو کې نـۀ شمـېرل کـېږي او ان دا په هغـــۀ مهال کې يو له دغو اتو څخه نـــۀ دی شمـېرل شوی. همداسې ده گرانـــه پاچا، په نړۍ کې درې ډوله بارانونـــه په خورا شهرت سره پـېژندل شوي دي – يعنی فصلي باران، د ژمي د مياشتو باران او بل د آسالهه او ساوَنـــه [4] ددوو مياشتو باران. که له دغو درېواړو بارانونو پرته بل باران وورېـږي نو د عادي بارانونو په ډلې کې نـۀ شمـېرل کـېږي بلکه له " فصله وتلی باران" ئـې بولي. او گرانـه پاچا دلته بله بـېـلگه واورئ چې له هماليا څخه پينځه سوه سيندونـه رابهـېـږي خو ددوی له ډلې څخه يوازې لس سيندونـه ئـې په شمار کې راغلي دي- د گنگا سيند، د جمنا سيند، د اکيره وتي[5] سيند، د سَرَبو[6] سيند، د سَرَسوَتي[7] سيند، د مَـهـي[8] سيند، د اندس[9] سيند، د ويتره وتي[10] سيند، د ويتمسا[11] سيند، د کندابهاگا[12] سيند – نور خوړونه دي چې د اوبو د نوبتي بهير له کبله د سيندونو د نومونو په کتالوگ کې نـۀ دي راغلی. گرانـه پاچا بله بـېـلگه واورئ: تاسو پوهـېږئ چې د يوۀ پاچا تر لاس لاندې سل يا يو سل او دوه تنـه افسران وي خو

---

[1] -[VESSANTARA'S EARTHQUAKE.]
[2] - From the Book of the Great Decease, III, 13, translated at p. 45 of my ' Buddhist Suttas,' vol. xi in this series.

[3] وگورئ وسنترا گاتکه Vessantara Gâtaka او پرتله کړئ Gâtaka I, p. 74

[4] - Âsâlha and Sâvana
[5] - Akiravati
[6] - Sarabhû
[7] - Sarasvatî
[8] - Mahî
[9] - Indus
[10] - Vetravati
[11] - Vitamsâ
[12] - Kandabhâgâ

ددوی له منځه یوازې شپږ تنــه ئـي د دولت د افسرانو په نامـهٔ پېـژندل کـېږي – اعلی سر قوماندان، صدراعظم، مشر قاضـي یا قاضـي القضات، مشر خزانــه دار، ددولت چتر لرونکی [1] او ددولت توره لرونکی[2]. دا ولې؟ دا ځکه چې دا ددوی میراثي سلطنتي امتیاز دی. نور ئـي په دې ډلي کي نـهٔ راځي او یوازې په ساده بیان د افسرانو په نامـهٔ یادېـږي. [۱۱۵] لویه پاچا، هماغسي چې په ټولو یادو شویو بـېلګو کي مو ولیدل دلته د وسنترا د سخاوت خبره هم هماغسي ده، د وسنترا د سخاوت پر مهال د اوو ځلو تکراري زلزلي خبره یوازې یوه فوق العاده ځانګړې پېښه وه او د عادي اتو زلزلو له ډلي څخه بـېله یوه پېښــه وه او د زلزلي په اتو علتونو کي نـهٔ ده شمــېرل شوې.

**اووهٔ دېرشم :** ګرانــه پاچا، آیا تاسو اورېدلي دي چې زموږ د دین په تأریخ کي که څوک ددین په لارې کي کومه سربښندنــه وکړي نو نــېــکه جزاء ئـي ان په اوسني ژوند کي ورکول کــېږي، داسي شهرت چې همدا سړی تر رب النوعو پورې رســېدلی دی؟

هو صاحبه، همداسي مو اورېـدلي دي. په همدې هکله اووهٔ ډوله سربښندني یادي شوې دي.

کومو خلکو دا کارونــه کړي دي؟

د ګلو د ګــېډۍ جوړونکي سومنــه[3]، برهمن ایکه ساتکه[4]، کرایي مریي پونه[5]، ملکه ملیکا[6]، او هغه ملکه چې د ګوپاله [7] د مور په نامـهٔ پېـژندل کـېږي، سوپیا [8] سربښندویه مــېرمن، او مریي نجلکۍ پونه. دا هماغه اووهٔ تنــه دي چې سربښندونو ئـي په دې ژوندانـهٔ کي ورته خپله میوه ورکړې او په دې شهرت لري چې بوداتوب ته رســېدلي دي.

او ګرانــه پاچا دا مو هم اورېدلي دي چې د یو شمــېــر کسانو خو ان انساني جسدونــه، سترو درې دیرشو متبرکو استوګنځیو ته رسېدلي دي؟

هو ددوی مې هم اورېدلي دي

او دوی څوک دي؟

---

[1] - the bearer of the sunshade of state
[2] - the state sword-bearer
[3] - Sumana
[4] - Eka-sâtaka
[5] - Puńńa
[6] - Mallikâ
[7] - Gopâla
[8] - Suppiyâ

موسيقار گوتيله[1] ، سادهينـه[2] چې پاچا وو، پاچا نيمي[3]، او پاچا مندهاتا[4]- دا څلور واړه. دا پرتميني او ستونزمنې چارې ډېـــرې پخوا تــېرې شوې دي.

خو گرانـه پاچا دا مو هم اورېدلي دي چې د سخاوت د ورکړې پرمهال ځمکه په تـېر مهال او يا په اوسمهال کې يو، يا دوه ځله يا درې ځله ټکان خوړي ؟

نــه صاحبه دا خبره مې نـۀ ده اورېــدلې

ما هم نـۀ ده اورېدلې گرانـه پاچا- سره له دې چې زه ديني لمانځنې کوم، لوستنگ ته ئـې هڅاند او ژمن يم، قانون لولم او اورم ئـې، د زړۀ له کومې ئـې زده کوم، د شاگرۍ او مريدۍ فضيلت را په برخې دي، او فکر کوم چې زده کړو ته چمتو شوی يم، پوښتنې کولی شم او ځواب ويلی شم او د استادانو پښو ته د زده کړې لپاره کښېـنـم- ما هم هېـڅکله دغسې يو شئ نـۀ دی اورېـدلی يوازې په يوۀ مورد کې مې په استثنائـــي ډول اورېدلي چې چې د پرتمين پاچا وسنترا د پرتمين سخاوت پر مهال همداسې يوه پېښــه شوې وه. د کـَــسـَـپه مبارک[5] او د حکيم ساکيا مبارک[6] د مهالونو يا زمانو تر منځ په سلهاوو زره کلونه راځي، ما خو په دوني اوږد مهال کې داسې څه نـۀ دي اورېدلي. [۱۱۶] گرانـه پاچا د ځمکې خوځښت کومه عادي خبره نـۀ ده چې په عادي هڅو او عادي کوښښونو باندې دې وخوځـېـږي. کله چې د ځمکې پر مخ د نيکۍ او عدل سوبه خپره شي، کله چې پر ځمکې باندې د نـېــکو اعمالو پـېټی چې د خلوص تائيد دی دروند شي نو ځمکه ئـې نور د وړلو وسعه نـۀ لري، دلته ده چې ځمکه ښوري او خوځي. کټ مټ لکه د يوۀ واگون په شان چې درانده بارونـه په کې بار شوي وي او د واگون ستنه او ميلې وچوي او اکسل ئـې دوه ټوټې شي. او بيا پر جنت باندې د هغه توفان اوبـۀ تـېرې شي چې دا توفاني شمال خوځوي، له توفان مخکې درندې باراني وريځې را رواني وي، غړمبهار او کړيکو ئـې آسمان نيولی وي او ددغو تالندو او برېــښناوو په منځ کې بوړبوړکی «گِردباد» راوپاځـېـږي. لويه پاچا همدا وه چې دې لويې ځمکې ددې توان نـۀ درلود چې د پاچا وسنترا د پراخ او هر اړخيز سخاوت د لوی او پياوړي ځواک زور دې ولري، او همدا وه چې ځمکه وښورېدله او بيا وخوځـېدله. د پاچا وسنترا په زړۀ کې د ځواک شهوت نـۀ وو پروت، نـۀ ئـې کوم ناوړه تکل درلود، نـۀ ئـې لټې کړې ده، نــــۀ ئـې وياړ، نـۀ غولـېدلی دی او نـۀ ئـې گناه، نـۀ ئـې کوم جَدَل کړی دی او نـۀ ئـې کومه نارضائـيتي

---

[1] - Sâdhina

[2] - Sâdhina

[3] - king Nimi

[4] - king Mandhâtâ

[5]-Kassapa the Blessed One د تريوَدا بودايانو د باورنو پر بنسټ کسپه بودا د ۲۹ بوداگانو د نومونو په منځ کې اوه ويشتم بودا دی. نوموړی د بهارت په شمال کې په اوترپرَديش په ايالت کې په برهمني کورنۍ کې زېږېدلی دی. ددوی باورونه وايي چې نوموړي د دوه وو زرو کالو لپاره په درو ځايونو کې ژوند کړی دی. ژباړونکی

[6] -the Blessed One the Sakya sage : دی هغه عالم دی چې له سيدهارتا گاتما بودا څخه مخکې راغلی دی. بودايي روايات وايي چې نوموړي د ۱۷۵۰ او ۵۰۰ م. ز کلونو تر منځ په يوۀ مهال کې ژوند کړی دی. د سيدهارتا گاتما بودا د ژوند کلونه د ۵۰۰ م. ز په شاو خوا کې ويل شوي دي. ژباړونکی

ښودلي ده- ځمکه ددهٔ ځواکمن سخاوت او نـېـکی په ستر زور وخوځـېدله. او په تفکر کي ئې ویل : " پرېږدئ چي ټول غوښتـنوال راشي، او پرېږدئ هغوی چي لا نـهٔ دي راغلي، را دې شي، او هغوی چي اوس رارسـېدلي دي! پرېږدي دوی ټول هر هغـه څه چي غواړي تر لاسه ئـي کړي او زړونـه ئـي په رضائیت او قناعت ډک شي." دا د سخاوت ورځ ده، سخاوت پای نـهٔ لري، دا ددهٔ د فکر نړۍ وه. ګرانه پاچا ددهٔ فکر او زړهٔ د زړهٔ په لسو واړو شرایطو ډک ول – ځاني کنترول، باطني سکوت، اوږد مهاله کړاو، ځاني اجتناب، اعتدال، د وړندو ژمنو د ترلاسه کولو لپاره داوطلبانـه انقیاد، د ظلم او غضب له هر ډول ډولونو څخه ځاني خلاصون او ځان لـېرې ساتل، او د زړهٔ صِدق او اخلاص. ګرانـه پاچا! هغـهٔ ټول حیواني، شهواني او نفساني خواهشات ترک کړي ول، هغـه د راتلونکي ژوندانـهٔ لپاره پر ټولو غوښتـنو برلاسی شوی وو، د هغـهٔ نـهٔ ستړي کـېدونکي هلې ځلې یوازې د لوړ آسماني ژوند پر لور نـېـغې وې. ګرانه پاچا! نوموړی په خپل ځان پسې نـهٔ ګرځـېدهٔ، کله چي پوه شو چي په ځان پسې ونـهٔ ګرځي نو دی یوازې او یوازې د نورو په سوکالۍ پسې ګرځـېدهٔ. د هغه ذهن په ثابتو افکارو ولاړ وو :" له کومو لارو او څنګه کولی شم چي ټول موجودات دې ته اړ کړم چي په سولې، سوکالۍ او روغتیا، په شتمنۍ کي ژوند وکړي، او اوږد ژوند ولري؟" [۱۱۷] ګرانـه پاچا! کله چي هغـهٔ سخاوت کاوهٔ، نو ددې لپاره ئـي نـهٔ کاوهٔ چي خپل راتلونکی ژوندون په پرتمین حالت کي وګوري، ددې لپاره ئـي سخاوت نـهٔ کاوهٔ چي شتمن شي، او نـهٔ ئـي ددې لپاره کاوهٔ چي په بدل کي ئـي څه تر لاسه کړي، یا دې څوک ورته غوړه مالي وکړي، یا دې اوږد ژوند ولري، او یا دې په لوړ آسمان کي بیا زېږون ومومي، هغـهٔ سخاوت د ځان د خوښۍ لپاره نـهٔ کاوهٔ، او نـهٔ ئـي د ځواک د تر لاسه کولو لپاره کاوهٔ، د نوم د ګټلو لپاره ئـي نـهٔ کاوهٔ، او نـهٔ ئـي ددې لپاره چي هلکان یا نجوني بچیان ولري – دهٔ چي دا کار کاوهٔ د اعلی حکمت او معنوي پانګې لپاره ئـي کاوهٔ، همدا دلیل وو چي په خلاص ئـي لاس دومره ډېرې پریماني ډالۍ په سخاوت ورکولې، دوني چي شمېر ئـي د پیماني او اندازې نـهٔ وو، دوني چي ساری ئـي نـهٔ درلود. کله چي نوموړي اعلی حکمت تر لاسه کړ نو لاندنی شعر ئـي ووایـهٔ :

" زما زویه،
ګالي[1]
او زما لورې
تورې غرنۍ غرڅنۍ[2]
او زما ملکې، زما مـېـرمنې،
مـَدي[3]،
پرته له دې چي په دویم ځل فکر وکړم،
ما خپله ټوله شتمني
په سخاء کي ورکړه

[1] - Gâli

[2] - Black Antelope

[3] - Maddi

او دا کار مې د بودا توب

لپاره کړی دی.[1]"

**اتـــهٔ دېـــرشم** : ګرانه پاچا! ستر پاچا وسنترا پر قهرجن انسان باندې په خپل نرمښت برلاسی شو، پر شریر باندې د ښېګڼو له لارې، پر سولند باندې د سخاوت له لارې، پر دروغجن باندې د رښتیا له لارې، او پر نورو شرارتونو باندې د خپلې نېـکۍ او عدل له لارې برلاسی شو[2]. پر هغه مهال چې پاچا وسنترا خپل سخاوت کاوهٔ نو دی د عدل او نــېـکۍ په لټه کې وو، دی وو چې خپله موخه ئې عدل او نـېـکي ټاکلې وه – ورپسې ستر باد راوالوت، هغه باد چې ځمکه وربانديې ولاړه ده، او ددهٔ د سخاوت د پایلې د اغېـز د ځواک له کبله ول چې باد په ټول قوت سره وخوځـېـد، ستر باد ذره په ذره او یو په یو او ګام په ګام تیت شو، د ځمکې کښـتـنۍ او پورتنۍ ډډې ته والوت، په ځمکې[3] کې خښو ټولو ونو ټکان وخوړ، د پرېړو وریځو لوئـــې لوئـــې ډلې په آسمان کې سره راټولې شوې، له دوړو او خاورو ډک توند بادونـــه راپورته شول، جنتونـــه له یو بل سره وموښتل او سمندري توپانونو غړغړاند بادونــه وغړول چې ورسره وحشتناکه دراندهٔ غړونـه خپارهٔ شول. او د همدغو بادونو په لړ کې اوبـهٔ ورو ورو وخوځـېـدې، د اوبو په همدې خوځښت کې کبان او فلس ډوله موجودات سره تیت شول، سمندري څپو په دوه ځلې ځواک سره د سمندر غاړې ووهلې او بیا شا ته لاړې، او د سمندرونو تر غاړو د غړغړاندو څپو په تګ راتګ سره د اوبو په منځ کې په ټولو موجوداتو کې وېره شېبه په شـېـبه خپره شوه، د پیاوړو سمندري غړمبېـدونکو څپو لوړ غږ شېبه په شـېـبه لوړېدهٔ، او غضبناکو څپو په بیرحمۍ اوبـهٔ شـېـندلې، د اوبو پرمخ ګلورین ځګونـه راپورته شول، او پراخ سمندر خپله ژوره ګـېـډه پرانیستله، د اوبو سترې ویروونکې څپې ایخوا دیخوا راپورته شوې، د خښمناکو څپو دنګ سرونـه له هرې خوا راپورته شوې؛ او آسوره ګان[4]، ګَـرولـه ګان[5]، یکخه ګان[6] او ناګه ګان[7] په ویرې کې شول[8]، او ګومان ئـې وکړ چې دوی ته خبر داری ورکول کــېـږي : " اوس څـهٔ دي! اوس مو څنګه ده! آیا دا ستر

---

[1] - From the Kariyâ Pitaka I, ix, 52. See Dr. Morris's edition for the Pâli Text Society, p. 81.

[2]- دغـهٔ عاطفي احساس ته په کتنې ښاغلی ترنـکنر وایي چې دا احساس د دهماپدا Dhammapada په ۲۲۳ شعر کې په همدغو ورته مصطلحاتو راغلی دی. لیکوال

[3] په پالي کې سینه پټا Sînapattâ ده چې سیمهالي متن ئـې د پولو تلهي کل جیوي پتره وتیمته پومینیاو وریک شایو polo talehi kal gewî patra wœtîmata pœminiyâwu wrikshayo. ژباړې – لیکوال

[4]- Asuras : په هندوییزم کې آسوره ګان چې په سانسکریت کې असुर لیکل کـېـږي هغه خدایګوټي دي د نــېـکۍ او خیر په موخې ځواک غوښتونکي ډیوه ګان دي. ددوی ډېـري د طبیعي موجوداتو په تجسم کې ښودل کــېـږي. دوی تل له نورو خدایګوټو سره په جګړې کې دي. په ویدي متـنونو کې دوی تل له یو بل سره په جګړو کې ښکـېـل ښودل شوي دي. په منځنیو او وروستیو ویدي متـنـونو کې ددوی ونډه لږ ښودل شوې خو په اوستا کې چې د ویدي متنونو سیال بلل شوي ډیواګان ورو ورو لږ ښودل شوي دي. – ژباړونکی

[5] Garulas په هندویزم کې ددوی د لیکلو بڼه ګردوا garuḍa ده چې په سانسکریت کې गरुड لیکل کـېـږي او په هندوییزم او بودیزم دواړو کې د انسان په بڼې یو مارغـهٔ دی او په هندویزم کې دوی د رب النوعه ویشنو تجسم دي ، - ژباړونکی

[6] - Yakkhas

[7] - Nâgas – په پالي او سانسکریت متنونو کې د سترو او لویو مارانو په انساني تجسم کې د هندوییزم اوبودیزم د ارباب الانواعو بڼې دي - ژباړونکی

[8] - د ګومان او فرضیـــې له مخې افسانوي موجودات باید همداسې افسانوي غړغړاندو اوبو را ایل کړي وي – لیکوال

سمندر په بل مخ اوړېــدونکی دی؟" او په ترهــېدلو زړونو ئـي د تــېښـتي لاره پلټله. او هماغسي چي اوبــهٔ د هوا پر وَزر ولاړې[1] دي، یو ځل وښورېدلي او ټکان ئـي وخوړ، وریسي دې ستري ځمکي ټکانونــه پــېـل کړل او ورسره غبرگ د سمندر تل [۱۱۸] او غرونــه وښورېدل، او سینورو[2] «سومرو» په ښورېـدو شو او ډېرين غر ئـي کوږ شو. او د ښورېـدونـکي ځمکي پر مخ ستر ماران، سموریات، پیشی، سورلنډیان، خوگان او غرڅي او مرغان خوارهٔ وارهٔ شول او کم ځواکه یکځاگان په ژړا شول خو نورو ځواکمنو رب النوعو خوشحالی کولی.

**نــــهـهٔ دېـرشم** : گرانــه پاچا! هماغسي چي څوک پر نغري باندي له اوبو ډک دېـگي کېښـېږدي، او حبوبات او وريجي په کي واچوي او بیا تر دیگي لاندي اور بل کړي او د اور په ډېرېـدو سره لومړی دېـگی[3] سور شي او بیا په خوټېـدو راسي، او د دېـگي له خوټېـدو سره سم وریجي او حبوبات هم وخوټــېږي او د ډیگي د خوټېدو له پرقهاري سره حبوبات او وریجي د اوبو په منځ کي ایخوا دیخوا وښورېږي او بیا پوکڼي «احباب» راپورته شي او گلورین جوش جوړ کړي – نو همداسي گرانــه اعلیحضرته، ستر پاچا وسنترا هم هر هغه څه ډالی کړل چي په دې نړۍ کي تر ټولو سخته ډالۍ گڼل کــېږي، او په دې دلیل چي ددهٔ په طبعیت کي سخاوت نغښتی وو نو ور لاندي ستر باد له سره تر پایه په دې ونــهٔ توانــېد چي ځان له تحریک کـېدنگ څخه وساتي او کله چي ستر باد لالهانده شو نو اوبــهٔ وښورېدلي، او کله چي اوبــهٔ گډې وډې شو بیا نو دا ستري ځمکي لړزه وکړه، په دې سره باد، اوبــهٔ او ځمکه درې واړه لکه چي په لومړیو کي سره یو ول بیا سره یو شول او ددوی درې واړو د پیاوړي او ستر ځواک د یو ځای کــېدنگ د اغــېز له کبله ول چي هماغه ستر سخاوت رامنځته شو. له دغــهٔ سخاوت وروسته بل هـېڅ داسي سخاوت نـهٔ دی رامنځته شوی چي د ستر پاچا وسنترا د سخاوت په شان دې ځواکمن او پیاوړی وي.

**څلوېښتم :** گرانــه پاچا! د ځمکي پر مخ پریمانه گوهرونــه شته لکه نیلم/ یاقوت، ستر یاقوت، د هیلو د ترلاسه کولو لپاره گوهر[4]، د پیشۍ سترگه[5]، کتاني گوهرونــه[6]، د کیکر[7] گوهر[8] ، د کوډو گوهر او لمر خوښی[1] گوهر[2] ، سپوږمی خوښی[3]

[1]- دا انگــېرنه چي گڼي ځمکه د اوبو پر مخ او اوبــهٔ د هوا پر مخ ولاړې دي په بشپړ ډول یوه هندي انگــېرنه ده او د بودایي تدریساتو کومه ځانگړې او ممتازه برخه نـهٔ ده - لیکوال

[2] - Sineru

[3] - مهتي – مها – پَري یوگو Mahati-mahâ-pariyogo دا اصطلاح نـهٔ د چایلدرز او نـهٔ د پیترزبرگ د سانسکریت په قاموس کي لیدل کـېږي. هیناتي کمبوري ئـي د ایتا مهت و مها بهاگه نایک itâ mahat wu mahâ bhâganayak په ډول ژباړي – لیکوال

[4] - wish-conferring gem

[5] - cat's eye هر ډول گران بیعي ډبرې لکه شین نیلم چي کله په گردي یا مدور ډول پریک شي نو د برېــښنا یوه روڼا ورڅخه ووځي. ژباړونکی

[6] - Ummâ-puppha; rendered diya-mendiri-pushpa in the Simhalese. Clough gives diyameneri as a plant 'commelina cucullata.'

[7]- Acacia gem: د اکي ژیا یا اکي سیا نوم په عربي کي طلح دی په فارسي کي ئـي اقاقیا لیکلي زموږ په پښتو قاموسونو کي ئـي د عکاسي ونه لیکلی او پښتو ئـي د کیکر ونه لیکلي ده. زه ډاډه نـهٔ یم چي د کیکر ونه به هم هماغه عکاسي ونه وي که نه، خو ویلي ئـي دي چي کیکر یو ډول اغزنه ونه ده چي سپین او ژړ گلان کوي – ژباړونکی

[8] - Sirîsa-puppha; rendered mârâ-pushpa in the Simhalese, mârâ being the seed of the 'adenanthera pavonia.'

ګوهر[4]، بلور یا کریستل، او کاګو پک کمکه[5]، ژړ یاقوت، لعل، د مساره ډبره[6] - خو د ټولو ګران بیعو ډبرو یا ګوهرونو پېژندل شوی تصدیق شوی شهنشاه چې په ټولو کې د خپلې ځلا له مخې سر دی ګرانه پاچا یو ګوهر دی چې په خپلې هرې څنډې کې نېږدې یو لیګ[7] اوږدوالی لري[8] - ګرانه پاچا! دا نو په ټولو هغو ډالیو کې تر ټولو لویه او ستره بې سارې ډالۍ وه چې تر دې مهاله ځمکې ته ورکړل شوې وه، او همدا ډالۍ د عادل پاچا وسنترا وه چې تر اوسه د ځمکې پر مخ تر ټولو ستره ډالۍ پېژندل شوې ده. او ګرانه پاچا! د همدې ډالې له کبله ول چې دا دونې ستره لویه او پلنه ځمکه اووۀ ځله وښورېدله[9].

**یو څلوېښتم** : ګرانه ناګه سینا! د بوداګانو په منځ کې د تتهاګته په هکله یو حیرتناکه شی او تر ټولو هېښنده خبره دا ده، چې ان کله چې تتهاګته بودیسَت[10] (د بودا کېدلو د لړۍ په لومړي پړاو) [۱۱۹] کې وو ددۀ بل ساری په دې نړۍ کې نۀ وو، نرم چلنده او ډېرمهربانه وو، خپلې موخې ئې لوړې ټاکلې وې او زښتې ډېرې هڅې ئې وکړې. ناګه سینا تاسو راته څرګنده کړه چې بودیسَان څومره ځواکمن دي، تاسو د فاتحینو پر کمال باندې زښته ډېره رڼا واچوله، او تاسو راته وویل چې د رب النوعو او انسانانو په نړۍ کې څنګه یو تتهاګتا د خپل شریف ژوندانۀ په دوام کې تر ټولو لوړې او تر ټولو ښې موخې ټاکي او د تر لاسه کولو په لارې کې ئې څونې هڅه کوي. ښاغلی ناګه سینا! ډېرې ښې خبرې مو وکړې. د ستر سوبمن دکتورینو مو راته په لوړه وستایل، د سوبمن کمال او بشپړوالی په تکریم وستایل شو، د دښمنانو د استدلال زخې او

---

[1] - the favourite of the sun

[2]- Suriya-kanto سیمهالي متن یوازې همدا نوم تکراروي – لیکوال

[3] - the favourite of the moon

[4] -Kanda-kanta دا نوم هم په سیمهالي متن کې شته. دا افسانوي ګوهرونه دي. ددوی انګېرنه وایي چې دا ګوهرونه د لمر یا سپوږمۍ له وړانګو پرته جوړېږي او هغه مهال ځان ښکاره کوي چې پلوشې ئې په خپله وځلېږي. لیکوال

[5]- kaggopakkamaka : په سیمهالي متن کې کاګو پکرمیا kaggopakramaya ویل شوي چې د کلوف Clough په متن کې نشته. لیکوال

[6]- Masâra stone یا Masâra-galla : په سیمهالي متن کې مساره ګلیا mâsara galya ژباړل شوی دی، په دې هکله ښاغلی Böhtlingk- Roth ګومان کوي چې دا یا یاقوت یا زمرد دی او ښاغلی کلوف Clough ئې زرغون زمرد ژباړي او هغه اخځ چې ښاغلی چایلدرز ئې له ابهیدهانه پدیپیکا Abhidhâna Padîpikâ څخه را اخلي وایي چې داسې ډبره د مساره په غرونو کې موندل کېږي (له دې پرته ئې د ژباړې څرک څرګند نۀ دی) او د نورو ګوهرونو یا ګران بیعو ډبرو د نوملړ لپاره وګورئ :Kullavagga IX, 1, 3 او زما یادښتونه په 'Buddhist Suttas'(vol. xi of the ' Sacred Books of the East'). کې ۲۴۹ او ۲۵۰ پاڼو کې لیکوال

[7]- په اروپا او لاتینې امریکا کې د واټن ټاکلو لپاره لیګ league یو واحد وو. لیګ په دودیز مفهوم دې ته ویل کیدۀ چې یو چا په یوۀ ساعت کې څونې مزل کاوۀ نو هماغه به د یوۀ لیګ په اندازې ګڼل کېدۀ. نن دغه واحد له منځه تللی دی. وروسته یو ځمکنی لیګ په انګلیسي ژبو هېوادونو کې د درو مایلو په اندازې او سمندري لیګ د پینځو اعشاریه شپږو مایلو په اندازې ومنل شو. ژباړونکی

[8] - So also in the Mahâ-Sudassana Sutta I, 32, translated in the 'Buddhist Suttas,' p. 256. Compare above, p. 35 of the text.

[9]- په همدغۀ ځای کې په سیمهالي متن کې یو اوږد پاراګراف دی چې په پالي متن کې حذف شوی دی- لیکوال

[10] - Bodisat

غوټې رسوا شوې او د معاندیونو د تیوریو منګي ټوټې ټوټې شول، معضلات په څرګنده ځواب شول، ګڼ ځنګل په پراخ او هوسا ځای وواښت، د سوبمن بچیانو د خپلو زړونو هیلې تر لاسه کړې[1]. دا تاسو یاست، او تاسو د ټولو مکتبونو د شیخانو په منځ کې ستر لاربنود یاست نو ځکه هر هغه څه چې تاسو وایاست، زه ئـې منم!'

[ همدلته د وسنترا په ډالی کې د زلزلې معضله پای مومي]

---

[1]- Nibbâhana په سیمهالي کې abhiwarddhiya ژباړل شوی دی – لیکوال

# پاچا سيوي[1]

**دوه څلوېښتم :** ښاغلی ناګه سينا! ستاسو خلک وايي چې :" له پاچا سيوي څخه کوم سړي د خپله پاچا سترګې په زاريو وغوښتې، کله چې پاچا خپلې سترګې دغـهٔ سړي ته ورکړې، نو پاچا ړوند شو، خو پاچا ته له جنته نوې سترګې راغلې او سترګې ئـې جوړې شوې[2]." دا خبره خو بـېــخي بې خونده[3] او ککړه ده، که څوک داسې ووايي نو د ويونکي غوږونـه بايد ورتاو سي چې دا غلطه ده. د همدې لپاره ده چې په سوتړا کې ويل شوي دي : کله چې علت په بشپړ ډول له منځه ولاړ کـېږي او کله چې علت شتون ونـهٔ لري، او کله چې بنسټ پاتې نـهٔ شي نو خدايي يا غيبي سترګه نـهٔ راپورته کـېږي[4]." نو که پاچا سيوي خپلې سترګې ورکړې وي نو دهٔ ته د نويو «غيبي» ورکړل شويو سترګو خبره بايد غلطه وي: او که سترګې ورته راشنې شوې وي نو دا خبره بايد غلطه وي چې دهٔ دې سترګې چا ته ورکړي وي. دا معضله هم غبرګه معضله ده، د يوې غوټې پر ځای ډېرې غوټې لري، تـېرهٔ والی ئـې د يوهٔ غيشي له تـېرهٔ والي ډېر دی چې که د چا په ځان ننوځي، ان که څوک په يوهٔ ګڼ ځنګلـهٔ کې ورک شي لاره به پيدا کړي خو ددې معضلې په شان به دوني لالهانده نـهٔ شي. همدا معضله اوس ستاسو مخې ته ږدم. د خپل د زړهٔ په نړی کې راپورته شه او هغه څه تر سره کړه چې ستا هيله وي او تر سره ئـې کړې، هغه څه چې تا ته ويل شوي چې بايد ئـې تر سره کړې، او ميرځمن دې په استدلال کې مات شه!"

ګرانه پاچا! سيوي پاچا خپلې سترګې ډالی کړلې. په دې خبرې کې دې هـېڅ شک زړهٔ ته ونـهٔ لوېـږي. او هو غيبي سترګې ورته راغلې. او په دې خبرې دې هم زړهٔ ته هـېڅ شک ونـهٔ لوېــږي.

خو ناګه سينا! آيا غيبي سترګې کـېدی شي رامنځته شي کله چې علت په بشپړ ډول له منځه لاړ شي، کله چې علت او بنسټ نـهٔ وي پاتې؟'

څرګنده ده چې نه ګرانه پاچا

---

[1] -KING SIVI: The story is given at length in the Sivi Gâtaka, No. 499 (vol. iv, pp. 401-412 of Professor Fausböll's edition).

[2]- د ګاتکه د متن په ۴۱۰ پاڼې کې داسې نـهٔ دي ويل شوي چې له جنته ورته سترګې راغلې. ګاتکه وايي چې نورې سترګې ورپيدا شوې او دا د دهٔ د نـېــکی د پايلې له کبله ورته ورپېښ شول. ليکوال

[3]- Sa-kasatam : دلته Kasata په دوني سادګی د بې خونده معنی نـهٔ ورکوي لکه چې ډاکټر ايدوارډ ميلرDr. Edward Muller ئـې د خپل پالي ګرامر په ۴۳ پاڼې کې معنی کوي، په دويمې انګوترې Anguttara II, 5, 5 کې دا د ښځوالي او بيخوندتوب (مندا manda) په متضادې معنی راغلی دی. ددې وييکي معنی بايد " غلط" وي. همدا وييکی پرتله کړئ په Dhammapada Commentary, p. 275; Gâtaka I, 108, II, 97 کې چې څنګه کارول شوی دی؛ او په Puggala IV, 24 کې. ښاغلی ترنکنر په خپل يادښت ليک کې دی ته نغوته کوي چې دا وييکي ډېــرې وختونه د sakata په ډول ليکل شوی دی او هــېــڅ شک نــهٔ شته چې دا هماغه د سانسکريت وييکی دی چې دوی په دې ډول ليکلی دی او ويلسن ورکړی دی. دا وييکی د Böhtlingk-Roth په يادښت ليک کې نـهٔ شته. ليکوال

[4]- زه نــهٔ پوهـېږم چې دلته کومې سوتړا ته نغوته ده. ليکوال

بیا هغه دلیل [۱۲۰] څه شو چي دا قضیه وربانديِ راولاړه شويِ ده، سره له دې چي علت ئـي په بشپړ ډول له منځه تللی دی، او نـهٔ ئـي بنسټ پاتي دی. راسئ اوس نو تاسو راته ووایاست. اوس په همدې هکله ماته قناعت راکړئ.

**دري څلوېښتم** : نو بیا څه کېږي گرانه پاچا؟ آیا په دې نړۍ کې د حقیقت په شان څه شی شته چي د جدي ادعا له مخي ئـي رښتوني گروهنوال یا معتقدین رښتونی عمل تر سره کړي[1]؟

هو صاحبه شته؟ په دې سره رښتوني گروهنوال باران وَرَولی شي، اور مړ کولی شي[2] او د زهرو اغېز دفع کولی شي او ډېر نور شیان شته که دوی وغواړي نو تر سره کولی ئـي شي.

چي داسي ده نو لویه پاچا، همدا خبره په دې قضیــي کي برابره ده او له ټولو څلورو واړو سره مناسبه ده. دا د حقیقت د ځواک پر بنسټ ول چي پاچا سیوي ته له غیبه سترگي ورپیدا شوې. د حقیقت د ځواک له کبله ول چي غیبي سترگه هغه مهال راغله چي بل علت ورته موجود نـــهٔ وو، په همدې قضیــي کي دا په خپله حقیقت دی چي د سترگو د بیا پیدا کـېدلو علت دی. گرانـه پاچا داسي وانگـېرئ چي هر سیدها (ځای ته رسـېدلی[3]) د کوډو[4] د ځانگړو منترونو په ترڅ کي وايي : " پرېږده چي ستر باران همدا اوس ووَري!" او د سیدها ددې منترونو په ویلو سره دروند باران وَرېږي – آیا په دې قضیـي کي په آسمان کي د راټول شوي باران لپاره داسي علت شته چي له مخي ئـي یو دم باران را ووَرېږي؟

نه صاحبه. کوډه به په خپله علت وي.

دا خبره هم په دې قضیـي کي همداسي ده لویه پاچا. هـېڅ عادي علت به ورته نـهٔ وي. دا خپله حقیقت دی او حقیقت د غیبي سترگي د راپیدا کـېدو لپاره کافي دلیل دی.

**څلورڅلوېښتم**: گرانـه پاچا داسي وانگـېرئ چي یو سیدها د کوډو د منترونو د ویلو په لړ کي وايي :" پرېږده چي غړغړانده ستر اور بــېرته لاړ شي!" او د همدې منتر د ویلو پر مهال اور پر شا ځي – آیا د اور شا تگ ته کوم علت شته؟

نه صاحبه. کوډه به خپله علت وي.

همداسي ده لویه پاچا، زموږ په دې قضیــي کي کوم عادي علت نـهٔ لیدل کـېږي. په دې کي به د حقیقت ځواک په خپله کافي وي.

---

[1]- په سیمهالي متن کي دا پارگراف د پالي د متن په پرتلي نـهٔ یوازې توپیر لري بلکه اوږد هم دی. لیکوال

[2] - وگورئ د سپــېڅلي زرک ښکلي کیسه (ما د بودایي داستانونود زېږون Buddhist Birth Stories' په لړ کي ژباړلي ده او په ۳۰۲ پاڼی کي دا کیسه راغلي ده)، په دې کیسي کي د وړوکي زرک په شان یو بې سیکه موجود دا ورتیا لري چي د رمزي/ صوفیانه رښتوني عمل په تر سره کولو د آگني Agni په شان پیاوړی او خواکمن اور او د اور هغه خدایگوتي په شا وتمبوي چي برهمنان ورڅخه وېره لري او عبادت ئـي کوي. لیکوال

[3]- هیناتي کمبوري وايي : هغه څوک چي په پیاوړو کوډو ( او ښایي په ویدي اشعارو او منترا پوهــېږي). لیکوال

[4] - Sakka, literally truth. (Satya-gâyanâ in the Simhalese.)

**پينځه ځلوېښتم** : ګرانــه پاچا داسي وانګــېرئ چي يو سيدها د کوډو د منترونو د ويلو په لړ کي وايي :" پرېــږده چي وژونکي زهر په شفاء بخښونکو درملو بدل شي!" او د همدې منتر د ويلو پر مهال زهر په درملو بدلــېږ.ي – آيا ددې لپاره به کوم علت موجود وي چي همداسي يوه اغــېزه رامنځته کړي؟

څرګنده ده چي نه صاحبه. په خپله کوډه کــېدی شي چي د وژونکو زهرو علت دفع کړي

همداسي ده لويه پاچا، د پاچا سيوي په قضبــي کي د هر ډول عادي دليل له شتون، پرته حقيقت په خپله کافي دی چي سترګې ئــې بيا را پيدا شي.

**شپږ ځلوېښتم** : ګرانــه پاچا اوس دا واورئ چي د ځلورو نبيلو حقايقو د تر لاسه کولو لپاره بل علت نــۀ شته. دا يوازې د حقيقي عمل له لارې تر لاسه کــېدی شي. ګرانــه پاچا! د چين په ټاټوبي کي د چين يو پاچا دی، دغـه پاچا غواړي چي سمندر تر خپل افسون لاندې راولي، دی د ځلورو مياشتو په اوږدو کي د حقيقت يو عمل په جديت سره تر سره کوي، او بيا په خپلي بګۍ کي چي زمريان ئــې کشوي کښــېني او په ستر سمندر کي د يوۀ ليګ په واټن ننوزي. اوبو ته چي ننوزي نو ددۀ د بګۍ مخي ته ستري راغلي څپي بــېرته په شا ځي خو کله چي دی له اوبو راووزي نو څپي بيرته په هماغـۀ ځای کي چي پاچا وو راګرځي. اوس پوښتنــه دا ده چي دوني ستر سمندر څنګه د انسانانو او رب النوعو په دوني وړوکو ځانونو او وړوکو ځواکونو او توانونو چي په ګډه سره يو ځای شي بــېرته په شا تمبول کــېدی شي؟

صاحبه ان د اوبو يو وړوکی ټانک څوک دوني په شا نــۀ شي وهلی ستر سمندر خو پر ځای پرېــږده چي څوني اوبــۀ لري!

نو چي داسي ده د همدې خبرې په ويلو سره حقيقت وپــېژنئ. داسي ځای نــۀ شته چي هلته دې حقيقت ونــۀ رســېږي.

**اووه ځلوېښتم** : ګرانــه پاچا ! يوه ورځ عادل ټولواک آشوکا د پاټــلي پوټه[1] په ښار کي د ښاريانو، نورو هــېوادوالو، د خپلو افسرانو، نوکرانو، دولتي وزيرانو مخي ته ودرېد، آشوکا وليدل چي د ګنګا ډک او لوی سيند د خپل بهير په اوږدو کي له غرونو رغونو راوړل شوي سيلابونــه رارغړوي، سيند تر خپلي وروستۍ ژۍ پورې ډک دی او اوبــۀ دوني ډېري دي چي د سيند په بهير کي نور نــۀ ځاييږي- ددې په ليدلو سره آشوکا خپلو افسرانو ته وويل : " زما ښو او ګرانو دوستانو! ستاسو په منځ کي څوک شته چي د ستر ګنګا سيند بهير، دې ته اړ کړي چي په شا لاړ شي او د سيند اوبــۀ د اوسني بهير برعکس رواني شي؟"

افسرانو وويل : نــه صاحبه، دا امکان نــۀ لري.

دلته د خلکو په منځ کي د سيند تر غاړې [۱۲۲] د بيندومتي په نامــۀ يوه کنچنۍ وه، دې د ولاړو خلکو له خولي د پاچا همدغه پوښتنه واورېــدله. دې وويل : " زه د پاټــلي پوټه په دې ښار کي يوه کنچنۍ يم او د خپل ژوندانــۀ د دوام لپاره خپل ځان او

[1] - Pâtaliputta

عزت پلورم، زما دنده تر ټولو نورو دندو ډېره سپکه او کرغېړنــه ده. پرېږدئ چي دا پاچا دې د حقيقت يو نظاره او کړنه زما له پلوه چي يوه کچنۍ يم ووېني. او دې ښځې د حقيقت يوه نظاره ښکاره کړله[1]. او په همدې شــېبې کې ستر له خروښ او غړمبا ډک ګنګا له خپل چټک بهيره سوکه شو، بيا د اوبو بهير شا ته لاړ، او سيند د خپل بهير په برعکس لور وخوځېد، ټولو خلکو دا پېښه په سترګو وليدله!

کله چي پاچا په ستر ګنګا کې د اوبو د څپو څرخنيو لوړ غړمبهارۍ او ګرز واورېدی نو په حيرت او وېرې کې ډوب پاچا خپل افسرانو ته وويل : " څنګه سوه اوس! آيا ستر ګنګا مخ په شا ځي که نــه؟"

ټولو پاچا ته خپل د سترګو ليدلی حال ووايــهٔ. بيا نو پاچا چي په احساساتو کې ډوب شوی وو، په خپله په چټکۍ لاړ او له کنچنۍ څخه ئې وپوښتل : " دا خلک چي دا خبرې کوي رښتيا ده؟ آيا دا رښتيا ده چي ستا له پلوه د حقيقت د عمل په څرګندولو سره د ګنګا ستر سيند دې ته اړ شو چي په شا وبهــېږي؟"

کنچنۍ وويل : هو صاحبه!

پاچا وپوښتل : " تا دوني زور او ځواک له کومه کړ چي دونی ستر سيند په شا ووهي؟ او يا دا چي دا څوک دي چي ستا د زړهٔ خبره اوري (او په اورېدو ئې هماغسې کوي چي ستا زړهٔ ئې وغواړي)؟ تــهٔ د چا په اختيار او صلاحيت دوني زوروه ئـئ[2] چي په خپل زور دې دوني ستر سيند د شا تګ بهيدو ته اړ کړ؟"

کنچنۍ په ځواب کې وويل : لويه پاچا! دا د حقيقت ځواک دی چي زهٔ ئې زورَوره کړې يم."

پاچا وويل :" تــهٔ يوه ښځه ئې بيا په ښځو کې کنچنۍ، شريره او بې مسؤوليته ژوند لرې ، ممانعات نــهٔ پېژني، ګناهکاره ئې، تــهٔ له ټولو حدودو[3] وتلې ئې، له خطا او ګناهونو ډکه ئې او د احمقو لوټمارانو په پيسو او مرداريو ژوند کوې، راتلونکي نــهٔ لرې- په تا کې دوني ځواک له کومه شو چي دا کار وکولی شې؟"

لويه پاچا! هر څـهٔ چي تاسو واياست رښتيا دي. زه همداسې يوه مخلوقه يم. خو ان زما په شان يو څوک هم د حقيقت د عمل په ترسره کولو سره دوني ځواک او توان لرلی شي، لکه زما په شان چي کولی شم د رب النوعو او انسانانو ټوله نړۍ په بل مخ راواړوم."

پاچا وويل : د حقيقت عمل څه شی دي؟ اوس نو راته ووايه او زه ئې اورم.

---

[1]- دا کيسه د زرکې په داستان کې Quail story (loc. cit. p. 305) راغلې ده، دې ښځې په خپل ذهن کې په مړو شويو بودايانو کې منسوبې نښې راوغوښتې او د ايمان يوه جذبې او کلکه غوښتنه ئې وکړه او هغه حقيقت ئې په ذهن کې راژوندی کړ چي مړو شويو بودايانو ئې په هکله فکر کاوهٔ. ليکوال

[2]- Anummatto : سيمهالي متن ئې د ښځينه په بڼې ژباړي- ليکوال

[3] - Khinnikâya. Compare Gâtaka II, 114, and the Sutta Vibhańga on Pâkttiya 26.

"ګرانه پاچا! که هر څوک، که اشراف وي، یا برهمن یا سوداګر یا نوکر وي او ما ته سرۀ زر راکړي – زۀ له ټولو سره یو شان چلند کوم. کله چې ګورم یو څوک اشراف دی نو له نورو سره په توپیر له دۀ سره ددۀ د اشرافیت په پار چلند نـۀ کوم. او که وګورم چې دی یو مریيی دی نو له هغـۀ سره ددۀ د مریيتوب په پار داسي چلند نـــۀ کوم چې دی سپک وګڼم. زه له دې خلاصه یم چې څوک مي خوښـېږي او څوک مي بد ایســېږي او څوک مي دوست دی، هغه څوک چې زما زړۀ لاس ته راوړي ما ته ټول یو دي. ښاغلی اعلیحضرت دا د حقیقت د عمل بنسټ دی او د همدغـۀ حقیقت په ځواک باندې ما وکولی شول چې د ګنګا سیند په شا وتمبوم."

**اتـۀ څلوېښتم** : له همدې کبله ده ګرانـه پاچا چې حقیقت پالو ته داسي شی نـۀ شته چې دوی ئـې تر لاسه نـۀ شي کړَی. هماغسي چې له پاچا سیوي څخه چا د هغـۀ سترګي وغوښتي، [۱۲۲] او دۀ ورکړې نو له جنته دۀ ته نوې سترګي راغلي، او دا دۀ ته د حقیقت د عمل د تر سره کولو په بدل کي ورپــېښ شول. خو هغه څه چې په سوټا کي ویل شوي کله چې د یوې سترګي غوښه له منځه لاړه شي، او علت او بنسټ ئـې لـېـرې شي نو دا سترګه له جنته نـــۀ شي راوړل کـېـدی، خو دا خبره یوازې د سترګي «د فزیکي جوړښت په هکله – ژ» ده نـۀ د سترګو د لید په هکله، ځکه بصیرت د تفکر له منځه راپورته کـېږي، ګرانـه پاچا د همدې دلیل په ویلو سره تاسو باید دا ومنئ.'

ډېر ښـۀ مو وویل ناګه سینا! تاسو په ډېر ښـۀ ډول هغه معضلات حل کړل چې ما ستاسو مخې ته کښــېښودل؛ تاسو هر ټکی راته په څرګنده او ښـۀ ډول روښانـه کړ، هغه ټکي چې ما په لړ کي ئـې هڅه کوله تاسو غلط ثابته کړم؛ تاسو په رښتیا د معاندینو پر وړاشو برلاسي یاست. تاسو چې څه وویل زۀ ئـې د زړۀ له تله منم[1].

---

[دلته د پاچا سیوي د حقیقت د عمل د تر سره کولو معضله پای مومي]

---

[1] - د حقیقت د عمل د تر سره کولو خبره چې ناګه سینا ئـې دلته وړاندې کوي او وربانديې ډېره لګوي ډېره په زړۀ پورې او کم پیدا ده. دا چې دا ډول تفکر کله په بودیزم کي رامنځته شوی دی څرګند نـۀ دی. دا خبره په پیټه ګانو کي موندل کـېږي، کـېـدی شي د لرغونو بودایي باورنو له ترکیب څخه جوړ شوی کوم تفکر وي. هغه څوک چې د حقیقت عمل تر سره کوي باید یو ډول ممتازوالی ولري تر څو هماغـه ځانګړتیا تر سره کړي ( او ښایي هماغسې چې د زرکې په داستان کي ویل شوي، د بودا خپل ممتازوالی وي) او ددغـۀ ممتازوالي په لرلو کولی شي هغه شی تر سره کړي چې ددۀ تفکر ئـې وغواړي تر سره کړي ، سره له دې چې دا کار ستونزمن او سخت دی او کوم وحشت په کي نـۀ شته. دا ځواک کټ مټ د تصوف ځواک ته ورته دی چې د فرضیــې له مخې په نومونو کي شتون لري. چایلډرز په ډېر ځیر وایي چې موږ د عبري پاچاهانو Hebrew II. i. 10 book of the Kings په کتاب کي د حقیقت د عمل د ترسره کولو یوه ډېره په زړۀ پورې پــېښـه لرو چې وایي : او الیاس Elijah ځواب ورکړ اود پینځوس تنو سرتــېرو بولندوی ته ئـې وول : " که زۀ د خدای پیغمبر اوسم نو پر تا دې له آسمانه اور راشي او تا او ستا پینځوس واړه دې وخوري!" او ددې په ویلو سره له آسمانه اور راکښته سو او بولندوی او د هغـۀ پینځوس واړه ئـې وخوړل .' په دې قصې او د زرکې په قصې دواړو کې لوی ټکی دا دی چې د طبعیت پر ځواک باندې د غلبې د ترلاسه کولو ځواک هغه ځواک دی چې برهمنان وربانديې د خدای په توګې ګڼار ولري.
لیکوال

[د تصور معضله]

**<u>نـــهــۀ ځلويښتم</u>** : دا معضله مشرحه ده، ددې معضله د آسانــه پوهېـدلو لپاره ښه لاره دا ده چې پالي متن وليدل شي]

# [د دين دوام]

**<u>پينځـۀ پنځوسم</u>** : ښاغلی ناګه سينا! هغـۀ مبارک ويلي : " اوس آنندا ! ښـــۀ قانون به تر پينځوسو کلونو پورې دوام ومومي[1]." خو هغــۀ مبارک له خپلې مړينې مخکې د ګوتناستي سوبهادا[2] د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي چې :" خو که په دغـۀ ديني سيستم کې ديني ورونه بشپړ او بې عيبه ژوند تر سره کړي نو نړۍ به له ارهټانو څخه بې برخې يا محرومه نـۀ شي.[3]" د بودا دويمه خبره ډېره پراخه ډډه او هر اړخيزه اړخونـه لري؛ شرحه ئـې په آسانۍ نـۀ شي کـېـدی. که د بودا لومړی خبره سمه وي نو دويمه ئـې خادعه ده، او که دويمه هغه ئـې سمه وي نو لومړۍ هغه ئـې بايد غلطه وي. [۱۳۱] دا غبرګ اړخې معضله ده، د يوۀ ګڼ ځنګل په شان له مغشوشتيا ډکه ده، تر يوۀ پياوړي انسان لا پياوړې ده، يوه غوټه نـۀ بلکه څوڅو غوټې لري. اوس همدا معضله ستاسو مخې ته ږدم. د خپلې پوهې د پراخوالي ډګر اوس راته څرګند کړئ، تاسو خو په ستر سمندر کې لوی نـهنګ ياست.

**<u>شپږ پينځوسم :</u>** ګرانه پاچا! هغـۀ مبارک دغه دواړه خبرې فرمايلي دي چې تاسو يادې کړې. خو دا دواړه خبرې په خپل نفس او خطابت کې له يو بله توپير لري. يوه خبره ئـې د دکتورينو[4] د دوام د حدودو په هکله ده او بله ئـې دديني ژوندانـــۀ د بنې او ډَول په هکله - دا دواړه له يو بل څخه زښت ډېر توپير لري دوني توپير چې د آسمان سمت الرأس ئـې د ځمکې له مخې لري، دوني لـېرې لکه چې جنت له دوزخه لـېرې وي، يا دوني لـېري چې نـېـکي ئـې له شرارت څخه لري او يا خوند او تلذذ ئـې له ځور او کړاو څخه لري. که څه هم ستاسو پوښتنه بې ګټې ده، خو له دې سره سره به زه ددې سکالو بنسټيز تړاو تاسو ته تشريح کړم.

**<u>اووۀ پينځوسم</u>** : کله چې هغـۀ مبارک وويل چې ښـــۀ قانون[5] به تر پينځو سوو کلونو پورې دوام ومومي نو ددې په ويلو سره هغـۀ مبارک د قانون د هلاکت وخت وټاکـۀ او د قانون د هستي يا شته والي د پاتې برخې حدود ئـې رالنډ کړل. دا چې هغـۀ مبارک ويلي :" آنندا، ښـــۀ قانون به تر زرهاوو کلونو دوام وکړي خو په دې شرط چې ښځې د قانون لمن ته ونـۀ منل شي. خو آنندا اوس به دا قانون يوازې تر پينځو سوو کلونو پورې دوام وکړي." ګرانـه پاچا! ددې په ويلو سره خو يا هغـۀ مبارک د ښـۀ قانون د زوال وړاند ويينـه کړې او يا ئـې ددې خبرې په پوهـېدنګ باندې څرګند تور لګولی دی؟

څرګنده ده چې نـــه صاحبه

---

[1] - Kullavagga X, 1,6, translated in 'Vinaya Texts,' vol. iii,p. 325.

[2] - Subhadda

[3] - Book of the Great Decease, V, 62, translated in 'Buddhist Suttas,' p. 108.

[4] - Sâsana

[5] - Saddhammo.

همداسي ده. دا د رسېدلي صدمي اعلان وو، په دې سره ئې روښانـه کړه چې څه شی نور پاتې دي. کټ مټ لکه دا چې د چا عايدات مخ په لږېدو شي نو ښايي برالا وواييي چې څوني نور ورته پاتې دي :" ما دوني مال او ځمکه له لاسه ورکړې او دوني مال او ځمکه راپاتي ده. [۱۳۲] نو له دې کبله هغـهٔ مبارک انسانانو او رب النوعو ته په ياد راوړه کله چې ئې وويل : " آنندا! ښـهٔ قانون به تر پينځوسوو کلونو پورې دوام وکړي." ددې په ويلو سره ئـې د دين دوام ته يوه ټاکلې نـېټـه څرگنده کړه. خو کله ئـې چې له سبهاده[1] سره ، چې له رېښتونو سمانـه گانو[2] څخه وو، خبرې کولې هغـهٔ مبارک وويل : " خو که په دې ديني سيستم کې ديني ورونه ښشپړ بې عيبه ژوند غوره کړي نو نړۍ به له ارهټانو څخه بې برخې نـهٔ شي" – ددې په ويلو سره هغـهٔ مبارک څرگنده کړې چې دين له کومو شيانو جوړ شوی دی. تاسو په يادې شوې وينا کې د يوهٔ شي د محدوديت په هکله گنگس شوي ياست. خو که تاسو غواړئ چې پوه شئ چې ددواړو ويناوو تر منځ کوم رښتونی تړاو شتون لري، زهٔ به ئـې تاسو ته ووايم. په ځير غوږ شئ او په هغـهٔ شي ډاډ وکړئ چې زهٔ ئـې تاسو ته وايم.

**اتـهٔ پينځوسم** : اې پاچا داسې وانگـېرئ چې د اوبو يو زيرمتون يا مخزن دی او په تاندو او سړو اوبو تر ستوني ډک دی دوني ډک چې له څنډو ئـې اوبـهٔ رابهـېـږي مگر د اوبو دا زېـرمتون په خپل لويوالي کې محدود او گرد چاپـېره ئـې د اوبو يو گودر بـهـېږي. اوس که په زېـرمتون کې اوبـهٔ لږ نـهٔ شي، او د زېـرمتون پر سر ستري وربـځې ولاړې وي او په زېـرمتون کې د شته وو اوبو پر سر په متداوم ډول باران ووَرَوي نو د زېـرمتون اوبـهٔ به کله هم لږ شي او يا به زېـرمتون وچ شي؟

څرگنده ده چې نـه صاحبه

ښه نو دا ولې گرانه پاچا؟

ځکه چې د زېـرمتون پر سر متداوم باران وَرېږي.

همداسې ده گرانـه پاچا، د هغـهٔ سوبمن د لاربنوونو ښـهٔ قانون هم کټ مټ د اوبو همداسې يوهٔ زېـرمتون ته ورته دی چې تل د ديني لمانځني، د ديني وظيفي، طهارت، اخلاقياتو او د ژوندانـهٔ د صفا او خلوص په تاندو او سړو اوبو ډک دی او ان د ټولو جنتونو په لوړ او سر جنت کې په ټولو حدودو کې تر ستوني بهانده دی. او که د بودا بچيان د هغـهٔ د رحمت د دايمي باران پر سر، د خپلو ديني وجايبو، طهارت، اخلاقياتو او د ژوندانـهٔ د صفا او خلوص بارانونه متداوماً ووَرَوي نو «دين – ژ» به دوام وموممي او نړۍ به له ارهټانو څخه بې برخې نـهٔ شي. له دې کبله  د ولي الأمر د خبرو معنی دا وه چې ويلي ئـې ول : " خو سوبهاده! که په ديني سيستم کې ديني ورونه د ژوندانـهٔ سلامت او کمال ته دوام ورکړي نو نړۍ به له ارهټانو بې برخې نـهٔ شي."

---

[1] - Subhadda

[2] - Samanas : سمانه، سمانه يا شرمانه په هندوستان کې په دښتو کې لالهانده زاهدان او د دنيا تارکان ول او يو له دوی څخه بودا گاتما وو. – ژباړونکی

**نــهــۀ پینځوسم :** ګرانــه پاچا! اوس داسي وانګــېرئ چي خلک د یوې بټۍ د ستر اور د دوام لپاره په پرله پسي ډول د غوایي خوشایي ، وچ لرګي او وچي پاڼي راټولوي – که داسي وشي نو آیا د بټۍ اور به مړ شي؟

[۱۳۳]. هــېڅکله نــه صاحبه. برعکس اور به غړغړانده وي او لمبې به ئــې لا ځلانده وي.

نو ګرانــه پاچا، د هغــۀ سوبمن لاربنووني هم د همدغــۀ غړغړانده اور په شان دي چي د دیني وجایبو، لمانځنو، طهارت، اخلاقیاتو او د ژوندانــۀ د خلوص او صفا له لارې د لسو زرو کالو لپاره د نړۍ پر سیستمونو باندې ځلــېږي. نو ګرانــه پاچا، ددې تر څنګ که د بودا بچیان ځانونــه پینځو ډولو روحاني[1] هڅو یا اِجهاد ته وقف کړي، او په خپلو هڅو کي ننګیالی وي – که دوی د درې اړخــېز نظم لپاره په ځان کي د لــېوالتیا تهذیب وکړي او پر بنسټ ئــې ځانونــه وروزي – او که له ځند پرته سم چلند په بشپړ ډول پلی کړي او له ټولو غلطیو پرهیز وکړي او په ژوندانــۀ کي پرهــېز، نــېــکي او عدل پلی کړي- نو د سوبمن ځلانده دکتورین به د کلونو په تېــرېــدلو لا پسي نور او نور ټینګ شي او نړۍ به د ارهټانو له لرلو بې برخي نــۀ شي. ګرانـــه پاچا همدا لامل دی چي اولی الأمر داسي ویلي دي: " سوبهاده! خو که په سیستم کي دیني ورونه د ژوندانــۀ خلوص او صفا ته دوام ورکړي نو نړۍ به د ارهټانو له لرلو بې برخي نــۀ شي."

**شپیتــۀ :** ګرانه پاچا! بیا هم داسي وانګــېرئ که خلک یوې روښاني، صیقل شوې، تنکۍ او ځلاندې زنګ نــۀ وهونکي هــېنداري ته د سرو نرمو پوډرو صیقل یا ملعمه په متداوم ډول ورکړي آیا د هــېنداري پر مخ به دوړې، خاورې او ککړتیا کله هم رامنځته شي؟

څرګنده ده چي نـــه صاحبه. برعکس دا به لا نوره هم د پخوا په پرتلي ځلانده ، بې زنګه او بې داغه پاتي شي.

نو ګرانــه پاچا! د هغــۀ سوبمن ځلانده دکتورین هم په خپلي ختي او تومني کي همداسي ځلانده دي، او له یوې مخي له سره تر پایه دوني پاک او سپیڅلي دي چي نور نو د شرارت دوړې او خاورې وربانـدې نــۀ شي کښــېناستی. او که د بودا بچیان د بودا د کتورینو هــېنداره په خپلي تقوی پاکه وساتي، او د شرارت د جرړې په له بیخه ایستلو او ځانونه له شرارته په لــېرې ساتلو، د دیني وجایبو په تر سره کولو، تقوی او اخلاقیاتو ته په ودې ورکولو او په د ژوندانــۀ کي د خلوص او صفا د لارې په غوره کولو به دا ځلانده دکتورین تر ډېره وخته دوام ومومي او نړۍ به د ارهټانو له لرلو بې برخي نــۀ وي. په همدې هکله هغــۀ مبارک ویلي دي چي :" سوبهاده! خو که په دیني سیستم کي دیني ورونه متقي ژوندانــۀ ته دوام ورکړي، نو نړۍ به د ارهټانو له لرلو بې برخي نــۀ شي." ګرانه پاچا! د اولی الأمر د لاربنوونو جرړې په عمل کي نغښتي دي، هغه عمل چي ذاتاً د زړۀ له تله وي، عمل باید ثابته وي او په عمل کي باید کمي او نیمګړتیا رامنځته نــۀ شي[2].

**یو شپــېــتم:** ښاغلی ناګه سینا! کله چي تاسو د ښــۀ قانون له اضمحلال څخه خبرې کوئ، له اضمحلال څخه ستاسو موخه څــۀ ده؟

---

[1]- Pańka-padhânańgani : دا عجیبه ده. په پیټکه ګانو کي یوازې څلور ویل شوي او دلته پینځــۀ وایي- لیکوال
[2]- د سیمهالي متن په همدې برخي کي یو پاراګراف شته چي په پالي متن کي نــۀ شته – لیکوال

گرانــه پاچا! د دکتورينو په سيستم کې درې ډوله اضمحلاله شته. او دا درې واړه کوم کوم دي؟ يو دا چې ورڅخه عقلاني مقبض او فهم تر لاسه نـهٔ کړي، بله دا چې له عقلاني فهم سره يو ځای د عقلاني فهم پر بنسټ د عمل اضمحلال وي، بله د ظواهرو اضمحلال[1]. [۱۳۴] او کله چې له اکتسابه لاس واخيستل شي ان هغه څوک چې مستقيماً ددين په لارې روان هم اوسي بيا هم له دکتورينو څخه نـهٔ خبر لري او نـهٔ کومه پوهه. په عمل کې د لړوالي له کبله ده چې د قانون د احکامو له نظم څخه لاس اخسيتل کـېږي، او يوازې ددين ظاهري بڼه پاتې کـېږي. او کله چې د دين ظاهري بڼه له منځه لاړه بيا نو ددين له سنتي دودنو سره پرېکون رامنځته کـــېږي. دا د ديني سيستم د دکتورينو د اضمحلال درې بڼې دي.

ښاغلی ناګه سينا! تاسو دا معضله راته په ډېر ژور ډول شرحه کړله او راته مو آسانــه کړه. تاسو شته غوټې راته خلاصې کړلې؛ تاسو د ميرڅمنو له شخړو ډکې وراشې ورانې ويجاړې کړلې، هغوی مو ټوټه ټوټه کړل او غلط مو ثابت کړل- اې ښاغليه! تاسو د ديني مکتبونو تر ټولو ښه لارښود یاست!

---

[دلته د دين د تداوم معضله پای ته رســېږي]

---

# [د بودا عصمت]

**دوه شپــېـتم** : ښاغلی ناګه سينا! کله چې هغه مبارک بودا شو او په خپل باطن کې ئـې ټول شرارتونــه وسوځول ( هلاک کړل) ، آيا له دې سره سره هم د شرارت پاتې شوني ئـې په باطن کې پاتې وې؟

کله چې ټول شرارتونــه ئـې وسوځول ( هلاک کړل) نور نو د شرارت هـېـڅ ډول ورپاتې نـهٔ وو

خو صاحبه! دا څنګه؟ آيا ددهٔ ځان ونـهٔ سوځـېـد؟

هو گرانــه پاچا! په راګه ها کې ئـې پښه د ډبرې يوې ټوټې ور ژوبله کړه[2]، يو ځل خو د زحار يا خوني اسهال له لاسه وکړېــدهٔ[3]، او يو ځل کله چې ددهٔ د ځان څلورواړه مزاجونــه «امزجه اربعه» (يعنی تاودهٔ، ساړهٔ، وچ او لاندهٔ - ژ) سره ګډ وډ شول نو يوه بشپړه تصفيه وربانديز تر سره شوه[4]، او کله چې له شيخ (آنندا) سره ئـې لانجه شوه او ددهٔ خدمت ئـې کاوهٔ نو آننده ورته (د سړو اوبو پر ځای- ژ) سرې اوبـهٔ ورکړې[5].

---

[1] - لينګه Lińga : ښايي موخه ئـې يونفيورم يا جامې وي. د ښـلګې په توګې که سيستم بودايي وي نو مذهبي ټولنه او پراخې زېږې جامې. وګورئ IV, 3. 2 – ليکوال

[2] - See .Kullavagga VII, 3, 9.
[3] - See Mahâparinibbâna Sutta IV, 21.
[4]- Mahâvagga VIII, 1, 30-33.

[5]- په دې کې هـېـڅ شک نـهٔ شته چې دا پـېښـه هماغه پـېښه ده چې په مهاوګه Mahâvagga VI, 17, 1-4 کې ئـې يادونه شوې ده. چايلدرز ئـې واتابادهه vâtâbâdha د روماتيزم rheumatism پر بنسټ ژباړي، خو زه دلته په خپلې ژباړې ټينګار کوم. په مهاوګه کې ويل شوي چې آنندا

ښه نو صاحبه که تتهه گتا د بودا کېدنگ پر مهال په خپل باطن کې ټول شرارتونـه له منځه وړي وي – نو ډبرې چې پښه ئـې ور ژوبله کړه وه، يا ئـې خوني اسهال ليدلی وو او نور ئـې همداسې درواخله، بايد غلطه وي. خو که همدا خبره سمه وي نو دا په دې معنی ده چې دی له شرارتونو څخه په بشپړ ډول نـهٔ وو خلاص شوی، ځکه له کرما څخه پرته خو درد نـهٔ شته. د ټولو دردونو جرړه په کرما کې پرته ده، دا د کرما پر بنسټ ده چې ربړه او درد راپورته کـېږي[1]. اوس چې تاسو زما مخې ته دوه سرې معضله کښـېښودله نو راته حل ئـې کړئ.

**دري شيـېـتم** : نـه گرانـه پاچا! داسې نـهٔ ده چې ټول دردونـه دې په کرما کې جرړه ولري.  اتــهٔ علتونـه شته چې له مخې ئـې درد او ربړه راپورته کـېږي، او د همدې پر بنسټ ډېري موجودات درد او ربړه گالي. او دا اتــهٔ کوم دي؟ د باد، زېـړي يا صفرا، خراشکي يا بغلم بيحده ډېروالی [۱۳۵] د نوموَړو اخلاطو يوځايوالی، د تودخې توپيرونــه، له اختلاف څخه ډډه کول، باندنی برخه او کرما. له هر يوهٔ ياد شوي څخه يو شمېر ربړې او کړاونـه رامنځته کـېـږي او دا اتــهٔ واړه هغه علتونـــه دي چې ډېـري موجودات ورڅخه کړېږي. له دې کبله که هرڅوک دعوی وکړي چې ددهٔ کرما، موجودات کړوي او تر څنگ ئـې د ربړې او کړاو لپاره بل دليل نـهٔ وي، نو ددهٔ ادعا کذب ده.

خو صاحبه! دا ټول اووهٔ واړه دردونـه چې هر يو ئـې د خپلې سرچينې پـهٔ شان خپله کرما لري، نو هر يو ئـې د کرما له لارې رامنځته کـېږي.

گرانـه پاچا! که ټولې ناروغۍ په رښتيا هم د کرما له کبله رامنځته کـېدې نو ټولو به يوه نښه درلوده او له يو بل څخه به ئـې توپير نـهٔ کـېـدهٔ. کله چې «د چا په ځان کې –ژ» باد تيت شي نو لامل ئـې له دغو لسو لاملونو څخه يو لامل وي – يا د سړښت له لارې، يا د تودوخې له لارې، يا د لوږې او تندې او يا د خوړنگ له لارې، يا د ډېـرو درېدلو له لارې، يا د ډېر زور وهلو او هڅو له لارې، او يا د گړندي تگ له لارې، يا د طبي درملنې له لارې او يا هم د کرما له لارې. له دې کبله دا سمه نـهٔ ده چې وويل شي ټول دردونـه د کرما له لارې رامنځته کـېږي. په دغو لسو کې نهــهٔ ئـې نــهٔ په تـېر ژوند کې او نــهٔ په راتلونکي ژوند کې فعل او انفعال لري بلکه يوازې په اوسني ژوندانــهٔ کې رابرسيره کـېـږي. له دې کبله دا سمه نــهٔ ده چې ووايو ټول دردونه د کرما له کبله دي. گرانـه پاچا! کله چې صفرا مختله شي نو په صفرا کې اختلال د درو لاملونو له لارو رامنځته کـېږي – د سړښت له لارې، د تودوخې او يا د غير مناسبو خوراکي توکو له لارې. کله چې بلغم رامنځته کـېږي نو يا د سړښت يا د تودوخي او يا د خوراکي او څښاک- توکو له لارې رامنځته کـېږي. کله چې له دغو درو واړو له منځه يو ئـې رامنځته شي او يا له يو بل سره گډ شي نو هر يو ئـې زموږ په ځان کې خپل ځانگړی درد رامنځته کوي. له همدې کبله ده چې ځانگړی درد د تودوخې د درجې د بدلون، له اختلاف څخه د ډډې او يا د باندني فکتور له کبله رامنځته کېږي[2].  او بل عمل دی چې کرما د ميوې په شان په ځان کې نغښتې لري، او د عمل په ترسره کولو سره  درد رامنځته

Ânandâ ورته سرې اوبـهٔ نـهٔ بلکه اوماچک ورکړ. خو سرې اوبـهٔ او اوماچک دواړه يو بل ته ورته دي او تهيري گاتها Theri Gâthâ 185 ورته همداسې نغوته لري چې دا سرې او تودې اوبـهٔ وې چې ما ئـې يادونه کړې ده – ليکوال

[1]- له گناه پرته د درد او خوړ. شتون نا شتونی دی وگورئ :  St. John's Gospel, ch. Ix ليکوال
[2]- هماغسې چې مخکې مو په IV, 1, 33 کې نغوته وکړه، ډېري دا طبي مصطلحات ډېر شکمن دي – ليکوال

کـېـږي. نو هر هغه څه چې د کرما د میوې په شان رامنځته کـېـږي حاصل ئــې د هغو نورو میوو په پرتلې زښت لږ دی چې د نورو علتونو له کبله رامنځته کـېـږي. او په دې کې هغه جاهل ډېـر وړاندې ځي [۱۳۶] کله چې وایي هر درد د کرما په شان خپل حاصل لري. د بودا له بصیرت پرته بل هـېـڅوک نــهٔ شي کولی چې د عمل د کرما اندازه سمه کړی شي.

**څلور شپیتم :** ګرانـه پاچا! کله چې د هغـهٔ مبارک پـښـه د ډبرې په ټوټې ځـیرې شوه نو رامنځته شوی درد د هېڅ یوهٔ اتـو علتونو له کبله رامنځته نـهٔ شو چې ما ئـې یادونــه وکړه، ددې درد لامل باندنی فکتور وو. ګرانـه پاچا! دا ډېـوه دیا وو چې د تتهاګتا پر وړاندې ئـې د زېږون د سلهاوو زرو پرله پسې کلونو په اوږدو کې کرکه درلودله[1]. د همدې کرکې له کبله ول چې ډېـوه دتا یوه ډېـره غټه ډبره راپورته کړه او لاندې ئـې په دې هیلې وغورځوله چې که د تتهاګتا پر ککرې وموښلي. خو کله چې ډبره ئـې له پاسه خوشې کړه نو د خوشې شوې ډبرې په لارې کې دوې نورې ډبرې را پیدا شوې او مخکې له دې چې پر تتهاګتا باندې وموښلي د دواړو ډبرو د کړس له کبله یوه پرخچه راخوشې شوه او د هغـهٔ مبارک پر پښې باندې وموښتله، او پښه ئـې وینې شوه. اوس نو دا ویل اړین دي چې د هغـهٔ مبارک په ځان کې رامنځته شوی درد یا ددهٔ د خپلې کرما له کبله وو او یا د بل چا د عمل له کبله. له دغو دواړو دلایلو پرته بل ډول درد نـهٔ شي رامنځه کـېـدې. کله چې یو تخم نــهٔ شین کـېـږي- نو لامل ئـې یا د خاورې بدوالی دی او یا دا چې دا تخم په خپله نیمګړتیا لري. یا کله چې یو خوراکي توکي نـهٔ هضمـېـږي – نو لامل ئـې یا په نس کې د کومې نیمګړتیا له کبله او یا په خپله د خوراکي توکو له کبله ده.

**پینځـهٔ شپیتم** : خو سره له دې چ هغـهٔ مبارک هـېـڅکله داسې درد نـهٔ دی لیدلی چې ددهٔ د خپلې کرما یا له اختلاف[2] څخه د ډېږ کولو له کبله رامنځته شوی وي خو بیا هم هغه مبارک د نورو شپږو هرو علتونو له کبله وربېږېد او خوږمن شو. او هغه درد چې دهٔ ګاللی دوني درد نـهٔ وو چې دي دې له ژوندانـهٔ څخه بې برخې کړي. ګرانـه پاچا زموږ دغـهٔ بدن ته درد د څلور مرکبه عناصرو د ډولونو له لارې راځي [3] د مرغوبو احساساتو او یا بالعکس، د په زړهٔ پورې/ خوندور او نا مطبوع احساس له لارې. ګرانـه پاچا! یوه خاورینه لوټه په پام کې ونیسې چې که څوک ئـې پورته هوا ته وغورځوي او بـېـرته ځمکې ته راپریوزي. آیا دا د کوم تر سره شوي پخواني عمل پایله ده چې لوټه په دې ډول راولوېـږي؟

نـه صاحبه. د دوني پراخي ځمکې پر مخ داسې دلیل نـهٔ شته چې د ښـهٔ یا شریر عمل پایله دې تجربه کړی شي. دلیل ئـې له کرما څخه جلا او مستقله او باید د اوسمهال سبب [۱۳۷] وي چې لوټه په دې ډول پر ځمکې راپریوزي.

ښه نو ګرانـه پاچا، په پورتني مثال کې کولی شو تتهاګتا همدا پراخه ځمکه وګڼو. او په لوټې باندې د هر عمل د تر سره کولو په قطعِ نظر سره به لوټه په خپله رالوېږي، نو همدا شان د تتهاګتا د هر عمل په قطعِ نظر سره ده چې ډبره ددهٔ پر پښې باندې راوغورځـېـدله.

---

[1] - So below, IV, 3, 28.

[2] - ویسه مه – پریهاره – ګا Visama-parihâra-gâ په دواړو سیمهالې او پالي کې همداسې ویل شوي دي - لیکوال

[3] - اوبــهٔ، اور، هوا او خاوره ( آپـو âpo ، تګو tego ، ویو vayo او پتهاوي pathavî) لیکوال

**شېږ شېبېـتـم** : يو ځل بيا ګرانـه پاچا، يو بله بـېلګه واورئ، چې يو څوک ځمکه څـېـري او قلبه کوي ئــي. اوس پوښتنـه دا ده چې دا عمل د کوم پخواني عمل د پايلي له کبله رامنځته شوی دی؟

څرګنده ده چې نـه صاحبه

چې داسې ده نو، د ډېرې رالوېـدل هم همداسې درواخله. همداسې پر هغـهٔ باندې د خوني اسهال راتلل د کوم پخواني عمل د پايلي له کبله نـــهٔ ول راغلي، د خوني اسهال راتلل د درو اخلاطو د يو والي له کبله ول. او همدا شان که پر دهٔ باندې که هر ډول بدني ناروغی راغلي وي نو ريښه ئـي ددهٔ په کرما کي نـهٔ بلکه له تـېـرو شپږو يادو شويو علتونو څخه کوم علت به وو. په همدې هکله د هغـهٔ مبارک له خولې چې تر ټولو رب النوعو لوړ دی د سميتو نيکايه[1] په پرتميني ټولګی کي د سوتا[2] په نثر کي چې له موليه سيوَکه[3] وروسته ويل شوی داسې راغلي دي : " سيوَکه، يو شمــېــر مشخص دردونــه دي چې د صفراوي اخلاطو له کبله رامنځته کـېـږي. او تـهٔ بايد په ډاډ پوه شې چې دا کوم دي ځکه په نړئ دا عام شوی مفهوم دی چې دا کوم دي. خو سيوَکه، برهمنان او سَمَـنــه ګان په دې فکر او ادعا دي چې هر ډول خوند / تلذذ يا درد يا بې توپيره احساس او د هر انسان د عمل اوسنی پايله تل د پخواني تر سره شوي عمل له لاسه ده - دوی د ډاډمنتيا له لارَيب فيه هم وړاندې ځي، دوی د علم د لاريب فيه له کرښو وړاندې ځي نو له دې کبله زه وايم چې هغوی په غلطه دي. او همداسې ده د هغو دردونو خبره چې له بلغمي اخلاطو، يا بادي اخلاطو، او يا د درو واړو د يو ځايوالي او يا د تودخې د بدلون او يا له اختلافه د ډېږي کولو، [۱۳۸] يا د باندنيو فکتورونو او يا د کرما د پايلي له کبله راپورته کـېـږي. په هر ياد شوي حالت کې تـهٔ بايد په ډاډ پوه شې چې دا کوم يو دی ځکه اوس دا يو عام مفهوم دی چې دوی څه شی دي. خو هغه برهمنان او سَمَـنه ګان چې په دې فکر او ادعا دي چې هر ډول خوند / تلذذ يا درد يا بې توپيره احساس او د هر انسان د عمل اوسنی پايله تل د پخواني تر سره شوي عمل له لاسه ده- دوی د ډاډمنتيا له لارَيب فيه هم وړاندې ځي، دوی د علم له لاريب فيه له کرښو وړاندې ځي نو له دې کبله زه وايم چې هغوی په غلطه دي." نو ګرانـه پاچا داسې نـهٔ ده چې ټول دردونـه دې د کرما د پايلي له کبله رامنځته شوي وي. او تاسو بايد د يوهٔ حقيقت په توګې ومنئ کله چې هغه مبارک بودا شو نو په خپل باطن کې ئــي د شرارت ټولو ډولونو ته اور اچولی وو.

ډېـر ښــهٔ ناګه سينا! همداسې ده؛ او هر څه چې تاسو واياست هغه منم

---

[ په دې سره د بودا د عصمت معضله پای مومي]

---

[1] - Samyutta Nikâya
[2] - Sutta
[3] - Moliya Sîvaka

# د تفکر د ګټو په هکله[1]

**اووۀ شپېتم** : ښاغلی ناګه سینا! ستاسو خلک وايي هر هغه څه چې يو تنها ګتا تر سره کوي هماغه عمل هغۀ مبارک کله چې د حکمت تر ونې لاندې ناست وو هغه مهال مخکې له مخکې تر سره کړی دی[2]. هغه مهال خو هلته هېڅ شی نۀ ول چې هغۀ تر دې دمه تر سره کړي وي، او هېڅ شی نۀ شته چې ددۀ په تر سره کړيو اعمالو دې ورزيات شي. او بيا ورپسې زياتوي چې «د حکمت تر ونې لاندې له کښېنستلو- ژ» سره سم هغه مبارک د درو مياشتو لپاره د وَجدي تفکر په نيشه کې ډوب شو[3]. که په پورتينو غونډلو يا جملو کې لومړۍ هغه ئې صحيح وي نو دويمه هغه ئې بايد غلطه وي. که دويمه ئې صحيح وي نو لومړۍ بايد غلطه وي. هغۀ چې مخکې له مخکې خپله دنده تر سره کړې ده هېڅ ډول تفکر ته ئې اړتيا نۀ شته. هغه څوک په فکري عبادت کې ډوبېږي چې خپل ټول اعمال ئې نۀ وي بشپړ کړي او د بشپړېدلو لپاره ئې بايد په فکر عبادت کې ډوب شي. [۱۳۹] يا همدا سړی يو ناروغ دی چې درمل ته اړتيا لري، دی روغ نۀ دی؛ دی وږی دی چې ډوډۍ ته اړتيا لري، دی هغه څوک نۀ دی چې پۀ ګېډې موړ وي. دا يوه دوه سرې غبرګه معضله ده او تاسو ئې بايد حل کړئ.

**اتۀ شپېتم** : ګرانه پاچا دواړه غونډلې / جملې صحيح دي. تفکر ډېر مناقب/ حميده اوصاف لري. ټولو تنها ګتا ګانو د بوداتوب په اکتساب کې تفکر «فکري عبادت – ژ» کړی دی او د «تفکر- ژ» د محسنه اوصافو ټولګه ئې عملاً تجربه کړې ده. دوی هم دا کار د هغۀ سړي په شان کړی چې له يوۀ پاچا څخه يو لوړ مقام تر لاسه کړي، دوی دا مقام د «تفکر- ژ» د ګټو له ټولګې څخه تر لاسه کړی دی، دوی د برياليتوب د خوند د څکلو لپاره دا د يوې وسيلې په توګې کارَولی دی، او د پاچا په حضور کې مستمراً پاتې شوي دي – کټ مټ لکه په مهلکې ناروغۍ اخته، رنځور او خوږمن سړی چې خپله روغتيا ئې د درملو په کارَولو تر لاسه کړې وي، او همدا درمل څوڅو ځله کارَوي او په خپل ذهن کې د درملو محسنات يادوي.

**نهۀ شپېتم** : ګرانه پاچا! تنها ګتا ګانو چې په خپل احساس، ځانونه تفکر ته وقف کړي ول په هغۀ کې ئې شل او اتۀ (اتۀ ويشت – ژ) محسنات ليدلي ول. او دا کوم دي؟ هغه څوک چې تفکر کوي، نو تفکر ئې تحفظ/ ساتنه کوي، اوږد ژوند ور په برخې کوي، هغۀ ته ځواک او توان ډالۍ کوي، له خطاګانو څخه مطهروي، دی له بد شهرته دباندې راباسي او ښۀ نوم وربخښي، په زړۀ کې ئې خوابدي/ نارضايتي له منځه وړي او په قناعت ئې ډکوي، دی له هر ډول خوف څخه

---

[1] - په ټول سيمهالي متن کې ويوِکه wiweka ئې پټي سَلانه Patisallâna، نۀ بلکه (سمادهي samâdhi) ژباړلی دی- ليکوال

[2]- ما ونۀ شو کولی د پيټکه ګانو په ټولو متنونو کې همداسې يوه ويل شوې وينا ومومم. ليکوال

[3]- دلته يو ځل بيا زموږ ليکوال هغو ليکنو ته ګوته نيسي چې له پيټه ګانو وروسته ليکل شوي دي. په مهاوَګه Mahavagga کې (وګورئ زموږ په ژباړې کې : 'Vinaya Texts,' vol. i, pp. 74-81) کې يوازې د اوو ورځو له منځه د څلورو ورځو پړاو ويل شوی او ان په دغو ورځو کې دا پټي سَلانه Patisallâna نۀ بلکه سمادهی samâdhi ويل شوي دي. په دغو دواړو مصطلحاتو کې لومړۍ هغۀ ئې يوازې د اتۀ ويشتمې ورځې په پای کې رامنځته کېږي (وګورئ : Mahâvagga I, 5, 2). او ان په وروسته تقليدي ادب کې د تفکر مهالنی پړاو درې مياشتې نۀ دی ويل شوی او يوازې ئې په اوو ورځو کې اووۀ ځله ويلی دی. دغه را اخيستل شوي نقل قولونه د پوهاند اولدنبرګ په يادښتونو کې وګورئ : Professor Oldenberg's note at p. 75 of the 'Vinaya Texts,' vol. i. ليکوال

خلاصوي او په ډاډمنيتا ئـي نازوي، دی له لټ توب دباندې راباسي او لټي ورڅخه لـېرې شړي او زړهٔ ئـي په خير غوښتني ډکوي، شهوت ئـي په زړهٔ کي کم ارزښته کوي، خصومت او پڅوالی ورڅخه اخلي، پر کبر اوغرور د پای ټکی ږدي، هر ډول شکونه دړې وړې کوي، زړهٔ ئـي د سولي او آرامی په رحمت خړوبوي، ذهن ئـي نرمومي، [۱۴۰]، دی خوښ ساتي، دی په عزت درندوي، دهٔ ته ډېرې ګټي وربخښي، دی د درنښت وړ ګرځوي، زړهٔ ئـي په خوند او ابتهاج ډکوي، دی په خوشحاليو کي ډوبوي، دهٔ ته د ټولو مرکبه شيانو سريع الزواله ماهيت ورښيي، تفکر «فکري عبادت –ژ» پر بيا زېـږون[1] باندې د پای ټکی ږدي، تفکر دهٔ ته له دنيا څخه د لاس اخيستني ټولي ګټي په لاس ورکوي. ګرانــه پاچا دا دي د تفکر / تأمل شل او اتـهٔ محسنات چي تتها ګتاګانو په خپل احساس سره ځانونه ورته وقف کړي ول. خو ګرانه پاچا له ډېرو پخوا وختونو را په دې خوا ده چي د نيروانا د خوښيو او د هغـهٔ د آرامه حالت د تر لاسه کولو لپاره تتها ګتا ګانو په پرېکنده هوډ ځانونـه تفکر ته وقف کړي ول تر څو خپله موخه تر لاسه کړي.

**اوپايم**: ګرانـه پاچا! څلور علتونه دي چي تتها ګتها ګان ځانونـه تفکر ته وقفوي. او دا څلور کوم دي؟ ګرانــه پاچا ددغو سببونو پر بنسټ به هغوی په هوساينې ژوند وکړي – د تفکر د ګټو د پريمانۍ په سبب، داسي ګټي چي پر وړاندې ئـي خنډونـه نـهٔ شته – په دې سبب چي تفکر د ټولو وياړلو او شريفو شيانو پر لور له استثناء پرته يوه لاره ده – او په دې سبب چي دا لاره د ټولو بوداګانو له پلوه ستايل شوې، مدحه شوې، لوړه شوې او پراخه شوې ده. دا هماغه علتونـه دي چي بوداګانو ورته ځانونـه وقف کړي ول. نو لويه پاچا! دا په دې سبب نـهٔ ده چي دوی ټول کارونـه تر سره کړي ول او د کړلو لپاره نور ورته څه نـهٔ ول پاتي شوي او يا ئـي په تر سره کړو کارونو باندې نور څه وربانديې زيات کړي وَی، دا په دې سبب ول چي دوی ليدلي ول چي د ګټو په تصرف کي څوني بـېلابـېلتوب دی او همدا علت وو چي دوی ورته ځانونـه وقف کړي ول.

ډېر ښــهٔ ناګه سينا! همداسي ده، هر هغه څه چي تاسو وويل زه ئــي منم.

[په دې سره د تفکر معضله پای مومي]

---

[1]- بيا زېـږون په بوديزم کي له مرګه وروسته د يوهٔ انسان د بيازېږون په معنی ده : بيا زېـږون يوازې په بوديزم پورې نـهٔ رالنديږي، د اوپانيشاد د دين په شان چي له زېږدېزې پـېړی اتـهٔ سوه کاله مخکي رامنځته شوی وو چي نورو اديانو هم په بيا زېـږون باور درلود؛ په لرغوني بوديزم کي بيا زېـږون په کرما پورې تړل شوی دی. کرما يعنی د يو چا د تـېرو اعمالو اغـېز د هغـهٔ پر راتلونکي يا بل راتلونکي ژوند باندې. په هغـهٔ مهال کي پر بيا زېـږون باندې ګروهنه يا ايمان دوني پراخ وو چي ان په خپله بودايي دين په خپلو متـنـونو کي ورته ډېره لږه نغوته کړې ده او يا ئـي له منلو څخه دفاع کړې ده. بودايي شيخان په دې باور ول چي د بيا زېـږون حقيقي سکالو هغو کسانو ته د آزمويني يو ډګر دی چي په روحاني خـلـصي کي پرمختللو پړاونو ته رسـېدلي وي لکه په خپله بودا، ان دا چي هغوی دا وړتيا لري چي د خپل پخواني ژوند وړوکي لوړې ژورې په تفصيل سره ووايي. معاصر بودايان د تناسخ سکالو يوازې په لرغونو متنونو پورې اړوند يوه سکالو بولي او دوی وربانديې ګروهنه نــهٔ لري. هماغسي چي په پورتنيو پاڼو کي مو وليدل بوديزم د بيا زېـږون لپاره شپږ شوني ډګرونه ښيي. ژباړونکی

# [د درو میاشتو حد]

**یو اوپایم** : ښاغلی ناګه سینا! هغـهٔ مبارک ویلي چې: " آننداً ! تتها ګتا په ډېر ځـېـر او بشپړوالي سره د قدسیت[1] څلور واړه لوړې لارې په تجربې ګټلي، پخې کړي، متراکمه کړي او وربانديې ختلي دي او دونې وربانديې برلاسي شوي چې کولی شي دا لارې د عقلاني پرمختګ لپاره په کار واچوي او له دغو لارو څخه د تهذیب د بنسټ په توګې کار واخلي- او له دې کبله ده چې آنندا باید ورته لـــېـواله وي، او د یوې کلپا او یا د کلپا[2] د یوې برخې د ترلاسه کولو لپاره چې دی ورته مبارزه کوي ژوندی پاتې شي"[3]. او بیا هغــهٔ مبارک ویلي چې :" او له اوسمهاله نیولي درې میاشتې وروسته به تتها ګتا مړ شي.[4]" که لومړنی غونډله سمه وي نو د درو میاشتو خبره باید ناسمه وي. که دویمه هغه ئـې سمه [۱۴۱] وي نو لومړۍ هغه باید ناسمه وي. تتها ګتاګان له مناسبت پرته اغراق نـهٔ کوي، مبارک بوداګان خادع کلمات نـهٔ وايي، د هغوی خبرې مطلق حقیقت دي او سپیني سپـېـڅلي خبرې کوي. دا ما ته یوه غبرګه دوه سرې ژوره معضله ده، ژور- فکرې ده او ګرانـه ده چې تفسیر شي. د ارتداد دا ځال درې وړې کړئ، یوې خوا ته ئـې کښـېـږدئ، د دښمنانو دا منازعات ټوټې ټوټې کړئ!

**دوه اوپایم** : ګرانــه پاچا! دواړه غونډلې چې هغـهٔ مبارک ویلي دي، سمې دي. خو په دې هکله د کلپا خبره د یوهٔ انسان د ژوندانـهٔ د څومره والي په معنی ده. او ګرانه پاچا! کله چې هغـهٔ مبارک دا خبره کوله نو په دې معنی نـهٔ وه چې هغه دې د خپل ځواک ستاینـه وکړي، هغــهٔ د قدسیت د ځواک ستاینـه کړې ده. دا «ځواک – ژ» لکه یوهٔ پاچا ته ورته دی چې یو آس ولري او آس ئـې د چابکو ګړندېو پښو په لرلو د باد په شان وځغلي. او پاچا ددې لپاره چې د خپل آس د ګړندیتوب ستاینه وکړي نو د خپل دربار د درباریانو په حضور کې وايي – اې ښاریانو، هـېـوادوالو، نوکرانو، جنګیالیو، برهمنانو، اشرافو او افسرانو: " غواړئ ووینئ چې زما دا فخیم آس کولی شي د ځمکې د سمندرونو له څنډو واوړي او په یوې شــېـبې کې بـېـرته دلته راشي![5]"

اوس نو سره له دې چې پاچا د خپل دربار په حضور کې د آس د ګړندیتوب د آزمویلو هڅه ونـهٔ کړه خو له دې سره سره آس همداسې ګړندیتوب درلود او په ربښتیا هم دا وړتیا ئـې درلودله چې په یو شـېـبې کې د ځمکې له ملا تـېـر او د سمندرونو له څنډو واوړي. نو ګرانــه پاچا! د هغـهٔ مبارک وینا هم همداسې ده چې د قدسیت د ځواک په ستاینې کې ئـې کړې ده، او هغه چې د انسانانو او رب النوعو په منځ کې ناست وو همداسې ئـې وویل، هغه انسانان چې درې استوی حکمت او شپږ استوی

---

[1] - Kattâro iddhi- pâdâ

[2] - Kalpa : مخکې مو وویل چې په هندوییزم او بودیزم کې کلپا د مهال یا زمان یو اوږد پړاو دی چې د نن ورځې په محاسبې څلور اعشاریه دوه دېرش بیلیونه کاله کـېـږي. دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره په مهابهارتا کې یاده شوې ده- ژباړونکی

[3] - Mahâparinibbâna Sutta III, 60, translated in my 'Buddhist Suttas,' pp. 57, 58.

[4] - Ibid. Ill, 63, translated loc. cit. p. 59.

[5] - په مهاسوداسنا سوتا Mahâsudassâna Sutta I, 29 کې د ستر پرتمین پاچا د " آس – ګنج" کې ویل شوي (وګورئ زما ژباړه Buddhist Suttas,' p. 256) چې آس د سمندر له کرښو په اوښتلو له پراخې پلنې ځمکې تـېـر شو او بیا بـېـرته د سباناري پر مهال د کوساوتي Kusâvatî ښار ته راغی . البته څرګنده ده چې دلته موخه او معنی د لمر آس دی- لیکوال

بصيرت ئـي درلود – اصيل او له معايبو خلاص ارهټان – او وئـي ويل چي :" آنندا ! تتها ګتا، په ډېر خـېر او بشپړوالي سره د قدسيت[1] څلور واړه لوړ ځواکونه په تجربې ګټلي، پخې کړي، متراکمه کړي او ورباندې ختلي دي او دوني ورباندې برلاسي شوي چي کولی شي دا لارې د عقلاني پرمختګ لپاره په کار واچوي او له دغو لارو څخه د تهذيب د بنسټ په توګي کار واخلي. او له دې کبله ده چي آنندا بايد ورته لـېـواله وي، او د يوې کلپا او يا د کلپا[2] د يوې برخي د ترلاسه کولو لپاره چي دی ورته مبارزه کوي ژوندی پاتې شي" او ګرانـه پاچا! په تتها ګتا کي د همدغـهٔ ځواک له کبله ول چي وئـي کولی شول د همدوني وخت لپاره ژوندی پاتي شي : او لا تر دې دمه ئـې د همدې ټولني د ناستو کسانو [۱۴۲] مخ ته خپل ځواک ښکاره نـهٔ کړ. ګرانـه پاچا! هغـه مبارک د راتلونکي ژوندانـهٔ په تړاو د ټولو حالاتو له غوښتنو څخه خلاص وو، ځکه ټول ئـې محکوم کړي ول. له همدې کبله ول چي هغـهٔ مبارک ويلي دي :" اې بهيکوګانو! کټ مټ لکه د نجاست د يوې ډېـرې وړوکي ټوټې په شان چي د شرارت بوی ورڅخه راځي ما هم د راتلونکي ژوندانـهٔ په يوې وړوکي ذرې کي کوم ښايست نـهٔ دی موندلی، ان که د لاس ګوتي سره وپېرکوم نو د لاس د ګوتو د پړکولو د مهال په اندازې مي کوم ښايست نـهٔ دی ليدلی.[3]" اوس نو ګرانـه پاچا! تاسو ووايـاست، هغـهٔ مبارک سره له دې چي د ايدهي[4] ځواک ئـي درلود بيا ئـې هم د راتلونکي ژوندانـهٔ شرايطو ته د مدفوع په سترګي کتلي نو آيا راتلونکي ژوندانـهٔ ته ئـې د هيلي په سترګو کتلي دي؟

څرګنده ده چي نـه صاحبه

چي داسي ده نو هغه مبارک بايد د ايدهي ځواک ستايلی وي چي دوني په لوړو ټکيو ئـي ستايي.

ډېـر ښــهٔ ناګه سينا! تاسو چي څه وويل، زه ئـي منم

---

[په دې سره د درو مياشتو معضله پای مومي]

---

لومړی څپرکی په همدې ځای پای ته رسـېـږي

---

[3]- ما په پيټه ګانو کي دغه روايت نـهٔ دی پلټلی چي چيرې دی، خو شايد په همدو کي وي - ليکوال

[4] - Iddhi : په سانسکريت کې ړدهي ऋद्धि او په پالي کې ايدهي इद्धि ويل شوي او يوه بودايي اصطلاح ده چي معنی ئـې نفساني ځواکونه يا طاقتونه دي او د خاورينې مستوي د څلورو يا پينځو علوي ځواکونو له منځه يو دی چي د تفکر د څلورو پړاونو له تر سره کولو وروسته تر لاسه کـېـږي. د سانسکريت په عادي معنی کې ايدهي د ډېـروالي، برکت، بريا، سوکالۍ، نـېـکمرغی او پانګې په معنی ده. د ايدهي د ځواک بيلګي : کولی شي ځان د هر شي په تجسم کې راڅرګند کړي، د اوبو پر مخ ګرځـېـدی شي، ځان غير مرئـي کولی شي، د ټينګو شيانو له منځه تـېـرېـدی شي، په کلکي ځمکې ننوتی شي، الوتی شي، سپوږمۍ يا لمر ته لاس وروړی شي، د برهما لوړ جنت ته راکوزېـدلی شي او نور – ژباړونکی

# ثلورم کتاب

## دویم څپرکی

### [د قواعدو الغاء]

**<u>لومړی</u>** : ښاغلی ناګه سینا! هغهٔ مبارک ویلي چې : " اې بهیکوګانو! د باطني بصیرت پر بنسټ ده چې زه د قانون موعظه کوم، نهٔ له باطني بصیرت پرته[1]" خو له بلې خوا د وینه یا[2] په قواعدو کې ویل شوي دي:" آنندا! کله چې زه لاړم، که ئې غوښتل نو قانون پرېږده چې ټول ادنی او اصغر قواعد ملغی کړي.[3]" کله چې ددغو ادنی او اصغرو قواعدو بنسټ سم نهٔ وي ایښودل شوی او یا پرته له څرګند علته په غفلت کې رامنځته شوی وي نو آیا هغهٔ مبارک له خپلې مړینې وروسته د هغوی د فسخ کولو اجازه ورکړې ده؟ که لومړۍ غونډله سمه وي نو دویمه هغه ئې ناسمه ده. که دویمه ئې په رښتیا دهٔ کړي وي، [۱۴۳] نو لومړۍ هغه ئې سمه نهٔ ده. دا هم یوه غبرګ سرې ستونزه ده، نرۍ، څیرکه، پېچلې، ژوره، ستوغه او سخته ده چې تفسیر شي. اوس ئې ستا مخې ته ږدم او تاسو ئې حل کړئ.

**<u>دویم</u>** : ګرانه پاچا! دا دواړه خبرې هغهٔ مبارک کړي چې تاسو یادې کړې. خو په دویمې هغې کې ئې ددې خبرې په ویلو بهیکوګان ازمویلي دي، چې که اجازه ولري نو کولی شي ددهٔ له مړینې وروسته دې یا ادنی او اصغر قواعد ملغی او یا دې اعتصام پر وکړي. دا د یوهٔ شهنشاه بېلګې ته ورته ده چې خپلو زامنو ته وایي :" بچیانو! دا یو ستر هېواد دی چې هره څنډه ئې تر سمندر پورې رسېدلې ده. د خپلو شته وو پوځې ځواکونو په مټ ددوني پراخ هېواد ساتنه ګرانه ده. له دې کبله ګرانو بچیانو کله چې زه مړ شوم نو د هېواد د پولو په اوږدو کې لېرې پرتې سیمې خوشې کړئ." اوس نو ګرانه پاچا تاسو وایاست چې آیا شهزادګان به د خپل شهنشاه پلار له مړینې وروسته لېرې پرتې سیمې او ولایتونه چې تر دې دمه ددوی په ملکیت کې دي خوشې کړي؟

---

[1] - دا نقل قول مې تر اوسه بل چیرې نهٔ دی پلټلی – لیکوال

[2] - Vinaya

[3] - Mahâparinibbana Sutta VI, 3 (translated in my 'Buddhist Suttas,' p. 112) دې پېښې ته په Kullavagga XI, 1, 9, 10 کې نغوته شوې او بودهاګهوسه په خپل تفسیر کې د میلینډا او ناګه سینا د وراشې په لړ کې د یوهٔ نقل قول په توګې یاد کړی دی او د خپلې ژباړې د صحت او تائید لپاره ئې د یوهٔ معتبر سند په توګې رانقل کړی دی. لیکوال

نــه صاحبه. پاچاهان زرنگ او هوښيار دي. شهزادګان به د ځواک د تندې په مټ د هېـواد اوسني اندازه په قهر او زور دوه يا درې ځلي نوره هم پراخه کړي خو هېـڅکله به د هغـهٔ شي له لاسه ورکولو ته غاړه کښـېـنـږدي چې ددوی په لاس کې دي.

ګرانــه پاچا په همدې اسيت وه چې تتها ګتا د بهيکوګانو د ازمويلو لپاره ويلي ول :" آننده! کله چې زه لاړم، که ئــي غوښتل نو پرېږده چې قانون ټول ادنی او اصغر قواعد ملغی کړي." خو ګرانــه پاچا د بودا زامن به قانون ته د تندې په برکت او له غمونو څخه د خلاصون په پار دوه سوه او پينځوس قواعد[1] وساتي، خو هــېـڅکله به هېـڅ يو هم چې بنسټ ئـي په عادي دوران کې اېښودل شوی له لاسه ورنــهٔ کړي.

**دريېم :** ښاغلی ناګه سينا! کله چې هغه مبارک " ادنی او اصغر قواعد يادوي" ددې په ويلو سره [۱۴۴] خو به دا خلک حيران شي، او شکمن به شي او د وراشو لپاره به ورته موضوعات پيدا شي او په ترديد کې به ځانونــه ورک کړي چې په قواعدو کې کوم يو ئــي ادنی او کوم ئــي اصغر دی.

ګرانــه پاچا په چلند يا سلوک[2] کې لږ خطاګاني ادنی قواعد، او په خبرو[3] کې لږ خطاګاني اصغر قواعد : او دا دواړه په ګډه " ادنی او اصغر قواعد جوړوي". پخواني مخکښ شيخان هم ددې سکالو په هکله شکمن ول او د متنونو[4] د سمون په شورى کې سره متفق الرأيه نــهٔ ول. او هغه مبارک مخکې له مخکې پو هــېـدهٔ چې دا ستونزه به رامنځته کړي.

نو، ناګه سينا د منتصرينو دا ظلمتناکه خبره چې تر ډېرې مودې پورې په درواغو پټه ساتل شوې وه نن د ځمکې پر مخ مکشوفه او ټولو ته څرګنده شوه.

---

[په دې سره د قواعدو د الغاء ستونزه پای مومي]

---

[1] - په پاتي موکها Pâtimokkha کې ياد شوي قواعد چې په ځان کې ټول مهم قواعد راټولوي يوازې ۲۲۰ دي – ليکوال

[2] - Dukkatam

[3] - Dubbhâsitam.

[4]- په کولا وګه Kullavagga XI, 1, 10 کې ويل شوي چې د راګه ګهه Râgagaha په شورا کې آننده ته په منسوبو خطاګانو کې دا يوه خطاء وه چې نوموړي ددغو اصطلاحاتو د تعريف غوښتنه نــهٔ وه کړې – ليکوال

# [محرم تدریس]

**څلورم**: ښاغلی ناګه سینا! هغـهٔ مبارک ویلي چې :" آننداـکله چې د حقایقو خبره راشي نو تتهاـ ګتا د یوهٔ ښوونکي د تړلي موټي په شان څـهٔ نـهٔ لري چې پټ ئـې وساتي[1]." خو له بلي خوا د مـېـرمن مالونکیه[2] د زوی د پوښتني په ځواب کي ئـې څه ونـهٔ ویل او ځواب ئـې ورنـهٔ کړ. ناګه سینا! دا ستونزه هم یوه غبرګ سَرِي ستونزه ده، له یوې خوا ښکاري چې پوښتني ته ئـې باید ځواب ویلی وَی خو له بلي خوا دی یا د غفلت له کبله له ځواب ورکولو ډډه کوي او یا دا چې کوم شی لري او غواړي چې پټ ئـې کړي. که لومړی غونډله سمه وي نو دلیل ئـې غفلت دی. خو دی پوهـېـدهٔ او بیا ئـې هم ځواب ورنـهٔ کړ نو دویمه غونډله باید غلطه وي. دا معضله هم دوه اړخیزه ده. اوس ئـې ستاسو مخي ته ږدم چې حل ئـې کړئ.

**پینځم**: ګرانه پاچا! هغـهٔ مبارک لومړی غونډله آننداـ ته ویلي او د مالونکیه د زوی یا مالونکیه پوته[3] پوښتني ته ئـې ځواب نـهٔ دی ورکړی. خو دا نـهٔ د غفلت په پار وه او نـــهٔ داسي کوم شی چې وو چې پټ ئـې کړي. د یوې ستونزې د حل شرحه له څلورو لارو کـېـدلی شي. او دا څلور لارې کومي دي؟ یوه ستونزه چې شرحه شي، کـېـدی شي یوازې ورته وروستی نـېـغ او مخامخ ځواب ورکړل شي. بله دا چې د یوې ستونزې ځواب کـېـدی شي مشرحه وي. بله لاره دا ده چې یوې ستونزې ته د حل لاره د پوښتنو او ځوابونو له لارې تر سره کـېـدی شي. بله لاره ئـې دا ده چې په خپله ستونزه له ځواب پرته یوې خوا ته کښـېـښودل شي.

ګرانـه پاچا! کومه ستونزه ده چې ځواب ئـې نیغ او وروستی دی؟ په دې کي دا پوښتـني رامنځته کېږي – " آیا بڼه یا شکل غیر ثابت دی؟" [۱۴۵] " آیا احساس غیر ثابت دی؟"، " آیا فکر یا آیډیا غیر ثابته ده؟"، " آیا مرکبات غیر ثابت دي؟"، " آیا هوښیاري/ شعور غیر ثابت دی؟"

او کومي ستونزې ته مشرحه ځواب ورکول کـېـدی شي؟ په دې کي دا پوښتـني رامنځته کـېږي – " آیا په دې ډول بڼه غیر ثابته ده؟" او دې ورته پوښتني.

او کومي ستونزې دي چې ځواب ئـې له یو بل څخه د پوښتنو له لارې تر لاسه کـېږي؟ په دې کي دا پوښتـني رامنځته کـېـږي –" نو بیا ورپسي څه؟"، " آیا سترګه هر څـهٔ لیدلی شي؟"

او کومه ستونزه ده چې په خپله ستونزه له ځواب پرته یوې خوا ته کښـېـښودل شي؟ په دې کي داسي پوښتـني رامنځته کـېـږي – " آیا دنیا تلپاتي او همیشګي ده؟"، " آیا دنیا تلپاتي نـهٔ ده؟"، " آیا دنیا پای لري؟"، " آیا دنیا

---

[1] مهاپریني بانه ستوه Mahâparinibbâna Sutta II, 32 ( یو بل اخځ چې له همدې وینا چې لاندې په IV, 2, 29 کې نقل شوی دی) لیکوال

[2] - Mâluńkya وګورئ : پـه مګهیمه نیکایه Magghima Nikâya کې دوې مالونکیه سوتنته Mâluńkya Suttantas د پالي ټولنې د متنونو لپاره د ښاغلي ترنکنر ګڼه vol. i, pp. 426-437 of Mr. Trenckner's edition for the Pali Text Society . او د نامـهٔ د لیکلو د بڼې په هکله چې لیکنګ ـ بڼه ئـې شکمنه ده باید ووایم چې دا لیکنګ ـ بڼه په ټول هیناتي کمبوري کې د مالونکه په ډول لیکل شوې ده – لیکوال

[3] - Mâluńkya-putta

دواړه هم ناپایه ده او هم پای مومي؟"،" آیا له دغو دواړو څخه یوه ئـي هم نـۀ ده"، " آیا روح او جسد دواړه یو دي؟"، " آیا روح له جسده توپیر لري؟"، " آیا تتهاګتا له مرګ وروسته شتون لري؟"، " آیا تتهاګتا له مرګه وروسته شتون نـۀ لري؟"،" آیا تتهاګتا هم له مرګ وروسته هم شتون لري او هم ئـي نـۀ لري؟"، " آیا له مرګ وروسته له دغو دواړو څخه یو ئـي هم شتون نـۀ لري؟"

د مولانکیه پوته پوښتنه همداسې یوه پوښتنـه وه چې ځواب ئـې باید یوې خوا ته پرېښـودل شوی وای نو ځکه هغـۀ مبارک دغسې یوې پوښتنې ته ځواب ورنــۀ کړ. اوس پوښتنـه دا ده چې ولې داسې یوه پوښتنـه دې همداسې بې ځوابه یوې خوا ته کښـېښودل شي؟ ځکه همداسې یوې پوښتنې ته د دلیل یا اعتراض په عنوان ځواب نــۀ شته. له همدې کبله ول چې داسې پوښتنـه یوې خوا کښـېښودل شوه. مبارکو بوداګانو دداسې پوښتنو په ځواب کې پرته له دې چې ورباندې اعتراض وکړي او یا دلیل راوړي خپل غږونـه پورته نــۀ کړل.

دېــر ښـۀ ناګه سینا! له همدې کبله ده چې تاسو هر څه وایاست زه ئـي منم

---

[په دې سره هغه معضله پای مومي چې باید یوې خوا ته کښـېښودل شي[1]]

---

# [مـــرګ]

**شېږم :** ښاغلی ناګه سینا! هغـۀ مبارک دا هم ویلي چې :" ټول انسانان د عقوبت پر مهال رېږدي، ټول له مرګه ویرجن/ خائـف دي.[2]" خو په بل ځای کې بیا وایي چې :"ارهټ د ټولو خوفونو له کرښو اوښتي دي[3]،" دا څنګه کـېدی شي ناګه سینا؟ آیا ارهټ د عقوبت پر مهال په ویرې رېږدي؟ [۱۴۶] او یا کله چې موجودات په برزخ کې سوځول کـېږي، په خوټېدلو اوبو کې خوټول کـېږي، او یا په اور الوی کـېږي او سزا ویني نو دوی هم له داسې مرګه وېره لري چې دوی د اور له بټیو او د پـښېـمانۍ او واویلاوو له سخت ځایه خلاصوي[4] ؟ ناګه سینا! که هغـۀ مبارک په رښتیا دا ویلي وي چې ټول انسانان د سزا پرمهال رېږدي او ټول له مرګه بـېرېـږي، نو دا خبره ئـي غلطه ده چې ارهټ دی د ټولو خوفونو له کرښو اوښتی وي او هېـڅ نــۀ وېرېږي. خو که دویمه غونډله په رښتیا هغـۀ ویلي وي نو لومړۍ هغه ئـي باید الزاماً غلطه وي. دا هم یوه غبرګ اړخي ستونزه ده چې ما ستاسو مخې ته کښـېښودله او تاسو ئـي حل کړئ.

---

[1] - See my note below on IV, 4, 8.

[2] - Dhammapada 129.

[3] - ددغې وینا خاپ چېرې نه دی پلټل شوی خو په دهماپده ۳۹ کې د معنی له اړخه یو شان ده. لیکوال

[4] - مها نیره یا کـَوه مانا Maha-nirayâ Kavamânâ : 'کله چې دوی ورڅخه رحیل کـېږي'. په بودیزم کې هر موجود ته د نیره یا Niraya وخت رارسـېږي «چې نیره یا اکثراً دوزخ ژباړل شوی دی» نو هلته به هلاک شي. لیکوال

**اووم** :ګرانــه پاچا! هغـهٔ مبارک چې دا خبره کړې دا ئـي د ارهتانو په هکله نـهٔ ده کړې، هغـهٔ ویلي چې :" ټول انسانان د سزا پر مهال رېږدي، ټول انسان له مرګه وېـره لري." په دې غونډلي کې ارهت مستثـناء دی ځکه له ارهت څخه د وېـرې ټول علتونــه ایستل شوي دي[1]. دا خبره هغـهٔ مبارک د هغو کسانو په هکله کړې چې بیا ئـي هم په ځان کې د شرارت اور شته، هغوی چې بیا هم په اغفال سره خپل ځان او ځانځانی ته لــېواله دي، هغوی چې بیا هم په خوندونو او دردونو کې کښته پورته شوي دي. ګرانـه پاچا! په ارهت باندني خو د انبعاث هر حالت درېدلی دی، ارهت ته خو د راتلونکي هستی څلور واړه ډولونــه له منځه تللي دي، ارهت ته خو نور د تجسد بیا تجدید یا حلول پای موندلی دی، د ارهت د ژوندانـهٔ د کور مـَـلی[2] « تمبې چې چت ورباندې تکیه کـېږي» ماتې شوې دي، او ټول کور ئـي نړېــدلی دی، هغـهٔ ته ټولو معجوناتو خپلې ربـښنې له لاسه ورکړي دي، په باطن کې ئـي ښـهٔ والی او شرارت نور درېدلی دی، غفلت نور نــړېدلی دی، داسې بیداري (چې د بیا تجدید شونتیا ولري) نوره په ارهت کې نـهٔ شته، ارهت له ټولو ګناهونو پاک دی[3]، او ددنیوي ژوند پر شرایطو نور غالبه دی[4]. له دې کبله ارهت ددې لپاره نـــهٔ دی جوړ له هر ډول وېـرې ورېـږدي.

**اتم** : ګرانـه پاچا! داسې وانګـېرئ چې یو پاچا دی او څلور مخلص، مشهوره، معتمده مشر وزیران لري او د حاکمیت د سلطې په لوړو مقامونو کې منتصب دي. یوه بـېـړنی پـېـښــه رامنځته کـېږي او ورته امر کوي چې ددهٔ په سلطنتي قلمرو کې ټولو وګړو ته دې ورشي ، په دې کې نو پاچا خپلو وزیرانو ته وايي :" ورسئ همدا اوس له ټولو خلکو مالیات راټول کړئ، تاسو زما لوړ پوړي منصبداران یاست، اوس بـېــړنی حالت دی او حکم پر ټولو تعمیل کړئ." اوس نو ګرانه پاچا! تاسو راته ووایاست چې آیا د دغو وزیرانو په زړونو کې به د مالیاتو له وېـرې کومه لړزه راپورته شي؟

نه صاحبه، نـــهٔ راپورته کـېږي.

ولې نـه؟

دوی خو د پاچا له پلوه په لوړو مقامونو کې منتصب شوي دي. د مالیاتو خبره خو په دوی کومه اغیزه نـهٔ لري، دوی خو مالیه نـــهٔ ورکوي. پاچا ویلي " ټول خلک دې مالیه ورکړي." [۱۴۷] نو د پاچا خبره ټولو خلکو ته اړمه ده نـهٔ دوی ته.

ګرانـه پاچا! هغه پورتنی خبره هم همداسې ده چې ټول انسانان د سزا پر مهال رېږدي، ټول انسانان له مرګه وېرېږي. په دې وینا کې ارهتان له وېـرې مستـثـناء دی.

**نـــهم** : مګر ناګه سینا، د " ټول" وییکی د معنی له اړخه ډېـر جامع دی، په ځان کې هر څوک رانغاړي او کله چې " ټول" وایو نو هېـڅ څوک ورڅخه مستثنی نـهٔ ګرځي. زما د خبرې لپاره نو دلایل راکړه چې قناعت وکړم.

---

[1] - دا د هغـهٔ له پلوه ده چې نیروانا ته رسـېدلی دی. پرتله کړئ : John iv. 18 – لیکوال

[2] - Phâsû for Phâsukâ. Compare Dhammapada 154, Manu VI, 79-81, and Sumańgala, p. 16.

[3] - Hinati-kumburé adds ' by the fire of tapas.

[4]- دلته اتـهٔ شرایط یاد شوي چې معنی ئـي دا ده : تحصل، خسران، شهرت، اهانت ، ستاینه یا حمد، ملامتي، جسمي تلذذ او دردونه – لیکوال

ګرانه پاچا! داسې وانګـېرئ چې د يوۀ کلي ملک دی او تر خپل لاس لاندې محصل ته وايي " لاړ شه او ژر تر ژره د ټولو کليوالو سر سر زما مخې ته را حاضر کړه." دا سړی ځي او د کلي په منځ کې پر يوۀ جګ ځای درېږي او درې ځله په لوړ غږ وايي :" ټول کليوال دې د سترګو په رپ کې د کلي د ملک مخې ته حاضر شي!" او کليوال په بيړې راټولـېږي، ددوی له منځه يو تن راپورته کـېږي او د کلي د ملک مخې ته وايي: " صاحبه، ټول کليوال راټول شوي دي. اوس څـهٔ غواړئ". اوس نو دې خبرې ته مو پام دی ګرانـه پاچا چې له ټول څخه د کلي د ملک موخه د کليوالو د کورونو له مشرانو وه، نو له همدې کبله ده چې ملک د کلي د کورونو مشران رابللي ول خو امر ئـې کړی وو چې ټول کليوال دې راشي، او کليوال هم ددغهٔ امر په اورېدلو سره پوهـېدل نو ځکه د کلي ټول خلک د کلي د امر په متابعت سره راټول نـهٔ شول يوازې ئـې مشران راغلل. ملک هم ددوې په راټولـېدلو سره قانع شو او پوه شو چې ددۀ د کليوالو شمــېــر څوني دی. که نــهٔ هسې خو ډېر سرونه نور هم شته چې بايد راغلي وای يا راوړل شوي وای خو رانغلل – لکه – د کلي د هر کالـهٔ نارينـه او ښـځـېـنـه، مرييان او مينځې، په کورنو کې په اجوره کارکوونکي، نوکران، بزګران، ناروغان، غوايان، مـېـښـې، پسونـه، وزې او سپيان – دوی خو ټول نـهٔ شمارل کـېږي. د کلي د ملک په امر کې له " ټولو " څخه موخه د کلي د کورونو مشران ول :" ټول سره راټول کړه.." نو ګرانـه پاچا همدا خبره د هغـهٔ مبارک په وينا کې صدق کوي چې ويلي ئـې ول ټول له مرګه ويره لري، په دې کې ارهټان نـهٔ راځي. [۱۴۸] په دې غونډلې کې ارهټان نـهٔ رانغاړل کـېږي، ځکه ارهټ هغه څوک دی چې په ځان کې ئـې د ويرې د راپورته کـېدلو دليل نـــهٔ وي.

__لسم__: ګرانــه پاچا! داسې غير جامع اصطلاح شته چې معنی ئـې هم غير جامع وي، او داسې غير جامع اصطلاح هم شته چې معنی ئـې جامع وي؛ داسې جامع اصطلاح هم شته چې معنی ئـې غير جامع وي. او د اصطلاح معنی په هر ځانګړې حالت کې بايد له حالت سره په سمون کې ومنل شي. دلته د يوې اصطلاح د معنی د تثبيتولو لپاره پينځه لارې شته – د اړيکې له لارې، د خوند څرګندولو له لارې، د مشرانو د ويناوو له لارې، د معنی له لارې او د دلايلو د پريمانتيا له لارې. دلته له " اړيکې" څخه موخه او معنی هماغه موخه او معنی ده چې په خپله په سوټا کې ليدل کـېږي، " د خوند د څرګندولو" معنی يعنی د نورو سوټاګانو په مطابقت، "د مشرانو له دود" څخه موخه او معنی دا ده چې استادان څه په فکر کې ول او څه فکر ئـې کاوۀ، او د " دلايلو له پريمانتيا" څخه موخه او معنی د دغو يادو شويو څلور لارو ګډوله يا ترکيب دی [1].

__يولسم__: ډېر ښــهٔ ناګه سينا! څه چې واياست هغه منم. په دې اصطلاح کې ارهټ مستثناء دی او نورو ټول پاتې موجودات په وېــره کې ډوب دي. خو زه په بزرخ کې د هغو موجوداتو په هکله خبرې کوم چې په شديد خوږمن درد کړول کـېږي، د ځنکدن په شديد درد رنځـېږي، هغوی چې د بدن هر غړی ئـې د اور په لمبو شکنجه کـېږي، هغوی چې خولې ئـې په ساندو او کوکارو ډکې دي، هغوی چې د ترحم لپاره چيغې وهي، هغوی چې په انګولاوو او وير کې ژاړي، هغوی چې نور د شديدو دردونو زغم نـهٔ لري، هغوی چې د پناه لپاره ځای نـهٔ لري او نـهٔ د ژغورنې او نـهٔ ئـې د مرستې لپاره څوک شته،

---

[1] ـ دلته د انګريزي د متن په پرتلې په خپله پالي متن مبهمه دی. په پالي کې دغه پينځه واړه ميتودونه ابهام لري. د بـېلګې په توګې " اړيکې" په پالي کې آهکه پدا âhaka-pada ده چې يوازې په نورو ځايونو کې د څوکۍ د يوۀ ډول په معنی موندل کـېږي، وګورئ « Kullavagga VI, 4, 3 او زما يادښت هلته» او همدې ته ورته نور ياد شوي لغات همداسې ابهام لري. ليکوال

هغوی چې د نــۀ زغم بې شمـــېـره رنځونـه او کړاونـه ليدلي دي، هغوی چې په ټيټ ترين او بد ترين حالت کې دي او لا تر دې دمه نورو ډېرو دردونو او کړاونو ته معروضه دي، هغوی چې په توندو، بلندو، شديدو بې رحمو لمبو کې سوځول کـېږي، هغوی چې په وحشت او وېـرې کې ډوب زګـېروي کوي او لوږې بوغارې ئـې ختلي او د ترحم غوښتنـه کوي، هغوی چې د اور لمبو په غـېږ کې نيولي او بلندې لمبې له شپږو خواوو ورباندې راتاو دي، هغه لمبې چې اورينـه ځلا ئـې هرې خواته په سلهاوو ليګه غځـېدلي ده – اوس آيا دغه رنځـېدلي او بدمرغه کسان هم له مرګه وېـره لرلی شي؟

هو لرلی ئـې شي

مګر ګرانه ناګه سينا! آيا برزخ د ځانګړو دردونو ځای نـــۀ دی؟ که داسې وي نو په برزخ کې شته موجودات دې ولې له مرګ وېره ولري ځکه ددغو ځانګړو دردونو له ګاللو وروسته خلاصــېږي او آزادېږي؟ آيا هغوی بزرخ ته ډېر لـېواله دي؟ که څنګه

فی الواقع نـه؟ هغوی لـېواله نـۀ دي. دوی غواړي چې ژر تر ژره خلاص شي. دا د مرګ پياوړی ځواک دی چې دوی ورڅخه وېـره لري.

چې داسې ده ناګه سينا، هغوی چې ژر خلاصون غواړي نو زما خو باور نـۀ راځي چې دوی دې له بيا زېږون څخه وېره ولري. [۱۴۹] يقيناً هغوی به هغو شرايطو ته خوښ وي چې دوی ئـې غوښتونکي دي. اوس نو ما ته د نورو دلايلو له مخې قناعت راکړئ[1].

**دولسم**: لويه پاچا! هغوی چې حقيقت[2] نـۀ دی ليدلی نو مرګ ورته يو شرط دی او دوی دي چې له مرګه وېره لري. په دې هکله خلک اندېـښمـن او په ډار کې ډوب دي. خلک له تور مار، يا هاتي، يا زمري، يا پړانګ، ببر، بيږ، کرږ «هاينـه»، وحشي غوايي، ګيال «دی ګه يي غوايی»، اور يا اوبو، اغزو، نـېـښـونو يا غـېشـو څخه وېـره لري او هر يو ددوی مرګوني وېره ده نو له دې کبله دوی له مرګه وېره لري. ګرانـه پاچا! ويره د مرګ د بنسټيز جوهر، سلطان دی. ټول موجودات له خطاياوو خالي نـۀ دي او په حقيقت کې د همدغـۀ سلطان مخې ته په رېږدېــدو راځي. که له همدې کړکۍ ورته وګورئ نو په بزرخ کې شته موجودات سره له دې چې له مرګه نور خلاص دي بيا هم له مرګه وېـره لري.

**ديارلسم**: ګرانه پاچا! داسې وانګـېرئ چې د يوۀ سړي د نس ډکه کاسه په خوټـېــدو راسي، په رنځ اخته دا سړی د همدې رنځورتيا له کبله په دردونو کې ډوب دی او غواړي چې د ناروغۍ له ګواښه نور ځان خلاص کړي، نو په همدې هيلې ځانته يو طبيب او جراح راغواړي. جراح ددۀ غوښتنـه مني او راځي، جراح نو ددغـۀ سړي د ناروغۍ د لـېرې کولو لپاره خپل وسايل بايد چمتو کاندي – جراح نو بايد تـېـرۀ نښتـر ولري يا د اوسپنې کومه ميله چې په سرۀ اور کې په سرې سپرغۍ واوړی تر څو ټپ وربانديې وداغي، او يا د ميچنې پر مخ څه شی لري چې بايد له مالګينو اوبو سره ئـې ګډ کړي. اوس نو

---

[1] - دلته کارنِنه Kâranena ويل شوي چې موخه ئـې د «يوې ښېګڼې له مخې » وي – ليکوال

[2] -اديتها – سککانم Adittha-sakkânam ښايي موخه ئـې هغوی وي چې «څلور فخيمه» حقايق ئـې نـۀ دي ليدلي – ليکوال

پوښتنــه دا ده چې آیا دا ناروغ به له دې ووېــرېږي چې ددهٔ ځان به په تــېــرهٔ نـښـتر سورى سي، او یا به په یوې په سپړ غې اوښتي اوسپنیني میلي وسوځول شي او یا په نـېښ وهوونکي اوبلن -مالګین شي وکړول شي؟

هو باید ووېرېږي

اوس خو دا سړى چې غواړي له ورپـېــښي ناروغۍ څخه خلاص شي نو هرو مرو باید د درد له لاسه په وېرې او ترهې کې ډوب وي، نو په برزخ کې د موجوداتو د ژوند حالت هم همداسې دى ، سره له دې چې دوى غواړي له برزخه خلاصون وموميي، بیا هم د مرګ له ویرې څخه په ترهې کې ډوب دي.

**څوارلسم** : ګرانه پاچا! داسې وانګــېرئ چې یوهٔ سړي د سلطنت پر وړاندې کوم تــېــرى کړى دى، کله چې دى په لاس او پښو په ځنځیرونو تړلى راوړل شي او تور زندان ته وغورځول شي نو ورته وبه ویل شي چې نور دې له دې ځایه خلاصون نـــهٔ شته. خو پاچا غواړي چې آزاد ئــې کړي او څوک ور استوي چې د پاچا حضور ته ئـې راولي. اوس پوښتنــه دا ده چې آیا دغه سړى چې د سلطنت پر وړاندې ئـې سرغاړي او تــېروتنه کړې او په دې وېــرې ښـهٔ خبر دى [۱۵۰] نو کله چې دى پاچا حضور ته د مرکې لپاره وړل کــېږي په دهٔ به څه تــېــرېــږي؟

هو صاحبه

نو همداسې د برزخیانو خبره هم ده، سره له دې چې دوى پوهــېږي چې له تطهیر وروسته دوى خلاصــېږي خو بیا هم له مرګي وېـره لري.

یوه بله بــېلګه راکړئ چې په «دغې ظاهراً متناقضې خبرې» سم پوه [1] سم.

ګرانــه پاچا! داسې وانګــېرئ چې یوهٔ زهري مار یو سړى چیچلى دى، دا سړى باید د مار له زهرو وبــېرېــږي ځکه د زهرو اغیز سخت دردولى او اړخ په اړخ اوړي. له بلې خوا یو پاړوګر راځي چې خپل منترونـــه وربانديې وایي او پاړوګر دا زهري مار مجبوروي چې همدا چیچلى شوى سړى بیا وچیچي او په دا ځل چیچلو دې خپل زهر د سړي له ځانه وباسي[2]. اوس نو مارچیچلي سړي خو زهري مار لیدلى وو او ویني چې همدا مار بیا وربانديې راځي خو دا ځل ددهٔ د درملني لپاره راغلى دى، نو آیا دا مار چیچلى سړى به بیا هم له دغـهٔ ماره ترهــېدلى او بــېرېدلى نـهٔ وي؟

هو صاحبه

---

[1] - Okappeyyam. See the Old Commentary at Pâkittiya I, 2, 6.

[2] - On this belief the 69th Gâtaka is founded. See Fausböll, vol. i, pp. 310, 311 (where, as Mr. Trenckner points out, we must read in the verse the same word pakkâkam as we have here).

نو همدا خبره د بزرخ د موجوداتو په هکله هم ده. مرګ هغه شی دی چي هر موجود ورڅخه کرکه لري. نو سره له دې چي دوی پوهـېږي چي په پای کي به له برزخه خلاصون مومي خو بیا له مرګه په ترهه او وېرې کي دي.

ډېر ښـــهٔ ناګه سینا! همداسي ده، او هر څه چي تاسو وایاست منم ئـي.

---

[په دې سره له مرګه د وېـرې معضله پای مومي]

---

# [پـــیـــریت][1]

**پینځلسم** : ښاغلی ناګه سینا! هغـهٔ مبارک ویلي چي :

" نـهٔ په آسمان کي،
نـهٔ د سمندر په منځ کي
نـهٔ د کوم غرهٔ په ډېـرې پټې سمڅې کي
او نـهٔ د پراخي نړۍ په هـېڅ ګوټ کي به داسي ځای و موندل شي
چي څوک دې د مرګ له لومې څخه د تـېښتي وسعه ولري[2]"

خو له بلې خوا د « پیریت» عبادات د هغـهٔ مبارک له پلوه رسماً دود شوي دي[3] - همدا اقوال په رتـَنـه سوتا[4]، کهنده پَریتا[5]، موره پریتا[6] [۱۵۱] آتانیتا – پَریتا[7] او انګولي – مله – پریتا[8] کي راغلي دي. ښه نو ناګه سینا! یو انسان چي په هـېڅ ځای کي نـهٔ جنت ته د تګ له لارې او نـهٔ د سمندر منځ ته په تـېـښـتـي او نـــهٔ د غرونو په دنګو څوکو کې، نـهٔ په کوم سوري یا سمڅې، یا

---

[1] - PIRIT – د بودايي عباداتو په منځ کي د یوهٔ عبادت نوم دی – ژباړونکی

[2] - ددغه شعر برخه هم په ۱۲۷ دهما پدا Dhammapada 127 کي د شعر له وروستي لغت پرته راغلی چي هلته «شریر مرګ» ویل شوی او یا په دهماپدا ۱۲۸ Dhammapada 128 کي د شعر له وروستی کرښي راغلی او پر ځای ئـي ویل شوي «څوک له مرګه نـهٔ شي تـښـتـېدی» لیکوال

[3] - دا د ناروغانو لپاره یوه دیني لمانځنه وه. تر دې دمه پـهٔ پـېـژندل شویو پیټکه ګانو کي نـهٔ دي لیدل شوي چي ویل شوي وي ددې لمانځنې بنسټ دې بودا ایښی وي او یا دې چا د هغه له خولې نقل قول کړی وي. همدا کتاب یو زوړ متن دی چي همدغـهٔ لرغون متن ورته نغوته کړې ده. خو د پریتا (پیریت) Parittâ (Pirit) وییکی په کولا وګه Kullavagga V, 6 کي راغلی او له مارانو سره د مینې په یوې ادعیـې کي ورته نغوته شوې ده او دا دعا په ځانګړي ډول د مار چیچنې د کوډو لپاره کارول کـېـدله او ددعا نسبت بودا ته ورکړل شوی دی. دلته دغه ځانګړي اقوال چي راغلي دي ټول ئـې په پیټه ګانو کي شته – لیکوال

[4] - Ratana Sutta

[5] - Khanda-parittâ

[6] - Dhagagga-parittâ

[7] - Âtânâtiya-parittâ

[8] - Ańguli-mala-parittâ

سرځوړندې کنډو کې یا د کوم ګړنګ په ژۍ او یا د غرونو  په پټو سوریو کې،  د مرګ له لومې خلاصون و نـهٔ لري نو د پیریت لمانځنـه هـېڅ ګټه نـهٔ لري. خو که دا د مرګ له لومې څخه د تـېښتې لپاره وي نو په شعر کې زما را اخیستل شوی نقل قول باید غلط وي. دا هم یوه غبرګ اړخې ستونزه ده چې یوه غوټه نـهٔ بلکه څو غوټې لري. دا ستونزه ستاسو مخ ته ږدم چې حل ئـې کړئ.

**شیاړلسم**: ګرانه پاچا! تاسو چې د هغـهٔ مبارک دا نقل قول یاد کړ چې هغهٔ مبارک پیریت تائید کړی دی[1]. خو ددهٔ خبره یوازې د هغو کسانو لپاره ده چې د ژوند یوه برخه ئـې پاتې ده، هغوی چې په عمر پاخـهٔ دي او ځانونـه ئـې د شرارت له کرما څخه لـېرې ساتلي دي. او هغوی ته چې د ژوندانـهٔ د پای موده ئـــې ټاکل شوې ده داسې مصنوعي وسیله[2] نـهٔ لري چې ددوی ژوند دې پرې اوږد شي، ژوند به هرو مرو له ټاکلې مودې وروسته پای مومي. ګرانـه پاچا! دا لکه د ونې د لرګي د یوې وچې او مړې شوې ډډې په شان ده، مړاوې[3]، بې روحه، بې شیرې چې ژوند ورڅخه تللی دی او د ژوند ټاکل شوې موده ئـې پای ته رسـېدلې ده – تاسو په زرهاوو په اوبو ډک منګوټې ورته راوړئ، خو دا ډډه به هـېڅکله هغه  تاندوالی تر لاسه نـهٔ کړي چې له منځه ئـې نوې ځانګې او پاڼې راشنې شي. همدا خبره د ژوندانـهٔ د اوږدولو په هکله هم صدق کوي چې د ژوند د اوږدولو لپاره نـهٔ کومه مصنوعي وسیله شته، نـهٔ کوم درمل او نـهٔ پـیریت، کله چې د ژوند ټاکل شوې موده پای مومي، نو ژوند هم پای مومي. ګرانه پاچا! په داسې حال کې په دې نړۍ کې ټول درملونه بې ګټې دي، پیریت هم همداسې ده، خو پیریت د تحفظ او مرستې په توګې د هغوی لپاره ده چې د ژوندانـهٔ د ټاکل شوې مودې یوه برخه ئـې پاتې ده، هغوی نور په عمر پاخـهٔ دي، د ژوندانـهٔ کړلیچونـه ئـې لیدلي دي او ځانونـه د شرارت له کرما څخه لـېرې ساتي. او د همدې لپاره ول چې هغـهٔ مبارک پیریت مقرر وګرځاوهٔ. ګرانــه پاچا! دا لکه بزګر ته ورته ده کله چې غله دانـه ئـې پخه او بې حسه شي او د درمند لپاره چمتو شي، نو خپله غله دانـه په خپل درمند کې را ټولوي او د اوبو او نم له اغـېـزو ئـې لـېـرې ساتي ، خو کله چې غله دانـه په پټي کې په ژوندانــهٔ ځوانــه تانده وي او په رنګ کې لکه د وریځو په شان تیارهٔ وي، نو کروندګر اوبـهٔ ورکوي –ګرانـه پاچا پیریت هم همداسې ده؛ کله چې د یو چا د ژوندانـهٔ ټاکل شوې موده پای مومي نو د پیریت عبادت هم یوې خواته کښـېـښودل شي او ورڅخه دې تـېر شي، [۱۵۲] خو د هغو کسانو چې د ژوندانـهٔ د ټاکل شوې مودې یوه برخه او د ژوند و ژواک وسعه ئـې لا تر اوسه پاتې ده کـېـدی شي پیریت د درمل په توګې په تکرار وکاروي او ګټه به ورڅخه تر لاسه کړي.

**اووهٔ لسم** : خو ناګه سینا! که د یو چا د ژوند ټاکل شوې موده پاتې وي نو هغه خو هرو مرو ژوندی پاتې کـېږي او د چا چې پاتې نـهٔ ده هغه به مري، نو بیا درمل او پیریت دواړه په یو شان بې ګټې دي.

ګرانـه پاچا! تاسو د ناروغۍ داسې پـېـښې لیدلي چې یو مرګونی ناروغ دې بېـرته ژوندی پاتې شوی وي؟

هو داسې پــېـښې مې په سلهاوو ځله لیدلي دي

---

[1]- وروستی یادښت وګورئ. هینه تې کمبوري ئـې د " پیریت وعظ" ژباړي او د سوټاګانو په شان کتې متې له پیته که ګانو سره همغږې لري چې خپلې ټولې خبرې د بودا له خولې را اخلي. – لیکوال

[2]- اوپه کمو Upakkamo . دا وییکي په کوله وګه Kullavagga VII, 3, 10 او سومنګله Sumańgala 69, 71 کې پرتله کړئ. سیمهالي متن ئـې اوپټي کرمه یک Utpatti-kramayek بولي – لیکوال

[3] - Kolâpa. See Gâtaka III, 495, and the commentary there.

چې داسې ده ګرانــه پاچا نو ستاسو خبره د پیریت او درملو په هکله باید غلطه وي.

ګورئ ناګه سینا! ما طبیبان لیدلي چې یا ئــې درملونــه ناروغ ته ورکړي چې د ناروغ په ځان کې دننــه کار وکړي او یا ئــې له دباندې د ناروغ پر ځان موښلي او په دې سره د ناروغۍ کچې راټیټې شوي او ناروغان جوړ شوي دي.

ګرانــه پاچا! د هغو کسانو پر ژبو چې د پیریت د دعا په تکرار اورېدل کــېږي ، ښایي د هغوی ژبې وچې شي، زړونــه به ئــې په ټپېدنګ کم توانــه شي، ستوني به ئــې ډډ او زاړه شي، خو ددې دعا په تکرار سره به د ټولو ناروغیو کچه راټیټه او ناروغان به آرام شي او ټول ناورینونــه به ورځخه کډه وکړي. ګرانــه پاچا! بیا به تېــره یاده شوې خبره تکرار کړم : تاسو به داسې مارچیچلی لیدلی وي چې مار دې د کوډو تر اغېــز لاندې بــېرته راشي او خپل زهر دې د مار چیچلي له ځانــه بــېرته راټول کړي او یا دې د مارچیچلي[1] زهر د تریاقو / د زهرو ضد درملو په مرستې له منځه تللي وي او یا دې د مارچیچلي په ځان کې پر چیچل شوي ځای باندې د زهرو ضد کوم بل اوبلن درمل موښل شوی وي او زهر دې له منځه تللي وي[2]؟

هو تر نن ورځې پورې دا په نړۍ کې یو عام دود دی.

چې داسې ده نو ستاسو خبره چې ومو ویل پیریت او درمل دواړه بې ګټې دي غلطه خــېږي. کله چې د پیریت دعا د یو چا په سر پورې وویل شي، نو مار، چې چیچلو ته چمتو دی، مار به ئــې ونــهٔ چیچي بلکه خپلې ژامې ورته بندوي «چې خپل زهر بــېرته واخلي – ژ» – پر هغــهٔ سړي باندې چې غلو سوټي راپورته کړي او غواړي دا سړی ووهي، نو «د پیریت د دعا په برکت به » ئــې و نــهٔ وهي؛ غلــهٔ به خپل سوټې پر ځمکې کښــېږدي او ورسره به مهربانه چلند وکړي- خښــمېدلی فیل چې پر چا د دانګلو په حال کې وي، نور به ونــهٔ دانګي او ځای پر ځای به ودرېــږي – د درانده غړغړانده اور بلنده لمبې به چې ددهٔ پر لور رارواني دي مړې شي –شوم زهر چې دهٔ خوړلي دي، دهٔ ته به بې ضرره شي او په ځان کې به ئــې په خوراکي توکو بدل شي – قاتلین چې ددهٔ د قتل په تکل راغلي دي، ددهٔ مریيان شي او ددهٔ امر ته به لاس په نامــهٔ ولاړ وي- هغه لومه چې دهٔ ته اېښودل شوې دی به ونــهٔ نیسي.

---

[1] - See above, IV, *2*, 14.

[2]- دا ټوله غونډله شکمنه ښکاري. ډاکټر موریس Dr. Morris د ۱۸۸۴ز کال د پالي متنونو د ټولنې په ژورنال، هینه تي کمبوري 'Journal of the Pali Text Society' for 1884, p. 87. Hinati-kumburê, p. 191, کې سختو کاږول شویو وییکو په هکله یو عالمانه یادښت لري (چې یوازې همدلته پــېښ شوي دي) او پورتنۍ غونډله په لاندې ډول ژباړي :

Mahâ ragâneni, wisha winâsa karannâwû mantra padayakin wishaya baswana laddâwû, wisha sanhinduwana laddâwû, ûrddhâdho bhâgayehi awushadha galayen temana laddâwû, nayaku wisin dashta karana laddâwû kisiwek topa wisin daknâ. ladde dœyi wikâla seka.

**اتلسم :** ګرانــه پاچا یو بله بېلګه دراخله، آيا تاسو به کله هم د هغــۀ ښکاري کيسه اورېــدلي وي چې د اوو سوو کالو لپاره ئـې يوۀ طاووس ته لومه اېـښـودله خو طاووس په لومې کې نـۀ نيول کــېدۀ؟ ځکه چې طاووس د پـېـريت دعا لوستله، ښکاري چې هره ورځ ورته [۱۵۳] لومه ايښودله طاووس به ورځخه ژغورل کــېدۀ[1]

هو اورېــدلي مې ده، ددې کيسې شهرت په ټولې نړۍ کې خپور دی.

چې داسې ده نو ستاسو خبره چې ومو ويل پيريت او درمل دواړه بې ګټې دي غلطه خــبـري. آيا تاسو د ديناوه[2] کيسه اورېدلي چې خپله ښځه ئـې ساتله؛ دۀ خپله ښځه په يوۀ بکس کې واچوله؟، بکس ئـې له خپل ستوني تــېر کړ او ښځه ئـې خپل نس ته ورسوله. او څنګه يوه ويديا هره[3] ددۀ خولې ته ننوتله او له ښځې سره ئـې لوبې وکړي. او څنګه چې ديناوه له دې پــېښې خبرېږي نو بکس له خپلې ګــېـډې په کانګو راباسي او کله چې بکس ئـې له خولې لوېــږي ويدياهره تښتي[4].

هو دا کيسه مې اورېــدلي ده. ددې کيسې شهرت هم په نړۍ کې خپور دی.

آيا ويدياهره د پيريت د دعا د ځواک له کبله په تــېـښــتي نـۀ دی بريالی شوی؟

هو، همداسې ده

چې ومو منله نو بايد په پيريت کې يو ځواک پروت وي. آيا تاسو د هغه بل ويدياهره کيسه اورېــدلي چې د بنارس د پاچا حرم ته په پټه ننوت هلته ئـې د پاچا له مشرې ملکې سره زنا وکړه، د زنا پر مهال ونيول شو؟ خو د سترګو په رپ کې نامرئـي شو او وتـښـتــېـد[5].

هو دا کيسه مې اورېــدلي ده.

چې اورېــدلي مو ده نو آيا نوموړی د پيريت د ځواک په زور له نيولو خلاص او په تــېـښــتي نـۀ دی بريالی شوی؟

---

[1] - دا خبره په موره – ګاتکه کې څو ځايه راغلې Mora-Gâtaka, Nos. 159, 491 (چې کټ مټ هماغه) موره پريتا Mora-Parittâ ده- ليکوال

[2] - Dinâva – يوه آسوره Asura ده چې د رب النوعو ميرځمن وو، يو تيان .Titan وو. سيمهالي متن ئـې رکشاسا Rakshasa بولي. ليکوال

[3] - ويديا هره Vidyâdhara – دا يو ډول پيريان دي چې کوډګر ځواک لري، دوی د رب النوعه شيوا ملازمين دي (او له همدې کبله دي چې دوی د ديناوه ګانو Dânavas ميرځمن دي). ددوی نوم په پيته که ګانو کې نـۀ دی راغلی – ليکوال

[4] - زه نـۀ پوهــېــږم چې دا کيسې له کومه ځايه راغلې ده. دا کيسه د پيته که ګانو په هــېــڅ ځای کې نـۀ ليدل کــېږي. خو هينه تي کمبوري Hinati-kumburê ئـې په بشپړ ډول تکراروي او د کيسې په لړ کې ويدياهره ګان د وای اسه – پورته Wâyassa-putra يعنې د باد /شمال د زوی په نامــۀ يادوي. دی له يوۀ ګاتها gâthâ څخه نقل قول اخلي او دا نقل قول نـۀ د بوديي سَت Bodisat له خولې بلکه نــېــغ په نــېــغــه ئـې د بودا له خولې يادوي. ما دا داستان د ګاته که په کتاب کې ونــۀ موند چې پوهاند فوسبول Professor Fausböll ژباړلی، او نـۀ مې په کتها سريت ساګره Kathâ Sarit Sâgara کې وموند، ما دواړه سرچينې له سره تر پايه وپلټلې خو داسې شی مې ونـۀ موند- ليکوال

[5] - وروستی لمنليک بيا وګورئ- ليکوال

هو صاحبه

چې داسې ده نو دا باید د پیریت ځواک وي

**نولسم :** ښاغلی ناګه سینا! آیا پیریت هر چا ته د تحفظ وسیله ده؟

چا ته ده چا ته نــهٔ ده

چې داسې ده نو پیریت همیشه نـهٔ شي کارېـدلی؟

آیا خوراک ټل خلک ژوندي ساتي؟

یوازې یو شمــېر خلک نــهٔ ټول

ولې نــهٔ؟

هماغومره خلک چې د کولرا له لاسه مري هماغومره د ډېر خوراک له لاسه هم مري

ښه نو ستاسو خبره په دې معنی ده چې خوراک ټول انسانان ژوندي نــهٔ ساتي؟

د ژوندانــهٔ په له منځه وړنګ کې دوه دلیلونــه دي – یو دا چې په خوراک کې له حده وتلی زیاتی وسي او بل د هضمي سیستم ضعف. ان که ژوند بخښونکی خوراک په شریره طلسم ورکړل شي نو په زهرو اوړي.

نوګرانــه پاچا! پیریت هم همداسې ده چې د یو شمــېر کسانو لپاره تحفظ ده او د یو شمــېر لپاره نــهٔ ده. او د پیریت په ناکامی کې درې دلایل [۱۵۴] دي – د کرما خنډ، ګناه او الحاد. دا پیریت چې د موجوداتو د تحفظ لپاره ده د موجوداتو د خپلو اعمالو پر بنسټ ده چې خپل تحفظي ځواک له لاسه ورکوي. ګرانـه پاچا! دا لکه د یوې مور په شان ده چې په میني خپل بچی تغذیه کوي، هغه بچی چې ددې په ګـېـډې کې دی او په ډېـرې پاملرنې ئـې په خپل رحم کې لویوي[1]. او کله چې یوه مور خپل بچی وزېـږوي نو خپل بچی له چټلیو، لوټ او چخړیو پاکوي، ځان ئـې غوړوي او تر ټولو ښه او قیمتي عطر ورباندې وهي، او کله چې نور خلک ئـې بچی وځوروي یا ئـې ووهي نو همدا مور ده چې د هغوی مخه نیسي، ورباندې په قهرېږي او د خدای دربار ته ئـې را کشکاږي. خو کله چې بچی ئـې شوخ شي، یا ناوخته راشي نو همدا مور خپل ګران بچی په لرګي یا سوټي وهي او تر خپلو زنګنو لاندې ئـې غورځوي او یا ئـې په خپلو لاسونو وهي. نو آیا دا لازمه ده چې همدا مور دې په خپل دغـهٔ کار سره ورټل شي او د خدای دربار ته دې راکش شي؟

---

1- Upakârena چې سیمهالي متن ئـې تکراروي او د پوسیتي poseti په معنی ئـې ژباړي- لیکوال

د ژباړونکي یادونه : پوسیتي یو پالي وییکی یا لغت دی چې د تغذئــې، پاللو، روزلو او پاملرنې په معنی ده.

نـه صاحبه

ولې نـه؟

ځکه چې خطاءد هلک ده

گرانـه پاچا د پیریت د تحفظي څواک خبره هم همداسې ده چې د موجوداتو لپاره یو تحفظ دی خو دا د موجوداتو خطاء ده چې پیریت ددوی پر ضد را اوړي.

ډېـر ښــهٔ ناگه سینا! ستونزه حل شوه، ځنگل پاک شو او تیارې په روڼا روښانــه شوې او د ارتداد ځاله و سپړل شوه- او اې د ښوونځیو د استادانو استاده دا ستا له پلوه حل شوه.

---

[په دې سره د پیریت معضله پای مومي]

---

# [لئیم ماره][1]

**شلم** : ښاغلی ناگه سینا! ستاسو خلک وایي چې " تتها گتا ته تل د یوهٔ گوتپناستي د اړتیا وړ توکي – چپن، ډوډۍ، د استوگنې ځای او د ناورغ د اړتیا وړ شیان رارسـېدل". بیا همدا خلک وایي :" کله چې تتها گتا یوهٔ برهمني کلي ته ننوت نو د سالا[2] پر پینځو ونو ئـې غږ وکړ او هـېڅ شی ورته راونــهٔ رسـېدل او کاسه ئـې هماغسې تشه وه لکه چې پر ونو له غږ کولو مخکې وه." که لومړنی نقل قول صحیح وي نو دویم هغه باید لزوماً غلط وي، او که دویم هغه صحیح [۱۵۵] وي نو لومړی هغه ئـې باید غلط وي. دا هم یو دوه استوې ستونزه ده، لویه معما ده او سپړل ئـې ساده نـــهٔ ده. اوس ئـې ستاسو مخې ته ږدم چې حل ئـې کړئ.

**یوویشتم :** دواړه اقوال صحیح دي، خو په هغه ورځ چې دهٔ ته څه شی ونــهٔ رسـېدل د لعین ماره له لاسه ول.

ښه نو ناگه سینا! څنگه کـېدی شي هغه فضیلت او رحمت چې هغـهٔ مبارک ته د بې شمـېرو پـېړېو په ترځ کې وَرېدلی وو یو ناڅاپه دې په هماغه ورځ پای ومومي؟ ماره چې یوازې یو تولید شوی شی وو څنگه ئـې وکولی شول چې د رحمت او فضیلت پر څواک او اغـېز دې یو ځل برلاسی شي؟ ناگه سینا! ددې خبره پره باید ددغو حالاتو پر یوهٔ اړخ واچول شي –

---

[1] - MÂRA, THE EVIL ONE

[2] - سالا د یو ډول ونې نوم دی چې په هندوستان نیپال، بنگله دیش او دغو سیمو ته نـېږدې ځایونو کې موندل کـېږي او تینگ لرگی لري. په بودیزم کې د سالا ونه ځانگړې ارزښت لري ځکه بودایي روایات وایي چې د بودا گاتما مور مایا تر همدې ونې لاندې خپل زوی گاتما وزېــږاوهٔ او اووه ورځې وروسته مړه شوه او بودا خپلې ترور لوی کړ. همدا شان بودا د سالا تر ونې لاندې مړ شوی دی. ژباړونکی

یا دا ده چي نقیصه /عیب باید تر فضیلت زښت ډېر پیاوړي وي او یا دا چي ماره باید تر بودا ډېره پیاوړې وي. د یوې وني ریښي باید د ونې تر پورتنی برخې باید ډېـرې پیاوړې وي، او یا دا چي یو گناه کار باید تر مقتي چي د تقوی درمندونـه ئـې جوړ کړي باید پیاوړی اوسي.

**دوه ویشتم** : لویه پاچا! د خبرې منطق په دې کې نـهٔ دی چي ستاسو د خبرې دا اړخ یا متبادل اړخ ئـې په اثبات ورسوو. خو بیا هم په دې سکالو کې مسلماً یو دلیل مطلوب ښکاري. گرانـه پاچا! داسې وانگـېرئ چي یو سړی دې کوم شهنشاه ته یوه تعارفي ډالی راوړي – انگبین یا د انگبینو گنی یا همدې ته ورته یو خوږ شی. او د شهنشاه د دربار دروازه ساتونکې دغـهٔ سړي ته ووایي " دغـه وخت چي تـهٔ د پاچا لیدلو ته راغلی ئـې سم وخت نـهٔ دی. له دې کبله گرانـه، هر څوني ژر چي کولی شې خپله ډالی دې له ځان سره واخله او مخکې له دې چي پاچا کومه سزا یا جریمه درکړي په خپلې مخې دې ځه." او بیا په ترهې او وېرې کې ډوب دا سړی اړ کـېږي چي خپله ډالی د ځمکې له مخې راپورته کړي او په دوني بیړې تښتي چي خپلې شا ته هم نـهٔ گوري. اوس نو په دې کې شهنشاه د دربار د دروازې د ساتونکي په پرتلې دوني کم زوری دی چي سړي ورته یوازې په غلط وخت کې خپله ډالی راوړې وه او د دروازې ساتونکی د سړي مخه نیسي او یا دا چي د همدې خبرې له کبله به پاچا ته نور هـېڅکله څوک تعارفي ډالی رانـهٔ وړي؟

نـه صاحبه. د دربار دروازه ساتونکي د خپل تون‍د او بد طبعیت له مخې ډالی والا په خپلې مخې لـېږلی دی او شهنشاه ته به له نورو لارو ددې ډالی په پرتلې هرو مرو په سلهاوو زره نورې لوړې ارزښتناکې [۱۵۶] ډالی راوړل شي.

گرانــه پاچا! نو د لـئیم ماره خبره هم همداسې ده چي د خپل حسد او حرص له کبله ئـې خپله ختِه او تومنـه ځرگنده کړه چي د سالا تر پینځو ونو لاندې ئـې برهمنان او د هغوی کورونـه په خپل تصرف کې راوړي ول. خو په سلهاوو زره رب النوعه راټول شول او بودا ته ئـې له جنته قوت بخښوونکي جنتي مائدې راوړې، ارباب الانواع ورته په تکریم په یوه کرښه ودرېدل، لاسونـه ئـې د یو بل په لاسونو کې ورکړل او فکر ئـې کاوهٔ چي په دې سره ئـې ددهٔ ځان په قوت مشبوع کړ.

**درویشتم :** ښایي همداسې وي ناگه سینا. هغــهٔ مبارک ته به دا آسانـه وه چي د یوهٔ گوتناستي څلور شرطونـه بشپړ کړي – هغه چي په نړۍ کې تر ټولو ښـهٔ وو- او د انسانانو او رب النوعو د غوښتنې پر بنسټ دهٔ به دا ټول شرایط پوره کړي وي. خو خبره بیا هم د اماره هوډ دی چي د ډوډۍ په برابرونگ کې ئـې د هغـهٔ مبارک مخه ونیوله او خپل هوډ ئـې تر سره هم کړ. صاحبه په دې هکله زما شک له منځه نـهٔ دی تللی. زه لا تر اوسه په دې هکله په تردد او تحیر کې یم. زما فکر لا تر اوسه کار نـهٔ کوي چي څنگه دې د ماره په شان یو رټل شوی، سپک او بې ارزښته، بې اهمیته، گناه کار، کم اصله او ټیټ موجود د تتها گتا، ارهټ، عالي شأنـه بودا، د انسانانو او رب النوعو په منځ کې تر ټولو اعلی، د ستایل شوې تقوی د پرتمینې خزانـې د لرونکي، د بې سیاله او بې جوړې او منقطع النظیره بودا- د ډالیو مخې ته دې خنډ جوړ کړي.

**څلورویشتم** : گرانـه پاچا! (د ډالی پر وړاندې – ژ) خنډونـه څلور ډوله دي- یو دداسې ډالی پر وړاندې خنډ چي ډالی د کوم ځانگړي کس لپاره په پام کې نـهٔ وي نیول شوي – بل خنډ ئـې دا چي ډالی د کوم ځانگړي کس لپاره بـېلـه شوي وي، بل

خنډ ئـي دا چي ډالۍ چمتو شوي وي او بل خنډ ئـي دا چي يو څوک دې له ډالۍ څخه خوښي او خوند تر لاسه کړي. د ډالۍ ورکولو په لارې کي لومړنۍ خنډ هغه مهال رامنځته کـېږي کله چي په خپله د چمتو شوې ډالۍ د شي تر مخي چي يو چا ته بايد ورکړل شي خنډ رامنځته شي، خو په دې کي موهب لـهُ يا ډالۍ اخيستونکی په پام کي نــهٔ نيول کـېـږي – بل خنډ د بـېلگي په توگي داسي وخت کي رامنځته کـېـږي چي يو څوک ووايي :" څنگه به وي که دا ډالۍ يو بل چا ته ورکړل شي؟" دا دې لومړنۍ خنډ وو، دويم خنډ هغه مهال رامنځته کـېـږي چي يو څوک دې په خپله د ډالۍ مخې ته چي په ښــهٔ نيت جوړه او يوهٔ ځانگړي کس لپاره چمتو شوي وي خنډ واچوي. دريم خنډ هغه مهال رامنځته کـېـږي کله چي د ورکړنگ لپاره د چمتو شوې ډالۍ پر وړاندې خنډ واچوي خو ډالۍ لا تر دې دمه نــهٔ وي منل شوي. او څلورم خنډ هغه مهال رامنځته کـېـږي چي يو څوک دې د ورکړل شوي ډالي د خوند اخيستلو مخې ته (چي اوس نو د ډالۍ اخيستونکي ملکيت گرځـېدلي ) خنډ واچوي.

**پينځه ويشتم** : اوس نو خبره دا ده کله چي لـئيم ماره د سالا تر پينځو ونو لاندې کورونـه او برهمنان په خپل تصرف کي درلودل، په دې حالت کي هماغه ډوی نـهٔ د هغـهٔ مبارک ملکيت شوې وه، او نــهٔ چمتو شوې وه او نــهٔ د هغـهٔ مبارک لپاره برابره شوې وه. [۱۵۷] دا خنډ د کوم موهومه کس لپاره په لارې کي اچول شوی وو چي بايد تر دې دمه راغلی وای، خو دا سړی تر اوسه نــهٔ وو رارسـېـدلی، او ډالۍ د کوم ځانگړي کس لپاره په پام کي نــهٔ وه نيول شوې. دا د هغـهٔ مبارک پر ضد نــهٔ وه. ټول هغه کسان چي په هماغه ورځ دباندې وتلي ول او بايد کلي ته راغلی وای کلي ته رانغلل او چا خيرات او صدقه تر لاسه نــهٔ کړه. گرانـه پاچا! زه پوهـېـږم چي د رب النوعو او انسانانو په نړۍ کي، د ماره گانو يا برهما گانو په منځ کي، د برهمنانو د پاړکو/ طبقاتو په منځ کي او يا د گوښتاستو په منځ کي به هـېـڅ داسي څوک ونــهٔ موندل شي چي هغـهٔ مبارک ته د په پام کي نيول شوې صدقي، هغـهٔ مبارک ته د چمتو شوي خيرات او يا هغـهٔ مبارک ته د ورکړل شوې صدقي د لارې په منځ کي خنډ واچولی شي. او که څوک د حرص او حسد له مخي راپورته شي او د هغـهٔ مبارک خنډ وگرځي نو ککره به ئـي په سلهاوو يا زر هاوو ټوټو، ډړې وړې شي.

**شپـږ ويشتم** : گرانـه پاچا! په ټتها گتا پورې څلور شيان تړلي دي چي له مخي ئـي څوک ورته ضرر نــهٔ شي رسولی. او دا څلور شيان کوم دي؟ هغه صدقه چي هغـهٔ مبارک ته چمتو او ورته په پام کي نيول شوې ده – د يو قولاچ په پلنوالي د انبياوو شپول چي پر دهٔ باندې راغوړېـدهٔ – پر ټولو شيانو باندې د هغـهٔ د واقف توب او علميت خزانه – او ددهٔ خپل ژوند. گرانـه پاچا دا ټول شيان په ذات او ماهيت کي يو دي – هغوی له عيبه خلاص دي، ثابت دي، د نورو موجوداتو له پلوه غير معادي دي يعنی څوک ورباندې برېـد نــهٔ شي کولی، که نور حالات ورباندې راشي بيا هم بدلون نـهٔ منونکي دي[1]. او کله چي لـئيم ماره د سالا تر پينځو ونو لاندې برهمنان او د کلي ميشت کور والا په خپل تصرف کي درلودل، له سترگو پناه يو چـېـرې پټ پناه قابو ناست وو. گرانه پاچا دا ځای له سترگو پناه ځای وو، داسي ځای وو چي غلــهٔ په کي پټـېـدل او دې

---

[1] - افو ساني کيرياني Aphusâni kiriyâni : زه ددې اصطلاح د ژباړلو هڅه نـهٔ کوم او ښاغلی ترنکنر وايي چي دا اصطلاح دهٔ ته پيچلي او نامفهومه ښکاري. هينه تي کمبوري ئـي دا بڼه لري :

Anya kriyâwak no wœdagannâ bœwin apusana (sic) kriyâyo ya.

سیمي ته لاسرسی آسانه نـــۀ وو او غلو به له همدغـۀ پټنځایه پر لویو لارو داړې اچولې. ښه نو، که پاچا ته ددوی ځای ورڅرګند وای، آیا تاسو فکر کوئ چې غلـۀ به په دې پټنځې کې خوندي وای؟

نــه صاحبه، که پاچا پرې خبر وای نو دوی به ئـې تبرګي په سلهاوو نـۀ بلکه په زرهاوو ټوټو ټوک ټوک کړي وای.

ښه نو، د ماره خبره هم همداسې ده، ماره له سترګو پناه په هغـۀ پټنځې کې پټ وو چې د ماره په تصرف کې وو. دی لکه هماغې له سترګو پناه، پټنځې کې پټې مـېـړوښې ښځې غوندې وو چې خپل فاسق معشوق ته به پټنځې ته ورتلله. [۱۵۸] ګرانـه پاچا! که دې ښځې خپله دا فتنـه د خپل مـېړۀ په حضور کې کړې وای، تاسو څه ګومان کوئ چې دې ښځې به د خپل مـېـړۀ له لاسه ښه ورځ لیدلې وای او خوندي به وه؟

نـه صاحبه، مـېـړۀ به ئـې په بـېـرحمۍ وژلې یا ټپي کړې وای یا به ئـې بندي کړې وای او یا به ئـې مینځې توب ته راټیټه کړې وَی.

ښه ده. دا هم همداسې وه چې ماره هغوی په خپل تصرف کې درلودل او له سترګو پناه چـېـرې پټ شوی وو. خو ګرانـه پاچا! که د هغـۀ مبارک لپاره د په پام کې نیول شوې، یا د هغـۀ په نامـۀ چمتو شوې او یا د هغـۀ په ملکیت کې د لاس ته راغلې ډالۍ پروانده ماره خنډ رامنځته کړی وای نو د هغـۀ سر به په سلهاوو یا زرهاوو ټوټو ټوک ټوک شوی وَی.

همداسې ده ناګه سینا. لـئـیم ماره د غلو په شان چلند وکړ، د سالا تر پینځو ونو لاندې کلي کورونو کې چې په تصرف کې ئـې نیولي ول په کمین کې قابو کښـېـناست. خو که همدغـۀ لـئـیم ماره د هغو صدقاتو پر وړاندې چې هغـۀ مبارک ته په پام کې نیول شوي ول، یا ورتـه چمتو شوي ول او یا ئـې هماغلته خپله برخه ورڅخه اخیستې وای نو سر به ئـې په سلهاوو یا زرهاوو ټوټو ټوک ټوک شوی وای او یا به ئـې بدن د یو موټې وښو په شان باد باد شوی وَی.

ډېـر ښـــۀ ناګه سینا! همدا وه زما خبره، هر هغـه چې تاسو وایاست زه ئـې منم.

---

[په دې سره د صدقاتو پر وړاندې د ماره معضله پای مومي]

---

# [په بې خبرۍ کې جرم]

**اووۀ ویشتم** : ښاغلی ناګه سینا! ستاسو خلک وایي : " که څوک پرته له دې چې پوه شي چې دی څه کوي او په دې ترڅ کې د کوم موجود ژوند واخلي نو ډېره جدي نقیصه رامنځته کوي[1]". خو له بلې خوا په وینــۀ یا کې د هغــۀ مبارک له قوله ویل شوي :" هغوی چې په بې خبرۍ کې عمل کوي، مقصره نــۀ دي.[2]" که لومړی نقل قول صحیح وي نو دویم باید غلط وي؛ خو که دویم هغه صحیح وي نو لومړی با غلط وي. دا هم یوه دوه استوې ستونزه ده، پوهــېدنــه ئــې آسانــه نــۀ ده او ګرانه ده چې په معنی ئې څوک په برلاسی پوۀ شي. دا ستونزه هم ستاسو مخې ته د حل لپاره ږدم.

**اتـــۀ ویشتم** : ګرانــه پاچا د هغــۀ مبارک له قوله دواړه ویل شوي اقوال چې تاسو وویل صحیح دي. مګر د دواړو د ادراک تر منځ توپیر دی. او دا توپیر کوم دی؟ [۱۵۹] یوه هغه جـَنـَحــه ده چې د ذهن او خیال[3] تعاون ورسره نــۀ وي، او بله هغه جنحه ده چې د ذهن او خیال همکاري ورسره وي. ددغو دواړو په منځ کې د لومړي په هکله هغــۀ مبارک ویلي چې : " هغوی چې په بې خبرۍ/غفلت کې عمل کوي مقصره نـۀ دي.[4]"

ډېـر ښـــۀ ناګه سینا! همدا وه. هغه څه چې تاسو وایاست زه ئې منم.

[په دې سره په غفلت کې د ګناه په هکله معضله پای مومي.]

---

[1]- تر اوسه مې دغسې یوه وینا ټکي په ټکي نــۀ ده موندلې. سره له دې چې په وینه یا Vinaya کې یو شمــېــر احکام شته چې د تصادفي پــېـښــو پر ضد حکم کوي، خو په احکامو کې فاعل مجهول دی، چې له کوم موجود څخه ژوند په تصادف واخلي (لکه د بــېـلـګې په توګې د منظف له کارَولو پرته د اوبو څښنګ) حال دا چې دا ټول معروض په ځانګړو قواعدو کې دي او په هر حالت کې د هغو بهیکوګانو لپاره استثناء شته چې که په اعمالو او چلند کې ئــې کوم موجود په بې خبرۍ ووژل شي. ( د بــېـلـګې په توګې وګورئ : Pâkttiya 62, on the drinking of wate ) لیکوال

[2] - Agânantassa nâpatti. Pâkttiya LXI, 2, 3 (in the Old Commentary, not ascribed to the Buddha).

[3]- Sańńâ-vimokkhâ زه ددغــۀ مرکب لغت په دقیقې معنی پوه نــۀ شوم چې یوازې په همدغــۀ نقل قول کې موندل شوی دی. هینه تې کمبوري په ۱۹۹ پاڼې کې دا لري :
Sańńâ-vimokkhâ. I am not sure of the exact meaning of this difficult compound, which has only been found in this passage. Hina/i-kumbur6 (p. 199) has: Mahâ ragâneni, Kittângayen abhâwayen midena bœwin sańńâ-wimoksha-namwû âpattit atteya, &c. (mid = *muk*). *لیکوال*

[4]- د سیمهالي متن په همدې برخې کې دوې نورې پاڼې دي چې د دواړو جنحو د بڼو په هکله مثالونه ورکوي او له هرې بــېـلـګې څخه خپل پایلنیوی راباسي. لیکوال

# [بودا او د هغـــهٔ مُریدان]

**نـــهـــهٔ ویشتم** : ښاغلی ناګه سینا! هغـهٔ مبارک ویلي چې :" آنندا! تتها ګتا دې داسې ګومان ونـهٔ کړي چې دی به د وروګلوی مشري وکړي او یا دې قانون، دهٔ ته تابع وي[1]." خو له بلې خوا هغه مبارک د «مي تي یا[2]» د فضیلت او د طبعیت د شرحې په لړ کې وایي چې :" هماغسې چې زه اوس د وروګلوی د څوسوو تنو مشري کوم، دی به د داسې وروګلوی مشري وکړي چې شمـېر به ئـې څو زره تنه وي.[3]" که لومړی غونډله صحیح وي نو دویمه هغه ئـې باید غلطه وي. خو که دویمه ئـې صحیح وي نو لومړی باید غلطه وي. دا هم یوه دوې استونې ستونزه ده چې اوس ئـې ستاسو مخې ته ږدم او تاسو ئـې راته حل کړئ.

**دیـرشـــم** : ګرانــه پاچا، دواړه اقوال چې تاسو را واخیستل صحیح دي. خو په دې معضلې کې چې تاسو ورته نغوته وکړه یو نقل قول د معنی له اړخه جامع دی او بل ئـې نـهٔ دی. ګرانــه پاچا ! دا تتها ګتا نـهٔ دی چې مریدانو پسې ګرځي بلکه مریدان دي چې په دهٔ پسې راځي. [۱۶۰] ګرانـه پاچا! دا یوه عامه خبره ده چې کله یو څوک خبرې کوي نو د مفهوم د افادې لپاره ښایي ووایي چې " دا زه یم" یا " دا زما ده"، دا خو کوم خارق العاده حقیقت نـهٔ دی[4]. زړهٔ راښکون یا جذابیت چې د فکر چوکات دی تتها ګتا لـېرې غورځولی دی، هغـهٔ تشبث لـېرې غورځولی دی، هغه له دې غروره خلاص دی چې ووایي " دا زما دی"، هغه ددې لپاره ژوندی دی چې له نورو سره مرسته وکړي[5]. ګرانـه پاچا! دا کټ مټ لکه د همدې ارتې ځمکې په شان ده چې د نړی ټول موجودات ئـې په غـېږ کې نیولي او هغوی ته ئـې پناه ورکړې ده، موجودات د ځمکې تابع دی، مګر همدا پراخه لویه ځمکه دې ته لـېواله او هوس نـهٔ لري چې ووایي : " زما په غـېـږ کې شته موجودات ټول زما دي" – تتها ګتا هم د همدې ځمکې په شان دی چې ټولو موجوداتو ته ئـې په خپلې فکري نړی کې پناه ورکړې ده او دې ته لـېـوالتیا نـهٔ لري چې ووایي :" دا موجودات ټول په ما پورې اړه لري." دا لکه د یوې لویې وربـځـې په شان ده چې ونو ته اوبـهٔ ورکوي چې شنـهٔ شي، بوټو، ژویو، ځارویو او انسانانو ته اوبـهٔ ورکوي او د هغوی د ژوند د دوام کرښې ژوندی ساتي، د ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند د وربـځو د باران تابع دی، خو وربـځې دا احساس او لـېـوالتیا نـهٔ لري چې ووایي " دا ټول موجودات زما دي" - تتها ګتا هم همداسې دی چې ټولو موجوداتو ته دا پوهه ورکوي چې صفات الحسنه کوم دي،

---

[1] - Book of the Great Decease, II, 32 (translated in my ' Buddhist Suttas,' p. 37), just after the passage quoted above, IV, 2, 4.

[2] Metteyya- : په سانسکریت کې میتریا په پالي کې مي تي یا، په سینهالي کې میتري یاد شوي دي. د بودایي د علم الاخرویاتو په مباحثو کې میتریا راتلونکی بودا بلل شوی دی. بودا په خپلو لاربښوونو کې ویلي چې ددهٔ له ژونده پینځه زره کاله وروسته به لومړی په نړی کې سولندتوب یا حرص، شهوت، فقر، عناد او دښمني، تاوتریخوالی، وژني، بی ایماني، فزیکي ضعف، جنسي تباهي او ټولنیز انحطاط پریمانه شي، تر دې چې ان په خپله بودا به د خلکو هـېـر شي. بودایي آثار به راټول او وبه سوځول شي. په دې پسې به دهرما هم د خلکو هـېـره شي. له دې وروسته به د بنارس په ښار کې میتریا وزېږېږي. د بنارس سلطان به د ککاوتي په نامـهٔ یو څوک وي او دا سلطان به د همدې میتریا مرید شي. دی به وي چې د ګاتما بودا ځای به ونیسي او نړی به وژغوري. د نورو معلوماتو لپاره د آریایانو رب النوعه میترا او اړوند مباحث وپلټئ. – ژباړونکی

[3] - داسې خبره په هـېڅ خپارهٔ شوي متن کې نـهٔ ده لیدل شوې. څرګنده ده چې مي تي یا راتلونکی بودا یا ددوی راتلونکی مسیحا دی- لیکوال

[4] - Sammuti . . . . na paramattho.

[5] - Upâdâya avassayo hoti.

هغه چي خلک طيب القلوب ساتي، د ټولو موجوداتو ژوند په هغــهٔ کي نغښتی دی خو تتها ګتا اصلاً دا احساس او لــېــوالتيا نــهٔ لري چي ووايي " دا ټول موجودات زما دي". او ولي داسي ده؟ ځکه چي دهٔ خپل ټول هغه احساسات شا ته غورځولي چي ځانغوښتنــه او ځانستاينه په کي وي[1].

ډېـر ښــهٔ ناګه سينا! دا ستونزه د څو بــېلګو په ښودلو سره حل شوه. د ځنګل مخه پرانيستل شوه او د تيارو ځای روڼا ونيو او د ميرځمنو له ناندريو ډک دلايل ټوک ټوک شول، او د ستړواک د بچيانو په زړهٔ کي د بصيرت روڼا خپره شوه.

---

[په دي سره د بودا او د هغــهٔ د مريدانو معضله پای مومي]

---

# [بــېـــلـــتـــون]

**يو ډېــرشم** : ښاغلی ناګه سينا! ستاسو وګړي وايي :" تتها ګتا داسي يو څوک دی چي که څوک يو ځل ددهٔ مريد شي نو هېڅکله به له خپل مريد تابــهٔ څخه لاس وانخلي." خو په بل ځای کي وايي :" ډيوه دتا په يوهٔ درَب سره د ورورګلوئ د ډلي پينځه سوه تنــه وغولول[2]." که لومړئ غونډله صحيح وي نو دويمه هغه بايد غلطه وي، خو که دويمه صحيح وي نو لومړئ بايد غلطه وي. [۱۶۱] دا هم يوه غبرګ مخي دوه استوي ستونزه ده چي ژوره ده، حلول ئـي آسانه نــهٔ دي، دوني غوټي لري چي د غوټي پر سر بله غوټه لري. په دي سره خلک ګنګســېږي، پوهــېـدل ئـي آسانــه نــهٔ دي، پيچلتيا ئـي د آسانه پوهــېـدنګ خنډ ګرځي، مغلقه ده او څوک په پيچلتيا کي ښکـېـلوي. اوس په تاسو اړه لري چي د ميرځمنو د ناندريزو دلايلو پر وړاندي خپله پوهه او ورهنه څرګنده کړئ.

**دوه ډېــرشم** :ګرانــه پاچا! دواړه اقول صحيح دي. خو وروستی قول د بــېلتون جوړونکي د ځواک څرګندونــه کوي. که بــېـلتون جوړونکی بــېـلتون رامنځته کړي نو مور به له خپله زويه، زوی به له خپلي مور، پلار به له خپل زويه او زوی به له خپل پلاره، ورور به له خپلي خور او خور به له خپل ورور او ملګری به له ملګري بــېــل کړي. يوه بــېـړئ چي له ډول ډول لرګيو څخه جوړه شوي، کــېـدی شي په اوبو کي د پياوړو څپو په ځواک درې ورې شي، يوه لويه ونــه چي پياوړې جرړې ئـي په ځمکي کي ښخي دي او په زوښو « شــيرو» ډکه ده، کــېـدی شي د پياوړي باد په خوځون له ځمکي را وايستل شي، خالصه سرهٔ زر په برونز ټوټي ټوټي کــېـږي. خو پوهٔ او هوښيار چي يو ځل د تتها ګتا مريد شو نور نو له تتها ګتا سره د خپلي مريدئ د پرې کولو تکل نــهٔ کوي، او نــهٔ بودا ګان دا اراده لري، او نــهٔ خبير او پوهان دا غوښتنــه کوي. او بل دا چي د " نــهٔ شي کـېـدی" په ويلو کي ځانګړی احساس پروت دی. تر هغــهٔ ځايه چي زه پوهــېـږم ما نــهٔ دي اورېـدلي چي د تتها ګتا مريدتوب دې د کوم شي د کولو يا په اخيستلو مات شي، يا ئـي مريد په نامـــهرباني کوم ټکی ويلی وي، يا ئـي

---

[1] - Attânudithiyâ pahînattâ. See the passages quoted by Dr. Morris in the 'Journal of the Pâli Text Society,' 1886, pp. 113, 114.

[2] - ددغو عباراتو يو هم په چاپ شويو متنونو کي نــهٔ دي موندل شوي چي کټ مټ په عين کلماتو ويل شوي وي. خو د را وروستيو په لنډيز راټول شويو آثارو په لړېـو کي لکه په کولاوګا Kullavagga VII, 4, 1 کي ورته نغوته شوې ده – ليکوال

کوم غلط عمل کړی وي، یا ئـي کومه بې عدالتي کړي وي او یا په خپله تتهه گټا کړي وي. دا په دې چي دهٔ ته خپل پیروان زښت ډېـر ارزښت لري. او تاسو په خپله په نـــهـو استویو ویناوو کي په یاد لرئ چي کوم بودي سـَت داسې یو کار کړی وي او یا دهٔ یاد کړی وي چي پر بنسټ ئـي له تتها گټا ځخه دې د پیروی مزی وشلـېږي؟

نــه صاحبه. په ټولي نړیَ کي هـېــڅ داسي خبره نــهٔ ده اورېــدل شوې. ناگه سینا هر څه مو چي وویل، ښــهٔ مو وویل او زه ئـي منم.

---

[په دې سره د بــېـلتون معضله پای مومي]

---

دویم ځپرکی په همدې ځای پای مومي

# څلورم کتاب
# دریيم څپرکی

## [ د دهرما تقدم]

__لومړی__ : ښاغلی ناګه سینا! هغـهٔ مبارک ویلي :" اې وَسِتــها! په دې پوهٔ شه دا دهما[1] ده په هغـهٔ هکله چې اوس ئـې وینو او هغه څه چې په راتلونکي کې راځي، " په نړئ کې افضله او احسنـــهٔ[2]" ده.[3]" خو له بلې خوا دلته بیا ستاسو د خلکو په باور هغه عادي متدين چې پر لوړې طريقې باندې ئـې ګام ايښی، او په هر غم – ځای کې ئـې د بیا انبعاث شونتیا منتفي شوې، هغـهٔ چې بصیرت او نفساني سیرت تر لاسه کړی، او د حکمت په اسرارو ښـهٔ پوهٔ دی ان همداسې یو څوک دې د طریقت د هر غړي مخې ته ان که مبتدي وي او تر اوسه ئـې تشرف[4] نـهٔ وي تر لاسه کړی د درنښت د علامت په توګې له ځایه پورته

---

[1] - Dhamma : په سانسکریت کې دهرما ویل شوې او پالي بڼـه ئـې دهما ده. په انګلیسي او فرانسوي ژبو کې د دهما یا دهرما د تعریف لپاره کوم ځانګړی معادل وییکی نـهٔ شته. دا وییکی په ویدي سرودونو کې هم راغلی دی. معنی ئـې قانون، دود، وجایب، وظایف، حقوق، چارچلند، مناقب، طهارت او د ژوند کولو حق ویل شوی دی. دهرما د بهارت په پراخې لمنې کې په هندوییزم، بودیزم، جنیزم او نورو کې ځانګړې فلسفي اصطلاح ده چې هره ډله ورڅخه جلا تعابیر لري. که په بودیزم کې ئـې په لنډون معنی کړو نو د جهاني قانون او د بودا د لارښوونو د معنی اخیسته ورڅخه کـېږي – ژباړونکی

[2] - دا نقل قول له یوهٔ ډېر مشهور شعر څخه په اخځ اخیستل شوی او د هغو ډلو لپاره ئـې د ملي سرود ارزښت درلود چې د برهمنانو او اشرافو تر منځ د مذهب او د شعائري تفوق په نزاع کې ښـکـېـل ول او د اشرافو (کهاتیاګانو the Khattiyas) خوا ئـې نیوله. او هماغسې چې هیله ئـې کـېږي دا اخځ په بودایي سوتا ګانو کې په ندرت نـهٔ پیدا کـېږي او ډېري وختونه دا خبره دوی د بودا له خولې وايي، دوی د هغو کهاتیاګانو په منځ کې تر ټولو ممتاز ول چې د پوځیانو په پرتلې لوړ او متعال ول. همدا سوتاګان وايي :" کهاتیا په نړئ کې تر ټولو ممتاز دي، دوی هغه کسان دي چې د طبقاتي ټولنو په منځ کې د ودونو څارنه کوي (د ژباړونکي یادونه : د هغـهٔ مهال ټولنیز جوړښت د کست د ټولنیز جوړښت پر بنسټ وو، لکه د برهمني ټولنو جوړښت چې ټولنه په پينځو ډلو ویشل شوې وه، لکه روحانیون، کشتریا یا پوځیان، سوداګر، ورهنګر او سوډرا یا سوډر یا بیکاره کسان او دلته موخه همدا ده چې کهاتیاګان د همدغو پاړکو یا طبقاتو تر منځ د ودونو څارنه کوي)، مګر د انسانانو او ارباب الانواعو د ټولو نژادونو په منځ کې لوړه پوهه لري او په عدل کې تر ټولو ممتاز دي. د بـېـلګې په توګې د همدغـهٔ نقل په هکله وګورئ : امبه ټه سوتا Ambattha Sutta، په دیګهه نیکایه Dîgha Nikâya او سومنګله ویلاسیني Sumańgala Vilâsinî. دلته " په نړئ کې له تر ټولو ممتاز" څخه معنی دا ده چې " دوی د ټولو په منځ کې لومړیتوب لري" نـهٔ دا چې له اخلاقي او معنوي اړخه ممتاز دي- لیکوال

[3] - په دیګهه نیکایه Dîgha Nikâya کې له اګه ڼه سوتا Aggańń Sutta څخه – لیکوال

[4]- زه ددې خبرې د تائـيـد لپاره کومه سرچینه نـهٔ شم وړاندې کولی خو له شک پرته دوني ویلی شم د خبرې تومنه او خټه له بودیزم سره په سمون او د پيټه که ګانو له روح سره په مطابقت کې ده – لیکوال

او تعظيم دې وکړي. اوس نو که دهما تر ټولو افضله وي نو د سلوک قاعده صحيح نـهٔ ده او که هغه صحيح وي نو لومړی بيان لزوماً بايد غلط وي. دا هم يوه دوه استوي ستونزه ده چې ستاسو مخې ته ئـې ږدم او تاسو ئـې راته حل کړئ. [۱۶۲]

**دويم** : تاسو د سلوک په قاعدې کې ويل شوي اخځونـه په سمه توګه شرحه کړل او هغه ځه مو ياد کړل چې هغـهٔ مبارک ويلي دي. خو ددغې قاعدې لپاره يو دليل دی او هغه دا دی: شل شخصي اوصاف دي چې د سَمَـنـه، سَـمَـنـتوب مُرَتـَبوي او دوه خارجي مظاهر[1] دي چې له مخې ئـې يو سمنــه د سلام، درنښت، توقير او تحياتو وړ ګرځي. او دا مظاهر کوم دي؟ د ځانـي – اعتدال او تحفظ عالي بڼه، د نفسي تملک[2] اعلی ډول، عادل سلوک، آرام او چوپ حميده عادات[3]، (پر خپل بيان او سلوک[4]) تفوق لرل، (پر خپلو حواسو[5]) غلبه، د اوږد مهاله کړاو ګالل[6]، همدردي يا شفقت[7]، د يوازيتوب يا خلوت تمرين[8]، له خلوت سره مينـه[9]، تأمل[10]، تواضع او له غلط چلند ځخه ويره[11]، «ديني – ژ» شوق او لـېـوالتيا[12]، د زړهٔ له کومې[13]، پر

---

[1] - Lińgâni. See above, IV, 1, 61.

[2] - Aggo niyamo. Hinati-kumburê takes agga in the sense of Arahatship: 'Niwan dena pratipattiyen yukta bawa.' Niyama is a self-imposed vow.

[3] -Vihâra, which the Simhalese glosses by: 'Sansun iriyâpatha wiharanayen yukta bawa' ('because he continues in the practice of tranquil deportment.')

[4] - Samyama. 'Kâya wâk samyamayen yukta bawa.'

[5] - Samvaro. 'Indriya samvarayen yukta bawa.'

[6] - Khanti, which the Simhalese repeats.

[7] - سورَک کم : Sorakkam. " ځکه چې هغه سهل الانقياده او مطبوع الکلام دی" سيمهالي متن وايي :"، « Suwaka kîkaru bhâwayen yukta bawa.'». دا يو مجرد نوم دی چې له (سورَتـه surata) ځخه جوړ شوی دی او په سانسکريټ کې نـهٔ پـېـښــېـږي، خو ښاغلی بوټلينک روټ Böhtlingk-Roth د (سورَتيا تر نامـهٔ ) لاندې يو تأئيدي لغت وړاندې کوي چې د بودايانو په ويوتپټي Vyutpatti کې راغلی دی. دا يو له هغو وييکو ځخه دی چې د بودايانو د اخلاقي مباحثو په متنونو کې د نوې او لوړې معنی د اوسنيو اصطلاحاتو پر ځای ږدي، د سانسکريت په ادبي متنونو کې سورَته (د چې عاليه لذت په معنی دی ) ډېـر کارَول شوی دی، خو په دې توپير چې په سانسکريت کې دا لغت له استثناء پرته د موهن او شهوت په ادراک او معنی کارَول شوی دی. په دريمې ګاتکه Gâtaka III, 442 باندې تفسير يوازې دا لغت تکراروي. هماغسې چې دلته راغلي هلته هم په ويوتپټي او دريمې انګوتړې Ańguttara II, 15, 3 کې دا لغت له کهانتي khanti سره يو ځای شوی دی. زما ژباړه د ښاغلي چايلډرز Childers په پلـهٔ باندې پل ږدي (چې هغـهٔ هم ښايي د ښاغلي بوټلينک روټ د ژباړې پر پلـهٔ باندې پل ايښی وي)؛ خو دلته د سيمهالي وييکو تحشيه ما ډېـر شکمنوي چې په لرغونو بودايي متنونو کې د " عاليه لذت" په معنی دلالت وکړي. ليکوال

[8] - Ekatta-kariyâ='Ekalâwa hœsirîmen yukta bawa.'

[9] - Ekattâbhirati.

[10] - Patisallanam, not samâdhi. Kittekâgratâ says the Simhalese.

[11] - Hiri-otappam.

[12] - Viriyam, 'the zeal of the fourfold effort (pradhâna) towards the making of Arahatship,' is the Simhalese gloss.

[13] - Appamâdo, 'in the search for Arahatship,' says Hinatikumburê.

څان باندې د فرامینو او احکامو پلي کول[1]، (د متنونو) تلاوت/ له یاده کول[2]، « په دهما او وینـه یا کې د راغلو حکمتونو په هکله» پوښتنـه کول، په سیله ګانو[3] او د «اخلاقیاتو په نورو قواعدو کې» خوښي او ابتهاج، له تعلقاتو څخه آزادي (د دنیوي شیانو له تعلقاتو څخه خلاصون)، د اوامرو پلي کول – او د ژبـړې چپني اغوستل، او خریل. [۱۶۳] د طریقت هر غړی د همدغو شیانو په پلي کولو ژوند کوي. په دغو ټولو باندې د زړهٔ په نـهٔ تړلو، په ټولو (اوامرو او نواهیو کې – ژ) بشپړ اوسـېـدل، په ټولو کې په فاضل اوسـېـدلو، په ټولو کې نـېـک سیرته اوسـېدل یو څوک د ارهټ توب د شرایطو تر مقامه رسوي، تر دې کچې چې د زده کړې لپاره ورته نور څه نـهٔ پاتې کـېـږي؛ چې په دې سره په ټولو ځایونو کې د لوړ ځای پر لور درومي[4]. له همدې کبله ده چې دی ځان د «طریقت د لارې لاروَی –ژ» د مستحقینو «ارهټانو» په ډلې کې ویني؛ او عادي متدین چې مخکې له مخکې ئـې پر لوړې طریقې باندې ګام ایښی په ځان کې دننـه په دې[5] ارزښت فکر کوي چې بهیکو ته درناوی وکړي او خپل درنښت ورڅرګند کړي، ان که دی لا تر اوسه دین ته لا نـهٔ وی اوښتی. دی ځکه ددهٔ درناوی کوي چې دی ئـې د هغو کسانو په ډلې کې ویني چې په دهٔ کې د شرارت ټول اورونـه مړهٔ شوي دي، دا ځکه چې دی احساس کوي چې دی نور په داسې یوې ټولنې کې[6] نـهٔ دی چې دین ته اوښتی عادي متدین فکر وکړي چې دی د احترام ښودلو ارزښت لري او خپل درنښت دې دین ته نا اوښتي بهیکو ته وښیي. دا ځکه چې دی پوهـېـږي چې دی د اشرافي ورورولۍ له طریقت سره یو ځای شوی او په خپله په دې حالت کې نـهٔ دی چې دین ته عادي متدین دې احترام ښودل خپل حق وګڼي او دین ته د نااوښتي بهیکو ته دې درنښت وښیي- ځکه چې دی په دې پوهـېـږي چې دی د پاتي موکهه[7] تلاوت ته غوږ نیسي حال دا چې دی ئـې په خپله نـهٔ شي کولی – ځکه دی پوهـېـږي چې دی دین ته نوي کسان منلی شي او د سوبمن لاربښووني غځولی شي حال دا چې دی ئـې په خپله د کولو وړتیا نـهٔ لري- ځکه دی پوهـېـږي چې بې شمـېـره اوامر او احکام پلي کوی او دی ئـې ځارنـه نـهٔ شي کولی – ځکه دی پوهـېـږي چې دی د سمنـه توب ظاهري مظاهر اغوندي او د بودا موخې پلي کوي حال دا چې دی پخپله لا تر اوسه ورڅخه لـېـرې دی- ځکه دی پوهـېـږي سره له دې چې دهٔ خپل وینتان او ږیـره ئـې له لاسه ورکړې، ځان نـهٔ غوړوي او ګانه نـهٔ اغوندي او په عین حال کې د عدل او انصاف په عطرو پوښل شوی، حال دا چې دی په خپله په جواهرو او قیمتي مرغلرو ړوږدي دی- دا چې عادي متدین فکر کوي چې ددرنښت ښودلو حق لري او دین ته و نا اوښتي بهیکو ته درناوی وښیي[8].

---

[1] - Sikkhâ-samâdanam. 'Learning them, investigating their meaning, love of the virtuous law laid down in them,' expands Htnati-kumburê.

[2] - دلته په سیمهالي متن کې د ابهام یو ټکی دی. دلته سیمهالي متن بل څه نـهٔ لري مګر دا چې له خریلي سر څخه یادونه وکړي – لیکوال

[3] - Sîlas سیله : په سانسکریت کې د " سلوکي انظباط"، " اخلاقیاتو"، "طهارت" او استقامت" او په بودیزم کې د " علم الاخلاق" په معنی ده – ژباړونکی

[4] - Amrita mahâ avakâs a bhûmiyata says the Simhalese (p. 205).

[5] - Arahati : ما دلته هڅه وکړه چې پر لغاتو باندې د تقلید لوبه وکړم – لیکوال

[6]- N' atthi me so samayo ti: E sâmâgrî lâbhaya mata nœtœyi sitâ

[7] - Pâtimokkha

[8] - د ژباړونکي یادونه : دغه پاراګراف د انګریزي متن له ۲۸۸ پاڼې سره سمون خوري، همداسې په انګریزۍ کې مغلق او پیچلی ژباړل شوی او زه ددې برخې په پښتو ژباړې ډاډه نـهٔ یم، سره له نـهٔ ډاډمنتوب مې هماغسې وژباړهٔ چې په انګریزي متن کې وو.

**دریيم** : ګرانــه پاچا! او بله دا چي دی نــۀ یوازې په دې پوهــېـږي چي د سمنـه د جوړولو لپاره دا ټول شخصي خصايص او دوه ظاهري مظاهر په بيهکو کي موندل کــېږي بلکه دی ئـي پلي کوي او نور کسان په کي روزي او دين ته اوښتی نوی عادي متدين په دې پوهــېږي چي دی په دې عرف کي برخه[1] نــۀ لري او ددين په دغو التزاماتو کي فکري کوي چي احترام کول صحيح دي او دين ته د نا اوښتي بهيکو درناوی کوي. [۱۶۴] ګرانـه پاچا دا لکه سلطنتي شهزادګي ته ورته ده چي د برهمن تر پښو لاندې د کورنی د مُلا[2] په توګي لومړی خپلي پوهي ته په زده کړه کړو پراختيا ورکوي، او دۀ ته د کهاتيا دندي ورښودل کــېږي او کله چي ددۀ د سلطنت وار راســېږي نو ځکه د خپل استاد درنښت کوي چي دۀ ته ئـي زده کړه ورکړې او د کورنۍ عرف ئـي پلی کړی دی، نو له دې کبله دين ته اوښتي بهيکو ته ښايي چي درنښت وښودل شي او دی دې هم په خپل وار خپل درناوی دين ته د نا اوښتي بهيکو ته وښيي.

**څلورم** : ګرانـه پاچا! او بله دا چي ښايي د بهيکوګانو د حالت ستروالی او بې جوړې وياړ تاسو په دې حقيقت وپوهـوي – که يو عادي متدين يا ددين يو حواري چي د طريقت عالي لارې ته ننوتلی نو د ارهټ توب تفهيم بايد تر لاسه کړي، په دې حالت کي دۀ ته دوې پايلي په لاس ورځي او له دغو دواړو پايلو پورته بل څه نــۀ سته – دی بايد يا په هماغه ورځ ورژېــږي او يا دې پر ځان د بهيکو شرط ومني. ګرانـه پاچا! د ثابت پاتي کــېـدلو لپاره تر ټولو معظمه او پرتمينــه لار د لاس اخيستني حالت دی – زما د خبرې موخه دا ده چي په دې حالت کي بايد د قانون د لارې غړيتوب تر لاسه کړي (دين ته دې واوړي)!

ښاغلی ناګه سينا! ستاسو په پياوړې پوهي او حکمت سره دا پيچلي ستونزه حل شوه. که تاسو نــۀ واست بل چا دا ستونزه نــۀ شوه حل کولی.

---

[په دې سره د دهما د تقدم معضله پای مومي]

---

# [د وعظ اضرار]

**پينځم** : ښاغلی ناګه سينا! تاسو بهيکوګان واياست چي تنها ګټا له ټولو موجوداتو څخه اضرار دفعه کوي او ښــۀ ور رسوي[3]. او بيا بل چــېــږې واياست چي کله چي هغــۀ خپل وعظ کاوۀ نو د بلنده اور[4] د تشبيه په راوړلو د شپيتو بهيکوګانو له خولو څخه تودو وينو دارې ووهلې. ددغــۀ وعظ په توضيح سره هغــۀ بهيکوګانو ته تاوان ورساوۀ او دا ښــۀ نــۀ دی. له دې کبله

---

[1] - Âgamo, which the Simhalese repeats.
[2] - Purohita, which the Simhalese repeats.

[3] - زه نــۀ شم کولی ووايم چي دا خبره په کوم څپرکي او کوم شعر کي راغلي ده خو دلته موخه په روښانه ډول څرګنده ده – ليکوال

[4]- دا آديته – پري يايه Âditta-pariyâya نــۀ ده چي د انګوتري Aṅguttara په اووم کتاب کي په لومړی مهاوګه ۲۱ کي Mahâvagga I, 21 او اګي کهن دوپمه سوتا Aggikkhandûpama Sutta کي ورکړل شوې ده – ليکوال

که لومړی بیان صحیح وي نو الزاماً دویم هغه باید غلط وي؛ او که دویم هغه ئـي صحیح وي نو لومړی [۱۶۵] باید غلط وي. دا هم د یوې دوه استوې ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئـې ږدم او حل ئـې کړئ.

**شيــږم**: دواړه ئـي صحیح دي. هغه څه چې دوی ته ورپــېــښ شول ددوی له خپل لاسه ول، نـــهٔ د تتها ګتا له لاسه.

خو ناګه سینا! که تتها ګتا دغه وعظ نـهٔ وای ورکړې نو آیا ددوی له خولو څخه به توده وینــه په کانګو راوتلې وای؟

نه- کله چې دوی د هغـهٔ له خبرو څخه غلط اقتباس وکړ نو په دوی کې اور بل شو او له خولو څخه ئـې توده وینـه په کانګو راووتله.

چې داسې ده نو ناګه سینا دا پــېــښــه باید د تتها ګتا د چلند له کبله رامنځته شوې وي، دا باید تتها ګتا وي ځکه چې ددوی د له منځه وړلو تر ټولو لوی دلیل[1]، دی په خپله وو. ګرانـه ناګه سینا داسې وانګـېـرئ چې یو لوی تور مار د مـېـږیانو پر کور ننوت، ورپسې یو بل سړی د خاورې په لټون کې راځي او خاوره چې راجګوي نو په دې سره د مـېـږیانو کور نړېـږي. ددې کار په کولو سره د مـېـږیانو د کالــهٔ سوری بندېـږي او د هوا د نـــهٔ رسـېـدنګ له کبله مار د مـېـږیو په کالــهٔ کې د همدغــهٔ سړي د کار په پایلې کې مري. اوس نو تاسو ووایاست چې آیا دا مار د همدغـهٔ سړي د عمل له کبله نـهٔ دی وژل شوی؟

همداسې ده ګرانـه پاچا

چې داسې ده نو ناګه سینا، ددوی د له منځه وړلو تر ټولو لوی لامل په خپله تتها ګتا دی.

**اووم** : ګرانـه پاچا! کله چې تتها ګتا یو وعظ کاوهٔ نو خپل وعظ ئـې نـهٔ د کومې غوړه مالۍ او نـهٔ د کوم عناد له مخې کاوهٔ. کله چې هغـهٔ خبرې کولې، دی له دواړو، غوړه مالۍ او عناد څخه خلاص او مُبـَــرا وو. هغه کسان چې ددهٔ په وعظ سم پوهـېـدل هغوی حکمت[2] تر لاسه کاوهٔ، خو هغوی چې ورڅخه غلطه انګـېـرنه اخیسته نو خپل حال ئـې لـیدهٔ. ګرانـه پاچا دا هغې بـېـلګې ته ورته ده کله چې یو سړی د ام ونـه، یا د جمبو[3] ونـه یا د مهوه ونــه[4] وښوروي[1] نو میوه پر ځمکې

[1] - ادهې کاره Adhikâra. په سیمهالي ژباړې کې پرّدهانه Pradhâna ژباړل شوی دی - لیکوال
[2] - Bugganti: unto Arahatship adds Hînati-kumburê.

[3] - jambu tree : دا ونه د شاه توت په معنی هم کارَول شوې خو میوه ئـې شاه توت نـهٔ ده. دا یو ډول میوه لرونکې ونه ده چې په اندونیزیا، بهارت، بنګله دیش، سریلانکا، پاکستان او نیپال کې موندل کـېـږي. دا ونه تر دېرشو مترو پورې لوړه ځي او تر سلو کالو ډېر ژوند کولی شي. ګڼې پاڼې ئـې ښـهٔ سیوری جوړوي. له لرګي څخه ئـې د ریل پټلیو په کرښو کې ځکه کار اخیستل کــېــږي چې لرګی ئـې د اوبو پر وړاندې مقاومت لري. میوه ئـې د زیتون تر دانې لږ لویه ده، خامه ئـې تروه او پخه ئـې خوږه وي، او په سِرکې، شربتونو ، شرابونو کې کارّول کـېـږي. ژباړونکی

[4]- mee tree یا Madhuca longifolia د بهارت یو ډول حارَوي ونه ده چې په هندي ژبې کې ورته مهوه وایي. میوه ئـې یو ډول دانو ته ورته ده چې د زیتون په شان غوړه ده او هر ونه ئـې په کال کې له شلو تر دوه سوه کیلو پورې دانې ورکوي. له دانو څخه ئـې د انسان د پوستکي د مرهم، د لاس او کالیو مینځلو صابون او نباتي کوچو کې ګټه اخیستل کـېـږي. د ونې له غوټیو څخه په هندوستان کې ښـهٔ حاروي شراب جوړېـږي. ونه تر شلو مترو لوړوالی جوړولی شي – ژباړونکی

پرېوزي، په دغو میوو کې د یو شمېر پوټکي ډېر ټینګ وي او نهٔ پرېږدي چې د میوې شیره دباندې راووځي خو یو شمېر ئې نرۍ پوټکی لري یا ئې پوټکي خراب وي او یا دوني شنېدلي وي چې ځمکې ته له رسېدنګ مخکې په هوا کې پاش پاش کېږي – [۱۶۲] نو د هغهٔ وعظ هم همداسې درواخله. ګرانه پاچا! دا کټ مټ د یوهٔ بزګر حالت ته ورته ده کله چې بزګر وغواړي غنم وکري نو لومړی ځمکه ورته قلبه کوي، خو د قلبې په لړ کې د سلهاوو او زر هاوو بوټو ریښې وژل کېږي – او یا کله چې یو څوک د خوږو د تر لاسه کولو لپاره د ګنیو یا نیشکر ډنډې د ژرندې خولې ته ور اچوي نو ددې کار په کولو سره د ګنیو وړوکې ډنډې د ژرندې په خولې کې نهٔ دړې وړې کېږي؟ – نو د تتهاګتا خبره هم همداسې وه کله چې هغهٔ نورو ته حکمت رساوهٔ هغه کسان پرې خبر شول چې ورته چمتو ول او د دهما وعظ ئې له غوږه مالې او عناد پرته وکړ. او هغوی چې په وعظ سم پوه شول نو حکمت ئې تر لاسه کړل خو هغوی چې غلط و انګېرهٔ نو په ځمکې راپرېوتل.

<u>**اتم**</u> : ناګه سینا! نو آیا بهیکوګان د ناګه سینا د همغې موعظې له کبله راپرې نهٔ وتل؟

چې داسې ده، نو زه اوس له تاسو پوښتم چې آیا یو ترکاڼ د لرګي له رنده کولو پرته چې لرګی ښه ښوی شي او بل ورباندې کېښېښودل[2] شي کوم شی جوړولی شي؟

نه صاحبه. تر کاڼ که وغواړي چې لرګی سم وکاروَي نو باید د لرګي زخې او کاږه ځایونه لومړی سیده کړي.

ګرانه پاچا! تتهاګتا یوازې خپلو مریدانو ته په کتلو نهٔ شوَی کولی د هغو کسانو سترګې خلاصې کړي چې کتلو ته چمتو ول. او له هغو کسانو څخه په خلاصون چې ددهٔ وینا ئې غلطه وانګېرله هغه کسان ئې وژغورل چې د ژغورنګ لپاره چمتو ول. او ګرانه پاچا ! دا ددوی د خپل چلند او عمل له کبله ول چې د شرارتناکو افکارو په لارې لاړل او پر ځمکې ولوېدل؛ کټ مټ لکه د ګیلې ونه یا د بانس ونه او یا کچره چې خپل ځان د خپل نسل په زېږولو وژني[3]. ګرانه پاچا! دا کټ مټ هغو غلو ته ورته ده چې یا ئې سترګې له ګاټو را وایستل شي، یا په میلو پورې وتړل شي او یا زیندۍ شي، نو همداسې ددوی شرارتناکه افکار ول چې دوی د خپل چلند له کبله له منځه لاړل او د سوبمن له لارښوونې بې برخې شول.

<u>**نهم**</u>: او همدا شان [۱۶۷] له شپېتو بهیکوګانو سره وشول، دوی نهٔ د تتهاګتا د عمل له کبله او نهٔ د بل چا د چلند له کبله بلکه دوی ته د خپل عمل له لاسه ورپېښ شول[4]. ګرانه پاچا! دا وانګېرئ چې یو سړی راځي او ټولو خلکو ته د " رب

---

[1]- Madhuka وګورئ : Gâtaka IV, 434. د سیمهالي متن په ۲۰۸ پاڼې کې میګهک لري چې د مهوه د ونې لاتین نوم Bassia Latifolia کېږي- لیکوال

[2] - Rakkhanto, which Hînati-kumburê expands in the sense adopted above.

[3]- د ګیلې ونه یا plantain tree یا د بانس ونه د غوټۍ کولو پر مهال مري. په بهارت کې عام باور دا دی چې کچره د خپل بچي د زېږون پر مهال مري. وګورئ : Kullavagga VI, 4, 3; VII, 2, 5; Vimâna Vatthu 43, 8; Samyutta Nikâya VI, 2, 2. – لیکوال

[4]- په دغهٔ ځای کې هینه تي کمبوري د ټولې هغې سوتا ژباړه را اخلي چې نغوته ورته شوې ده – لیکوال

النوعو خوراک[1]" [2] ورکوي، او ددې په خوړلو دوی ټول روغ رمټ کـېـږي، اوږد ژوند کوي او له هر ډول جسمي ناروغيو څخه فارغـېـږي. خو په دوی کې يو تن ددغـهٔ خوراک په خوړلو د خپلي بدې هاضمي له کبله مری. گرانـه پاچا! اوس پوښتنه دا ده چي آيا دغــه سړی په دې پړ دی چي دوی ته ئـې د رب النوعو خوراک ورکړی او په دوی کې يوازې يو سړي د خپلي بدې هاضمي له کبله مړي ؟

نــه صاحبه،

گرانـه پاچا! همداسي ده د تتها گتا خبره چي د رب النوعو او انسانانو د نړۍ لسو زرو سيستيمونو ته ئـې خپل د رب النوعو خوراک په ډالۍ ورکړ؛ هغوی چي وړتيا درلودله د دهٔ د قانون د متلذذو شرابو د خوند په څکلو حکمت تر لاسه کړ او هغوی چي وړتيا ئـې نــهٔ درلودله له منځه لاړل او پر ځمکې راپرېـوتل. گرانـه پاچا! خوراک د ټولو موجوداتو ژوند متحفظ ساتي. خو يو شمــېـر کسان چي خوراک کوي د وبا[3] له کبله مري. اوس پوښتنــه دا ده : هغه څوک چي يوهٔ وږي سړي ته د هغـــهٔ د لوږې په پار خوراک ورکوي آيا په کومې جنحې پــړ دی؟

نــه صاحبه

گرانـه پاچا! همداسي ده د تتها گتا خبره چي د رب النوعو او انسانانو د نړۍ لسو زرو سيستيمونو ته ئـې خپل د رب النوعو خوراک په ډالۍ ورکړ؛ هغوی چي وړتيا درلودله د دهٔ د قانون د متلذذو شرابو د خوند په څکلو حکمت تر لاسه کړ او هغوی چي وړتيا ئـې نــهٔ درلودله له منځه لاړل او پر ځمکې راپرېـوتل.

ډېــر ښــهٔ ناگه سينا! همداسي ده، او هر هغه څه چي تاسو واياست زه ئـې منم.

---

[په دې سره د هغو اضرارو معضله پای مومي چي د وعظ له کبله رامنځته شوې وه]

---

[1] - امبروژيا ambrosia : د يونان په ميتالوژيو کې امبروژيا داسې خوراک يا څښاک دي چي په څښلو ئـې څوک ابدي ژوند تر لاسه کوي. د سانسکريت معادل ئـې امريتا अमृत; ده او د برهمنانو د سوما له څښاک سره معادل ده. د سانسکريت امريتا، امرُتا او امرُد هم ويل شوې او ښځينه تلفظ ئـې امروتا کــېـږي. ژباړونکی

[2] - Amatam دا ارهټ توب ته نغوته ده او شک نــهٔ شته چي دا ئـې يو له القابو څخه دی – ليکوال

[3] - cholera : ويسوکي کايه Visûkikâya چې هينه تي کمبوري ئـې داسې ژباړه ورکوي: اگرينه وه ويوکابادهين Agîrna wa wiwekâbâdhayen وگورئ : .IV, 2, 18 – ليکوال

# د تتهه گتا اسرار[1]

**يولسم** : [دا معضله د دېـرشو جسماني نښـو په منځ کې يوه نـښه راسپړي چې " ستر انسان" (مهاپوروشه) ئـې لري او د انگـېرنې له مخې ويل کـېـږي چې هر تتهه گتا ئـې لري، له دې چې دا برخه داسې سکالو په ځان کې رانغاړي چې زموږ په رواني پـېـړۍ کې په هکله ئې څوک خبرې نـهٔ کوي نو موږ هم ورڅخه تـېرېـږو، که لوستونکي غواړي نو کولی شي اصلي متن ولولي.]

---

# مُضحِک سړی[2]

**پينځلسم** : [۱۷۰] ښاغلی ناگه سينا! د دين قائـد شيخ سري پوته[3] ويلي چې :" ورونو، تتها گتا د خپل بيان په کياست کې د کمال حد لري، د تتها گتا په وينا کې کوم خلل او پـېـچلتيا نـهٔ شته او خپل بيان په دوني ملاطفت سمبالوي چې ددهٔ په شان بل څوک د بيان په ملاطفت نـهٔ پوهـېـدهٔ[4]" خو له بلې خوا د لومړی پاراگيکه د تنفيذ پر مهال کله چې تتها گتا د کلنده ستودينـه خطاء وليدله، نو هغـهٔ ته ئې په ترخې ژبې خطاب وکړ او هغه ئې د بې کاره سړي[5] په نامـهٔ ياد کړ[6]. ددې په ويلو سره هاغه شيخ د خپل لاربنود[7] له وېـرې وترهـېـد او عالي لاره ئـې ونـهٔ موندله[8]. اوس که لومړی بيان صحيح وي نو هغـه بيان چې تتها گتا، سودينه کلنده د بې کاره سړي په نامـهٔ ياد کړی بايد غلط وي. خو که دوهم بيان صحيح وي نو الزاماً لومړی بيان بايد غلط وي. [۱۷۱] دا هم يوه دوه استوې ستونزه ده چې ستاسو مخې ته ئې د حل لپاره ږدم.

**شپاړلسم**: گرانه پاچا! هغه څه چې سري پوته ويلي حقيقت لري. او دا هم حقيقت لري چې هغـهٔ مبارک سودينـه په هماغه پـېـښـه کې د بې کاره سړي په نامـهٔ ياد کړی دی. خو دهٔ دا خبره د مزاج[9] د تريخوالي له کبله نـهٔ ده کړې، دا يوازې د

---

[1]- پورته مو تر نهم پورې ولوستل. دلته په انگريزي متن کې لسم نـهٔ شته او له يولسمه پيل شوی دی – ژباړونکی

[2] - دلته هم له دولسم تر څوارلسم شمـېـر پورې نـهٔ شته او له پينځلسم راپـېـلـېـږي. ژباړونکی

[3] - Elder Sariputta

[4]- زه نـهٔ پوهـېـږم د سري پوته خولې ته دا مصطلحات له کوم ځايه اچول شوي دي: خو همداسې مصطلحاتو ته ورته ښاغلی ترنکنر نغوته کوي چې په اوومې انکوتړې .Ańguttara VII, 6, 5 کې د بودا له خولې ويل شوي دي – ليکوال

[5] - See the whole speech at Pârâgika I, 5, II.

[6] - Kalanda-putto, where Kalanda (or Kalandaka as some MSS. of the Vinaya spell it) is the name of the clan (see Pârâgika I, 5, 1), not of the father.

[7] - Garuttâsena. Tâso is not in Childers, but occurs Gâtaka III, 177, 202.

[8] - There is nothing in the Vinaya account of this result.

[9] - Dutlh a -kittena, which Hînati-kumburê repeats.

«هغـــهٔ يعني د سودينــه د چلند» ربښتوني طبعيت ته په دي يوه نغوته وه چي ورته ته ضرر ونـــهٔ رسوي[1] . او دلته د "هغـهٔ د چلند ربښتوني طبعيت ته له نغوتي" څخه موخه او مطلب څه دی؟ ګرانــه پاچا! که هر څوک ددغـهٔ زېــږون «ژوندون –ژ» پر مهال د څلورو حقايقو ادراک تر لاسه نـــهٔ کړي، د هغـــهٔ رجوليت خو «چي د انسان په توګي زېږېدلی» بې ګټي او عقيم[2] دی، که دی په خپل چلند کي اختلاف ولري نو دی به هم متفاوته وي. له دي کبله ده چي هغـــهٔ مبارک سودينه ته د بې کاره[3] خطاب کړی دی. له همدې کبله ول چي هغـــهٔ مبارک کلنده، سودينه ته په ربښتونو کلماتو خطاب کړی وو، داسي کلمات چي له حقيقته لــېرې نـــهٔ ول.

**اووهٔ لسم**: مګر ناګه سينا! که څوک له بل چا سره ان د حقيقت په پار په زشته او ترخي ژبې خبرې وکړي نو بايد د خپلي خبرې د جبران لپاره بل لوري ته وړوکی تاوان/جريمه[4] ورکړي. که دی په خپل اهانت پـــر دی هماغومره بل لوری هم په خپلي ترخي ژبې پـــر دی؛ ان که د کوم ربښتوني او حقيقي شي په پار هم وي، دهٔ خپل بل لوری په خپلو الفاظو ځورولی دی او په دې حالت کي ده چي پايله د دوارو تر منځ د «اړيکو / سولي» په پرېـــکون اوړي[5].

ګرانه پاچا! آيا تاسو د هغو خلکو اورېـــدلي دي چي يوهٔ جنايت کار ته د درنښت په پار يا په ملا کړوپـــېږي، يا له خپله ځايه ورته راپورته کــېږي او يا ورته تعارفي ډالۍ وړاندې کوي (چي معمولاً ئـي رسمي مأمورينو ته راوړي) ؟

نـــه ما نـــهٔ دي اورېـــدلي خو که يو څوک جنايت يا د جنايت په شان بل کار وکړي او په ربښتيا د توبيخ او سزا وړ وي نو يا ئـــي بايد سر ور پريک شي، يا دي شکنجه[6] شي، او يا دي په ملا کړوپ لاس او پښي تړلی په قيد کي وساتل شي او يا دي اعدام شي او يا دي له خپلو مايملکو څخه بې برخي شي[7].

---

[1] - اسارَمبهنه ياتهاوه – لکهننه Asârambhena yâthâva-lakkhanena : دلته ياتهاوه yâthâva د چايلدرز په ژباړي کي نـــهٔ شته. وګورئ : بودهاګوسه په سمنګله ويلاسينی Sumańgala Vilâsini, p. 65 او پر تيري ګاته باندې دهماپاله Dhammapâla on Theri Gâtha, 387. هينه تي کمبوري ئـي داسي ژباړي :

Upadra karana sitakin ut no wanneya, swabhâwa lakshanayen maya ehi wadâlakisiwek œt nam, êswabhâwa lakshanaya maya.

[2] - Mogham. So at Gâtaka III, 24.

[3] - موګهه – پوريسو Mogha-puriso همدغه وييکی ما په يوهٔ بل ځای کي د چايلدرز د ژباړي پر بنسټ د " احمق سړي" په معنی ژباړلی دی. خو زه ګومان نـــهٔ کوم چي همدا وييکی دی يوازې د " عقيم او بې ګټي" په معنی وي وګورئ :

Gâtaka I, 14; III, 24, 25; Sutta Nipâta III, 7, 20; Mahâvagga VIII, 1, 5; .Kullavagga V, n, 3; Ańguttara II, 5,10; Sumahńgala Vilâsinî, p. 55.

[4] - په تحت اللفظي معنی د يوې کهاپنه kahâpana جريمه ويل شوې چي د مسو يوه اييکی يا سکه ده چي ارزښت ئـي يوې انګليسي پيني penny ته رســېږي. وګورئ زما ليکنه : Ancient Coins and Measures,' p. 3. - ليکوال

[5] - Visum vohâram âkaranto. The Simhalese (p. 224) has Wen wû wakana wu wyawahârayekin hœsiremin.

[6] - Hananti. But himsât kereti says the Simhalese.

[7] - ګاپنتي :Gâpenti . ډاکټر ايداوارډ ميولر Dr. Edward Mùller ګومان کوي چي دا د (پالي د ژبښوېي Pâli Grammar, p. 37) له مخي د ګهاپنتي ghâpenti نوم دی چي په ټاپيي غلطی چاپ شوی دی. سيمهالي بنه وايي :

نو ګرانــه پاچا! اوس له تاسو پوښتم چې آیا د هغــهٔ مبارک چلند هم د عدل له مخې وو که نــه؟

صاحبه! هو، که په سمه ژبه ئــې په تصریح ووایم نو له عدالت سره سم کار ئــې کړی دی. ګرانه ناګه سینا! کله چې د رب النوعو او انسانانو نړۍ دا خبره واوري نو باطن او ضمیر ئــې ورسره حساسه کــېږي او په زړونو کې ئــې د ګناه وېــره پیدا کــېږي، په لیدلو ئــې په هیبت کې لوېــږي، او همداسې که دوی د غلطو اعمالو له فاعلینو سره یو ځای شي او په خپله غلط کار وکړي نو باید په ځان دې وډار شي.

**اتلسم**: [۱۷۲] ګرانه پاچا! که د یو چا ټول ځان او اخلاط له یوې ناروغۍ اغــېــزمن شي او طبیب هم تشخیص کړي چې ددهٔ د ځان ټوله بدنه په ناروغۍ اخته شوې نو آیا دا طبیب د ناروغ د ښــهٔ کــېدلو لپاره د ناروغ په خوښه او زړهٔ ورته مطبوع او خوندور شیان او درمل ورکوي؟

نــه. ددې لپاره چې ناروغي له منځه لاړه شي او د ناروغۍ اغــېــز پای ومومي نو طبیب باید تراخه، تیز او مشدِده درمل ورکړي.

ګرانــه پاچا! تتها ګتا هم په عین ډول د ګناه د ټولو ناروغیو د له منځه وړلو لپاره د توبیخولو سزا کارَولي ده. او د تتها ګتا کلمات ان که متشدده هم وي، انسان نرموي او دقیقوي ئــې. ګرانــه پاچا! دا کټ مټ لکه تودې اوبــهٔ دي چې هر هغه شی چې د نرمــېدلو وړتیا ولري، نرموي ئــې، که د تتها ګتا کلمات مشدده هم وي بیا هم ګټورې دي او دا توند کلمات ئــې د زړهٔ سواندۍ له کبله دي؛ کټ مټ لکه یو پلار چې خپلو بچیانو ته د زړهٔ سواندۍ له کبله شدید کلمات کارَوي. ګرانــه پاچا! هماغسې چې بد بویه جوشاندې او د شریرالطبعو درملو غړوپول د انسان دننه ضعفونــه له منځه وړي د تتها ګتا خبرې هم همداسې دي، ان که ترخې هم دي؛ دا خبرې ئــې چا ته ګټې او د ترحم نعمات راوړي. نو ګرانــه پاچا! د تتها ګتا خبرې ان که ترخې او شدیده هم دي بیا هم کټ مټ د مالوچو د یوهٔ لوی پنډوسکي په شان دي چې که پر چا راولوېــږي نو څوک نــهٔ ژوبلوي.

ډېــر ښــهٔ. تاسو دا معضله د ښو تشبیهاتو په راوړلو سره حل کړه. ډېــره ښه ناګه سینا! اوس چې تاسو وویل نو زه ئــې منم.

---

[په دې سره سودینــه ته د بودا د ترخو خبرو معضله پای مومي]

---

[ویانده ونـه]

**نولسم**: ښاغلی ناګه سینا! تتها ګتا ویلي چي :

" برهمنـه! تاسو ولې له بې سده شي پوښتنه کوئ،
دا خو ستا خبره نــهٔ اوري!
څنګه! نن ئــې اوري؟
فعاله، عاقله او له نشاطه ډکه
ته څنګه کولی شی له دغـهٔ بې سده شي سره خبرې وکړې-
د پـَلاسه[1] دا وحشي ونه؟"[2]

[۱۷۳] او له بلې خوا دی وایي چي :

" او په دې سره د سپــېـدار ونې
ځواب ورکړ-
زه بهارَدواګه[3] یم خبرې هم کولی شم،
ما ته غوږ ونیسه [4]"

اوس نو ناګه سینا، که ونـه یو بې حسه شی وي نو دا خبره باید غلطه وي چي سپیدار دې له بهارَدواګه سره خبرې وکړي. خو که دا صحیح وي نو دا باید غلطه وي چي ونـه دې بې حسه وي. دا هم یوه دوه استوې ستونزه ده چي ستاسو مخي ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**شلم** : ناګه سینا! ولي الأمر ویلي چي ونـه یو بې سده شی ده او حس نــهٔ لري. او سپــېـدار له بهارَدواګه سره خبرې کړې وې. خو ګرانــه پاچا! دا وروستی خبره د عامو خبرو یوه بڼه ده. سره له دې چي یوه ونه یو بې حسه موجود دی او خبرې

---

[1] - Gâtaka III, 24. It is not the Tathâgata, but the Bodisat, who speaks.

[2] - Palâsa tree : یو ډول ونه ده چي د لوی هندوستان په نیمه حارَوي سیمو لکه نیپال، سریلانکا، بنګله دیش، تایلند، لاوس، ویتنام، مالیزیا او د سویلي بهارت په برخو کي موندل کـېږي. په انګلیسي کي ئـې د طوطي ونه یا Parrot Tree بولي. دا ونه تر ۱۵ مترو پورې لوړتیا مومي. پاڼې ئـې د ښکو په شان نرمې او ښکلې دي او غوټی ئـې سرې او سور بخوني نارنجي دي او رابندرَنات تاګور په خپلو اشعارو کي د پسرلي د ښکلا په ستاینې کي یاده کړې چي د ونې غوټی ئـې د ګلانو له سپرغیو او بلندو لمبو سره تشبیه کړې دي. په بودایي دین کي ویل شوي چي دې ونې خبرتیا او هوښیارتیا تر لاسه کړې ده. – ژباړونکی

[3] - Bhâradvâga

[4] - Gâtaka IV, 210, where the verses are ascribed to the Buddha.

نــهٔ شي کولی، بیا هم د " ونې " وییکی د "دریاد[1] " یوه تسمیوي وجهه ده چې په ځنګل کې ژوند کوي او په دغــهٔ ادراک چې" ونــه خبرې کولی شي" یو عام متل او عامه اصطلاح ده. ګرانــه پاچا! وګورئ که یو واګون په جوارو بار وي نو خلک ئــې د " جوارو واګون" بولي. خو دا واګون له جوارو نــهٔ دی جوړ شوی، دا واګون له لرګیو جوړ دی، خو بیا ئــې هم خلک له دې چې په جوارو بار دی نو په خپلې عامه اصطلاح ئــې د " جوارو واګون" بولي. یا دا چې ګرانــه پاچا، څوک د تروو شیدو په مندانو کې مندانو شاربي نو په عامه اصطلاح کې ورته د " کوچو مندانو" وایي، خو دا کوچ نــهٔ دي چې دی ئــې شاربي بلکه شیدې دي چې شاربل کــېــږي. یا دا چې ګرانــه پاچا! یو څوک داسې یو شی جوړوي چې هستي او شتون نــهٔ لري خو په عامه اصطلاح کې ورته وایي چې پلانی سړی داسې شی جوړوي چې تر اوسه چا نــهٔ دی جوړ کړی [۱۷۴]عام مصطحات د شي له جوړېدلو مخکې څوک په دې باوري کوي چې دا شی لا وختي جوړ شوی دی. او کله چې تنها ګتا دهما وضعه کوله نو هماغه عبارات ئــې وکارَول چې په عام ډول د خلکو په منځ کې دود ول.

ډېــر ښــهٔ ناګه سینا! همداسې ده، هغه څه چې تاسو وویل اوس ئــې منم

---

[په دې سره د ویاندې ونې معضله پای مومي]

---

[1] dryad - : په یوناني میتالوژیو کې دریاد د ځنګل ناوې ده، په بله وینا د ښځې په بدن کې د ونو پرښته ده؛ په یوناني میتالوژیک فرهنګ کې د ځــېــړې ونه د ځنګل د ناوې سمبول دی. دوی هغه ښایسته ښځې دي چې پر ځنګل او ونو څار لري چې ژوند ئــې د یوې ونې په ژوند پورې تړلی دی، کله چې هماغه ونه مري نو دا پرښته هم ورسره مري. ددوی یوه بله ډله هامادریاد یادېــږي چې د ځــېــړېــو د ونو پرښتې دي او د چنچنو په ژبې خبرې کوي. – ژباړونکی

# [د بودا وروستۍ ناروغي]

**یوویشتم**: ښاغلی ناګه سینا! هغه شیخان چې تلاوت[1] کوي وايي :

" کله ئـې چې د مسګر- کوندا[2]

صدقات وخوړل

نو وامي وربـېـدل-

چې بودا خورا زيات ناروغه شو

دوني بربـېـښــنده درد چې د مرګ وو[3]"

او وربسي هغــهٔ مبارک وويل : " آنندا! دا دوه ډوله خواړهٔ ئــې چې راکړي دي له يو بل سره برابر دي، برابر دي له میوې سره، او برابره پایله لري؛ هماغه اعلی میوه چې تر نورو پایلو لوړه اعلی پایله لري[4]"

اوس نو دلته ناګه سینا د کوندا د صدقې د یوې برخي له اخیستلو وروسته پر هغـهٔ مبارک باندې د بربـېښــنده درد د راتګ خبره شوی ده ، او بربـېښــنــده درد ئـې په وجود کې راپاروله وو داسې درد چې د مرګ وو، که داسې وي نو دویمه خبره باید غلطه وي. نو که دویمه صحیح وي الزاماً لومړی هغه باید غلطه وي. ناګه سینا! څنګه کـېـدی شي چې دا صدقات دې تر میوې اعلی وي حال دا چې هغه زهر ول، داسې زهر چې ناروغي ئـې راوپاروله، [۱۷۵] او د هغـهٔ د هستی د ډېراو پر دوام ئـې د پای ټکی کښــېـښود او ژوند ئـې ورڅخه واخیست؟ ما ته د دښمنانو دا تکذیب شرحه کړئ. خلک په دې هکله لالهانده دي، خلک ګومان کوي چې د سولندتوب او ډېــر خوراک له کبله ورته خوني اسهال پیدا شوی وو.

**دوه ویشتم :** ګرانــه پاچا! هغـهٔ مبارک ته صدقه ورکوونکي دوه صدقات ورکړل چې دواړه سره برابر ول، برابر ول له میوې سره، او دواړو برابر پایله درلودله او تر ټولو اعلی میوې وې چې بل هر شي ئـې اعلی پایله درلودله – له دغو صدقاتو څخه تتها ګتا خپله برخه هغه مهال واخیستله چې دهٔ په خپله د کمال تر حده اعلی بوداتوب (تنویر) تر لاسه کړی وو او دا چې کله هغـهٔ خپله برخه واخیستله او مړ شو نو داسې مطلق مړ شو چې تر شا ئـې وروسته بل څه پاتې نــهٔ شول[5]. دا صدقات په فضیلت او ګټو ډک ول. ګرانـه پاچا! رب النوعو په دې هکله د فرحت او خوښۍ نارې وکړې :" دا د تتها ګتا

---

[1]- دلته د راګه ګهه شورا The Council of Râgagaha په دې معنی ده چې په هغې کې د پیټه که وو تلاوت کـېـدهٔ. په بودایي مصطلحاتو کې د تلاوت دغه شوری ګاني د سمجيتي یو Samgitiyo په نامــهٔ یادېدلې. خو دې ته تر ټولو ښه او پر ځای معنی یوازې هماغه شوری ده، ځکه عادي لوستونکي ته ښایي د تلاوت وییکی د پوهـېدا وړ نــهٔ وي- لیکوال

[2] - Kunda : هغه پیش یا مسګر وو چې بودا ته ئــې د هغـهٔ وروستي خواړه برابر کړل. تري وادا بودیزم وايي چې دا د خوک غوښه وو خو مهایانه وايي چې دا مرغـېړي ول. – ژباړونکی

[3] - Book of the Great Decease, IV, 23.
[4] - Book of the Great Decease, IV, 57, but with a slightly different reading.
[5] - Book of the Great Decease, loc. cit. The Simhalese gives the whole context in full.

وروستی خوراک دی چې وبه ئې خوري" او د تغذيې د غيبي ځواک په ويلو سره ئـې د خنزير د نازکې غوښې په خوړنګ پيل وکړ[1]. غوښه په خپله په ښـۀ حالت کې په روښانــه رنګ، مطبوعه، له خونده ډکه او د هضميت لپاره ښه وه[2]. د هغـۀ مبارک مړينه د هغې ناروغی له کبله نـۀ وه چې ورباندې راغله، دليل ئې دادۀ د بدن زښت ډيـر ضعف وو او دليل ئې دا وو چې ددۀ د ژوندانــۀ پړاو نور بشپړ شوی وو، او د بدن د ضعف له کبله ئـې ناروغي ورباندې راغله او له بده پسې بدتره شوه- ګرانـه پاچا کله چې يو عادي اور سوځي که ورباندې نور تيل وشيندل شي او يا د سون توکي ورزيات شي نو اور دوام مومي – او [۱۷۶] که په سيند کې د اوبو عادي بهير روان وي اوبـۀ به هماغسې په عادي ډول وبهـېـږي خو که دروند باران وشي نو له سيند څخه يو ځپانده سيند جوړيـږي او ځپې ئې راپورته کــېـږي او د توند - بهيرو اوبو لوی سيند ورڅخه جوړيـږي – او يا بدن د خپل عادي نس په اندازې هماغومره خوراک اخلي چې په کښې ځايږي خو که تر عادي کچې ډيـر وخوړل شي نو نس ورسره پراخــېـږي او درد هم پيدا کوي. نو ګرانـه پاچا! د هغـۀ مبارک د مړينې لامل د خوراک له کبله نـۀ وو چې دۀ ته ورکړل شو او تاسو په هـېـڅ ډول د خوراک د زيان نسبت ورتـه نـۀ شئ ورکولی.

**<u>درويشتم</u>** : خو ښاغلی ناګه سينا! پوښتنـه دا ده چې د خوراک دا دوه ډالی ولې دونې ځانګړی غوره والی لري؟

د هغو متعالي حالاتو په دليل چې د پام وړ پايله ورڅخه رامنځته شوه[3].

---

[1]- سوکره – مډاوه Sûkara-maddava. ددغـۀ نامـۀ په دقيقې معنی کې شک دی چې بودا ورڅخه د خپل وروستي خوراک په توګې خپله برخه اخيستې وه. مډاتي Maddati د موښلو، نښتـېـځلو، تر پښو لاندې کولو په معنی ده او هماغومره مبهمه ده چې هم د غوايي د غوښې کوفتې، د وحشي خوک د غوښې د کوفتې او هم د " خنزير د نازکې غوښې" معنی ورڅخه اخيستل کــېـږي او په دې ډول بـېـلابـېـلې معناوې ورڅخه تر لاسه کــېـږي. د سايلون د انورادهاپورې په مها ويهارې Mahâ Vihâra in Anurâdhapure, Ceylon کې د لغاتو د لنډون مفصله معنی په تشريح ورکړل شوې او اوس د مها اټهاکټها Mahâ Atthakathâ د کتاب وروستی برخه ده چې دهماپالي Dhammapâla په خپلې اتمې اوداني Udâna VIII, 5 کې راټول کړي او د پالي د ټولنې د ډاکټر ستينهال p. 81 of Dr. Steinthal's edition for the Pali Text Society په کتاب کې ورته نغوته شوې ده. زما په ګومان، دا به په دې معنی وي چې : " د خنزير هغه غوښه چې د نازکی او ښکلا له کبله تيته شوې وي" خو دا په خپله يوه مبهمه معنی ده او دهمپاله زياتوي چې د نورو خلکو په باور دا وييکی د خنزير او ان د غوښې په معنی نـۀ ده، ددې معنی د هندوستان د وياړ د بوټې bainbu plant په معنی ده چې نيالګی ئې خوک تر پښو لاندې کړی وي – نورې معناوې ئې يو ډول مرخـېـړي دي چې د خنزير تر پښو لاندې ځمکې باندې شنـۀ کــېـږي – بله معنی ئې يو ډول ځانګړې چکنې ده. چايلدرز د مډانه Maddana په ژباړې کې وايي چې دا وييکی ما په ' Buddhist Suttas' (pp. 71-73) ' کې د خنزير د وچې غوښې په معنی ژباړلی دی. خو حقيقت دا دی چې ددغـۀ وييکي حقيقي معنی تر اوسه څرګنده نـۀ ده. خو د فوسبول Fausböll. په وينا ددې وييکي معنی د مډَواني پوپهاني د دهماپدا په ۳۷۷ پاڼې کې Maddavâni pupphâni at Dhammapada 377 د وچ شوي يا رژېـدلي ګل په معنی ده. خو کـېـدی شي دا د " نازکو ګلانو" په معنی وي په ځانګړې توګې کله چې په سانسکريت کې ماردوه Mârdava وګورو چې تل د "نازک" ،"غمجن" او دې ته په ورته معانيو ويل شوی دی. له سوکره مډاوه څخه پرته، دا يوازينی وييکی دی چې په پالي کې په څرګنده معنی راغلی دی. دلته د سيمهالي په ۲۳۰ پاڼې کې چې د لغاتو لنډيز راغلی داسې ويل شوي دي : E tarunu wû ûru mamsayehi ليکوال

[2] - Gatharaggi-tegassa hitam. On this curious old belief in an internal fire see my 'Buddhist Suttas,'p. 260.

[3] - Dhammânumaggana-samâpatti-varena: which the Simhalese merely repeats. For Anumagganâ see the text above, p. 62, and Sumańgala Vilâsinî, p. 65.

ناګه سینا! تاسو د کومو حالاتو خبره کوئ؟

هغه نــهـۀ پرله پسې حالات چې لومړی یو په بل پسې په منظم ډول چې له منځه ئـــې تــېــر شول او بیا معکوساً بـــېــرته راغلل[1].

ناګه سینا! آیا دا دوې ورځې نـــۀ وي؟ چې په ترڅ کې ئـې تتها ګتا دغه حالات تر لوړې انتهایي کچې تر لاسه کړل؟

هو ګرانـه پاچا[2]

دا ښـت ډېـر په زړۀ پورې شی دی ناګه سینا، او ډېــــر هــېــښــنده او په ټولو ډالیو کې پرتمینــه ډالۍ ده چې زموږ پر "هغــۀ مبارک[3]" باندې رانازله شوې او له دغو صدقاتو سره بله هــېــڅ صدقه نـــۀ شي پرتله کـــېــدی. ډېـره حیرتناکه خبره دا ده سره له دې چې دا نـــهـــۀ پرله پسې حالات پرتمین دي نو همداسې دا ورکړل شوي صدقات هم دي، هماغسې چې اعلی پرتمینې [۱۷۷] میوې دي هماغسې ئـې ګټې هم تر نورو شیانو سترې دي.

ډېـر ښـــۀ ناګه سینا، هغه څه چې اوس تاسو وویل منم ئـــې.

[په دې سره د بودا د وروستۍ ناروغۍ معضله پای مومي]

[1] - See the full description in the Book of the Great Decease, VI, 11-13. ('Buddhist Suttas,' pp. 115, 116.) The Simhalese is here greatly expanded (pp. 230-233).

[2] - دلته نو زموږ لیکوال باید په دې فکر کې وي چې دا نهـۀ انوپوبه ویهاره ګانې Anupubba vihâras باید له هغو صدقاتو وروسته پـېــښ شوي وي چې ګاتما بودا ته د بو تر ونې Bo Tree لاندې له کښــېـناستلو مخکې ورکړل شول، خو زه په پیته ګانو کې زه داسې نقل قول نـــۀ وینم چې ددغې خبرې تائـید دې وربان‌دې وشي. د "انګریزي ــژ " متن د لومړي څپرکي په ۶۴ پاڼه د وینه یه د متن په هکله او را اخیستل شوي اقوال سره پرتله کړئ. لیکوال

د ژباړونکی یادونه : دله د "بو" له ونې څخه موخه د بودا ونه ده چې وروسته د بودایي ونې په نامــۀ هم یاده شوې ده. دا د اینځرو ونه ده چې ورلاندې ئـې بودا تــَـنـــَـور یا خبرتیا ته رســېـډلی وو.

[3] - Buddha-khette dânam : هغه ډالۍ چې بودا په کې د کرهنــیزې ځمکې تشبیه موندلې او پر بودا باندې نازله شوې یا شیندل شوې وې. لیکوال

# له آثارو سره مينـــه[]

**ځلورويشتم:** ښاغلی ناګه سينا! تتها ګتا ويلي دي :" اې آنندا! د تتهه ګتا د آثارو له درنښت څخه شا ته مـــۀ پاتې کـېـږئ.[1]"
او له بلې خوا ئـې ويلي دي چې :

" ددۀ د اثر درنښت وکړه چې ددرنښت وړ دی، په دې سره د عمل په کولو به تــۀ له دې نړۍ څخه جنت ته لاړ شې[2]."

اوس نو که لومړنی حکم صحيح وي نو الزاماً دويم هغه بايد غلط وي، او که دويم حکم صحيح وي نو لزوماً لومړی حکم بايد غلط اوسي. دا هم د يوې دوې استوې ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**پينځـــۀ ويشتم** : دواړه نقل قولونـه چې تاسو را واخيستل صحيح دي. خو دا ويناوې د ټولو انسانانو لپاره نـــۀ بلکه د سوبمن[3] د زامنو لپاره دي چې ويلي ئـې دي : اې آنند! د تتها ګتا له پاتې شونو څخه په درنښت کې ځانونـه شا ته مـــۀ غورځوئ[4]." د تقدس وړاندې کول د سموبمن [۱۷۸] د زامنو کار نـــۀ دی، بلکه ددوی کار د مضاعفو شيانو د حقيقي ماهيت استکمال دی، فکري ممارست، د ستي پټهانــــه له قواعدو سره سم غور او تأمل، د ټولو فکري کائـناتو د رښتوني هستۍ استيلاء، د شر پر وړاندې کوښښ، د خپلې (روحي) ګټې لپاره اخلاص. دا هغه شيان دي چې د سوبمن زامن ئـې بايد تر سره کړي، درنښت او تقديس نورو ته پرېـږدئ که ارباب الانواع دي که انسانان،[5].

**شپږ ويشتم** : ګرانـه پاچا! دا کټ مټ د ځمکي د مخ د شهزادګانو د کار په شان ده چې د ټولو فيلانو، آسونو، د جنګي بګيو، غـېـشو او ليندېو، ترميماتو، لاسوندونو او د مستملکاتو د قانون[6] په هکله زده کړه وکړي تر څو د کاتهيه[7] د عشايرو دودونــه پر ځای کړي او په خپله جګړې پر مخ يوسي، حال دا چې بزګري، سوداګري او د څارويو ساتنــه او پالنــه د عادي وِسس او سدِس[8] کارونه دي – يا همدا د برهمنانو د ژوند چارې دروا‌خله چې برهمنان او زامن ئـې په ريګويدا، يګور ويدا، سامه ويدا او اتهروه- ويدا[9] پورې اړه لري او (بدن باندې) د نيکمرغو نښو، اساطيرو[10]، پورانــه ګانو[11]، لغت ليکنـه يا

---

[1] - Book of the Great Decease, V, 24.

[2] - دا نقل قول د هغو پيټه ګانو په هـېـڅ يوۀ کې نـــۀ دی ليدل شوی چې تر دې دمه چاپ شوي دي – ليکوال

[3] - جيا پوټانم Gina-puttânam – چې د مذهبي ډلې غړي دي. ليکوال

[4] - دلته يو ځل بيا هينه تي کمبوري Hinati-kumburê د اړوندو حالاتو په اوږدې او مفصلې شرحې پسې ځي (پاڼې : ۲۳۳ – ۲۳۴) ليکوال

[5]- دا د را اخيستل شوي نقل قول د توسيع او د همعصره بدلون يوازېنی رښتوني بڼه ده – ليکوال

[6] - Lekha-muddâ. See the note above on I, 1, 10.

[7] - Khattiya

[8]- Vessas and Suddas: سدِس په پالي کې د سانسکريت سودِس Sūddas دي چې د بهارت د هندوانو او د برهمنانو د کست د ويش پر بنسټ د کارګرانو او ملازمينو پاړکه ده او وِسس د سوداګرو پاړکه ده – ژباړونکی

[9] - Rig-veda, the Yagur-veda, the Samâ-veda, the Atharva-veda

[10]- هينه تي کمبوري وايي د نومونو، ونو او نورو اسطورې – ليکوال

[11] - Purânas

ليکسيکوګرافي[1]، د بديع او عروضو علم، علم الأصوات يا فونولوژي، اشعار، ژبښويه يا ګرامر، صرف يا علم الأشتقاق، علم التنجيم يا ستوري پـېـژندنـه، د طوالعو[2] تفسير «فال ليدل»، د خوبونو او علايمو تفسير، د شپږو وِدانګه وو[3] زده کړه، خسوف او کسوف، د لکۍ لرونکو ستورو د الوت له مخې وړاندوييـنـه، د ارباب الانواعو تالندې او بريښناوې، د فلکي سيارو تقاطع، د ثاقبو شهابونو لوېـدنــه، د زلزلې، ستر او دراندۀ اورونـــه، په جنتونو کې او د ځمکې پر مخ علايم، د سوفسطايي فلسفي او علم الحساب زده کړه، د سپيو، غرڅو، موږکانو، د مايعاتو د ترکيب او د مرغانو د شخول له مخې د طوالعو / فالونو تفسير چې دا ټول د برهمنانو د زامنو کار دی- حال دا چې بزګري، سوداګري، د څارويو او نورو رمو څارنـه، روژنـه او پالنـه د عادي وسس او سډس چارې دي. نو ګرانـه پاچا! په دې ادراک چې " ځانونـــه هغو چارو ته ژمن مـــۀ ګڼئ چې ستاسو چارې نـــۀ دي او يوازې هغه وکړئ چې په تاسو پورې اړه لري" کټ مټ هماغه خبره ده چې تتها ګتا [۱۷۹] ويلې دي :" آننداد تتها ګتا د پاتي شونو له درنښت څخه شا ته مـــۀ پاتې کـــېـږئ." ګرانه پاچا! که هغـــۀ دا بيان نـــۀ وای کړای نو بهيکوګانو به کله چپن او کجکول اخيستی وای او د همدغو آثارو له لارې به ئـې د بودا مقدسه درنښت کولی[4]!

ډېـــر ښـــۀ ناګه سينا! څه چې تاسو وويل زه ئـــې منم.

[ په دې سره د آثارو د درناوې معضله پای مومي]

[1]- ايتيهاس Itihâsa سيمهالي متن وايي چې " براهتا Bhârata " او رامايانه Râmâyana دی – ليکوال

[2]- طوالع د صوفيانو په اصطلاح – لومړنی شی چې د بنده پر باطن باندې د الهي اسماءوو تجليات را پيدا شي نو د هغـــۀ اخلاق د باطن په نور باندې وپسولل شي. ژباړونکی

[3] - Vedâńgas : د معنی له مخې د " ويدا اعضاء" او د ويدا شپږ اضافي نظامنامې دي چې د ويدا له زده کړو سره يو ځای ويل کـېـږي- ژباړونکی

[4] - زموږ د ليکوال «د پالي د بنې د کتاب ليکوال» له بيانه داسې ښکاري چې دی د بودا د کجکول په هکله ، د هغـــۀ په درنښت د جشن چې پټا مها Patta-maha نومـېـدۀ هـېـڅ نـــۀ پوهـېـدۀ. د همدغـــۀ نقل قول له مخې څوک کولی شي ددغـــۀ کتاب د ليکلو د تأريخ په هکله ادعا او بحث وکړي. د څلور سووم زېږدېز کال په شاو خوا کې فاهين Fâhien مقدس کجکول په ټول پرتم او زور په پـــېـښــور کې ليدلی وو. وګورئ د فاهين سفر :
د انګريزي متن ليکوال ---- Chapter xii of his travels (Dr. Legge's translation, pp. 35-37)

# [د ډبرې ټوټه]

اووۀ ويشتم : ښاغلی ناګه سينا! تاسو بهيکوګان واياست چې : " کله چې هغه مبارک د ځمکې تر ګرد چاپېره وګرځېږد، که څه هم ځمکه بې سدۀ او بې حسه ده، خو همدې بې سدۀ ځمکې خپل ټول ژور ځايونه ډک او ستوغ ځايونه ورته پلن کړل.[1]" او له بلې خوا تاسو واياست چې پښه ئې د ډبرې له يوې ټوټې سره ولګېدله[2]. کله چې د ډبرې دا ټوټه ددۀ په پښې لګېدله نو ډبره ولې بلې خواته وانۀ وښتله او خپله لاره ئې بدله نۀ کړه؟ که دا خبره صحيح وي چې بې سدۀ ځمکه دې خپل ژور ځايونه ډک او ستوغ ځايونه ورته پلن کړي نو دا خبره بايد غلطه وي چې د ډبرې يوه ټوټه دې د هغۀ پښه ورژوبله کړي. خو که دا وروستۍ خبره صحيح وي نو لومړۍ هغه بايد الزاماً غلطه وي. دا يوه بله دوه استوې ستونزه ده چې ستاسو مخې ته ئې د حل لپاره ږدم.

**اتۀ ويشتم** : ګرانه پاچا! دواړه ويناوې صحيح دي. خو دا ډبره په خپل سر راونۀ لوېدله[3]، دا ډبره د ديوه دتا د عمل له کبله راوغورځېدله. ديوه دتا د سلهاوو زرو ژوندونو په لړ کې په خپل زړۀ کې د هغۀ مبارک پر ضد کينه درلودله[4]. د همدې کرکې په لړ کې ول چې ديوه دتا يوې زښتې لويې ډبرې ته ډډه ورکړه او په دې هيلې ئې تېل وهله چې د بودا پر سر به راپرېوزي. د دې ډبرې « د کولېدلو پر مهال – ژ» مخکې له دې چې تتها ګتا ته راورسېږي دوې نورې ډبرې سره يو ځای شوې او له راکولي شوې ډبرې سره برابرې شوې؛ له يو بل سره ددبرو د لګېدلو پر مهال له يوې ډبرې څخه يوه ټوټه ماته او د هغۀ مبارک [۱۸۰] پر لور راوالوتله او د هغۀ مبارک پر پښې باندې وموښتله.

**نهۀ ويشتم** : خو ناګه سينا! هماغسې چې دوې ډبرې د لويې ډبرې مخې ته ولوېدلې نو د ډبرې دا ټوټه هم کېدی شوای چې د لويې ډبرې مخې ته ودرېږي.

ګرانه پاچا! يو شی چې د بل شي مخې ته ودرېږي يا ورباندې وموښلي، کېدی شي يوه پرخچه يا ټوټه ورڅخه والوزي او يا د ټکر پر مهال لاره بدله کړي او يا وتښتي- وګورئ اوبو ته، يوه لپه اوبۀ راپورته کړئ او وګورئ چې د اوبو څاڅکي مو له لاسه څاڅي که نه- يا شيدې يا شړومبې يا انګبين ، يا غوړي، يا د کب، کورکمن او د بينډيو قورمه، يا ټينګه ښوروا درواخلئ- يا د نريو شګو له دوړو سره يو ځای وړوکي شګې په لپه کې واخلئ او بيا مو لپه وتړئ نو هرو مرو ډېر څه مو له لاسه ووځي- يا همداسې وريجې درواخلئ چې که په موټې کې ئې واخلئ او يا ئې خولې ته کړئ يو څه دانې به مو له لاسه لاندې ولوېږي.

**دېرشم** : ښه نو ناګه سينا، همداسې به وي. او منم چې ډبرې له يو بل سره وموښتلې. خو د ډبرې دغې بېلې شوې ټوټې به د بودا هماغومره درنښت کړی وای چې ټولې ځمکې وکړ.

---

[1] - دا نقل قول په هېڅ يوې پيټه کې کې نۀ دی موندل شوی – ليکوال

[2] - Kullavagga VII, 3, 9. Compare the Samyutta Nikaya I, 4, 8 ; IV, 2, 3 (pp. 27 and 110 of M. Lėon Feer's edition for the Pâli Text Society

[3] - Attaro dhammatâya.

[4] - So above, IV, 2, 64, and below, IV, 4, 41.

گرانـه پاچا! دولس ډوله کسان دي چې چا ته درنښت نــۀ لري – شهوتپال په خپل شهوت کې، قهرېـدلی په خپل عناد کې، لټ او کم عقله په خپل حماقت کې، په ځان غره او متکبر سړی په خپل غرور کې، بد سړی په خپل غوښت او تبعیض پالنې کې، سرزوری سړی په خپل غوښت او خپلې حاضرجوابۍ کې، سپک او ناکسه سړی په خپل بخل او ټیټوالي کې، کړتن او ډېـر غړېـدونکی سړی په خپل بې ښمر توب او بې گټې توب کې، شریر انسان په خپل قساوت او ناتار کې، ذلیل انسان په خپل ذلت او بدبختۍ کې، جوارگر/ قمار باز [۱۸۱] ځکه چې د سراښتوب او حرص په منگولو کې راایسار دی، او بوخت سړی چې تل د یوې گټې په لاسته راوړلو باندې لگیا دی. د ډبرې هاغه ټوټه چې د نورو ډبرو د ټکر له کبله له یوې ډبرې څخه جلا شوه د هغــۀ مبارک پر پښې باندې تصادفاً[1] په داسې لارې برابره شوه چې ناڅاپه ئـې پر پښې باندې برابره شوه – هماغه د نرمو او وړوکو شگو بـېلگه راواخلئ کله چې د باد په زور خوځول کـېـږي او باد ئـې پسې اخلي نو ټوټې ئـې هرې خوا ته ځغلي او یوې یا بلې خوا ته لوېـږي. گرانـه پاچا! که د ډبرې دا ټوټه د نورو ډبرو د ټکر پر مهال له بلې ډبرې څخه نــۀ وای راجلا شوې نو هماغلته د ډبرو د لگـېدلو پر مهال به له نورو سره پاتې شوې وای. نو دا ډبره نــۀ پر ځمکې باندې ثابته پاتې شوه او نــۀ هم په هوا کې درېـدلې پاتې شوه او د ټکر د اغیز له کبله خپلې خوا ته لاړه او د تصادف له کبله د هغــۀ مبارک پر پښې باندې وموښتله – کټ مټ لکه د ونې یوه وچه پاڼه چې بوړ بوړوکی باد ئــې پسې واخلي. د هغــۀ مبارک پر پښې باندې د ډبرې د ټوټې لگـېدل د نمک حرامه او شریر ډیوه ډتا غملړلي دوزخي[2] کار وو.

ډېـر ښــۀ ناگه سینا! همداسې ده؛ هغه څه چې تاسو وویل زه ئـې منم.

---

[په دې سره د ډبرې د هغې ټوټې معضله پای مومي چې د بودا پر پښې باندې لگــېـدلې وه]

---

[1] - Animitta-kata-disâ, which the Simhalese (p. 238) merely repeats.

[2] - Dukkhânubhâvanâ: په غم ککړ ډیوه ډتا چې متعاقبه هستي به ئـې په برزخ کې وي – لیکوال

## سـَــمـَــــنـــهٔ [1]

**يودبــرشم** : ښاغلی ناګه سينا! هغــهٔ مبارک ويلي دي : " يو څوک هغه مهال سمنــه کــېــدای شي چې آسَــوَه[2] ګاني[3] په خپل باطن کې ووژني." له بلې خوا وايي چې :

"هغه څوک چې په دغو څلورو واړو حالاتو پوه وی
نو هغه څوک دی چې سمنــه پــېــژني[4]"

په دغــهٔ نقل قول کې څلور ډولو حالاتو ته نغوته شوې ده : - اوږد مهاله کړاو، په خوراک کې اعتدال، پريکون[5]، او له ضمايمو او متعلقاتو[6] پرته اوســېــدل (چې له شهوت، بدنيتۍ او لټۍ څخه راپيدا کــېــږي.) اوس نو که وګورو دغه څلور واړه حالات په برابر ډول تر اوسه په هغو کسانو کې موندل کـــېــږي چې نيمګړي او معيوبه دي، په دغو کسانو [۱۸۲] کې آسوه په بشپړ ډول له منځه نــهٔ ده تللې. له دې کبله که لومړنۍ وينا سمه وي نو دويمه هغه الزاماً بايد غلطه وي، او که دويمه صحيح وي نو لومړۍ بايد غلطه وي. دا هم د يوې دوه استوۍ ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئــې د حل لپاره ږدم.

**دوه دبــرشم** : ګرانــه پاچا! د هغــهٔ مبارک دواړه ويناوې چې تاسو يادې کړې صحيح دي. خو دويمه هغه ئــې د داسې او هاغسې کسانو د ځانګړتياوو يا مشخصاتو په هکله ده؛ لومړنۍ وينا يوه عمومي اظهاريه ده- يعنې په هغو کسانو کې چې آسوه ګان له منځه تللي وي هغوی سمنــه ګان دي. او ددې تر څنګ، ټولو هغو کسانو چې په خپل باطن کې ئــې د شرارت اور په بشپړ ډول وژلی وي، او که تاسو دغه ځانګړتياوې يو په بل پسې په پر له پسې ډول راواخلي نو سمنــه هغه څوک دی

---

[1] - Samana : سمنه د بوديزم په مصطلحاتو کې اووهٔ ډوله تعريف شوې ده :۱- تحت اللفظي معنی : هغه څوک چې د ټولنيز ژوندانــهٔ ورځنی دوديز ژوند شاته غورځوي چې له طبيعت سره په ميزان «سمنه» او برابرئ ژوند وکړي. ۲-په پالي کې سمنه او په سانسکريت کې سرَمَّنه يا شرَمنه ويل شوی او معناوې ئــې تصوف او صوفي کــېــدل دي. ۳- الف: د هغو ډيوه ګانو ډله ده چې د مها سميه موعظې ته غوږ نيسي. ب : د کاکوسندهه بودا يو لوی عامی ساتونکی. ج : د پاچا کيکي مشره لور. ۴- هغه څوک چې سپيڅلی ژوند پيل کړي. ۵- په پالي کې شرمنه هغه لالهانده مانک دی چې په دښتو کې ګرځي او هغه څوک دی چې د دنيا د پرېښودلو وعظ کوي او خلک تصوف ته رابولي تر څو روحي پرمختګ او خپلواکي تر لاسه کړي. ۶- الف: سمنه زاهد. ب: سمني : راهبه ج: سمانه : برابر، مساوي، ورته. ۷- تارک د دنيا او همدو ورته نورې معاني وې. دلته موخه پينځمه معنی ده- ژباړونکی

[2]- آسَوه د شهوانيت، فردانيت، توهم او جهل په معنی ده. زه نــهٔ پوهــېــږم چې په دغــهٔ نقل قول کې موخه کومه معنی ده – ليکوال

[3] - Âsavas : د بوديزم په اصطلاحاتو آسوه دنيوي ژوند او شتمنۍ ته د ليونۍ ليوالتيا په معنی ده چې وغواړي ورته ډېــرې راشي، دنيوي پرتم او اغيز وغواړي، په ذهني فساد کې ډوب وي، هغه څوک چې د سماره په نړۍ کې ډوب وي – ژباړونکی

[4]- دا نقل قول په متنونو کې تر اوسه نــهٔ دی موندل شوی – ليکوال

[5] - Vippahânâ, not in Childers, but see Sutta Nipâta V, 14, 4, 5. Hinati-kumburė (p. 239) renders it âlaya hœrîma.

[6] - Akinkańńa: ددرو يادوشويو کينکناوو نــهٔ درلودل. هينه تي کمبوري ئــې په ۲۳۹ پاڼې کې د آکينکايتنه Âkińkâyatana د فکري عبادت تمرين بولي. خو که معنی ئــې دا وای نو په متن کې به په همدې ډول چې هينه تي کمبوري ياده کړې راغلې وای – ليکوال

آسوه ګان ئـي له ځانـه رټلي دي او دا ددې تصديق دی چې دی قائـد او مخکښ دی – ګرانـه پاچا! ګلانو ته وګورئ چې ټول په اوبو او ځمکې کې شنـــهٔ کـېږي، په دوی کې غبرګ چمبـــېـلی[1]/ ياسمين مشر او قائد پـــېـژندل شوی، نور ټول ګلان که هر ډول وي يوازې ګلان دي او که تاسو دا ټول يو په بل پسې راواخلئ نو ډېـري خلک يوازې غبرګ چمبـــېـلی غواړي او خوښوي ئـي. يا ګرانـه پاچا! تاسو د ټولو غلودانو يا حبوباتو ډولونـه راواخلئ خو ددوی په منځ کې وريجې مخکښې دي، پاتې نور حبوبات که هر څه وي [۱۸۳] يوازې دانې دي، او ټولې ئـي د خوراک او د بدن د مقاومت لپاره ګټور دي خو تاسو دا حبوبات ټول يو په بل پسې راواخلئ د ټولو په منځ کې تر ټوله ښه دانـه وريجې دي.

ډېـر ښـهٔ ناګه سينا! تاسو چې څه ووېل زه ئـــي منم.

---

[ په دې سره هغه معضله پای مومي چې سمنـــهٔ جوړوي ]

---

[1] - Varsikâ (Dœsaman mal, jasminum zambac).

# د بودا شور او ویاړ[]

**دري دېـرشم :** ښاغلی ناګه سینا! هغـهٔ مبارک ویلي دي : " اې بهیکوګانو! که ستاسو په منځ کې هر یوهٔ زما، یا زموږ د دین «دهما» یا د قانون ستاینـه وکړه نو تاسو ته نـهٔ ښایي چې فکري ښادي، خوښـي یا فکري ویاړ وکړئ[1]" او له بلې خوا تتها ګتا هغه مهال محظوظ، خوښ او په هلهلو کې ډوب شو کله چې برهمن سِله[2] ددهٔ ستاینـه وکړه او ددې ستاینې په غبرګون کې دهٔ د خپل ځان په ستایلو کې لا نور وړاندې لاړ او وئـې ویل :

" سِله! زه پاچا یم، ستر پاچا
د عدل او ښـېـګڼـو.
ګرځومه
څرخ
د سلطنتې بګۍ
په عدل او ښـېـګڼـو –
داسې څرخ چې
نور
هـېـڅ څوک ئـې بـېـرته
په شا نـهٔ شي ګرځولی![3]"

اوس نو که لومړنی را اخیستل شوی نقل قول صحیح وي نو الزماً دویم هغه باید غلط وي، خو که دویم صحیح وي نو لومړی باید غلط وي. دا هم د یوې غبرګې دوې استوې ستونزې په شان ده چې تاسو مخې ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**څلور دېـرشم :** [۱۸۴] ګرانـه پاچا! ستاسو دواړه را اخیستل شوي اقوال صحیح دي. خو لومړنی نقل قول هغـهٔ مبارک په دې موخه فرمایلی چې بیان وکړي په صدق، دقیقاً له حقیقت او واقعیت، احساس او ادراک، طبیعي حقیقت، ذات او جوهر او د دهما د ځانګړتیاو له علایمو سره په سمون کې. او دویم نقل قول ددې لپاره نـهٔ دی ویل شوی چې شهرت تر لاسه کړي، او نـهٔ ئـې د روح لپاره ویلی، نـهٔ ئـې په دې هیلې او توندې ویلی چې انسانان دې ددهٔ پیروان شي. بلکه د رحمت او مینې او د

---

[1] - From the Brahma-gâla Sutta in the Dîgha Nikâya (I, 1, 5).
[2] - Sela the Brahman
[3] - په دربېمې سوتا نیپاته Sutta Nipâta (III, 7, 7 کې له سِـله سوتا Sela Sutta څخه : پوهاند فوَسبول Professor Fausböll په خپلې ژباړې ستنزه stanza (at vol. x, p. 102 of the 'Sacred Books of the East') کې هغـهٔ ټکي ته نغوته کوي چې د بودا همدا وینا د یحیحی ع John xviii. 37 له وینا سره برابره ګڼي. [تــهٔ وایې له هغې ورځې چې زه زېـږېـدلی یم، تر اوسه زه پاچا یم.] [د همدې لپاره زه دې نړۍ ته راغلی یم چې د رښتیا او عدل شاهد اوسم. ] دلته که څوک د " رښتیا یا حقیقت" وییکی په پالي ژبې وژباړي نو په دقیق ډول به هماغه د دهما، عدل، دین، حقیقت، بنسټیزې ځانګړتیاوې" وژباړل شي. همدا متن د پوهاند فوسبول په ژباړې کې داسې دی : اې سِله زه پاچا یم، یو بې ساری مذهبي " دهماراګه Dhamma-râga" پاچا، چې په عدل " دهما" ولاړ دی. زه څرخ تاووم، هغه څرخ چې پیاوړی دی او څوک ئـې مقاومت نـهٔ شي کولی" لیکوال

نورو د لید لوري د ښـېـګـنو لپاره ئـې ویلي، په دې ادراک چې په دې به درې سوه ځوان برهمنان د حقیقت علم تر لاسه کړي چې ویلي ئـې دي :" سِلِه زه پاچا یم، ستر پاچا د عدل او ښـېـګـنــې."

ډېــر ښــهٔ ناګه سینا! همداسې ده، هغه څه چې تاسو وویل زه ئـې منم.

---

[په دې سره د فکري ویاړني معضله پای مومي]

---

# [لطف او عاقبت]

**پینځه دېــرشم** : ښاغلی ناګه سینا! هغه مبارک فرمایلي چې :"

" هــېــڅ چا ته ضرر مــهٔ رسوئ
په نړۍ کې په میني او مهربانۍ ژوند وکړئ.[1]"

له بلې خوا ئـې ویلي چې :" هغــهٔ چا ته سزا ورکړئ چې د سزا[2] ورکولو وړ وي او په هغه چا مرحمت وکړئ چې د مرحمت وړ وي" [١٨٥] اوس نو ناګه سینا خبره دلته ده چې سزا ورکول د چا د لاس یا د پښو د پرېکولو، څوک په متروکو وهلو[3]، بندي کولو، شکنجه کولو[4]، اعدامولو، د چا د مقام د راټیټولو[5] په معنی ده. داسې یوه وینا د هغــهٔ مبارک له شأن سره نــهٔ ښایي او هغه مبارک نـــهٔ باید داسې ویلي وي. ځکه که لومړنی قضیه صحیح وي نو دا بله ئـې باید غلطه وي خو که دا بله صحیح وي نو الزماً دا قضیه چې چا ته دې ضرر ونــهٔ رســېــږي، او د مهربانۍ او میني په نړۍ کې دې څوک ژوند وکړي، باید غلطه وي. دا هم د یوې دوه استوۍ ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**شپږ دېــرشم** : لویه پاچا، هغــهٔ مبارک دواړه احکام ورکړي چې تاسو دلته رانقل کړل. لومړنی حکم وایي چې هــېــڅ چا ته تاوان مـــهٔ رسوئ او د میني او مهربانۍ په نړۍ کې ژوند وکړئ – دا هغه دکتورین دي چې ټولو بوداګانو تصدیق کړي دي. دا حکم د دهما د راڅرګندولو حکم دی- ځکه دهما ځانته خپله خپله ځانګړتیا لري او د تاوان په نــهٔ رسولو ټینګار کوي. له

---

[1] - From the 521st Gâtaka.

[2]- هغه پیچلتیا چې ددغــهٔ نقل قول په ابهام کې شته  لاندې به ولیدل شي. لیکوال

[3]- ودها Vadha په معنی کې مبهمه ده او بله معنی ئـې وژل هم ده. سیمهالي متن ئـې ډېــر تکراروي. لیکوال

[4] - کارّنا Kâranâ هینه تي کمبوري Hinati-kumburė ئـې توئـلیما tœlîmaya یعنې د متروکو وهلو په منی ژباړې- لیکوال

[5] - سنتاتي ویکو پنم Santati-vikopanam تحت اللفظي معنی ئـې " د ژوند دوام ته د تاوان رسولو" په معنی ده. هینه تي کمبوري وایي چې "د ژوندانـــهٔ تداوم ته د ضرر رسولو" په معنی ده، او کــېــدی شي مؤلف دې ته لـېــواله وو چې په خپلې لیکنې کې مترادف لغات وکاروي چې په حقیقت کې هماغه یوه معنی ښندي. خو زما په اند سنتتي د " سطربندۍ او نسب" په معنی هم ده، دا اصطلاح کــېــدی شي په برابره هماغه معنی ولري چې د سزا ورکولو معنی وښندي چې ما په پورته ډول په متن کې ژباړلی دی- لیکوال

دې کبله دا وينا نيغ په نيغه ورسره سمون لري. خو دويم حکم چې تاسو رانقل کړ خپل مشروط کاروَنګ لري [ چې سمه معنی مو ورڅخه نــهٔ ده اخيستې. ددې رښتوني معنی دا ده : " مطيع کړئ چې بايد مطيع شي، ورپسې کوښښ وکړئ، وئــې کــَـرئ، هغه ته پاملرنــه وکړئ چې د هاند او هڅې، د بذر او تصديق وړ وي[1]"]. لويه پاچا! وياړجن زړهٔ بايد مطيع شي، او پر ځای ئـې بايد مطيع زړهٔ وکرل شي – شرير زړهٔ بايد مطيع شي او پر ځای ئـې د ښــېــګــڼــې زړهٔ وکرل شي – فکري اِهمال بايد مطيع شي او پر ځای ئـې بايد فکري دقت وکرل شي – [۱۸۶] هغه چا ته چې غلط افکار ورکړل شوي بايد مطيع شي او پر ځای ئـې بايد هغه څوک ورڅخه جوړ شي چې ښـهٔ او صحيح افکار ئـې تر لاسه کړي وي – هغوی چې شريف او اصل نــهٔ دي بايد مطيع شي، او پر ځای ئـې بايد د شرافت تخم وکرل شي – غل[2] بايد مطيع کړی شي او پر ځای ئـې بايد صادق ورور وکرل شي.

**اووهٔ دبــرشم :** راځه ستا خبره دې همداسې وي او وبه ئـې منم ناګه سينا. خو اوس تاسو په خپلو خبرو کې ځان زما په ګوتو کې راکړ او هغــهٔ ټکي ته راوګرځــېـدلئ چې ما خپله پوښتنــه راپورته کړې وه. وګورئ ښاغلی ناګه سينا! غل دې د هغه چا له پلوه بايد مطيع شي چې د هغــهٔ د مطيع کــېــدلو لپاره کار وکړي؟

لويه پاچا! که په تأديب کــېــږي نو پرېــږدئ چې تأديب شي، که په جريمه کــېــږي نو پرېــږدئ چې جريمه شي، که د تبعيد وړ وو نو پرېــږدئ چې تبعيد شي، او که د وژلو وړ وو نو پرېږدئ چې ووژل شي.

چې داسې ده ناګه سينا، اوس نو پوښتنــه دا ده چې آيا د غلو اعدامول د تنها ګنا ګانو د دکتورينو کومه برخه ده؟

څرګنده ده چې نه ګرانــه پاچا

چې نــهٔ ده نو ولې تنها ګناګانو دا ويلي چې غـلــهٔ ته دې د بهتره کــېــدلو لاربښوونــه وشي؟

ګرانــه پاچا! هر هغه څوک چې اعدامــېږي داسې څوک دی چې اعدام دې شي خو ددهٔ اعدامــېـدل د تنها ګنا ګانو د رأئــې او ليد لوري پر بنسټ نــهٔ تر سره کــېــږي. ددهٔ اعدامــېـدل ددهٔ د خپلو اعمالو پر بنسټ کــېــږي، دی به د خپلو اعمالو پر بنسټ کړول کــېــږي. که ددهما دکتورين يوې خواته کــېـږدو چې د «د بودا له پلوه ئـې» [3] لاربښوونه شوې، لويه پاچا! آيا د يوهٔ انسان لپاره چې هــېــڅ غلط عمل ئـې نــهٔ دی تر سره کړی، او بې ګناه په لارې روان وي، دا شوني ده چې بندي دې شي او د يوهٔ عاقل انسان له پلوه دې په مرګ محکوم شي.

---

[1] - اري يو Ariyo او ان اريو anariyo له تخنيکي اړخه په دې معنی کاروَل شوي چې هغوی اصليت نــهٔ لري او شريف نــهٔ دي او هغه ئـې چې لري يعنی اري يو دي نو د شرافت اتــهٔ استوې لارې Noble Eightfold Path ته ننوتلي دي – ليکوال

[2]- کورو: Coro : ښايي دلته تلويحاً د قانون غړي ته چې ارزښت ئـې لري، کاروَل شوی وي، او عادي متدين ته تاوان اړوي. له دې کبله دا وييکی دلته د بــېـلګې په توګه د څلورمي پاراګيکا Pârâgikâ (د سوټا وِيبهانګه Sutta Vibhańga) د قصې په پيلنيزې معرفتي برخې کې کاروَل شوی چې په کې څلور ډوله مذهبيان " غله" له يو بله بــېــل شوي دي (پرتله کړئ : زمونږ قصه چې د پسو په جامو کې د ليوهٔ قصه ده). خو پاچا ئـې په تحت اللفظي ډول را اخلي. ليکوال

[3]- په قوسينو کې راغلي کلمات د هينه تي کمبوري د لغاتو له ټولګې څخه دي – ليکوال

ځرګنده چې نـه

ولې؟

ځکه چې دی بې ګناه دی

همدا خبره ده لویه پاچا چې غل د تتها ګتا د وینا له مخې په اعدام نــهٔ محکومــېږي، بلکه د غلــهٔ د خپل عمل له مخې ده چې دهٔ ته دا سزا ورکول کــېږي، ځنګه کــېدی شي چې په دې شرحې کې هره خطا دې برناحقه د ولي الأمر پر غاړې ولوېــږي؟

ځرګنده ده چې نــهٔ شي کـــېدی صاحبه

اوس نو تاسو په خپله ګورئ چې د تتها ګتاګانو لاربښوونې په حقه دي.

ډېــر ښــهٔ ناګه سینا! تاسو چې څه وویل زه ئـې منم

---

[په دې سره د مهرباني او عقوبت ستونزه پای مومي]

---

# [د شيخانو شړل]

**اتـــهٔ دېــرشم** : ښاغلی ناګه سينا، هغـهٔ مبارک ويلي چې :

" په فکر کې مې نـهٔ قهر شته او نـــهٔ تريووالی[1]"

خو له بلې خوا تتها ګتا دوه تنـه شيخان سري پوتا او موګه لانـه[2] له نورو ورونو سره چې ددوی د مريدانو ډله ئـې جوړوله وشړل[3].

ښه ناګه سينا! [١٨٧] آيا تتها ګتا دا مريدان د قهر په حالت کې بـېـرته ولـېـږل[4] او يا ئـې د خوښی په حالت کې؟ راته رښتيا ووایاست، او شرحه کړئ چې دا پـېـښـه څنګه وه[5]. څکه ناګه سينا، که دهٔ دا خلک د قهر په حالت کې شړلي وي نو تتها ګتا په دې نـهٔ دی توانــېـدلی چې په خپل ځان کې د قهرېدلو لپاره ټول مسؤوليت را ايسار کړي. له بلې خوا که دوی ئـې د

---

[1] - From the Dhaniya Sutta in the Sutta Nipâta (I, 2, 2).
[2] - Sariputta and Moggallâna
[3] - دلته هغـهٔ فرعي داستان ته نغوته شوې چې په مګه هيمه نيکايه Maggkima. Nikâya, No. 67 کې موندل کـېـږي. هينه تي کمبوري ئـې بشپړه شرحه ورکوي. بودا د ساکيا Sakyâ ښارګوټي ته نـېـږدې په يوهٔ ځای کې چې کاتوما Kâtumâ نومـېـدهٔ د آمه لکي Âmalakî په بڼ کې اوسـېـدهٔ. دغـهٔ بڼ ته دا دواړه مشران له خپلو پينځو سوو مريدانو سره يو ځای د بودا ليدنګ ته راغلل چې ورسره وغږېـږي او په بودا ئـې غږ وکړ. بڼ- استوګنو بهيکوګانو ورته د لاسونو په پړقولو ښـهٔ راغلاست وويل او لويه غوغا جوړه شوه. بودا پوښتنه وکړه چې دا د غوغا غږ د څه لپاره جوړ شوی، کټ مټ لکه د کب نيوونکو د ژامو کړپهار چې له سينده د کبانو ډک جال راوباسي. آنندا ورته د حال وويل. په پای کې بودا ټول ورونه سره يو ځای راوغوښتل، او د چوپتيا د ګټو په هکله ئـې ورسره خبرې وکړې او راغلي مـېـلمانـهٔ ئـې ولـېـږل. دوی په ښارګوټي کې عامه استوګن ځای ته د دمې کولو لپاره لاړل. د ښار خلکو پوښتنه وکړه چې ولې «ئـې رخصت کړئ – ژ» کله چې خلکو ددوی دليل واورېـد نو بودا ته ورغلل چې که ديني ورونو تاسو ځورولي ياست دوی وبخښئ. دا پـېـښـه لاندې IV, 4, 41 د يوې بلې پوښتنې پر بنسټ راغلې ده – ليکوال

[4] - پنامِسي Panâmesi د بوديزم د قانون په حقوقي تخنيکي مصطلحاتو کې د " رسماً شړلو، لـېـږلو، او اجازه ئـې ورنـهٔ کړه چې نور دې ددهٔ مريدان يا شاګردان وي" په معنی ده. ددې تخنيکي اصطلاح د معنی په هکله پرتله کړئ : مهاوګه Mahâvagga I, 2, 27 او کولاوَګه Kullavagga XII, 2, 3. (چايلدرز ددې وييکی کارَول نـهٔ ورکوي). له دې سره سره د هغو حالاتو انګـېـرنه ماته ګرانه ده چې بودا دې خپل دوه تنه مريدان په دې ډول شړلي وي. له دې کبله زما په باور موږ ته ښايي چې دا وييکی يا لغت په خپلې غير رسمي معنی ومنو- د بـېـلګې په توګې موږ ئـې کارَول په تيره ګاتها Thera Gâthâ 511, 557. کې موندلی شوي. ليکوال

[5] - ايتم تاوه ګاناهي ايمم ناماتي Etam tâva gânâhi imam nâmâti. زه د هينه تي کمبوري Hinati-kumburė د ژباړې ۲۴۴ پاڼه وينم او د همداسې سختې اصطلاح په معنی پسې همدې ژباړې پسې ځم؛ د همدې ژباړې له مخې د پنامسي Panâmesi په وييکي پسې د جملې د پای ټکی باید وي، او په دغو لغاتو کې دا خبره بايد د ميليندا له پلوه ناګه سينا ته ويل شوي وي. خو زه د کمبوري د ژباړې له دې برخې سره بشپړ قناعت نـهٔ کوم او کـېـدی شي په اصل متن کې کوم ورانی يا بدلون وي. ليکوال

خوښی په حالت کې شړلي وي نو دا کار ئـې په بې اعتنائيي کې، د کوم اړوند علت له لرلو پرته کړی دی. دا هم د يوې دوې استوې ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**نـهـۀ دبـرشم** : ګرانـه پاچا! هغـۀ مبارک ويلي چې : " په فکر کې مې نـۀ قهر شته او نـــۀ تريووالی." او شيخان ئـې د هغوی له مريدانو سره شړلي دي. خو دوی ئـې د قهر له کبله نـۀ دي شړلي. ګرانـه پاچا! داسې وانګـــېـرئ که يو سړی په لارې روان وي او پــښه ئـې په کومې جرړې، په کوم لرګي، په يوۀ مات کودړي يا په نا هموارې ځمکې کې بند شي او پړ مخې پر ځمکې ولوېږي. دلته نو دا دونې پلنـــه ځمکه پر دۀ باندې په قهر ده چې دی ورباندې راولوېـد؟

نـه صاحبه. همدا پلنـه ځمکه نــۀ ورباندې په قهر ده او نـــۀ ددۀ پر لوېـدلو باندې خوښه. ځمکه له بدنيتی فارغه ده او نـۀ دې ته اړتيا لري چې چا ته غوړه مالي وکړي. دی چې لوېـــدلی دی ددۀ د خپلې ناپامی له کبله ده.

لويه پاچا! همداسې تتها ګتا هم وو چې نـۀ ئـې د چا پر ضد قهر درلود او نـــۀ ئـې په چا ويار. تتها ګته ګان او ارهت ـ بوداګان ټول له يوې مخې په يوۀ شان له بدنيتی، او چا ته له غوړه مالی او تملق څخه فارغ دي. او دا مريدان چې ددۀ له پلوه بـېـرته لــېـږل «شړل- ژ» شوي ول ددوی د خپلو کړنو له کبله ول. سمندر ته وګورئ چې له جسد سره کومه اړيکه نــۀ لري. ښايي په سمندر کې کوم جسد وي او د سمندر وچې غاړې ته ئـې راوړي. آيا د سمندر غاړې[1] ته په بـېـرته راوړلو کې کوم قهر نغښتی دی؟

څرګنده ده چې نـه. لوی سمندر نــۀ د چا پر وړاندې د قهر احساس لري او نـــۀ په چا خوشحالــېـږي. سمندر د چا د خوښی په لټون کې نـــۀ دی، په ټوله کې، سمندر د چا د خوښولو او يا چا ته د تاوان په رسولو کې نـۀ دی هغه له دغو شيانو فارغ او آزاد دی.

لويه پاچا! تتها ګتا ګان هم همداسې دي چې د انسان پر وړاندې نــۀ د قهر احساس لري او نـــۀ د هـېـڅ انسان په زړۀ کې د خپل ايمان د ځايولو احساس. تتها ګتاګان او ارهټ ـ بوداګان له دې غوښت او هيلې فارغ دي چې د کوم چا پر وړاندې روغ نيتي ولري او يا چا ته دې تاوان ورسوي. دا مريدان چې بـېـرته ولــېـږل شول ددوی د خپل چلند له کبله ول. لويه پاچا، دا کټ مټ لکه هماغه سړي غوندې ده چې په لارې روان وو او پــړ مخې راپرېوت، دوی هم د سوبمن د ښوونو د عالي لارې په لړ کې وښوَيـــېـدل او بـېـرته ولــېـږل شول. يا لکه د لوی سمندر په لمن کې چې سمندر يو جسد د سمندر غاړې ته راوړي [۱۸۸] نو دوی هم د سوبمن د ښوونو د عالي لارې په لړ کې ډوب شوي ول او د ښوونو څپو بـېـرته د سمندر غاړې ته راوړل. او کله چې تتها ګتا دا مريدان بـېـرته ولــېـږل ددوی د ښــېـګـنې لپاره، ددوی د ګټې او خوشحالۍ او تطهير لپاره ول او ان په دې ډول ول چې دوی ته رستګاري د زېـږون له مهاله تر زړښت پورې، تر ناروغۍ او مرګ پورې ورسـېـږي.

---

[1]- دا فرضي حقيقت په کولاوګه kullavagga IX, 1, 3, 4 ('Vinaya Texts,' III, 303). کې لا وختې د پرتلې / مقايسې بنسټ دی. ليکوال

ډېـر ښـــهٔ ناگه سینا! تاسو چې څه وویل زه ئــې منم.

---

[په دې سره د شیخانو د شړلو معضله پای مومي]

---

دلته درېیم څپرکی پای مومي

# ځلورم کتاب

# ځلورم څپرکی

## [د موګه لانـه قتل][1]

**لومړی** : ښاغلی ناګه سینا!، هغــهٔ مبارک ویلي دي :" اې بهیکوګانو، په دین کې زما د مریدانو په منځ کې هغه څوک رئیس او مشر دی چې د ایدهي[2] ځواک ولري، او زما موخه موګه لانــه دی.[3]" خو له بلې خوا دوی وایي چې د موګه لانــه مرګ د ، هغــهٔ په حضور کې تر سره شوې تر دې چې موګه لانـه په سوټیو وهل شوی، د سر کوپړۍ ئـې ماته شوې، او هډوکي ئـې په پودرو بدل شوي ول او د جسد غوښې او عصبي رګونه ئـې دوني تک شنـهٔ اوښتي ول چې د چا خبره د هډوکو له پودرو سره اخـېـږ شوي ول[4]. اوس نو ناګه سینا، که شیخ، ستر موګه لانــه په رښتیا سره د ایدهي مسحوره متفوقه ځواک تر لاسه کړی وو نو دا خبره صحیح نــهٔ ده چې دی دې په سوټیو[5] وهل شوی وي. خو که ددهٔ مرګ په دې ډول تر سره شوی وي نو دا خبره باید صحیح نــهٔ وي دهٔ دې د ایدهي په ځواک کې تفوق تر لاسه کړی وي. دی څنګه په دې نــهٔ دی توانــېـدلی چې د ایدهي د ځواک په لرلو سره سره دې د خپل مرګ مخه ونــهٔ نیولی شي، دا خو پر ځای پرېـږدئ چې دهٔ خو د انسانانو او رب النوعو نړۍ ته د مرستې رسولو دنده نــهٔ درلودله؟ دا هم د یوې دوې استوې ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**دویم** : ګرانــه پاچا! هغــهٔ مبارک فرمایلي ول چې موګه لانــه د مریدانو په منځ کې د ایدهي د ځواک رئیس او مشر دی. خو له دې سره سره موګه لانـه په سوټیو ووهل شو او مړ شو. خو دا مړینـه د سترې کرما د ځواک د لرلو په پرتلې د هغــهٔ څه له کبله وه چې دی په خپله وو[6].

**درېیم** : خو ښاغلی ناګه سینا، [۱۸۹] په دهٔ پورې چې د ایدهي ځواک ئـې درلود دا دواړه شیان متعلق نــهٔ ول – ددهٔ د ځواک اندازه - د دهٔ د کرما پایله - آیا دا دواړه سره یو شان نــهٔ دي؟ آیا دا دواړه د نــهٔ تصور وړ نــهٔ دي؟ او آیا د نــهٔ

---

1 - MOGGALLÂNA

2 - Iddhi

3 - From the Ańguttara Nikâya I, xiv, i (page 23 of Dr. Morris's edition for the Pâli Text Society).

4 - پریکاټو Parikatto چې سیمهالي متن ئـې د ګرهاویمن garhâ wemin په بڼې ژباړې – لیکوال

5- هینه تي کمبوري زیاتوي چې دی د غلو په لاس وهل شوی وو، له دې کبله د شهادت پوښتنه نــهٔ رامنځته کــېـږي- لیکوال

6 - Kammâdhigahitenâpi, which the Simhalese merely repeats. Compare the use of adhiganhâti at Ańguttara Nikâya V, 31 (adhiganhâti tam tena, ' surpasses him in that'), and see below.

تصور وړ یوهٔ شي مخه د نهٔ تصور وړ «ځواک – ژ» په مرستې په شا نهٔ شي تمبول کېدی؟ تاسو وګورئ یو سړی لرګینه مڼه[1] را اخلي او غواړي په ونې کې بله مڼه[2] ووهي او را وئې غورځوي، یا په ام باندې ام له ونې غورځوي، ښه نو یو شی چې د نهٔ تصور وړ وي د هغهٔ مخه په همدې ډول چې وویل شول، د نهٔ تصور وړ «ځواک – ژ» په مټ نهٔ شي نیول کېدی؟

ګرانه پاچا، دا خبره خو روښانه ده چې ان د نهٔ تصور وړ شیانو په منځ کې یو ئې تر نورو ټولو ځواکمن او زورور وی، یو ئې تر نورو پیاوړی وي. ګرانه پاچا! د ټولې نړی پاچاهان سره یو شان دي، ټول پاچاهان دي، خو ددوی په منځ کې چې یو شان دي بیا یو پاچا شته چې پر نورو ټولو پاچاهانو غښتلی او زورور دی او کولی شي ټول تر خپلې بولنې لاندې راولي- نو همدا خبره د شیانو په منځ کې هم ده چې له تصور پورته دي؛ او دا د کرما اغیزمن محصول دی چې تر ټولو اغیزمن دی. دا دقیقاً د کرما اغیزه ده چې پر نورو ټولو شیانو برلاسی لري او تر خپلې ولکې لاندې ئې ساتي؛ او د هغه چا کرما چې تر خپل هرومرو پای پورې کار کوي پرهغهٔ باندې د هر انسان بله هر ډوله اغیزه هېڅ کار نهٔ کوي[3]. ګرانه پاچا! دا داسې ده لکه چې یو څوک له قانونه سرغړونه وکړي[4]، نو نهٔ ئې مور، نهٔ ئې پلار، نهٔ ئې خویندې او نهٔ ئې ورور او نهٔ ئې ملګري او نهٔ ئې نېږدې ترینه او ګران همکاران دفاع او ساتنه کولی شي. دی په دې سرغړونې سره د پاچا د ځواک منګولو ته لوېدلی دی چې د پاچا یو افسر ددهٔ حکم ورباندې پلی کوي. او ولې داسې ده؟ ځکه چې دهٔ غلط کار کړی دی. نو دا دقیقاً د کرما اغېزه ده چې پر نورو ټولو اغېزو برلاسی مومي او تر خپلې قوماندې او ولکې لاندې ئې راولي او د هغهٔ چا کرما چې تر خپل هرو مرو پای پورې کار کوي د بل هر انسان اغېزه ورباندې کار نهٔ شي کولی. کټ مټ لکه کله چې د ځمکې پر مخ په یوهٔ لوی ځنګل کې اور بل شي نو په زرهاوو منګي اوبهٔ ئې نهٔ شي وژلی، دا همدا ستر او ډېر تاوان اړونکی اور دی چې په ځنګل کې پر ټولو نورو شیانو زورور کېږي او تر خپلې ولکې لاندې ئې راولي. ولې داسې ده؟ دا د اور د تودوخې د شدت له کبله ده. نو دا د کرما اغېزه ده چې نورې ټولې اغېزې تر خپلې ولکې او کنترول لاندې راولي، او کرما تر قوماندې لاندې راځي؛ او د هغهٔ چا کرما چې تر خپل هرو مرو پای پورې کار کوي د بل هر انسان اغېزه ورباندې کار نهٔ شي کولی. نو ګرانه پاچا، زموږ ښاغلی ستر موګه لانه هم کله چې کرما

---

[1]- wood apple : منې ته ورته یو ډول یوه میوه ده چې په بهارت او سایلون کې موندل کېږي. دې ته ځکه لرګینه مڼه وایي چې بڼه ئې د منې ده او پوستکی ئې د لرګي دي او ډېر ټینګ دی. په منځ کې ئې اوبلن توکي دي چې اسیدي خاصیت لري. – ژباړونکی

[2]- په پالي کې Kapittham دی او لاتین نوم ئې Feronia Elephantum دی او سیمهالي متن ئې د دیول ګیدي Diwul gedi په ډول تکراروي. لیکوال

[3]- هینه تي کمبوري په ۲۵۰ پاڼې کې همدا کرښه داسې ژباړي : کله چې یو څوک شریره کرما ولري بله هر ډول کړنه ورباندې هېڅ اغېز نهٔ لري – لیکوال

[4] - پکارنی اپاراګتي Pakarane aparaggati: تحت اللفظي معنی ئې " د قانون خلاف" ده، او شک نهٔ شته چې له مخې ئې د قانون د کتاب معنی کېږي، خو سیمهالي متن وایي : «د هر چا پر خلاف» - لیکوال

په خپلې اغـېـزې کې ونيوۀ نو دی تر مرگه په سوتيو ووهل شو او په دې سره ونـــۀ توانيد چې خپل د ايدهي ځواک وکاروي[1].

ډېــر ښــۀ ناگه سينا! هر څه چې تاسو واياست زه ئـې منم.

---

[په دې سره د موگه لانـه د وژنې معضله پای مومي]

---

[1] - ايدهيا سمناهارو ناهو سي .Iddhiyâ samannâhâro nâho si. ددغـۀ وييکي کارَول وگورئ چې د چايلدرز (په لومړی دهيگه Dîgha I, 3, 24) باندې د سمنګلې په ۱۲۳ پاڼې کې نـۀ شته. سيمهالي متن د پالي متن په پرتلې اوږده شرحه ورکوي او په ۲۵۰ او ۲۵۱ پاڼو کې د يوۀ نامتو مريد د مذهبي ژوندانه بشپړه تأريخ وړاندې کوي. – ليکوال

# [د محرمو دکتورینو په هکله]

**څلورم**: [۱۹۰]. ښاغلی ناګه سینا! هغـهٔ مبارک ویلي چې :" دهما" او "وینــه یا" (دکتورین او قانون) چې د تتهاګتا له پلوه خلکو ته ورپـېـــژندل شوي دي، کله چې ښکاره شي « ننداریِ ته وړاندې شي» نو ځلا شیندي او چې پټ شي نو ځلا پټه شي.[1]" خو له بلې خوا د پاتي موکها[2] او د ټولې "وینــــه یه پیټکه"[3] قرائـت محدود او محرم ساتل شوی دی[4]. ښه نو ناګه سینا! که تاسو «د قانون غړي» د سوبمن په لارښوونو کې ویل شوي ټول هغهٔ څه تر سره کړئ چې صحیح او له عدالت سره په سمون کې دي او ورباندې ایمان ولرئ بیا نو وینــه یه به د یوهٔ پرانیستي شي په توګې وځلـېـږي. پوښتنــه دا ده چې ولې دې داسي وسي؟ ځکه په هغو کې ټولې لارښوونې، نظم او قواعد، خپل ځاني کنترول، د اخلاقو او حمیده سلوکو قواعد ددوی ذات او جوهر دی چې په حقیقت ، نـېـکۍ او عدل ډک دي او پایله ئـې د زړهٔ په ژرغوني او خلاصون اوړي. خو که هغــهٔ مبارک په تحقیق فرمایلي وي چې دهما او وینــه یه چې د تتهاګتا له پلوه خلکو ته ورپـېـــژندل شوي کله چې ښکاره شي نو ځلا شیندي او کله چې محرم وساتل شي نــهٔ ځلـېـږي، که داسې وي نو د پاتي موکها او د وینه یــې د محرم ساتلو خبره باید غلطه وي. خو که دا خبره صحیح وي نو د هغــهٔ مبارک خبره باید غلطه وي. دا هم د یوې دوې استوې ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**پینځم** : ګرانــه پاچا! هغــهٔ مبارک ویلي چې د تتهاګتا له پلوه خلکو ته ورښوول شوې دهما او وینـــه یه به د ښکاره کولو پر مهال وځلـــېـږي او کله چې ښکاره نــهٔ شي نو نـــهٔ ځلـــېـږی. او له بلې خوا د پاتي موکها او ټولې وینـــه یـې قرائـت دې تړلی او محرم وساتل شي[5]. خو ددې خبرې وروستۍ برخه په ټولو انسانانو پورې اړه نــهٔ لري. دوی تر یوې کچې پورې محرم ساتل کـــېـږي. او د پاتي موکها قرائـت د درې ټکیو پر بنسټ تر څرګندې ځانګړې کچې پورې محرم ساتل کـــېـږي

---

[1] - From the Ańguttara Nikâya III, 124 (vol. i, p. 283 of Dr. Morris's edition for the Pâli Text Society).

[2] - Pâtimokkha

[3] - Vinaya Pitaka

[4] - په وینه یه «مها وګه دویمه،» ((Vinaya (Mahâvagga II, 16, 8) کې په څرګنده ویل شوي چې «قواعد او قانون» یا پاتیموکهه دې د عادي مذهبي سړي تر مخې قرائـت نــهٔ شي. ما په پیټه که کې یا په وینه یه کې داسې کوم نقل قول نــهٔ دی لیدلی چې ګڼې دوی دې محرم وساتل شي. لیکوال

[5] - تر هغــهٔ ځایه چې زه پوهـېـږم دا د همدې یادې شوې سکالو لومړنی بڼه ده. په خپله پاتي موکها کې ( وګورئ : زما ژباړه : لومړی ټوک " د وینه یه متن" په .S. B. E کې : د قواعدو او قانون پر وړاندې د سرغړونو نوملړ) داسې شی نــهٔ شته چې ددې قرائـت دې باید په محرمه وشي او په وینه یه کې هم هـېـڅ داسې شی نــهٔ شته چې محرم دې وساتل شي. خو د وینه یه قواعد د پاتي موکها قرائـت د هغو کسانو تر مخې منع کوي چې د قانون غړي نــهٔ دي او د همدې حقیقت پر بنسټ نن سبا په سایلون کې هر هغه څوک چې ددین غړیتوب ونــهٔ لري د پاتي موکها د قرائـت له تمرین څخه منع کـــېـږي. خو که یو عادي مذهبي سړی وینه یه ولولي نو هغــهٔ سرغړونه نــهٔ ده کړې او که کوم پوهٔ او عادي متدین دین هم پرې اېــښی وي هغه هم همداسې کولی شي – لیکوال

– لومړی دا چې دا د مخکنيو او د پخوانيو تتها ګتها ګانو يو دود[1] وو، دويم حقيقت «دهما» ته ددرنښت او احترام په پار، او دريیم د قانون غړي دريځ ته ددرنښت په پار[2].

**شپــږم:** ګرانه پاچا! لومړنی ټکی د پخوانيو تتها ګتهاګانو تر منځ يو ګډ او بين العالمي دود وو چې د پاتي موکها قرائـت دې يوازې د قانون د غړو تر منځ وشي او نور ټول دې له منځه وايستل شي. ګرانــه پاچا! دا کټ مټ د «اشرافو» کشتريا[3] د محرمو فورمولو په شان ده چې يوازې د اشرافو[4] لاس ته ورلوېـــږي او دا د نړۍ د اشرافو تر منځ يو دود ساتل شوی دی او له نورو پټ ساتل کـــېږي – نو دا هم د مخکنيو تتها ګتها ګانو تر منځ يو بين العالمي دود وو چې د پاتي موکها قرائـت دې يوازې د قانون د غړو تر منځ تر سره شي او له نورو کسانو دې پټ وساتل شي. ګرانــه پاچا دوی هم په نړۍ کې د اوو پــېـژندل شويو خلکو په شان دي – لکه پهلوانان، اکروباتان، مداريان/ شعبده بازان، اکتران، د بالت – نڅاګر، د سپوږمۍ او لمر د صوفي عباداتو پيروان او د نـــېـکمرغۍ الهې او نور ارباب الانواع[5]. او د هرې ډلې محرميات يوازې د ډلې په منځ کې وي او له نورو څخه پټ ساتل کـېږي. نو همداسې د ټولو تتها ګتهاګانو تر منځ هم دا دود وو چې د پاتي موکها قرائت دې يوازې او يوازې د قانون د غړو تر منځ تر سره شي او نورو ټولو څخه دې پټ او محرم وساتل شي. نو له همدې کبله د پخوانيو تتها ګتهاګانو د عاداتو له مخې ده چې د پاتي موکها قرائـت تر هماغې کچې محرم او پټ ساتل کـــېږي.

**اووم:** او دهما ته په درنښت کې څنګه پاتي موکها تر هماغې ځانګړې کچې محرم ساتل کــــېږي؟ لويه پاچا! دهما مؤقره او درنده ده. هغه څوک چې په کښې مهارت تر لاسه کوي ښايي بل څوک ورتـه راوهڅوي: " دا دهما ده چې په حقايقو ډکه او ډېــره عالي ده نو پرېــــږدئ چې غير متجربو لاسونو ته دې ولوېـــږي، داسې لاسونــه چې سپکه او خواره بـه ئـې وګڼي، له شرمه ډک چلند به ورسره وکړي، ورسره لوبې به وکړي او نيمګړې به ئـې وګڼي. او مـــۀ پرېـږدئ چې شريرو لاسونو ته ولوېـــږي او د خپل ځان په شان به ورسره سپک او له سپکاوي ډک چلند وکړي." نو ګرانــه پاچا له همدې کبله ده چې دهما ته ددرنښت په پار د پاتي موکها قرائـت محرم ساتل شوی دی. که داسې نـــۀ وای شوي نو وربانده‌ې به هماغه د اعلی کيفيت، ګران بيعه، ډېـــر کم پيدا سرۀ چندڼ «صندل» لرګي کانــه شوې وای چې د «رټل شويو کنداله[6] وو ښار[7]» سَوَره[1] ته

---

[1]- Vamsa (repeated in the Simhalese).

[2] - Bhikkhu-bhûmiyâ (also repeated in the Simhalese, p. 252).

[3] - Kshatriya

[4] - Khattiyânam (but the Simhalese has Sakyayangė).

[5] - په متن کې دا ډول شل ډلې ويل شوي او د ډېـريو معنی مبهمه ده. سيمهالي متن دا ټول نومونه يادوي او يوازې د يو شمــېـــر ځانګړو الهو نومونه ته د بهکتيو bhaktiyo نوم ورزياتوي چې معنی ئـې " مؤمنين په ..." کـــېږي. په هندوستان کې د شعبده بازانو، د بالت د نڅاګرو او د تصوفي ډلو د پيروانو متفقه تصنيف چې شمــېـــر بـې شمــېـره دی، په بشپړ ډول يو بودايي تصنيف دی او په مشخص ډول په خپله د ګاتما په رګونو کې دی- د بــېـلـګې په توګې په مها سيله کې Mahâ Sîla . وګورئ زما ژباړه 'Buddhist Suttas,' p. 196. – ليکوال. د ژباړونکي يادونه: دلته د بهکتيو وييکي ته په کتنې ما ته د کابل په پغمان کې د بيکتوت کلی را په ياد شو چې ورسره ګډه ايتيمولوژيکي بنه لري. ښايي همدا اوسنی بيکتوت هماغه پخوانی بهکتيو وو چې معنی يې بودايي مؤمنين کـــېږي - ژباړونکی

[6]- Kandâlas : کنداله، پوکسه او انتياوسيايين د هند د کسټ د ټولنې په ويش کې د پرګنو ډلې وې چې برهمن نـــۀ وې او غير آريايي وګړي ول. – ژباړونکی

[7] - Added from the Simhalese.

راوړل شو، همدغو خلکو چندڼ لرګی خوار او سپک کړ، له شرمه ډک چلند ئـې ورسره وکړ، وربانديِ لوبې ئـې وکړې او نیمګړتیاوې ئـې په کښې وموندلې.

<u>**اتـــم**</u>: [۱۹۲] . څنګه کــېــدی شي چې د قانون د یوۀ غړي د دریځ ددرنښت په پار دې پاتي موکها تر هماغې کچې محرمه وساتل شي؟ لویه پاچا! د یوۀ بهیکو حالت دوني پرتمین دی چې له اندازې، فزیکي دروندوالي او یا قیمت څخه خورا لوړ دی. هــېـڅ څوک ئــې ارزښت نــۀ شي ټاکلی، هــېـڅ څوک ئـې نــۀ شي تــَللی «وزن کولی» او هــېـڅ څوک ئـې نــۀ شي اندازه کولی. د پاتي موکها قرائــت یوازې د بهیکوګانو مخې ته په یوازیتوب کې تر سره کــېــږي، مبادا دا چې هر چا چې دغه دریځ تر لاسه کړی وي نو د نړۍ د انسانانو دریځ ته به راټیټ شي. ګرانــه پاچا! تاسو زښتو ګران بیعو شیانو ته وګورئ چې ارزښت ئـې نــۀ شي ټاکل کــېــدی، لکه د ځان جامې یا د غولي فرشونــه، په فیلانو کې کوم غښتلی فیل، یا په جنګي آسانو کې غښتلی او ښکلی جنګي آس، بګۍ، سرۀ زر، سپین زر، غمي، مرغلرې او یا د ښځاکو په منځ کې بې ساری بې بدیله ښځنګ توکی[2]، دا ټول هغه شیان دي چې د شاهانو مواریث دي- نو ګرانــه پاچا! د هغــۀ مبارک د لارښوونې په بڼې کې تر ټولو ارزښتناکه شی د هغــۀ مبارک دودونــه، د هغــۀ چار چلند، د نــېــکیو او عدل فضایل او ځان ځاني کنترول هم همداسې لوړ او ارزښتناکه دي چې یوازې د بهیکوګانو مواریث دي. له همدې کبله ده چې د پاتي موکها د متن قرائـت محرم [3] ساتل کــېــږي[4].

---

[1]- Savara : د هندوستان په شمال ختیځ کې د مونډا د نژاد د یوۀ قوم نوم دی. ژباړونکی

[2] - Niggita-kamma-surâ, rendered in the Simhalese (p. 254), gaya-grihita-kritya-surâ-pânayen.

[3]- د ژباړونکي یادونه : مخکې له دې چې بل لمنلیک ولولو دلته د یوې شرحې څرګندول غواړم او هغه محرم بودیزم یا باطنیه بودیزم Esoteric Buddhism دی. باطنیه بودیزم د شنیګن بودیزم په نامــۀ هم یادېــږي چې په جاپان کې د بودیزم لومړی او ستره څانګه ده. دا څانګه د کوکای په نامــۀ یوۀ بودایي مانک له چین څخه جاپان ته یووړه. شنیګن د سانسکریت له منترا سره هم معنی ده چې په سانسکریت کې من د فکر او ترا د آزادۍ یعنې د فکري آزادۍ په معنی کـېږي. منترا پر جسم او روح باندې مثبته اغـېـزه شیندي. په بودیزم، هندویزم او په چینایي څانګو کې د یوشمــېــر کلماتو ټولګه په اوږدو غږونو په ځانګړي سندریز ډول تکراېــږي چې همدا منترا ده. لکه د اُم کلمه په هندوییزم کې. ژباړونکی

[4]- دا ټکی د پاملرنې وړ دی چې دلته د باطنیه بودیزم هــېـڅ یادونه نــۀ ده شوې (که په هغــۀ مهال کې ئـې شتون درلود نو دلته به هم ورته په دې هکله یوه نغوته شوې وای). په IV, 1, 8 کې یادونه شوې چې یو ښــۀ بودایي ښوونکی باید له خپل زده کوونکي څخه هــېـڅ شی پټ و نــۀ ساتي. ان (زما د ژباړې 'Book of the Great Decease' (Chap. II, § 32, p. 36 of my translation in the 'Buddhist Suttas' ) په دوني لرغوني کتاب کې په خپله د بودا له خولې ویل شوي چې هغــۀ " داسې شی نــۀ درلودل چې د ښوونکي په شان په تړلي موټي کې ئـې پټ کړي" دا نقل قول چې په IV, 2, 4 کې را اخیستل شوی د میلینډا د پوښتنو لپاره یو بنسټ دی؛ او د ناګه سینا له پلوه چې زموږ ددې کتاب مؤلف دی، په بشپړ ډول منل شوی دی. حقیقت دا دی چې د باطنیه بودیزم په نامــۀ کوم شي په بودیزم کې شتون نــۀ درلود او معاصر تش په نامــۀ بودیزم نــۀ باطنیه دی او نــۀ بودیزم. په خپله د باطنیه خبره په بشپړ ډول هندي بڼه لري او په آسانه لاسرسی ورته شته دی او هغوی چې غواړي د هندي تصوف کتابونه ولولي پوهــېــږي چې دداسې باطنیه مطالعاتو فکري ستن هندوییزم کې ده نــۀ په بودیزم کې. دا فکري ستنې تر ډېــرې له بودیزم سره په مخالفت کې دي او هغه مؤلفین چې په بې خبرۍ کې د باطنیه بودیزم ناري وهي په دې پوهــېــږي خو ډېــر لــږ- او دا لږ یوازې د هغو باورونو یوه وړوکي برخه ده چې په هندوستان کې د ټولو مذهبي ښوونکو تر منځ په عام ډول دود ده. د بودیزم د ټولو دکتورینو په منځ کې که یو دکتورین ډېــر ځانګړی او مشخص وي نو هغه په اخلاقیاتو کې د روح له کلاسیک – دودیز باور او ګروهنې څخه انکار دی- او روح د هماغــۀ لرغوني باور پر بنسټ په بدن کې یو جلا موجود دی چې د مرګ پر مهال له وجود څخه د مرغۍ په شان له قفس څخه الوزي. د عرفاني حکمت پلویان یا

ډېـر ښـــۀ ناګه سینا! همداسې ده، څه چې تاسو وویل زه ئـې منم.

---

[په دې سره د هغـۀ محرمیت معضله پای مومي چې وینـه یه په کښې پټه ساتل کـــېږي]

---

# د کذب دوه ډولونـــه[ ]

**نـــهـم** : ښاغلی ناګه سینا! هغـۀ مبارک ویلي چې تر ټولو ستره تخطي عمدي درواغ دي (چې ښایي پایله ئـې له قانونـه «دین څخه» په محرومیت واوړي[1]).

په بل ځای کې بیا وایي چې :" د بهیکو یو عمدي درواغ، صغیره تخطي ده، داسې څوک باید د بل چا « د قانون د غړي » مخ ته معروض په اعتراف وي[2]." اوس نو ښاغلی ناګه سینا! دلته په دغو دواړو کې توپیر څه دی، دلیل ئـې څه دی، یو چـېـرې د بهیکو په یوۀ درواغو باندې بهیکو له قانونـه محرومـــېږي خو په بل ځای کې په یوې تخطی باندې پـږ دی چې په بدل کې ئـې کفاره ورکړي. که لومړی پرېـکړه صحیح وي نو دویمه باید غلطه وي؛ خو که دویمه صحیح وي نو لزوماً لومړی باید غلطه وي. دا هم د یوې دوې استوې ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**لسم** : [۱۹۳][3]: ګرانـه پاچا ستاسو دواړه را اخیستل شوي اقوال صحیح دي[4]. خو د موضوع په پام کې نیولو سره کذب کـېـدی شي سپک یا درونـد وي. لویه پاچا تاسو څه غواړاست وواياست؟ داسې وانګـېرئ یوۀ سړي د بل سړي پر لاس یوه څـــپـېـړه ورکړه، تاسو څـــپـېـړه وهونکي سړي ته څه ډول سزا ټاکئ؟

که په څپـېـړه لګـــېـدلي سړي موضوع ته له بیا کتنې څخه انکار وکړ «یعنې څپـېړه وهونکی سړی ئـې ونـۀ باښـۀ» نو موږ هم ددې وړتیا نـۀ لرو چې مهاجم[5] وبخښو خو دی باید هغـۀ ته یوه اییکی[1] یا دې ته ورته جریمه ورکړي.

---

Theosophists په دې باور دي چې : ماته ویل شوي، د هر انسان په بدن کې اووۀ ارواح ګاني دي (چې ربښتوني بودیزم ته دا له اوو شیطانانو څخه لا بدتره خبره ده)، دوی دا جرئت کوي چې ځانونو ته بودایان ووایي او په خپل دغـۀ دریخ کې کوم سخافت هم نـــۀ ویني.! – لیکوال

[1] - سمپګانه- موساواده پاراګیکا Sampagâna -musâvâda pârâgikâ : دا عجیبه ده، پاتې موکها وایي چې دا پاراګیکا Pârâgikâ نـــۀ بلکه پاکیتیه Pâkittiya ده. پرتله کړئ . څلورمه پاراګیکا له لومړی پاکیتیه سره. وګورئ :

('Vinaya Texts,' S. B. E., vol. iii, pp. 5 and 32.) لیکوال

[2]- ما د پیټکه په متنونو کې ددغسې ټکي په ټکي وییکو خاپ ونـۀ شو موندلی. خو عمومي مفهوم ئـې په بشپړ ډول د پاکیتیه Pâkttiya له قاعدې سره کټ مټ سمون خوري- لیکوال

[3] - هینه تي کمبوري Hînati-kumburė په دغـۀ ځای کې پر څلورمې پاراګیکا Pârâgikâ باندې (په سوتا ویبهانګه Sutta Vibhańga) کې د یوې معرفتي قصې لنډيـز رااخلي چې د پالي د متن له ۱۹۳ پاڼې سره او د هینه تي کمبوري له لومړي تر دریم سطر سره سمون مومي- لیکوال

[4]- پالي متن دا خبره ټکي په ټکي یادوي. خو هماغسې چې ما مخکې وویل دا په حقیقت کې صحیح نـــۀ دي – لیکوال

[5]- هینه تي کمبوري بیل قرائت لري او زما په اند تر دۀ مخکې قرائت ښه دی- لیکوال

ښه نو داسي وانګېرئ چي تاسو په خپله دغه څپېړه د هغهٔ له لاسه خوړلي ده، ددهٔ سزا به تاسو څه شی وټاکئ؟

موږ ئې باید محکوم کړو او لاس ئې باید پرېک کړو او ژوندی[2] ئې له پوسته کړو، موږ باید د هغهٔ کور او شتمني ضبط کړو او له دواړو خواوو تر اوو نسلونو پورې د کورنۍ غړي ئې باید اعدام کړو؟

مګر لویه پاچا! ددې توپیر په څه کې دی؟ ولې یو تن دې یوازې په وړوکي څپېړې وړوکي سزا ووینې خو تاسو ته د یوې وړوکي څپېړې په جریمې کې دې دوني وحشناکه سزا ووینې؟

توپیر ئې په شخص کې دی چي پر چا باندې ئې تېری کړی دی.

ښه نو لویه پاچا! کذب هم همداسې دی او په حالاتو پورې اړوند دروندوالی او سپکوالی ئې سنجول کېږي.

ډېر ښهٔ ناګه سینا! همداسې ده، تاسو چې څه وویل زه ئې منم.

---

[په دې سره په کذب کې د تېري یا تخطي د اندازې ستونزه پای مومي]

---

# د بودي ست[3] ملاحظه

**<u>پولسم</u>:** ښاغلی ناګه سینا! هغهٔ مبارک د اړینو شرایطو د وراشي په لړ کي ویلي چي[4] :" د هر بودي ست مور او پلار مخکې له مخکې ټاکل شوي وي، دهٔ ته هغه ونه وختي غوره شوې وي چي دی به ورلاندي کښېنی او دا د « بو» « ونه» ده، دهٔ ته د بهیکوګانو له منځه دوه تنه شاګران غوره کېږي چي ددهٔ مشر مریدان به وي، دهٔ ته د قانون د غړو له منځه هغه غړی غوره کېږي چي دهٔ ته خاص حضور ولري". خو له بلې خوا وایي :" کله چي یو بودي ست تر دې دمه د رب

---

[1] - یوه اییکۍ A kahâpana : د همدې اییکۍ د ارزښت په هکله زما لیکنه وګورئ : 'Ancient Coins and Measures,' pp. 3, 4. لیکوال

[2] - سیمهالي متن وایي : یاوه سیسم کلیرکهیګم کهداپیي یاما Yâva sîsam kalirakkheggam Khedâpeyyâma. تحت اللفظي معنی ئې دا ده چې موږ باید باید د بانس د لرګي سر ورغوځ کړو. ددغې تخنیکي اصطلاح کره معنی راته څرګنده نهٔ ده- خو کېدی شي معنی ئې ټوله تنه به ئې د بانس د لرګي په شان ورغوڅه کړو. لیکوال

[3] - Bodisat په سانسکریت کې بودي ستوا ویل شوی دی. بودي ست هغه څوک دی چې بیدارۍ ته رسېدلی وي، بودي ستوا د نیروانا ارزښت لري خو نیروانا ته لا نهٔ دی رسېدلی او یوازې پرَنجا Prajna ئې ترلاسه کړي وي، دی ځکه نیروانا ته نهٔ ځي چې له نورو انسانانو سره مرسته وکړي- ژباړونکی

[4] - Dhammatâ-dhamma-pariyaâye. I don't know where this is to be found.

النوعیت په شرایطو کې د توسیته[1] په جنت کې وي نو اتـــۀ ستري پلټني کوي – دی د وخت پلټنه کوي ( آیا هاغه صحیح وخت را رســېدلی دی چې دی باید د انسان په جامه کې بیا زېــږون ومومي)، دی د لویې وچې پلټنه کوي (په کومې لویې وچې کې دې بیا زېـږون وموميـ)، دی د هـېـواد پلټنــه کوي ( یعني په کوم هـېـواد کې به بیا زېـږون وموميـ)، د مور پلټنــه کوي ( له کومې مور څخه به زېـږون وموميـ)، د مهال یا پړاو پلټنه کوي ( دا هغه مهال دی چې دی لا د مور په رحم کې وي)، د میاشتې پلټنــه کوي ( په کومې میاشتې کې به زېـږون وموميـ)، او خپله قطع علاقه (کله به ترک د نړی کوي)[2].

[۱۹۴] اوس نو ناګه سینا کله چې بصیرت پاخــۀ پړاو ته نــۀ وي رســېدلی نو طبعاً پوهه نــۀ وي، خو کله چې خپلې لوړې یا اعلی درجې ته ورسـېـږي بیا نو د مطلب په هکله د فکر کولو د انتظار اړتیا نــۀ شته، ځکه د بصیرت د علم لانـــهائـې تفکر له کړی دباندې بل څه نــۀ شته. ښه نو اوس پوښتنه دا ده چې ولې دې بودي ست د وخت پلټنــه وکړي او له ځان سره دې فکر وکړي چې :" زه به کله زېـږون وموم؟[3]" او بیا په همدې تړاو ولې دې د خپلې کورنی په هکله پلټنــه وکړي او د ځای تر څنګ دې ووایي :" زه به په کومې کورنی کې زېـږون ومومم؟" ښه نو ناګه سینا، دا خو یوه ثابته خبره ده چې د یوۀ بودي ست مور او پلار به څوک وي، دلته نو باید دا خبره غلطه وي چې " دی دې د خپلې کورنی په هکله پلټنــه وکړي". خو که دا خبره صحیح وي نو هاغه بله ئـې باید غلطه وي. دا هم د یوې دوې استوې ستونزې په شان ده چې ستاسو مخې ته ئـې د حل لپاره ږدم.

**دولسم :** ګرانــه پاچا! دواړه خبرې صحیح او تثبیت دی چې د بودي ست مور او پلار دې څوک وي او بل دا چې بودي ست دې دا پلټنــه وکړي چې په کومې کورنی کې به بیا زېـږون وموميـ. خو پوښتنه دا ده چې دا  به څنګه وکړي؟ دی باید له ځان سره فکر وکړي چې آیا ددۀ مور به برهمن وي یا اشراف. ګرانــه پاچا د اتو واړو شیانو په هکله راتلونکی باید له را تګ مخکې وپلټل شي. ګرانه پاچا یوۀ سودا ګر ته وګورئ ، چې د سوداګریزو توکو له اخیستنګ مخکې باید د توکو په هکله پلټنــه وکړي – یو هاتي یا فیل که په یوې لارې نــۀ وي تللی نو هاغه لاره باید په خپل شونډک یا خرطوم وازمایي – مخکې له دې چې یو بګی والا د لږ – ژور سیند یا د خوړ له اوبو څخه تــېـرېـږي نو لومړی باید د تــېـرېـدلو ځای وازمایي – یو ماڼو باید د سمندر یا سیند غاړې ته له رســېدنګ مخکې پوۀ وي چې د خپلې کښتۍ ځای وازمایي چې چــېـرې دی تر څو خپله کښتۍ وچلولی شي – مخکې له دې چې یو طبیب د کومې ناروغی درملنه وکړي باید پوۀ شي چې ناروغ ئـې په څونې مودې کې دا ناروغي تــېـره کړې ده[4] - که یو مسافر د بانس له لرګي جوړ یوۀ پلــۀ[1] څخه تــېـرېـږي نو له پــلــۀ څخه له

---

[1] - Tusita heaven

[2] - دغه اتـــۀ واړه پلټنې یا ویلوکه ناني Vilokanâni تر اوسه د پیته که په متنونو کې نـــۀ دي موندل شوي. خو د بودا د بیا زېـږون تأریخي خبرې په هکله د ګاتکه په تفسیر کې ( د پوهاند فوسبول د ژباړې د لومړي ټوک په ۴۸ پاڼې کې ) دا پلټنې شپــږ ویل شوې (چې د دِسه ځای اوساکه okâsa ته ورکوي) او په عجیب ډول ئـې پینځه سترې پلټنې بولي. د للیته وسیتاره Lalita Vistara په متناظر کتاب کې یوازې څلور پلټنې ویل شوي دي. داسې ښکاري چې د اتو واړو دوه وروستی پلټنې په زوره تپل شوي وي – لیکوال

[3] - هیته تي کمبوري د ۲۵۶ پاڼې په پای کې د نیمسنترم نا آګه میتي Nimesantaram na âgameti لپاره نیوَسنتره nivesantara لري. دغه دواړه کلمات په بل هـېـڅ ځای کې نـــۀ دي لیدل شوي – لیکوال

[4]- د سیمهالي متن په ۲۵۷ پاڼې کې آیوم اولوکیتوا Âyum oliketvâ راوړی دی. ددې اصطلاح د دلالت معنی شکمنه ده – لیکوال

تېرېدلو مخکې لومړی باید د پلـۀ پر ثبات باندې ځان ډاډمن کړي- مخکې له دې چې یو بهیکو خپله ډوډۍ وخوري نو د ډوډۍ له خوړنگ وړاندې باید پوۀ وي چې د لمر له ګښېناستلو مخکې دی چېرې دی او څومې وخت ورته پاتې دی او ځان په ځغاستې خوندي ځای ته ورسوي – نو مخکې له دې چې بودي ستان زېږون وموموي دوی باید ددې پوښتنې پلټنه وکړي چې آیا دوی ته به کوم ښـۀ وي چې د کوم اشراف یا کوم برهمن په کالـۀ کې زېږون وموموي.

دا هغه اتـۀ واړه حالات دي چې پر بنسټ ئې باید پلټنه و شي.

ډېر ښـۀ ناګه سینا! همداسي ده، تاسو چې څـۀ وویل زه ئې منم.

---

[په دې سره همدلته د بودي ست د ملاحظې ستونزه پای مومي]

---

# [د ځانوژنې په هکله]

**دیارلسم**: [۱۹۵] ښاغلی ناګه سینا! هغـۀ مبارک ویلي دي چې :" اې بهیکوګانو! هغه څوک ورور نـۀ شي کېدی چې ځانوژنـه وکړي. هر هغه څوک چې ځانوژنې ته لاس اچوي باید له قانون سره سم ورسره چلند وشي.[2]" او له بل پلوه تاسو « د قانون غړي» وایاست :" په هرې هغې موضوع باندې چې هغـۀ مبارک خپلو مرېدانو ته تدریس ورکاوۀ نو د ډېرو بېلابېلو بېلګو په راوړلو به ئې تل د زېږون، زړښت، ناروغۍ او مرګ په هکله تدریس ورکاوۀ. او هر هغـۀ چا چې پر زړښت، ناروغۍ او مرګ تغلب ترلاسه کاوۀ نو دۀ به ئې تر حده ډېر ستاینـۀ کوله.[3]" اوس نو پوښتنـه دا چې که هغـۀ مبارک ځانوژنـه منعه کړې وي نو ستاسو خبرې باید غلطې وې خو که ستاسو صحیح وي نو د ځانوژنې ممناعت باید غلط وي. دا هم د یوې استوې ستونزې په شان ده چې د حل لپاره ئې ستاسو مخې ته ږدم.

**څوارلسم**: ګرانـه پاچا! د هغـۀ مبارک د قاعدې نقل قول چې تاسو راواخیست او په همدې هکله مو چې زموږ خبره چې را وا واخیستله دواړه ئې صحیح دي او حقیقت لري. او ددې لپاره یو دلیل دی، داسې یو دلیل چې هغـۀ مبارک «د ژوند له منځه وړل» منعه کړي او هم «په بلې معنی ئې» موږ ورته لمسولي یو.

---

[1] - اوټاره – سیتو Uttara-setu دغه وییکی بل چېرې نـۀ دی لیدل شوی. هینه تي کمبوري Hînati- kumburė ئې هي – ډنډه He-danda ژباړي او کلوف Clough وایي چې دا د یوې پښې لپاره یو ډول یکړ نرۍ وړوکی پـُل دی چې یوازې د یوې ونې له ډډې څخه جوړ او څوک په اوبو کې د ایښودل شوې ونې پر ډډې باندې له اوبو تېرېږي- لیکوال

[2] - په تحت اللفظي معنی " نـۀ دا چې ځان لاندې واچوي" خو زما په ګومان په دې معنی ده " چې څوک دې د کوم ګړنګ له ډبرې یا پرښې ځان لاندې واچوي" او ظاهراً همدا معنی ورڅخه اخیستل کېږي، په ځانګړې توګه په اخځ کې د راغلو وییکو معنی ته په کتنې همدا معنی ورڅخه تر لاسه کېږي او د دریمې پارا ګیکا د پینځم څپرکي په دیارلسمې پاڼې کې په سوټا ویبهانګه کې راغلی نقل قول همدا معنی لري- لیکوال

[3] - بیا هم دلته د همدغـۀ نقل قول سرچینه څرګنده نـۀ ده چې له کوم ځایه اخیستل شوی دی – لیکوال

دا کوم دلیل دی ناګه سینا؟

ګرانــه پاچا! ښـــهٔ انسان هغه وي چې په استقامت کې د کمال تر حده رســېدلی وي، استقامت يوهٔ انسان[1] ته د درملو په شان دی، داسې درمل لکه چې د شرارت په زهرو کې ورته نوشدارو وي، داسې يو انسان، چې د شرارت د تصرف په دوړو او ککړتياوو کې پرتو نورو انسانانو ته د اوبو په شان دی، دی نورو انسانو ته د عدل او نـېـکی په تر لاسه کولو کې د غميو د خزانې په شان دی، دی د يوهٔ ماڼو په شان دی چې نور انسان د څلورو سيلابي بهيرونو « د شهوت، فرديت يا ځانغوښتنې، توَهم او جهل[2]» له منځه د ژغور تر ساحله رسوي، دی لکه د يوهٔ کاروان د ځاروان په شان دی چې کاروان د بيا زېـږون د دېرينې دښتې له منځه تر سرمنزله رسوي، دی د يوې ستري باراني وريځې په شان دی چې د نورو انسانانو زړونــه د رضاء او اقناع په باران ډکوي، دی نورو انسانانو ته د يوهٔ ښوونکي په شان دی چې د ټولو ښــېـګـنـو په لارو کې ئــې روزي، دی نورو انسانانو ته د يوهٔ ښـــهٔ لارښود په شان دی چې د صلحې لاره ورته ورښيي. دا د همداسې يوهٔ ښـــهٔ انسان له پلوه ول چې د ښــېـګـنـې اوصاف ئې زښت ډېـر ، بـېـلا بـېـل او بې شمـېـره دي، [۱۹۶] ګرانــه پاچا ټولو موجوداتو ته د هغـــهٔ د بشپړې خير ښـــېـګـنـې او ګټې رسونې په پار نـــهٔ شواى کـېـداى چې د ښو شيانو د خزاينو دونې سترکان دې د هغـــهٔ مبارک له استرحامه پرته ټولو موجوداتو ته ورســېږي نو امر ئــې کړی چې :" ای بهيکوګانو! هغه څوک چې ځانوژنه کوي هغه زموږ ورور نـــهٔ دی. هر هغه څوک چې ځانوژنـــه کوي نو له قانون سره سم دې ورسره چلند وشي." د همدې دليل پر بنسټ ول چې هغـــهٔ مبارک «ځان حلالوَنـــه» منعه کړه. ګرانه پاچا، کله چې د فصاحت او بلاغت استاد، مشر کوماره کسپه[3]، پاياسي راګننيه[4] ته بله نړۍ شرحه کوله نو ويل ئــې دي چې : " تر هغو چې سمنــه ګان او برهمنان د ژوند استقامت ولري او د شخصيت ښکلا خپل شتون ته دوام ورکوي- هر څوني چې دا وخت اوږد وي- په دې شرط چې دوی ځانونــه د پرګنو سترو ډلو ته د هغوی د ګټو او خوښيو لپاره، د رب النوعو او انسانانو د ګټو، خير او سعادت ته په اعمالو کې ژمن وبولي. "

**پينځلسم** : دا کوم دليل دی چې هغـــهٔ مبارک موږ «ژوندانـــهٔ ته د پای ورکولو لپاره» لمسولي يو؟ ګرانــه پاچا! زېـږون له سره تر پايه درد دی، همداسې زړښت، ناروغي او مرګ هم يو درد دی. هماغسې چې غم خوړمن او ربړونکی دی هماغسې

---

[1]- ستانم Sattânam چې ارباب الانواع هم په ځان کې رانغاړي. ليکوال

[2]- څلور اوګهاګان The four oghas؛ د آسوه ګانو Âsavas په نامـــهٔ هم يادېـږي، اوګهه د عينيت او آسوه ګه د ذهني حالت لپاره کارَول کــېـږي. ليکوال

[3]- Elder Kumâra Kassapa : ددغـــهٔ کوماره کسپه نوم د لومړۍ انګوتړې د څوارلسم څپرکي په درېمې پاڼې کې راغلی دی او ويل شوي چې دی د لومړيو مريدانو په منځ کې له لوړ فصاحت او بلاغته برخمن وو. ددهٔ يو بل وړوکی طغيان د تيرا ګاتها Therâ Gâthâ په ۲۰۱ او ۲۰۲ شعرونو کې ويل شوی دی. : " دا بوداګان او د هغوی دکتورين دي! دا زموږ د اولی الأمر لاسته راوړنې دي! چې له مخې ئـې ښايي يو مريد حقيقت ومومي. د پـېـړېـو پـېـړيو په اوږدو کې ځانغوښتنه په ځانغوښتنې پسې راغلې ده. اوس يوازې يو پاتې دی. د (هوښ او جسميت) دغه ټولګه (چې يو ځل بيا فردانيت جوړوي) وروستنی پای دی، د زېږون او مړينې راتلونکی او د اوسمهال پای. ما ته به بل زېـږون نـــهٔ وي." خو پوښتنه دا ده چې آيا دا اشعار له بودايي سايکلوژۍ څخه کوم اغفال يا تـېـښـتـه ده يا نه؛ موږ ته به ګرانه څه چې ان ناشوني به وي چې د پالي متن اصلي پياوړې ښه په انګريزي کې په هماغـــهٔ ډول بيا جوړه کړو. فردانيت يا سَکايه (Sakkâya) کې د يوهٔ موجود د جلا انفرادايت شرط دی- ليکوال

[4]- Pâyâsi the Râgnanya : دا په سانسکريت کې پاياسي راجنا ويل شوی او په ۲۳ سوتا کې د مشکوکه شهزادګي او مانک تر منځ په يوې مرکې کې راغلی نوم دی. ژباړونکی

ساندې، درد، ناورین او نــــهیلي توب ربړونکی دی. له بې خوندۍ سره ملګرتیا په خپله خوړمنـــه او له خوښیو څخه بیلتون دی[1]. د مور، پلار، ورور یا خور، زوی، میرمنې او هر خپلوان مړینــه خوړمنـه ده. د یو چا د کور ورانــېدل، له کړاوه ډکه ناروغي، د شتمنۍ له لاسه ورکول، د ښــۀ والي او خیر کمــېـدل یا زوال او د بصیرت له لاسه ورکول له درد او کړاوه ډک دی. د سلاطنیو له پلوه را پارېـدله وېـره، د غلو یا میرځمنو، یا ښځو، یا اور یا د سیلاب یا د څپو د مد و جزر یا د زلزلې یا د تمساح یا ناکې وېـره خوړمنـه ده. پر ځان یا بل چا باندې د پړ ګڼلو وېـره خوړمنـه ده، د سزا وېـره او د بدمرغی وېـره خوړمنـه ده. د ملګرو په منځ او حضور کې د شرم وېـره خوړمنــه ده؛ د یو چا د ژوند له بنې او طرز څخه وېـره او د مرګ وړاند وېینــه خوړمنـه ده. [۱۹۷] (د جنایتکارانو شکنجه) خوړمنـه ده، چې په متروکو وهل کـېـږي، په سوټیو وهل کـېـږي، یا په دوه سرو اوسپنینو میلو وهل کـــېـږي، یا د چا لاس، پښه، یا دواړه لاس او پښه، یا غوږ یا پزه یا پزه او غوږ دواړه پرې کـېـږي. (د خائنیونو شکنجه کول) خوړمن کار دی – لکه یو خائـن چې معروض د اوماچک په لوښي وي (یعنی دا چې سرۀ او خوټـېـدلي اوماچک یا کیچړی د بندي د کوپړۍ پر سر پر هغـۀ ځای باندې اچول کـــېـږي چې د کوپړۍ هډوکی ورڅخه ایستل کـېـږي[2]) یا په چاودلي تاج[3] شکنجه ( یعنی دا چې د بندي د بدن پوستکی په صیقل شوي پوست واوړي) یا د رهو[4] په خولې کې[5] شکنجه ( یعنی د یوۀ بندي خوله په اوسپنینو ستنو خلاصه ساتل کــېـږي او بیا په خولې کې تیل اچول کـــېـږي او ورپسې د اور په بلندې لمبې فتیله وردننـه کـــېـږي) – یا د بلنده اور امیل[6] یا په لاس کې لاسي شهلیت[7] (مشعل) ( په دې معنی چې د بندي له ټول بدن څخه یو ژوندی بلنده شهلیت جوړوي، یا ئــې د یوۀ لاس له بازو څخه، او یا ئــې د ځان پر کالیو تیل ورشیندي او اور ور اچوي) - یا د مار په شان لوڅول[8] (یعنی دا چې د بندي ځان له سره نیولې تر کوناټیو پورې له پوسته کـــېـږي او پوستکی ئــې ایستل کـــېـږي چې په دې ډول ئـې د ځان پوستکی په ورَنونو رالوېـږي) یا د ونې د پوستکي جامې[9] (یعنی دا چې د بندي د بدن پوستکی له غاړې لاندې نیولې همداسې کښته پورې ایستل کـېـږي او د بدن د پوستکي هر څوني ټوټې چې ایستل کـــېـږي بیا نو د بندي په ویښتانو پورې ځړول کـــېـږي او په دې ډول تر مخ ئــې د خپل پوستکي یو حجاب جوړېـږي) – یا ټکي ټکي واله هوسۍ[10] ( په دې معنی چې د بندي زنګنونـه او مړوندونــه دواړه له یو بل سره تړل کـــېـږي او اړ ایستل کـــېـږي چې پر اوسپنین غاب سوټ موټ کښـېـني او تر غاب

---

[1] - دا د بودیست سوتا په ۱۴۸ پاڼې کې د عدل د سلطنت د بنسټ د نامتو وراشي یوه برخه ده : Foundation of the Kingdom of Righteousness' (in ' Buddhist Suttas/ p. 148). – لیکوال

[2] - Bilańga-thâlikam

[3] - Chank Crown - Sańkha-mundikam.

[4] - Rahu په هندوییزم کې یو شمــېـر خدایګوټي دي چې د مادیت او ځواک او ګناه په لټې کې دي او رهو یو له همدغو دی. ددوی په باور رهو هغه خدایګوټی دی چې د لنډ وخت لپاره ئـې لمر له ستوني تـېـر کړی او لمر نیول ئـې رامنځته کړی دی. ژباړونکی

[5] - Râhu-mukham.

[6] - Fire Garland - Goti-mâlakam.

[7] - Hand Torch- Hattha-paggotikam.

[8] - Eraka-vattikam.

[9] - the Bark Dress - Kîraka-vâsikam.

[10] - Spotted Antelope- Eneyyakam.

لاندې اور بل کړي) – يا د غوښې چنګکونه[1] ( يعنې دا چې د بندي ټول ځان له اوسپنينو چنګکونو ځړول کېږي) – يا پيسې جوړول[2] ( په دې معنی چې د بندي د ټول ځان له هرې برخې څخه د پيسې په اندازې يوه يوه ټوټه غوښته پرې کېږي) – د مالګوبې چاودې[3] ( په دې معنی چې لومړی د بندي ټول ځان د چاړې په څوکې سورې سورې کېږي ورپسې مالګه او سوځنده اوبلن توکې په ټولو ټپونو کې دننه کېږي) – يا سيخ تاو[4] ( په دې معنی چې بندي ميخ غوندې په ځمکې کې ښخېږي او د غوږونو له نرميو څخه ئې اوسپنين سيخان تېرېږي او په پښو تاوول کېږي) – يا د بوسو څوکۍ[5] (يعنی دا چې بندي دومره په سوټيو وهل کېږي چې هډونه ئې ماتېږي او له بدن څخه ئې بوس جوړېږي)- او يا په خوټول شويو غوړيو باندې د بندي د ځان غوړول، او يا دا چې بندي وږيو سپيانو ته اچوي چې وئې خوري، او يا په سيخانو باندې ژوندی سوری سوری کول او يا سر پرې کول. ګرانه پاچا! دا ځو استوي او بېلا بېل دردونه دي چې د زېږون او بيا زېږون څرخاو ئې په ځان زغمي. ګرانه پاچا! دا کټ مټ د هماغو اوبو په شان ده چې له بارانې وربځو څخه د هماليا د غرونو د خوړونو پر سر وَرېږي، د خوړونو د اوبو بهير د ګنګا تر سينده پورې د پرښو، ګټونو، سترو ډبرو، کاڼو او شګو، ګردابونو، څرخاونو، ستوغو، چابکو[6] سرځوړو ځايونو، د ونو د بيخ له کونډو او څانګو او نورو خنډونو تېرېږي او ځانته لاره پرانيزي- نو په همدا ډول هر بل موجود هم د زېږون او بيا زېږون د متکررې کړۍ په منګولو کې ښکېل دی او په دې سره ځو استوي بېلابېل دردونه ګالي. هماغومره چې د زېږون متکرره کړۍ خوږمنه ده په هماغه اندازه ددې کړۍ پای خوندور دی. او دغه نقل هم د پای ګټې ته نغوته کوي، ګرانه پاچا په همدې کړۍ کې د شته مصيبت له کبله ول چې هغهٔ مبارک موږ له زېږون، زړښت، ناروغۍ او مرګ څخه ور هاغه خوا او وړاندې د بيازېږون د پرله پسې لړۍ د وروستي پای تحقق موندلو ته وهڅولو. په همدې مفهوم ول چې ګرانه پاچا چې هغهٔ مبارک موږ (ژوند ته د پای ورکولو په لارې کې ) وهڅولو.

---

[1] - Balisa-mamsikam (so the Simhalese, Mr. Trenckner reads Balisa).

[2] - Kahâpanakam.

[3] - Khârâpatikkhakam.

[4] - Paligha-parivattikam

[5] - Palâla-pîthakam : ما ددغو ښکليو نومونو په هکله د هينه تي کمبوري د ژباړې پل په ۲۶۰ او ۲۶۱ پاڼو کې اخيستی دی چې د لويديځ له دود سره په سمه سمون خوري. شک نهٔ شته چې يو شمېر هندي سلاطين له حده وتلي تيرغمال او ظالم ول. خو دا ګومان بايد ونهٔ کړو چې دا نومونه دې موږ ته د نامتو سزاګانو او شکنجو بشپړ نوملړ راکړي. دا يوازې د تخنيکي مصطلحاتو يوه ډله ده چې له مخې ئې د شکنجو ډولونه ځانګړی کېږي. او ډېريو خلکو ته ددغو شکنجو نومونه څرګند نهٔ ول، دا نومونه يوازې هغو خلکو ته روښانه ول چې د شکنجې ورکولو په چارو کې ښکېل ول. (زموږ ددې متن ليکوال د شکنجو دا نومونه د پيټه که ګانو د پالي د متن له مخې اخيستي دي) ددغو شکنجو د نومونو ټول نوملړ بوداګهوسه په خپل تفسير کې شرحه کړي دي چې ددويمې انګوتړې په لومړي څپرکې Anguttara II, 1, 1 باندې منورَتها پورانې Manoratha Pûranî نومېږي او ډاکټر موريس Dr. Morris په ۱۸۸۴ز کال کې د پالي متنونو د ټولنې لپاره د خپلې انګوتړې پر لومړي چاپ باندې په ۱۱۳ او ۱۱۴ پاڼو کې ايډيټ کړی دی. خو بودهاګوسه په څو ځايونو کې داسې شرحه ورکوي چې شرحه ئې د هينه تي کمبوري له شرحې سره توپير مومي؛ په نوملړ کې څه دباندې نيمايي نومونه متبادلې معنی ګانې لري چې د هغو له لومړنيو نومونو سره تر ډېره په تناقض کې دي. له دې کبله ويلی شو چې د شکنجو د ډولونو نومونه لرغوني سرچينه لري (ښايي ۴۰۰ – ۵۰۰ م. ز) او په ډاډ ويلی شو چې په پينځمې زېږدېزې پېړۍ کې د پوهېدنې وړ مصطلحات نهٔ ول؛ او ښايي زموږ ليکوال ته هم د پوهېدا وړ نهٔ ول – ليکوال

[6] - Ŭmika-vańka-kadika. I don't pretend to understand this last word. Dr. Morris, at p. 92 of the ' Pâli Text Society's Journal' for 1884, suggests velika. Perhaps it was simply adika after all, with or without *m* euphonic

ډېــر ښــهٔ ناګه سینا! زما له پلوه وړاندې شوې معما مو (د خپلو ښو وړاندې کړو) دلایلو پربنسټ حل کړه. له دې کبله ده تاسو چې څـه وویل زه ئــې منم.

---

[په دې سره د ځانوژنې ستونزه پای مومي]

---

# [له مینې ډکه لــــېــــو التــیا]

**شېارلسم** : ښاغلی ناګه سینا! هغــهٔ مبارک ویلي چې :" اې ورونو! کــېـدی شي له دغو یولسو لارو د ګټو توقع وکړئ : تمرین ئــې کړئ، خپل عادت ئــې وګرځوئ، همدغه لارې د یو بل په منځ کې پراخې کړئ، د خپل پرمختګ د وسایلو په توګې ئــې وکاروئ، د خپل چلند د بنسټ لپاره ئــې وکاروئ، تعقیب ئــې کړئ، را ټول ئــې کړئ، د زړهٔ د نړۍ د ژغور او خلاصون تر لوړو او دنګو څوکو ئــې راپورته کړئ، د (نورو ټولو موجوداتو پر وړاندې)[1] د مینې لوړ احساس راپورته کړئ. او دا یولس ګټې کومې دي؟ هغه څوک چې په صلحې او سلم کې بــېـدېــږي او صلحې او سلم کې راویښــېـږي. هغه څوک چې په ګناه ککړ خوبونــه نــهٔ وینې. هغه څوک چې له انسانانو سره مینه کوي او هم له هغو موجوداتو سره مینــه ساتې چې انسانان نــهٔ دي[2]. ارباب الانواع ئــې وڅاري. نــهٔ اور، نــهٔ زهر او نــهٔ توره ورباندې کار کوي چې دهٔ ته تاوان ورسوي. ډېــر ژر او په آسانۍ سوکالي او آرامي تر لاسه کوي. د څــېــرې مظاهر ئــې مسکوته او آرام وي. کله چې له مرګ سره مخامخ کــېــږي، له مرګه دې وېــره ونــهٔ لري، او د (ارهټوب) تر عالي حالت پورې دې زورونه ونــهٔ وهي او بیا دې داډه اوسي چې د برهما په نړۍ کې بیا زېــږون مومي."[3] خو له بلې خوا تاسو «د قانون غړي» وایاست: " چې شهزاده سامه[4] په زړهٔ کې د ټولو موجوداتو لپاره د لــېــوالتیا مینه کرلې وه او د مینې په همدې کښت کې ئــې ژوند کاوهٔ (نو د همدې مینې پر بنسټ ول کله چې ) په ځنګل کې تــېــرېــدهٔ نو د هوسیو یوه رمــه به ورپسې روانــه وه نو یوه ورځ د پاچا پیلیاکهه[5]

---

[1] - دا هم له لومړیو لغاتو پرته د هماغو وییکو لړۍ ده چې د سترګ مرګ په کتاب کې په ایدهي – پاداګانو کې Iddhi-pâdas in the Book of the Great Decease, III, 3 (p. 40 of vol. xi of the S. B. E.) کې راغلي دي. (د ټولو موجوداتو پروړاندې) کلمات په متن کې دننه نــهٔ شته خو معنی او کارَول شوي مصطلحات ئې همدا معنی ښندي چې دا مینه یوازې له انسانانو سره نــهٔ ده، خو که د (ټولو موجوداتو پر وړاندې) کلمات مو نــهٔ ول راوړي نو ژباړه ئې دلته بې مفهومه کــېـدله – لیکوال

[2] - امانوسا amanussâ : دا په دې معنی ده چې دوی ارباب الانواع نــهٔ بلکه د ځمکې پرمخ نور ژوندي موجودات دي لکه نیادان (naiads د یوناني میتالوژیو پربنسټ ( د طبیعت، لکه ګلان او ونو یو ډول، غیر مرئــي پرښتې دي –ژباړونکی)، دریادان (dryads د یوناني میتالوژیو له مخې د ښتر د ونې یو ډول غیر مرئــي پرښته ده – ژباړونکی)، ښاپــېــرۍ او نور داسې. هماغسې چې لاندې په IV, 4, 41 کې یو ځل بیا ښودل شوي امانوسا د دیوه تا devatâ مخالفین دي چې همدلته په راتلونکي قضیــې کې ئــې یادونه شوې ده. په لرغونو زړو متونونو کې دیوه دتا په ډلې کې امانوسا یو ځای راغلي دي- لیکوال

[3] - From the Aṅguttara Nikâya, Ekâdasa Nipâta; quoted in full, with the context, in the Introductory Story to the 169th Gâtaka (vol. ii, pp. 60, 61 of Professor Fausböll's edition).

[4] - Sâma the Prince

[5] - Piliyakkha the king

په لاس په زهرجن غـېـشي وویشتل شو او ځای پر ځای بې هوښه ولوېـد[1]." اوس نو ګرانــه ناګه سينا که د هغـۀ مبارک له خولې نقل قول چې ما ياد کړ صحيح وي بيا نو ستاسو خبره او ادعا بايدغلطه وي. خو که د شهزاده سامه قصه رښتيا وي بيا نو دا خبره غلطه ده چې نــۀ اور، نــۀ زهر او نــۀ توره پر هغـــۀ چا کار کوي او نــۀ تاوان ور رسوي چې په زړۀ کې د ټولو موجوداتو لپاره مينه پالي او د زړۀ په پټي کې ورته د مينې تخم کري. دا هم داسې يوه دوه استوې، پــېـــچلې، نازکه، ژوره ستونزه ده چې حل کول ئــې ښايي وکولی شي ان د اخلاقياتو د زښتو زيرک فکرو کسانو له وجوده خوَلې راوباسي. اوس همدا ستونزه ستاسو مخې ته ږدم. دا لويه غوټه پرانيزه[2]. د سوبمن د هغو زامنو د هيلو د تر سره کـېـدلو پر لارې باندې روښا واچوئ[3] چې له موږ وروسته به ژوند وکړي[4].

ګرانـه پاچا! دغه نقل قول چې تاسو راواخيست، هغـۀ مبارک ويلی دی. او شهزاده سامه چې د مينې په کښت کې ئې ژوند کاوۀ او د هوسيو يوه رمه ورپسې روانــه وه او کله چې د همدې کښت په ځنګل کې روان وو نو د پاچا پيلياکهه په لاس په زهرجن غـېـشي وويشتل او بې هوښه پر ځمکه راپريوت. خو ددې خبرې لپاره دليل شته. [۱۹۹] او دا دليل کوم دی؟ په ساده ژبه که وويل شي دغه فضايل (ستاسو په را اخيستل شوي نقل قول کې چې د مـينې ليوالتيا او عادت دی) هغه فضايل دي چې د مينــه کوونکي په شخصيت کې نـــۀ بلکه د مينې حقيقي حضور د هغـــۀ د زړۀ[5] په تل کې پروت دی چې غږ ئــې له هماغه تل څخه راپورته کــېـږي. کله چې شهزاده سامه د اوبو د لوښي په اوبو کې لاس واهـــۀ نو په دې شـېـبې کې دی د رښتوني مينې له حقيقي احساس څخه په غفلت کې وښوييد. ګرانــه پاچا! يو څوک بايد يوه شــېـبه هم له رښتونی مينې غافله نــۀ وي که غافله نــۀ وي نو نـــۀ اور، نــۀ زهر او نـــۀ توره ورباندې کار کوي. که هر څوک ورته کابو کښـېـني چې دۀ ته تاوان ورسوي، نو دی به په سترګو ونـــۀ ويني او نــۀ به ورته دا شـــېـبه په لاس ورشي چې دۀ ته دې تاوان ورسوي. ګرانــه پاچا! دا فضايل ميراثي نـــۀ دي دا فضايل د رښتوني مينې حقيقي حضور دی چې شرنګ ئــې د مين د زړۀ له تله راپورته کـــېـږي.

ګرانــه پاچا داسې وانګــېـرئ چې يو څوک دې د مافوق الطبيعه ځواک جرړه چې له سترګو پناه ده په لاس کې ونيسي؛ او په دې سره تر هغو چې دا جرړه ددغـۀ سړي په لاس کې شته بل هــېـڅ عادي انسان ئــې د ليدنګ وسعه نــۀ لري. اوس نو خبره پــه دې کې ده چې د پناه کـــېـدلو فضيلت په دغـۀ سړي کې نـــۀ دی. دا فضيلت بايد په جرړې کې وي، داسې يو فضيلت چې که يو شی په خپله د جرړې په کرښې پروت وي نو د عادي اخلاقياتو پالونکی سړی ئې له شتون سره سره بيا

---

[1]- ښاغلی ترنکنر Mr. Trenckner دې ته نغوته کوي چې دا کيسه په ۵۴۰ ګاتکې کې ويل شوې ده ليکوال

[2] - See p. 105 of the text.
[3] - Kakkhum dehi. So also p. 95 of the text.
[4] - Nibbâhana; not in Childers, but see p. 119 of the text.

[5]- بهانانا- Bhânanâ په معنی کې تقريباً د کښت په معنی ده. حقيقي معنی ئــې د احساس حضور په ځانګړي ډول اخلاقي حالت دی چې وکرل شي (په دې قضيــې کې مينه ده). همدا وييکی مې يو بل چــېــرې د فکري عبادت په ډول ژباړلی دی: خو دا وييکی موږ ته د اخلاقي دکتورينو په شان او عملي کول ئـې دواړه راڅرګند نــۀ دي موږ ورته داسې معادل لغت نــۀ لرو چې د پالي د ژبې دلالتورباندې دقيقاً راڅرګند کړو. - ليکوال

هم په سترگو نهٔ شي ليدلی. نو گرانه پاچا! د فضليت ذات هم همداسې دی چې يو څوک ئې حضور يوازې دداسې يوې مينې په حضور سره محسوسولی شي چې دا مينه ددهٔ د زړهٔ له تله وي او د زړهٔ په سترگو ئې ووينې.

يا دا د هماغهٔ يوهٔ سړي [۲۰۰] قصې ته ورته ده چې يوې زښې لويې سمڅې ته ننوت، دا سمڅه په پياوړې ډول جوړه شوې وه. دا داسې سمڅه وه چې که هر څوني توپاني باران شوی وای خو دی ئې نهٔ شو لمدولی. د نهٔ لمدېدلو د فضيلت ذات په دغهٔ سړي که نهٔ دی. دا فضيلت بايد په خپله همدې سمڅې کې وي چې دونې ستر او لوی باران دې دا توان ونهٔ لري چې ددهٔ ځان دې لوند کړي. نو گرانه پاچا د فضليت ذات د مينې په هغهٔ حضور کې پروت دی چې دا سړی ئې د زړهٔ[1] په تل کې لري.

[1] - دا له موضوع تېښته او مماحکه نهٔ ده. پخوانيو لرغونو بودايانو د باندني چاپېريال پر شيانو باندې د مينې په ځواک گروهنه درلودله. د هغهٔ مهال په بودايانو کې تر ټولو ښهٔ پېژندل شوي حالات هماغهٔ ول چې د همداسې يوهٔ ځواک استازيتوب دې څوک وکولی شي او عملي ئې کړي او دا حالات پر نورو موجوداتو باندې د مينې د ځواک لرل ول او له دې لارې ئې کولی شول د هغوی پر اعمال باندې ولکه او ځواک ولري. يوه بېلگه ئې د بودا پر ضد د ديوه ډتا زلنده او سړي وژونکی هاتي نالاگيري Nâlâgiri دی چې په ( Kullavagga VII, 3, n, 12) کې ياد شوی دی، دلته ويل شوي چې گاتما د خپلې مينې ځواک د ديوه ډتا فيل ته ورښکاره کړ، گاتما ته فيل يوازې ددې لپاره ورغی چې ورته سلام وکړي، او فيل ته ئې اجازه ورکړه چې دهٔ ته يوازې يو ټکان ورکړي او تاوان ور ونهٔ رسوي. او کله چې بودا بهارت ته لاړ نو پينځه تنه مريدان ددهٔ حضور ته په دې موخې راغلل چې دهٔ ته خپل درناوی وړاندې کړي، بودا هم ددوی په شان ببرته په ځواب کې " خپل احساس په خپل مينې " متمرکزه کړ او په دې سره ئې په جنت او د ځمکې پر مخ ټولو موجوداتو ته خپله مينه په عام ډول ولېږدوله" او خپله مينه ئې " په ځانگړي ډول دوی ته نيغه ولېږله". وروسته " ئې د خپلې مينې احساس د هغوی زړونو ته ولېږهٔ. او دی ددوی زړونو ته نېږدې او لا نېږدې شو، دا مينه دونې ژوره شوه چې نوره ددوی له زړونو نهٔ شوای وتلی، دوی له خپلو ځايونو پورته شول، دهٔ ته د درنښت په پار په ملا کاږهٔ او په سجدو شول، دا مينه دونې هر اړخ ته پراخه شوه چې په حضور او غياب کې ددهٔ درنښت پالل کېدهٔ. (د بودا داستانونه لومړی ټوک ۱۱۲ پاڼه)

او کله چې بودا غوښتل "مليانې (مليان يا مليان کلن په هندي پنجاب کې له امرسترە ۱۰۲ کيلومتره لېرې د يوهٔ کلي نوم دی – ژباړونکی) روگا Roga the Mallian دين ته را واړوي نو ويل شوي چې بودا په خپل هماغهٔ خوی او عادت لومړی د خپلې مينې د ځواک په احساس پر روگا باندې خپله اغېزه وشيندله. او" روگا " د هغهٔ مبارک د مينې د احساس تر اغېز لاندې راغی- کټ مټ لکه يو سخوندور چې په خپلې مور پسې ځي – روگا هم کور په کور په هغهٔ مبارک پسې گرځېدهٔ. (شپږمه مهاوگه څلورم څپرکی شپږ دېرشمه پاڼه)

او کله چې بهيکوگانو بودا ته وويل چې يو ديني ورور د يوهٔ مار د چيچنې له کبله وژل شوی، په (پينځمې گولا وگې کې په شپږمې پاڼې کې ) ددهٔ له خولې ويل شوي چې :" دغهٔ ورور خپله مينه پرېښودله چې د څلور ډولو فلکي سلطنتي مارانو له زړونو تېره شي. که دهٔ داسې کړي وای نو دی به د مار په چيچلو نهٔ وای وژل شوای." او بيا ويل شوي چې بودا د مارانو په هکله د څلور اشعارو «منترونو – ژ» د ويلو لارښوونه او سفارش ورکړ (په پورتني اخځ کې ذکر شوي دي) چې دا اشعار د مار چيچلو د اودم او له مار څخه د ځان ساتلو لپاره دي. دا داستان له خپل ټاکلي حده ډېر وړاندې ځي خو داسې بېلگه نهٔ وړاندې کوي چې په هغې کې دې څوک په برياليتوب له مار څخه خوندي وتلی وي. ما ته د پالي په پيته که گانو کې هېڅ داسې قضيه نهٔ ده په سترگو شوې چې په هغو کې دې دداسې مينې له حضوره خبر وکړي چې پر بنسټ ئې څوک له اوره، زهرو او تورې څخه خوندي وساتي.

دا د يادونې وړ ده چې سيمهالي متن (له ۲۶۵ تر ۲۷۱) پورې شپږ پاڼې زياتې اچوي چې په پالي متن کې نهٔ شته. زما په گومان سيمهالي متن د گاتکه د کتاب له مخې د شهزاده سامه د داستان په شان، قصې او روايات وايي – ليکوال

ګرانــه ناګه سینا! د مینې حضور ژښت ډېــر حیرتناکه او عبرتناکه او ژښته ډېــر عجیبه دی چې له ذهنــه د هر ډول شرارت په شړنــه کې څوني پیاوړی ځواک لري[1].

هو! د مینې ممارست په دواړو، ټولو ښو (موجوداتو) او شریرو هغو کې، د حمیده شرطونو زېــږنده ده. د مینې دا ممارست ټولو موجوداتو ته که د هر ډول وي، یعنی هغوی چې د ادراک الوجود یا هوښیارۍ هستی[2] مریبان دي ژښت ډېــر ګټور دی او له همدې کبله ده چې دوی ټول باید په خپلو زړونو کې د داسې مینې د تخمونو د کرلو هڅه وکړي.

---

[په دې سره د مینې د ځواک ستونزې پای مومي]

---

# [دیوه دتا]

**اووۀ لسم** : ښاغلی ناګه سینا! آیا ښــۀ عمل او شریر عمل یو شان پایله لري یا د دواړو تر منځ توپیر شته؟

ګرانــه پاچا! د ښــۀ او شریر عمل تر منځ توپیر شته. ښــۀ عمل ښې پایلې لري او پایله ئــې په سَګه[3] اوړي، او شریر اعمال غمجنې پایلې لري چې په نیره یا[4] اوړي.

خو ښاغلی ناګه سینا! ستاسو خلک وایي چې دیوه دتا له سره تر پایه شرارت وو، په شریرتوب ډک وو، او بودي سَت[5] سوچه[6]/ خالص وو او په سوچه والي ډک وو. او د پرله پسې هستیو[1] په اوږدو کې نــۀ یوازې دیوه دتا له بودي سَت سره

---

[1] - دا له پورته ویل شویو خبرو څخه تر یوې کچې توپیر لري – لیکوال

[2] - په وینه- بدهاو سبِسم Ye vińńna-baddhâ, sabbesam چې سیمهالي متن ئې " ښــۀ او شریر کسان" تفسیروي او وینه پرتي وده vińńana. prati wûda ئــې ژباړي. خو زه د ښاغلي ترنکنر Mr. Trenckner تأکید غوره ګڼم. لیکوال

[3] Sagga- : سګه په جنت کې لنډ مهالي ژوند ته وایي- لیکوال

[4] - په دوزخ کې لنډ مهالی ژوند «برزخ» دی – لیکوال

[5] - بودهي – سټو Bodhi-satto د حکمت بچی. دا هغه څوک دی (چې د پرله پسې ژوندونو د لړۍ په ترڅ کې ئــې فضیلت عملي کړی وي) چې ورپسې بودا کــېږي- لیکوال

[6] - په پالي کې "شریر" او " سوچه" د (کنهي kanhe) او (سوکه sukka) په ډول ویل شوي چې په تحت اللفظي معنی " تیارۀ" او "روښنایي" کــېږي. یوازې په یوۀ بل نقل قول کې چې زما په یاد دي دا دواړه وییکی یا لغات په اخلاقي معنی او مفهوم د دهماپدا Dhammapada په اووۀ اتیایم شعر کې د رنګونو په معنی راغلي دي. پوهاند مکس مولر Professor Max Müller په همدغــۀ ځای کې دا دواړه وییکي داسې ژباړي : " هوښیار سړی باید تیارۀ حالت (عادي ژوند) پرېــږدي او (بهیکشو Bhikshu) د روڼا حالت/ ژوند غوره کړي. وګورئ : S. B. E., vol. x, p. 26.). خو دا وییکي په ډاډ داسې ژباړل کــېدی شوَی : " هوښیار سړی باید شریرې لــېوالتیاوې شا ته پرېـــږدي او په زړۀ کې دې سوچه تخمونه وکري." بهاویتها Bhâvetha هــېڅکله نـــۀ شي کولی هــېڅ یوې باندنۍ ورهڼه/ کار ته زړۀ ښــۀ کاندي او غوره ئــې کړي. بهاویتها باید په ځانګړي ډول د باطني احساساتو کرهڼه او ممارست وکاروَي. او پوهاند فوسبول Professor Fausböll له هغــۀ تفسیر څخه چې نقل قول هماغه

برابر وو بلکه ځیني وختونـه ئـې ورڅخه لوړ مقام درلود، دوی دواړه په خپل شهرت او د پیروانو د لرلو په شمـېـر کې سره برابر دي.

**اتلسم** : " له دې کبله ناګه سینا کله چې دیوه دتا د بنارس په ښار کې د برهما دتا[2]، پوروهیتا[3] پاچا (یعنی د کورنی برهمن یا سلطنتي کشیش) ، شو نو په دې پسې بودي سَت یو بد بخته کنداله[4] (رټل شوی) شو چې د کوډګری منترونـه ئـې په ذهن کې له یاده زده ول. او د منترونو په تکرار سره ئـې یو ناڅاپه د امب غیر فصلي میوې جوړې کړې[5]. دا یوازینی ځای دی چې بودي سَت په زېـږون [۲۰۱] کې تر دیوه دتا، ټیټ نـهٔ دی راغلی ، ټیټ د خپل شهرت او نامتوالي له اړخه."

**نولسم** : دلته نو کله چې دیوه دتا پاچا شو، یعنی د ځمکې[6] پر مخ ستر او پیاوړی سلطان شو، نو د سلطنت له هر ډول خوندونو برخمن شو خو بودي سَت یو فیل وو او دومره په هر ډول ګاڼو سمبال وو چې باید د یوهٔ ستر سلطان په چوپړ کې وي. کله چې پاچا د فیل آرامه او له تودو احساساتو وتلي مطبوع حالت ته ولـېدل نو فیل روزونکي ته ئـې د فیل د وژلو په هـېـلې وویل :" روزونکیه! دا فیل سم نـــهٔ دی روزل شوی، دهٔ ته " په آسمان کې د ګرځـــېـدلو چلونـه ورزده کړه!" په دې حالت کې هم بودي سَت تر دیوه دتا ټیټ وو – ځکه یوازې یو احمق ژوی وو، بل څــهٔ نــهٔ وو.[7]"

---

اخځ دی چې په همدغـهٔ مفهوم په دهماپدا کې راغلی دی او همدا کار هینه تي کمبوري (Hinati-kumburė1 (p. 271 کښ مټ دلته کړی دی. لیکوال

[1] - بهاوی بهاوی Bhave bhave سمه او دقیقه معنی به ئـې د هغـهٔ تدریجي وړتیا وي - لیکوال

[2] - Brahmadatta

[3] - Purohita

[4] - کاواکه کنداله Kavaka,-kândâla – کنداله په هندوستان کې یوه پـېـژندل شوې پاړکه ده چې تر اوسه په هندوستان کې شته – حقیقت دا دی چې دا پاړکه د نورو پاړکو په نوملړ کې تر ټولو وروستۍ او شا ته پاتې پاړکه ده. د چایلدز په ژباړې کې کاواکه Kavaka نـــهٔ لـیدل کـېـږي خو پر ځای ئـې لاندې (زموږ په ۲۵۶ پاڼې کې) د ماره Mâra یا بودیزم کې د شیطان په نامــهٔ وییکی راغلی دی. زموږ یادښت لاندې وګورئ. لیکوال

[5]- دا د ۳۰۹ ګاتکې په لنډېـز کې نـهٔ دي راغلي، دا له هغې قصې توپـیر لري چې پوهاند فوسبول Professor Fausböll د دریم ټوک په ۲۱۷-۲۳۰ پاڼو کې خپره کړې ده، او همدا شان له هغو لرغونو او لنډو قصو هم توپیر لري چې (په نهـهٔ شپیتمې سخیا، څلورمې وینه یا – ۲۰۳ – ۲۰۴ پاڼې کې69th Sakhiya, Vinaya IV, pp. 203, 204) د پاتي موخه Pâtimokkha په تفسیر کې راغلی دی. [ددې قصې نوم د پوهاند فوسبول په چاپ کې خاواکه – ګاتکه Khavaka-Gâtaka نومـــېـږي، خو په قصې کې په خپله د کنداله Kandâla په هغـهٔ نقل قول کې کارَول شوی چې د پوهاند فوسبول له خپکه Khapaka سره سمون خوري او د خپکه وییکی په همدې ډول دلته لیکل شوی دی – دا یو عجیبه تصادف دی چې زموږ ددې کتاب د لیکوال پر یاد شوي نامـهٔ باندې روڼا اچوي چې هماغـــهٔ خاواکه کنداله Khavaka Kandâla دی]. دا قصه د امبا ګاتکه Amba Gâtaka په ۴۷۴ پاڼې کې راغلې ده او په دې قصې کې د خاواکه وییکی نـــهٔ دی یاد شوی – لیکوال. د ژباړونکي یادونـه - آیا د افغانستان په پامیر کې د همالیا د غرونو د لړۍ هندوکش کې د بدخشان له سویله نیولې بیا په بامیانو کې د بابا تر غرهٔ پورې د خاواک کوتل له دغـــهٔ نامـهٔ سره کوم تړاو نـهٔ لري؟

[6]- هینه تي کمبوري په ۲۷۲ پاڼې کې وایي د مګـَــدها Magadha پاچا وو. لیکوال

[7] - یو سلو دوه ویشتمه ګاتکه، چې دومیدهه ګاتکه Dummedha Gâtaka نومـــېـږي. دا قصه وایي چې پاچا دا فیل له راګه ګاهې Râgagaha څخه دباندې د ویپوله Vepulla غرهٔ ته بوت. دلته ئې لومړی فیل په درو پښو بیا په دوو پښو بیا په یوې پښې ودراوهٔ او بیا ئـــې د فیل له روزونکي وغوښتل چې فیل په هوا کې ودرَوه. له همدې خبرې وروسته ول چې فیل د بنارس پر لور والوت.- لیکوال

**شلم:** او بيا کله چې ډېوه ډټا د انسان په جامو کې شو نو ژوند و ژواک ئــې د غــَـلو دانو په څپ[1] وهلو پر مخ بيوۀ خو بودي ست يوه بيزو وه چې " پلنـه ځمکه[2]" نومــېدله. دلته يو ځل بيا توپير وينو چې يو ئـې ژوی بل ئــې انسان دی، او بودي سَت يو ځل بيا په زېــړون کې تر ديوه ډټا ټيټ دی[3].

**يوويشتم**: او بيا کله چې ديوه ډټا د سنوتـړه[4] په نامـــۀ د انسان په جامې کې راڅرګند شو نو دلته ډېوه ډټا يو نيساده[5] (يوه رټل شوې بومي قومي ډله چې ژوند و ژواک ئــې په ښکار پورې تړلی وو) وو، چې پياوړی بدن او غښتلی ځواک ئــې درلود خو بودي سَت د پاچا د فيل په جامو کې وو چې " شپږ خرطومی " وو. او ښکاريان له زېـړونــه فيلان په وحشت او بــېــرحمې وژني او ښکار کوي ئــې. په دې حالت کې هم ډېوه ډټا پر بودي سَت لوړ او برلاسی دی[6].

**دوه ويشتم** : او بيا کله چې ديوه ډټا د انسان په جامو کې په ځنګلـــۀ کې د ګرځنده بې کوره انسان په جامو کې راڅرګند شو نو بودي سَت داسې زرک - مارغــۀ وو چې ويدې اشعار ئـــې له ياده زده ول. په داسې ژوندون کې ځنګلي انسان دا مرغۍ وژني. نو دلته هم ديوه ډټا پر بودي ست په زېــړون کې برلاسی او لوړ دی[7].

**درويشتم**: او بيا کله چې ديوه ډټا د کلابو[8] په نامـۀ د بنارس د پاچا په جامو کې راڅرګند شو، بودي ست د يوۀ زاهد په جامو کې راڅرګند شو چې څارويو ته ئــې د مهربانۍ وعظ کاوۀ. دلته نو چې پاچا «سپورت او تکړښت ته ډېــر لـــېــواله وو» په زاهد په قهرېــږي او لاسونـه او پښې ئــې د بانس د نيالګي په شان ور پرې کوي[9]. په دې ژوندون کې بيا هم ديوه ډټا هم په زېــړون او هم د انسانانو په منځ کې په شهرت کې تر بودي سّت لوړ ی دی.

---

[1] - پفني نتهاييکو Pavane natthâyiko : خو هينه تي کبموري Hinati-kumburė ئــې داسې ژباړي : په بنارس کې يو بزګری وو چې ژوند و ژواک ئـــې د بزګرۍ له لارې وو. خو زما په باور سمه لوستنه ئــې همدا پفني نتهاييکو Pavane natthâyiko ده- ليکوال

[2] - the broad earth

[3]- په خواشينۍ چې ددغې قصې د پلـــۀ خاپ مې په ګاتکه ګانو کې ونـــۀ موند – ليکوال

[4] - Sonuttara

[5] - Nesâda

[6]- زه نـــۀ پوهــېـږم چې دا خبره کومې ګاتکې ته نغوته کوي – ليکوال

[7]- دا بايد ۴۳۸ ګاتکه وي چې د تيتيرا ګاتکه Tittira Gâtaka په نامـــۀ يادېــږي. د يوه ډټا په لنډېــز کې دلته د يوۀ ريا کاره دوه مخي زاهد په جامو کې دی چې هوښيار مارغــۀ وژني او بيا ئــې خوري – ليکوال

[8] - Kalâbu

[9]- دا درې سوه او ديارلسمه ګاتکه ده چې هلته د خانتي- وَدي ګاتکه Khanti-vadi Gâtaka په نامـــۀ يادېــږي. سلطنتي ورزشکار لومړی دعالم سرې د بدن پوست باسي، بيا ئــې لاسونه او پښې ددې لپاره ور پرې کوي چې عالم له خپل نظره واوړوي. خو دا حکيم په ځواب کې وايي چې له څاوريو سره ددۀ مينه ددۀ په پوستکي کې، يا ئــې په لاسونو يا پښو کې نـــۀ بلکه په زړۀ کې ده. ورپسې نو ځمکه څيرېــږي او دا ظالم تيرغمال پاچا غړوپ تــېــروي او رعيت ددغــۀ حکيم مړی په درنښت يو چـــېــرې ښخوي. لنډه دا چې پاچا کلابو دلته هماغه ديوه ډټا دی. – ليکوال

**څلورويشتم** : : او بيا کله چې ديوه دتا د لرګيو تولونکي او ځنګلي انسان په جامه کې راڅرګنـېدېږي نو بودي سَت د پاچا د بيزو نانديا[1] په جامو کې راڅرګندېـږي. او بيا روښانه کـېـږي چې په داسې ژوندون کې انسان نـــۀ يوازې بيزو بلکه د هغې مور او ځوان ورور هم وژني. نو دلته په دې حالت کې هم ديوه دتا په زېـږون / ژوند کې تر بودي سَت لوړ دی[2].

**پينځه ويشتم** : او بيا کله چې ديوه دتا د کارَمبهيا په نامـــۀ د انسان په جامې کې د لوڅ لېږ زاهد په توګې راڅرګند شو نو بودي سَت د پاچا د مار په جامې کې راڅرګند شو چې «ژيريکی» نومــېـدۀ. نو دلته هم ګورو چې ديوه دتا [۲۰۲] په زېـږون کې بيا تر بودي سَت لوړ دی[3].

**شپږ ويشتم** : او بيا کله چې ديوه دتا په ګنو ځنګلي ويښتانو کې د ورهنګر/ ماهر زاهد په توګې د انسان په جامې کې راڅرګندېـږي نو بودي سَت د «ترکاڼ» په نامـــۀ د يوۀ نامتو سرکوزي په جامو کې راڅرګندېـږي. دلته هم ديوه دتا پر بودي سَت لوړ او برلاسی دی[4].

**اووۀ ويشتم** : او بيا کله چې ديوه دتا د کيتس [5] په منځ کې د سوره پرکاره[6] په نامـــۀ پاچا کـېـږي چې د انسان د لوړ والي[7] په اندازې ئــې د تلنګ پر مهال د الوتلو توان درلود خو بودي سَت د کــپيلا[8] په نامـــۀ د يوۀ برهمن په جامو کې وو. نو دلته هم ګورو چې ديوه دتا هم په زېـږون کې او هم په خپل نامتو توب او شهرت کې پر بودي ست برلاسی او لوړ دی.

**اتـــۀ ويشتم** : او بيا کله چې ديوه دتا د سامه په نامـــۀ د انسان په جامې کې راڅرګندېـږي او بودي سَت د غرڅو په منځ کې د رورو[9] په نامـــۀ يو پاچا دی. او دلته هم ديوه دتا په زېـږون کې بيا لوړ دی[10].

---

[1] - Nandiya

[2] - دا خبره په دوه سوه او دوه ويشتمې ګاتکې راغلې چې هلته کولا نانديا ګاتکه Kûla Nandiya Gâtaka نومــېـږي- ليکوال

[3]- دا هم ښايي پينځه سوه او اتلسمه ګاتکه وي. وګورئ د ښاغلي ترنکنر يادښت ليک – ليکوال

[4]- دا بايد څلور سوه او دوه نويمه ګاتکه، تکخه سوکره ګاتکه Takkha-sûkara Gâtaka وي چې په دې کې سرکوزی يو هوښيار خاروی دی چې ترکاڼ سره په کارونو کې مرسته کوي، او د داستان شرير او سپک کرکتر يو دوه مخی زاهد دی چې ګڼ ځنګلي ويښتان لري. خو دلته دا بايد ورغبرګه کړم چې د پوهان فوسبول د څلورم ټوک په ۳۵۰ پاڼي کې ددې داستان د لنډيز په برخې کې ديوه دتا د زاهد په توګې پــېـژندل شوی خو بودي ست د هوښيار سرکوزي په جامې کې نــۀ بلکه د ځنګلي پرښتي په جامې کې ښودل شوی دی. – ليکوال

[5] - Ketas

[6]- Sura Parikara : دې په دوارو څلور سوه او دوه ويشتمې ګاتکې کې ( چې يو لنډېـز دی) او د سومنګلې Sumańgala په ۲۵۸ پاڼي کې د اوپه کاره Upakara په نامـــۀ ياد شوی دی. دريیمه ګاتګه ئې په خپلې ۴۵۴ پاڼي کې د نامـــۀ دريیمه بڼه د ايه کاره Apakara په ښې ورکوي- ليکوال

[7]- پوري سه متو ګاګني ويها سـنـګمو Purisamatto gagane vehâsańgamo. ګاتکه کې په ساده ژبې اوپاري کرو uparikaro بولي چې ښايي موخه ئــې هماغه پورته ياده شوې معنی وي- ليکوال

[8] - Kapila

[9] - Ruru

[10]- دا بايد څلور سوه او اتيايمه ګاتکه وي. دا رښتيا ده چې په دې ګاتکې کې د مها دهانکه Mahâ Dhanaka په نامـۀ يو څوک دی (وګورئ فوسبول دريیم ټوک ۲۵۵ پاڼه)،او بودي سَت نــۀ د رورو په نامـــۀ او نـــۀ د هوسيو د رمې پاچا بلکه د هوسی په شان يو ګاووزن دی چې يوازې ژوند و ژواک کوي. خو يوه شاعرانه پرتله ښيي چې دلته هم موخه له همدغې قصې څخه ده چې په يادې شوې بڼې جوړه شوې ده وګورئ : Kariyâ - Pitaka II, 6 (p. 87 of Dr. Morris's edition for the Pâli Text Society ليکوال

**نــهــمـ ویشتم** : او بیا کله چې دیوه دتا د انسان په جامو کې دداسې یوۀ ښکاري په بڼې راځرګند شو چې په ځنګلـۀ کې لالهانده وو خو بودي سَت د یوۀ نر فیل په جامو کې را څرګند او ښکاري د فیل غاښونـه اووۀ ځله ماتوي. دلته هم دیوه دتا بیا برلاسی دی چې په یوې لوړې او د درنښت وړ پاړکې کورنی کې زېــږون مومي[1].

**دېــرشم :** او بیا کله چې دیوه دتا د سورلنډي / شغال په جامو کې راڅرګندېــږي نو غواړي د نړی پاچا شي[2] او په هندوستان کې د ټولو سیمو پاچاهان تر خپلې ولکې لاندې راولي خو بودي سَت د ویدهورا په نامـــۀ د یوۀ حکیم انسان په جامه کې راڅرګندېــږي. نو دلته هم دیوه دتا لوړ او پرتمین ښکاري.

**یو دېــرشم** : او بیا کله چې دیوه دتا فیل شو نو ځوان چینائــې طاووس ئـــې وواژۀ خو بودي سَت چې هم یو فیل دی یوازې د خپلې ډلې مشري کوي. دلته ګورو چې بیا هم دیوه دتا ته لوړه ونډه ورکړل شوې ده[3].

**دوه دېـــرشم** : او بیا کله چې دیوه دتا د «بې تقوی» په نامـــۀ یو یکخا[4] شو نو بودي ست هم د «متقي» په نامـــۀ یو یکخا وو. دلته بیا وینو چې دواړه سره برابر دي[5].

**دري دېـــرشم :** او بیا کله چې دیوه دتا مانو او د پینځو سوو کورنیو مشر وو نو بودي سَت هم مانو او هم د پینځو سوو کورنیو مشري کوله. دلته ګورو چې بیا هم دواړه سره برابر دي[6].

**څلور دېــرشم** : او بیا کله چې دیوه دتا د کاروان مشر او د پینځوسوو بګیو څاروان شو نو بودي سَت هم د پینځوسو بګیو څاروان او د کاروان مشر شو. دلته بیا ګورو چې دواړه سره برابر دی[7].

---

[1] - دا دوه اویایمه ګاتکه ده چې د سیلاوه ناګه ګاتکه Sîlava Nâga Gâtaka په نامـۀ یادېــږي وګورئ (فوسبول لومړی ټوک ۳۱۹ پاڼه) لیکوال

[2] - خاتیه دهمو Khattiya-dhammo، په تحت اللفظي معنی هغه څوک دی چې د کشتریا Kshatriya ختِه یا طبیعت ولري. دا اصطلاح په ۲۴۱ کاتګې کې نـــۀ ده یاده شوې چې همدلته ورته نغوته شوې ده ( او د پوهاند فوسبول د چاپ د لومړي ټوک په ۲۴۲ پاڼې کې هم له پامه غورځول شوې ده)، او بودي سَت دلته د پندیتا pandita په نامـــۀ نـــۀ بلکه د پوردهیتا purdhita په نامـۀ یاد شوی دی او دا نوم د ویدهوره په نامـــۀ نـــۀ دی ورکړ شوی. سورلنډی هم د سوبې په هیلې بنارس ته په ژړا راغلی دی. خو شک نـــۀ شته دا قصه هماغې قصې ته ورته ده چې په سبا دتها ګاتکه Sabba Dâtha Gâtaka کې ئـــې یادونه شوې او دلته ورته په همدې قصې کې نغوته شوې ده- لیکوال

[3] - دا ۳۵۷ ګاتکه ده وګورئ (فوسبول دویم ټوک ۱۷۴ پاڼه) چې د بهاروت د ټوپې Bharhut Tope په ښودل شویو کې یوه ده وګورئ (کنینګهم ۱۰۹ پلیټ Cunningham, Plate 109) – لیکوال

[4] - yakkha

[5] - د ګاتکه په متن کې ( ۲۵۷ ګاتکه، فوسبول څلورم ټوک ۱۰۰ او ورپسې پاڼه) دوی دواړه دیوه پوتا devaputtâ یعنی ارباب الانواع دي نـــۀ یکخا. دا مطلقاً یوازینی ځای نـۀ دی چې د یکخا اصطلاح دې رب النوعو ته کارّول شوي وي – لیکوال

[6]- ددې قصې د پـلـــۀ خاپ مې په ګاتکو ونـــۀ موند- لیکوال

[7] - دا اپانکه ګاتکه Apańńaka Gâtaka ده (شمــېــره لومړی، پاڼه ۹۸ او ورپسې، د پوهاند فوسبول چاپ) چې په 'Buddhist Birth Stories,' vol. i, pp. 138-145. کې ژباړل شوې ده – لیکوال

**پينځـــۀ دبـــرشم** : [۲۰۳] او بيا کله چي ديوه دتا د ساکهه[1] په نامـــۀ د غرځو پاچا شو نو بودي سَت هم د نيگرودها[2] په نام د غرځو پاچا شو. دلته بيا دواړه سره برابر دي[3].

**شپږ دبـــرشم** : او بيا کله چي ديوه دتا د ساکهه په نامـــۀ ستر درستيز شو نو بودي سَت د نيگرودها په نامـــۀ پاچا شو. دلته هم دواړه سره برابر دی[4].

**اووۀ دبـــرشم** : او کله چي ديوه دتا د «خنده هاله[5]» په نامـــۀ يو برهمن شو نو بودي سَت د «کندا[6]» په نامـــۀ يو شهزادگی شو. نو دلته گورو چي «خنده هاله» برلاسی ښکاري[7].

**اتـــۀ دبـــرشم :** او بيا کله چي ديوه دتا د برهمادتا[8] په نامـــۀ پاچا شو نو بودي سَت ددۀ زوی وو، دی د مها پدوما[9] په نامـــۀ يو شهزادگی وو. په دې حالت کي پاچا خپل زوی اووۀ ځله تر ځان تيټ غورځوي، دوني ئـــي تيټ غورځوي لکه چي غلـــۀ يو ځوک د يوۀ ژور گړنگ له پاسه لاندې وغورځوي. هماغسي چي يو پلار پر خپل زوی بر لاسی دی دلته هم ديوه دتا پر بودي سَت لوړ دی[10].

**نـــهـــۀ دبـــرشم** : بيا بل چـــېـــرې گورو چي ديوه دتا د مها پتاپه[11] په نامـــۀ پاچا کـــېـــږي او بودي سَت د شهزادگي دهما پاله[12] په نامـــۀ ددۀ زوی دی او پاچا د خپل زوی لاس او پښي ور پرې کوي. دلته بيا ديوه دتا برلاسی دی[13].

---

[1] - Sâkha

[2] - Nigrodha

[3] - نيگرودا ميگه گاتکه Nigrodha Miga Gâtaka (شمـــېـــر دوه، توک لومړی، پاڼه ۱۴۵ او ورپسي د فوسبول په چاپ کي) چي په 'Buddhist Birth Stories,' vol. i, pp. 198 and following. کي ژباړل شوی ده – ليکوال

[4] - نيگرودا ميگه گاتکه Nigrodha Miga Gâtaka (شمـــېـــر ۴۴۵، د فوسبول چاپ، توک ځلورم، پاڼه ۳۷ او ورپسي)- ليکوال

[5] - Khandahâla

[6] - Kanda

[7] - ددې قصي د پـــلـــۀ خاپ مي په چاپ شويو گاتکه وو کي ونـــۀ موند- ليکوال

[8] - Brahmadatta

[9] - Mahâ Paduma

[10] - دا مها پدوما گاتکه Mahâ Paduma Gâtaka ده (شمـــېـــره ۴۷۲ فوسبول، ځلورم توک، پاڼې ۱۸۷ – ۱۹۵ ) دا د يوسف ع او د پوتيفر Potiphar قضيه وه – ليکوال – د ژباړونکي يادونه : پوتيفر هماغه سوداگر دی چي يوسف ع ئـي له ځاه ځخه د راايستلو پر مهال د مريي په توگي وپـــېـــرود. د پوتيفر نوم په قرآن کي نـــۀ دی راغلی. ويل کـــېـــږي چي پوتيفر د مصر په سلطنتي مانی کي يو بولندوی وو. پوتيفر يوسف ع خپل کالـــۀ ته بيايي او د خپل کور واگي ورکوي، ددۀ ميرمن چي زليخا نومـــېـــږي پر يوسف ع مينه کـــېـــږي، د پاتي قصي په نورو برخو لوستونکي پوهـــېـــږي -ژباړونکی

[11] - Mahâ Patâ

[12] - Dhamma-pâla

[13] - دا تراژيکه داستان په گاتکه کي په ۳۵۸ شمـــېـــر کي دی ( د گاتکه وو تولگه، پوهاند فوسبول درييم توک له ۱۷۷ تر ۱۸۲ پاڼو پورې) - ليکوال

**ځلوېښتم** : او بیا ګورو چې په دې ژوند کې دوی د ساکیه[1] له قبیلې څخه ول، او بودي سَت یو بودا ګرځي، د نړۍ لاربنود ګرځي خو دیوه دتا له نړۍ څخه په تللو سره ځان ته بل دین جوړوي داسې دین چې د ارباب الانواعو تر رب النوع لوړ دی، او د ایدهي ځواک ئې تر لاسه کړی دی، د بودا کېدلو لپاره ئې خپل ځان په شهوت مشبوع کړ. اوس نو ښاغلی ناګه سینا! راځه راته ووایه ! آیا دا شیان چې ما وویل ربښتیا، منصفه او دقیق نهٔ دي؟

**یو ځلوېښتم** : لویه پاچا! ټول شیان مو چې وویل همداسې دي او له دغو پرته بل څه نهٔ دي.

چې داسې ده نو تور او سپین یوازې هغه مهال یو ډول میوه ورکولی شي چې نېکي او شرارت دواړه سره یو شان وګڼل شي.

نه نه لویه پاچا! ښهٔ او بد، نېکي او شرارت هېڅکله یو بل ته ورته او یو شان پایله نهٔ لري. هر څوک د دیوه دتا مخالف دي. هېڅوک د بودي سَت پر وړاندې دښمني نهٔ لري. او هغه دښمني چې دیوه دتا د بودي سَت پر وړاندې احساس کړه، په پای کې پخه دښمني شوه او په هر پړ له پسې ژوند کې ئې خپله میوه ورکړه. او دیوه دتا په خپله همداسې د نېکۍ یوه نښه وه، کله چې دیوه دتا پر نړۍ [۲۰۴] باندې خپل ربوبیت خپور کړ، نو بېوزلو ته تحفظ ور په برخې شو، پلونه جوړ شول، د عدل محاکم جوړ شول، خلکو ته د استوګنې هوسا ځایونه جوړ شول، سمَنهٔ او برهمنانو[2]، بېوزلو، اړمنو او مسافرو ته د خپلې اړتیا او چوپړ په اندازې ډالۍ ورکړل شوې، د همدغو نېکیو پایله وه چې دهٔ له یوې هستۍ تر بلې هستۍ پورې په تمتع او سوکالۍ کې دوام وکړ. ګرانه پاچا! آیا هغه څوک له سخاوت، له ځاني ضبط النفس، له ځاني کنترول او د اوپه ستها[3] له رعایت او پیروئ پرته کولی شي سوکالۍ ته ورسېږي[4]؟

او ګرانه پاچا! په را اخیستل شویو اقوالو کې تاسو وویل چې دیوه ډتا او بودي سَت دواړو له یوهٔ زېږونه تر بله پورې د یو بل ملتیا کړې، او له یو بل سره ئې مخامېدل یا لیدهٔ کاتهٔ نهٔ یوازې د سلو ، یا زرو یا سلو زور زېږونونو «ژوندونو» په پای کې شوې بلکه حقیقت دا دی چې ددوی لیدهٔ کاتهٔ د بې شمېرو زمانو په ترڅ کې شوي دي[5]. تاسو دې موضوع ته باید د هغهٔ مبارک د پرتلې په رونا کې نغوته کړې وای چې د ړاندهٔ کیشپ او د انساني ژوند د اکستاب د پرتلې په هکله ئې کړې ده. دا یو ځایوالی یوازې له دیوه دتا سره نهٔ دی تر سره شوی. ګرانه پاچا مشر شیخ سري پوته هم د زرهاوو

---

[1] - Sâkya clan

[2] - Samanas and Brahmans

[3] - Upasatha په سانسکریت کې اوپاوَسَتا उपवसथ ویل شوې ده او له ۵۰۰ م. ز یعنی د بودا له هستۍ را په دېخوا د عبادت او لمانځنې په توګې په بودایانو کې دود ده. بودا ویلي چې دا عبادت د ککړو افکارو د پاکولو لاره ده چې پایله ئې په باطني سکون، خوند او متمتع التذاذ اوړي. دا عبادت په اونۍ کې یوه ورځ د سپوږمې د بڼې له بدلون سره سم په میاشت کې څلور ځله د څلورو ورځو په ترڅ کې تر سره کېږي، یعنې د نوې میاشتې په شپې، د بشپړې میاشتې په شپې، او د بشپړې او نوې میاشتې تر منځ د دوه وو پړاونو په منځ کې دا عبادات کېږي. ددغو بودایانو په منځ کې د عباداتو عامې ورځې هماغه د نوې میاشتې او بشپړې میاشتې شپې دي. - ژباړونکی

[4] - بودایي تعطیل Buddhist Sabbath، وګورئ زما (د انګریزي متن لکیوال او ژباړن) لیکنه : 'Manual of Buddhism,' pp. 139-141.

[5] پورته یاده شوې سرچینه وګورئ : IV, 2, 64, and IV, 3, 28. – لیکوال

زېږونونو په ترڅ کې د بودي سَت پلار، نیکه، یا اکا[1]، یا ورور، یا زوی، یا ورارهٔ یا ملګری شوی دی؛ او بودي سَت د مشر شیخ سري پوته پلار، نیکه، یا اکا، یا ورور، یا زوی یا ورارهٔ او یا ملګری شوی دی.

ګرانه پاچا د هستۍ ټول موجودات د ارتحال[2] د بهیر په ترڅ کې د بېلابېلو موجوداتو په بڼو ځانته بڼې راخپلوي، یو بل سره ویني، تهٔ به وایي چې له یو بل سره چورلیدلي دي په یو بل کې تاو دي، دوی دواړه په یوهٔ مهال کې ګورې چې له خوښیو ډک یو والي لري او په بل مهال کې نامطبوع یووالی لري- کټ مټ لکه د اوبو بهیر چې له سوچه او نا سوچه اجسامو سره مخامخ کېږي، له ښکلیو او بد شکلو سره.

او ګرانه پاچا کله چې دیوه دتا د رب النوعه په جامو کې وو نو دی په خپله بې تقوی وو او نور ئې هم د بې تقوی ژوندانهٔ پر خوا بوتلل، دی تر یوهٔ ناڅرګنده مهاله پورې په برزخ کې وسوځېد[3]. [۲۰۵] خو کله چې بودي سَت رب النوعه شو نو دی چې په خپله متقي وو نور ئې هم د متقي ژوندانهٔ پر لور بوتلل او د بې شمېرو مهالونو لپاره د جنت په نعماتو او برکاتو کې پاتې شو. او په دې ژوند کې، کله چې دیوه دتا د بودا پر وړاندې توطئه جوړه او په دین کې ئې نفاق او شقاق جوړ کړ نو ځمکه وچاودله او دی ئې ژوندی تېر کړ، او تتها ګتا په ټولو هغو شیانو پوهېدهٔ چې باید پوه وای او په دې سره د بودائیت[4] تر بصیرته ورسېد او له ټولو هغو لارو څخه ئې بشپړ خلاصون وموند چې پایله ئې (د کېدنګ له ملزوماتو څخه) په بیا – هستېدلو اوړي.

ډېر ښهٔ ناګه سینا! هر هغه څه چې تاسو وویل زه ئې منم[5].

---

[1] - دا د پلار کشری ورور دی. په پالي کې په عام ډول د اکا لپاره کوم وییکی نهٔ شته، په پالي کې د خپلوانو د اړیکو جوړښت زموږ له جوړښت څخه بیخي توپیر لري، رنګارنګ اکاګان کېږي ځکه چې په پالي ژبې کې د هر اکا لپاره ځانګړی نوم دی – لیکوال

[2] - سره له دې چې بودیزم د روح خبره نهٔ مني دلته انګریز ژباړونکي د transmigration وییکی کارَولی دی چې هماغه د metempsychosis او د reincarnation د وییکو مترادفه ده – ژباړونکی

[3] - متن په خپله په عجیب دقت او سموالي وایي اووهٔ پینځوس کیتوسه kotis او شپږ سوه زره کاله – لیکوال

[4]- دلته هینه تي کمبوري Hinati-kumburė د بوګهیتوا bugghitvâ د فعل لپاره سَبدهم sabbadhamme د معفولي حالت په توګې کاروي او دا اصطلاح همدغسې کټ مټ ژباړل شوې ده - لیکوال [5]

5

[5] - دا مبحث هم د نمونه وي سفسطې او هم د ارتدکس بودایي عقیدي د تشریح له اړخه په زړهٔ پورې دی. دا خبرې موږ ته دا انګېرنه په لاس راکوي چې دلیل راوړو چې د لرغوني فولکلور بودایي لیکوالانو د دیوه دتا د شخصیت په پېژندنې کې هغهٔ ته هغسې څېره ورکړې چې پاچا میلینډا ته شرحه شوې ده. حقیقت دا دی چې دغو لیکوالانو د خپلو اخلاقي موخو په پار د لرغونو داستانونو او اساطیرو په کارولو سره دیوه دتا تل په داستان کې د یوهٔ تیرغمال یا ظالم شخص په توګې پېژندلی او دغهٔ ټکي ته ئې هېڅ پاملرنه نهٔ ده کړې چې د بودي ست په پېژندنې کې دې دیوه دتا ته په زېږون او یا په نړۍ کې برلاسی ورکړي. د ګاتکه وو د څلورو چاپ شویو ټوکونو او د پینځم ټوک د ناچاپ شویو پاڼو د پلټنې په لړ کې چې پوهاند فوسبول راباندې پیرزو کړي او موخه مې د هغو کیسو او داستانونو د خاپ موندل ول چې زموږ لیکوال ورته نغوته کړې، ما وموندل چې په دغو ټولو کې د دیوه دتا نوم په څلور شپیتو کیسو کې په سترګو کېږي او په دغو څلور شپیتو واړو داستانونو کې دیوه دتا یا په زېږون کې د بودي سَت پر کرکتر لوړ او یا لږ تر لږه ورسره برابر ښکاري. دا کومه د تعجب خبره نهٔ ده چې بودایي لیکوالانو د دیوه دتا کرکتر ته هغه اوصاف منسوب کړي چې په زېږون کې لوړ غیر عادي ډول ئې کرکتر ئې په بېرحمۍ ږر او شریر ګڼلی دی. دلته داسې ښکاري چې زموږ لیکوال دهمداسې یوې مشخصې په پام نیولو سره کېدی شي دې ته ورته یو شمېر ورته فکتورونه راغونډ کړي وي او له هغوی څخه ئې

[ په دې سره په تــېــرو ژوندونو کې پر بودي سَت باندې د ديوه دټا د برلاسی معضله پای مومي]

# [د ښځو ټګۍ یا مکرونـــه]

**دوه ځلوېــښـتـم** : ښاغلی ناګه سینا!، هغـــهٔ مبارک ویلي چې :

" په ټګـیــو په برَګیو، پټپټانو،
او د رښتوني میني په بیان کې
ټولو ښځو تــېــرایستلي ،
هو، په برابرې ناتوانی،
تل مدام ئــې نورخلک کړي دي نیمګړي[1]"

خو له بلې خوا ویل شوي کله چې :" مهوسدها[2] په سفر لاړ نو ددهٔ ماندینــه، امَـرا[3]، په کلي کې یوازې په خلوت کې پاتې شوه، امَـرا هماغسې خپل خاوند ته تابعه پاتې شوه لکه چې یو رعیت خپل سلطان ته پالیاله پاتې وي، امَرا له بدو اعمالو پرهیز وکړ، ان په هغـهٔ حالت کې ئــې ځان په عفت کې وساتـــهٔ چې ورته د زر هاوو شیانو اغواء ورکړل شوه.[4]" اوس نو که لومړی نقل قول صحیح وي نو دویم هغه باید غلط وي؛ خو که دویم صحیح وي [۲۰۶] نو الزاماً لومړی باید غلط وي. دا هم د یوې دوې استوې ستونزې په شان ده چې د حل لپاره ئــې ستاسو مخې ته ږدم.

**دري ځلوېــښـتـم** : ګرانـه پاچا په دغـهٔ نقل قول کې چې تاسو راواخیست همداسې ویل شوي دي چې د مهوسدها میرمنې امَرا ځومره په عفت چلند کړی دی. خو پوښتنـــه دا ده چې آیا دې به د خپل زړهٔ د خوښې سړي سره چې په زر هاوو شیان

---

اخځ اخیستی وي. ما په ګاتکه وو کې د دیوه دټا د داستانونو یوه بشپړه ضمیمه راټوله کړې ده. دا بشپړه ټولګه ځرګندوي چې زموږ لیکوال د ګاتکه د کتابونو کومه بشپړه لړلی خپلې مخې ته ایښې وه چې زموږ د ګاتکه وو له اوسنی لړی څخه ئــې څه ناڅه توپیر درلود، دا توپیر د پــېـژندل شویو او چاپ شویو ګاتکه وو له بنو څخه د قضایاوو په شرحه او د کرکترونو په نومونو کې دی. او همدا شان همدلته موږ وینو چې راوي د قضایاوو او معضلو حل په دوني ډېرې ښې ښې حلوي چې سړي ته دا انګــېـرنه ورپه زړهٔ کوي چې لیکوال د سپیڅلو کتابونو په هکله زښت ډېــر پوهــېـدهٔ او د معضلات ئــې د همدغو کتابونو د شرحې له مخې حل کړي دي- لیکوال

[1]- ددغـــهٔ شعر معنی دا نـــهٔ ده چې نارینه به ئــې هم ونـــهٔ کړي. خو له دې چې دلته ښځوته نغوته شوې نو دا خبره په ځرګنده د یادونې او وراشې وړ ده. زموږ لیکوال په تــېــروتنې سره غواړي ددغـــهٔ شعر نسبت په بودا پورې وتړي. هماغسې چې ښاغلي ترنکنر ورته نغوته کړې په همدې مفهوم سره یو شعر یوازې د ګاتکې په ۵۳۶ قصې کې لیدل کــېـږي نـــهٔ د بودا په لاربښوونو کې، ددغسې اشعارو نمونې د هندي فولکلور یوه برخه ده. همدلته ورته بله نمونه په ۶۲ ګاټکې، لومړي ټوک، ۲۸۹ پاڼې کې شته – لیکوال

[2] -Mahosadha ، مهوسدها په بودایي فولکوریکو داستانونو کې د یوهٔ عالم او حکیم سړي کرکټر دی – ژباړونکی

[3] - Amarâ

[4] - دا قصه په اوماګه ګاتکه Ummagga Gâtaka کې په ۵۴۶ شمــېــرې موندل کـــېــدی شي. لیکوال

ورسره په لاس هم ورتلل کوم ناوړه او ناسم ګام ایښی وای که نه: او یا که دې ته کومه ښېـبه په لاس ورغلې وای آیا دې به په ډاډمن پټېټاني کې له خپل مناسب مین سره معاشقه کړې وای؟ اوس نو دې خبرې ته په پاملرنې سره موړ ویلی شو چې میرمن امَرا د ویل شویو خبرو په یوې هغې هم ډاډه نهٔ وه. دې ته په دې نړۍ کې د ترټنې او عتاب د وېـرې له کبله دا امکان وړنده یا مناسب نهٔ ښکارېدهٔ، او دې ته په بلې دنیا کې د بزرخ د کړاو وېـره ور په زړهٔ شوه. او له دې چې دا د ناوړو اعمالو د ترخو پایلو په میوې پوهـېـدله، او له دې چې دې نهٔ غوښتل خپله مینه «مـېـړهٔ - ژ» له لاسه ورکړي او له دې چې خپل مـېـړهٔ تـهٔ ئـې زښت ډېـر درناوی درلود، او له دې چې دې نـېـکې ته درناوی درلود، او له دې چې دې ټيټ ژوندانـهٔ ته په سپکه وکتل، او له دې چې دې نهٔ غوښتل خپل منل شوي دودونه مات کړي نو ددې ټولو خبرو پر بنسټ او دلیل ول چې دې ته په لاس ورغلې شـېـبه مناسبه نهٔ ښکارېـدله.

او ددې ترڅنګ، دې ځکه له غلط عمل څخه نتـه وکړله چې په دې ډاډه نهٔ وه چې خپل عمل به له دنیا څخه پټ وساتلی شي. [۲۰۷] ان که دې له انسانانو څخه ئـې د پټ ساتلو توان درلود بیا ئـې نهٔ شو کولی له ارواحو ئـې پټ وساتي[1] - او که دې له ارواحو څخه ئـې د پټ ساتلو توان درلود نو له هغو ګوتټاستو «رواهبو» څخه ئـې د پټ ساتلو توان نهٔ درلود چې د نورو انسانانو د فکرونو د پوهـېـدنې ځواک لري- او که له دوی څخه ئـې د پټ ساتلو توان درلود نو بیا ئـې له هغو ارباب الانوعو څخه د پټ ساتلو توان نهٔ درلود چې د خلکو د زړونو له حاله خبر دي – او که له دوی څخه ئـې د پټ ساتلو توان درلود نو دې نهٔ شو کولای له ځان څخه ئـې پټ وساتي، ځکه دا په خپلې ګناه پوهـېـدله – او که دې له خپل ځان او ضمیر څخه تـېـښـته کولی شوای بیا ئـې نو نهٔ شوای کولی له بې تقوایي څخه ئـې پټه کړي یعنې (له هغهٔ قانون څخه تـېـښـته ئې نهٔ شوَی کولی چې دې ئـې پیروي کوله) [2]. همدا دلایل ول چې پر بنسټ ئـې دې ځان له غلطو اعمالو څخه وساتـهٔ دا ځکه چې نوموړې په پټېټاني ډاډمنـهٔ نهٔ وه.

او ددې ترڅنګ نوموړې ددې لپاره ځان له غلط عمله لـېـرې وساتـهٔ چې نوموړې سم او ډاډمن مین ونـهٔ موند. ګرانـه پاچا، حکیم مهوسدها اتـهٔ او شل اوصاف په ځان کې درلودل. او دا شل او اتـهٔ اوصاف کوم دي؟ ګرانـه پاچا! هغه زړور وو، له حیا ډک وو، له بدو کړنو ئـې شرم درلود، هغـهٔ ډېـر پلویان او ډېـر ملګري درلودل، هغه بخښونکی وو، په ژوند کې نـېـک چلنده او عادل وو، صادق وو، په ژبه او خبرو، زړهٔ او عمل کې سوچه وو[3]، دهٔ عناد نهٔ درلود، بې ځایه غرور

---

[1] - ښاپـېـرې، پرښتې، او ځنګلي پرښتې او نور او نور – ارباب الانواع نهٔ دي – لیکوال

[2] - ادهامینه رهو نه لبهیا Adhammena raho na labheyya. زه ددغو وییکو د معنی په هکلې ډېـر شک لرم، هینه تي کمبوري ئـې په ۲۸۶ پاڼې کې یوازې ادهارمین رهاسک نو لباني adharmayen rahasak no labannė ژباړي. دا دواړه، د کرما او د شخصیت د تجسم یو بل ته ډېـرې ورته بڼې دي. دا اصطلاح د دوه دیرشم ټوک په ۲۳ پاڼې Numbers xxxii کې له یادې شوې معنی سره موازي معنی لري " ډاډمن اوسه چې ستا ګناهان به تا بیا مومي – یعنی د هغوی پایلې – هماغسې چې ددې اصطلاح ژباړه له اخلاقي اړخه ګرانه ده هماغومره له ګرامري اړخه هم سخته ده – لیکوال

[3] - سوکییه سمپانو Sokeyya-sampanno چې هینه تي کمبوري ئـې سوَکه ګونه ین سَمنویباوه suvaka gunayen samanwibawa ژباړي. "دا د هغه څه متبادل، متمم دی چې ویل شوي دي" خو زه ددریمې انګوتړې د لومړي څپرکي د نولسمې پاڼې Ańguttara III, 1 1 9 د اصطلاح مفهوم غوره بولم، همدا شان وګورئ : Gâtaka I,214; Milinda, p. 115 لیکوال

ئې نهٔ درلود، د حسادت احساس ئې نهٔ درلود[1]، هڅاند او په انرژئ ډک وو، دی تل په ښو شیانو پسې ګرځېدهٔ[2]، نامتو او ښهٔ سړی وو، دی سخي وو، مهربان وو[3]، په مزاج کې متواضع وو، ټګي او برَګي ئې نهٔ درلوده، چل او چالاکي ئې نهٔ درلودله، له بصیرته ډک وو، لوړ شهرت ئې درلود، ډېره پوهه ئې درلوده، هغه کسان چې په دهٔ پسې تړلي ول هغو ته ئې د ښو شیانو د پلټلو هڅه کوله، ستاینه ئې د ټولو انسانانو په خولو کې وه، په خپلې پانګې او شتمنئ کې لوړ وو، په خپل شهرت کې لوړ وو. ګرانه پاچا! دا هغه اوصاف او خصایل ول چې حکیم مهوسدها درلودل. نو له دې کبله ددهٔ ماندینې ددهٔ په شان بل مین ونهٔ موند چې ددهٔ په شان دې وي نو ځکه ئې غلط عمل ته لاس وا نهٔ چاوهٔ[4].

ډېر ښهٔ ناګه سینا! زه ستاسو ویل شوې خبرې منم.

---

[په دې سره د ښځو د ټګیو او برَګیو معضله پای مومي[5]]

---

[1] - Anusuyyako. See Gâtaka II, 192, and Milinda, p. 94.

[2] - آیوهکو Âyûhako. هینه تي کمبوري Hinati-kumburė په ۲۸۶ پاڼې کې دا وییکی داسې ژباړي چې ژباړه ئې یوازې همدلته موندل کېدی شي او وایي دهنا پیریس روئیس کیریم اوئتییه Dhana piris rœs kirim œtteya، " هغه څوک چې ښهٔ خلک او انسانان ئې راټولول." خو له دې سره سره وګورئ: Milinda, p. 181, and Dr. Morris in the Pâli Text Society's Journals for 1885 and 1886. – لیکوال

[3] - Sakhilo, ' kindly in speech,' says the Simhalese.

[4] - دا په قوسینو کې را اخیستل شوي د بودا کلمات په ښهٔ ډول توجیه او تفسیروي مګر نهٔ ئې تصدیقوي – لیکوال

[5]- د بودیزم په منځته راتګ سره په هندوستان کې د ښځو دریځ ډېر ټیټ وو. فولکوریک روایات د ښځو د ټګیو او مکرونو په داستانونو ډک دی او د هندو – د قانون- کتابونه هم د ښځو د ناپاکئ، ضعف او شرارت له اوصافو څخه کومه سپما نهٔ ده کړې. خو له مایملکو څخه په استثناء زما په باور که د ښځو په اړوند دوني شدېل نظر په کتابونو او فولکور کې شته خو په عمل کې وېرونکي نهٔ ده. د خلکو په منځ کې د بزګرو په کورنیو کې د برهمني کاهنانو شدید اللحنو خبرو ته څوک دوني غوږ نهٔ نیسي او ښځې په خپلو منځو کې هماغومره خوندور ژوند لري لکه چې له خپلو نارینه وو سره ئې په اړیکو کې لري او د خپلو نارینه وو په شان هماغومره فزیکي او ذهني برلاسی لري. د بودېزم اغیز ته باید له دوه وو اړخونو وکتل شي. له یوهٔ اړخه په مجرد ژوندانهٔ کې نغښتی اهمیت باید د هغهٔ لید لوري پر بنسټ هڅول شوی وي چې د منځنیو پېړېو د کاتولیک میرمنو په منځ کې دود وو او باید له همدغهٔ لید لوري څخه اقتباس شوی وي (برهمني لید لوری په ډېریو اړخونو کې هماغه لید لوری دی چې د لوتر له پلوه دود شوی وو). له بلې خوا کله چې ښځې دین ته راوبلل شوې نو د ارهټوب د لوړ دریځ د موخې د ترلاسه کولو په لارې کې دوی ته اجازه، باید ددې لامل شوي وي چې ښځو ته دې په ډېره درنده سترګه وکتل شي. موږ ډېرې بېلګې لرو چې ښځو ته د ارهټوب د بصیرت نسبت ورکړل شوی دی. په بودایي سپېڅلو کتابونو کې د تیري ګاتها Theri Gâtha ټول سرودونه او اشعار دوی ته منسوب شوي دي او ډېري ئې د ذکاوت او روحاني احساس بډایي درجې ته لوړېږي. – لیکوال

# [د ارهټانو د خوف په هکله]

څلور څلوېښتم : ښاغلی ناګه سینا! هغهٔ مبارک ویلي دي:" ارهټانو ټول خوفونه او ویره یوې خوا ته ایښي دي[1]" خو له بلې خوا کله چې د راګه ګهه[2] په ښار کې دوی د دهنا پالکه[3] په نامهٔ سړي وژونکی فیل ولید چې هغه مبارک تر پښو لاندې پر ځمکې ونښلوي نو ټول پینځه سوه ارهټانو ، سوبمن یوازې پرېښود او وتښتېدل، په دوی کې یوازې یو تن استثناً وو چې ونهٔ تښتېد او دی مشر شیخ آنندا وو[4]. اوس نو راته ووایاست ناګه سینا چې په دې کې څنګه چل دی؟ آیا دا ارهټان د وېرې له لاسه نهٔ دي تښتېدلي – آیا دوی په دې هیلې او په دې فکر د هغهٔ مبارک د له منځه وړلو لپاره په لوی لاس تېښته کړې چې :" (زموږ اعمال) به (هغهٔ ته) د هغهٔ د خپل عمل له مخې روښانهٔ شي.[5]" [۲۰۸] او یا دوی په دې هیلې په ړنو سترګو تېښته وکړه چې د تتها ګتا بې ساری ستر ځواک وربښکاره شي؟ اوس نو ناګه سینا، که د هغهٔ مبارک خبره چې ارهټانو ته ئې ویلي دي چې له وېرې کولو څخه ډډه وکړئ صحیح وي نو دا قصه باید غلطه وي. خو که قصه صحیح وي نو دا وینا باید غلطه وي چې د ارهټان دې خوف او ویرول یوې خوا ته پرېږدي. دا هم د یوې دوې استوې ستونزې په شان ده چې د حل لپاره ئې ستاسو مخه ته ئې ږدم.

---

[1] - زه ددغهٔ نقل قول په دقیقې معنی پوه نهٔ شوم؛ په سپېڅلو کتابونو کې همدغهٔ نقل قول ته ورته ډېر نور اقوال هم شته. د بېلګې په توګه وګورئ : دهماپدا ۳۹ شعرونه، ۱۸۸، ۲۱۴، ۳۵۱ او ۳۸۵ او سوتا نیپاتا، شعرونه ۱۵، ۷۰، ۲۱۲، ۲۶۲ او ۹۶۵- لیکوال

[2] - Râgagaha

[3] - Dhana-pâlaka

[4] - دلته یو ځل بیا زموږ د لیکوال او د پیته که وو Pitakas د بیان تر منځ توپیر وینو. په اوومې کولا وګې Kullavagga VII, 3, II, 12 کې ( چې د ختیځ د سپیڅلو کتابونو د وینه یه د متنونو د دریيم ټوک په ۲۴۷ – ۲۵۰ پاڼو کې pp. 247-250 of vol. iii of the 'Vinaya Texts' in the 'Sacred Books of the East' کې ژباړل شوې) موږ د همدغهٔ داستان زړه او لرغوني بڼه لرو، په دې قصې کې د فیل نوم دهنا پالکه Dhana-pâlaka نهٔ بلکه نالاګیري Nâlâgîrî دی او د راټولو شویو مریدانو شمېر (چې ارهټان نهٔ دي بلل شوي) په دقیق ډول پینځه سه نهٔ دي یاد شوي. دلته په قصې کې ویل شوي چې بودا د یو شمېر بیهکوګانو په ملتیا د راګه ګهه Râgagaha ښار ته ننوت. همدا شان دا هم نهٔ دی ویل شوي چې څوک دې تښتېدلي وي او یا دې آنندا ورته پاتې شوی وي. دا په داستان کې یو ښکلی او په آسانه د شرحې وړ بدلون دی چې آنندا د یوهٔ ښهٔ او مینه ناک مرید په توګې راڅرګندوي خو له دې سره سره دلته له لرغوني قصې سره په پرتلې یو بدلون وینو.

دا باید ورغبرګه کړم چې د وینه یه په متن کې Vinaya text د نالاګیري Nâlâgîrî چې باید (Na*l*âgiri ) وي، د فیل نوم یو عام نوم دی یعنی په فیل باندې ئې دغه نوم ایښی دی خو کېدی شي دا نوم د کوم ځای نوم وي چې فیل ئې ورڅخه راوستی وي. ( وګورئ د نلاګیري په نامهٔ د نامتو فیل نوم ته چې په دغو سرچینو کې راغلی دی Na*l*âgiri : Megha Dûta and Na*d*âgiri in the Kathâ Sarit Sâgara XI, 42, XII, 10, XIII, 7, 29 خو له بلې خوا پانیني په Pânini VI, 3, 117 کې دا نوم موږ ته د یوهٔ غرهٔ نوم راکوي). له دې کبله که له یوې خوا په اسطوره کې بدلون راغلی خو دا هم د ویلو ده چې موږ همدغهٔ یوهٔ فیل ته دوه نومونه لرو، لکه چې څوک وواییي د برَوني Brownie (په نامهٔ ) وړوکی آس Shetland pony. او لاندې (د پالي متن په ۴۱۰ پاڼې کې) را اخیستل شوی شعري بند ښیي چې د دهنه پالَکه Dhana-pâlaka نوم مخکې له مخکې په زړو او لرغونو متنونو کې د نالاګیري Nâ*l*âgiri فیل ته ورکړ شوی دی. - لیکوال

[5]- پنایستي سکینا کمینا Pańńâyissati sakena kammena، سیمهالي متن ئې په ۳۸۷ پاڼې کې داسې تفسیروي :" د خپلې نېکۍ او خپلې مهربانۍ له مخې به بودا ته په روښانه څرګنده شي ( چې دی به زموږ له خوځښته قضاوت وکړي). خو دا اصطلاح زښته عجیبه ده او کېدی شي دا یوازینۍ معنی ورڅخه و ایستل شي :" دا موضوع به د هغهٔ د کرما پر بنسټ په اثبات ورسېږي." – لیکوال

**پينځه ځلوېښتم** : ګرانــه پاچا! هو هغــهٔ مبارک ويلي چي ارهټان دې خوف او وېــره يوې خوا ته کښــېــږدي، او هماغسي چي تاسو وويل په هماغه ورځ د راګه ګهه په ښار کي د پينځو سوو ارهټانو په منځ کي يوازې شيخ آننداپاتي شو او نور وتښتــتــېــدل او تنها ګتا ئــي پرېــښود چي د دهنــه پالکه په نامــهٔ فيل تر پښو لاندې شي. خو دا تــېــښــتــه نــهٔ د وېــرې له کبله وه او نـــهٔ په دې هيلي وه چي هغه مبارک دې له منځه لاړ شي. دا په دې دليل وه چي دوی ته وښودل شي چي په خپل باطن کي وېــره له منځه يوسي او په دې توګه به دوی له خوف څخه خلاصون ومومي. ګرانــه پاچا! آيا دا دوني پلنــه او پراخه ځمکه له کيندني وېــرېــږي، يا که څوک د ځمکي زړه سوری کوي نو آيا ځمکه له دې وېــره لري چي ځوني دراندهٔ سمندرونـــه او ددنګو غرونو لړۍ ددې پر اوږو سپرې دي؟

څرګنده ده چي نــه صاحبه!

ولي نــه؟

ځکه چي همدا پلنــه او پراخه ځمکه داسي دليل نـــهٔ لري چي په ځان کي خوف او وېـــره رامنځته کړي، په ځمکي کي د وېــرې علت نـــهٔ شته؟

نوګرانه پاچا خبره همدا ده. ارهټانو ته همداسي کوم دليل نـــهٔ شته. آيا د غرهٔ کومه دنګه څوکه به له دې وېــره ولري چي که څوک دوې ټوټي کړي، يا ئــي دړې وړې کړي او يا ئــي لاندې راوغورځوي او يا ئــي په اور کي وسوځوي؟

څرګنده ده چي نــه صاحبه !

ولي نــه؟ [۲۰۹]

ځکه چي په منځ کي ئــي خوف او وېــره شتون نـــهٔ لري.

ګرانــه پاچا ارهټان هم همداسي دي. که د باندنی نړۍ د ټولو کائيناتو[1] بــېــلا بـــېــل مخلوقات سره راټول شي او يوازې يو ارهټ ووېــروي، نو دا ومنــئ چي دوی به د ارهټ په زړهٔ کي کوم بدلون او وېــره رامنځته نـــهٔ کړي. او ولي؟ ځکه چي (د هغــهٔ پـــهٔ زړهٔ کي) نـــهٔ د وېــرې لپاره کوم شرط شته او نـــهٔ کوم دليل ( چي دی دې ورڅخه وېــره ولري). بر عکس په هاغه پـــېښـــه کي د ارهټانو په اذهانو کي بل نظر رامنځته شو :" نن چي د انسانانو په منځ کي تر ټولو اعلی انسان، د فاتحينو په منځ کي اتل، نامتو ښار ته ننوتلی دی نو د دهنــه پالکه فيل به په واټونو کي راودانګي. خو په يقين چي زموږ ورور « شيخ آننندا – ژ» به په خپل خاص حضور دی «بودا – ژ» چي د ارباب الانواعو تر رب النوعه پورته دی يوازې پرېــنــږدي. خو که موږ لاړ نـــهٔ شو نو نـــهٔ به د آنندا د خير سيرت راڅرګند شي او نــهٔ به فيل تنها ګتا ته ورنـــېــږدي[2] شي. راځئ چي اوس په شا شو. په دې سره به د خلکو غټه شمــېــره چي دا پــېــښــه ويني د شرارت له قيده خلاص شي او

---

[1]- په تحت اللفظي معنی د نړۍ په سلهاوو زړه سيستيمونه – ليکوال

[2] - اتهانم – اناوکاستايا Atthânam-anavakâsataya " د امکان د شرط د نشتوالي له کبله" – ليکوال

هم به د آننده سیرت راڅرگند شي." د همدغــۀ حقیقت په تحقق سره به ددوی له عمله ګټه راپورته شي نو ځکه ارهټان هرې خوا ته تیت شول.

ډېــر ښـــۀ ناګه سینا! تاسو دا معضله ډېــره ښه حل کړه. همداسي ده. ارهټان نـــۀ خوف لري او نـــۀ به ووېــرېــږي. خو په بــېــرته تګ کي د ګټو له کبله ول چي دوی هرې خوا ته تیت شول.

[په دې سره د ارهټان د اضطراب ستونزه پای مومي]

# [د العالم بکل شی د مسببــېــدلو په هکله چې خپله رائـیه بدله کړي]

**شېږ ځلوېــښــتم**: ښاغلی ناګه سینا! ستاسو خلک وایي چې تتها ګتا په ټولو شیان خبر دی[1]. خو له بلې خوا دوی وایي :" کله چې هغــۀ مبارک د سري پوټه او موګه لانــه[2] تر مشرۍ لاندې د قانون یوه ډله له خپله حضوره وشړله[3]، نو د کاتوما ساکانو[4] او برهما سباني پټي «د تخم او د سخوندر د قیاسي» روایاتو له مخې د بودا د اقناع په تر لاسه کولو د هغــۀ بخښنــه تر لاسه کړه او د اوضاع حقیقت ئـــې ورته مکشوفه کړ چې شیان تر سم نور لاندې ووینې[5]." دا څنګه ده ای ناګه سینا؟ آیا هغـــۀ مبارک دا دوه داستانونــه نـــۀ ول اورېــدلي او وربانديې خبر نـــۀ وو [۲۱۰] چې په اورېــدلو ئـــې رضائـیت تر لاسه او د دوی خوا ئـــې ونیوله او اوضاع ئـــې تر نوي نور لاندې ولیدله؟ که مخکې له مخکې وربانديې نـــۀ پوهـــېــدۀ نو ای ناګه سینا دی څنګه له هر څه خبر نـــۀ دی. او که وربانديې پوهـــېــدۀ نو دۀ به دا دوه ورونه له ځانه په ترخې ژبې او ښنم[6] شړلي ول تر څو دوی وازمایي؟؛ په دې سره خو ددۀ نامـــهرباني راڅرګنده شوه. ددې دوې اړخـېــزې ستونزې حل له تاسو غواړم ای ناګه سینا!

---

[1] - دا پوښتنه د دریم څپرکي په III, 6, 2 کې وڅـــېــړل شوه – لیکوال

[2] - Sariputta and Moggallâna

[3] - ددې لړۍ په هکله مو پورته خبرې کړي دي او بشپړه ښه ئـــې دلته موندلی شئ : Kâtumâ Sutta, No. 67, in the Magghima. Nikâya (pp. 456-462 of Mr. Trenckner's edition for the Pâli Text Society). – لیکوال

[4] - Sâkyas of Kâtumâ

[5] - Nigghattarm akamsu. Compare Gâtaka, vol. i, p. 495.

[6] - اوکه سه په سیها Okassa pasayha سیمهالي متن ئـې په ۲۸۹ پاڼې کې âkaddhanaya kota abhibhavanaya karanâ ژباړي. وګورئ : Dr. Morris in the 'Journal of the Pâli Text Society,' 1887, p. 148. - لیکوال

**اووهٔ ځلوېـــښــتم** : ای پاچا! تها ګتا په هر څه خبر وو، ددغو دداستانونو په اورېـــدلو خوښ شو او ددهٔ رضائـيت ورباندې تر لاسه شو او هغه ورونـه ئـــې هم بـــېـرته وبخښل چې دهٔ شړلي ول او (د همدغو منځګړو د سترګو له لارې ئـې اوضاع ولـــېـدله چې دوی غوښتل ددوی په استازيتوب ورسره وګوري). ای پاچا تتها ګتا د سپيڅلو کتابونو څښتن دی. دا هغه داستانونـه دي چې تتها ګتا په خپله د لومړي ځل لپاره تدريس کړي ول[1]، دهٔ ته ئـــې سکون ور په برخه کړی وو، دی ئـې خوښ کړی وو ، نو ځکه ددهٔ رضائـيت ئـــې تر لاسه کړ او (پر هغـــهٔ څه چې داستانونو ويل) ددهٔ پر موافقت دلالت کوي. ای پاچا دا لکه د يوئ ښځې په شان ده چې د خپل خاوند سکون، خوښي او رضائـــيت د هغو شيانو له لارې تر لاسه کوې چې ددې په خاوند پورې اړه لري؛ او خاوند هم ورباندې خپل موافقت او خوښي څرګندوي. يا دا چې ای پاچا! يو سلطنتي نايي يا سلمان د سلطان خوښي، سکون او رضائـــيت هغه مهال تر لاسه کوي چې د پاچا سر د سرو زرو په ږمنځ[2] چې په خپله د پاچا ږمنځ ده ور جوړ کړي او پاچا د هغې په کارولو باندې خپله خوښي څرګندوي. او يا د استاد او نوي مريد/ شاګرد خبرې ته ورته ده، کله چې مريد استاد ته هغه صدقات د خوړلو لپاره ددهٔ مخې ته ږدي چې استاد په خپله راټول کړي او کالـــهٔ ته ئــې راوړي دي نو په دې سره استاد سکون تر لاسه کړي، خوښـــېـږي او ددهٔ رضائـــيت تر لاسه کـــېـږي.

ډېــر ښـــهٔ ناګه سينا! تاسو چې څه وويل زه ئـــې منم.

---

[په دې سره د عالم بکل شي بودا د منځګړي له لارې د اقناع د تر لاسه کولو ستونزه پای مومي[3]]

---

[په دې سره ځلورم څپرکی پای مومي]

---

[1]- دا بيخي سمه ده ځکه دا داستانونه په ديارلسمې انګوټړې سوتا کې راغلي دي – ليکوال

[2]- ږنه نه که يا ږنکه Panaka يوازيني وييکی دی چې په دغـــهٔ نقل قول کې ليدل کـــېـږی او هينه تي کمبوري Hinati-kumburė ئـــې د ۲۸۰ پاڼې په پای کې رن ږناون .ran panâwen ژباړي – ليکوال

[3]- د بودا د هر څه پوهـــېـدنې په هکله د عقايدو د اصولو له منځه نور هغه ټکي چې راپورته او توضيح کول ئـــې ګران دي پورته په .III, 6, 2 کې تر شننې لاندې ونيول شول – ليکوال

# ضمیمه

## دیوه ډتا په ګاتکه وو کې

| د ګاتکي شمېره | د دیوه ډتا د کرکتر نوم | د بودي ست د کرکتر نوم |
|---|---|---|
| ۱ | سوداګر | سوداګر |
| ۳ | سوداګر | سوداګر |
| ۱۱ | غرڅۀ (کاله Kâla) | د غرڅۀ پلار |
| ۱۲ | غرڅۀ (ساکهه Sâkha ) | غرڅۀ (نیګرودهه Nigrodha ) |
| ۲۰ | د اوبو پېرۍ/ جن | بیزوګۍ |
| ۲۱ | ښکاري | غرڅۀ کورنګا (Kurunga) [1] |
| ۳۳ | مږز/ کرک | مږز |
| ۵۱ | وزیر | پاچا |
| ۵۷ | غروی/ تمساح | بیزو پاچا |
| ۵۸ | بیزو پاچا | د هغۀ زوی |
| ۷۲ | لرګبه / چوب فروش | هاتي / فیل |
| ۷۳ | پاچا | پاچا |
| ۱۱۳ | سورلنډی / شغال | د ونې رب النوعه [2] |
| ۱۲۲ | پاچا | هاتي / فیل |
| ۱۳۱ | پیلیا (Piliya) [3] | سمکها ( Samkha ) |
| ۱۳۹ | کب نیوونکی | د ونې خدای |
| ۱۴۱ | کربوړی | ځرمښکۍ |
| ۱۴۲ | شرابي | سورلنډی |
| ۱۴۳ | سورلنډی | زمری |
| ۱۶۰ | وېینیلکه (Vînîlaka) یو کارغی | د ویدیها (Videha) پاچا |
| ۱۶۸ | باز/ باښه | مږز |
| ۱۷۴ | بیزو | برهمن |
| ۱۸۴ | مهتر | وزیر |
| ۱۹۳ | ګوډ | پاچا پدومه (Paduma ) |
| ۱۹۴ | پاچا | کلیوال |
| ۲۰۴ | کارغی | کارغی |
| ۲۰۶ | ښکاري | کورونګا غرڅۀ |
| ۲۰۸ | غروی/تمساح | بیزو |

[1]- کورنګا په ویدي سرودونو کې یاد شوی نوم دی چې معنی ئې رنګینه غرڅۀ یا هوسۍ ده – ژباړونکی

[2]- د نړۍ په ډېرېو فولکوریکو داستانونو کې د طبعیت الهې د ونو په تجسم کې لیدل کېږي او یو شمېر ئې د سمسورتیا په بڼې کې ښځینه نومونه دي او ان ورته په ښځینه تجسد کې مجسمې جوړېږي. یو شمېر ئې د ارواحو، پیریانو، ښاپیریو او پرښتو په ډول ویل شوي دي. په سانسکریت کې یکشیس او یکشیني याक्षिणि ویل شوي چې د هندو، بودیزم په میتالوژیو کې لیدل کېږي او د پېغلې په انځور کې ورته د غیر مرئې تجسد په ورکولو په ونو کې ښودل کېږي لکه د آشوکا ونه. سره له دې چې په هندي فولکلور کې ډېرې داسې کرکترونه د نېکې نښې دي خو یو شمېر ئې د بدي او نحاست سمبولونه دي – ژباړونکی

[3]- پیلیا په هندي کې उदाहरण د زېړ په معنی او موخه ئې د زېړي یا یرقان ناروغي ده - ژباړونکی

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱۰ | مارغــۀ | مارغـــۀ |
| ۲۲۰ | ظالمه قاضي | عادل قاضي |
| ۲۲۱ | ښکاري | فیل، |
| ۲۲۲ | ښکاري | نندیا Nandiya (بیزو پاچا) |
| ۲۳۱ | د فیل روزونکی | د فیل روزونکی |
| ۲۴۰ | پاچا پینگالا Pingala | شهزادگی |
| ۲۴۱ | سورلنډی | وزیر |
| ۲۴۳ | مطرب | مطرب |
| ۲۷۷ | زاهد | کوتره / کبوتر |
| ۲۹۴ | سورلنډی | د وني خدایګوتې |
| ۲۹۵ | سورلنډی | د وني خدایګوتې |
| ۳۰۳ | زمری | مرغی |
| ۳۱۳ | پاچا کالابو Kalâbu | کنډَکه Kundaka (یو برهمن) |
| ۳۲۶ | برهمن | رب النوعه |
| ۳۲۹ | کاله باهو Kâlabâhu لرګبه | طوطي |
| ۳۳۵ | سورلنډی | زمری |
| ۳۴۲ | غروی | بیزو |
| ۳۵۳ | پینګیا Pingiya (کورنی کاهن[1]) | ښوونکی |
| ۳۵۷ | لیونی هاتي | پاچا هاتي |
| ۳۵۸ | پاچا پتاپه Patâpa | د هغــۀ زوی |
| ۳۶۷ | طبیب | شیشک |
| ۳۸۹ | کارغی | برهمن |
| ۳۹۷ | سورلنډی | زمری |
| ۴۰۴ | بیزو - پاچا | بیزو - پاچا |
| ۴۱۶ | د بنارس پاچا | د هغــۀ زوی |
| ۴۲۲ | د کیتیا Ketiya پاچا | برهمن |
| ۴۳۸ | زاهد | زرک |
| ۴۴۵ | ساکا (یو وزیر) | نیګرودهه پاچا |
| ۴۴۸ | باښه | کلنګي چرګ |
| ۴۵۷ | ادهما Adhamma (یو رب النوعه) | دهما Dhmma یو رب النوعه |
| ۴۶۶ | ترکاڼ | ترکاڼ |
| ۴۷۲ | د بنارس پاچا | شهزادګی پدوما |
| ۴۸۲ | انسان | د رورو[2] Ruru هوسۍ |
| ۵۰۳ | غل | طوطي |
| ۵۰۵ | زاهد | شهزاده سومنــۀ سا[3] Somanassa |
| ۵۰۶ | پاړوګر | مار – پاچا |
| ټول ټال ۶۴ ځایه | | |

---

[1]- کورنی کاهن Purohit په هندي متنونو کې پورهیت د کورني کاهن په معنی ده او د پورَس Puras د مخکښ او هیتا Hita له وییکو جوړ یو ګډوله وییکی دی او مترادف وییکی ئــې پنډت دی. په هندي متنونو کې راج پروهیت د سلطنتي کاهن په معنی راغلی دی چې متراف ئـې راج ګورو دی – ژباړونکی

[2]- رورو د جټانو په میتالوژیو کې یو میتالوژیک نوم دی - ژباړونکی

[3]- په بودایي متنونو کې د ویدیها Videha نوم ډېر راغلی دی، ویدیها विदेह په نیپال کې د تیري مَدهیش د سلطنت نوم وو او سومنه سا د همدغــۀ سلطنت د پاچا په نامــۀ یاد شوی دی- ژباړونکی

پوهاند فوسبول د پېژندنې له مخې د خپل پينځم توک پر متمم باندې خپله جزوه ماته راکړه چې يو ځل ئې وګورم، او په دې توګې په دې جزوې کې پورتنۍ شمېرې تر ۵۱۳ ګاټکې پورې رسېږي. کېدی شي په پاتې نورو ۳۷ ګاټکو کې نور نومونه هم وي چې تر اوسه نهٔ دی چاپ شوي.

# له چاپ وروسته د اصلاحاتو ضميمه

په ديارلسمې پاڼې کې شرې – وردهانـه پوره[1]. ما بايد ويلي واى چې دا ښار (هماغسې چې ايمرسن تِننت[2] د خپل کتاب سايلون د لومړي ټوک په ۴۱۴ پاڼې کې وايي) د کندي[3] معاصر ښار نــۀ دى، بلکه دا ښار د کورَنييگاله[4] په سيمې کې دى، ښاغلى ک. جيمز پوهث د خپل کتاب ' سايلوني ختيځ پــېژندونکي' د دريم ټوک په ۲۱۸ پاڼې[5] کې وايي چې دا ښار د معاصر دمبا – دينيا [6] په درې نيم مايلي واټن کې پروت وو.

دويمه پاڼه دويم يادښت. ښاغلى ترنکنر په خپل کتاب " پالي ټولګه / مجموعې" (لندن ۱۸۷۹ز[7] ) کې ټول لومړى کتاب ژباړلى او تفسير ته ئــې د همدې ژباړې د ۳۹ پاڼې په پاى کې نغوته شوې ده.

شپږمه پاڼه، لومړى کرښه داسې ولولئ :" مشر تيسا د موګالي زوى[8]"

لسمه پاڼه، لومړى يادښت. پر ما باندې عجيبه پــېښه وشوه او هغه دا چې له لسمې تر څوارلسمې پاڼې پورې د معنى يو مخکې له مخکې تداخل رامنځته شوى دى، دغــۀ مهم ټکي ته زما پام نــۀ وو چې په حقيقت کې زما د باور لپاره نسبتاً قاطع استدلال کــېـدى شي. په دې معنى چې په څوارلسمې پاڼې کې استنتاجي کلمات په بشپړه توګه د همدې پاڼې د مبحث د پيل له کلماتو سره تناقض لري او ظاهراً داسې ښکاري لکه چې چا پيلنيز او استنتاجي کلمات له تداخل وروسته د يو بل په منځ کې ددې لپاره اچولي وي چې له مخالف استدلال سره سمون ومومي او دا خبره په شپاړلسمې پاڼې کې له هغې اصطلاح څخه راپورته کــېـږي چې ويلي ئــې دي ښاغلي اسه ګوتا " د پاچا ميليندا دا کلمات واورېــدل". حال دا چې اساساً ددۀ اورېــدلي کلمات په لسمې پاڼې کې دي. له تداخل وروسته دا کلمات بايد په متن کې د تناقض له لرلو سره د څوارلسمې پاڼې په پاى کې اچول شوي واى.

څوارلسمه پاڼه . تناقض : روهنا، روهڼا[9] ولولئ.

---

1 - Srî-wardhana-pura
2 - Emerson Tennant at vol. i, p. 414 of his 'Ceylon'
3 - Kandy
4 - Kurunægalla
5 - Mr. K. James Pohath in the 'Ceylon Orientalist,' vol. iii, p. 218
6 - Damba-deniya
7 - Mr. Trenckner in his 'Pali Miscellany' (London, 1879)
8 - Tissa the Elder, the son of Moggali
9 -'Rohana' read 'Roha*n*a

پینځلسمه او شپاړلسمه پاڼه : ددې ټولې فقرې د تکرار مسؤولیت د بودهاګهوسه پر غاړې دی (چې د اولدنبرګ د وینه یه د ژباړې د دریيم ټوک په ۲۹۶ پاڼې کې د سمنتا پاسادیکا د پېـژندنې[1] په برخې کې راغلی دی) خو داسې ښکاري چې د موګلي پوته تیسا[2] د زوکړې په هکله دې سیګوه[3] ورپېـښن شوي وي. موږ ټول له معاصرو لیکوالانو هیله لرو چې په خپلې هرې لیکنې کې د خپلو خبرو سرچینـه ځرګنده کړي خو بودهاګهوسه د میلینډا په هکله هېـڅ ریفرنس نـــهٔ ورېاندې کوي. کـــېدی شي دا فقره د بودایي اساطیرو ګډه ریښه وي او ښایي موږ به ئـــې بل چـــېرې ووینو.

دوه دېـــرشمه پاڼه، لومړۍ کرښه، د 'سکوت له فلسفې' او د تاوان په هکله له وراشي وروسته زیات کړئ (پرابهوا سوتانته[4] وګورئ پاڼه : ۲۹، چې ریفرنس ورکړ شوی دی]

درې پنځوسمه پاڼه : "فضیلت بنسټ دی." ما باید دا زیاته کړې وَی چې دا د یوهٔ نامتو شعر یوه برخه ده چې سایلوني لیکوالانو بوداګهوسه ته ورکړی او زموږ لیکوال د خپلې امتحاني مقالې په لړ کې د خپلو ادعاوو د زباد لپاره یاد کړی دی. که دی ددې مقالې له لارې په خپلې ادعا کې بریالی شي نو په پالي کې دې د ټولو موروثي عقایدو ډاډ وربانديې وشي. د " خلوص لاره" چې ددې شعر په پیل کې راغلې ده، د همدې خبرې پایله ده.

یوسلو پینځه اتیایمه پاڼه. ۴۹ : په دې ځانګې کې تر بحث لاندې نیول شوې پوښتنـــه کولی شو د سر طهماس برَون[5] له کتاب سره پرتله کړو. نوموړی څوڅو ځایه د لویدیځو لیکوالانو په منځ کې د تصور له جنسي غریزې پرته څو فرضي قضیې ورکوي او ور سره مناسب د شیطان په مرستې د کوډګر مرلین[6] د نسل د ابقاء فرضي پایلې ته رســېږي چې " د شرارت په لاس نسلونه تر ډېــره غیر محتمل دي"

---

ما غوښتل د میلینډا دا ژباړه د ښاغلي ترنکنر نامـــهٔ ته ځکه ډالۍ کړم چې نوموړي د څو کلونو په ترځ کې انکار نـــهٔ منونکي کار تر سره کړی او موږ د پالي متن د چاپ په پار دهٔ ته پوروَړي یو او دا ژباړه د همدغـهٔ متن پر بنسټ تر سره شوې ده او باید په زغرده ووایم چې که دا متن نـــهٔ وای نو دا ژباړه به هم نـــهٔ رامنځته کــېدله. زه اوس خبر شوم چې " د ختیځ د سپــېڅلو کتابونو" د لړۍ هر جلا ټوک ته د ډالۍ یا اهداء اجازه ځکه نـــهٔ شته چې د همدغو کتابونو له ټولې لړۍ

[1] - Introduction to his Samanta Pâsâdika, p. 296 of vol. iii of Oldenberg's Vinaya
[2] - Moggalî-putta Tissa
[3] - Siggava
[4]- Parâbhava Suttanta p. xxix
[5] - Sir Thomas Brown in his 'Enquiries into Vulgar and Common Errors,' Book VII, Chapter xvi (p. 304 of the London edition of 1686
[6]- په انګلیسي اساطیرو کې د یوهٔ نامتو کوډګر نوم وو چې د ژوندانـــهٔ موده ئـــې د آرتهر په نامـهٔ د ناپېــژندل شوي پاچا له پیر سره سمون خوري. د آرتهر د پیر سلطنت ځینو د شپږمې او شپاړلسمې زېـږدېـزې پـېـړۍ تر منځ اټکل کړی دی. دی " په ډبرې کې د توري" له عبارت سره سمون خوري. په دې معنی چې دی یوه افسانوي توره په ډبرې کې ننه باسي چې له آرتهر پرته ئـــې بل څوک نـــهٔ شي را ایستلی. اسطوره وایي چې دا کوډګر د ابد لپاره ژوندی دی ترڅو خپل نسل ژوندی وساتي. ددهٔ یو زوی ارتهر نومـېـږي او د ساکسون د برېد په لړ کې وژل کـــېـږي. دی وروسته خپله توره په ډبرې کې ننه باسي او وایي چې د آرتهر په نامـــهٔ به یو عادل پاچا راشي، دا توره به دی راوباسي او د همدې تورې پر مټ به آزادي تر لاسه او عدل به خپور کړي- ژباړونکی

سره به ټکر وومي. که د کتاب په پیل کې د پېـژندنې د لیکلو پر مهال په دې خبرې خبر وای نو ما به لږ تر لږه په پینځلسمې پاڼې کې د ښاغلي ترنکنر په نامـه یو څو کرښې د پېـژندنې په لړ کې د یوې تبصرې په توګې لیکلې وای. زه اجازه لرم چې د کورودانۍ د ویلو لپاره، دلته هغه په پام کې نیول شوې ټکي راوړم چې د تأریخي څـېـړنې د بهیر ټول مینـه وال باید له داسې یوه عالمه د مننې احساس ژوندی وساتي چې د کلونو کلونو درانده کار پـېـټې ئـې پورته کړی، داسې ارزښتمند کار چې یوازې د لوړې روزنې او تحلیلي فضل او کمال د څـېـړنې په مټ په داسې یوه ډګر کې ور په برخه دی چې د پوهې له بڼ څخه ئـې یوازې پخې میوې تر لاسه کـېـدی شي.

# د خاصو نومونو او ځايونو انډکس


| د پاڼي شمـــېـــر | ليکنـــهٔ په انگريزي | نوم |
|---|---|---|
| xxvi. | Abhidharma Kosa Vyâkhyâ | ابهي دهرما کوسه وياکهيا |
| xxii. | Agathokles, king of Baktria | د باکتريا پاچا، اگه تکلز |
| 8, 41 | Agita, the teacher | اجيتا- ښوونکی |
| xliv | Akesines, the river | اکي سينس- سيند |
| xliv, 171 | Akiravatî, the river | اکي رَوتي - سيند |
| 3 | A*l*akamandâ, city of the gods | اله کمندا د رب النوعو ښار |
| xxiii, 127. | Alasanda (Alexandria), on the Indus, | الا سنده، اندس، (الکسندريه) |
| 294 | Amarâ, Mahosadha's wife | د امَرا مَهوسدها ماندينه |
| xii. | Amara-sekara, Mr. C. A. M | امَرَه سيکاره |
| xii | Amara-sekara, Mr. N. M | امَرَه سيکاره |
| 163, 191, 257 | Ânanda, the teacher | آنندا ښوونکی |
| xix,xlii,4 8 | Anantakâya, attendant on Menander,<br>probably = Antiochos | انن تکايا، د ميننډر حاضر ملازم چې کـــېـــدی شي انتياکس وي |
| 163 | Anuruddha, the Sâkyan | ساکي انوراډها |
| xix, xlii | Apollodotus, king of Baktria | اپولاداتس د باکتريا پاچا |
| xxii | Archebios, king of Baktria | آرکيبيس د باکتريا پاچا |
| xxi | Ariano-pali, legends on coins | آريانو – پالي د مسکوکاتو پر مخ ليکني |
| 171 | Asâlba, a month | اسالبه – يوه خوله |
| xliv | Asiknî, the river | اسيک ني - سيند |
| xlvi | Asipâsâ, a caste | اسي پاسا – يوه پاړکه/طبقه |
| xxxvii, xlii 182 | Asoka, emperor of India | آشوکا د بهارت سترواک |
| xliii, 26 | Asokarâmâ, near Patna | پټنا ته نـــېـــږدي آشوکا راکا |
| xxv, xliii | Assagutta of the Vattaniya hermitage | د وټنيا گوټ ځای اسه گوته |
| xxv | Asvagupta, not the same as last | اسوه گوپتا – پورتني نامهٔ ته ورته نـــهٔ دی |
| 167 | Attabissara, = Devadatta | اته بيساره – ديوه دتا |
| xl, 9 | Aviki, purgatory | اويکي - برزخ |
| xxv, xliii, 30 , 31 | Âyupâla, of the Sańkheyya hermitage, a Buddhist teacher | د سڼ کي يا د گوټځي آيو پاله – يو بودايي ښوونکی |
| xx | Barygaza, in Gujarat | په گوجرات کې بري گزه |
| 31 | Benares | بنارس |
| xxvi | Benfey, Professor, quoted | بنفري، پوهاند، اخځ |
| xliii, 292 | Bhaddasâla, the general | جنرال بډها ساله |
| xlvi. | Bhaddi-(or Bhatti-) putta, a caste | بهادي – (يا بهاتي-) پوتا يوه پاړکه |
| 163 | Bhaddiya, the Sâkyan | ساکي بهاډيا |
| 163 | Bhagu, the Sâkyan | ساکي بهاگو |
| xliii, 331 | Bharukakkba, men of | بهاروککبه – سړي د |

| | | |
|---|---|---|
| xliii, 182 | Bindumatî, a courtesan | بيندو متي – يوه بدلمني |
| xxvi | Bird, Major, quoted | مرغۍ – لويه ، اخځ |
| 118, 301 | Brahma, the god | برهما – رب النوعه |
| 126 | Brahma-world, heaven, | برهما- نړۍ، جنت |
| xi, 306; his quotations of the Milinda, xiv-xvii. | Buddhaghosa's ' Path of Purity,' | بودهاگهوسه " د اخلاص لار" |
| 9 | Budh Gâyâ, in Behar | بودهـ گايا په بهيار کې |
| xxvi | Burgess, Dr., quoted | ډاکتر برجس، اخځ |
| xi, xvi | Burmese translations of the ' Questions of Milinda,' | برمس د ميليندا د پوښتنو ژباړه |
| xxvi | Burnouf, quoted | برنوف، اخځ |
| xxvi | Bu-ston, a Tibetan work, quoted | بو – ستن يو تبتي اثر، اخځ |
| xi, xiv; its literature, xiii | Ceylon | سايلون |
| xlv, 185, 230, 244 | Childers, Professor, quoted | پوهاند چايلدرز،اخځ |
| xi | Cunningham, General, quoted | جنرال کنينگهم، اخځ |
| xx | Dâgabas, sepulchral heaps | داگه بس، آراگاهي غونډۍ |
| 216 | Dânava, Titan | دانـه وه، يوناني اساطير |
| xiii | Daramitipola, a Ceylon scholar | سايلوني عالم درَميتي پوله |
| 153, 163 foil., 193, 249, 282 foil., 303. | Devadatta, the heresiarch | ديوه ډتا د کفر او الحاد مشر |
| , xix, xliii, 22, 24, 37, 47- | Devamantiya, = Demetrios | ديوه منتيا = ديميتريوس (د باکتريا پاچا- ژ) |
| xxvii | Dhamma-kitti, author of the Sad- dhamma Sańgaha | دهما- کيتي، د سد دهما سنگها ليکوال |
| | Dhammakkhanda. See Madhurasa- tota | دهما کندا وگورئ مدهورسا توته |
| 244 | Dhammapâla, quoted | دهما پاله، اخځ |
| | 1. Dhamma-rakkhita. See Daramiti- pola | ا-دهما رکهيتا وگورئ دَرَميتي پوله |
| xxv, xliii, 16,18 | 2. Dhamma-rakkhita, one of Nagasena's teachers | ٢-دهما رکهيتا د ناگه سينا يو استاد |
| 297 | Dhana-phâlaka, elephant | دهنه فالکه فيل |
| 87 | Dinna,attendant on king Milinda | دينا د پاچا ميننډر حاضر ملازم |
| xxv | Divyavadâna, quoted | ديوي اوَدانــهٔ، اخځ |
| 172 | Ekasâtaka, a Brahman | ايکه ساتکه ، يو برهمن |
| 185 | Elijah, his 'Act of Truth,' | الياس او د هغــهٔ قانون الحقايق |
| xxiii | Eukratides, king of Baktria | ئــوکره تايدس د باکتريا پاچا |
| 248 | Fa-Hien, the traveller | (چيني –ژ) سيلانی فاهيان |
| 244, 253 | Fausböll, Professor, quoted | پوهاند فوسبول، اخځ |
| xliii, 327, 331 | Gandhâra,the country | گندهاره، هــيــواد |

| | | |
|---|---|---|
| xliv, 5,171, 182 | Gangâ, the Ganges river | گنگا، د گنګ سیند |
| xxi | Gardiner, Professor, quoted | پوهاند ګرایندر، اخځ |
| 38,175 | Garudas, snake-eating birds | مار خوره مارغــۀ، ګرودس |
| 172 | Gopâla-mâtâ, queen | ګوپاله ماتا، ملکه |
| | Gunânanda. See Mohotti-watte | ګونانندا وګورئ موهوټي وټ |
| 172 | Guttila, musician | ګوټیلا موسیقار |
| xxvi, 40, 61, 64, 77 | Hardy, Rev. R. Spence, quoted | هاردي، ریو، ر. سپنس، اخځ |
| 11, 171, 278 | Himalayas, mountains | همالیا، غرونــه، |
| xii, xiii | Hinati-kumburė Sumańgala, translates the Milinda into Simhalese | هینـــۀ تي کمبوري، سومڼ ګله ئـې سیمهالي ته ژباړلې ده |
| xliv | Hydaspes, the river Bihat | هید اسپس، بهیات سیند |
| xix | Hypanis (the Sutlej) | هیپانیس (ستلج) |
| 37 | Indra, the god | ایندرا، رب النوعه |
| 171 | Indus, river | اندس، سیند |
| xix | Isamos (the Jumna) | آیسه موس (جمنا) |
| 6, 247 | Itihâsas | ایتي هاسه |
| 8 | Jains, their founder | جینیان، د هغوی بنسټ ایښودونکی |
| 174 | Jâli, Vessantara's son | د ویسَنتره زوی، جالي |
| | Jumna, river. See Isamos, Yamuna | د جمنا سیند وګورئ، آیسه موس، یامونــه |
| xix | Justin, quoted | جستین، اخځ |
| xx | Kabul, Menander's coins found there | کابل، دلته د میننډر مسکوکات موندل شوي دي |
| xxii | Kadphises, a coin of his referred to | کدفیزس، ددۀ یوې ایکۍ ته نغوته شوې |
| 14, 18 | Kagańgala, in the Terai | کګڼ ګاله ، په تیرای کې |
| 286 | Kâlâbu, king | پاچا، کالابو |
| 238 | Kalanda, a clan | کلنده، یو ټبر |
| xxiii, xliii, 83, 127 | Kalasi, a town on an island in the Indus | کلاسي، د اندس پر غاړه یو ټاپو |
| xlvi | Kali-devatâ, a sect so called | کالي دیوه تا، په همدغه نامــۀ یوه مذهبي ډله ده |
| xliv, 171 | Kandabhâgâ, the river | کندبهاګا، سیند |
| xliii, 292 | Kandagutta, king | کندا ګوټا، پاچا |
| 287 | Kârambhiya, ascetic | کارمبهیا، زاهد |
| | Karisi. See Kalasi. | کریسي، وګورئ کلاسي |
| xx, xliii, 82 | Kashmir, Menander's coins found there | کشمـــېـــر، د میننډر ایکۍ دلته موندل شوي دي |
| 4, 173 | Kassapa, the Buddha | که سه په ، بودها |
| 298. | Kathâ Sarit Sâgara, quoted | کتها سریت ساګره، اخځ |
| 257, 301 | Kâtumâ, a Sâkyan town | کاتوما، د ساکانو یو ښار |
| xxvi | Kern, Professor, quoted | پوهاند کرن، اخځ |

| | | |
|---|---|---|
| 11 | Ketumatî, a mansion in heaven | کيتومتي، په جنت کې يوه ماڼۍ |
| 122 | Khuggutturâ | خوږ ګوټره |
| 163 | Kimbila, the Sâkyan | ساکي کيمبيلا |
| xliii, 121, 327, 331, 359 | Kina, perhaps China | کينــه، ښايي چين وي |
| 153 | Kîńki, a Brahman woman | کيڼ کي، يوه برهمنــه ميرمن |
| xii, xiii | Kîrtti Srî Râga-simha, king of Ceylon | کيريتي شري راګه سيمهه، د سايلون پاچا |
| xliii, 359 | Kola-pattana, seaport | کولا پټنــه، سمندري غاړه |
| 3 | Kotumbara, its stuffs | کوتومباره، توکي ځايوي |
| 275 | Kumâra Kassapa | کوماره که سه په |
| 242 | Kunda, the coppersmith | کوندا، پښ |
| 37 | Kuvera, the god | کوويرا، رب النوع |
| xliv | Lassen, Professor, quoted | لسن، پوهاند، اخځ |
| 248 | Legge, Professor, his version of Fa- Hien | ليګي، پوهاند، ددۀ د فاهيان،ژباړه |
| xiii | Liwera, Mr. A | لي ويره، ښاغلی، الف |
| 7 | Lokâyatas, a sect so called | لوکايَتاس، په همدغــۀ نامــۀ يوه مذهبي ډله |
| 174 | Maddî, wife to Vessantara | مَدي، د ويسنتاره ماندينــه |
| xliii, 331 | Madhura, the city, | مدهورا، ښار |
| xiii | Madhurasa-tota, a Buddhist scholar | مدهورَسه- توتا، بودايي عالم |
| 247 | Mahâ-bhârata, called an Itihâsa | مها بهارتا، ايتيهاس يادېــږي |
| 11 | Mahâsena, a god | مها سينا، يو رب النوع |
| xliv, 171 | Mahî, the river | مهي، سيند |
| 294 | Mahosadha and his wife | مهو سدها او د هغــۀ مانديــــۀ |
| 8 | Makkhali (of the cowshed) | (د غوايانو د غوجل) مکخالي |
| 172 | Mallikâ, queen | مليکا، ملکه |
| 204 foll | Mâluńkyâ-putta | مالونکيا پوټا |
| xlvi, 191 | Manîbhaddâ, a caste so called | منيبهدا، په همدغــۀ نامــۀ يوه پاړکه |
| xx, 29, 30, 48 | Mańkura, attendant on Menander | منکوره، د ميننډر حاضر ملازم |
| 172 | Mandhâtâ, king | مندهاتا، پاچا |
| xiv | Manoratha Pûranî, quoted | منو رَتها پوراني، اخځ |
| 219 | Mâra, the Evil One | ماره، تورکارى |
| 177 | Masâra, mountain | مساره، غر |
| xx | Mathurâ, Menander's coins found there | متهورا، د ميننډر ايکۍ په کې موندل شوي دي |
| 298 | Megha Dûta, quoted | مګها دوتا، اخځ |
| xviii | Menander-Milinda, identity of the names | ميننډر، ملينډ، د نومونو پيژند، |
| xix | notices of in classical writers | د کلاسيکو ليکوالانو يادښتونــه |
| xx-xxii | coins of | د شلمې، دوويشتمې پاڼې ايکۍ |

| | | |
|---|---|---|
| xxiii | date and birthplace of | د زوکړې نـېـټه |
| xxv-xxvii | his conversion to Buddhism | بودیزم ته د هغـهٔ اوښتنګ |
| xiii | Mendis, Mr. L | منديس، ښاغلی، ل |
| xii, xiii | Milinda, the Questions of, in Ceylon | میلیندا، پوښتنې ئـې، سایلون کې |
| xiv- xvi | in Buddhaghosa | په بودهاګهوسه کې |
| xvii | MSS. of | ام، اس اس، د |
| xvii | is a religious romance | یوه مذهبي مینــه ده |
| xviii | the charm of its style | د هغه د بنې کوډه |
| xii | Milinda Prashnaya | میلیندا پرَشنیا |
| 261 foll | Moggâllana, his death | موګا لانـه، مړینـه ئـې |
| xii | Mohotti-watte Gunânanda, a Bud dhist scholar | موهوتي – وتې ګونانندا، یو بودایي عالم |
| xiv, xv, 46, 65, 174, 278, 301 | Morris, the Rev. Dr quoted | موریس، ریو، ډاکټر، اخځ |
| xliv, 179, 240 | Mûller, Prof. Ed., quoted | مولر، پوهاند، اید، اخځ |
| xxv;, xxvi | Nâgârguna, founder of the Mahâ- yâna school identified wrongly with Nâgasena | ناګارونـه، د مهایانې د مکتب بنسټ ایښودونـکی چې په غلطه د ناګه سینا په نامــهٔ پــېــژندل شوی دی |
| xxv, xxvi | Nâgasena and passim | ناګه سینا او دلت |
| xxvi | Nâgesa, epithet of Patańgali | ناګسا د پتنجالي لقب |
| 298 | Nâlâgiri, elephant and mountain | نالاګیري، فیل او غر |
| 153 | Nanda, the Brahman | ننداء برهمن |
| 153 | Nandaka, an ogre | نداکه یو موحش |
| 287 | Nandiya, monkey king | نندیا، بیزو پاچا |
| 286 | Nesâda, outcasts | نیساده، رټل شوي |
| 8 | Nigantba Nâta-putta, founder of the Jain sect | نیګنتبه ناته پوټا، د جین د مذهبي ډلې بنسټ ایښودونـکی |
| xliii, 327 | Nikumba, the country | نیکومبا، هیواد |
| 172 | Nimi, king | نیمي، پاچا |
| 6 | Nyâya philosophy | نیایه، فلسفه |
| xlvii, 191 | Pabbatâ, a caste so called | پبّتا، په همدغـهٔ نامــهٔ یوه پاړکه |
| xli | Pâkittiya rules | پاکیتیا قوانین |
| 8, 42 | Pakudha Kakkâyana, the teacher | پکدوها ککایانــه، ښوونـکی |
| xxv, xxvii, xl, xliv, 46, 65 | Pâli Text Society | د پالي متنونو ټولنـه |
| 298 | Pânini, quoted | پانیني، اخځ |
| xv | Papańka Sûdani, quoted | پپنکه سودني، اخځ |
| xli | Pâragika offences | پارَګیکه، تقصیرونـه |
| 26, 182 | Pâtaliputta, the modern Patna | پاتلي پوټا، معاصره پټنـه |
| xxvi | Patańgali, not the same as Nâgasena | پتنجالي، هماغه ناګه سینا نـــهٔ دی |
| xli | Pâtimokkha | پاتی موکهه |
| 264 foll | Patimokkha, recitation of | د پاتي موکهه قرائت |
| 275 | Pâyâsi the Râganya | |

| | | |
|---|---|---|
| xxvi | Phanin, epithet of Patańgali | فنين، د پتنجالي لقب |
| 280 | Piliyakkha, king | پيلياک خه، پاچا |
| xii. | Pîrîs, Mr. K | پيريس، ښاغلی ک |
| xix, xxii | Plutarch, quoted | پلورتارک، اخځ |
| 37 | Pragâpati, the god | پرَگاپتي، رب النوعه |
| 172 | Punnâ, slave girl | پونا، پــېــغله مينځه |
| 172 | Punna, a servant | پونه، ملازم |
| 8, 9, 41 | Pûrana Kassapa, the teacher | پورانــه که سه په، ښوونکی |
| 6, 247 | Purânas | پوراناگاني |
| 191, 298; council held at, 242 | Râgaha | راگهه |
| 32 | Râhula, son of the Buddha | راهول، د بودا زوی |
| xliii, 6, 12, 18 | Rakkhita-tala, in the Himâlayas | رَکخيتا، په هماليا کي |
| 247 | Râmâyana, called an Itihasa | رامايانه، د ايتيهاس په نامــهٔ يادېـږي |
| 282 | Roga, the Mallian | روگه، ميلان |
| xxv | 1. Rohana, a Buddhist teacher mentioned in the Ańguttara | ۱-روهنا، يو بودايي ښوونکی چې په انګوتړي کې ياد شوی دی |
| xxv, xliii | 2. Rohana, Nâgasena's teacher | ۲-روهنا، د ناگه سينا استاد |
| xix, xliii, 20, 47, 56 | Sabba-dinna, attendant on Menander | سبا- دينا، د مينندر د حضور ملازم |
| xxvii | Saddhamma Samgaha, a Pâli historical work | سدهامه سمگاهه، يو پالي تأريخي اثر |
| 172 | Sâdhîna, king | سادينا، پاچا |
| xviii, xliii, 2, 23 | Sâgala, capital of Baktria | ساگله، د باکتريا (يوه ــژ) پلازمينــهٔ، (چې اوس سيالکوټ نومــېـږي) |
| xliii, 327, 331 | Saka, a country | ساکه، يو هــېــواد |
| 291 | Sâkha, general | ساکهه، جنرال |
| 12 | Sakka, king of the gods | ساک که، د ارباب الانواعو پاچا |
| 153 | Sâkyan, member of the clan | ساکي، د قبيلې د ځانگي غړی |
| xxi | Sallet, Alfred von, quoted | سلت الفرد ون، اخځ |
| 280 foll., 288 | Sâma, prince | سامه، شهزادگی |
| 8 | Sańgaya, the teacher | سنگايه، ښوونکی |
| xliii, 17, 22 | Sańkheyya, a hermitage | سنکهيا، يو گوښځای (عزلتگاه) |
| 6 | Sâńkhya philosophy | سانکهيا، فلسفه |
| 37 | Santushita, a god | سنتوشيتا، يو رب النوعه |
| xliv, 171 | Sarabhû, the river | سرابهو، سيند |
| | Saranańkara. See Wœliwita | سرَنــَــناکاره، وگورئ، ويوليويتا |
| xliv, 171 | Sarassatî, the river | سرَسوَتي، سيند |
| 267 | Savara, city of the Kandâ1as | سواره، د کنداليانو ښار |
| xxvi | Schiefner, Prof., quoted | شيفنر، پوهاند، اخځ |
| xi, xvi, xvii, xxiv | Siamese translations, &c, of the 'Questions of Milinda | سيامس، ژباړې او د ميليندا پوښتنې |
| xliv | Sindhu, the Indus river | سيندهو، د اندس سيند |
| 152,176 | Sineru, king of mountains | سينرو، د غرونو پاچا |
| 195 | Sîvaka | شيوکه |

| | | |
|---|---|---|
| 179 | Sivi, king | سيوي، پاچا |
| xliii, 14 | 1. Sonuttara, a Brahman | ۱-سونوتره، يو برهمن |
| 286 | 2. So*n*uttara, an outcast | ۲-سونوتره، يو رټل شوی |
| xiii, 305 | Srî-wardhana-pura, a city in Ceylon | شري – وردهانــه پوره، په سايلون کي يو ښار |
| | Sthûpas. See Dâgabas | ستوپس، وګوئ داګه بَس |
| xix | Strabo, quoted | سترابو، اخځ |
| xxii | Strato, king of Baktria | ستراتو، د باکتريا پاچا |
| 186 | Subhadda, recluse | سوبهادا، ګوښتاستی (راهب) |
| 238 | Sudinna, of the Kalanda clan | سودينا، د کالندا قبيلي ټبر |
| 172 | Sumana, garland maker | سومَنــهٔ، هار جوړونکی، د ګلونو اميل جوړونکی |
| xiv, xv, 131, 263 | Sumańgala Vilâsînî, quoted | سومڼ ګله، ويلاسيني، اخځ |
| 153 | Suppabuddha, a Sâkyan | سوپه بډها، د ساکانو يو تن |
| 172 | Suppiyâ, devotee | سوپيا، سربښندوی، سر سپارلی |
| xliii, 331, 359 | Surattba, Surat | سورَټبه، سورت |
| xiii | Sutta Nipâta | سوټا نيپاته |
| xliii, 359 | Suvanna-bhûmi, the country | سوواڼا بهومي، هـېـواد |
| 37 | Suyâma, a god | سومايه، يو رب النوعه |
| xxii | Sy-Hermaios, king of Baktria | سي، هرمايوس د باکتريا پاچا (په ډېــريو سرچينو کي سو هرمايوس ليکل شوی دی – ژ) |
| xliii, xliv, 359 | Takkola, the place | تکولا- يو ځای |
| 268 | Theosophists, sect of | سوفسطائــي ډله |
| 6 | Tissa, son of Moggalî | تيسه، د موګلي زوی |
| xliii, 71 | Tissa-thera, a writer | تيسه تيرا، ليکوال |
| xv-xix, xxiv, xxxi, 25, 28, 32, 49, 80, 175, 179, 294, 306 | Trenckner, Mr | ترنکنر، ښاغلی |
| 271 | Tusita heaven | توسيتا، جنت |
| xliii, 70 | Ûha, a river | يوها، سيند |
| 163 | Upâli, the barber | اوپالي، نايي/ سلمان |
| xiii | Uposatha Ârâma, in Ceylon | اوپوستها، آرامه، په سايلون کي |
| 3 | Uttarakuru | اوټاره کورو |
| 6 | Vaishika  philosophy | وايشکا، فلسفه |
| xliii, 359 | Vańga, Bengal | ونګه، بنګال |
| 37 | Varu*n*a, the god | ورونا، رب النوعه |
| xliii, 10-16 | Vattaniya, a hermitage | وټنيا، ګوښځای، عزلتګاه |
| 6, 247 | Vedas, the four | ويدا - څلور |
| 17, 34 | Vedas the three | ويدا - درې |
| 11 | Vegayanta, palace of the gods | ويګايانتا، د رب النوعو ماڼی |
| 170 foll | Vessantara, the king | ويسنترا، پاچا |
| 38 | Vessavana, king of the fairies | ويسه وانــه، د ښاپــېرېــو پاچا |
| xliv, 171 | Vetravatî, the river | ويتره وتي، سيند |
| 288 | Vidhura, sage | ويدهوره، حکيم |
| xliii, 12 | Vigamba-vatthu, a hermitage | ويګمبا – وټو، ګوښځای، عزلتګاه |

| | | |
|---|---|---|
| xliii, 327, 331 | Vilâta, a country | ويلا ته، يو هـــېـــواد |
| xliv, 171 | Vîta*m*sâ, the river | ويتم سه، سيند |
| 7 | *Vitandas*, a sect so called | ويتنده گان، په همدغـــهٔ نامـــهٔ يوه مذهبي ډله |
| xxv | Weber, Prof., quoted | ويبر، پوهاند، اخځ |
| xxv, xxvi | Wenzel, Dr., quoted | وينزل، ډاکټر، اخځ |
| xxi | Wilson, H. H., quoted | ويلسن. اچ. اچ. اخځ |
| xii, xiii | Wœliwi*t*a Sara*n*ańkara, a Buddhist scholar | ويولي ويته، سَرَنانکاره، يو بودايي پوه |
| 38, 176 | Yakkha, ogre | يک خا، يو موحش |
| 37 | Yâma, the god | يامه، رب النوعه |
| xliv, 171 | Yamunâ, the Jumna river | يمونا، د جمنا سيند |
| xliii, 327, 331 | Yavana, Baktria | ياوانـــهٔ، باکتريا |
| 6 | Yoga philosophy | يوگا، فلسفه |
| xix, xiii, 1, 4, 20, 68 | Yonakas, the Greeks (Ionians) attendant on Menander | يوناکه گان، يونانيان (آيونيان) د مينندر د حضور ملازم |
| 12 | Yugandhara, a peak of the Himâlayas | يوگندهاره د هماليا يوه دنگه څوکه |
| xxii. | Zoilos, king of Baktria | زوی لس، د باکتريا پاچا |


**INDEX OF SUBJECTS.**


Acrobats, page 53.
'Act of Truth,' 180 foll.
Alkaline wash, in medicine, 168.
Alms, customs of the Buddhist Order in regard to, 14-16, 20.
Alms-halls. 2. See Rest-houses.
Altruism, Buddhist, 174.
Ambrosia, 35, 236.
Animals, their reasoning powers, 51.
Arahat, the great, is Buddha, 8; others, 11,12; their knowledge of others'thoughts, 18, 23; nature of their wisdom, 29; does not fear death, 70; description of, 157; have no fear, 206 foll.,297 foll.
Astronomy, 6.
Atonement, 14.
Baby, is it the same as the grown man? 63.
Bambû, simile of the giant-, 155 foll.;
dies in reproduction, 236.
Barber, 19, 302.
Arahatship, above ordinary morality, 25; its seven conditions, 52,58; the highest of all lands, 227.
Architects, 2, 53.
Arithmetic, 6, 91.
Army, its four divisions, 7, 54, 60, 62.
Arts and sciences,the nineteen,&c.,6.
Aspiration of reward, on doing a good act, 5; duty of, 55.
Association of ideas, 89-92.
Assurance of salvation, the Arahat's final, 65.
Astrologer, the royal, 31, 247.

Barley reapers, simile of, 51.
Bathing places, public, 140.
Becoming, 83; sorrow of, 149; freedom from, 293.
Boat, similes of, 124, 227.

Body, the thirty-two parts of the human, 42; the love of the, 114; bodily marks, the, 32, 117, 237; made of four elements, 194.
Bones, hundred leagues long, 130.
Book, 123; of the law, 262.
Brahman, works in the fields, 15; duties of a, 247.
Brand marks, on cattle, 122.
Breath, no soul in the, 48.
Bridges, 140, 272, 291.
Brooms, 4.
Buddha, the, is incomparable, 108; is not still alive, 144 foll.; gifts to, 144 foll.; distinction be-
tween Pa*kk*eka- and Perfect- Buddhas, 158; the best of men, 178; sinlessness of, 191.
Burning glass, 85.
Calf, similes of, 282, 301.
Carpenter, simile of, 236.
Carriages, 3, 91.
Carter, should test a ford, 272.
Casuists, 7; casuistry no branch of education, 17.
Cat's eye, the gem, 177.
Cattle, brand marks on, 122.
Cauterising a wound, 168, 211.
Dacoits, 33.
Dart, simile of the perfect, 159.
Dead body, always cast up by the sea, 259.
Death, the fear of, 206-212, 278, 279.
Death of the Buddha, the legend of, explained, 242 foll.
Delusion of self, 207, 226.
Dependents, kindness to, 138.
Dice-playing, 103.
Digestion, 193, 236.
Diseases, ninety-eight kinds of, 152; caused in ten ways (one of which is medical treatment), 192; cured by Pirit, 225.
Divination, practised by Brahmans, 247.
'Divine Ear,' the, 11.
'Divine Eye,' the, 26, 179.
Divining other people's thoughts, 18, 23.
Dreams, interpretation of, 247.
Drugs, five kinds of, 69.
Ceremonies, observed by kings on visiting Sama*n*as, 30, 31, 37, 49.
Character, of the ideally good layman, 296.
Chariot, simile of, 43 ; parts of, 44.
Charms, intoning of, 181.
City, description of a wealthy, 2; foundation of, 53; with one gateway, simile of, 90.
Clocks, want of, 7.
Clod, thrown in the air, simile of, 194.
Cloth goods, 3.
Combs for the hair, 19.
Comets, 247.
'Confections,' 42, 83, 205, 207.
Contact, 92.
Conversion, what it consists in, 25.
Conveyancing, as an art, 6.
Copper ware, 3, 96.
Cotton stuffs, 159.
Counting. See Arithmetic; by the finger-joints, 91.
Courtesan, story of, 183 foll.
Courts of justice, 291.
Criminal, the condemned, similes of, 165-6, 211.
Crops, estimation of growing, 91.
Cymbals, simile of, 93.
Drum, simile of, 149.
Dryads, 242.
Ear, the divine, 11.
Earth, the broad, similes of, 52, 150, 194, 258, 299.
Earthquakes, 170 foll.
Eclipses, 247.
Education, 17, 50, 63.
Egoism, delusion of, 207, 226.
Elements, the four, 194.
Elephants, 3, 38, 126, 211, 267, 272.
Embroidery, 134.
Embryo, four stages of the, 63, 105.
Esoteric teaching, none in Buddhism, 138, 142, 267.
Estimating growing crops, 91.
Eunuchs, cannot keep a secret, 141.
Evil, origin of. See Pain. Conquest of, by good, 174.

Excitement, condemned, 143.
Exorcism, 38.
Eye, the Divine, 26.
'Eye of the Truth,' 25.
Fairies, 38.
Faith, 52, 56.
Fans, 148.
Finger-joints, used to count with, 91.
Fire, similes of, 73, 146, 188, 234, 244.
Fire-extinguishing apparatus, 68.
Fire-stick apparatus, 85.
Flame, simile of, 64.
Flavours, the six, 88.
Flood, simile of a, 56.
Floor coverings, 267.
Food, Indian idea of, 26.
Fossil bones, 130.
Future life, the craving after, condemned, 174, 200.
Garlands, habit of wearing, 19.
Gayal, kind of buffalo, 211.
Gems, various kinds of, 177.
Generosity, the mighty power of, I73-5-
Gestation, period of, is ten months, 16.
Ghee, 65, 75, 161, 249.
Insight, the eight causes of its ripening, 141, and see Conversion.
Intoxicating drinks, 41.
Investigation, characteristic of, 96;
why the Buddha investigates, 272.
Invisible, story of the magician, 217; root to make one, 281.
Iron, 70.
Jasmine, the chief of flowers, 252.
Javelins, 69.
Karma, 3,12,18, 32, 41, 71, 80,103, 163,191, 214, 262-4.
King of kings, the mythical, 162,177, 199.
Kings, their manner of discussing, 46; their tyranny, 50; their greed, 203; they take the best of everything, 267.
Lamps, 61, 64, 67, 73, 11o.
Lancet, surgeon's, 168-9, 211.
Law, of property, 247. See Peace, breach of, and Conveyancing, and Punishments, and Book.
Gold and silver, 3, 59, 267.
Grammar, 17.
Granary, 65, 161.
Guilds of traders, 3.
Hair, the sixteen impediments of wearing, 19; hair-dyeing and shampooing, &c, ibid.
Head-splitting, belief as to, 222.
Heads of houses, 209.
Health and wealth, explained, 97.
Hell, none in Buddhism. See Purgatory.
Hen and eggs, similes of, 76, 77, 80.
Highwaymen, 32, 222.
Honey, the man in the trough of, 88; the drink of, 95; slips through the fingers, 249.
Horripilation, 38.
Horses, 3; the swift, simile of, 199.
House-building, 57, 83; house of life, 207.
Humours, the three, in medicine, 168, 191.
Husbandry, 215, 235, 247, 285.
Iddhi, powers of, 261.
Ideas, mark of, 94; association of, 89-92.
Income, simile of, 187.
Indeterminate questions, 205.
Individuality, 40-45, 50, 64, 67.
Indivisibility, denied, 132.
Laymen, includes the gods, 32.
Learning by heart, 17, 22, 28, 34, 123, 172.
Letter-writing, 67.
Leviathan, 187.
Lexicography, 17.
Lie, a deliberate, excludes from the
Order, 268.
Lions, 135, 211.
Log, the dry, simile of, 214.
Looking-glass, 86, 189.
Lord of a village, 208.
Lotions, medicinal, 211, 215.
Lotus flower, simile of, 117.
Love to all beings, 138, 279 foll.; of teacher to pupil, 142; duty of, 254.
Lucky marks, 32, 117, 237, 247.
Magic, 6, 181, 217.
Mandolin and its parts, 84.
Market places, 2, 53.

Marks on the body, as omens of future greatness, 17.
Marriage by purchase, 74.
Medicine, 6, 191, 197, 214. See Physician, Surgery.
Meditation, 13, 18, 52, 196 foll.
Memory, 120-122.
Merchant, should test goods, 272.
Milk and butter, simile of, 65, 75.
Mindfulness, 52, 58.
Minds, seven classes of, 154.
Ministe1s of state, the six, 171.
Miracles at conception of Nâgasena, 14.
Money, 17, 59, 134, 267.
Mules die in giving birth, 236.
Music, 6.
Muslin, of Benares, 3.
Mutilation, of criminals, 63, 166, 270, 276.
Name, soul not implied in, 41.
'Name-and-form,' 71 foll., 77.
Nirvâ*n*a, a state of mind to be attained in, and which ends with, this life, 36, 41, 78, 106. See Arahatship.
Novice, the intractable, 4; Nâgasena becomes a, 20; his duties as, 24, 302.
Ocean, taste of, 131, 133; always casts up a dead body, 259.
Offences, conscious and unconscious, 224.
Official gratitude, 76, 93, 197.
Ogres, 38.
Oil, for the hair, 19.
Ointment, for a wound, 168.
Omens, interpretation of, 247.
Omniscience of the Buddhas, 117, 154-162, 271, 301 foll.
Pain, origin of, 83, 191, 195.
Pai*kk*eka-Buddhas, 158.
Peace, breach of the, in law, 239.
Perception, characteristic of, 95,132.
Perseverance, 52.
Schism, 163, 227.
Scholars, their manner of discussing, 46.
Schooling, 63, and see Education.
Season, the rainy, 7, 24.
Secret wisdom, 139.
Sects, 3, 7, 8, 144, 266.
Physician, 68, 69, 112, 165, 168, 211, 40, 272.
Pilot, should test the shore, 272.
Pipers, 48.
Pirit, 213.
Pledge, deposit of, 123.
Poison, simile of, 94; antidotes to, 215; love counteracts, 279.
Pork, the Buddha's last meal of, 244 foll.
Posthumous honours, 144 foll.
Potter and the pots, simile of, 84.
Precepts, abolition of the minor, 202.
Present to a king, simile of, 220.
Prophecy, 6, 185.
Punishments, 63, 223, 239, 254, 269.
Punkahs, 148.
Pupil, his duty to his teacher, 144.
Purgatory, 94, 101, 125, 163, 167, 206, 210, 283.
Purity, the power of, 173.
Purohita, family chaplain, 282.
Rain, three seasons of, 171; produced by charms, 181.
Rain water, similes of, 90, 226, 245, 274, 278.
Rams, simile of two butting, 92.
Reasoning contrasted with wisdom, 50.
Recognition, mark of perception, 132.
Reflection, characteristic of, 95.
Re-incan ation, 207, and see next.
Re-individualisation, 50, 72-75.
Relationship, scheme of, 292.
Relics, of the Buddha, 144 foil., 246.
Renunciation, 31, 49, 98, 251, 271.
Rest-houses, public, 291.
Rhinoceros, 38.
Rice, simile of cartload of, 154; simile of boiling, 176; is the chief of all grains, 252.
Robber, figuratively, of a bad monk, 256.
Sandal-wood dust, 29.
Seed-fruit-seed, succession of, 80.
Seed, simile of, 301.
Seeds, edible, 161.
Sensation,results of a, 82, 83, 89, 92; characteristics of, 93;kinds of, 194.
Shadow of a man, 45; abiding under

another's, 137.
Shampooing the hair, 19.
Ship, simile of, 227.
Shops, 2, 3.
Shrines, god-haunted, 140.
Sins, the five, 41; will find you out, 295.
Snake-charmers,38,212, 215

Snakes, 211.
Snoring,how to stop, 131
Snow, 70.
Son in the faith, 142

Sophists, 7.
Sorrow, 125, and see Pain

Soul, no such thing as, 40-45, 48, 67, 86-89, 111,132

Spells, 6.

Splinter of rock, incident of, 193 foll., 249 foll.
State officials, the six, 171

Suffering, cause of, see Pain; various kinds of, 275

Sugar, 72; sugar mill, 235

Suggestion, as source of memory, 121.
Suicide, 69, 273

Surgery, 168.
Swallowed up by the earth, 152

Syrups and sweetmeats, 3.
Tank, simile of the full, 187.
Taxation, 208.
Teacher, his fees, 17, 25; his duties to his pupil, 142

Thought-perception, 89

Tidal-wave, 276

Time, definition of, 77 ; root of, 79; ultimate point of, 80-82.
To pay, 177

Torture, 239; various kinds of death with, 276, 277

Transmigration, i11, 118, 120.
Travellers, hospitality towards, 161.
Treasurer, the royal, 59.
Trees, disciples compared to, 151; simile of the barren, 162; talking trees, dilemma of, 241.
Trumpeters, 48.

Truth, is the most minute of all things, 132; its power, 182

Turbans, 138

Tutor's fees, 17

Twirling-stick, 85, 146.
Uncle, no word for in Pâli, 292

Unguents, for the hair, 19.
Vanishing root, 281.
Village organisation, 208-9.
Vow, the eightfold, of a layman, 138.
Waggons, 3,27; parts of, 44; simile of path of, 91; of load of rice, 154; breaking up of, 173; reckoned among valuable things, 267.
Wandering teachers, 7, 34.
Water-clearing gem, 55.
Water, earth rests on, 1o6, 175.
Water-pot, the regular, 106.
Weapons, 69.
Wheel of victory, 162; of the kingdom of righteousness, 31, 253.
Wife. See Marriage.
Wind, simile of, 147-8; as medical term, 191.
Wisdom, distinct from reasoning, 50 ; mark of, 51,61 ; of Arahats, 29; seven kinds of, 128.

Women, put before men, 83; their fickleness, 141; in the Order, 187; reckoned among valuable things, 267; their wiles, 294; their management of their husbands, 302. See Marriage.
Woollen stuffs, 3, 28, 159.
Worms in the body, 151.
Wound, treatment of, 168.
Writing a letter, 67.

لاندې د ختيځو ژبو د الفبا هغه بڼه ده چې تلفظ ئـــې د ختيځ د سپـېـــڅلو کتابونو له پلوه منل شوې ده



| CONSONANTS. | MISSIONARY ALPHABET. I Class. | II Class. | III Class. | Sanskrit. | Zend. | Pehlevi. | Persian. | Arabic. | Hebrew. | Chinese. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **Gutturales.** | | | | | | | | | | |
| 1 Tenuis | k | ... | .... | क | [illegible] | [illegible] | ك | ك | כּ | k |
| 2 „ aspirata | kh | ... | .... | ख | [illegible] | [illegible] | ... | ... | כ | kh |
| 3 Media | g | ... | .... | ग | [illegible] | [illegible] | گ | ... | גּ | ... |
| 4 „ aspirata | gh | ... | .... | घ | [illegible] | [illegible] | ... | ... | ג | ... |
| 5 Gutturo-labialis | q | ... | .... | ... | .... | ... | ق | ق | ק | ... |
| 6 Nasalis | ṅ (ng) | ... | .... | ङ | [illegible] (ng) / [illegible] (N) | ... | ... | ... | ... | ... |
| 7 Spiritus asper | h | ... | .... | ह | [illegible] ([illegible] hv) | [illegible] | ه | ه | ה | h, hs |
| 8 „ lenis | ʼ | ... | .... | ... | .... | ... | ا | ا | א | ... |
| 9 „ asper faucalis | ʽh | ... | .... | ... | .... | ... | ح | ح | ח | ... |
| 10 „ lenis faucalis | ʼh | ... | .... | ... | .... | ... | ع | ع | ע | ... |
| 11 „ asper fricatus | ... | *ʽh* | .... | ... | .... | ... | خ | خ | ח | ... |
| 12 „ lenis fricatus | ... | *ʼh* | .... | ... | .... | ... | ... | ... | ... | ... |
| **Gutturales modificatae (palatales, &c.)** | | | | | | | | | | |
| 13 Tenuis | ... | *k* | .... | च | [illegible] | [illegible] | چ | ... | ... | *k* |
| 14 „ aspirata | ... | *kh* | .... | छ | .... | ... | ... | ... | ... | *kh* |
| 15 Media | ... | *g* | .... | ज | [illegible] | [illegible] | ج | ج | ... | ... |
| 16 „ aspirata | ... | *gh* | .... | झ | .... | ... | غ | غ | ... | ... |
| 17 „ Nasalis | ... | *ñ* | .... | ञ | .... | ... | ... | ... | | |

| CONSONANTS (continued). | MISSIONARY ALPHABET. I Class. | II Class. | III Class. | Sanskrit. | Zend. | Pehlevi. | Persian. | Arabic. | Hebrew. | Chinese. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 18 Semivocalis | y | ... | .... | य | دد<br>ىسر } init.<br>ل | و | ي | ي | י | y |
| 19 Spiritus asper | ... | (ẏ) | .... | ... | .... | ... | ... | ... | ... | ... |
| 20 „ lenis | ... | (ẏ) | .... | ... | .... | ... | ... | ... | ... | ... |
| 21 „ asper assibilatus | ... | *s* | .... | श | ىسر | ش | ش | ش | ... | ... |
| 22 „ lenis assibilatus | ... | *z* | .... | ... | ى | ج | ژ | ... | ... | *z* |
| **Dentales.** | | | | | | | | | | |
| 23 Tenuis | t | ... | .... | त | ᢀ | ᢀ | ت | ت | תּ | t |
| 24 „ aspirata | th | ... | .... | थ | ᢁ | ... | ... | ... | ת | th |
| 25 „ assibilata | ... | ... | TH | ... | .... | ... | ث | ث | ... | ... |
| 26 Media | d | ... | .... | द | و | و | د | د | דּ | ... |
| 27 „ aspirata | dh | ... | .... | ध | ᢀ | ... | ... | ... | ד | ... |
| 28 „ assibilata | ... | ... | DH | ... | .... | ... | ذ | ذ | ... | ... |
| 29 Nasalis | n | ... | .... | न | / | ا | ن | ن | נ | n |
| 30 Semivocalis | l | ... | .... | ल | .... | ا,ط,ر | ل | ل | ל | l |
| 31 „ mollis 1 | ... | *l* | .... | ळ | .... | ... | ... | ... | ... | ... |
| 32 „ mollis 2 | ... | ... | L | ... | .... | ... | ... | ... | ... | ... |
| 33 Spiritus asper 1 | s | ... | .... | स | دد | دد | س(ث) | س | שׂ | s |
| 34 „ asper 2 | ... | ... | s (ʃ) | ... | .... | ... | ... | ... | ס | ... |
| 35 „ lenis | z | ... | .... | ... | ک | ک | ز (ذ) | ز | ז | z |
| 36 „ asperrimus 1 | ... | ... | z (ʒ) | ... | .... | ... | ص | ص | צ | ʒ ʒh |
| 37 „ asperrimus 2 | ... | ... | z (ʒ) | ... | .... | ... | ض | ... | ... | ... |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **Dentales modificatae (linguales, &c.)** | | | | | | | | | | |
| 38 Tenuis . . . . . . . . . . . . | . . . | *ṭ* | . . . . | ट | . . . . | . . . | ط | ط | ט | . . . |
| 39 „ aspirata . . . . . . . | . . . | *ṭh* | . . . . | ठ | . . . . | . . . | ظ | ظ | . . . | . . . |
| 40 Media . . . . . . . . . . . . | . . . | *ḍ* | . . . . | ड | 𐬛 | [illegible] | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 41 „ aspirata . . . . . . . . | . . . | *ḍh* | . . . . | ढ | . . . . | . . . | . . . | ض | . . . | . . . |
| 42 Nasalis . . . . . . . . . . . . | . . . | *ṇ* | . . . . | ण | 𐬣 | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 43 Semivocalis . . . . . . . . . | r | . . . | . . . . | र | 𐬭 | [illegible] | ر | ر | ר | . . . |
| 44 „ fricata . . . . . . | . . . | *ṛ* | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | *ṛ* |
| 45 „ diacritica . . . . | . . . | . . . | R | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 46 Spiritus asper . . . . . . . . | sh | . . . | . . . . | ष | 𐬴 | [illegible] | . . . | . . . | . . . | sh |
| 47 „ lenis . . . . . . . . . | zh | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| **Labiales.** | | | | | | | | | | |
| 48 Tenuis . . . . . . . . . . . . | p | . . . | . . . . | प | 𐬞 | [illegible] | پ | . . . | פּ | p |
| 49 „ aspirata . . . . . . . | ph | . . . | . . . . | फ | . . . . | . . . | . . . | . . . | פ | ph |
| 50 Media . . . . . . . . . . . . | b | . . . | . . . . | ब | 𐬠 | [illegible] | ب | ب | בּ | . . . |
| 51 „ aspirata . . . . . . . | bh | . . . | . . . . | भ | . . . . | . . . | . . . | . . . | ב | . . . |
| 52 Tenuissima . . . . . . . . . . | . . . | *p̣* | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 53 Nasalis . . . . . . . . . . . . | m | . . . | . . . . | म | 𐬨 | [illegible] | م | م | מ | m |
| 54 Semivocalis . . . . . . . . . | w | . . . | . . . . | . . . | 𐬡 | . . . | . . . | . . . | . . . | w |
| 55 „ aspirata . . . . . | hw | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 56 Spiritus asper . . . . . . . . | f | . . . | . . . . | . . . | 𐬟 | [illegible] | ف | ف | . . . | f |
| 57 „ lenis . . . . . . . . . | v | . . . | . . . . | व | 𐬬 | [illegible] | و | و | ו | . . . |
| 58 Anusvâra . . . . . . . . . . . | . . . | *ṁ* | . . . . | अं | 𐬅 ã | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 59 Visarga . . . . . . . . . . . . | . . . | *ḥ* | . . . . | अः | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |

| VOWELS. | Missionary Alphabet. I Class. | II Class. | III Class. | Sanskrit. | Zend. | Pehlevi. | Persian. | Arabic. | Hebrew. | Chinese. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 Neutralis . . . . . . . . . . . . | 0 | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | ְ | ă |
| 2 Laryngo-palatalis . . . . . . | ĕ | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 3 „ labialis . . . . . . . . | ŏ | . . . | . . . . | . . . | . . . . | ا fin. | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 4 Gutturalis brevis . . . . . . . . | a | . . . | . . . . | अ | 𐬀 | 𐬀 init. | َ | َ | ַ | a |
| 5 „ longa . . . . . . . . | â | (*a*) | . . . . | आ | 𐬁 | 𐬁 | ـَا | ـَا | ָ | â |
| 6 Palatalis brevis . . . . . . . . . | i | . . . | . . . . | इ | 𐬌 | . . . | ِ | ِ | ִ | i |
| 7 „ longa . . . . . . . . . | î | (*i*) | . . . . | ई | 𐬍 | [illegible] | ـِي | ـِي | ִי | î |
| 8 Dentalis brevis . . . . . . . . . | *li* | . . . | . . . . | ऌ | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 9 „ longa . . . . . . . . . | *lî* | . . . | . . . . | ॡ | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 10 Lingualis brevis . . . . . . . . | *ri* | . . . | . . . . | ऋ | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 11 „ longa . . . . . . . . | *rî* | . . . | . . . . | ॠ | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 12 Labialis brevis . . . . . . . . . | u | . . . | . . . . | उ | 𐬎 | . . . | ُ | ُ | ֻ | u |
| 13 „ longa . . . . . . . . . | û | (*u*) | . . . . | ऊ | 𐬏 | ا | ـُو | ـُو | וּ | û |
| 14 Gutturo-palatalis brevis . . . | e | . . . | . . . . | . . . | 𐬈 (e) 𐬉 (*e*) | . . . | . . . | . . . | ֶ | e |
| 15 „ longa . . . | ê (ai) | (*e*) | . . . . | ए | 𐬆𐬌, 𐬉 | [illegible] | . . . | . . . | ֵ | ê |
| 16 Diphthongus gutturo-palatalis | âi | (*a*i) | . . . . | ऐ | . . . . | . . . | ـَيْ | ـَيْ | . . . | âi |
| 17 „ „ | ei (ĕi) | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | ei, êi |
| 18 „ „ | oi (ŏu) | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 19 Gutturo-labialis brevis . . . . | o | . . . | . . . . | . . . | 𐬊 | . . . | . . . | . . . | ָ | o |
| 20 „ longa . . . . | ô (au) | (*o*) | . . . . | ओ | 𐬋 | ا | . . . | . . . | וֹ | . . . |
| 21 Diphthongus gutturo-labialis | âu | (*a*u) | . . . . | औ | 𐬀𐬊 (*a*u) | . . . | ـَوْ | ـَوْ | . . . | âu |
| 22 „ „ | eu (ĕu) | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 23 „ „ | ou (ŏu) | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 24 Gutturalis fracta . . . . . . . . | ä | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 25 Palatalis fracta . . . . . . . . . | ï | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |
| 26 Labialis fracta . . . . . . . . . | ü | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | ü |
| 27 Gutturo-labialis fracta . . . . | ö | . . . | . . . . | . . . | . . . . | . . . | . . . | . . . | . . . | . . . |

The Newyork Public Library
Astor; Lenox & Tilden Foundations
***
The R. Heber Newton
Collection
Presented by his children
* 1931 *

# THE QUESTIONS

OF

# KING MILINDA

TRANSLATED FROM THE PÂLI

BY

T. W. RHYS DAVIDS

THE NEW YORK
PUBLIC LIBRARY
537818 A
ASTOR, LENOX AND
TILDEN FOUNDATIONS
R 1931 L

Oxford
PRINTED AT THE CLARENDON PRESS
BY HORACE HART, PRINTER TO THE UNIVERSITY